لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ إِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ قَالُوا وَمَا الْمُبَشِّرَاتُ قَالَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ (رواه البخاري)

تعبير الرؤيا

د خوب د تعبير په اړه بشپړ او جامع کتاب

مصنف:

امام محمد ابن سيرين رحمة الله عليه

ژباړه:

محمد أحمد الحقاني الأفغاني

ناشر:

راشد کتابخانه، چمن

موبایل: 03003896353

Maktaba Tul Ishaat.com

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم	::	تعبير الرؤيا (پښتو)
مصنف	::	امام محمد ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ
ژباړن	::	محمد أحمد الحقاني الأفغاني
کمپوزر	::	سراج الدين (افغان)
		روښان سينټر ، الامان پلازه ، کاسي روډ ، کوټه
		د اړيکي شمېره: 3218016371 (0092)
سمون	::	محمد أحمد الحقّاني الأفغاني
ناشر	::	راشد کتابخانه ، چمن
		د اړيکي شمېره: 03003896353
چاپ کال	::	۱۳۸۹ ل = ۲۰۱۱ ز
چاپ وار	::	لومړی
چاپ ځای	::	لاهور ، پاکستان
چاپ شمېر	::	(۱۰۰۰) توکه



د تعبیر الرؤیا د مضامینو فهرست

شمېره	مضمون	مخ
۱	سریزه	۷
۲	دنیك خوب اهمیت	۷
۳	د نبوت د جزء کېدو صحیح مفهوم	۷
۴	پرده څنګه پورته سي؟	۸
۵	ښه او بد خوب	۸
۶	د شیطان تصرف	۹
۷	د خوب قسمونه	۱۰
۸	پر خوب د رښتیا خبرو اثر	۱۰
۹	د بد خوب بیانولو ممانعت	۱۰
۱۰	خوب به چاته بیانوي؟	۱۱
۱۱	د نبی ﷺ عادت او د جماتونو د امامانو فریضه	۱۱
۱۲	د فن تعبیر مستند او جامع ترین کتاب	۱۱
۱۳	امام محمد بن سیرین رحمۃ اللہ علیہ	۱۲
۱۴	ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ د معبر په حیث سره	۱۲
۱۵	د ژوند ابتدایي دور	۱۳
۱۶	تقوی او الٰهي ببره	۱۳
۱۷	د کاملي تقوی نا اشنا مثال	۱۳
۱۸	د ابن سیرین استاذان او شاګردان	۱۴
۱۹	د امام ابن سیرین ثبوت ته رسیدلي ثقه والی	۱۴
۲۰	د حدیثو په علم کی د ابن سیرین لوړ مقام	۱۵
۲۱	وفات	۱۶
۲۲	د کتاب کامل التعبیر سریزه	۱۷
۲۳	د علم تعبیر تعریف غرض او موضوع	۱۷
۲۴	د علم تعبیر موجد او بنسټ ایښوونکی	۱۷
۲۵	دعلم تعبیر شپږ مشهوره امامان	۱۹
۲۶	د علم تعبیر مشهور کتابونه	۱۹
۲۷	د علم تعبیر د پاره کوم کوم علمونه ضروری دی؟	۲۰
۲۸	د علم تعبیر فضیلت او تصدیق د قرآنی آیاتو څخه	۲۰

Maktaba Tul Ishaat.com

شمېره	مضمون	مخ
۲۹	د علم تعبیر فضیلت د احادیث نبوی ﷺ څخه	۲۱
۳۰	دعلم تعبیر فضیلت دصحابه کرامو اوبزرګانو داقوالو څخه	۲۲
۳۱	د کومو خلکو څخه د خوب د تعبیر پوښتنه کول منع دی	۲۳
۳۲	په معبر کی د کومو کومو ادابو شرطونه ضروری دی؟	۲۴
۳۳	خوب لیدونکی ته کوم اداب او شرائط پکار دی	۲۵
۳۴	شیطان په خوب کی په کوم کوم شکل نه سی راتلای	۲۶
۳۵	د ابن سیرین د علم تعبیر متعلق بعضی اقوال او قصی	۲۶
۳۶	قصه	۲۶
۳۷	د دانیال علیه السلام اقوال	۲۸
۳۸	د امام جعفر صادق رضی الله عنه اقوال	۲۹
۳۹	د امام کرمانی رحمة الله علیه اقوال	۲۹
۴۰	د جابر مغربی رحمة الله علیه اقوال	۳۰
۴۱	د امام اسماعیل بن اشعث اقوال	۳۱
۴۲	د علم تعبیر د فضیلت بیان	۳۳
۴۳	اول فصل: د خوبونو د مزاج په پیژندلو کی	۳۶
۴۴	دوهم فصل: دخوب د قسمونو بیان	۳۷
۴۵	دریم فصل: د نفس او روح د یادولو په بیان کی	۳۸
۴۶	څلورم فصل: په علامو سره د خوب د سمولو په بیان کی	۳۹
۴۷	پنځم فصل: د رښتونی او درواغجن خوب په پیژندلو کی	۴۰
۴۸	شپږم فصل: دخوبونو په مینځ کی فرق پیژندل او دهر خوب دتفصیل بیان	۴۱
۴۹	اووم فصل: دخوبونو په منځ کي دفرق پېژندنه	۴۳
۵۰	قصه	۴۴
۵۱	اتم فصل: دخوب دتعبیر بیانولو لپاره علم جفراوفال پېژندل ضروري دی	۴۴
۵۲	نهم فصل: دهیر سوی خوب په بیان کي	۴۵
۵۳	لسم فصل: جاهلانو ته په خوب بیانولو کي	۴۷
۵۴	یولسم فصل: دخوبونو حال دوخت او قسم او صورت څخه ترلاسه کول	۴۷
۵۵	دولسم فصل: دخوب والاوو دشرطونو او ادبونو په پېژندلو کي	۴۹
۵۶	دیارلسم فصل: دسائل او تعبیر ورکوونکي لپاره دآدابو دخیال ساتلو	
۵۷	په بیان کي	۵۰
۵۸	څوارلسم فصل: په دی بیان کي چي تعبیر پر څو قسمه وي	۵۱

شمبره	مضمون	مخ
۵۹	قصه	۵۲
۶۰	قصه	۵۲
۶۱	پنځلسم فصل: په هغو مسائلو کي دکومو تعبیر چې بر عکس وی	۵۳
۶۲	شپاړسم فصل: دخدای تعالی اوفرشتو اوپیغمبرانوپه زیارت او لیدلو کی	۵۳
۶۳	دخدای تعالی دلیدلو تاویل	۵۳
۶۴	په خوب کي د فرشتو لیدل	۵۶
۶۵	جبرائیل علیه السلام	۵۶
۶۶	میکائیل علیه السلام	۵۶
۶۷	اسرافیل علیه السلام	۵۶
۶۸	عزرائیل علیه السلام	۵۷
۶۹	د عرش حاملاني ملایکي لیدل	۵۷
۷۰	کرام کاتبین لیدل	۵۸
۷۱	د پیغمبرانو علیهم السلام د زیارت په بیان کي	۵۹
۷۲	اولو العزم	۵۹
۷۳	نبی	۶۰
۷۴	آدم علیه السلام	۶۰
۷۵	حوا علیها السلام	۶۰
۷۶	نوح علیه السلام	۶۰
۷۷	ادریس علیه السلام	۶۰
۷۸	هود علیه السلام	۶۰
۷۹	لوط علیه السلام	۶۰
۸۰	صالح علیه السلام	۶۱
۸۱	ابراهیم علیه السلام	۶۱
۸۲	اسماعیل علیه السلام	۶۱
۸۳	یعقوب علیه السلام	۶۱
۸۴	یوسف علیه السلام	۶۱
۸۵	شعیب علیه السلام	۶۱
۸۶	موسی علیه السلام	۶۱
۸۷	داود علیه السلام	۶۱
۸۸	زکریا علیه السلام	۶۱

Maktaba Tul Ishaat.com

شمېره	مضمون	مخ
٨٩	یحیٰی علیه السلام	٢١
٩٠	خضر علیه السلام	٢٢
٩١	یونس علیه السلام	٢٢
٩٢	ایوب علیه السلام	٢٢
٩٣	محمد صلی الله علیه وسلم	٢٢
٩٤	خلفاء راشدین رضی الله عنهم په خوب کی لیدل	٢٣
٩٥	ابوبکر صدیق رضی الله عنه	٢٣
٩٦	عمر رضی الله عنه	٢٣
٩٧	عثمان بن عفان رضی الله عنه	٢٣
٩٨	علی المرتضی رضی الله عنه	٢٤
٩٩	دنورو صحابه کرامو رضی الله عنهم په خوب کي لیدل	٢٤
١٠٠	امام حسن او امام حسین رضی الله عنهما	٢٤
١٠١	جعفر طیار رضی الله عنه	٢٤
١٠٢	ابو هریره او انس بن مالک رضی الله عنهما	٢٤
١٠٣	حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه	٢٤
١٠٤	بلال رضی الله عنه	٢٤
١٠٥	عالمان زاهدان او حاکمان په خوب کی لیدل	٢٤

د مضامینو فهرست پای ته ورسېدی

❊ ❊ ❊

یادونه

له الف څخه تر یا پوري د ټولو تورو فهرست یعني اشاریه یا انډیکس په پای کي وګورئ.

سريزه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وپوهيږه چي د خوب تعبير ډير لوی اهم علم دی چي په دې سره راتلونکي حالات معلوميدلای سي ځکه نبي ﷺ ويلي دي: لم يبق من النبوة الا المبشرات قالوا وما المبشرات قال الرؤيا الصالحة، رواه البخاري عن ابي هريرة) ژباړه: د خوشخبريو ماسوا دنبوت څخه بل هيڅ شی نه دی پاته، اصحابو ﷺ پوښتنه و کړه چي د خوشخبری څه مطلب دی؟ ده ﷺ وويل: چي ښښتينی خوب، د دې حديث څخه ثابته سوه چي اوس د خوب څخه علاوه دمومنانو سره بل شی نه دی پاته چي په هغه سره راتلونکي حالات ښکاره سي، مقصد دا چي لکه څنګه چي وريځ پر وجود د باران دلالت کوي دغه ډول ښښتينی خوب د راتلونکي حالت طرفته ته اشاره کوي.

دنيک خوب اهميت

د ښښتينی خوب اهميت د دې حقيقت څخه هم معلوم دی چي په وحي الهي کي د ټولو څخه اولنی شی په کوم سره چي نبي کريم ﷺ ته پيژندګلوي وسوه هغه ښښتينی خوب وو، په دې ورځو کي چي به نبي کريم ﷺ هرڅه په خوب کي ليدل دهغه تعبير به دسهار د سپېدو په څېر بالکل ښکاره کيدی د دې حالت څخه وروسته د ده طبعي رغبت د خلکو څخه دشکيدو او جلا کيدو وخواته سو او دی ﷺ په غارِ حراء کي خلوت کوونکی سو. (بخاري، مسلم).

د ښښتيني خوب فضيلت د دې څخه هم ښکاره دی چي دې ته دنبوت جزء ويل سوی دی څرنګه چي روايت دی: (قال رسول الله ﷺ الرؤيا الصالحة جزء من ستة واربعين جزء من النبوة، بخاري ومسلم).

ژباړه: نبي کريم ﷺ فرمايلي دی چي ښښتينی خوب دنبوت په شپږ څلويښت حصو کي يوه حصه ده. د دې حديث څخه معلومه سوه چي ښښتينی خوب دنبوت يو جزء دی او علم دنبوت باقي دی مګر نبوت جاري نه دی پاته، په نورو ټکو کي ښښتينی خوب دنبوت عکس دی که څه هم خوب ليدونکی نبی نه وي لکه چي په بعضو نورو روايتونو کي راغلي دي چي نيک خوی، زغم کول او ميانه روي دنبوت څخه دی.

دنبوت د جزء کېدو صحيح مفهوم

ليکن دبعضو عالمانو په نزد د نبوت دجزء کيدو څخه هغه نسبت مراد دی کوم چی دعامو مومنانو د ابتدائي استعداد دانبياء عليهم السلام دانتهائي استعداد سره دی، څرنګه چي په نوع دبشر کي دا ابتدائي استعداد ډير ضعيف ايښودل سوی دی او د دې ضعف څخه علاوه ظاهري حواسو ته لوی لوی بنديزونه په وړاندي پراته دي په دې وجه دالله تعالی رحمت نوازي په انسان کي دننه داسي فطرت کښيښودی چي دخوب په حالت کي دطاقت مناسب حجاب يعني پرده ليري سي په داسي حالت کي چي دده نفس دکوم شي خوا ته هم متوجه وي د هغه علم حاصلوي، په همدې مناسبت سره نبي کريم ﷺ خوب په خوشخبری سره تعبير کړ.

Maktaba Tul Ishaat.com

پرده څنګه پورته سي؟

بعضي عالمان فرمايي چي د نفس ناطقه ادارك او دهغه كار دروح حيواني په وسيله سره كوم چي يو لطيف قسم بخار دى سر ته رسيږي، او د دې بخار ځاي او مستقر دجالينوس او نورو د وضاحت موافق دزړه لاندنى حصه ده دا روح حيواني د ويني سره په ټولو رګونو او شريانونو كي خپريږي او په بدن كي حس او حركت او نورو كارونو ته قوت وركوي، د دې لطيف بخار څخه يو څه حصه د دماغو خواته خيژي په دماغي يخوالي سره اعتدال مومي، د دې په كومك سره دماغي قوت په خپل كار كي اخته وي. ګويا نفس ناطقه هم د دې حيواني روح په كومك سره ادراك اوتعقل كوى او د دې سره متعلق دى ځكه چي د باريك شى تعلق د باريك شي سره كيدلاي سي. كله چي حواس خمسه پرلپسې په كار كولو ستړي سي نو روح حيواني دخپل فطرت موافق په خپل كامل هيئت سره بغير دبل شي دكومك څخه دپوهي حاصلولو لپاره تيار سي دا كيفيت عموما هغه وخت پيدا كيږي كله چي روح حيواني ظاهري حواس پاته كړي دباقي حواسو طرفته راګرځي، د ظاهري حواسو څخه د روح په جلا كولو كي د شپي يخوالى كم چي پر جسم غالب كيږي كومك كوونكي جوړيږي، په دې وجه طبعي حرارت هم د جسم د دننه حصو وخوا ته مخ كوي د لوړ څخه د ننه ځي، مقصد دا چي كله روح حيواني ظاهري حواس پريږدي باطني حواسو ته ورسي او نفس د حسي مشاغلو څخه ازاد سي، د هغو صورتونو طرفته متوجه سي كم چي په حافظه كي پټ دي نو په عام طور سره د دې څخه خيالي صورتونه جوړ سي، د دې څخه وروسته دغه صورتونه حس مشترك ته كم چي جامع د حواسو ظاهريه وو دى ورسي، حس مشترك دظاهري حواسو په طريقه د دغو ادراك كوي او بعض وخت عكس دقواىِ باطنيه سره د ټكر خوړلو څخه وروسته يو دم د خپل روحانيت طرفته متوجه سي، او دروحانيت دفطري طاقت په كومك سره ادراك معلوموي، او دهغو شيانو او حقيقتونو ادراك كوي كوم چي په حالت موجوده كي دده د ذات او حقيقت سره متعلق وي، د دې څخه وروسته د دوي پر صورتونو حاوي كيږي، او كه نفس په موجوده صورتونو كي مخكي د دې څخه چي نفس د حواسو څخه په پوره ډول خلاصون پيدا كړي علم او اقتباس حاصل كړي تحليل او تركيب شروع كړي، نو دي ته اضغاث احلام يا بد خابي وايي.

ښه او بد خوب

كه څه هم دخوب پيدايش او ليدل دواړه كارونه د الله تعالى د طرف څخه وي، بيا هم علماوو ليكلي دي چي ښه دالله د طرف څخه خوشخبرى وي، چي بنده د خپل مولىﷻ سره په نيك ګمان كي پخي عقيدي والا سي، او دا خوشخبري دزيات شكر كولو او احسان منلو باعث سي، درواغ او خراب خوب دشيطان دطرف څخه القاء وي په دي القاء سره د شيطان مقصد مومن تنګول او غمجن كول دي ځكه چي ارشاد نبوي ﷺ دى، (الرويا الصالحة من الله و الحلم من الشيطٰن فاذا راي احدكم ما يحب فلا يحدث به الا من يحب واذا راي مايكره فليتعوذ بالله من شرها ومن شر الشيطان فليتفل ثلاثا عن

يساره ولايحدث بها احدا فانها لن تضره، بخاري ومسلم) ژباړه: ښه خوب د الله تعالى دطرف څخه وي او خراب خوب د شيطان دطرف څخه وي هر كله چې څوك ښه خوب ووينې نو دى دي هغه سړي ته بيانوي چې پر ده ګران وي، اوكله چې خراب خوب ووينې نو د الله پاك څخه دي د دې خوب د شر څخه او د شيطان دفتنې څخه پناه و غواړي، او دا هم مناسب ده چې چپه طرف ته دي درې واره ناړې توكي او دا خوب دي چاته نه وايي، نو دا خوب به بيا هيڅ كله ونه وينې. د تاوان نه رسولو مطلب دادى چې الله تعالى مذكوره كار درنځ او غم څخه د ساتلو ذريعه ګرځولي ده، لكه صدقه چې يې دمال دساتلو او بلاګانو دليرې كيدو ذريعه جوړه كړي ده، د ناكاره خوب د ليدو څخه وروسته دارڅ بدلولو حكم هم دى ځكه چې دي ته په تغير د حال كې ډير لوي اثر او دخل دى: (عن جابر انه قال قال رسول الله ﷺ اذا راى احدكم الرؤيا يكرهها فليبصق عن يساره ثلاثا و يستعذ بالله من الشيطان الرجيم ثلاثا وليتحول عن جنبه الذي كان عليه، رواه مسلم)، ژباړه د جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چې نبى ﷺ فرمايلى دى څوك چې خراب خوب ووينى نو دري واري دي چپه خواته ناړې توكي دشيطان څخه دى د الله پناه وغواړي او هغه ارڅ دي بدل كړي كوم چې ددې خوب دليدو په وخت كې ورباندې وو.

د شيطان تصرف

د پورتنې حديث څخه معلومه سوه چې ډير خوبونه د شيطان القاء وى ځكه چې د بيرې او د خوف ټول خوبونه مثلاً دا ليدل چې سر يې كاټ سوى دى يا يې څوك مړ كړى د دې قبيلې څخه دي احتلام هم د شيطان د اثر څخه وي، او په دي سره دلښكر دشيطان دا مقصد وي چې مومن د غسل او پاكي په زحمت كې واچوي، يا د حاجت د غسل په ذريعه سره د سهار د لمونځ په پر وخت كولو كې خلل راسي، ليكن ياد ساتئ چې شيطان د بيرى دخوب په ښولو سره مومن په هر رقم سره پريشانه كولاى سي مګر دا خبره دده دقدرت څخه دباندې ده، چې د نبى ﷺ شكل او صورت جوړكي يومومن ته په خوب كې دوكه وركړي ارشاد نبوي دى: (من رانى فى المنام فقد رانى فان الشيطان لا يتمثل فى صورتى، رواه البخارى ومسلم)، ژباړه چا چې زه په خوب كې وليدم په تحقيق سره يې زه وليدم (دده دا خوب ريښتنى دي) ځكه چې د شيطان دا مجال نسته چې چاته په خوب كى زما په شكل سره ښكاره سى. ځينو تحقيق كوونكو ويلي دي چې شيطان په خوب كى دحق تعالى په حيثيت سره ښكاره كيداى سي درواغ جوړولاى سي اوليدونكى ته دوكه وركولاى سى چې دا واقعى الله تعالى دى ليكن د نبى كريم ﷺ شكل دى نه سى اختياروالى ځكه چې حضور ﷺ مظهر دهدايت اوشيطان مظهر دضلالت دى اوپه هدايت او ضلالت كې ضديت دى او حق تعالى داضلال او هدايت دصفاتو اوټولو متضادو صفتونو جامع دى، دوهمه وجه داده چې دمخلوق دعوى دالوهيت ښكاره باطله ده په دى كې په هيڅ ډول اشتباه نه سى كيداى په خلاف ددعوى دنبوت څخه، ځكه چې په زړګونو او لكونو تش لاسو كسانو دخود ساخته نبيانو

Maktaba Tul Ishaat.com

د دکانونو دښايسته کولو لپاره ايمانونه راوړي دی دحق د لاري څخه ورك سوي دی په دي بنا باندي د نبي کريم ﷺ په شکل اختيارولو سره خلکو ته په دوکه ورکولو يي قدرت نسته، همدا وجه ده چي دالوهيت دمدعي څخه خوارق العادة کارونه صادريدل ممکن دی، ليکن که څوك د نبوت دعوٰی وکړی نو الله ﷻ دده څخه دمعجزو ښولو قدرت سلب کړي، ترڅو دخدای ﷻ کمزوری مخلوق دخوارقو په وجه سره دده د دوکی په دام کي ګير نه سي.

د خوب قسمونه

امام محمد ابن سيرين رحمه الله ويلي دي چي دخوب دري قسمه دی، يو حديث النفس (دزړه خيالات) دوهم د شيطان بيرول، دريم مبشرات خداوندي، (دالله پاك دطرف څخه خوشخبرياني) د دې تقسيم څخه ظاهره ده چي دخوب ټول اقسام صحيح قابل تعبير او دالتفات قائل نه وي، بلکه دتعبير او التفات قابل دخوب هغه قسم دی کم چي د الله تعالٰی دطرف څخه بشارت او خبرداری وي، دحديث نفس مثال دادی چي يوسړی يوکار يا کسب کوی دی په خوب کي هم عموماً دغه شيان وينې په کم کي چي ټوله ورځ مشغول وي يا يو عاشق محروم الوصال چي هر وخت دخپل محبوب په ياد او خيال کي مستغرق وي دی په خوب کي هم عموماً هغه وينې، رښتينی خوب په دي وجه ليدل کيږي چي بنده محفوظ اوپه طلب دحق او محبت الٰهي کي زيات مشغول وي داسي خوب قابل تعبير دی او پر دي لويي لويي اهمي نتيجي مرتب کيږي.

پر خوب درښتيا خبرو اثر

حلال خوراك اورښتيا ويلو ته په رښتينی خوب کي لوي دخل دی په دي وجه کم حضرات چي دبيري او ترهي دخوبونو ليدو عادي وي دوي ته دخپل اخلاقي حالاتو معاينه کول په کار دی خصوصاً دحرام او مشتبه خوراك غيبت او درواغ ويلو څخه قطعا پرهيز لازم دی په دي معنٰی کي يو مرفوع حديث هم مروي دي چي کوم سړي زيات رښتيا ګويه وو دده خوب هم د ټولو څخه زيات رښتينی دي.

د بد خوب بيانولو ممانعت

کوم سړي چي مکروه او ناکاره خوب ووينې نو پکار دی چي دحق تعالٰی څخه ددغه خوب دشر او دشيطان دفتنی څخه پناه وغواړي او دا خوب دي هيچاته نه بيانوي په دي صورت کي به پر ده څه بد اثر نه مرتب کيږي د نبي کريم ﷺ ارشاد دی: (الرؤيا علی رجل طائر ما لم يتحدث بها فاذا حدث بها وقعت، رواه الترمذي عن ابي رزين العقيلي واخرجه ابوداود في معناه) ژباړه: تر څو پوري چي خوب بيان نه سي تر هغه وخته دمرغه په پښو ځړيږي (قيام او ثبات يي نه وي) او چي بيان سي نو همدغسي دربانديدرځي. دناکاره خوب دبيانولو څخه په دي وجه ممانعت سوي دی چي هسي نه معبر يي دظاهر موافق ناکاره تعبير وباسي او په عام طور سره دا په مشاهده کي راغلي دي چي څنګه يي څوك تعبير ورکړي په تقدير الٰهی سره دغسي واقع کيږي، که څه هم چي ټول واقعات او حادثي دقضا او قدر سره تړلی دی خو بيا هم دخوب پټول يې په تاثير ساقطولو کي ځکه اثر

کوي چې د دعا او صدقې په شان دا قسم اسباب هم دقضا او قدر سره متعلق دی.

خوب به چاته بیانوي؟

د تعبیر لپاره خپل خوب صالح اوپیوال، باعمله عالم، صاحب دل، درایی دخاوند څخه ماسوا بل چاته ویل نه دي پکار ځکه چې داخلک خوب ترممکنه حده پوري پر نیکي محمول کوي نبه تعبیر یې ورکوي، نبي کریم ﷺ ویلي دي: (لا تحدث رؤياك الا حبيبا او لبيبا، رواه الترمذي وفي رواية ابي داود: لا تقصها الا علي واد او ذي راى)، ژباړه: خپل خوب داوپیوال یا عالم څخه ماسوا بل چا ته مه وایه دا روایت دترمذي دی، د ابوداود دروایت الفاظ دا دي: خپل خوب د هوښیار اوپیوال څخه ماسوا بل چاته مه وایه.

د نبی ﷺ عادت او د جماتونو دامامانو فریضه

دسمره بن جندب ﷺ څخه روایت دي چې نبي کریم ﷺ به د سهار دلمانځه څخه وروسته عموماً داصحابو څخه پوښتنه کوله چې په تاسو کې چا خوب لیدلي دی؟ که چا به خوب لیدلي وو نو بیانوی به یې او مخبر صادق ﷺ به یې تعبیر بیانوي (بخاري) امام محي الدین نووي رحمه الله ویلي دي چې د دې حدیث څخه د دې خبري استحباب ثابتیږي چې د جمات امام د سهار دلمانځه څخه وروسته مقتدیانو ته متوجه سي او د دوی خوبونه واوري تعبیر دي وکړي ځکه چې دورځې په شروع کې دانسان دماغ صحیح وی او د دې څخه وروسته یې دمعاش فکر ذهن پریشانه کړی لیکن ظاهره ده چې په موجوده دور دفتنو کې چې دعهد نبوت څخه څوارلس سوه کاله تیر سوي دی او داسلامی ملت پوهه او ایمان ورځ په ورځ مخ پر زوال دی دجماتونو داسی امامان دعنقاء په حکم کې دی کم چې دخوبونو د تعبیر او تاویل اهل دي، البته که دوی د تعبیر د خوبونو د مستندو کتابونو مطالعه وکړي نو په دي فن کې په قدر داستعداد بصیرت پیدا کولې سي.

د فن تعبیر مستند او جامع ترین کتاب

په فن تعبیر کې چې ترننه پوري څرنګه کتابونه لیکل سوي دی په دوی کې غالبا دټولو څخه زیات جامع ضخیم او مستند کتاب کامل التعبیر دی کوم چې شیخ ابوالفضل حسین بن ابراهیم محمد تقلیسي په زمانه دآل سلجوق کې کم از کم دیو ویشتو کتابونو څخه انتخاب کړ، او ویې لیکی مؤلف په دیباجه د کتاب کې ویلي دی چې ما کتاب کامل التعبیر مدون کړ، دسلطان قزل ارسلان (ثاني) بن سلطان مسعود ناصر سلجوق والی روم او شام په حضور کې مې پیش کړ او دتاریخ د کتابونو څخه معلومیږي چې سلطان قزل ارسلان ثاني په ۵۵۵ هـ کې پر تخت ناست وو ددې څخه اندازه کیداي سي چې دا کتاب د نن څخه تقریبا اته سوه کاله مخکې تالیف سوي وو، دا دی اوس د پښتنو وروڼو لپاره دا کتاب ژباړل کیږي ترڅو پښتانه وروڼه ورڅخه بشپړه ګټه پورته کړي، او د راشد کتابخانه، چمن له محترم سرپرست نباغلي مولوي عبدالرازق "راشد" څخه مننه کوو چې د دې دروند بار پورته کولو ته یې اوږه ورکړه، کامل

Maktaba Tul Ishaat.com

التعبير چي ديو ويشتو كتابونو خلاصه ده د اته سوه كلونو راهيسي په مسلمانانو كي معمول او مقبول را روان دی، دعا ده چي الله تعالٰی په دی ازربښتناك تاليف سره خاصو او عامو ته فايده ورسوي. آمين

امام محمد بن سيرين رحمۃ اللہ علیہ

مورِ په تيرو كربنو كي دخوب دماهيت او د دې دتعبير او تاويل په اړه چي څه وويل هغه كه څه هم لږ وه ليكن ټوله ضروري بحثونه پكښي راغلي دی مگر دا بيان تر هغه وخته پوري ناتمام او ناقص شميرل كيږي ترڅو چي دتعبير دميدان د غښتلي امام يعني امام محمد بن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ذاتي حالات هم په رڼا كي رانه سي په دي وجه مورِ دلته په لنډه توګه سره ددی عظيم شخصيت پېژندنه كوو چي له زرو كلونو راهيسي د غټو غټو علماوو د امت څخه ښه عقيدت ترلاسه كوي ترڅو د دوي دژوند دعملي كارنامو په شان ددوی علمي كمالات هم دناظرينو دبصيرت د زياتوالي لامل سي.

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ د معبر په حيث سره

په امت مرحومه كي د دې درجې لرونكي په لكونو اولياء الله تير سوي دی كومو ته چي دشيانو دحقيقت او دكائناتو د رازونو علم وركړه سوي وو په خوښو سويو هستيو كي كومو ته چي دالله جل جلالہ په قرب كي ځاي وركړل سوی وو دامام محمد ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ شخصيت داسي نامداره دی چي په ذات كي يې دولايت سره سره دخوب دتعبير غير معمولي جوهر هم امانت وو او دا ويل قطعًا مبالغه نه ده چي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ته چي په تعبير داني كي كم كمال حاصل وو د دې نظير خو په تابعينو او ددوی دزماني څخه په مابعد كي خوځه كوي چي په صحابه كرامو رضی اللہ عنہم كي هم په مشكل ليدل كېدی سي ددوی په ژوند كي به د اسلامي دنيا دا عام معمول و چي كله به چا داسي خوب وليدی چي علماء او صحابه به يي دتعبير څخه عاجزه سوه نو اخر به يي دابن سيرين ته طرف رجوع كوله دوی چي به كوم تعبير وركي هغه به داسي صحيح او پوره وو چي د اثر په ظاهريدو به يي دوخت لويو لويو امامانو هم دزيات فراست ډاډ وركوی، په قول دسيوطي چي امام ذهبي رحمۃ اللہ علیہ دهر فن دمنتخبو او برګزيده علماوو يو فهرست مرتب كړيدي، په كوم كي چي يې امام محمد بن سيرين رحمۃ اللہ علیہ په معبر خصوصي سره ياد كړيدی، د دې فهرست يو څو نمونې دادي:

فن	دفن ستر علماء	فن	دفن عمائدين
تفسير	ابن عباس رضی اللہ عنہ	نحو	سبويه رحمۃ اللہ علیہ
شجاعت	خالدبن وليد رضی اللہ عنہ	فقه الحديث	امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ
تعبير دخوب	محمدبن سيرين رحمۃ اللہ علیہ	سنت	امام احمدبن حنبل رحمۃ اللہ علیہ
وعظ اوتذكير	امام حسن بصري رحمۃ اللہ علیہ	حديث	امام بخاری رحمۃ اللہ علیہ
قرائت	نافع رحمۃ اللہ علیہ	تصوف	جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ

فقه	امام اعظم ابو حنيفه رضي الله عنه	كلام	امام ابوالحسن اشعري رحمة الله عليه

دژوند ابتدايي دور

محمد بن سيرين رحمة الله عليه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د خادم انس بن مالك رضي الله عنه ازاد كړي غلام وو ددوی والده صاحبه صفيه د امير المومنين ابوبكر صديق رضي الله عنه مينځه وه، ددوی كنيت ابوبكر وو، انس رضي الله عنه د ډېر وخت څخه دكاتب په حيث سره دنبي صلى الله عليه وسلم بي اندازي ډېر خدمتونه كړيدي اوكله چي مور ګورو چي يو معمولي غلام چي دژوند ټوله اولنۍ دوره يې د مالك په خدمتونو كي تيره سوه او دكوم كمال دحصول لپاره يې د لوړوالي او بلندي په ظاهره څه اسباب نه وو خو د ذو المنن خداى جل جلاله په ډېري پېرزويني سره په اسمان دعلم او عمل كي عموما او په تعبير دخوب باندي خصوصا لمر جوړ سو او وځليدی، ددوی د پيدائش او پرورش ځاي جرجرايا وه كوم چي دبصري په علاقه كي دی وطن يې پرېښودی په بصره كی يې اوسيدل شروع كړل، ددوی دكشر ورور انس بن سيرين بيان دی چي زما ورور محمد بن سيرين دعثمان رضي الله عنه د حادثی د شهادت څخه دوه كاله مخكی پيدا سو او زه بيا يو كال وروسته پيدا سوم.

تقوی او الهي ښېره

امام ابن سيرين غټ زاهد يې حده پرهيزګاره مشهوره تابعي او امام تير سوی دی، د ابن عون قول دی چي زما سترګو دري يې مثله حضرات ليدلي دي او څلورم بزرګ يې ددوی برابر نه دي ليدلي: ابن سيرين، قاسم بن محمد او رجا بن حبوه رحمة الله عليهم، دخلف بن هشام بيان دی چي محمد بن سيرين ته دالله تبارك و تعالی دطرف څخه دحسن اخلاق، ښه معاملې او دعاجزي نعمت په پوره درجه سره ورکړل سوي وو، او دښو اخلاقو او خشيت الهي په بركت ددوی داحالت هميشه وو، چي ددوی په ليدو به يې خداى ياديدي، اشعث وايي چي كله به دابن سيرين څخه دحلالو او حرامو په باره كي پوښتنه كيده نو ددوی رنګ به بدل سو، سفيان ثوري رحمة الله عليه دزهير اقطع څخه روايت كړيدی چي كله به دابن سيرين په مخكي دمرګ ذكر وسو نو ددوی اندامونه به بالكل مړه او بي حسه سوه، مهدي وايي چي يوه ورځ مور دابن سيرين په مجلس كي ناست وو علمي مذاكري كيدي اتفاقا يو سړی د مرګ ذكر وكي فورا ددوی مخ ژړ سو او د لوي تكليف په ډول حالت پر ښكاره سو اخر ترڅو چي مور ددوی طبعيت بي تكلفه بل طرف ته متوجه نه كي ددوی حالات برابر نه سوه، دابن حبان محدث قول دی چي دی دبصري په خلكوكي دټولو څخه زيات متقي وو تر دی چي خلكو دوي ته پر امام حسن بصري رحمة الله عليه فوقيت وركړيدي.

د كاملي تقوی نا اشنا مثال

لكه څنګه چي يوسف عليه السلام دخپل كمال او تقوٰی په نتيجه كي څو كاله د زندان او قيد سختی برداشت كړي وه دغه رقم دوی ته هم د دې تقوٰی په وجه په سنت يوسفي د عمل كولو سعادت نصيب سوي وو، دابن سعد محدث بيان دی چي ما د محمد بن عبدالله انصاری څخه پوښتنه وكړه چي ابن سيرين په كوم جرم كي دزندان په بلا كي بندي سو، دوی وويل چي دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

دځلويښتو زرو درهمو (تقريبا دلسو زرو روپو) غله په غرض د تجارت اخيستي وه ددی اخستو څخه وروسته دوی ته معلومه سوه چي خرڅونکی د دې غلی پيداوار په ځينو داسي طريقو سره کړيده کوم چي شرعًا مشکوك دی دوی ټوله غله په غريبانو او مسکينانو تقسيم کړه او قيمت يي ددوی پر ذمه واجب الاداء پاته سو ځکه چي دوی قرضه په وخت اداء نه کړه نو دقرضدار ښځي ددوی خلاف دعوٰی دايره کړه او دوی يي قيد کړل او دوی تر هغه وخته پوری په قيد کي بند وو تر څو چي ټول رقم يي اداء نه کي.

د ابن سيرين استاذان او شاګردان

کوم صحابه کرام رضی الله عنهم او تابعين چي ددوی استاذان پاته سوي دي شيخ ابن حجر عسقلاني رحمة الله عليه ددوی نومونه په تهذيب التهذيب کي داسي ليکلي دی:

انس بن مالك رضی الله عنه، حسن بن علي رضی الله عنه بن ابي طالب، جندب بن عبدالله رضی الله عنه، حذيفه رضی الله عنه بن يمان، رافع رضی الله عنه بن خديج، سليمان بن عامره رضی الله عنه، سمره بن جندب رضی الله عنه، عبدالله بن عمر رضی الله عنه، عبد الله بن عباس رضی الله عنه، عثمان بن ابي العاص رضی الله عنه، عمران بن حصين رضی الله عنه، كعب بن عجره رضی الله عنه، معاويه رضی الله عنه بن ابوسفيان، ابودرداء رضی الله عنه، ابو سعيد رضی الله عنه، ابوقتاده رضی الله عنه، ابوهريره رضی الله عنه، ابوبكر ثقفي رضی الله عنه، ام المومنين عايشه صديقه رضی الله عنها، ام عطيه رضی الله عنها، حميد رضی الله عنه بن ابي عبد الرحمٰن حميری، عبد الله رضی الله عنه بن شفيق، عبد الرحمٰن بن ابي بكره رضی الله عنه، عبيدة السلماني رضی الله عنه، عبد الرحمٰن بن بشر بن مسعود رضی الله عنه، قيس بن عباد رضی الله عنه، كثير بن رضی الله عنه افلح، عمرو بن وهب رضی الله عنه، مسلم رضی الله عنه بن يسار، يونس بن جبير رضی الله عنه، ابومهلب رضی الله عنه، جری او ددوی ورونه مهلب او يحيٰی رضی الله عنهم، حفصه رضی الله عنها، يحيٰی بن ابي اسحاق حضری رضی الله عنه، او خالد حذاء کوم چي داسحاق حضری شاګرد و، رضوان الله عليهم اجمعين.

ددوی څخه علاوه دبعضو کبارو تابعينو څخه يي هم روايت کړيدی، په تابعينو او تبع تابعينو کي يي دلاندي ليکل سوو حضراتو څخه شاګردي کړيده: شعبي، ثالث، خالد حذاء، داود بن ابی هند، ابن عون، يونس بن عبيد، جرير بن حازم، ايوب، اشعث بن عبد المالك، حبيب بن شهيد، عاصم احول، عوف اعرابي، قتادة، سليمان تيمي، قره بن خالد، مالك بن دينار، مهدی بن ميمون، اوزاعي، علي بن زيد جدعان و غيره، رحمة الله تعالٰی عليهم اجمعين.

۱: عبدالله بن احمد د خپل والد محترم امام احمد بن حنبل څخه روايت کړيدي چي محمد بن سيرين د انس رضی الله عنه اوعمر رضی الله عنه ابوهريره رضی الله عنه اوعبد الله بن عمر رضی الله عنه څخه روايت کوي ليکن د عبدالله ابن عباس څخه يي يو حديث روايت کړي نه دی، دخالد حذاء بيان دی چي هر هغه روايت دکوم په نسبت چي ابن سيرين وايي چي ماته دابن عباس رضی الله عنه څخه رسيدلي دی، دغه دوی د عکرمه څخه اوريدلي دي د کوم سره چي دوی د مختار ثقفي په ورځو کي ملاقات کړي وو، د امام بخاری رحمة الله عليه بيان دی چي ابن سيرين د عبدالله ابن زبير رضی الله عنه په حکومت کي حج وکړي او دغه وخت يي د ابن زبير رضی الله عنه اوزيد بن ثابت رضی الله عنه څخه دحديثو روايت وکړي.

دامام ابن سيرين ثبوت ته رسيدلي ثقه والی

شيخ ابن حجر عسقلانی ليکي چي امام ابن سيرين کامل العلم، ثقه، دغره تر ډيری زيات مضبوط، د تعبير دمملکت علامه، د پرهيز ګاري او تقوٰی سرتاج او دامام حسن بصري څخه هم زيات ثابت قدم او مستقل مزاجه وو، د مورق عجلی بيان دی چي ما يو سړي تر ابن سيرين زيات په ورع کي افقه او په فقه کي محتاط نه دی ليدلي، ابو قلابه به ويل چي په کوم سړي کي دومره صلاحيت د دې کار سته کوم چي ابن سيرين ته ورکړه سوي دی، نومورې خو دتوری پر تيره سر باندي قدم ايښوونکي بزرګ دی، شعبی به ويل چي تاسو خلک دابن سيرين صحبت اختيار کي، د ابن عون بيان دی چي ابن سيرين به دحديث روايت بالمعني نه کوي بلکه حرف په حرف به يي دضبط کولو اهتمام کوي، او کله چي به هشام بن حسان ددوی څخه يو حديث نقل کوی نو ويل به يې چي ماته داسي بزرګ ددې حديث روايت کړيدی کوم چي ما پخپل عمر کي تر ټولو زيات صادق البيان موندلی دی.

د عجلي بيان دي چي ابن سيرين ثقه تابعي دی دوی دشريح ﷺ اوعبيده ﷺ څخه تر ټولو زيات روايتونه نقل کړيدي او په هغو کوفيانو کي يي تربيت پيدا کړيدی کوم چي دعبيد الله ابن مسعود ﷺ شاګردان وو، ابن سعد ليکلي دی چي ابن سيرين ثقه، عالي قدر، رفيع المنزلت او جليل القدر امام وو، دابن المديني قول دی چي د ابوهريره ﷺ شاګردان شپږ دی: ابن المسيب ﷺ، ابو سلمه ﷺ، اعرج ﷺ، ابو صالحه ﷺ، ابن سيرين ﷺ، طاوس ﷺ، دابو قلابه قول دی چي ابن سيرين ته په هر حيثيت سره چي وګوری په هر حالت کي دټولو څخه زيات مستقيم الاحوال، متقي او پرنفس قابو لرونکي دی، اود ابن عون بيان دی چي ما د دې حضراتو په ډول په دنيا کي څوک نه دی پيدا کړي: په عراق کي ابن سيرين، په حجاز کي قاسم بن محمد، او په شام کی رجاء بن حبوه، بيا په دی دري واړو کی ابن سيرين بالکل بي مثله وو، دعثمان تيمي رحمۃ اللہ علیہ قول دی چي په بصره کي د ابن سيرين څخه زيات اعلم بالقضاء څوک نه دی تير سوي.

دحديثو په علم کی دابن سيرين لوړ مقام

دحديث درواية مقدس ترين اصول دادي چي کومه واقعه بيانيږي دهغه سړی دژبي څخه دی ذکر سی کوم چي شريك دواقعی وي يا ده بذات خود نبي کريم ﷺ په څه کار کولو يا ارشاد فرمايلو ليدلي وي او که بذات خود بي نبي کريم ﷺ په څه کولو يا فرمايلو نه وي ليدلی يا په واقعه کي پخپله موجود نه وي، دټولو راويانو نومونه به په ترتيب سره بيانوي، ددی سره به دا هم ښيي چي دا روايت کوونکي څنګه خلک وه، ددوی ديني او دنيوي کارونه څه شي وه، په تقوٰی اوطهارت کي ددوی څه مرتبه وه؟ ذهن، حافظه، معامله فهمي او د عقل او پوهی حال بي څه وو؟ ثقه او رښتيا ګوی وو يا غير ثقه، باريك بين وو که سرسري نظر والا، وسط الذهن عالمان وه که جاهلان، که څه هم دا جزئی حالات پيدا کول، سخت او مشکل بلکه ناممکن ته نژدي وو، ليکن په زرګونو محدثينو کرامو خپل ټول عمرونه په دی يو کار کي صرف کول، دا

Maktaba Tul Ishaat.com

ناممکن يي ممکن کيدونکی کار جوړ کړ، دا پاك نفسونه يو يو ښار او کلی ته ولاړل دراويانو سره يي ملاقاتونه وکړل ددوی متعلق يي دخلکو څخه هر قسم معلومات حاصل کړه، دچا د حيثيت او مرتبی پروا يي ونه کړه، د واليانو او ملَك څخه واخله تر مقدسو پيشوايانو پوری يي لټون وکړ، او دحديثو دتنقيح او صفا کولو په خاطر يې ديوه يوه سړي د احوالو څخه پرده پورته کړه، ابن سيرين دمحديثونو کرامو په اولو العزم جماعت کي دصدر حيثيت درلودی، دوی په خپله روايت وکی او په تحقيق او تنقيح کي يي خاصه حصه واخسته، دوی د دې خپلو روايت کړو احاديثو څخه علاوه چي کوم په روايت د حديث کي لېدل کيږی، دثقاهت يو بل معيار هم قايم کړی او هغه دا چي صرف دحقي فرقی اهل سنت والجماعت څخه يی حديث اخستی دی، دروافضو او خوارجو، معتزله او نورو مبتدعو فرقو د مروياتو سره دی څه مقصد نه لري، امام شمس الدين ذهبي د (ميزان الاعتدال في نقد الرجال) په مقدمه کي دهغو ثقاتو ذکر کوي، د کومو احاديث چي قابل داستناد نه شميرل کيږی، ليکي چي په روايت د عاصم احول ابن سيرين وايي چي په اول کي به دحديثو په روايت کي داسناد څه لحاظ نه ساتل کيدی اٰخر دا چي هر کله فتني را پورته سوي او د صالحينو دامت په ډول اهل بدعت او اهل هوا هم روايت دحديثو شروع کړ، نو مورږ په حق او باطل کي دامتياز کولو لپاره دا معيار مقرر کی چي صرف داهل سنت والجماعت حديث دی واخستل سی، او داهل بدعت بيان دی قابل توجه نه شميرل کيږی واقعي چي دروايت دتنقيح دا يو غټ ضروري اصل وو کوم چي اختيار سو، که هغه وخت دا التزام نه وای سوی نو نن به په اصل او نقل، صحيح او موضوع کي تميز ګران څه چي بلکي نا ممکن به وو.

وفات

په کومو ورځو کي چي ددوی لمر د ژوندانه په ترقي کي وو دوی د کايناتو دهر شي څخه منقطع سو يوازی په ذکر، عبادت، دقران تلاوت، رياضت او مجاهده کي مستغرق سو، د دې تنهايي په ورځو کي يو واري ددوی مزاج داعتدال څخه ډير زيات خراب سو اٰخر په ۹ دشوال سنه ۱۱۰ هـ دورځې دا لمر د علم او عمل ددنيا دافق څخه ډوب سو، او په ټول عالم کي تياره خپره سوه، دحماد بن زيد بيان دی چي امام حسن بصري د رجب پر اوله سنه ۱۱۰ هـ په ورځ رحلت وکي زه دده دجنازي په لمانځه کي شريك وم، د دې حادثي او فاجعي څخه پوره سل ورځي وروسته ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ د ۷۷ کالو په عمر وفات سو.

❊ ❊ ❊

د کتاب کامل التعبير سريزه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

نحمده ونصلی علی رسوله الکريم وعلی جميع اولياء الله العلی العظيم.

د علم تعبير تعريف غرض او موضوع

واضحه دی وي چي دهر علم د شروع څخه مخکی ددرو خبرو پيژندل نهايت ضروری دی:
(۱): تعريف دعلم: ځکه چي په تعريف سره د دې علم حقيقت واضح سي چي فايده يي داوي چي انسان دغه علم په بصيرت او پوهه سره حاصل کړی. (۲): غرض او غايه دعلم: ځکه چي تر څو پوري ديو شي غرض او غايه معلومه نه وي، تر هغو پوري ددغه شي په تحصيل کي کوشش کول محض عبث او بي فايدي کار وي او د ړوند کونړ شخص په يو شي پسی دور پسی کيدو په ډول وی. (۳): موضوع دعلم: دهر علم موضوع هغه وي دکوم حالات چي په دی علم کي مذکور دی، لکه جسم انساني دعلم طب موضوع ده ځکه چي په علم طب کي د جسم انسانی دصحت او مرض حالات مذکور دی، ترڅو چي ديو علم موضوع معلومه نه وی ترهغه وخته ددغه علم دنورو علمو څخه امتياز او فرق مشکل وی، مثلا کله چي يو سړی ته دا معلومه سي چي دعلم طب موضوع جسم انساني دی نو که دده په مخکی دعلم صرف يا نحو يا دطب څخه ماسوا د بل يوه علم مسئله بيان سی او ده ته دا وويل سي چي دا مسئله د علم طب ده نو دی به فورا ووايي چي دا مسئله دعلم طب هيڅکله نه ده، ځکه چي په علم طب کي دجسم انساني حالات مذکور وی، نه چي داسم، فعل، حرف، مبني او معرب حالات، نو معلومه سوه چي دعلومو د يو بل څخه د امتياز او فرق لپاره ددغو علومو موضوع پيژندل ډير ضروري دی، چونکه علم التعبير يو ځانګړی علم دی، ځکه نو د دې تعريف، غرض او موضوع ذکر کوو:

د علم تعبير تعريف

علم تعبير هغه علم دی په کوم کي چي دخوبونو دتعبير اصول او قاعدي بيانيږي.

د علم تعبير غرض

د علم تعبير غرض دادی چي دخوب تعبر صحيح صحيح وسي دغلط تعبير څخه انسان محفوظ پاته سي.

د علم تعبير موضوع

د علم تعبير مضوع خوب دی ځکه چي په دی علم کي دخوب متعلق حالات بيانيږي.

د علم تعبير موجد او بنسټ ايښوونکی

اګر چي دهر شي موجد په حقيقت کي الله تعالی دی ليکن په عرف عام کي دهر علم موجد هغه سړی ته وايي چا چي د ټولو څخه اول دغه علم ته په دنيا کی رواج ورکړي دی، لکه دعلم منطق

Maktaba Tul Ishaat.com

موجد ارسطو او د علم عروض موجد خلیل نحوی دی، نو دعلم تعبیر موجود او واضع یوسف﵇ دی کوم ته چې دټولو څخه اول دا علم دالله تعالی دطرفه ورکړل سو، دوی دی ته په دنیا کی رواج ورکی ځکه ارشاد باري تعالی دی: (وكذٰلك يجتبيك ربك ويعلمك من تاويل الاحاديث، سورة يوسف: ٦) ژباړه: (ای یوسفه! دغسي به ستا رب تا غوره کړي او تاته به دخوبونو دتعبیر علم درکړي. په دی آیت کی دیوسف ﵇ سره دعلم تعبیر دخوب ورکولو وعده سوي ده، بیا داوعده پوره هم سوه، یعنی یوسف ﵇ د دې خبری پخپله اقرار کوي چه: (ربی قد اٰتيتني من الملك وعلمتني من تاويل الاحاديث، سورة يوسف: ١٠١) ژباړه: ای زما ربه تا ماته حکومت هم راکړو او دخوبونو دتعبیر علم دي هم راکړ، دیوسف﵇ علم د تعبیر په دنیا کي داسي مشهور او مروج سو چې په کومو ورځو کی دی دزلیخا دخواهش نفساني دنه پوره کولو په وجه دمصر په جیل خانه کي قید سوی وو، په دغو ورځو کي ددوی سره دوه قیدیان نور ګرفتار سوي وه دغه جیل خانی ته تللی وه، دغو دواړو په جیل کي خوب ولیدی چې په دی آیت کي یې ذکر سوی دی: (قال احدهما اني اراني اعصر خمرا وقال الاخر اني اراني احمل فوق راسي خبزا تاكل الطير منه نبئنا بتاويله انا نراك من المحسنين، سورة يوسف: ٣٦)، ژباړه: دیوسف﵇ دواړو ملګرو په جیل کی وویل چې ما په خوب کی خپل ځان ولیدی چې شراب جوړوم او بل وویل چې ما په خوب کی ولیدل چې پر سر مي ډوډی وي او مرغان یې خوری ای یوسفه ته موږ ته ددی خوبو تعبیر راکړه ځکه ته موږ ته ډیر ښه سړی معلومیږي. څرنګه چې یوسف ﵇ دواړو ملګرو ته دخوبونو تعبیر ورکړ چې: (يا صاحبي السجن اما احدكما فيسقي ربه خمرا واما الاخر فيصلب فتاكل الطير من راسه، سورة يوسف: ٤١) ژباړه: ای زما دجیل دواړو ملګرو په تاسوکی به یو دخپل مشر دشرابو ساقی وی او دا بل به پانسی سی او مرغان به دده دسر څخه په منګولو خوراك کوی. یو دم هماغسی وسوه یو دجیل څخه ازاد سو، دمصر دپاچا ساقی سو او بل په یو جرم پانسی سو، دکوم په باب چې یوسف﵇ داویلي وه چې ته به دمصر دپاچا ساقی جوړیږي دازادیدو په وخت کي یې ورته وویل: وروره که موقع پیدا سوه نو بیا پاچا ته زما ذکر وکړه هغه وعده وکړه لیکن وروسته بیا دده هیره سوه، اتفاقًا یو وار دمصر پاچا خوب ولیدی، ارشاد باری تعالی دی: (وقال الملك انی اٰری سبع بقرات سمان يأكلهن سبع عجاف وسبع سنبلت خضر واخر يابيسات يا ايها الملاء افتونی فی رؤیای ان كنتم للرؤيا تعبرون، سورة يوسف: ٤٣) ژباړه: دمصر پاچا وویل ما په خوب کی ولیدل چې اووه چاغ غوایي اووه ډنګر غوایي وخوری، او اووه شنه تازه او اووه نور وچ وږی می لیدلی دی، ای سردارانو که تاسو دخوب تعبیر ور کولای سی نو زما ددی خوب معنٰی را کړی. ساقی ته دیوسف ﵇ قصه وریاده سوه او دمصر دپاچا څخه یې اجازه وغوښته چې زه جیل خانې ته ولاړ سم او دیوسف ﵇ څخه

به ددی خوب معنٰی و پوښتم، څرنګه چې ساقی دمصر دپاچا په اجازت سره دیوسف علیه السلام په خدمت کی حاضر سو او دپاچا خوب يې ورته په تفصيل سره بيان کی او دتعبير پوښتنه يې ځني وکړه دوی ورته تعبير رقم ووايه: (قال تزرعون سبع سنين دابا فما حصدتم فذروه في سنبله الا قليلا مما تاكلون ثم ياتي من بعد ذالك سبع شداد ياكلن ما قدمتم لهن الا قليلا مما تحصنون ثم ياتي من بعد ذالك عام فيه يغاث الناس وفيه يعصرون، سورة يوسف: ٤٧ – ٤٩) ژباړه: يوسف علیه السلام د خوب په تدبيرکي داسي وويل چې تاسو خلک به اووه کاله دعادت مطابق فصل کری او څومره فصل چې کيدی دا به په وړو کی ساتی او لږ به د خپل خوراك لپاره اخلی بيا به اووه کاله سخته قحطی راځی چې دتيرو اوو کالو غله به ختمه سی ليکن لږ به ځني محفوظه پاته سی چې بيا يې وکری بيابه ددی څخه وروسته يو دخوشحالی کال راسی چې ښه باران به په کښی وسی چې خلک به پکښی دانګورو څخه شراب جوړوی.

دعلم تعبير شپږ مشهوره امامان

که څه هم په دې علم کی اکثرو اولياء کرامو او علماء ربانيونو ته کافی دسترس ترلاسه سوی دی ليکن دا مخ ته ليکلی شپږ بزرګان په دی علم کی په خاص طور سره مشهور ماهرين او بی مثله د زماني تير سوی دی دا وجه ده چې په دی علم کی عموما ددی شپږو امامانو اقوال په طور دسند پيش کيږي دغه شپږ امامان دادی:

(۱) دانيال علیه السلام (۲) امام جعفر صادق (۳) امام محمد بن سيرين (۴) امام جابر مغربی (۵) امام کرمانی (۶) امام اسمٰعيل بن اشعث رحمۃ اللہ علیہم.

يادونه: که څه هم دا شپږ امامان په علم تعبير کی پرخپل ځاي بي مثله وو ليکن دامام محمد بن سيرين نوم په دی علم کی په خاص طور سره دخلکو په ژبه دی ګواکی داسی ويل زيات مناسب معلوميږي چې ابن سيرين په لحاظ دشهرت په علم تعبير کي داسمان لمر دی.

د علم تعبير مشهور کتابونه

دغه رقم خو پر علم تعبير باندي په هره ژبه کی بي شميره کتابونه ليکل سوي دی ليکن دا لاندی ليکل سوی کتابونه په دی فن کی زيات مشهور، مقبول او مستند دی ځکه چې ددی کتابونو مصنفين په دی علم کی کامل ماهران تير سوی دی، د کتابو نومونه دادی:

(۱) کتاب الوصول، مصنف دانيال علیه السلام.
(۲) کتاب التقسيم، مصنف امام جعفر صادق رضی اللہ عنہ.
(۳) کتاب جامع، مصنف امام محمد ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ.
(۴) کتاب دستور، مصنف امام ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ.
(۵) کتاب الارشاد، مصنف امام جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ.
(۶) کتاب التعبير، مصنف امام اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ.
(۷) کتاب کنز الرؤيا، مصنف امام مامونی رحمۃ اللہ علیہ.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۸) کتاب بیان التعبیر، مصنف حافظ ابن اسحاق رحمۃ اللہ علیہ.
(۹) کتاب التعبیر، مصنف حافظ ابن اسحاق رحمۃ اللہ علیہ.
(۱۰) کتاب حمل الدلایل والمنافات.
(۱۱) کتاب مبادی التعبیر.
(۱۲) کتاب ایضاح التعبیر، مصنف امام فخری رحمۃ اللہ علیہ.
(۱۳) کتاب کافی الرؤیا.
(۱۴) کتاب التعبیر، مصنف بطاووس.
(۱۵) کتاب مفرح الرؤیا.
(۱۶) کتاب تحفة الملوك.
(۱۷) کتاب منهاج التعبیر، مصنف امام خالد اصفهانی رحمۃ اللہ علیہ.
(۱۸) کتاب مقدمة التعبیر.
(۱۹) کتاب حقایق الرؤیا.
(۲۰) کتاب وجین، مصنف امام محمد بن شاهوید رحمۃ اللہ علیہ.

د علم تعبیر د پاره کوم کوم علمونه ضروری دی؟

په علم تعبیر کی دماهر او کامل کیدو لپاره دلاندي لیکل سوو علمونه ازده کول بي اندازی ضروری دی: (۱) علم تفسیر (۲) علم حدیث (۳) علم ضرب الامثال (۴) اشعار عرب (۵) نوادر (۶) علم اشتقاق (دعلم صرف یوه حصه) (۷) لغات (۸) علم الفاظ متداوله.

د علم تعبیر فضیلت او تصدیق د قرآنی آیاتو څخه

علم تعبیر ډېر افضله علم دی، ددی دفضیلت تفصیل دلاندی دلائلو څخه ثابت دی:

۱: کوم شی چي الله تعالٰی په خپلو خاصو انعاماتو کی حساب کی، دهغه په افضل کیدو کی هیڅ خبره نسته حال دا چي علم تعبیر الله پاك په انعاماتِ یوسفی (علیہ السلام) کی حساب کړیدی، ارشاد باری تعالٰی دی: (وکذالك مکنا لیوسف فی الارض ولنعلمه من تاویل الاحادیث، سورة یوسف: ۲۱).

ژباړه: دغه رقم موږ یوسف علیہ السلام ته په مځکه (مصر) کی پاچاهی ورکړه او ده ته مو علم دتعبیر دخوب وښووی. که دا علم ښه او افضل نه وای نو الله تعالٰی به په خپلو انعاماتو کی دا ولی ذکر کوی؟ په انعاماتو الهیه کی ددی ذکر کیدل ددی خبری ښکاره دلیل دی چي علم تعبیر یو بی اندازی افضل او اعلی علم دی.

۲: نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم دمعراج څخه وروسته یو خوب ولیدی د کوم چي الله تعالٰی پخپله تصدیق کړیدی، ارشاد باری تعالٰی دی: (لقد صدق الله رسوله الرویا بالحق، سورة الفتح: ۲۷)، ژباړه: الله تعالٰی خپل رسول صلی اللہ علیہ وسلم ته رښتونی خوب وښودی. کله چي الله تعالٰی دنبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم دخوب تصدیق کړی دی نو ثابته سوه چي خوب یو بی اندازی ډیر لوي شی دی، ځکه بي نو نبی صلی اللہ علیہ وسلم ته خوب وښووی او الله جل جلالہ ددوی دخوب تصدیق ووایه دا ښکاره خبره ده چي کوم شی پیغمبرانو ته په

طور دانعام نصيب وی او الله تعالی يې صحيح او رښتيا هم وبولي نو ددی په افضل کيدو کی چا ته څه خبره کيدای سی؟ کله چې ثابته سوه چې خوب دپټو رازونو يو لوړ نعمت دی نو ددی څخه په لازمی طور سره داخبره هم ثابته سوه چې دخوب د تعبير علم هم يو بی اندازی لوړ او افضل شی دی ځکه چې داخبره ترلمر روښانه ده چې دخوب دتعبير دعلم شرافت ددی علم د موضوع په شرافت سره دی يعنی دکوم علم موضوع چې ښه وی دغه علم ښه وی او دکوم علم موضوع چې خرابه وی دغه علم هم خراب وی لکه علم سحر، او په تيرو سوو آياتونو سره دخوب افضل او لوړ کيدل ثابت سوه نو ثابته سوه چې په کوم علم کی دخوب حالات مذکور وی دغه علم يعنې دخوب دتعبير علم به هم عظيم او لوړ وی.

۳: يو انسان بيله څه ګناه قصداً قتل کول يو بد ترين اوبی اندازی کبيره ګناه ده، چې سزا يې دقران کريم په ثبوت سره هميشه هميشه په دوزخ کی اوسېدل دی، دا خبره دټول اهل اسلام په نزد ثابته ده چې انبياء عليهم السلام دګناهونو څخه بالخصوص دکبيره ګناهونو څخه پاك او معصوم وي ليکن ددی خبرو با وجود چې ابراهيم عليه السلام کله په خوب کی دا وليدل (انی اری فی المنام انی اذبحك، سورة الصافات: ۱۰۲) ژباړه: ای اسمٰعيله ما په خوب کی ليدلی دی چې دخدای ﷻ په لاره کې تا حلال کړم، نو ابراهيم عليه السلام داسمٰعيل عليه السلام په رضامندی سره نوموړی دالله لپاره حلال کړ، نو ځکه اللهﷻ ويلي دی: (وتله للجبين وناديناه ان يا أبراهيم قد صدقت الرؤيا انا كذلك نجزی المحسنين، سورة الصافات: ۱۰۳ –۱۰۵) ژباړه: هغه اسماعيل عليه السلام د حلالېدو لپاره پرې ايست، او موږ ږغ پر وکړ چې ای ابراهيم عليه السلام تا بی شکه خوب رښتيا کړ موږ نيکو خلکو ته همداسی اجر ورکوو. نوکه خوب لوړ او افضل نه وای ابراهيم عليه السلام به محض دخوب په بنا سره دخپل زړه سر دحلالېدو لپاره نه تياروی او الله تعالی به ده ته په امتحان کی د کاميابه کيدو دا بهترين او ښايسته سند نه ورکولای چې (يا ابراهيم قد صدقت الرؤيا، سورة الصافات: ۱۰۴) ژباړه: ای ابراهيمه! بيشکه تا خپل خوب رښتيا کی. نو په دی سره هم دخوب فضيلت د روښانه ورځی په شان ثابت سو، او ددی څخه داهم معلومه سوه چې په کوم شی کی ددی لوړ او افضل شی تذکره وی دغه علم چې علمِ تعبير دخوب دی هم اعلی او افضل دی.

د علم تعبير فضيلت د احاديث نبوی ﷺ څخه

(۱) په حديث شريف کی راغلی دی چې دخوبونو دتعبير علم ديوسف عليه السلام يو علمی معجزه وه او دا يوه ظاهره خبره ده چې کوم شی دپيغمبر معجزه وی دغه يقيناً بهتر، او افضل وی.

(۲) د انس رضی الله عنه څخه روايت دی چې نبی کريم ﷺ ويلي دی: (الرؤيا جزء من ستة واربعين جزء من النبوة) يعني دمومن خوب دنبوت شپږ څلويښتمه حصه وی، په ټولو انسانی کمالاتو کی نبوت دټولو څخه بهتره او افضل کمال دی دکوم په وجه چې انسان ترفرښتو هم افضل سی نو کوم شی چی دبهتره او افضل شی جزء وی دغه به هم بهتره او افضل وی نو ثابته سوه چې خوب يو اعلی

Maktaba Tul Ishaat.com

اوافضل شی دی او داهم ثابته سویده چې په کوم علم کی داعلی شی ذکر وي دغه علم به هم اعلی وی، نو په دی وجه ثابته سوه چې علم تعبیر یو اعلی او افضل شی دی ځکه چې په دی کي دخوب په شان داعلی او افضل شی حالات مذکور وی.

(۳) په حدیث شریف کی راغلی دی چې دعبدالله ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ ویلي دی چې خوب یو قسم وحی ده دکوم په ذریعه چې الله تعالی خوب لیدونکی ته دده په ښو یا بدو باندی خبر ورکوی کوم چې ده ته رسیدونکی وی چې دغه سړی په دنیا کی مغرور نه سی او دخدای ذوالجلال جل جلاله دحکم څخه غافله نه سی ددی حدیث څخه ثابته سوه چې خوب داسی اعلی شی دی لکه وحی.

(۴) ابوهریره رضی الله عنه ویلی دی چې کله به نبی کریم ﷺ ناجوړه سو نو صحابه کرام رضی الله عنهم به غمجن په خدمت کی حاضر سول او عرض به یې کوی چې تاسو به مورږ ته دخیر کارونه رابنول خدای دي نه کوی که په تاسو یو څه وسول نو مورږ ته به څوك نصیحت کوی، او مورږ ته به دنیوي او اخروي خیر او شر څنګه معلومیږی؟ نبي کریم ﷺ په جواب کی وویل (بعد وفاتی ینقطع الوحی ولا ینقطع المبشرات): زۀاړه: زما دوفات څخه وروسته خو به وحی بندي سي لیکن مبشرات به نه بندیږي، صحابه کرام رضی الله عنهم عرض وکی چې مبشرات څه شی دی؟ نبی کریم ﷺ وویل چی (الرؤیا الصالحة التی یراها المرء الصالح) ژباړه: مبشرات هغه ښه خوبونه دی کوم چې نیکو بنده ګانو ته ښکاره کیږی. ددی حدیث څخه ثابته سوه چې ښه خوب دنبوت قایم مقام دی، دا ظاهره ده چې کوم شی د یو اعلی او افضل شی قایم مقام وی دغه هم اعلی او افضل وی، نو ثابته سوه چې خوب یو اعلی او افضل شی دی، داهم ثابته سوی ده چې دکوم علم موضوع اعلی او افضل وی دغه علم هم اعلی او افضل وی نو ثابته سوه چې دخوب دتعبیر علم یو اعلی او افضل علم دی.

(۵) ابو سعید خدری رضی الله عنه ویلی دی چې ما دنبی کریم ﷺ څخه اوریدلي دي چې یوه ورځ یې صحابه کرام رضی الله عنهم ته دا وویل چې کله په تاسو کی یو سړی یو ښه خوب ووینې نو ده ته پکار ده چې دالله تعالی شکر ادا کړی او دغه خوب دخپلو مومنو اندیوالانو او ورونو په مخکی بیان کړی او که بی کاره خوب ووینې او ښه سړی لیدلی وی نو دړې واری دی ووایي: (اعوذ بالله من الشیطٰن الرجیم) ژباړه: زه د مردود شیطان څخه دخدای جل جلاله پناه غواړم، او دا بد خوب دی چاته نه وایي چې ده ته یو قسم تاوان او غم ونه رسوی، ددی حدیث څخه هم دخوب عظمت ثابتیږی، کله چې نبی کریم ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم ته دخوب دویلو یا نه ویلو ټینګار کوی که بل ضروری یا ادنی شی وای نو دومره ټینګار به یې نه کاوه.

دعلم تعبیر فضیلت دصحابه کرامو اوبزرګانو داقوالو څخه

۱: دعبدالله ابن عباس قول دی چې دټولو څخه اولنی نعمت کوم چې الله تعالی نبی ﷺ ته ورکړی وو، هغه دا وو چې دوی په خوب کی یوه مقربه فرشته ولیده چې ددوی ﷺ سره داسی

په خبرو مشغوله سوه ای محمده! تاته دی خوشخبری وی چي تاسو ته الله تعالی دانبیاوو په صنف کی کامیاب ویلی دی او تاته یي خاتم الانبیاء ویلی دی او ستا په حق کی الله تعالی دا ویلی دی: (ولکن رسول الله و خاتم النبیین، سورة الاحزاب: ٤٠) ژباړه: رسول ﷺ ستاسو په سړیو کی د کوم سړی پلار نه دی بلکه دالله رسول او اخری نبی دی. کله چي نبی کریم ﷺ بیداره سو نو دوی ددی تعبیر دنبوت په خوب سره وکړ، د عبدالله ابن عباس رضی الله عنه ددی قول څخه ثابته سوه چي خوب یوداسی اعلی او افضل نعمت دی دکوم په وجه چي نبی کریم ﷺ ته دپیغمبری بشارت حاصل سو اود کوم په ذریعه چي دوی ته دمقربی فرشتی (جبرئیل علیه السلام) زیارت حاصل سو نو په کوم علم کی چي ددا سی افضل شی ذکر وی ضرور به هغه افضل وی، نو دصحابی ددی قول څخه هم دعلم تعبیر افضلیت په ښه شکل ثابت سو.

(۲) هشام بن عروه رضی الله عنه دخپل پلار څخه روایت کوی چي (عروه) ویلي دی چي په قرآن مجید کی چی کوم دا ذکر سویدی چي (لهم البشرٰی فی الحیوة الدنیا، سورة یونس: ٦٤) یعني دی نیکو بندګانو ته ددی دنیا په ژوند کی هم بشارت سته. په دی آیت کی دبشارت څخه مراد دنیکو بندګانو خوب دی برابره خبره ده که هغه نیك بنده پخپله څه نیك خوب ووینې یا بل سړی ده لره په خوب کی یو داسی اعلی او افضل شی ووینې کوم ته چي په قرآن کی په بشری او خوشخبری سره تعبیر سوی دی، د خوب دافضیلت څخه دعلم تعبیر د خوب افضلیت هم په پخوانی طریقه معلوم سو.

(۳) ابن سیرین رحمة الله علیه ویلی دی چي په علم تعبیر او نورو علومو کی دافرق دی چي ددې علم طالب ددی علم داصولو خلاف نه سی کولای او دده قیاس قابل تعبیر هم نه وی او ده ته د تعبیر طریقه نه سی معلومیدلای، لیکن دا علم داسی نازك دی چي ددی اصول پر یوه حالت قایم نه وی ځکه چي دخلکو حالات بدلیږی په موجب ددوی دشکل، شباهت، صفت، دیانت، همت او اعتقاد. داوقاتو په اختلاف سره هم په دی علم کی اختلاف واقع کیږی ځکه چي یو وخت خو تعبیر په مثل او اصل سره کیږی، او کله دده په ضد او نقیض سره، کله خوب درست وی او کله درست نه وی، په دی قول سره هم دا خبره په ښه ډول ثابته سوه چي دا علم لوی لطیف او نازك شی دی او دا تر لمر زیاته روښانه ده چي نازك شی اعلی او افضل وی.

د کومو خلکو څخه د خوب د تعبیر پوښتنه کول منع دی

امام جعفر صادق رضی الله عنه وایي چي دخلور قسمه خلکو څخه دتعبیر دخوب پوښتنه کول نا روا دی: ۱: د بی دینو خلکو څخه، کوم چي دشریعت پابنده نه وی ځکه چي دخوب دتعبیر دنیکو او بابرکته خلکو څخه پوښتنه کول پکار دی او بی دینه خلک دخدای د نافرمانی په وجه د دروازی څخه شړل سوی وی په دوی کی خیر او برکت نه وی. ۲: دښځو څخه، ځکه چي په تعبیر د خوب کی لوی عقل او پوهه پکار وی او دا ظاهره ده چي ښځی ناقص العقل وی په دی وجه په شریعت محمدی کی ددوو ښځو ګواهی دیوه سړی قایم مقامه ګرزول سوېده. ۳: دجاهلانو

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه، کوم چې ددیني علم څخه پوره خبر نه وی په دنیوی علومو کی که څه هم دی رسېدلی وی، ځکه اول ذکر سوی دی چې تعبیر ورکوونکی ته دعلم تفسیر او حدیث او نورو عالم کیدل ضروری دی. ۴: ددښمن څخه، ځکه چې دښمن هم دخیر او برکت څخه خالی وی دارنګه ددوی څخه دا بیره هم وی چې دخوب بد تعبیر وکړی او دا ظاهره ده چې دخوب څنګه تعبیر وسی هماغسی واقع کیږی نو ځکه ارشاد باری تعالٰی دی: (قضی الامر الذی فیه تستفتیٰن، سورة یوسف: ٤١) ژباړه: یوسف﵇ دجیل خانی اندیوالانو ته وویل ای زما دجیل اندیوالانو دکوم خوب دتعبیر چې تاسو زما څخه پوښتنه کړیده دغه به زما دتعبیر مطابق په حکم دخدای ﷻ واقع کیږی.

په معبر کی د کومو کومو ادابو شرطونه ضروری دی؟

امام ابن سیرین رحمه الله علیه ویلي دی چې تعبیر کونکی ته علاوه دعالم دین کیدو څخه ددی خبرو هم پابنده کیدل ضروری دی چې دخلکو دطریقو خصایلو عاداتو او احوالو څخه پوره واقف وی او دالله تعالٰی څخه همیشه دا توفیق غواړی چې الله تعالٰی دده پر ژبه باندی ښه او د ثواب خبره جاری کړي او دبدو خبرو ویلو او اوریدلو څخه ځان ساتی ددی لپاره چې دی د: (العلماء ورثة الانبیاء) یعني علماء ربانی او باعمله عالمان دپیغمبرانو وارثان وی، مصداق جوړ سی. امام ابراهیم کرمانی ویلي دی چې تعبیر کونکی ته ددی ادابو لحاظ ساتل ډیر ضروری دی: چې خوب په ډیره هوښیاری اوخاصه توجه سره واوری او دخوب د پوښتنی کوونکی ددین، مذهب او خیالاتو څخه واقفیت حاصل کړی چې ده ته دا معلومه سی چې پوښتنه کوونکی رښتیا وایي که درواغ ځکه چې نبی کریم ﷺ ویلي دی: (اصدقکم رؤیا اصدقکم حدیثا) یعني کوم سړی چې په تاسو کی زیات رښتیا ګویه وی هغه سړی په خوب بیانولو کی هم ستاسو ټولو څخه زیات رشتونی دی. ابن سیرین ویلی دی چې دتعبیر کوونکی لپاره دا ضروری ده چې کله دی خوب اوری نو دي باید په اوداسه کی وی، که پوښتنه کوونکي دتعبیر کونکی دښمن وی نو محض ددښمنی په وجه دی دده برخلاف تعبیر نه کوی که دخوب تعبیر دسایل لپاره نقصانی وی نو دا تعبیر دی خلکو ته نه وایي. دانیال﵇ ویلی دی چې معبر ته پکار ده چې هوښیار او تقوٰی داره وی، ارام طبع او صاحب علم هم وی او دګناهونو څخه پرهیز کوی او څه وخت چی دده څخه د تعبیر پوښتنه وسی نو دی هوښیار او متوجه وی او دسایل څخه سوال په کمال احتیاط سره اوری او دا هم معلومه کړی چې څوك بادشاه وی یا ادنٰی رعیتی، سردار دقوم دی او که سپك جاهل، غریب دی که امیر، ښځه ازاده ده که مشغوله، او دخوب دسایل څخه دي پوښتنه وکړي چې په موسم دګرمی کی لیدلی دی که په موسم دیخ کی، کله چې دا ټول امور معلوم کړی نو دهری یوی خبری تعبیر دی ددی علم داستاذانو داصولو اوقواعدو مطابق وکړي دغسی بلا سوچ اوفکر دی دخپل طرف څخه هیڅکله تعبیر نه ورکوی. ابن سیرین سره ددی چې دعلم

تعبیر یوازینی امام وو لیکن چې دکوم خوب تعبیر به یې په فکر کی رانغی دهغه تعبیر به یې هیڅکله نه بیانوی، ابو حاتم اصمعی دابو المقدام څخه روایت کوی چې امام ابن سیرین ویلي دی: معبر ته پکار دی چې اول دپوښتنه کوونکی خبره په ښه شان سره واوری او په تعبیر کی یې ښه فکر وکی که یوه خبره سخته وی لیکن معنٰی یې صحیح وی نو څنګه چې په یو بل ډول سره ددی دتعبیر احتمال وی دهغه مطابق دی دغه وخت تعبیر ورکړی او که دخبری په منځ کی څه زیات او بی کاره مضمون وی نو دغه زاید مضمون دي ځنی جلا کړی او د اصل خبری تعبیر دی ورکی، که ټول خوب بی جوړه او مختلف وو او ددی څه مضمون دیو بل سره نه یو ځای کیدی نو داسی خوب دی پریشانه خوب بولی او تعبیر دی نه کوی، که معبر ته دسائل دخوب تعبیر معلوم نه سی نو په داسی حالاتو کی دی دسائل په نوم سره تعبیر وکړی یا دی ددده دطبعیت، بیان، خبرو، ښایست او بدرنګوالی، رښتیا او درواغ او بل یو شی محفوظ وساتی تعبیر دی معلوم کړي، که دخوب تعبیر یې بد ګڼی نو سایل ته دی نه وایي او ددده څخه دی پټ ساتی.

امام ابراهیم کرمانی ویلي دی چې معبر دی په قبرستان کی دخوب تعبیر نه کوی، دانیال علیه السلام ویلي دي چې معبر ته پکار دی چې دسائل یا دسائل دپلار پر نوم فکر وکړی که دسائل یا دسائل دپلار نوم دپیغمبرانو دنومونو څخه وو نو دجذر او فال په حساب سره دی ددی تعبیر په خیر او بشارت او خوښی سره کوی او که نوم یې ناکاره وو نو په شر او فساد سره دی کوی. ابن سیرین ویلی دی چې معبر ته پکار ده چې دټولو څخه اول دسائل نوم او مرتبه مذهب او سیرت، خصلت اوعقل فهم معلوم کی بیا دا وګوری چې خوب یې دورځی لیدلی دی یا دشپی او دا دي په نظر کی ساتی چې سائل دپوښتنی په وخت څه حرکت کوی اوخوب په څه طریقه بیانوی او بیا دی موسم میاشتی او ورځ معلومه کړی، وروسته دی یو ځای ولاړ سی ددی خوب تعبیر دی په په غور او سوچ سره معلوم کړی او ودی وایي، لکه طبیب چې د ناجوړ په علاج کی تجربه کاروی.

خوب لیدونکی ته کوم اداب او شرائط پکار دی

ابراهیم کرمانی ویلی دی چې خوب لیدونکی ته پکار ده چې ده څنګه خوب لیدلی وی بعینه یې هغه رقم معبر ته بیان کړی کمی او زیاتی دی هیڅکله نه په کښی راولی او نه دي درواغ وایي او نه دی ددرواغو خوب جوړوي ځکه چې په جیل خانه کی یوسف علیه السلام چې هغو دوو قیدیانو ته دخوب تعبیر ور وښووی نو صاف صاف یې ورته وویل: چې دکومی خبری تاسو دواړو زما څخه تعبیر غوښتی وو دغه به زما دتعبیر مطابق په حکم دخدای پاك واقع کیږی، خوب لیدونکی ته پکار ده چې دی رښتنی او دیانتدار وی، که خوب لیدونکی دځه بیری یا ترهی خوب وویني چې دی ځنی وبیریږی نو ده ته پکار ده چې دری واری آیة الکرسی ووایي اوپر ځان دی چوف کی او دا کلام دی وایي (اعوذ برب موسٰی وابراهیم من شر الرؤیا التی رأیتها من منامی ان یضرنی فی دینی ودنیای

Maktaba Tul Ishaat.com

ومعیشتی عز جاهك وجل ثنائك ولا الٰه غیرك) ژباړه: زه دموسی علیه السلام او ابراهیم علیه السلام په رب سره پناه غواړم د دی خوب دبدوالی څخه کوم چې ما په خپل خوب کی لیدلی دی چې داسی نه وی ماته څه ضرر اونقصان را ورسوی زما د دین او دنیا په کارونو کی او زما په روزګار کی الٰهی ستا مرتبه دټولو څخه لویه ده او ستا ثنا ډیره لویه ده او ستا څخه ماسوا بل دعبادت لائق نسته. ددی څخه وروسته دی دوه رکعته نفل لمونځ وکړی او صدقه دی وکړی نو ددی خوب د نقصان څخه به محفوظ پاته سی.

شیطان په خوب کی په کوم کوم شکل نه سی راتلای

امام جابر مغربی ویلی دی چې شیطان په ټولو خوبونو کی خامخا دخل کوی او خپل ځان دټولو شیانو په شان جوړوی لیکن دخدای تعالٰی دپیغمبرانو، فرشتو، آسمان، لمر، سپوږمی، ستورو په شان نه سی راتلای ځکه چی که ده ته دخدای دطرف څخه دا اختیار حاصل سی نو دی به خپل ځان ددی شیانو په شان جوړوی او ښکاره کیږی به، نو په ټولو بنی آدمو کی به فتنه او فساد خپروی او خلک به ګمراه کوی ځکه چې دی به کله ځان د پیغمبرانو په صورت کی ظاهروی او صاحب خوب ته به وایي چې زه ستا څخه ډیر خوشحال یم ته چې څه غواړی کوه یې او چاته به وایي چې زه ستا پیدا کوونکی یم ما ستا ټول ګناهونه معاف کړی دی او ته می بخښلی یې او نور... نو داسی به د الله تعالٰی بندګان په قسم قسم خبرو ګمراه کوی.

د ابن سیرین د علم تعبیر متعلق بعضی اقوال او قصی

ابن سیرین ویلی دی چې په خوب کی یوه عجیبه خبره دا لیدل سوی ده چې بعضی وخت په خوب کی یوه دخیر او ښیګنې یا شر او افت خبره لیدل سوی وي او چې بیدار سی نو بعینه دغه رقم ده ته خیر او راحت یا شر او افت ورسیږی، یوه ددی څخه هم زیاته عجیبه خبره لیدل سوی ده هغه دا چې ډیر خلک بیکاره ذهن او ژبه ور وی چې په بیداری کی یو معمولی شعر هم په ښه ډول سره نه سی ویلای اونه یې یادولای سی، لیکن په خوب کې یې دغه خراب ذهن او ژبه ور په ښه رقم وایي او یادوي یې او بیا دبیداری په حالت کی یې هم په ښه طریقه سره اوری، علٰی هذا القیاس ډیر جاهلان او نالوستي خلک په خوب کې داسی د حکمت خبری او ښه ښه الفاظ وایي چې حاکمان او عالمان یې هم نه سی ویلی او چې بیدار سی نوبیا دغه خبری دوهم واری په ویښه وایي.

قصه

وایي چې یو سړی دابن سیرین څخه پوښتنه وکړه چې ما په خوب کی دلمانځه اذان ویلی دی ابن سیرین وویل چې ته به اسلامی حج وکړی، دغه وخت یو بل سړی راغی هغه هم دا پوښتنه وکړه چې ما ځان په خوب کی د لمانځه لپاره اذان کوونکی ولیدی نو ده ته یې وویل چې تابه خلک دغلا په تهمت ونیسي نو شاګردانو پوښتنه وکړه چې دا دواړه خوبونه خو په ظاهره یو رقم دی لیکن تعبیر یې تاسو دیو بل څخه خلاف وکړی؟ دوی وویل د اولنی سړی شکل او

صورت ماته دنيك او صالح غوندي په نظر راغی نو ما ورته وويل چي ته به حج وکړی په موجب ددی آيت: (ثم اذن مؤذن ايتها العير انكم لسارقون، سورة يوسف: ۷۰) يعنی يو اواز کونکی دا اواز وکړی چي ای دقافلی خلکو: تاسو ضرور غله ياست.

ابن سيرين ويلی دی چي دخوب دوه قسمه دی، اول: دخوب حکم کوم چي صحيح وی، دوهم: اضغاث او احلام، دغه خوب پريشانه او ګډوډ وی او اضغاث دوښو خلاصی ګيډی ته ويل کيږی يعنی لکه څنګه چي دوښو ګډی په باغونو کی ګډی وډی او خوری وری پرتی وی دغه رقم اضغاث احلام هم پاشلی او خپاره وی، بيا دا اضغاث او احلام (ګډوډ خوبونه) پر دری قسمه وی: ۱: بعضی دطبيعت او هوا د غلبی څخه وی ۲: بعضی دشيطان دنمائش څخه وی ۳: بعض دنفساني خبرو څخه، دا دری قسمونه دی.

ابن سيرين ويلی دی چي کله دخوب ليدونکی څخه خوب هير سی او معبر دغه خوب معلومول غواړی نو پکار دی چي خوب ليدونکی ته ووايي ته خپل لاس پر خپل يو اندام باندی کښيږده، که پر سر يي کښيښودی نو په خوب کی به يي سمساره ليدلی وی او که پر پزه يي لاس کښيښووی نو دغره لمن به يي ليدلی وی، او که پرمخ يي لاس کښيښودی نوده به سرسبز فصل يا شين ځنګل ليدلی وی اوکه پرخوله يي لاس کښيښودی نو ده به چينه ليدلی وی، او که پر سترګو يي لاس کښيښودی نو ده به دترخو اوبو چينه ليدلی وی او که پر غوږ يي لاس کښيښووی نو ده به غار ليدلي وی، او که پر ږيره يي لاس کښيښودی نو ده به ګياه ليدلی وی او که پر ګيډه يي لاس کښيښودی نوده به په خوب کی درياب ليدلی وی، او که پر عورت يي لاس کښيښودی نو ده به په خوب کی غير اباده مځکه ليدلي وی، اوکه پر اوږه يي لاس کښيښودی نو ده به کوټه يا بله نظاره ليدلی وی، او که پر مړوند يي لاس کښيښودی نو ده به څه ميوه داره درخته ليدلی وی، او که پر ګوتو يي لاس کښيښودی نو ده به ددرختی کوچنی کوچنی ښاخونه ليدلی وی، او که پر مقعده يي لاس کښيښودی نو ده به تښتی ليدلی وی، اوکه پر زنګون يي لاس کښيښودی نو ده به يوه لوړه غونډی ليدلي وی، او که پر پنډی يي لاس کښيښودی نو ده به بی ميوی درخته ليدلی وی.

ابن سيرين ويلی دی چي په کوم خوب کی بنده خدای ﷻ بی مثله او بی مثال ووينی ددی خوب څخه زيات بابرکته بل خوب نه وی، جبرئيل عليه السلام په خوب کی خوش طبع او په ورين تندی ليدل پر دښمن دفتحياب کيدو علامت دی که ددی بر خلاف وو نو درنج او غم نښانه ده، په خوب کی عزرائيل عليه السلام پر اسمان او ځان پر مځکه ليدل ددی خبری علامه ده چي خوب ليدونکی به دخپلی مرتبی څخه معزول سی، فرشتي ديو بل سره په جنګ ليدل ددی خبری نښه ده چي خوب والا به په ګناهونو اوعذاب الهی کی ګرفتار سی، په خوب کی صديق اکبر رضی الله عنه ليدل دخوشحالی او راحت علامت دی او عمر فاروق رضی الله عنه ليدل ددی خبری علامت دی چي خوب والا به عادل او انصاف والا وی، که دوی يي په يو ښار کی خوشحاله وليدل نو ددی خبری علامت

Maktaba Tul Ishaat.com

دی چې په دی ښار کی به دعدل او انصاف ظهور وی، عثمان رضی الله عنه په خوب کی لیدل ددی خبری علامت دی چې خوب والا زاهد عابد او پرهیزګاره دی او په یو ښار کی د ده خوشحاله لیدل ددی خبری ښه ده چې ددی ښار خلک به دقران کریم او نورو علومو حاصلولو شوقمند وی، علی رضی الله عنه په خوب کی خوشحاله لیدل دصاحب خوب دبهادر او سردار کیدو ښه ده، او په یو ښار کی دوی خوشحاله لیدل ددی خبری ښه ده چې ددغه ځای خلک به عدل او انصاف والا وی لیکن کله کله به په دوی کی جنګ او فسادات ښکاره کیږی، صحابه کرام رضی الله عنهم په خوب کی لیدل ددی خبری علامت دی چې خوب والا به ددین اسلام پر لاره باندی مضبوط وی او په مسلمانانو کی به رښتنی مشهور سی او په دیانتداری کی به هم معروف سی، امام حسن رضی الله عنه اوحسین رضی الله عنه په خوب کی لیدل ددی امر علامت دی چې خوب والا به خیر او راحت ووینې او په اخر کی به شهید مړ سی، په خوب کی داوربشو اوړه صحیح لیدل ددین دروغتیا علامت دی او دغنمو اوړه لیدل نفع بخښونکی او دتجارت دمال حاصلیدو ښه ده او د باجری اوړه لیدل دلږ مال دحاصلیدو علامت دی.

د دانیال علیه السلام اقوال

دانیال علیه السلام ویلي دی چې خوب په اصل کی پر دوو خبرو مبنی دی، اول: هغه خوب چې د حقیقت د حال څخه خبر ورکړی، دوهم: هغه خوب چې دهر یو کار دانجام خبر ورکوونکی دی، بیا ددواړو قسمو څخه څلور قسمونه راوزی: اول: آمر خوب: (حکم ورکوونکی خوب) دوهم: زاجر خوب (منع کوونکی خوب) دریم: منذر خوب (بیروونکی خوب) څلورم: مبشر خوب (خوشخبری ورکوونکی خوب). دانیال علیه السلام ویلی دی چې خوب لیدل او ددی هیریدل دڅلورو وجهو څخه کیدای سي: اول دکثرت ګناه په باعث خوب یاد نه پاته کیږی، دوهم دمختلفو اعمالو په وجه سره خوب هیریږي، دریم دنیت او اعتقاد دکمزوری په وجه سره خوب هیریږی، څلورم دطبع داختلاف په وجه سره یعنی کله چې دی دخپلو حالاتو څخه بدل سی نو په دی حالاتو کی صاحب خوب خپل خوب هیروی، دانیال علیه السلام ویلی دی چې کوم سړی د سهار څخه واخلی تر غرمی پوری دخوب دتعبیر پوښتنه کوی دده تعبیر به په اقبال او بهتری سره ورکول کیږی او که دزوال څخه وروسته پوښتنه کوی نو تعبیر به یې په شر او فساد سره کیږي، دارنګه دوی ویلي دی چې دوریځي او باران په ورځ او دلمر دختلو او لویدو په وخت کی دتعبیر پوښتنه ناجائز ده، دانیال علیه السلام ویلي دی چې کوم مومن بنده خدای تعالی بی مثله او بی مثاله په خوب کی ووینې لکه چې دقرآن په آیاتونو او احادیث نبویه کی ذکر دی نو ددی تعبیر دادی چې الله تعالی به دي خوب والا ته خپل دیدار عطاء کړی او دده حاجتونه به هم پوره کړی، که داسی خوب ووینې چې دی ولاړ دی او الله تعالی ووینې نو په دی کی به دلیل دده صلاحیت رښتیا او سلامتی دنفس وی اودی به د مغفرت لپاره مخصوص وی او که دی ګناه ګار وی نو توبه به وباسی.

دامام جعفر صادق رضی اللہ عنہ اقوال

امام جعفر صادق رضی اللہ عنہ ویلی دی چې داوړو چانوولو دغلبیل تعبیر په دی څلورو شیانو کیدای سي: (۱) نیك سړی (۲) خرابه ښځه (۳) ناکاره مزدور (۴) یو څه نفع، په قول دامام جعفر صادق په خوب کی نغری یا انګیټی لیدل دمزدوری ښځی یا دمنځی تعبیر ظاهروی، لمر په خوب کی لیدل په اتو وجهو کیدای سی: اول: خلیفه، دوهم: غټ بادشاه، دریم: رئیس، څلورم: بزرګ عامل، پنځم: عادل پاچا، شپږم: د رعیت فایده، اووم: دسړی لپاره ښځه او دښځی لپاره سړی، اتم: یو نیك او روښانه کار، دغه رقم ددوی دا هم قول دی چې که یو سړی په خوب کي خپل ځان ولیدی چې لمر ته یې سجده وکړه نو ددی تعبیر دادی چې پاچا به ده ته عزت ورکړی او خپل مقرب به یې جوړ کړی او دده کاروبار به پر ترقی سی، هنداره په خوب کی لیدل په شپږو وجهو وی: (۱) ښځه (۲) لور (۳) بادشاهي (۴) یار و دوست (۵) شریك (۶) ښه کاروبار، دا رقم ددوی قول دی چې که یو غریب سړی په خوب کی هنداره ووینې نو ددی خبری علامت دی چې دی به دیوی ښځی سره واده وکړی اوبزرګی به پیدا کړی اوکه یوه انجلی هنداره ووینې نو تعبیر یې دادی چې دي ته به داسی ښه خاوند ورسیږی چې دا به ورسره په عزت او ابرو ژوند تیر کړی، په خوب کی دلرګیو څیرلو آره لیدل په درو وجهو ده: (۱) فرزند (۲) خور یا ورور (۳) شریك اوهم سفر، په خوب کی دقلعی لیدل پر درو وجهو مبنی وی: (۱) نفع (۲) خدمتګار (۳) د کور اسباب، په خوب کی امرود خوړل پر پنځو وجهو مبنی وی: (۱) حلال مال (۲) مالداری (۳) ښځه (۴) مراد موندل (۵) نفع حاصلول.

دامام کرمانی رحمۃ اللہ علیہ اقوال

امام کرمانی ویلي دی چې که چا دا خوب ولیدی چې یو سړی دده دکور څخه بالښت واخلی دبل کور ته یې یوسي نو تعبیر یې دادی چې یو سړی به دده ښځه یا مینځه تښتول غواړی او ورپسی به وی، دډبری یا چونی پر پورپو دختلو تعبیر دادی چې خوب لیدونکی به قدر او منزلت پیداکی شرف او بزرګی به حاصله کړی او که خوب والا خپل ځان ولیدی چې اسمان ته ختلی دی او بیا وروسته رانغی نو ددی خبری علامت دی چې دده اجل او مرګ به نژدی راغلی وی او که وروسته راغلی نو دا ګټل پکار دی چې خوب والا به سخت ناجوړه سی لیکن په اٰخر کی به شفا پیدا کوی، کرمانی ویلي دی چې په خوب کی دباغ څخه مراد مالداری او صاحب جمال سړی وی که څوك داخوب ووینې چې په پسرلی یا دګرمی په موسم کی دی خوشحاله ګرځی او په باغ کی قسم قسم میوی دی او رنګارنګ ګلونه دی او اوبه پکښی بهیدلی او دی په باغ کی ناست وو نو تعبیر یې دادی چې خوب والا به دشهادت په مرګ مړ سی ځکه چې داټول صفتونه دجنت دی که څوك نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم په ښار یایو ځای کی ووینې نوتعبیر یې دادی چې په دغه ښار یا ځای کی به نعمت فراخ سی او ددغه ځای پر خلکو به نعمت فراخ سی او تسلی دخاطر به ورته حاصله سی.

که یو سړی اسرافیل علیہ السلام غمناك ووینې او دغمناکي په حالت کی یې شپیلی وهونکی ووینې

Maktaba Tul Ishaat.com

نو دا ددی خبری علامت دی چې په دغه ملك کی به مرګ ډیروی اوظالمان به هلاك سی، که یو سړی په خوب کی دا ووینې چې ده دچا مال دمال والا په رضامندی سره دخدای په لاره کی خرڅ کړی نو ددی دخیر اوشر تعبیر به دصاحب مال طرفته کیږی، که یو سړی په خوب کی دا ووینې چې ده دیوه سړی تیونه رودل نو تعبیر یې دادی چې خوب والا به ناجوړه سی اوکه دده ښځه حامله وی نو هلك به یې پیدا سی، کرمانی ویلی دی چې که څوك په خوب کی دا ووینې چې دده زړه درد کوی نو دا ددی خبری علامت دی چې دده مال به زیات سی او که ووینې چې دده دزړه سترګی خلاصی سوی دی نو دا ددی خبری ښښه ده چې خوب والا به ددین اودنیا دکارونو حریص وی او که دده دزړه څخه وینه وتله نوتعبیر یې دادی چی دی به دبدو کارونو څخه توبه وکړی او دخدای طرفته به رجوع وکړی، که ووینې چې دده دزړه څخه ژړی اوبه وځی نو تعبیر یې دادی چې دی به مریض سی او که ووینې چې دده پر زړه باندی څه خفګان یا زخم وی نو تعبیر یې دادی چې دی به بی غمه سی او که ووینې چې دده دزړه څخه ملغلری راوزی او هغه ملغلری ده دخولی څخه وغورځولې نوتعبیر یې دادی چې دخوب خاوند به کافر سی او که ووینې چې ملغلری ده دځمکی څخه پورته کړې او ویې خوړی نو تعبیر یې دادی چې دی به مسلمان سی که په خوب کی څوك منګی یا منګوټی ووینې نو په مینځه یا خادم سره یې تعبیر کول پکار دی اوکه ووینې چې ده منګی یا منګوټی اخستی دی یا جوړ کړی دی نو تعبیر یې دادی چې دی به مینځه یا غلام واخلی یابه مزدور ورته حاصل سی، د مړز په خوب کی لیدل دمال او رزق علامت دی په خوب کی، دخره په نظر راتلل دمال ښښه ده.

د جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ اقوال

جابر مغربی ویلې دی چې که چا په خوب کی دا ولیدل چې دی پر یو کلنې اوښ ناست دی نو ددی خبری دلیل دی چې دی به غمګین وی او که ووینې چې دده د اوښ دیوه اندام څخه وینه بهیدله نو دا ددی خبری ښښه ده چې دی به په قدر دوینې سعادت او نعمت دنیوی حاصل کړی او که ووینی چې ده د اوښ مهار راکشوی نو تعبیر یې دادی چې د یو فرمانبردار سړی سره به جګړه وکړی، په خوب کی بادام لیدل دمال علامت دی لیکن که بادام د پوستکی سره وی نو تعبیر یې دادی چې مال به ورته په یوڅه رنځ او سختی سره په لاس ورسی او که بادام بیله پوستکی ووینې نو دا ددی ښښه ده چې مال به په اسانی په لاس ورسی که څوك ووینې چې په خوب کښی یې دبزی غوښه خوړه نو ددی خبری ښښه ده چی دی به ناجوړه سي او بیا به جوړسي په خوب کی زړه پرده لیدل دپاچا او رعیت دواړو لپاره ښه ښښه نه ده او که چا په خوب کی ولیدل چې دده پر مخ ګرزونه پراته دی دا ددی خبری ښښه ده چې ده ته به رنځ او غم ورسیږی، په موجب ددی آیت: (ووجوه یومئذ علیها غبرة ترهقها قترة، سورة عبس: ٤٠ – ٤١) یعنی ډیر مخونه به په دغه ورځ داسی وی چې ګردونه به پر پراته وی او توروالی به پر خپور وی. که څوك په خوب کی ووینې چې دده ورك سوی یا غائب سړی دسفر څخه وروسته راغلی دی نو دا ددی امر دلیل دی

چي دده بندکار به ور خلاص سی او که دا ووينې چي دده غائب او ورك سوی سړي خفه او غمناکه وو نو داسی وګڼه چي ده ته به تکليف ورسيږی او که دا ووينې چي دده غائب او ورك سوی سړی سپور دسفر څخه وروسته راغلی نو تعبير يې دادی چي دغه غائب او ورك سوی به ژر دمال اونعمت سره دسفر څخه وروسته راسی او که غائب يې پياده او عاجزه او لغړ وليدی نوددی خبری علامت دی چي په لاره کی به دغه غائب غله لوټ کی اومفلس به ورته راسی، که په خوب کی ووينې چي دی دعنابو درختی جمع کوی نو ددی خبری ننبه ده چي دی به مال په تکليف سره حاصل کړی، که څوك دا خوب ووينې چي دی په معروف اومشهور، شين او ښايسته او تازه ځای کی پاته سوی دی نو دا ددی خبری ننبه ده چي صاحب خوب به ددغه ځای څخه ډيره نفع اوخير حاصل کړی، عقل اوروح په خوب کی ليدل ددی خبری ننبه ده چي دمور او پلار ديدار به وکړی.

د امام اسماعيل بن اشعث اقوال

اسمٰعيل بن اشعث ويلي دی چي که څوك په خوب کی ووينې چي دی پخپل کور کی په مناسب ځای کی تشی بولی کوی نو د دې خبری علامت دی چي دی به خپل مال په خپل اهل او عيال ددوی دخوراك چښاك لپاره خرڅ کړی ليکن ددې بدله به ده ته ورکول سی لکه چي خدای پاك ويلی دی: (وما انفقتم من شیء فهو یخلفه وهو خیر الرازقین، سورة سبا: ۳۹) يعنی تاسو چي څه هم پخپل ځان خرڅ کوی الله تعالٰی به اجر درکوی اوهغه ښه رزق ورکوونکی دی. په خوب کی د آسمان څخه دباران په شان اور اوريدل ددی ننبه ده چي ددی ملك پر باچا به اسمانی بلا او مصيبت نازل سی او په دغه ملك کی به ډيره خونريزی وسی، که څوك په خوب کی ووينې چي داسمان څخه واوره اوريدل نو دده دطاعت کار به دالله تعالٰی په بارګاه کی قبول وی لکه چي ارشاد باری تعالٰی دی: (بقربان تاکله النار، سورة آل عمران: ۱۸۳) يعنی يوه قربانی چي ويې خوری اور. او که دا ووينې چي د اسمان څخه اور را غورزي ليکن څه شی يې ونه سوزی نو ددی تعبير دا دی چي خوب ليدونکی ته به د الله تعالٰی عذاب ورسيږی يا به دبادشاه دطرف څخه ده ته څه بيره او خطر پيښ سی. که څوك خوب ووينې چي ده داور عبادت کوی نو داسی دی وګڼی چي د پاچا ددربار سپاهی به جوړ سی او که ده دغه اور داور دسکروټو په صورت کی ليدلی وی نو تعبير يې دادی چي حرام مال به ډير جمع کړی که څوك په خوب کی ووينې چي داسمان څخه د ډبرو باران وسو نو تعبير يې دادی چي ددغه ځای پر خلکو به يوه سخته بلا اوعذاب الٰهی نازل سی په موجب ددی آيت: (وامطرنا علیهم حجارة من سجیل، سورة الحجر: ۷٤) يعنی موږ واورولی پر هغو باندی دکانړو ډبری. که څوك ووينې چي داسمان څخه غنم او اوربشی اوريږی نو دا ددی خبری ننبه ده چي په دغه ملك کی به قسم قسم نعمتونه بی شماره او بی قياسه سی او خلکو ته به په امن او امان او فراخی سره روزی حاصله سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دالله تعالٰی شکر دی، کوم چې یو بی نیازه قادر دی مالك او صاحب دجلال او ژوند دی، خالق دی دمخلوق او رازق دی، په زړونو عالم دی، داسمان او روښانه ستورو خالق دی، په غیبو عالم او په رازونو پوه دی، ظاهر او باطن دی اول او اٰخر دی، او درود او سلام دی وی پر محمد ﷺ باندی چې دټولو انبیاوو علیهم السلام سردار او سند او دافتخار وړ دی، ابو الفضل حسین بن ابراهیم محمد تقلیسی داسی بیان کوی کله چې زه دکتاب صنعة الابدان دتصنیف څخه فارغ سوم نو ما د تعبیر په اصلی کتابونو کی نظر وکړی کوم چې خلکو جوړ کړی وو ماته یو کتاب هم جامع او واضح حاصل نه سو چې په کوم کی ددی علم د استاذانو د اقوالو څخه دهر یو خوب تعبیر په دلیل او سند سره بیان سوی وی او د خوب دلیدلو طریقه دحروف تهجی په ترتیب سره په تشریح او تفصیل پکښی ذکر وی، کله چې په دی طرز سره یو مفید کتاب حاصل نه سو نو ما په دی باره کی کوشش وکی او تکلیف می تیر کی دا کتاب می جوړ کی، او داکتاب مي دسلطان المعظم په ستر دربار کی پیش کړ کوم چې شهنشاه اعظم دعرب او عجم دپاچاهانو پاچا دی د ټولو ټولګیو دګردنونو مالک دی ددنیا عزت دغازیانو فریادرس دمشرکانو قاتل دروم او دمشق او شام او فرنګستان پاچا دی ابو الفتح قزل ارسلان بن مسعود ناصر امیر المؤمنین، الله تعالٰی دی دده عمر اوږد کی، ما هر قسم خوبونه دحروف معجم په طرز په روانه فارسی کی جمع کړه او دهغو کتابونو څخه می ولیکل کوم چې په دی نفیس علم کی نهایت مشهور او معروف دی چې نومونه یې دادی: ۱: کتاب وصول د دانیال علیه السلام، ۲: کتاب تقسیم، دجعفر صادق رضی الله عنه ۳: کتاب جامع، دمحمد بن سیرین ۴: کتاب دستور د ابراهیم کرمانی ۴: کتاب ارشاد، دجابر مغربی ۶: کتاب تعبیر، د اسمٰعیل بن اشعث ۷: کتاب کنز الرؤیا، دمامونی ۸: کتاب بیان التعبیر، دعبدالروس ۹: کتاب تعبیر، دحافظ ابن اسحاق، ۱۰: کتاب حمل الدلائل والمنامات ۱۱: کتاب مبادی التعبیر ۱۲: کتاب ایضاح التعبیر دفخری ۱۳: کتاب کافی الرؤیا ۱۴: کتاب تعبیر طاووس ۱۵: کتاب مفرح الرؤیا ۱۶: کتاب تحفة الملوك ۱۷: کتاب منهاج التعبیر، دخالد اصفهانی، ۱۸: کتاب مقدمة التعبیر ۱۹: کتاب حقائق الرؤیا ۲۰: کتاب وجین دمحمد بن شاهوید ۲۱: کتب متفرقه او نور کتابونه کوم چې خلکو په دی علم کی تصنیف کړی دی، دمذکوره بالا جماعت کلام می اختیار کړو، او دهر یوه خوب ترتیب د اول او دوهم او دریم حرف په طرز می په دی کتاب کی په طور دتشریح بیان کړی دی اوما ددی کتاب نوم (کامل التعبیر) ایښی دی ځکه چې په دی علم کی ددی کتاب څخه عمده بل کتاب تر اوسه پوری نه دی تصنیف سوی، او انصاف دادی چې ددی کتاب هر یو سړی ته ضرورت دی اوکوم سړی چې دی تعبیر نامی ته ګوری هغه به دنورو ټولو تعبیرونو څخه بی پروا وی، او دی عاجز داستاذانو په فرمائشونو کي دشپږو کسانو فرمائشونه زباني یاد کړي دي کوم چې هریو په خپله زمانه کي یوازینی عالم دزماني اوحکیم دوخت تیر سوی دی اوپه خپله زمانه کي نجیب النسب دی: (۱): دانیال علیه السلام (۲): امام جعفر صادق (۳): محمد بن سیرین

رحمۃ اللہ علیہ (۴): جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ (۵): ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ (۶): اسماعيل بن اشعث رحمۃ اللہ علیہ ، دټولو څخه اول می چې دکومو شیانو وتعبیر بیانونکو ته سخت ضرورت دی، هغه می په شپاړسو فصلونو کې بیان کړي دی او هره یوه خبره مي په خپل ځای بیان کړي ده، چې لوستونکو او ازده کونکو ته اساني وي ترڅو څه خبره په دوی کې پټه پاته نسي، ان شاء الله تعالی، او الله تعالی بهتر او ښه عالم دی، د کتاب ترتیب په لاندي ډول دی:

اول فصل دخوب مزاج پیژندل، دوهم فصل دخوب دقسمونو پیژندل، دریم فصل دنفس اوروح په بیان کې، څلورم فصل دخوب دسموالي په پېژندلو کې، پنځم فصل دربښتینی او دروغجن خوب په پیژندلو کې، شپږم فصل دخوبونو دفرق پیژندو په بیان کې، اووم فصل د متفرقو خوبونو په پیژندلو کې، اتم فصل دعلم جفر او فال په پیژندلو کې، نهم فصل دهیرو سوو خوبونو په پیژندلو کې، لسم فصل دجاهلانو دقول مطابق دخوب دپرېښولو په بیان کې، یوولسم فصل دخوب د حالت په پیژندلو کې، دوولسم فصل دشرط او ادب دتعبیر په پیژندلو کې، دیارلسم فصل دپوښتنه کونکو په اقسامو کې، څوارلسم فصل دتعبیر دطریقو په پیژندلو کې، پنځلسم فصل دهغه مسئلو په پیژندلو کې دکوم چې تعبیر برعکس وي، شپاړسم فصل دحق سبحانه تعالی ددیدار په تعبیر کې او دفرشتو، پیغمبرانو، د زیارت په بیان کې، دا ټول فصلونه په ترتیب سره بیان سوي دي، دخوبونو دتعبیر طرز اوطریقه مورِ مخکې بیان کړي ده ، یعني که دخوب اولنی حرف الف او ي وه نوپه حرف الف یایي کې تلاش کوی، اوکه حرف اول الف او تا وه نو په حرف الف او تا کې یې پیدا کوی، اوکه اولنی حرف الف او یا ي یا الف او میم وه نو دا ترتیب دنورو حروفو په شروع کې په نظر کې ساته چې دخوبونو راوستل اسان سي او پر یو هوښیار دا طریقه پټه پاته نسي، په دي کتاب کې دتاویل سره نظر کول پکار دی او مورِ دحق سبحانه وتعالی څخه ددې کتاب دختمولو توفیق غواړو، او درب الارباب څخه د دواړو جهانونو دثواب امید لرو او الله تعالی ښه پوه دی.

د علم تعبیر دفضیلت بیان

دا خبره یاده ساتی چې علم تعبیر ډیر لوی او شریف علم دی او حق سبحانه وتعالی دا علم یوسف علیہ السلام ته ورکړی وو ځکه چې په قران کریم کی ارشاد دی: (وكذالك مكنا ليوسف فی الارض ولنعلمه من تاويل الاحاديث، سورة يوسف: ٦) ژباړه: مورِ دغسی یوسف علیہ السلام ته په مځکه کی ځای ورکړی وو او د خوبونو تعبیر مو ورته ښوولی وو. او دابن عباس رضی اللہ عنہ ارشاد دی چې د ټولو څخه اول الله تعالی چې څه نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ته ورکړی دی دا یوه فرشته وه چې په خوب کی یې ورته دا وویل ای محمده! تاته دی خوشخبری وی چې حق تعالی ته د انبیاوو په جماعت کی شامل کړی او تاسو یې غوره کړاست دخاتم الانبیاء شرف یې درته درکړی ابن عباس رضی اللہ عنہ ویلی دی چې هرکله نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم دخوب څخه راپورته سو نو ده ته یې خوب دنبوت او خیر او اقبال ورکی، بیا نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم دمعراج څخه وروسته دوهم خوب ولیدی ځکه دحق سبحانه تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com

ارشاد دی: (لقد صدق الله رسوله الرؤیا بالحق لتدخلن المسجد الحرام ان شاء الله اٰمنین محلقین رئوسکم ومقصرین لا تخافون فعلم ما لم تعلموا فجعل من دون ذالك فتحا قریبا، سورة الفتح: ۲۷) ژباړه: البته رښتونی وښودی الله تعالٰی خپل رسول ته خوب په حقه سره چې خامخا به داخل سی تاسی مسجد حرام ته که الله وغوښتل په امن سره سرونه خروونکی او لنډونکی، نه به بیریږی، پس معلوم وو الله ته هغه چې تاسوته نه وو معلوم پس در بې کړه مخکی ددی څخه دا فتح چی نژدی ده. او دابراهیم علیه السلام په قصه کی یې ارشاد ویلي دی: (اننی اٰری فی المنام انی اذبحك فانظر ماذا تری قال یا ابت افعل ما تؤمر ستجدونی ان شاء الله من الصبرین فلما اسلما وتله للجبین وناديٰنه ان یا ابراهیم قد صدقت الرؤیا انا کذالك نجزی المحسنین، سورة الصافات: ۱۰۲ –۱۰۵) ژباړه: اسماعیله ماته په خوب کی لیدلی یې چې زه تا په خوب کی حلالوم ته خپله رایه ووایه، جواب یې ورکړی ای زما پلاره د کم شی چې تاته حکم سویدی پر ځای یې کړه، ته به ما په صابرانو کی پیدا کړی کله چې دواړو د الله حکم ته غاړه کښېښوده او ابراهیم علیه السلام اسمٰعیل علیه السلام پرمخی پری ایستی نو الله تعالٰی ابراهیم علیه السلام ته اواز وکی او وي ویل چی ای ابراهیمه! تا خوب رښتونی کی په تحقیق سره مورِ نیکانو ته دغسی بدله ورکوو. او په حدیث کی داسی راغلی دی چې دا علم دیوسف علیه السلام معجزه وه او کوم علم چې دپیغمبری معجزه وی هغه یقینا بزرګ او شریف علم دی او بعض انبیاء علیهم السلام کوم چې مرسل پیغمبران نه وه دهغو خوب کرامت وو او هشام بن عروه رضی الله عنه دخپل پلار عروه رضی الله عنه څخه روایت کوی چې دوی ددی آیت په تعبیر کی ارشاد فرمایلی دی (لهم البشرٰی فی الحیاة الدنیا، سورة یونس: ٦٤) ژباړه: ددوی لپاره ددنیا په ژوند کی خوشخبری ده ددی بشارت څخه دالله تعالٰی مراد دنیکو خلکو خوب دی چې نیك سړی پخپله خوب وینی یا دده لپاره بل څوك خوب ویني دخوب په تصدیق کی ډیر آیاتونه او احادیث موجود دی که ټول ذکر کوو نو کتاب به ډیر غټ سی، دانس رضی الله عنه څخه روایت دی چې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی (الرؤیا جزء من سبعة واربعین جزء من النبوة) ژباړه: رښتونی خوب لیدل دنبوت شپږ څلویښتمه حصه ده، دا حدیث یې ځکه ارشاد فرمایلی دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم دځلویښتو کالو وو چې کله پر دوی وحی ربانی راغله او ددرو شپیته کالو په عمر کی وو، چې ددنیا څخه یې سفر وکی دوحی او د دنیا څخه دسفر په منځ کی درویشت کاله زمانه ده او څه چې به یې غوښتل په خوب کی به یې دشپږو میاشتو په موده کی لیدل، دنبوت دشپږ څلویښتو حصو سره یې نسبت داسی دی، نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی چې رښتونی خوب دنبوت شپږ څلویښتمه حصه ده، د نورو پیغمبرانو هم دا حال وو چې څه به یې غوښتل الله تعالٰی به ورته په خوب کی ښودل او دابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دی چې رښتینی خوب وحی ده چې لیدونکی دنیك او بد څخه خبر سی چې په دنیا کی مغرور نه سی او د حق امر څخه غافل نه سی، او د ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې کله نبی کریم صلی الله علیه وسلم ناروغه سو نو اصحاب ډیر غمجن سوه او په خدمت کی حاضر سوه عرض یې

وکی چي يا رسول الله ﷺ تاسو به مورِ ته دبهتری خبر راکوی که خدای مه کړه تاسو وفات سی نو مورِ ته به ددين دکار اختيارولو څوك ترغيب راکوی؟ او د دی د تدبير کولو خبر به څنګه پيژنو؟ نبی کريم ﷺ ارشاد وفرمايی: (بعد وفاتی ينقطع الوحی ولا ينقطع المبشرات) ژباړه: يعنی زما دوفات څخه وروسته به وحی بندی سی ليکن رشتونی خوبونه به بند نه سی اصحابو کرامو عرض وکی چي يا ! مبشرات څه شی دی؟ دوی وويل (الرؤيا الصالحة التی يراها المرء الصالح او يری له) ژباړه: نيك خوب کوم چي نيك سړی پخپله ووينی يا يي دده لپاره بل څوك ووينی. او د ابوسعيد خدری رضی الله عنه څخه روايت دی، دی وايی چي ما دنبي کريم ﷺ څخه اوريدلی دی چي دوی اصحابو ته وويل چي که څوك په تاسو کی ښه او نيك خوب ووينی نو دالله تعالٰی شکر دی ادا کړی او دغه خوب دی خپلو وروڼو او دوستانو ته هم ووايي او که نيك سړی ناکاره خوب ووينی نو (اعوذ بالله من الشيطٰن الرجيم)، ژباړه: زه د الله ﷻ پناه غواړم دشيطان ترټل سوی څخه، دی ووايي او دشيطان دشرارت څخه دی دالله تعالٰی ﷻ پناه حاصله کړي او دا خوب دی چاته نه وايي چي ده ته نقصان او تکليف ونه رسوی، او د علی بن ابی طالب رضی الله عنه څخه روايت دی دوی وايي چي کله مومن څه خوب ووينی يا دی په خوب کی ووينی نوده ته دخوب تعبير پيژندل واجب دی چي په نيك خوب سره دخوشحالی حصه پيدا کړی او دبد خوب څخه خلاص سی يعنی په دعا او عبادت او صدقو کی مشغول سی، ابن سيرين رحمة الله عليه ويلی دی چي کوم سړی دعلم طلب کوی هغه يي داصل څخه نه ګرځوی او دده قياس تعبير نه غواړی او د هغه طريقه معلومه وی ليکن دا علم په اصل کی دخلکو داحوالو سره دصورت او صفت قدر او ديانت همت او ارادت او اوقاتو په اختلاف سره بدليږی ځکه چي کله تعبير په مثل او اصل وی اوکله په ضد سره وی کله واقفيت وی او پريشانه کوونکی خوب بی اصله وی.

پوه سه! چي دهر يوه علم عالم دبل علم څخه بی پروا وی لکن دتعبير بيانوونکو لپاره علم تفسير قران او دنبی کريم ﷺ داحاديثو او مثالونو دعربو او عجمو او نوادرو او اشتقاق دلغت او الفاظ متداوله کوم چي ديو بل څخه وزی د دې ټولو پيژندل ضروری دی، او دتعبير بيانوونکو لپاره بزرګ او پاك او اديب کيدل هم ضروری دی او چي د تعبير بيانوونکو حالات او خصائل په ښه شان سره پيژنی او هر وخت دحقانی توفيق غوښتونکی وی چي حق تعالٰی په خپل کرم سره دده راهنمايی وکړی او ژبه يی صالحه او نيکه وی او دا خبری دخدای تعالٰی دطرف څخه داسی بنده ته ورکول کيږی چي دده طبعيت دټولو خبرو څخه پاك وی او دحرامی ډوډی خوړلو او بی معنٰی خبرو څخه ساتل کيدونکی وی او دګناهونو څخه ځان وساتی چي په سر رشتة دعلماوو او دانبياء عليهم السلام په وارثانو کی حساب سی، لهذا پر هوښيارانو دعلم تعبير پيژندل او ددی دقواعدو زده کول واجب دی ځکه چي دی علم ته هر سړی عام اوخاص جاهل اوعالم حاجتمند دی ليکن هغه خلک دکومو په حق کی چی الله تعالٰی ويلی دی (اولئك

Maktaba Tul Ishaat.com

کالانعام بل هم اضل اولئك هم الغفلون، سورة الاعراف: ۱۷۹) ژباړه: چې هغه خلک کوم چې دحیوانانو په شان دی بلکه ددوی څخه هم زیات ګمراه وی دغه خلک غافلان دی داسی خلکو ته ضرورت نسته او الله تعالی ښه پوهیږی.

* * *

اول فصل

دخوښونو دمزاج په پیژندلو کی

مونږ په دی فصل کی بیانوو چې دخوب حد او مزاج څه شی دی؟ په دی خبره پوه سه چې حکماوو ویلي دی چې دخوب سبب د تر او لانده بخار وجود دی کوم چې دجسم څخه د دماغو طرفته خیژی دکومو په وجه سره چې ټول حواس او قوتونه ارام پیدا کوی، اوخوراك هضم کیږی او دجسم اخلاط پخته کیږی طبیب دی خوب ته طبیعی وایي، او دبعضو په نزد خوب ددماغ دافعالو څخه دیو فعل نوم دی او دغه طبعی فعل دی ځکه چې په دی سره قوتونو ته ارام رسیږی، خاصا تخیل او قوت فکر ته زیات ارام رسیږی، او دا قوتونه دکومو ذکر چې سویدی، دروح نفسانی حرکات دی او د دوی ځای دماغ دی او په خوب سره ارام وی چې روح نفسانی تسکین پیدا کوی، په دی دلیل چې کوم سړی په تحمیل دعلم کی مشغول وی او دشپی خشکی او ګرمی دده پر مزاج باندی غالبه سی او روح نفسانی په کثرت دحرکت سره سست او کمزوری سی او ددی څخه درد او ناجوړی پیدا سی دده علاج یخ او لانده شیان دی لکه روغن نیلوفر او کوم شیان چې ددی سره مناسب دی، حکماء بیان کوی چې خوب پر دوه قسمه دی یو طبعی بل غیر طبعی مګر طبعي حرارت غریزی قایم ساتی یعنی اصلی ګرمی دننه په نظر کی ساتی لیکن تر څو چې قواوی نفسانی سستی سی، ځکه چې پر دوی ځینی غالبه سی لیکن دغم لیږی کول پکار دی اوکوم فضلات چې په جسم کی جمع سویدی ددغه دښودلو په ذریعه یې رفع کول پکار دی، غیر طبعی خوب پر دری قسمه دی، یو جسم دمزاج په فساد سره، دوهم د بعضو اخلاطو یعنی خون، صفرا، او سوداء په زیاتیدو سره، دریم دخرابو خوراکونو په خوراك سره دی یا دیخ او لانده دماغو په افکارو سره، ددوی سرمایه د دماغو دسروي اوځنی نه ظاهریږی په دی وجه ګرمو او خشکو دماغو والا ته خوب کم ورځی، او په ګرم او لندو دماغو کی خوب ډیر وی که یو سړی اعتراض وکړی او وایي چې تاته معلومه ده چې خوب یو فعل دافعال یخ او تر او راحت او قوت متخیله او متفکره دی؟ ددی جواب دادی چې مونږ ته دعقل په ذریعه معلومیږی چې کښښستل تردریدو راحت دی دراحت په وجه سره دبیداری او دماغ دقوتونو تروالی دی په دی وجه یقیناً خوب دافعالو ددماغو څخه یو فعل دی او خوب طبعی او غیر طبعی ضعف قوت تخیل او قوت ذکر او قوت فکر دی، شرح یې دپخوانیو حاکمانو دقول څخه په سند او دلیل سره مونږ پخپل کتاب (کفایة الطب) کی په مفصل طور سره بیان کړیده.

دوهم فصل

دخوب د قسمونو بیان

دانیال علیہ السلام ویلی دی چې خوب په اصل کی دوه شیان دی یو په حقیقت دحال باندی خبروونکی دی، بل دسر انجام دکار څخه اطلاع ورکوونکی دی او ددی دوو بیا څلور قسمونه دی یو خوب امر کوونکی دی دوهم خوب منع کوونکی دی دریم خوب بیروونکی دی څلورم خوب خوشخبری ورکوونکی دی، د ابن مسعود رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ویلي دی چی دخوب دری قسمونه دی: یو دالله تعالی دطرف څخه کوم چې ایماندارو ته بشارت دی، دوهم قسم دشیطان دطرفه دایماندارو لپاره، دریم قسم اضغاث او احلام یعنی پریشانه کوونکی خیالات دی یعنی خوب دری قسمونه دی: یو دالله تعالی دطرف څخه دمومنانو لپاره ددنیا په ژوند کی بشارت دی، دوهم هغه خوب کوم چې خلک په غم کی اچوی، دریم پریشانه خوب دی، جعفر صادق رضی اللہ عنہ ویلی دی چې اصل خوب پر دری قسمه دی یوه ته حکم بل ته متشابه دریم ته اضغاث او احلام وایي، او اضغاث او احلام یعنی پریشانه خوب څلور قسمه خلک وینې: اول دچا طبعیت چې دفساد طرف ته مائل وی، دوهم هغه چې شراب خوری، دریم هغه چې غلطه سودا پیدا کوونکي خوراك خوری لکه تور بانجن، د مسود او مالګه سره یوځای سوی غوښی او کوم شیان چی ددی مشابه دی، څلورم نابالغ کوچنی داقسم خوب وینی، ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چې خوب پر دوه قسمه دی یو خوب دحکم یعنی فیصله کوونکی، کوم چې صحیح وی، دوهم اضغاث او احلام کوم چې پریشانه او پاشلی خوب وی، اضغاث دګیاه پانو ته وایي یعنی ګیاه چې څنګه په چمنونو کی ګډه وډه او پریشانه وي، دغه خوب هم دری قسمه دی: بعضی دطبیعت او خواهش په غلبه سره او بعضی دشیطان په نمائش سره او بعضی دنفس په خپلو خبرو سره وی، او دا دری سره قسمونه صحیح نه وی، کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې خوب په دری قسمه دی یوقسم دالله تعالی دطرف څخه بشارت دی دوهم قسم دشیطان وسوسه ده، دریم هغه خبره ده کومه چې په خیال کی پیښه سی او دشوق په وجه سره هغه په خوب کی وینې، رښتونی خوب د فرشتی په صورت کی وی چې دکولو شی دلوح محفوظ څخه ورته ښکاره سی، لهٰذا کوم سړی چې خوب ووینی او هیر یې کړی تعبیر بیانوونکی دی په ده توبه وباسی او دخوب هیرول ګناه ده ځکه چې دخوب نمائنده ممکنه ده چې دلوح محفوظ څخه فرشته وی، مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې خوب پر دوه قسمه دی یو رښتونی دوهم درواغجن، او رشتیا خوب پر دری قسمه دی یو زیری دی دوهم خبرداری دی او دریم الهام دی دبشارت قسم دادی چې الله تعالی یوه فرشته پر لوح محفوظ مقرر کړی ده چې څه ښه او بد پر انسان باندی راتلونکی وی چې ده ته د هغه اطلاع ورکړی او ده ته یې په خوب کی ښکاره کی ددغه فرشتی نوم ملك الرویا دی که چاته بشارت رسول وی نو دخوب فرشته یې ورته په خوب کی ظاهروی، اوخوب دخبرداری دادی چې فرشته دی بیروی او دراتلونکی شیانو اطلاع ورته ورکوی چې خوب لیدونکی اطاعت وکړی او دګناه څخه بچ سی او ددی په وجه عبادت او فرمانبرداری وکړی او د

Maktaba Tul Ishaat.com

راتلونکی بدی څخه په امن کی سی دحق تعالٰی ارشاد دی (وتوبوا الی الله جمیعا ایها المؤمنون لعلکم تفلحون، سورة النور: ۳۱) ژباړه: ایماندارو دالله تعالٰی وطرف ته رجوع وکی چې تاسو نجات پیدا کی. دالهام خوب دادی چې الله تعالٰی فرشتی ته حکم وکی چې هغه بنده ته په خوب کی الهام وکی چې دی صدقه ورکی او جهاد وکی او د حق تعالٰی طرف ته رجوع وکی او دګناه څخه ځان ساتی او دمخلوق سره احسان وکی، د درواغجن خوب هم دری قسمونه دی یو خوب دهمت دوهم خوب دعلت دریم خوب د شیطان یعنی پریشانه او پراګنده، خوب دهمت دادی چې دی په بیداری کی څه سوچ کوی هغه څه په خوب کی وینی ددی خوب اصل نسته اونه ددې تاویل سته، اوخوب دعلت دادی چې دردمند بنده د درد څخه ژاړی او په خوب کی هغه درد غلبه کوی ناکاره او خوفناکه شیان په خوب کی وینی او ددی خوب باعث درد وی ددی خوب هم اصلیت نسته، او خوب شیطانی دادی چې پر ده غسل واجب کی یا ناممکن شیان وینی ددی هم تعبیر او تاویل نه وی ځکه دحق تعالٰی فرمان په طور د نقل دی: (وما نحن بتاویل الاحلام بعالمین، سورة یوسف: ٤٤) ژباړه: مونږ دپریشانه خوبونو په تاویل عالمان نه یو او علی کرم الله وجهه ویلی دی چې دالله ﷻ دعجائباتو څخه یو خوب هم دی او همدا ډول څه چې په خوب کی دالله تعالٰی په حکم سره نیکی او بدی رسیږی. ابن سیرین رحمه الله علیه ویلي دی چې دخوب دعجائباتو څخه یو دادی چې بنده په خوب کی خیر او منفعت اوراحت وینی یا شر او افت وینی اوهغه خیر او راحت یاشر او افت بالکل په بیداری کی وینی، دوهمه خبره داده چې ډیر خلک خوب لیدونکي بی دماغه او سختی ژبی والا وی کوم چې په بیداری کی اورد بیت یا شعر نه سی یا دولی په خوب کی یې ووایي یاد یې کی او په بیداری کی یې بیا صحیح وایي، او ډیر جاهل خلک وی چې دحکمت خبری او ښه الفاظ بیانوی کوم چې یې په خوب کی یاد کړی وی، کومو ته چې څوك حکیم او عالم هم نه سی ویلی او په بیداری کی یې هم درست بیانوی، جابر مغربی رحمة الله تعالٰی علیه ویلی دی چې دخوب دعجائباتو څخه یوه داده چې په خوب کی یو درواغ شی په نظر راځی او تاویل یې دده پر فرزند یا ورور واقع کیږی ځکه نبی کریم ﷺ خوب ولیدی چې ابو جهل مسلمان سوی دی حالانکه دده څخه وروسته عکرمه رضی الله عنه دابو جهل زوی مسلمان سو، یو سړی خوب ولیدی چې اسد دمکی امیر اسلام راوړی دی حالانکه دده څخه وروسته عباس رضی الله عنه داسد زوی اسلام راوړی، دا هم کیدای سی چې دبچی دخوب تعبیر پر مور پریوزی او دغلام دخوب تعبیر پر اقا پریوزی، داسی عجائبات په خوب کی ډیر وی که ټول بیانوو نو کتاب به ډیر اورد سی.

دریم فصل
دنفس اوروح د یادولو په بیان کی

په قرآن کریم کی دالله ﷻ ارشاد دی: (الله یتوفی الانفس حین موتها والتی لم تمت فی منامها فیمسك التی قضٰی

علیها الموت ویرسل الاخرٰی الی اجل مسمّٰی، سورة الزمر: ٤٢) ژباړه: الله تعالٰی دمرګ په وخت کی روحونه وفات کوی او هغه چي په خپل خوب کی نه وي مړه پر کومو چي دمرګ حکم دی هغه حصاروی اوبل تر مقرر وخت پوری پاته کوی. دعلماوو اوحکماوو په مینځ کی دنفس او روح په باره کی اختلاف دی بعض وایي چي دا دواړه یو شی دی دنفس او روح معنٰی جان یعنی ساه ده، ددوی دلیل دادی چي په کلام دعربو کی دنفس اته معناوی دی: ساه، وینه، اوبه، منی، بولی، همت، بدن، لاس، او دروح دولس معناوی دی: کلام، روح القدس، باران، وحی، جادو، مسیح مریم، ژوند، فرشته دالله ﷻ، او دحکماوو بل جماعت وایي چي دخوب لیدونکی روح دجسم څخه وزی او اسمان ته ځی، اولیدل او اوریدل یادوی او دبیداری په وخت بیا روح جسم ته راځی ددی دلیل دادی چي نبی کریم ﷺ ویلی دی کوم سړی چي په اوداسه بیده کیږی او دالله ﷻ ذکر پر ژبه جاری ساتی دده روح آسمان ته بیولای سی او بعضی تعبیر بیانوونکی وایي چي دا حدیث دنبی کریم ﷺ فرمان نه دی، کله چي د بیده انسان ساه اخلی نو ددی څخه معلومیږی چي روح دجسم څخه جلا نه وی، بعضی خلک په جان او روح کی فرق کوی چي دخوب په وخت روح دجسم څخه وزی او پرجهان چاپیره ګرځی بیا جسم ته بیا راځی او دلیدل سوي شی جان ته خبر ورکوی، ددی دا دلیل بیانوی چي جان دلمر دټکی مشابه دی او روح دلمر درنا مشابه دی لکه دلمر ټکی چي په څلورم آسمان کی ده او رنا یي په ټوله جهان کی ده، او دحکماوو یو جماعت وایي چي ځان او روح یوشی دی په دواړو کی فرق نسته ځکه چي د دوی صفت دقیاس عقلی مطابق داسی دی لکه د اوبو څخه واوره او دواوری څخه چی اوبه جوړیږی، او دحکیم ارسطاطالیس په نزد نفس مبدأ اول (دشروع ځای) دی او دروح څخه زیات شریف او بزرګ دی لیکن د نفس او روح حقیقت مورِ پخپل کتاب (سماع المسائل) کی بیان کړی دی او دحکماوو اقوال مو پکښی درج کړی دی، د اهل سنت والجماعت په نزد روح امر درب دی ځکه دحق تعالٰی ارشاد دی: (ویسئلونك عن الروح قل الروح من امر ربی، سورة الاسراء: ٨٥) ژباړه: کوم خلک چي ستا څخه د روح متعلق پوښتنه کوی دوی ته ووایه چي روح زما درب امر دی. زمورِ اعتماد د الله ﷻ او نبی ﷺ پر فرمان دی او دحکماوو داقوالو دنقل کولو وجه داده چي دا کتاب د دوی د ذکر څخه هم خالی پاته نه سی، الله دی مورِ پر دین الٰهی اوسنت پیغمبر ﷺ باندی قایم ولری او توفیق دخیر دی راکړی (آمین).

څلورم فصل

په علامو سره دخوب دسمولو په بیان کی

کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي کوم سړی خپل خوب په علاماتو او دلیلونو سره په ښه رقم پیژندل غواړی نو ترخپله وسه دی په اوداسه په ښه زړه الله ﷻ یاد کی او خوراك دی کم وخوری ځکه ډیر خوراک کوونکی الله ﷻ نه سی یادولای دده معده ډکه وی او دخوراك بخارات دماغو ته رسیږی او طبعیت یې دقسم قسم خیالاتو څخه ډك سی، په دی وجه ډیر مختلف او پریشانه

Maktaba Tul Ishaat.com

خوبونه ويني ځکه چې طبعیت په خوراك نه پیدا کیدو سره سست اوضعیف سی او خوب به نه ورته راځی که خوب راسی هم نو پریشانه خوبونه به وینی او دخوب په وخت کی نه ډیر وږی او نه ډیر مور کېدل پکار دی چې کوم خوب وینی نو رشتیا او درست وی او دخوب هیرول هم نه دي پکار، ابن مسعود ﷺ وایي چې یو اعرابی نبی کریم ﷺ ته راغلی او عرض یي وکی چې یا رسول الله ﷺ! پرون ما یو داسی خوب ولیدی، او یو پریشانه خوب بیانول یي شروع کړل نبی کریم ﷺ وویل چې تا څه شی خوړلي وه؟ عرض یي وکی چې ما ډیره پخه خرما خوړلي وه نبی کریم ﷺ جواب ورکی چې ددی خوب تعبیر صحیح نه راځی په دی وجه سره تعبیر بیانوونکی دداسی ډیرو خوبونو تعبیرونه نه بیانوی کوم چې صحیح نه خیژی، تعبیر بیانوونکی دی ددی خبرو څخه بی خبره کیږی نه او دسائل څخه دی پوښتنه کوی بیا دی تعبیر بیانوی چې بیان سوې خبره رشتیا او صحیح وی او درښتونی خوب ننبی هغه دی کومی چې بیان سوی دی، ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې کله انسان ډیر خوبونه وینی نو ځکه چی هغه ددی لائق نه وی په دی وجه ددغو تاویل دده پر رشته دارانو ورور یا پلار یا زوی پریوزی او ډیر واری خوب د ده پر مرګ تاثیر کوی، او مور په دی باره کی د عکرمه ﷺ بن ابوجهل په بابت خبره کړیده چې پلار یي په خوب کې ولیدل سو او تاویل یي په زوی ظاهر سو لکه د نابالغ بچی دخوب تاویل چې دده پر پلار واقع کیږی کله چې پردی اصولو غور وکړی نو تاویل بیانوونکی ته به څه مشکل مخ ته نه راځی.

جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې کله خوب لیدونکی ته رنځ او افت په نظر ورسی نو تاویل ددی خلاف وی لکه چې دغم او بیری تاویل ښادی او خوشحالی وی دحق تعالی ارشاد دی: (ولیبدلنهم من بعد خوفهم امنا، سورة النور: ۵۵) ژباړه: مور ددوی بیره ضرور په امن سره بدلوو. او د پاچا او دښمن دبیری څخه تښتیدل او نور څه چې ددی مشابه وی، ددی امر دلیل دی چې خوب والا به د خدای تعالی په امان کی وی د حق تعالی ارشاد دی: (ففروا الی الله انی لکم منه نذیر مبین، سورة الذاریات: ۵۰) ژباړه: دالله تعالی طرف ته تښتی زه تاسو ددی څخه په ښکاره ببروم. ددی تاویلونو مشکلات ډیر دی مور به دا ټوله ان شاء الله تعالی ددوی پر محل باندی بیان کړو.

پنځم فصل

درښتونی او درواغجن خوب په پیژندلو کی

دانیال علیہ السلام ویلی دی چې د خلکو شکل او صورت طبعیت او قد او په خبرو کی یو دبل څخه اختلاف وی، دښار او هوا داختلاف په وجه سره دیو خوب دبل مطابق نه وی کله چې دچا پر طبعیت دغوښی اوحلوا او شرابو او نورو شیانو په استعمال سره وینه غالبه وی نو په خوب کی رګ وهل ښکر لګول او دشوندو حرکت او خوشحالی او دسرود اواز او نور څه چې ددی مشابه وی اوری، نو تعبیر ښوونکی دی دده مخ او رنګ او د جسم څورب والی او خوشحالی ته وګوری چې دا خوب دویني د غلبی څخه دی او ددی هیڅ اصلیت او تعبیر هم نسته، اوکله چې

د چا پر طبعیت دګرم اوخشك شیانو په خوراك سره لکه پنیر، پیاز، مرچ او نورو سره دصفرا دخلط غلبه سی نو دا سړی په خوب کی اور، ډیوه، شمع لاټین او نوری ډیری داسی خبری وینې نو پوه به سی چې پر دی سړی د خلط دصفرا غلبه ده او دده دخوب هیڅ اصلیت او تعبیر نسته، که د یوسړی پر طبعیت دبلغم زیاتوونکو شیانو په استعمال سره لکه شلومبی، مستی، او شیدی او نورو سره د بلغمو غلبه سی نو داسړی به په خوب کی واوره باران او کوم شیان چې د دی مشابه دی وینې کله چې تعبیر نبوونکی د صاحب خوب سپین رنګ او څورب جسم او په خبرو کی ګرانی وویني نو پوه به سی چې دده پر مزاج دبلغمو خلط غالب دی او دداسی سړی د خوب هیڅ اصلیت نسته، که دیو سړی پر طبعیت دسودا راوستونکو شیانو په خوراك سره لکه مالګه، غوښه اوتروش شیان اوتور بانجن او نورو سره دسودا دخلط غلبه سی نوداسی سړی خوفناك خوبونه مار لړم تیاری او توروالی او نور به ډیر وینې کله چې تعبیر بیانوونکی دده رنګ او مخ تور وویني او صورت یې غمجن او فکر مند په نظر ورسی او بی وجه په خپله ږیره او مخ لاس وهی نوپوه به سی چې پر دی سړی دخلط دسودا غلبه ده او دده خوب بی اصله دی، په دی وجه پر تعبیر بیانوونکی باندی لازم دی چې پر دی ټولو خبرو باندی غور وکړی او دهر یوه خوب په ښه ډول سره پوښتنه وکړی او واقفیت پر حاصل کړي وروسته تعبیر بیان کړی چې رښتیا راسی، ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې کوم خلک اصحاب همت دی لکه عاشق چې معشوق په خوب کی وویني یا کسبګر خپله پیشه په خوب کی وویني لکه بزاز کپړه او اهنګر اوسپنه نو پر تعبیر بیانوونکی باندی لازم وی چې د خوب دوباره پوښتنه وکړی چې پرون دی څه خوړلی وه او په کوم خیال کی بیده وی بیا دی تعبیر بیان کړی، یا په خوب کی یو سړی په باران واوره او وریځ کی ګرفتار وی کله چې بیداره سی نو دخوب کپړی دده څخه جلاوی نو دا لغړوالی به دده دخوب باعث وی نو داخوب بی حقیقته دی، که په خوب کی وویني چې په حمام کی وو یا په غرمو او ګرمی کی وو اوکله چې ویښ سو نو خپل ځان یې په ډیرو کپړو کی نغښتی پیدا کی نو په خوب کی داسی ګرمی محسوسول د ډیرو کپړو باعث دی داخوب هم بی حقیقته دی، که یو سړی په خوب کی وویني چې د ناجوړی او جسمانی درد څخه ژاړی او ناجوړه پروت دی او په حقیقت کی ناجوړه هم وو نو داخوب هم بی اصله دی، که یو سړی په خوب کی وویني چې بولی کوی او چې ویښ سو نو په کپړو کی یې بولی کړی وي او وې لیدل یا یې معلوم کړل چې بولی په زور سره ورته راځی نو دا خوب هم بی حقیقته دی، او دده هیڅ تعبیر نسته.

شپږم فصل

د خوبونو په میڼځ کی فرق پیژندل او د هر خوب د تفصیل بیان

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې خوب لیدونکی ددوو حالاتو څخه دباندی نه وی مومن به وی یا کافر ددی اصلی څوارلس اقسام دی: ۱: دپاچاهانو خوب ۲: دقاضیانو خوب ۳: دمفتیانو

Maktaba Tul Ishaat.com

خوب ۴: دعالمانو خوب ۵: دازادو خلکو خوب ۶: دغلامانو خوب ۷: دسړیو خوب ۸: دښځو خوب ۹: دنیکو خلکو خوب ۱۰: دبدکارو خلکو خوب ۱۱: دمالدارو خوب ۱۲: دفقیرانو خوب ۱۳: دبالغانو خوب ۱۴: دنابالغو خوب.

په دی ټولو کی دپاچاهانو خوب زیات رشتیا او صحیح وی او بیان کوی چې دپاچاهانو خوب ته دنورو پر خوب دومره فضیلت دی څومره چې دپاچاهانو پر رعیت فضیلت دی ځکه چې الله تعالی پاچاهان برګزیده کړي او سرداری یې ورلره ورکړیده او مخلوق ته یې دهغوی په اطاعت حکم کړی دی ځکه چی حق تعالی ویلی دی: (یا ایها الذین امنوا اطیعوا الله واطیعوا الرسول واولی الامر منکم، سورة النساء: ۵۹) ترجمه: ای ایمان والاوو تاسو دالله تعالی تابعداری کوی او درسول او دصاحب امر تابع داری کوی. او نبی کریم ﷺ ویلی دی (من اطاع الامیر فقد اطاع الله ورسوله) ترجمه: چا چې دامیر اطاعت وکړ ده دالله او دهغه درسول اطاعت وکړ. لهذا کوم خوب چې عادل مصلح پاچا وویني دغه خوب به دپاچا دقربت والی په وجه وی او دپاچا خوب نزدیکتر اوصحیح تر دی، دقاضی خوب ته دنورو پر خوبونو فضلیت دی ځکه چې عدل او انصاف او دخاص وعام دکاروبار بندول او خلاصول دقاضیانو متعلق دی او دفقهاو خوب ته دعامو خلکو پر خوب فضلیت دی ځکه چې دوی داصول فقه او دمسلمان دحدودو، فرض، سنت، حلال او حرام پیژندونکی دی، دازادو خلکو خوب ته دغلامانو پر خوب فضیلت دی ځکه چې الله تعالی ازادو خلکو ته پر غلامانو شرف دنسب ورکړیدی، دعالمانو خوب په دی وجه افضل دی چې الله تعالی دوی ته شرافت او توفیق ورکړیدی چې مخلوق ښې لاری ته راولی او خلکو ته دخیرات او طاعت رغبت ورکوی، دغلام په خوب سره بادار لره فائده وی ځکه چې غلام ته دده څخه حصه رسیږی، او دسړیو خوب دښځو پر خوب باندی فضلیت لری ځکه الله تعالی سړیو ته پر ښځو دځو شیانو په زیادت سره ترجیح ورکړیده الله تعالی ویلی دی: (الرجال قوامون علی النسآء، سورة النساء: ۳٤) ترجمه: سړی پر ښځو غالب دی اوالله تعالی سړی پیغمبران را لیږلی دی، اوبل ځای وایي: (فرجل وامرأتان ممن ترضون من الشهداء، سورة البقرة: ۲۸۲) ترجمه: پس یو سړی او دوی ښځی د هغو خلکو څخه کوم چې دشهادت لپاره راضی وی، دعقل په نزد دسړی صبر او بخښش، رای، او شجاعت، سخاوت او امارت او دبدبه او حشم وغیره ظاهر دی او دښځو په نسبت سړی په فطرت کی زیات دی، او دښځو خوب دغلامانو خوب ته قریب دی. او دنیکو خلکو خوب دبدکارو خلکو پر خوب فضلیت لری، ځکه چې دنیکو خلکو خوب دطاعت طرف ته مائل وی او دګناه څخه لیری وی او دبدکارو خوب به پر دوی دقیامت په ورځ دکافرانو دخوب په شان حجت وی، ځکه چې بدکاره سړی پر ګناه زړور وی، او دمالدار خوب دفقیر پر خوب فضلیت لری ځکه چې مالدار زکاة او صدقات ورکوی حج او جهاد کوی او نبی کریم ﷺ ویلی دی: (الید العلیا خیر من الید السفلی) ترجمه: لوړ لاس پر کښته لاس باندی بهتره دی یعنی

بخښنی والا تر اخستونکی افضل دی. دتعبیر بیانوونکی دیوی ډلی وینا ده چې دفقیرانو دخوب هیڅ حقیقت نسته ځکه چې ددوی زړه همیشه دګټی په غم او دعیال دطرف څخه پریشانه وی فقیر که څه هم ښه خوب وویني نو اثر یې ډېر وروسته ظاهریږی اوکه بد خوب وویني نو اثر یې ژر ښکاره کیږی او ددولت والاوو خوب ددرو شیانو دخوب بر عکس وی: دبالغ خوب معتبر وی ځکه چې پر ده شهوت غالب وي او هلك دعقل او ادب څخه محروم وی، بعض تعبیر بیانوونکی وایي چې که دنابالغ هلك خوب نیک وو نو والدینو ته به یې نیکی رسیږی اوکه بد وو نو دوی ته به یې دبدی اثر رسیږی، دنابالغ کوچنی دخوب په بابت دوه قوله دی یو قول دادی چې دده خوب رشتیا اوصحیح وی او دده حکم ظاهریږی ځکه چې دکوچنی زړه دګناه څخه پاك او دبدی او شغل ددنیا څخه بالکل فارغ وی، دوهم قول دادی چې دکوچنی خوب صحیح نه وی ځکه چې ددوی عقل اوتمیز نه وی، دمست اوجنب او حائضی ښځی خوب صحیح وی، یو وخت صفیه بنت هند رضی الله عنها خوب ولیدی چې داسمان څخه لمر او سپوږمی ددې غیږی ته رالوېدلی دی کله چې بیداره سوه نو امیر دخیبر یې ددی خوب څخه خبر کړ امیر دخیبر ددی مخ په چپلاخی وواهه او ویې ویل که تا رشتیا داسی خوب لیدلی وی نو محمد ﷺ به خیبر فتح کړی اوتا به خپله ښځه جوړه کړي، بله ورځ نبی کریم ﷺ خیبر فتح کړ او اسلامی لښکر صفیه رضی الله عنها نبی کریم ﷺ ته بوتله نبی کریم ﷺ پوښتنه ځنی وکړه چې دا شین داغ ستا پر مخ دچیشی دی؟ دې دغه دخوب واقعه ورته بیان کړه کوم چې دی لیدلی و او رشتونی سو او ددی دخوب تاویل رشتیا سو. والله اعلم

اووم فصل

دخوبونو په منځ کې دفرق پېژندنه

کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې دمسلمانانو خوب دکافرانو دخوب څخه زیات رشتیا وی او دعاقل خوب دناپوه دخوب څخه او دصالح خوب دفاسق دخوب څخه بهتر وی الله تعالی ویلی دی (ام حسب الذین اجترحوا السیئات ان نجعلهم کالذین امنوا وعملوا الصالحات سوآء محیاهم ومماتهم سآء ما یحکمون، سورة الجاثیة: ۲۱) ترجمه: ایا ددغو خلکو خیال دی کومو چې ګناه کړی ده چې موږ به دوی دهغو خلکو په شان کړو کومو چې ایمان راوړ او نیك عملونه یې وکړل چې ژوند او مرګ یې برابر دی بده ده هغه کومه چې دوی فیصله کوی. دسپین ږیرو خوب دکوچنی دخوب څخه زیات رشتیا وی، او دازادی ښځی خوب دمینځی دخوب څخه بهتر وی، تعبیر بیانوونکی ته دهر سړی په خوب کی دنیکو مرتبو خیال ساتل پکار دی اوکله چې دصاحب خوب څخه پوښتنه وکړی او پراګنده الفاظ ځنی واوری نو ټول دی په عقل او قیاس سره صحیح کړی دالفاظو تقدیم او تاخیر دی صحیح کړی او بیا دی تعبیر بیان کړی او قوی الفاظو ته دی په اصولو دتعبیر کی نظر کوی که میزان دکلام په نظر کی ساتی نو بیا به غلطی نه وی اوخه چې بیانوی صحیح دی بیانوی ځکه چې متقدمینو اهل علمو به داسی قیاس کوی او تعبیر به رشتیا او صحیح راتلی.

Maktaba Tul Ishaat.com

قصه

بیان کوی چې یو سړی دابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کي حاضر سو او پوښتنه یې وکړه چې ما یو خوب لیدلی دی چې زه دلمانځه لپاره اذان کوم دوی جواب ورکړ چې ته به اسلامی حج وکړی بیا دغه وخت یو بل سړی راغلی هغه پوښتنه وکړه چې ما ځان دلمانځه لپاره په اذان کولو لیدلی دی دوی تعبیر بیان کړ چې پر تا به دغلا تهمت ولګیږی. شاګردانو دابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ څخه پوښتنه وکړه چې ددواړو خوب په یوه صورت و چې دواړو سړیو په خوب کي دلمانځه لپاره اذان کړی دی ددواړو په تعبیر کی اختلاف ولی دی؟ ده جواب ورکړ چې دا اولنی سړی دمخ څخه دنیك بختی ښښی ښکاره کیدلی ما وویل چې ته به اسلامی حج وکړی او کوچنیان به ستا طرف ته په ځغستا راځی، او په دوهم سړی کی می دفساداتو او دمخالفت ښښی لیدلی وی ما تعبیر بیان کی چې ته به په غلا کی ونیول سی دالله تعالی ارشاد دی (ثم اذن موذن ایتها العیر انکم لسارقون، سورة یوسف: ۷۰) ترجمه: اواز وکی اواز کوونکو ای دقافلی خلکو! تاسو خامخا غله یاست. جعفر صادق رضی اللہ عنہ ویلی دی چې بعضي وختونه دشپې خوب ولیدل سی او تعبیر یې دغه ورځ راخیژی او بعضي وخت خوب ولیدل سی او تاویل یې کال بعد پوره کیږی او دبعضو دا شپږ میاشتی وروسته او دبعضو دا شل او څلویښت کاله وروسته تاویل ظاهریږی لکه چې دامیر المؤمنین حسین رضی اللہ عنہ دشهید کیدو خوب نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم داسی ولیدی چې یو سپي ددوی وینه چیښله بیا څلویښت کاله وروسته ددې خوب تاویل ظاهر سو چې حسین رضی اللہ عنہ شهید سو، جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې دشپې دخوب تاویل دورځی دخوب څخه قوی وی او دشپی داولی حصی خوب صحیح نه وی اکثره داندیښنو او فکرونو خوبونه راځی او دنیمی شپی خوب هم محض پریشان کوونکی وی دټولو څخه صحیح خوب دسهار دوخت وی ځکه چې دسهار دوخت خوب مقربی فرشتی خلکو ته دلوح محفوظ څخه ښیي په دی وجه ددی تاویل صحیح او رشتیا ظاهریږی، ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی دشپی داولی حصی تعبیر تر پنځه کاله پوری او دنیمی شپی دخوب تعبیر ترپنځو میاشتو پوری او دسهار دخوب تاویل ترلسو ورځو پوری ظاهریږی لنډه داچه څومره خوب سهار ته زیات نژدې وی دومره یې تاویل نیك او صحیح او ژر ظاهریدونکی وی.

اتم فصل

دخوب دتعبیر بیانولو لپاره علم جفر او فال پیژندل ضروري دی

دانیال علیہ السلام ویلی دی چې دخوب دتعبیر بیانوونکی لپاره علم جفر اوفال پیژندل کوم چې دپخوانیو استاذانو څخه منقول دی ډېر ضروری دی که څوك دخوب دتعبیر پوښتنه وکړی نو تعبیر بیانوونکی دی دنوم پوښتنه ځنی وکړی که دهغه نوم ښه و لکه محمد، احمد، حسین، فیصل، سهیل، بشیر، حبیب، محبوب او داسی نور نومونه نو دلالت یې دصاحب دخوب لپاره بهتری او خوشحالی وی اوکه نوم یې ښه نه و نو دلیل دغم اوبدئ وی، کله چې سائل دخوب

تعبیر وکړی او دتعبیر بیانوونکی په مخکی دغه وخت آس یا غاطره یا خره وی نو دده خوب به نیك او ښه وی او صاحب خوب به سفر کوی خاص کر که یې په مخکی آس یا غاطره تیره سی او دواګو سره وی دالله ﷻ قول دی: (والخیل والبغال والحمیر لترکبوها وزینة، سورة النحل: ۸) ترجمه: آس غاطره او خره ستاسو دسپرتیا او ښایست لپاره دی. که د پوښتنه کوونکی دپوښتنی په وخت کارغه دری اوازونه وکړی نو دخیر او دنیکی دلیل دی او که کارغه دوه اوازونه وکړی نو دبدی دلیل دی جابر مغربی رحمه الله علیه ویلی دی چې یو سړی دعبدالله ابن عباس رضی الله عنه څخه دخپل خوب دتعبیر پوښتنه کوله دغه وخت یو کارغه راغی دکور پر دیوال کښینستی اودوه اوازونه یې وکړل ابن عباس رضی الله عنه وویل چې دا ددی خبری دلیل دی چې تا ته به څه بدی رسیږی، په دغه شپه غل دده په کور کی سری وکی او هرڅه یې یورړل، عبدالله رضی الله عنه ویلی دی چې ما خپلو اندیوالانو ته وویل چې که څوك دخوب دتعبیر پوښته وکړی او کارغه دوه اوازونه وکړی نو دلیل دبدی او دنقصان دی که څلور اوازونه وکړی نو دلیل دنیکی او بهتری دی که پنځه وکړی نو دبدی دلیل دی او که شپږ وکړی نو دصاحب خوب لپاره دبهتری دلیل دی. ابن سیرین ویلی دی چې طاق اواز دنیکی دی او جفت اواز دبدی دلیل ورکوی، جعفر صادق رضی الله عنه ویلی دی چې که یو سړی په دی نیت بیده سی چې څه خوب ووینم او په دی خوب سره ښه اوبد حالات پیژندل غواړی نو که په خوب کی بزه اویا دبزی بچی یا غوا یا اس یا ددی په مثل داسی حیوانان ووینې چې غوښه یې حلاله وی نو دصاحب خوب دکار دتباهی دلیل دی او که بنده دروازه ووینې او یا دده لپاره وترڼ سی یا خوږ خوراك پیدا کی او وې خوری نو داخبری دصاحب خوب لپاره دبهتری اونیکی دلیل دی.

نهم فصل

دهیر سوی خوب په بیان کې

جعفر صادق رضی الله عنه ویلی دی چې که یو سړی خوب ووینې اوځنی هیر سی اوتعبیر بیانوونکی دخوب معلومول غواړی نوطریقه یې داده چې دصاحب خوب څخه دی دنوم پوښتنه وکړی اودده دنوم حرفونه دی حساب کړی او دابجد په حساب دی نهه نهه ځنې منفی کوی او ګوری دی چې څومره باقی پاته کیږی که نهه باقی سوه نو دا دخوب دفساد دلیل دی چې ده ناکاره خوب لیدلی دی دالله تعالی ارشاد دی (وکان فی المدینة تسعة رهط یفسدون فی الارض ولا یصلحون، سورة النمل: ٤٨) ترجمه: په ښار کی نهه ډلی وی کومو چې به فساد کوی او اصلاح یې نه کوله. که اته پاته سوه نو صاحب خوب به سفر کوی یا به یې نکاح وسی دالله تعالی ارشاد دی: (ثمانی حجج فان اتممت عشرا فمن عندك، سورة القصص: ۲۷) ترجمه: اته کاله دی که تا لس پوره کړل دا به ستا دطرف څخه وی. او که اووه پاته سوه نو صاحب به یې درندګان یا سپی ووینې دالله تعالی فرمان دی: (ویقولون سبعة وثامنهم کلبهم، سورة الکهف: ۲۲) ترجمه: او وایې چې اووه دی اواتم یې سپی دی. که

Maktaba Tul Ishaat.com

شپږ پاته سوه اوصاحب خوب نيك سړی وو نو دا ددی امر دليل دی چي ده په خوب کی فرشتي اواهل اصلاح ليدلی دی ددی تاويل دادی چي دده ټول کارونه به نيك وی اوکه صاحب خوب مفسد وو نو ددی امر دليل دی چي ده په خوب کی شيطانان او اهل فساد ليدلي دی او تاويل يې ددغه سړی تباهی ده اللهﷻ ويلی دی: (رفع السموات بغير عمد ترونها ثم استوى على العرش، سورة الرعد: ٢) ترجمه: تاسو ويني چي اسمانونه يې بغير دستنو پيدا کړی دی بيا پر عرش قايم سو. که پنځه پاته سوه نو دده په خوب کی آسونه او وسلی دی او که څلور پاته سوه نو به ده په خوب کی اسمان او ستوری ليدلی وی (في اربعة ايام سواء للسائلين، سورة حٰم السجدة: ١٠) ترجمه: په څلورو ورځو کی دسوال کوونکی لپاره برابر دی. که دری پاته سوه نو صاحب خوب به چاته دځه کار ويلی وی (مايكون من نجوٰى ثلثة الا هو رابع، سورة المجادلة: ٧) ترجمه: ددری تنو په پټو خبرو کی څلورم خدای دی، بل ځای ارشاد دی (ثلثة ايام الا، سورة آل عمران: ٤١) ترجمه: دری ورځی مګر. که دوه يا يو پاته سو نو ددی خبری دليل دی چي په دين او دنيا کی به يې نفع وی (ثاني اثنين اذ هما في الغار اذ يقول لصاحبه لا تحزن، سورة التوبة: ٤٠) ترجمه: په دوو کی دوهم کله چي دواړه په غار کي وه کله چي يې خپل اندیوال ته وويل چي غم مه کوه. او ددی تاويل دادی چي دبيری څخه به په امن وی او دهر طرف څخه به محفوظ وي. ابن سيرين ويلی دی چي که څوك خوب ووينې هير يې سی نو تعبير بيانوونکی دی سائل ته ووايي چي په خپلو اندامونو کی پر يوه اندام لاس کښيږده که پر سر يې لاس کښيښوی نو غر يې ليدلی دی که پر سترګو يې لاس کښيښوی نو دترووا اوبو يوه چينه يې ليدلي ده که پر پزه يې لاس کښيښودی نو دغره لمن يې ليدلی ده که يې پر مخ لاس کښيښودی نو چمن يې ليدلی دی که پر خوله يې لاس کښيښودی نو دخوږو اوبو چينه يې ليدلی ده که يې پر غوږ لاس کښيښودی نو چاوده اوغار يې ليدلی دی که پر نس يې لاس کښيښودی نو واله يی ليدلی ده که پر شرمګاه يی لاس کښيښودی نو خرابی يې ليدلی ده که پراوږه يې کښيښودی نو محل يې ليدلی دی که پر څنګلو يې کښيښودی نو ميوه داره درخته يې ليدلی ده او که پر ګوتو يې لاس کښيښودی نو ده دګلونو ښاخونه او څانګی ليدلی دی، او که دغټو بولو پر ځای يې لاس کښيښودی نوده به دخزلو ډبران ليدلی وی اوکه پر زنګون يې لاس کښيښودی نو غونډی به يې ليدلی وی اوکه پر پنډی يې لاس کښيښودی نو ده به په خوب کی ميوه داره درخته ليدلی وی، دانيالعليه السلام ويلی دی چي که څوك خوب ووينې او هير يې سی نودی دځلورو حالو څخه خالی نه دی يو دډبرو ګناهونو په سبب دوهم دمختلفو کارونو په سبب دريم دضعف نيت په سبب څلورم دطبعيت داختلاف په سبب کله چی پر دې حال وګرځی نو ضرور به خوبونه هيروی.

لسم فصل

جاهلانو ته په خوب بيانولو کي

کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي هوښیاران خلک وایي چي جاهلانو ته خوب بیانول نه دی پکار، او دجاهلانو څخه دی دتعبیر پوښتنه وسی نو څه چي ووایي دغه رقم به کیږی ځکه چي دخوب نمائنده فرشته ده هغه هرګز خطاء نه کوی او څه چي وایي حق وی دیو عقل په غلط تعبیر سره حق باطل کیدای نه سی په عالم او جاهل کی ډېر فرق دی دحق تعالی ارشاد دی (قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون، سورة الزمر: ۹) ترجمه: دوی ته ووایه چي عالم او جاهل برابریدای نه سی. او دنبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دی (لا یستوی العالم والجاهل) ترجمه: علم والا او بی علمه برابر نه دی. او چونکه دخوب ظاهروونکي فرشته ده کومه چي یې دلوح محفوظ څخه ښیي که خیر په رسیږی او که شر. که عالم یا جاهل دغه بدلول غواړی نو کیدونکی شی به خامخا کیږی دیوچا څخه ماسوا دقضایي معلقه نه چي په صدقو او دعاګانو سره وروسته کیږی ددې څخه بغیر بل څه هرګز نه سی وروسته کیدای کله چي ریان پاچا دمصر هغه خوب ولیدی لکه چي اللہ جل جلالہ ویلی دی (قالوا اضغاث احلام وما نحن بتأویل الاحلام بعالمین، سورة یوسف: ۴۴) ترجمه: دوی جواب ورکړ چي دا پریشانه خوب دی او موږ ته دپریشانه خوبونو تعبیر نه دی معلوم. پاچا خپل قوم راوبلی او دخپل خوب دحال پوښتنه یې ځنی وکړه (یا ایها الملاء افتونی فی رؤیای ان کنتم للرؤیا تعبرون، سورة یوسف: ۴۳) ترجمه: سردارانو زما دخوب په باب فتوی راکړی که تاسو دخوبو تعبیر بیانولای سی. بیا یوسف علیہ السلام تعبیر بیان کړ او د اوو کالو دقحطي بیان یې ورکړ.

یولسم فصل

دخوبونو حال دوخت او قسم او صورت څخه تر لاسه کول

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي خوب دوخت په لحاظ سره بدلیږی که یو سړی دشپی په خوب کی ووینی چي پر پل یا لاره باندی ناست دی ده ته به په دې کار کی لږ نفع وی او که داخوب دورځی ووینی نو خپلی ښځی ته به طلاق ورکړی که دشپې یې په خوب کی ولیدل چي چرګ یا سپی یې نیولی دی نو ددی خبری دلیل دی چي دده به دیو نادان سره اړیکه راسی اوکه داخوب دورځی ووینی نو ناجوړه به سی، جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي خوب په اصل کی ددین، صنعت، حرفت او کسب په لحاظ سره نه ګرځی، دیو خوب تعبیر مختلف وی دیو خوب تاویل عذاب دی اللہ جل جلالہ ویلی دی (غلت ایدیهم ولعنوا بما قالو، المائدة: ٦٤) ترجمه: ددوی لاسونه ترړل سوی دی او ددوی دخبرو په وجه سره پر دوی لعنت پریوتی. کله چي دا خوب نیک سړی ووینی نو دلیل یې دادی چي دګناهونو او ناکاره کارونو څخه به دستبردار وی. محمد بن عبد العزیز په صحیح سند سره دعبد الرحمن اسلمی څخه روایت کړیدی چي نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم په صدیق اکبر او سلمان فارسی رضی اللہ عنہما کی وروروولی جوړه کړه اوسلمان فارسی رضی اللہ عنہ یو خوب ولیدی او صدیق

Maktaba Tul Ishaat.com

اکبرؓ ته یې بیان کی او ددی خوب سبب دده څخه لیری سو ابوبکر صدیقؓ وویل چې تر قیامته پوری ستا دسر څخه لاس لنډ سو، سلمانؓ دا خوب نبی کریم ﷺ ته بیان کی دوی یې هم هغه تاویل بیان کی کوم چې ابوبکر صدیقؓ بیان کړی وو. ابو مسلم رحمۃ اللہ علیہ دعطاء بن خباب څخه روایت کوی چې محمد بن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې کوم سړی په خوب کی پر منبر وی ددې تاویل دادی چې که دده سړی نیك وی نو شرف او بزرګی به پیدا کوی اوکه بد وی نو پانسی به سی، په حدید الحدیث کی دی چې احمد بن سعد دابو عبیدهؓ څخه روایت کړی دی چې یوی ښځی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ما په خوب کی لیدلی دی چې زما دکور دچت ستن پر ملا ماته سوبده دوی وویل چې ستا خاوند به دسفر څخه راسي بل واری دې بیا دا خوب ولیدی او دابوبکرؓ څخه یې دتعبیر پوښتنه وکړه دوی وویل ستا خاوند به مړ سی دواړه یو رقم خوبونه وو لیکن دوخت په اختلاف سره تعبیر مختلف سو. ابو حاتم داصمعی څخه روایت کوی چې اشعری پوښتنه وکړه چې ما په خوب کی لیدلي دی چې غنم داوربشو په بدله خرڅوم دوی جواب ورکړ چې ته قرآن شریف په شعر سره بدلوی، دښده دحالت په تبدیلی سره غنم او اوربشی دخپل اصلیت څخه بدل سوه، که څوك داسی خوب ووینې نو هغه دی داصمعی دملګری خبره یاد ساتی. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې کوم سړی په پسرلی کی خوب ووینې نیک دی لیکن تاویل به یې وروسته ظاهریږی او دګرمی دموسم دخوب تاویل ډېر ژر ښکاره کیږی او کوم سړی چې دخزان په فصل کی خوب ووینې ددې تاویل صحیح نه وی ددی خبری دلیل دادی چې یو سړی دابوبکرؓ څخه پوښتنه وکړه چې ما ته په خوب کی دیوې درختی څخه او یا پانې حساب کړه سوی راکړل سوی، دوی جواب ورلره ورکړ چې ته به اویا دُرې وهل کیږی او په دغه هفته کی هغه اویا ډنډې ووهل سو بیا دغه سړی بل کال دغه خوب داویا پانو ولیدی او دابو بکرؓ څخه یې دتعبیر پوښتنه وکړه دوی وویل: اویا زره درهمه به درته ورسیږی دغه سړی عرض وکی چې یا امیر المومنین تیر کال ما دا خوب لیدلی وو او تاویل یی اویا ډندې وی اوما په دی کال هم دا خوب لیدلی دی او تاویل یې اویا زره درهمه دی، تاسو ماته ددی تاویل فرق وښیاست، دوی وویل چې تیر کال تا خوب په فصل خزان کی لیدلی وو هغه وخت ټولی درختی وچی وی پانې ځنی رژېدلی وی دهغی تاویل دغه وو او په دی کال موسم بهار دی اودرختی مخ په ترقی دی ددی تاویل دادی او بیا دی سړي ته اویا زره درهمه ورسیده، دانیالؑ ویلي دي چې کوم سړی دسهار څخه تر نیمی ورځی پوری دخوب دتعبیر پوښتنه وکړی ددی تاویل په اقبال او نیکی باندی دی او دزوال څخه وروسته تر شپې پوری دشر اوفساد دلیل دی او دخوب تعبیر دواوری وریځی اوباران اولمر دختو او پریوتو په وخت کي نه دی پوښتنه کول پکار. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په ټولو خوبونوکی رښتونی خوب هغه دی چې دسهار څخه دلمر ترختو پوری راسی یا دلمر دنیغ دریدو په وخت کي خوب نیك رښتیا او صحیح دی او تاویل دخوب، ددرختو پانو رژېدل، دمیوو پخیدل ددی وختونو خوبونه ډېر ښه دی او تاویل یې صحیح وی او کوم خوب چې دیخنی په موسم کی ولیدل سی

ددی دتاویل حکم کمزوری وی په یخنی کی باد او باران وی په بهار کی اهل جهان خوشحاله وی، په هر حال دهر خوب تعبیر به مطابق دحال او صورت او وخت جلا جلا وی.

دولسم فصل

دخوب والاوو دشرطونو او ادبونو په پېژندلو کې

دانیال علیه السلام ویلی دی چې تعبیر بیانوونکی هوښیار او پرهیزګار کېدل پکار دی عالم خاموش پسند او نیك کیدل پکار دی چې دتعبیر ورکولو په وخت حاضر او هوښیار وی او دسائل خوب په احتیاط سره اوری او معلومه کړی چې سائل پاچا دی که رعیت؟ بزرګ عالم دی یا جاهل؟ ازاد دی یا غلام؟ مالدار دی یا فقیر درویش؟ سړی دی که ښځه؟ فارغ دی که مشغول؟ په موسم دګرمی کی یی خوب لیدلی دی که په یخنی کې؟ کله چې هره یوه خبره په قیاس او عقل سره معلومه کړی نو لکه څنګه چې ددی علم استاد بیان کوی تاویل دی بیان کړی او دخپل طرف څخه دی څه نه وایي، ابن سیرین له ا صمعی څخه روایت کوی او هغه دابو المقدم څخه چې ابن سیرین رحمة الله علیه ددیرشو څخه ترڅلویښتو کالو پوری داسی و چې له ده څخه به خلکو پوښتنه کوله یوجواب به یې وایه او دباقی تعبیر به یې نه وایه، په دی وجه بیان کوونکی ته پکار دی چې اول دصاحب خوب خبره په ښه شان سره واوری اوپه تعبیر کی ښه غور وکړی اوکه خبره سخته وی او په معنی کی فضول خبره وه، نودغه فضول دی ځنی جلا کړي او داصل تعبیر دي بیان کړی که په اصل خوب کی فضول خبره وه، نو دغه فضول دی ځني جلا کړی او دباقی تعبیر دی بیان کړی، که ټوله خبره مختلفه وه او دیو بل سره یې جوړ نه خوړی نوخوب پریشانه دی تعبیر دی نه ورته کوی اوکه تعبیر پټوی نو دسائل څخه دی پوښتنه وکړی چې تنګ دله دی که خوش دله او څه چې دده څخه واوري په هغه دی دخوب دتاویل بنا وکړی اوکه هغه نه سی ویلی اوتعبیر بیانوونکی یې نوم ونه پیژنی نو دطبعیت، عبادت، ګفتار، بد صورتی، خوب صورتی، درواغ او رشتیا څخه دی تعبیر وکړی اوکه دده دخوب تاویل بد شی وی نو نه دی وایي او دده څخه دې پټ ساتی. کرمانی رحمة الله علیه ویلی دی چې اصل خوب په درو شیانو دی یو جنس دوهم صفت دریم طبیعت، جنس لکه د درختو او مرغانو دا ټول دسړیو تاؤیل دی اوصفت دادی چې تعبیر بیانوونکی یې وپیژنی چې درخته څنګه ده او سړی دکوم جنس څخه دی او دکوم صفت لرونکی دی اوکه دغوز درخته ده نو معلومه دی کړی چې عجمی سړی دی ځکه چې په عربو کی دغوزانو درخته نه وی اوکه مارغه طاوس وی نو عجمی دی که شتر مرغ دی نو سړی عربی دی او طبیعت دادی چې معلومه کړی چې ددی درختی طبعیت څه قسم دی؟ لهذا ددی په نوعه دی تاویل بیان کړی که دغوز درخته ده نو سړی مالدار دی لیکن بد معامله بخیل اوبد دی ځکه چې که تاسو غوزان ښوروی نو اواز کوی او ترڅو چې یې مات نه کړی نو مغز نه ځنی وځی اوکه دخرما درخته ده نو کوم کار چې اختیاروی اسان به وی (شجرة طیبة اصلها ثابت وفرعها فی السمآء، سورة ابراهیم: ۲٤) ترجمه: لکه پاکه درخته چې ریښی یې ثابتي وی او ښاخونه یې په اسمان کي دی

Maktaba Tul Ishaat.com

دشجری طیبې څخه مراد دخرما درخته ده، که مرغی والوزی نو تعبیر کوونکی دی پوه سی چې دا صاحب خوب به سفر کوی په دی وجه دمرغی طبعیت هم پیژندل پکار دی که کارغه وی نو دغه سړی ضرور شریر اوبد عهد دی، خوب لیدونکی دی رښتنی او دیندار وی او چې په لیدلې خبره کی کمی او زیاتی نه کوی ځکه چې په دې سره په خوب کې نقصان کیږی او کوم سړی چې خوب ووینې او وبیریږی نو دری واری دی ایة الکرسی ووایې پر ځان دی دم کړی او دا دعا دی ووایې (اعوذ برب موسی وابراهیم من شر رؤیا التی رأیتها من منامی ان یضرنی فی دینی ودنیای ومعیشتی عز جاهك وجل ثناؤك ولا اله غیرك) ترجمه: زه په رب دموسی او ابراهیم علیهما السلام پناه غواړم ددی خوب دشر څخه کوم چې ما پخپل خوب کی لیدلی دی چې زما دین او دنیا اومعاش ته نقصان رسوی ستا مرتبه دټولو څخه لویه ده او ستا ثنا لویه ده او ستا څخه ماسوا بل معبود نسته. ددی څخه وروسته دی دوه رکعته لمونځ وکړی او صدقه دی ورکړی چې دخوب بدوالی ځنی لیری سی. مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې ابلیس ملعون په ټولو خوبونو کی دست درازی کوی او دټولو شیانو په شان کیږی لیکن دخدای تعالی، فرشتو، پیغمبرانو، اسمان، لمر، سپوږمی او ستوری په ډول ځان نه سی کولای اوکه دده دا طاقت وای نو خپل ځان به یې دپیغمبرانو په ډول ښکاره کولی او ویل به یې چې زه ستا څخه خوشحاله یم ته چې څه غواړی کوه یې اوبل ته به یې ویل چې زه ستا خالق یم ما ستا ګناهونه معاف کړی دی او ته می بخښلی یې اوپه داسی خبرو کولو به یې دخدای مخلوق ګمراه کوی جعفر صادق رضی اللہ عنہ ویلی دی چې کله ابلیس ملعون خپل ځان دنبی په صورت جوړول وغواړی نو داسمان څخه اور راکښته سی اودی وسوزی اوپه ټولو کارونو کی مشکل کار ابلیس ملعون ته داوی چې دمومن زړه روښانه سی او اللہ جل جلالہ وپیژنی او خوب یی رشتیا سی.

دیارلسم فصل

دسائل او تعبیر ورکوونکي لپاره دآدابو دخیال ساتلو په بیان کې

کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی په تعبیر بیانوونکی کی داصفت پکار دی چې دده په هر یوکار کی هوشیاری او حوصله وی چې دسائل دسوال پر وخت دده خوب په ښه رقم واوری او دده په دین او مذهب اواعتقاد باندی واقفیت حاصل کړی او دده رشتیا او درواغ وپیژني ځکه نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ویلی دی (اصدقکم رؤیا اصدقکم حدیثا) ترجمه: کوم سړی چې دخبری په باره کی رښتینی وی دغه سړی به په خوب کی هم رښتنی وی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې پر عاقل سړی باندی واجب دی چې داوداسه سره بیدیږی او دبیدیدو په وخت کی دي الله تعالی یاد کړی اودا دعا دی ووایې (اللهم سلمت نفسی الیك ووجهت وجهی الیك وفوضت امری الیك والجات ظهری الیک لا ملجا منك الا الیک تبارکت وتعالیت انت الغنی ونحن الفقراء استغفرك واتوب الیك اللهم ارنا الرؤیا صادقة عاریة صالحة غیر فاسدة غیر تجربة رافعة غیر راضیة) ترجمه: ای الله زه خپل ځان تاته سپارم او خپل مخ ستا طرفته

متوجه کوم او خپل امر تاته سپارم او خپله ملا تاته کښته کوم بغیر ستا څخه بله پناه نسته، ای زما ربه ته بابرکته اولوړ یې ته غنی یې مورِ فقیران یو زه ستا څخه معافی غواړم او توبه کوم ای خدایه ما ته رښتونی خوب صاف نیك او ښه بغیر دڅه قسم خرابی څخه وښیي په کوم کښی چي څه ازمائش نه وی رفعت والا وی ناخوښه نه وی. پر راسته طرف دی بیدیږی اوکله چي ویښ سی نو دغسي دی الله تعالی یاد کړی که نیك خوب یې لیدلی وی نو شکر دی وکی او صدقه دی وکړی او که بد خوب یې لیدلی وی نو (اعوذ بالله من الشیطان الرجیم) ترجمه: زه په الله سره دشیطان مردود څخه پناه غواړم. دی ووایي او سورة الاخلاص تر اخره پوری او چپی خوا ته دي یې چوف کړی او بیده دي سی او وایي دی ای الله ته پوه یې او زه نه پوهیږم که خیر وی نو ددی خوب خیر ماته را ورسوی او که بد وی نو ددی خوب دبدوالی څخه ما او ټول مسلمانان وساتی (یا مجیب دعوة المضطرین یا اله العالمین ویا ارحم الراحمین) ترجمه: ای دبی قرارو دعا قبولوونکی دټولو جهانونو معبوده دټولو څخه زیات رحم کوونکي. دپریوتو او د را کښینستلو په وخت او دهر یو کار په شروع کی دی دا دعا وایي (بسم الله الذی لا یضر مع اسمه شیء فی الارض ولا فی السمآء وهو السمیع العلیم) ترجمه: دالله تعالی په نوم سره شروع کوم چي دهغه دنوم سره څه شی تاوان نه سی رسولای نه پر ځمکه اونه پر اسمان باندی هغه هر څه اوری اوپوه دی کړی کله چي دلمانځه څخه فارغ سی نو خپله وظیفه قران مجید او دعاګانی دی وایي بیا دی تعبیر بیانوونکی ته ولاړ سی په ښه وخت کی او په خوب بیانولو کی دی کمی زیاتی نه کوی. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي دتعبیر بیانوونکی لپاره دا شرط دی چي په اوداسه کی وی او که دده څوك دښمن وی نو ددښمنی په وجه دی ناجائز تعبیر نه بیانوی او دکوم سړی په بدی چي پوه سی نو بل چا ته نه دي ښیي چي رسوا یې کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي خوب لیدونکی دي په خوب کی کمی او زیاتی نه کوی او ددرواغو څخه دی ځان ساتی ځکه چي په حدیث شریف کی راغلي دی چي رښتونی خوب دالله تعالی دطرف څخه وحی ده او کوم سړی چي په وحی ربانی کی کمی زیاتی کوی دی پر الله تعالی درواغ وایي او خوب دالله تعالی اوښده په مینځ کی امانت دی نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ویلی دی چي کوم سړی پرما چي زه رسول یم درواغ وایي دی پر خپل ځان دتباهی او بربادی ګواهی ورکوی په دی وجه کوم سړی چي درواغ خوب جوړوی دنبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم دارشاد په موجب ګناه ګاره دی او دا خبره دخوب پر عظمت او بزرګی باندی دلیل دی او سائل او تعبیر بیانوونکی لره دادابو په نظر کی ساتل شرط دی.

څوارلسم فصل

په دی بیان کي چي تعبیر پر څو قسمه وي

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي تعبیر بیانوونکی ته پکار دی چي اول دسائل دنوم اوقدر او مرتبی پوښتنه وکړی مذهب، خصلت او عقل فهم یې معلوم کړی اودا معلوم کړی چي خوب یې

Maktaba Tul Ishaat.com

دشپی لیدلی دی که دورځی او ودی ګوری چې سائل دپوښتنه کولو په وخت کی څه حرکت کوی او خوب په څه طرز سره بیانوی فارسی میاشت او عربی میاشت دی معلومه کړی بیا دغه وخت چې کومه خبره نزدی قیاس ته وی هغه دی بیان کړی تعبیر دی ورکړی. دانیال علیه السلام ویلی دی چې که یو سائل دخوب پوښتنه وکړی که دده نوم یا دده دپلار نوم دپیغمبرانو دنومونو څخه و نو دجذر او فال په طریقه سره دی دده پر خیر او بشارت اوخوشحالی باندی دلیل حاصل کړی اوکه نوم یې بد وی نو دده پر شر اوفساد دی دلیل کړی دیك شنبی دورځی خوب نیك وی دلمر سره تعلق لری ددوشنبی دورځی خوب هم ښه دی دسپورمی سره تعلق لری دسه شنبی دورځی خوب دمریخ سره تعلق لری ددې پوښتنه کول نه ده پکار، دچهارشنبی دورځی خوب دعطارد سره تعلق لری په کومه ورځ چې قوم دهود علیه السلام او اصحاب الرس هلاک سوی وو ددی هم پوښتنه نه ده پکار دپنج شنبی ورځ دمشتری ده داولی ورځی خوب دسعادت او خوشحالی دلیل دی او دجمعی دورځی اول دزهره څخه دی چی دزړه دخوشحالی او عیش او جمعیت دخاطر دلیل دی. مغربی رحمة الله علیه ویلی دی دخوب په باره کی دتعبیر کوونکی لپاره ډېره تجربه پکار ده لکه ډاکتر ته چې دناجوړه او دهغه په علاج کی تجربه پکار ده.

قصه

امیر المؤمنین مهدی یوه شپه خوب ولیدی چې دده مخ تور سوی دی چې را بیدار سو نو وبیریدی او تعبیر بیانوونکی ته یې دحاضریدو حکم وکړ اوخوب یې ورته بیان کړ ټول دخوب دتاویل څخه عاجزه سوه، بیا یې ابراهیم کرمانی کوم چې دتعبیر بیانوونکو استاد وو را وغوښتی دوی چې دخلیفه خوب واوریدی نو وې ویل چې ستاسو به لور پیدا سی خلکو پوښتنه وکړه چې پر دی تعبیر څه دلیل دی؟ دوی دا ایت تلاوت کړ (واذا بشر احدهم بالانثی ظل وجهه مسودا وهو کظیم، سورة النحل: ۵۸) ترجمه: او چاته چې په لور زېری ورکړل سی نو دده مخ تور سی په داسی حال کی چې دی غضبناك وی امیر المومنین مهدی کرمانی ته هزار درهمه انعام ورکړ او په دغه ورځ یې لور پیدا سوه بیا یې لس زره درهمه په طور دانعام ورلره ورکړه.

قصه

یو سړی خوب ولیدی چې دی یې خصی کړی دی تعبیر بیانوونکی ته ولاړی او خپل خوب یې ورته بیان کړ یوه وویل چې دی به ډېر ژر مړ سی دوهم وویل دخپلو کوچنیانو څخه به جلا سی، دریم وویل چې خصنتینو (خایو) ته به یې تاوان ورسیږی، څلورم وویل دده نسل به ختم سی، پنځم وویل دا سړی به خپلی ښځی ته طلاق ورکړی اوس لا څه وخت نه وو تېر سوی چې ده خپلی ښځی ته طلاق ورکړ او دبچیانو سره په سفر روان سو او په کښتی کی کښینستل هوا مخالفه راغله او کښتی غرقه سوه ددریاب پر غاړه یو ماهی دده عضو تناسل او خصیتین وخوړل دده مال او کوچنیان ټول هلاک سوه او دخوب تعبیر داسی پوره سو څنګه چې تعبیر بیانوونکو ویلی وو. کرمانی رحمة الله علیه ویلي دي چې پوښتنه کوونکی دی رشتیا رشتیا بیانوی

ځکه چې په جیل خانه کی یوسفؑ ویلی وه (قضی الامر الذی فیه تستفتیان، سورة یوسف: ٤١) ترجمه: په کوم امر کی چې تاسو دواړو فتوی طلب کړی وه په هغه حکم سوی دی. دواړو چې په کوم فال پوښتنه کړې وه پوره سوه. جعفر صادقؒ ویلی دی چې دځلورو قسمو خلکو څخه دی دخوب دتعبیر پوښتنه نه کیږی اول دبی دینو څخه دوهم دښځو څخه دریم دجاهلانو څخه څلورم ددښمنانو څخه.

پنځلسم فصل

په هغو مسائلو کې دکومو تعبیر چې بر عکس وی

ډېر سوالونه دی دکومو تعبیر چې چپه وی ځکه مورِ بعضې په دې فصل کی بیانوو چې پر ازده کوونکو باندی پټ پاته نه سی. ابن سیرین ویلی دی چې طاعون په خوب کی لیدل په بیداری کی جنګ دی او په خوب کی ژړل په بیداری کی خوشحالی ده او په خوب کی ګوته لګول په بیداری کی اقرارنامه لیکل دی او په خوب کی دغابنې درد لیدل دقبر کښلو دلیل دی، په خوب کی خپل ځان په قبر کی لیدل جیل خانی ته دتللو دلیل دی په خوب کی کور خراب لیدل دانجونو دمړو کیدو دلیل دی او په خوب کی جینکی پیدا کیدل دزمینداریِ دلیل دی دالله تعالی فرمان دی (نسآئکم حرث لکم فاتوا حرثکم انی شئتم، سورة البقرة: ٢٢٣) ترجمه: ستاسو ښځی ستاسو فصل دی دکوم طرف نه چې غواړی ورته راځی. او په خوب کی کالی جوړول نیکی کول دی، په خوب کی انځر خوړل بد او پښېمانی ده، او سیلاب پر یو ځای راتلل ددښمن راتلل دی، نوي شیان په خوب کی لیدل نیك دی، زاړه شیان په خوب کی لیدل بد دی، په خوب کی نوې موزه بغیر دوسلی څخه اغوستل بد دی، غم او پریشانی راولی او په خوب کی زړه موزه دوسلی سره اغوستل په بیداری کی بنادی او خوشحالی ده، که څوك په خوب کی غلام اخلی نو بد دی او که غلام خرڅوی نو ښه دی که منځه اخلی نو ښه دی او که منځه خرڅوی نو خوب ښه نه دی، دا ډول چپه خوبونه ډېر دی که ټول ذکر کوو نو کتاب به غټ سی لیکن دهر یوه شرح به پر خپل ځای باندی وسی ان شاء الله تعالی.

شپاړسم فصل

دخدای تعالی او فرشتو او پیغمبرانو په زیارت او لیدلو کی

ددی کتاب مصنف وایي چې ددی عاجز استاد دخداوند تعالی او فرشتو او پیغمبرانو دلیدو تاویل دخپل کتاب په شروع کی دمقدمی په طور بیان کړیدی ماهم دغسی مناسب وشمیرله چې دا اول بیان کړم او دباقی شیانو تاویل لکه چې په دیباچه کی یې وعده سوېده دحروف معجم په ترتیب سره بیا ان شاء الله بیان کړم چې دخوبونو تاویل را ایستونکو او زده کوونکو ته اسان وی.

دخدای تعالی دلیدلو تاویل

دانیالؑ ویلی دی چې کوم مومن بنده خدای تعالی په خوب کی بی مثاله او بی مثله وویني

Maktaba Tul Ishaat.com

لکه چې په احادیثو کی راغلی دی ددی امر دلیل دی چې دیدار الهی به یې نصیب سی او حاجتونه به یې پوره سی او که بنده ولاړ وي او خدای تعالی ووینې دا دصلاح دکار او سلامتی دنفس دلیل دی او په مغفرت سره به مخصوص وی که ګناهګاره وی نو توبه به وکړی، ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی که څوك په خوب کی ووینې چې الله تعالي دده سره درازه خبره کوی نو ددی خبری دلیل دی چې دغه سړی دالله تعالی په نزد بزرګ دی دالله تعالی فرمان دی (وقربناه نجیا،سورة مریم: ۵۲) ترجمه: او موږ دی دمشورې لپاره نزدی کړ که یو سړی خوب ووینې چې الله تعالی دده سره دپردې څخه هاخوا خبری کوی نو دا ددین ددخل یا خطاء دلیل دی دالله تعالی فرمان دی: (ما کان لبشر ان یکلمه الله الا وحیا او من وراء حجاب، سورة الشوری: ۵۱) ترجمه: دیو بشر لپاره نسته دا چې الله تعالی دده سره خبری وکړی مګر په طور دوحی یا دپردو څخه شاته که په خوب کی ووینې چې الله تعالی دی مقرب او عزیز کړی دی بزرګ یې جوړ کړی دی نو دا دده دبخښنی دلیل دی او په دنیا کی به مصیبت ووینی که خوب ووینی چې الله تعالی ده ته نصیحت کوی نو دا ددی خبری دلیل دی چې دالله تعالی رضا په ده کی نسته دالله تعالی فرمان دی (یعظکم لعلکم تذکرون، سورة النحل: ۹۰) ترجمه: تاسو ته نصیحت کوی چې تاسو نصیحت قبول کړی. که په خوب کی ووینې چې الله تعالی ده ته خوشخبري ورکوی نو دا یې درضا دلیل دی اوکه ووینې چې ده خدای تعالی ته سر کښته کړی دی ولاړ دی نو دا دغم او خفګان دلیل دی دالله تعالی فرمان دی (ولو تری اذ المجرمون ناکسو رؤسهم عند ربهم، سورة آلم السجدة: ۱۲) ترجمه: او کله چې ته ګناهګاره ووینی چې دوی خپل سرونه درب په مخکی کښته کړي دي. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که یو سړی په خوب کی ووینی چې الله تعالی ده ته څه شی ورکړی دی نو په دنیا کی دبلا او دمصیبت دلیل دی اوکه ووینې چې الله تعالی ده ته په نظر درحمت ګوری نو دا ددی خبری دلیل دی چې الله تعالی ده ته جنت او خپل دیدار نصیب کړی دی اوکه په خوب کی ووینی چې ده ته یې ددنیا دسامان څخه څه ورکړی دی دا دسختي بیماری دلیل دی لیکن اجر او ثواب به یې حاصل سی بعضی تعبیر بیانوونکو دا هم ویلی دی چې عذاب به حاصل کړی، که الله تعالی ووینی او بل څوک ورته ووایي چې دا الله تعالی دی، نو دلیل یې دادی چې دده به یو پاچا ته حاجت پیښ سی اوکه ووینی چې الله تعالی محکی ته یا یوځای ته راغلی دی دا دلیل دی چې ددغه ځای والا مظلومان دی او الله تعالی به یې مدد وکړی اوکه په دغه ځای کي قحطي او تنګی وی نو فراخی به سی او که ددغه ځای خلک ګناهګار وی نو توبه ګار به سی، اوکه ووینی چې الله تعالی دده کورته راغلی دی اوپه مهربانی سره یې دده پر سر لاس راکش کړی دی یا یې خلعت وراغوستی دی نو دا دالله تعالی دکرم دلیل دی لیکن داسړی به په دنیا کی په غم او ناجوړی کی اخته وی، او که خدای تعالی په نورانی شکل کی ووینی داسی چې بیان یې نه سی کیداي نو دا دغم او خفګان دلیل دی. که په خوب کی ووینی داسی چې الله تعالی پرده بل نوم

اینبی دی دا دشرف او بزرګی دلیل دی اوکه پرده الله تعالی غصه کړی ده نو دا دزهد او پرهیزګاری دلیل دی که په خوب کی ووینی چې الله تعالی دی ځان ته نژدی راباللی دی نو تعبیر یې دادی چې ددغه سړی مرګ نژدی سوی دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که یو سړی په خوب کی الله تعالی په یو ښار یا کلی کی ووینی نو ددی دلیل دی چې ددغه ځای نیك خلک به شرف او مرتبه پیدا کړی او ددغه ځای څخه به دظلم لاس پورته سی دالله تعالی فرمان دی (الله یحکم بینکم یوم القیمة فیما کنتم فیه تختلفون، سورة الحج: ٦٩) ترجمه: الله تعالی به ستاسو په مینځ کی ستاسو داختلاف په بابت فیصله وکړی، که په خوب کی ووینی چې الله تعالی پر دغه ځای خفه دی نو ددی امر دلیل دی چې ددی ښار قاضی بی انصافه دی یا ددی ښار حاکم پر رعیت ظلم کوي، یا ددی ښار عام خلک بی دینه دی او که دا خوب غل ووینی نو دده لاس او پښې به پریکړه سی او په دې ښار کی به فتنې او بلا او قتل واقع وی دالله تعالی فرمان دی (وهو القاهر فوق عباده ویرسل علیکم حفظة حتی اذا جآء احدکم الموت توفته رسلنا وهم لایفرطون، سورة الانعام: ٦١) ترجمه: دی پر خپلو بندګانو غالب دی اوپر تاسو محافظان لیږی تر دی چې کله دچا مرګ راسی نودی زمونږ قاصدان وژنی او هغوی کمی نه کوی. عباس رضی اللہ عنہ ویلی دی چې که یو سړی خدای تعالی بی مثله بی نظیره په خوب کی ووینی دی به دبیری او دخوف څخه په امن وی اوکه مسلمان وی نو په اخرت کی به دیدار الهی ووینی دالله تعالی فرمان دی (للذین احسنوا الحسنی وزیادة، سورة یونس: ٢٦) ترجمه: چا چې احسان وکړ ددوی لپاره نیکی او زیاتی ده. دتعبیر تفسیر کوونکی دخدای تعالی دزیارت په باره کی وایي که: خدای جل جلالہ په هغه صورت کي ووینی چې دغه صورت ده هیڅیری نه وی لیدلی نو دا دهغه دفضل اوکرم دلیل دی او که دیو سړی په صورت کی یې ووینی نو دغه سړی به غالب اونامداره وی اوکه خدای جل جلالہ په لمانځه او تسبیح کی ووینی نو دا یې درحمت او بخشش دلیل دی او که خدای تعالی غازیان خلک په جهاد کی ووینی نو دایې دبخشش دلیل دی که څوك خدای تعالی ته ښکنځل وکړی نو دا دده دکفر دلیل دی، که خدای تعالی پر تخت ناست یا بیده ووینی نو دا نالائق صفتونه دی اودا ددی امر دلیل دی چې دغه سړی به بی دینه او ګناهګار وی جعفر صادق ویلی دی چې دالله تعالی په خوب کی دلیدو تعبیر په اووه وجهو سره دی اول: معافی او بخشش، دوهم: دبلا او مصیبت څخه امن دی، دریم: نور او هدایت او په دین کی قوت، څلورم: پر ظالمانو باندی فتحه مندی، پنځم: دبلا او اخرت دعذاب څخه امن، شپږم: په دی ملك کی ابادی او پاچا به عادل وی، اووم عزت اوشرف او په دنیا او اخرت کی پورته مرتبه، دا وجوهات دنظر درحمت په صورت کی دی که خدای مه کړه نظر دقهر وی نو ددی برخلاف به وی، اوکه قاضی په خوب کی ووینی چې خدای تعالی ده ته دغصی په نظر سره ګوری دا ددی خبری دلیل دی چې دی دشرع دحدونو څخه تجاوز کوی، او دمظلوم فریادرسی نه کوی، که پاچا ووینی نو دده دبی انصافی دلیل دی اوکه عالم یې ووینی

Maktaba Tul Ishaat.com

نو دده ددین او اعتقاد خلل دی حاصل دادی چې که په نظر درحمت سره وګوری نو بخشش دی اوکه په قهر سره وګوری نو زحمت او عذاب دی، زمونږ دلیل دادی چې الله تعالی هرځای موجود دی دده لیدل دعقل په لاری سره دی لهذا په خوب کی دقهری الهی څخه منکر کیدل نه دی پکار، ابو حاتم دمحمد ابن سیرین څخه اوریدلی دی چی دوی ویلی دی: په ټولو خوبونو کی صحیح دادی چې الله تعالی په خوب کی بی مثله او بی مثاله ووینی.

په خوب کې د فرشتو لیدل

په خوب کی دفرشتو لیدل کامیاب دیندار او دیانت دار پاچا دی، یا یې دلیل عالم پرهیزګار دی اوپه ټولو فرشتوکی څلور فرشتی اول: جبرائیل علیه السلام دوهم: میکائیل علیه السلام دریم: اسرافیل علیه السلام څلورم: عزرائیل علیه السلام دټولو څخه بزرګ ترینی دی.

جبرائیل علیه السلام

ابن سیرین رحمة الله علیه ویلی دی چې که څوك جبرائیل علیه السلام خوش طبع او روښانه مخ ووینی نو دلیل دی چې پر دښمن به کامیاب سی اوخپل مراد ته به ورسیږی، اوکه ددې خلاف ووینی نو دپریشانی اوغم دلیل دی اوکه په خوب کی ووینی چې ده ته جبرائیل علیه السلام خوشخبری ورکړی وه یا یې پخه وعده کړی وه یا یې دیو کار څخه منع کړی دی نو دا دعزت اودولت او دزړه دتحمل دلیل دی او که ده ته یې څه شی ورکړی وی نو دپاچا څخه به مرتبه وروسیږی او بعض تعبیر بیانوونکي وایي چې که په خوب کی جبرائیل علیه السلام ده ته څه ورکړی نو دا دبیری او غټ دهشت دلیل دی، که خلک ده ته په خوب کی ووایي چې ته جبرائیل یې نو دلیل یې دی چې په خبره به پوه او فصیح به وی او مراد به پیدا کړی او په امانتداری او دینداری به مشهور وی.

میکائیل علیه السلام

که څوك په خوب کی میکائیل علیه السلام ووینی لکه چې دهغه صورت دی دلیل دخیر او بشارت دی ځکه چې جبرائیل علیه السلام خوب راوړونکی او میکائیل علیه السلام خوشخبری او نعمت وغیره راوړونکی دی، ابن سیرین ویلی دی چې که په خوب کی ووینی چې میکائیل علیه السلام ده ته څه شی ورکړیدی دا دخیر او بزرګی دلیل دی اوکه په خوب کی ووینی چې خلک ده ته میکائیل علیه السلام وایي دلیل دی چې دده څخه به خلکو ته خیر او بشارت ورسیږی.

اسرافیل علیه السلام

ابن سیرین رحمة الله علیه ویلی دی چې که څوك اسرافیل علیه السلام په خوب کی دده په صورت ووینی نو دا دقوت او بزرګی او جاه او جلال او علم ودانش دلیل دی او په کوم ملك کی چې یې ووینی دهغې دابادی اوامن دلیل دی اوکه په شپیلی وهلو یې ووینی نو دا دبلا اوفتنی دلیل دی دالله تعالی فرمان دی (ونفخ فی الصور فصعق من فی السموات ومن فی الارض، سورة الزمر: ٦٨) ترجمه: شپیلی به پوه کړه سی اوځوك چې په اسمانونو اوپه مځکه کی دی بی هوښه به سی او که ووینی چې دده په لاس کی شپیلی ده اووهی یې نو دلیل یې دادی چې په ښار کی به بلا او فتنه او نهایتي

بيره پريوزی اوکه ووينی چي اسرافيل عليه السلام دده کور ته راغی اودی دخوبه راوينس سو دليل دی چي ددغه ښار پاچا به دده څخه ناراضه وی. کرمانی رحمة الله عليه ويلی دی چي که څوك اسرافيل عليه السلام په خوب کی ووينی چي غمګين دی شپيلی وهی او ده په طور دبرکت دشپيلی اواز اوريدلی وی نو دليل يې دادی چي په دغه ملك کی به مرګ پريوزی اوظالمان خلک به هلاک سی، اوکه ووينی چي اسرافيل عليه السلام ورين تندی او په خوشحالی سره دده طرف ته ګوری نو ددی امر دليل دی چي ده ته به دپاچا څخه امن او خير ورسيږی اوکه ووينی چي اسرافيل عليه السلام يې پر خط مهر ولګاوه ده ته يې ورکړ نو دليل يی دادی چي دده مرګ نژدی دی او که ووينی چي اسرافيل عليه السلام پر ده چيغه وکړه اوغائب سو دليل يې دادی چي ده ته به دپاچا دطرف څخه نقصان ورسيږی.

عزرائيل عليه السلام

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلی دی چي که څوك ملك الموت پر اسمان او ځان پر مځکه ووينی نو دليل يې دادی چي دغه سړی به دخپل کار څخه معزوله سی اوکه پخپله خوا کی يې ووينی نو دليل يې دادی چي دده مرګ نژدی دی اوکه ملک الموت خوشاله ووينی دشهادت دليل دی او که دملك الموت سره غيږه وباسی اوغوزار سی نو دليل دی چي ددنيا څخه به ژر رخصت سی اوکه ملك الموت را غوزار کړی نو بعضی يې تعبير بيانوی چي ناجوړه به سی ليکن شفاء به حاصله کړی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلی دی چي څوك ملك الموت په خوب کی خوشحاله ووينی نودليل دی چي دده ژوند به اوږد وی اوکه سلام کوونکی يې ووينی دا سړی به ژر شهادت حاصل کړی او که خواږه ورکوونکی يې ووينی نو روح به يې په اسانی ووزی، اوکه په غصه کی يې ووينی نو دده مرګ به خطرناك وی او که تريخ شی ورکړی نو روح به يې په سختی سره ووزی، او که په خوب کی ده ته خلک خبر ورکړی چي ملك الموت په فلانی ځای کی دی او ليری يې ووينی نو دليل يې دادی چي دده به دپاچا سره کار جوړ سی، اوکه په خوب کی يې ووينی چي ملك الموت يې وهلی دی نو دا سړی به دمخلوق دښمن وی.

د عرش حاملاني ملايکي ليدل

حاملاني دعرش هغه فرښتی دی کومو چي دالله تعالی په حکم دالله تعالی عرش پورته کړی دی که څوك په خوب کی دوی ووينی نو په خپل مقصد کی به کاميابه سی اوپاچا به سی اوکه ووينی چي ددوی سره يې ملاقات کړی دی نو ديو بزرګ پاچا سره به يې کار پيښ سی او خير او فائده به ووينی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلی دي چي په خوب کی حاملانی دعرش ليدونکي به ددينداروسره وينی اوحج به کوی، په قران شريف کی الله تعالی ويلی دی (وترى الملائكة حآفين من حول العرش يسبحون بحمد ربهم، سورة الزمر: ۷۵) ترجمه: او ته به فرښتې دعرش پر شاوخوا چاپيره په صفونو کی ولاړی ووينی چي هغه به دخپل رب حمد اوثنا وايي اوکه ووينی چي دده سره مهربانی کوی او په عبادت کی يې دځان سره شريك کړی نو دا ددی خبری دليل دی چي دده مرګ نژدی سوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

کرام کاتبين ليدل

کرام کاتبين هغه دوه فرښتو ته وايي کومی چي دخلکو عمل او خبری نيکی اوبدی ليکی. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي که څوك دا په خوب کی ووينی او دی نيك وی نو په دواړو جهانونو کی به خير او غوره والی پيدا کړی اوکه غريب وی نوغم اوفکر به تيروی، دالله تعالی فرمان دی (يعلمون ما تفعلون، سورة الانفطار: ۱۲) ترجمه: هغه ستاسو کارونه پيژنی. اوکه دا فرشتی ديو بل سره په جنګ ووينی نو دليل يې دادی چي دا سړی ګنهګاره او نافرمانه دی او دخدای تعالی دعذاب مستحق دی او دالله تعالی فرمان دی (انا نبشرك بغلام ٍ اسمه يحي، سورة مريم: ۷) ترجمه: مونږ تاته ديو هلك زيری درکوو چي دهغه نوم يحيٰی دی. اوکه دا فرشتی ووينی چي دشيانو داخيستلو په انتظار کی دی نو دليل يې دادی چي دده په مال او نعمت کی به زوال راځی او که دا فرښتی په يو ځای کی ولاړی ووينی نوهلته به امن وی او که په جنګ کولو يې ووينی نو پر دښمن به کاميابی حاصله کړی او که په رکوع اوسجده کی يې ووينی نو دليل يې دادی چي دده ددين او دنيا ټول کارونه صحيح دی، اوکه دښځو په شکل کی فرښتی ووينی نو دليل يې دادی چي خوب ليدونکی په الله تعالی پوری دروغ تړی، دالله تعالی فرمان دی (افاصفاكم ربكم بالبنين واتخذ من الملئكة اناثا انكم لتقولون قولا عظيما، سورة الاسراء: ٤٠) ترجمه: آيا ستا لپاره ستاسو رب زامن غوره کړی دی او دځان لپاره يې ملائکی لونې تاسو يوه ډېره لويه خبره کوی. اوکه څوك په خوب کی ووينی چي وزری لری او دفرشتو سره الوتی وي نو دليل يې دادی چي دده مرګ نژدی دی او په دنيا کی به توبه وباسی او مری به. او که څوك دليری څخه فرشتی ووينی او نژدی ورتلی نه سی نو دليل يې دادی چي پر ده به څه مصيبت راسی، دالله تعالی فرمان دی (يرون الملئكة لا بشرى يومئذ للمجرمين، سورة الفرقان: ۲۲) ترجمه: چي فرشتی ووينی په هغه ورځ دګنهګارو لپاره هيڅ خوشحالی نسته، او که په خوب کی ووينی چي فرشتی ده ته دخپل اطاعت کولو حکم کوی نو که نيك وی نو واده او خوشحالی به ووينی او که نيك نه وی نو تکليف او غم به ووينی دالله تعالی فرمان دی (اقرأ كتابك كفى بنفسك اليوم عليك حسيبا، سورة الاسراء: ١٤) ترجمه: ووايه خپل کتاب نن ورځ ستا نفس ستا دحساب اخستلو لپاره پوره دی. او که څوك په خوب کی ووينی چي ده ته فرشتی په عزت سره سلام کوی نو دليل يې دادی چي پر دښمن به کاميابه سی او انجام به يې په خير سره وی اوکه فرشتی په را کښته کيدو سره يو ځای ووينی نو دليل يې دادی چي دهغه ځای خلک به دغمونو او تکليفونو څخه خلاص وی ځکه چي فرشتی هميشه د پيغمبرانو دمدد لپاره راتللی. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي فرشتی په خوب کی ليدل پند اونصيحت دی او که فرشتی وصيت کوونکی ووينی نو دا سړی به شهيد کيږی اوکه مقربی فرشتی په يو ځای کی ووينی په کوم ځای کی چي مسلمانان دکافرانو سره جنګ کوی نو مسلمانان به کاميابي حاصله کړی او که په هغه ځای کی تکليفونه، قحط او سختی وی نوالله

تعالی به دهغه ځای خلکو ته ددی څخه نجات ورکړی، او که ووینی چې فرشتی راټولي سوی دی اواسمان ته تللی دی نو داسړی به په دنیاکی پرهیزګاری اختیار کړی او ددنیا څخه به لاس واخلی او داخرت دلاري تلاش به کوی اوکه ووینی چې دفرشتو سره اسمان ته تللی دی او وروسته نه دی راغلی نو ژر به ددنیا څخه ولاړ سی اوخپل نیك نوم به پریږدی. جابر مغربی ویلی دی چې که څوك په خوب کی ووینی چې مقربی فرشتی دعزت په نظر د ده طرفته ګوری نو دا سړی به دناجوړۍ څخه ژر شفاء پیدا کړی او ددی څخه به خلاص سي بیا به حج او جهاد وکړی او ډېر نیك کارونه به کوی اوکه څوك خپل ځان دفرشتی په شکل کی ووینی نو دلیل یې دادی چې دغم اوقرض څخه به خلاصون پیدا کړی او که مالداره وی نو مال به یې زیات سی او که فقیر وی نو غنی به سی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك په خوب کی ووینی چې فرشته ده ته دیو کار زیری ورکړی نو دلیل یې دادی چې یو بزګر سړی به دی په یو کار لګوی اوکه ووینی چې فرشته ده ته انعام ورکوی نو دا سړی به عطاء او بزرګی پیدا کړی اوکه مقربه فرشته استقبال کوونکی ووینی نو ددواړو جهانونو دولت به پیدا کړی او که ووینی چې فرشته دده زیارت ته راځی او شمعی او چراغونه ورسره دی نو دلیل یې دادی چې دی به هوښیار اوعالم زوی پیدا کړی، اوکه ووینی چې فرښتی ده ته سپنی او شنی جامي ورکوی نو دلیل یې دادی چې یا به دا سړی پخپله مری اویا به یې په خپلوانو کی څوك مری، اوکه ووینی چې دده طرفته په خوشحالی سره ګوری نو دده انجام به په خیر سره وی اوکه په خوب کی فرشته جامع قران ورکوی یا لیکل سوی خط ورکوی نو دلیل یې دادی چې یو څوك به پر ده حکومت کوی او پر ده به غالب راځی.

د پیغمبرانو علیہم السلام دزیارت په بیان کې

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې پیغمبران علیهم السلام په دری قسمه دی ۱: اولو العزم ۲: مرسل ۳: نبی. اولو العزم پیغمبران شپږ دی. ۱: ادم ۲: نوح ۳: ابراهیم ۴: موسی ۵: عیسی ۶: محمد علیهم الصلاة والسلام. مرسل هغه پیغمبران دی پر کومو چې جبرائیل علیہ السلام وحی راوړی ده د دوی تعداد دری سوه او دیارلس دی او صرف نبی هغه دی په کومو چې جبرائیل علیہ السلام نازل سوی نه وی.

اولوالعزم

اولو العزم پیغمبر چې څوك په خوب کی ووینی نو دا دعزت او دبدبی دلیل دی اوکه څوك په خوب کی مرسل ووینی نو پر دښمنانو به فتح پیدا کړی اوکه دهغه ځای خلق په غمونو، تکلیفونو او سختیو کی وی نو خیر، صلاح او ددین دنیا دکاروبار آبادی به ووینی، اوکه پیغمبران دیو ځای څخه بل ځای ته تلونکی ووینی اوهغه ځای ته نږدی کوی نو دلیل یې دادی چې پر دغه ځای به الله تعالی لویه بلا نازله کړی او ددی علاج توبه او دالله تعالی طرف ته رجوع کول دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

نبی

کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که مومن بنده په خوب کی یو پیغمبر تازه اوخوشحاله وویني نو عزت مرتبه او مدد به پیدا کړی اوکه په غصه کی یې وویني نو دا د بدحالی، غم او سختی دلیل دی، او که په خوب کی د پیغمبرانو څخه څه اوری نو دا دهغوی دعلم څخه دڅه حصی د پیدا کولو او دخوشحالی دلیل دی او که وویني چې ده پیغمبر وهلی دی نو دا دخیانت دلیل دی لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلی دی (فبما نقضهم میثاقهم وکفرهم بایت الله وقتلهم الانبیآء بغیر حق، سورة المائدة: ١٥٥) ترجمه: ددوی دوعدی ماتولو او دالله تعالی په ایتونو باندی دکفر او په ناحقه دنبیانو دقتلولو په وجه سره.

آدم علیہ السلام

جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك ادم علیہ السلام په خوب کی ووینی نو بزرګی او مشری به پیدا کړی، دالله تعالی فرمان دی (وعصی ادم ربه فغوی ثم اجتبه ربه فتاب علیه وهدی، سورة طٰهٰ: ١٢٢) ترجمه: آدم علیہ السلام نافرمانی وکړه او دهوکه سو بیا الله تعالی دی منتخب کړ اوتوبه یې قبوله کړه دده او هدایت یې ورته ورکړ. اوکه په خوب کی ادم علیہ السلام دځان سره په خبرو کولو وویني نو دا دعلم ښوولو دلیل دی، دالله تعالی فرمان دی (وعلم ادم الاسمآء کلها، سورة البقرة: ٣١) ترجمه: او آدم علیہ السلام ته یې ټول نومونه وښوول. اوکه څوك په خوب کی ووینی چې دآدم علیہ السلام تابعداری یې نه ده کړی نو دا دده لپاره دنافرمانی او بدبختی دلیل دی او که وویني چې ادم علیہ السلام دده لاس نیولی دی نو دا دبزرګی او پاچاهی دلیل دی.

حوا علیہا السلام

که څوك حوا انا په خوب کی ووینی نو دولت اوخوشحالی به پیدا کړی، عیش، خوشحالی، ډیر دولت او ډیر عمر به پیدا کړی.

نوح علیہ السلام

که څوك نوح علیہ السلام په خوب کی ووینی نو ډیر عمر به پیدا کړی لیکن د دښمن څخه به غم او سختی ووینی او مراد ته به ورسیږی.

ادریس علیہ السلام

که څوك ادریس علیہ السلام په خوب کی ووینی نو د هغه کار به نیك وی او انجام به یې هم نیك وی.

هود علیہ السلام

که څوك هود علیہ السلام په خوب کی ووینی نو دښمن به پر ده افسوس کوی او په آخر کی به فتح پیدا کړی.

لوط علیہ السلام

که څوك لوط علیہ السلام په خوب کی ووینی نو کار به یې سم سی او دزړه مراد به یې حاصل سی.

صالح عليه السلام

که څوك صالح عليه السلام په خوب کی ووینی او ځای په ځای بدل کړی نو پر ده به دخیر دروازی خلاصی سی.

ابراهیم عليه السلام

که څوك ابراهیم عليه السلام په خوب کی ووینی نو اسلامی حج به وکړی بعضو دتعبیر بیانوونکو ویلی دی چې ظالم پاچا به پر ده ظلم کوی او دا سړی به دخپل مور اوپلار سره بد سلوك کوی.

اسماعیل عليه السلام

که څوك اسماعیل عليه السلام په خوب کی ووینی نو خوشخبری فتح او غنیمت به پیدا کړی دالله تعالی فرمان دی (فبشرنٰه بغلام حلیم، سورة الصافات: ١٠١) ترجمه: یعنی موږ خوشخبری ورکړه هغه ته په یو زوی بردبار.

یعقوب عليه السلام

که څوك یعقوب عليه السلام په خوب کی ووینی نو دزامنو په غم او فکر کی به وی، او په اخر کی به یې غم په خوشحالی سره بدل سی.

یوسف عليه السلام

که څوك یوسف عليه السلام په خوب کی ووینی نو خلک به پر هغه ددرواغو الزام لګوی او په اخر کی به بزرګی پیدا کړی.

شعیب عليه السلام

که څوك شعیب عليه السلام په خوب کی ووینی نو دښمن به پر هغه غلبه پیدا کوی او بیا به هغه پخپله پر دښمن کامیابی پیدا کوی.

موسی عليه السلام

که څوك موسی عليه السلام په خوب کی ووینی نو په اهل او عیال به ګرفتار سی او بیا به خوشحاله سی او پر دښمن به کامیابی پیدا کړی دالله تعالی فرمان دی (ووهبنا له من رحمتنا اخاه هارون نبیا، سورة مریم: ٥٣) ترجمه: او موږ هغه ته د خپل رحمت څخه دهغه ورور هارون عليه السلام نبی ورکړ. بعضو تعبیر کوونکو ویلی دی چې ددوی په خوب کی لیدل دهغه ملک دپاچا دهلاکیدو دلیل دی.

داود عليه السلام

داود عليه السلام په خوب کی لیدل دبزرګی پاچاهی او دنعمت او دمال دمرتبی دزیاتوالی دلیل دی.

زکریا عليه السلام

زکریا عليه السلام په خوب کی لیدل دنیکیو دتوفیق دلیل دی.

یحیٰی عليه السلام

که څوك یحیٰی عليه السلام په خوب کی ووینی نو الله تعالی به ده ته دښو کارونو توفیق ورکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com

خضر عليه السلام

خضر عليه السلام په خوب کی ليدل د اوږد سفر، امن، رزق او ډير عمر دليل دی.

يونس عليه السلام

که څوك يونس عليه السلام په خوب کی ووينی نو دغمونو څخه به خلاصون پيدا کړی او د تيارو څخه به رڼا ته راسی.

ايوب عليه السلام

که څوك ايوب عليه السلام په خوب کی ووينی نو نا اميدی به يې په اميد بدله سی، او دطاعت او خير او خيرات توفيق به ورکړه سی.

محمد صلى الله عليه وسلم

که څوك محمد صلى الله عليه وسلم په خوب کی ووينی نو دغمونو څخه به راحت پيدا کړی، او دقرض څخه به بري سی که قيدی وی نوخلاص به سی که په بيره کی وو نو په امن به سی، قحطی او تنګی به يې ليری سی بعضي وايي که مالداره وی نو فقير به سی. ابوهريره رضي الله عنه ويلی دی چې دنبی صلى الله عليه وسلم څخه ما اوريدلی دی چې که زه په خوب کی چا وليدم نو هغه صحيح ليدلی يم (من رانی فقد رای الحق فان الشيطان لا يتمثل بی) ترجمه: چا چې زه په خوب کی وليدم نو ده په حقه وليدم ځکه چې شيطان زما په شکل نسی جوړېدای. او څوك چې ما په خوب کی ووينی نو هغه به غمونه او تکليفونه نه وينی حيرانتيا مه کوئ زما زيارت دليل پر سعادت د اخرت دی. څوك چې نبی صلى الله عليه وسلم په خوب کی تريو تندی ووينی نو دا ددين سستی او په هغه ملك کی دبدعت دظاهريدو دليل دی او که نبی صلى الله عليه وسلم په داسی ځای کی ووينی چيری چې خلک اوازونه کوی نو دا ددی خبری دليل دی چې هغه وران سوی ملك به بيا اباد سی، اوکه نبی صلى الله عليه وسلم په څه خوراك کولو ووينی نو دا دصدقی او زکاة ورکولو دليل دی اوکه نبی صلى الله عليه وسلم په داسی ځای کی ووينی چيری چې هيڅ قسم بلا او محنت نه وی نو په هغه ځای کی به ډير زيات نعمت وی اوکه په جماعت کی يې ووينی يا يې په غم يا ناجوړی کی ووينی نو دا ددی سړی ددين دکمزوری دليل دی. کرمانی رحمة الله عليه ويلی دی چې که نبی صلى الله عليه وسلم په کوم ځای يا ښار کې ووينی نو دليل يې دادی چې په هغه ځای کی به نعمت فراخه وی او خلکو ته به سکون وی او دهغه ځای خلق به پر دښمن کاميابی حاصلوی او که دنبی صلى الله عليه وسلم په اندامو کې يو اندام کم ووينی نو دليل يې دا دی چې دهغه ځای خلک په شريعت کې سست دی، ځکه چې دنبی صلى الله عليه وسلم د وجود نقصان دهغه سړی ددين نقصان دی اوکه ووينی چې هغوی ده ته لنډ يا وچی ميوې ورکړی دی نو ده ته به په دين کی پرهيزګاری حاصله سی. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلی دی چې که څوك په خوب کی نبی صلى الله عليه وسلم دځه نقصان سره ووينی نو دهغه صلى الله عليه وسلم دا نقصان به پر دی خوب ليدونکی پريوزی ځکه چې نبی صلى الله عليه وسلم په خوب کی نيك خلک وينی او هغوی ته دهغو شيانو خبرداری ورکوی کوم چې به دوی ته پيښيږی اوخراب خلک د ګناه څخه بچ کوی ددی وجهی څخه چې دعذاب څخه خلاصون پيدا

کړی، ځکه چې رسول الله ﷺ دمومنانو لپاره زیری ورکوونکی او دکافرانو لپاره دالله تعالی دعذاب څخه بیروونکی دی که څوک رسول الله ﷺ په خوب کی په غصه وویني نو ددی دلیل ښه نه دی. عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ویلی دی چې که څوك درسول الله ﷺ جنازه په خوب کی وویني نو په هغه ملك کی به غمونه او تکلیفونه ډېر راځی، اوکه دجنازی څخه وروسته نبی ﷺ تلونکی وویني نو دا دخواهش اوبدعت دلیل دی اوکه صرف درسول الله ﷺ زیارت وکړی نو دا دمال، نعمت او مرتبی دلیل دی او که وویني چې نبی ﷺ پر ده افسوس کوی نو دا دده دکافر کیدو دلیل دی لکه څنګه چې دالله تعالی فرمان دی (قل اباالله وایاته ورسوله کنتم تستهزئون لا تعذروا قد کفرتم بعد ایمانکم، سورة التوبة: ٦٥ – ٦٦) ترجمه: ووایه ورته چې ایا تاسو په الله ﷻ او دهغه په ایتونو او دهغه په رسول پوری مسخرې کوئ عذر مه کوئ تاسو دخپل ایمان څخه وروسته کفرکړیدی. جعفر صادق رحمه الله ویلی دي چې په خوب کی دپیغمبرانو لبدل په لسو ١٠ وجهو سره وی ١: رحمت ٢: نعمت ٣: عزت ۴: بزرګی ۵: دولت ٦: فتح ٧: سعادت ٨: جمعیت ٩: قوت ١٠: ددواړو جهانونو خیر او دهغه ځای دخلکو بهتری په کومو ځایو کی چې خوب لیدل سوی وی.

خلفاء راشدین رضی الله عنهم په خوب کی لیدل

ابوبکر صدیق رضی الله عنه

اول خلیفه امیر المومنین ابوبکر صدیق رضی الله عنه دی، محمد بن سیرین رحمه الله ویلی دی چې که څوك خلیفه اول ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خوب کی وویني نو دا دخوشحالی او کرامت دلیل دی. کرمانی رحمه الله ویلی دی چې که څوك دوی په یوه ښار کی ژوندی وویني نو دا ددی خبری دلیل دی چې ددغه ملك او ښار خلک به ډېر زیات زکاة او صدقه ورکوی لیکن دا حکم هغه وخت دی کله چې دوی راضی او خوشحاله وویني اوکه تروش تندی یې وویني نو بیا داولنی خبری خلاف دی.

عمر رضی الله عنه

دوهم خلیفه امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضی الله عنه دی. ابن سیرین رحمه الله ویلی دی چې که څوك دوی په خوب کی وویني نو دا ددی خبری دلیل دی چې دا سړی به عدل کوونکی او انصاف کوونکی وی اوکه دوی په یو ښار کی راضی او خوشحاله وویني نو دا ددی خبری دلیل دی چې په دغه ښار کی به عدل او انصاف ظاهریږی.

عثمان بن عفان رضی الله عنه

دریم خلیفه امیر المومنین عثمان بن عفان رضی الله عنه دی ابن سیرین رحمه الله ویلی دی چې که څوك دوی په خوب کی وویني نو ددی دلیل به دا وی چې دا سړی به طاعت، زهد او پرهیزګاری اختیار کړی، اوکه دوی په یو ښار کی خوشحاله او خنده رویه وویني نو دا ددی خبری دلیل دی چې ددغه ښار خلک به قران کریم او علم زده کولو ته توجه وکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com

علی المرتضی رضی الله عنه

څلورم خلیفه امیر المومنین علی المرتضی رضی الله عنه دی. ابن سیرین رحمة الله علیه ویلی دی چې که څوك دوی په خوب کی خوشحاله او په خندا ووینی نو دا ددی خبری دلیل دی چې دی به بزرګی، شجاعت او سرداری پیدا کړی، او چې په کوم ښار کی یې ووینی نو دهغه ښار به په عدل او انصاف سره صفت وسی لیکن کله کله به ددوی په خپلو کی جنګ جګړه او فساد کیږی.

دنورو صحابه کرامو رضی الله عنهم په خوب کې لیدل

ابن سیرین رحمة الله علیه ویلی دی چې څوك صحابه کرام په خوب کی ووینی نو دلیل یې دادی چې دی به د دین اسلام په لاره کی بی مثاله وی او په مسلمانانو کی به ریښتونی او دیانت دار مشهور وی، دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی (اصحابی کالنجوم بایهم اقتدیتم اهتدیتم) ترجمه: زما صحابه دستورو په ډول دی پس په هر یوه پسی چې مو تابعداری وکړه هدایت به پیدا کړی.

امام حسن او امام حسین رضی الله عنهما

امیر المومنین امام حسن او حسین رضی الله عنهما چې څوك په خوب کی ووینی نو خیر او راحت به پیدا کړی او په اخر کی به دشهیدانو مرتبه پیدا کړی.

جعفر طیار رضی الله عنه

که څوك جعفر طیار په خوب کی ووینی نو حج او جهاد به کوی.

ابو هریره او انس بن مالک رضی الله عنهما

که څوك ابو هریره یا انس بن مالک رضی الله عنهما په خوب کی ووینی نودی به دسنتو طرفته شوق مند سی او علم اوشریعت به خوښوی.

حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه

که څوك سلمان فارسی رضی الله عنه په خوب کی ووینی نو ددی دلیل دادی چې الله جل جلاله به هغه ته دقران علم نصیب کړی او انجام به یې نیك وی.

بلال رضی الله عنه

که څوك بلال حبشی رضی الله عنه په خوب کی ووینی نو دا ددی خبری دلیل دی چې هغه به مشهور سی، او دموذنانو ثواب به پیدا کړی او د اهل سنت والجماعت پر لاره به تګ کوی، مقصد دا چې دنبی صلی الله علیه وسلم اصحاب رضی الله عنهم په خوب کی لیدل دخیر او دنفع دلیل دی.

عالمان زاهدان او حاکمان په خوب کی لیدل

که څوك عالمان زاهدان یاحاکمان په خوب کی ووینی نو دا ددی خبری دلیل دی چې دی به دخیر او طاعت په کارونوکی توفیق پیدا کړی او علم به حاصل کړی، ځکه چې علماء دنبی صلی الله علیه وسلم وارثان او دمسلمانانو لار ښودونکی دی که څوك په خوب کی دیوی محلی یا ښار علماء او حاکمان په یو ټولګی کی ووینی نو دلیل یې دادی چې ددغه ښار خلک به پر جاهلانو باندی په ګفتار، کردار اوامر ونهی سره کامیابی پیدا کړی.

په راتلونکو پاڼو کې به دحروف معجم یعني د (الف بآء) په ترتیب سره تعبیرونه بیان کړل سي.

تعبیر الرُّؤیا

[الف – یا]

Maktaba Tul Ishaat.com

[الف]

آبادی

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك په خوب کی ووینی چې وران ځای ابادوی لکه جماعت، مدرسه، خانقاه او یا ددی په ډول یو بل ځای نو دا ددین، نیک عمل، اصلاح او داخرت دثواب دلیل دی او که ووینی چې ویرانه مځکه پخپله ابادوی لکه سرای یا دکان وغیره جوړوي نو دا ددی جهان دفائدی او دخیر دلیل دی اوکه اباد ځای ویران ووینی نو دلیل یې دادی چې په هغه ځای کی به بلا او مصیبت راځی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك خپل ځان په یو آباد ځای کی مقیم ووینی نو دابادی په اندازه به خیر اونفع پیدا کړی او که ددی څخه خلاف ووینی نو شر، فساد، او نقصان به پیدا کړی. جعفر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې دابادی لیدل په څلورو وجهو دی ۱: ددی جهان دکارونو صلاح ۲: خیر اونفع ۳: مراد او کامرانی ۴: دبندو کارونو خلاصول.

آب \ اوبه

دډولو شیانو ژوند داوبو په وجه دی دالله تعالی فرمان دی (وجعلنا من الماء کل شيء حي، سورة الانبياء: ۳۰) ترجمه: مونږ هر یو شی په اوبو سره ژوندی کړی دی. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك په خوب کی ووینی چې اوبه لوړی داوبو په ډول روانی دی لکه ددریاب یا دنهر اوبه نو دا دهغه دپاك اعتقاد او دقوت ایمانی دلیل دی اوکه صفا او خوږی اوبه یې چښلي وی نو هم یې دا تعبیر دی او که چیری بی مزه او بې خونده اوبه یې چښلی وی نو ددی تعبیر د اولنی څخه خلاف دی اوکه ددریاب څخه صفا او ښې اوبه یې په خوب کی چښلی وی نو دلیل یې دا دی چې دډولی دنیا پاچا به سی او بعضو ویلی دی چې څومره اوبه یی ددریاب څخه چښلی وی دهغی برابر به ورته بزرګی، مال او نعمت حاصل سی که اوبه پاکیزه او صفا وی، اوکه اوبه ګنده وی نو ده ته به غم سختی او بیره ورسیږی. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك په خوب کی ووینی چې ګرمی اوبه چښی نو دا د ناجوړی او غم دلیل دی او که ووینی چې پر ده ګرمی اوبه واچول سوی او ده ته معلومات نه وی نو دلیل یې دا دی چې ده ته به ناجوړی او سخت غم ورسیږی اوکه ووینی چې په اوبو کی لویدلی دی نو دلیل یې دادی چې په تکلیف او غم کی به ګرفتار سی اوکه اوبه یی په پیاله کی را اخیستی وی نو دلیل یی دادی چې په مال او ژوند کی به دهوکه کیږی اوکه دښیښی په پیالی کی یې خپلی ښځی ته اوبه ورکړی نو هوښیار خلک دښیښی پیالی ته دښځی دجوهر سره نسبت ورکوی، او اوبه چې دښیښی په پیاله کی دي نو دې ته دزوی سره نسبت ورکوی کوم چې دمور په نس کی دی که پیاله ماته وی نو ښځه به یې مری او کوچنی به یې پاته کیږی اوکه اوبه توی سی او پیاله خالي پاته سی نو دلیل یې دادی چې کوچنی به مری او ښځه به پاته کیږی اوکه ووینی چې بی قیمته خلکو ته اوبه ورکوی نو په

Maktaba Tul Ishaat.com

دنیا او اخرت کی به خلکو ته دده څخه فائده ورسیږی او ویران ځای به اباد کړی او که په خوب کی ووینی چې په کوم کور کی اوبه اچول سوی دی هغی ته داخل سوی دی نو دلیل یې دادی چې غمناکه او فکرمند کیږی به اوکه ووینی چې په پیالی کی یې صفا اوبه دسپی په ډول چیښلی دی نو دلیل یې دادی چې په عیش عشرت سره به ژوند تیروی لیکن داسی کار به وکړی چې په بلا او فتنی کی به اخته سی او مال به لږ لږ خلکو ته بخښی او په خیرات کی به یې خرڅ کړی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که چیری اوبه په وخت سره زیاتیدونکی ووینی نو دلیل یې دادی چې په هغه کال کی به دنعمت فراخی وی او که اوبه ووینی چې په مځکه کی جذب کیږی نو دلیل یې دادی چې عامو خلکو ته به سلامتی او ارام حاصل سی دالله تعالی فرمان دی (وقيل يآ ارض ابلعی مآئك ويا سمآء اقلعی وغيض المآء، سورة هود: ٤٤) ترجمه: او وویل سوه چې ای ځمکی خپلی اوبه راوکاږه او ای اسمانه بس کړه او اوبه کښته ولاړې. اوکه ووینی چې اوبه دخلکو پر سرونو باندی ختلی وی نو دلیل یې دادی چې په هغه کال به په دغه ملك کی نعمت اوفراخی وی دالله تعالی فرمان دی (انا صببنا المآء صبا، سورة عبس: ٢٥) ترجمه: مونږ اوبه په ښه رقم سره واورولی. که ووینی چې دهغه په کور کی صفا اوبه دی نو دلیل یې دادی چې نعمت او خوشحالی به پیدا کړی اوکه ووینی چې په کور کی یې خرابي اوبه ولاړې دی نو بیا ددی تعبیر داولنی خلاف دی. دانیال علیہ السلام ویلی دی چې باغ او کښتو ته ددریاب او دولو اوبه ورکول دغم او دفکر څخه دخلاصی او دمال دلیل دی او خلکو ته اوبه ورکول ددین، ایمانداری او دنیکو کارونو دلیل دی اوکه په خوب کی ووینی چې په اوبو کی روان دی او په دغه وخت کی دده وجود مضبوط وی نو دلیل یې دا دی چې دحاکم دطرف څخه به په یو سخت کار کی مشغول سی اوددە خبره به په دغه کار او نورو کارونو کی قبوله سی اوکه په صفا اوبو کی روان وی او دده وجود پکښی پمن سی نو دا ددین دقوت او پر خدای د توکل کولو او دثابت قدمی دلیل دی اوکه په خوب کی ووینی چې باغ ته اوبه ځی نو دا د ښځی یا دمنځی سره دملاویدو دلیل دی او که په خپل ځان باندی پاکی اوبه راتوی سی او وینی نو دا دخیر او نفع درسیدو دلیل دی اوکه ووینی چې پر ده خرابي اوبه راتوی سوی دی نو دا دنقصان پیژندلو دلیل دی. جعفر صادق رضی اللہ عنہ ویلی دی چې په خوب کی په اوبو کی دګرځیدلو تعبیر په پنځه وجهو سره ښودل کیږی ۱: یقین ۲: قوت ۳: مشکل کار ۴: مصاحبت ۵: دښار دمالدار سړی دطرف څخه څه کار.

یاد ساتئ چې دباران تعبیر به په حرف (ب) کی بیانیږی او دچینی اوبه، د څاه اوبه او دولی اوبه به په حرف (ج) کی بیانیږی، او ددریاب اوبه به په حرف (د) کی او دولی اوبه به په حرف (ر) کی او د کاریز اوبه به په حرف (ك) کی او په دی ترتیب سره به نور خوبونه دهر یو شی په ترتیب سره په هغه ځای کی ذکر کیږی.

آب بینی \ دپزی اوبه

دانیال علیہ السلام ویلی دی چې په خوب کی دپزی څخه اوبه وتل لیدل دزوی تعبیر دی اوصرف دپزی

اوبه لیدل هم دزوی دلیل دی او دپزی څخه دسرکی وتلو لیدل هم دزوی دلیل دی. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که په خوب کی څوك دپزی څخه اوبه وتونکی ووینی نو دا دقرض څخه دخلاصی او دغمونو او تکلیفونو څخه دخلاصی دلیل دی او که ناجوړه وی نو صحت به پیدا کړی. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کی دپزی اوبه لیدل دزوی دلیل دی که پر بدن یې پریوزی نو هلك به وی اوکه پر مځکه پریوزی نو انجلی به وی او که پر بڼځه یې پریوزی نو حامله به سی لیکن زوی به یې ضائع سی اوکه ووینی چې بڼځی دپزی اوبه باندی راتوی کړی نو هلك به یې پیدا سی اوکه ووینی چې دپزی اوبه یې دهمسایه په کور کی واچولی نو دهمسایه بڼځه به خیانت کوی او که ووینی چې دخپلی بڼځې اوبه یې دیو سړی پر بستره اچولی دی نو بیا هم دغه تعبیر دخیانت دی. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك په خوب کی دخپلی پزی اوبه خوړل ووینی نو دلیل یې دادی چې خپل مال به پر خپل کور باندی خرچ کړی او که دخپلی بڼځی دپزی اوبه خوړل ووینی نو دلیل یې دادی چې دهغې به زوی کیږی اوکه دپزې اوبه توری او خیرنی ووینی نو دلیل یې دا دی چې دهغه زوی ته به غمونه او تکلیفونه رسیږی او که ژړی یې ووینی نو زوی به یې ناجوړه سی.

آب تاختن \ بولي کول

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك بولی بی ځایه کول ووینی نو دا ددی خبری دلیل دی چې دی به پخپله غمګین او قرض داره کیږی اوکه پر خپل ځای یې ووینی نو دقرض څخه به خلاصیږی او دغم څخه به خوشحالی ووینی او که خوب لیدونکی مالدار وی نو دمال نقصان به یې وسی. دانیال علیہ السلام ویلی دی چې که څوك په نامعلومه ځای کی بولی کول ووینی نو دا ددی خبری دلیل دی چې خوب لیدونکی به دهغه ځای څخه بڼځه کوی یا به مینځه ځنی اخلی. اوکه په خوب کی دبولو پر ځای وینه تلل ووینی نو دا دهغه دنقصان دلیل دی اوکه په بولو کی نو تلونکی ووینی نو دلیل یې دادی چې دهغه به ناجوړه کوچنی پیدا کیږی، بعض اهل تعبیر بیان کوی چې په خوب کی بولی کول دحرام مال دلیل دی اوکه په خوب کی بولی چښل ووینی نو دلیل یې دادی چې حرام مال به خوری. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك په څاه کی بولی کول ووینی نو دلیل یی دادی چې دیو چا څخه به حلال مال حاصلوی او که بولی کول ووینی نو دلیل یې دادی چې حافظ قران او هوښیار زوی به یې پیداسی او که ووینی چې لږ بولی یې کړی دی او لږ یې پاته کړی دی نو دلیل یې دادی چې لږ مال به ځنی ولاړ سی او څه غم او تکلیفونه به ځنی جلا سی او که ووینی چې دده په بولو خلک مسح کوی نو دلیل یې دادی چې دده به عالم او هوښیار زوی پیدا کیږی اوخلک به دهغه تابعداره وی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك په جمات کی بولی کول ووینی نو دلیل یې دادی چې خپل مال به جمع کوی لیکن دخپل ځان لپاره نه، اوکه ووینی چې دبولو کولو سره دهغه کالی لانده سوی دی نو دلیل یې دادی چې خپل مال به دخپلو زامنو لپاره جمع کوی، جعفر صادق رضی اللہ عنہ ویلی دی چې په خپل ځای کی بولی کول لیدل دمالداری دلیل دی دهغه چا لپاره چې فقیران وی غلام به ازادیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

ناجوړه به شفاء حاصلوی قیدی به خلاصون پیدا کوی مسافر به وطن ته راځی حاکم به معزول کیږی خلیفه به مری قاضی به معزول کیږی او سوداګر به نقصان کوي. اسماعیل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك په خوب کی په خپل کور کی دبولو په ځای کی بولی کول وویني نو دلیل یې دادی چې خپل مال به دخپل اولاد لپاره جمع کوی لیکن ددی په بدل کی به نور پیدا کړی دالله تعالی فرمان دی (وما انفقتم من شیء فهو یخلفه وهو خیر الرازقین، سورة سبا: ۳۹) ترجمه: او کم شیان چې تاسو خرڅ کوی نو الله تعالی دهغه عوض درکوی اوهغه دټولو څخه زیات رزق ورکوونکی دی.

آب خانه، بیت الخلاء \ لویي بولي

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك په خوب کی بیت الخلاء جوړه کړی نو ددنیا پر مال به حریص او توجه کوونکی سی او دمال څخه به هیڅ هم نه خرڅ کوی، بعض اهل تعبیر بیان کوی چې ده ته به جادوګره ښځه ملاو سی او دغه ښځه به حرام خوره او بی دینه وی. اوکه په بیت الخلاء کی ځان په تشو بولو او لویو بولو کولو وویني نو دلیل یې دادی چې مال به جمع کوی اوکه وویني چې په لویو بولو کی یا دلویو بولو په کنده کی پریوتلی دی نو دلیل یې دادی چې په مال جمع کولو کی به ډوبیږی او که وویني چې پخپله دلویو بولو په کوهی کی پریوتلی دی نو دلیل یې دادی چې دچا مال به اخلی او که وویني چې دپریوتولو سره یې لاس او پښه مات سوی دی نو دلیل یې دادی چې په سخته بلا کی به ګرفتار کیږی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کی لوی بولی لیدل پر پنځه قسمه دی ۱: حرام مال ۲: ددنیا ژوند ۳: خزانه ۴: په حرامو شروع ۵: خدمت ګاره او حرام خوره ښځه.

آب دستان \ د کوزې او لوټې اوبه

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کی لوټه (کوزه) لیدونکی به خزانه دار اوخاوند دتدبیر وی او آمدنی او خرڅ به دده په لاس وی او که وویني چې پاچا ورته کوزه ورکړی ده نو دلیل یې دادی چې خزانچی او د پاچا مشیر به سی او که دی لوټه چا ته ورکوی نو بیاهم دغه قیاس دی. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کی کوزه خادم وی دالله تعالی فرمان دی (یطوف علیهم ولدان مخلدون باکواب واباریق، سورة الواقعة: ۱۷ – ۱۸) ترجمه: په جنت کی به پر هغوی خادمان په کوزو اوخاورینو لوټو سره طواف کوی. اوکه وویني چې دده کوزه ماته سوه یا ضائع سوه نو دلیل یې دادی چې دده ښځه به یا جلا کیږی او یا به مری. اوکه وویني چې دکوزی څخه اوبه چښی نو دده به زوی پیدا کیږی خصوصا چې اوبه پاکی او خوندناکی وویني. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کی دکوزی لیدل په پنځو وجهو وی. ۱: خادم ۲: خزانچی ۳: وزارت ۴: زوی ۵: ددا سی ځای څخه لږ روزی پیدا کول دکوم ځای څخه چې یې امید نه وی.

آبستی \ حمل

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك په خوب کی خپل نس دحاملی ښځی په ډول غټ

ووینی نوهغه ته به دنس دغټ والی په اندازه ددنیا مال او نعمت حاصل سی. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که نابالغ کوچنی په خوب کی خپل ځان حمل والا ووینی نوکه هلك وی نو د هغه پلار ته به نعمت او مال حاصل سی اوکه انجلی وی نو دهغی مورته به مال اونعمت ملاو سی.

آب کامه \ تروپ اوبه

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کی تروی اوبه لیدل دغم او ناجوړي دلیل دی او دهغی چنبل دناجوړی دلیل دی کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که تروپ اوبه را ایله ووینی او دهغو څخه یې چنبل نه وی کړی نو دلیل یې دادی چې دغمونو او تکلیفونو څخه به خلاصون پیدا کړی، اوکه ناجوړه وی نوشفا به پیدا کړی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کی تروی اوبه چنبل په پنځو وجهو وی ۱: ناجوړی ۲: غم ۳: جنګ ۴: حاجت ۵: دعیال سره جنګ کول.

آبګینه \ شیشه

دانیال علیہ السلام ویلی دی چې په خوب کی شیشه لیدل ښځه ده، اوکه ووینی چې په شیشه کی اوبه دی نو دلیل دی چې ښځه او مال به ورته ملاویږی اوکه ووینی چې په شیشه کی یې چاته شربت ورکړی دی نو دلیل دی چې دچا څخه به ورته ښځه ملاویږی. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك په خوب کی ووینی چې دده سره شیشه وه چې ایله سوه او ماته سوه که دده ښځه وی نوطلاق به ورکړی اوکه نه وی په خپلوانو کی به یې ښځه مری، او شیشه جوړولو والا پر منزله دمالك او بادار وی او بعض تعبیر بیانوونکی وایي چې په خوب کی شیشه جوړولو والا دښځو کار کوی او همیشه دښځو په ملګرتیا کی اوسی.

آبله \ تنباکه

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کی تنباکه لیدل د مال دزیات والی دلیل دی که څوك په خوب کی ووینی چې دهغه پر بدن تنباکه ده نو دلیل یې دادی چې دهغی په اندازه به ورته مال رسیږی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کی پر بدن تنباکه لیدل په پنځو وجهو سره وی. ۱: دمال زیاتوالی ۲: ښځه به ورته ملاویږی ۳: کوچنی به یې پیدا سی ۴: مراد به یې پوره سی ۵: که تنباکه سپینه وی نو دبیری څخه به ورته امن حاصل سی.

آبنوس (یو ډول لرګی)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کی دابنوس درخته لیدلو والا به پخپل کار کی سخت مضبوط وی لیکن مالداره او بخیل به وی او دهغه څخه به چا ته فائده نه رسیږی. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې ابنوس په خوب کی لیدل دهغه صفت ښځه وی کوم چې لوړ دسړی په بیان کی ویل سوی دی، جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې ابنوس په خوب کی لیدل تیر سوی تعبیر لری.

آتش \ اور

دانیال علیہ السلام ویلی دی که څوك په خوب کی بغیر دلرګی څخه اور ووینی نو دلیل یې دادی چې

Maktaba Tul Ishaat.com

پاچا ته به نزدی سی او دده بند کارونه به پوره سی او که ووینی چې دی چا په اور کی غورځولی او سوزلی دی نو دلیل دی چې پر ده به پاچا ظلم کوی لیکن ژر تر ژره به ځنی خلاصون پیدا کړی او خوشحالی او نیکی به پیدا کړی دالله تعالی فرمان دی (قلنا یا نار کونی بردا وسلاما علی ابراهیم، سورة الانبیاء: ٦٩) ترجمه: مونږ اور ته حکم وکی چې ای اوره! یخ سه پر ابراهیم علیه السلام په سلامتی سره. که په خوب کی ووینی چې اور دی سوزلی نه دی نو دلیل یې دادی چې په تکلیف سره به سفر کوی اوکه اور په لمبو سره ووینی نو دلیل دی چې په تبه به ناجوړه سی اوکه ووینی چې اور دده بدن سوزلی دی نو دلیل دی چې دسوزېدلو مطابق به ده ته غم اونقصان ورسوی او که ووینی چې دده په کور کی اور لګېدلی دی او دده ټول بدن یې سوزلی دی او لمبی وهی خو دده په زړه کی د اور څخه بیره نه ده راغلی نو دلیل یې دادی چې ده ته به دمحنت او مصیبتونو په وجه ناجوړی او کمزوری راځی لکه وبا، طاعون، تپاکی او سرخه وغیره او که ووینی چې اور یې نیولی دی نو دلیل یې دا دي چې دهغی برابر به ورته دپاچا څخه حرام مال رسیږی اوکه ووینی چې اور لوګی کوي نو دلیل یې دا دي چې ده ته به حرام مال په محنت او تکلیف سره رسیږی او ډیر جنګونه به ووینی اوکه ووینی چې ده ته داور څخه ګرمی اوتاو رسیدلی دی نو دلیل یې دا دي چې یو سړی به دده غیبت کوي. کرمانی رحمة الله علیه ویلی دی چې که څوك په خوب کی ووینی چې داور شغلی پر خلکو اچوی نو دلیل یې دا دي چې په خلکو کي به عداوت او دښمنی اچوی او که سوداګر په خوب کی ووینی چې دهغه په سامان او دکان اور لګیدلي دی نو دا ددی خبری دلیل دی چې دده سامان به بربادیږی او یا به دیو درهم شی په دری درهمه خرڅوی او پر چا به مهربانی نه کوي. اوکه ووینی چې دچا په کور کی اور لګیدلي دی نو دا ددي خبری دلیل دی چې دغه سړی به په جنګ فتنه اودپاچا په ظلم کی ګرفتاریږی اوکه په خوب کی ووینی چې اور دده کالی سوزلی دی نو دلیل یې دا دي چې دخپلوانو سره به جنګ کوي او دمال په وجه به غمناکه کیږی اوکه پر مځکه ډیر اور ووینی نو دلیل یې دا دی چې په هغه ځای کی به جنګ او فتنه وی اوکه یو سوزل سوی شی ووینی نو دلیل یې دا دي چې دښځو په وجه به دچا سره جنګ کوي اوکه ووینی چې په یو ښار یا محل یا سرای کی اور لګیدلي دی او ټوله شیان یې سوزلی دی او اور شغلی وهی او دبیری اواز کوي نو دلیل یې دا دي چې په هغه ځای کی به جنګ یا سخته ناجوړی راځي. اوکه ووینی چې اور یوڅه شیان سوزلی دی اویو څه یې پاته کړی دی او دبیری اوازونه کوي نو دا ددي خبری دلیل دی چې په هغه ځای کی به جنګ کیږی او که شغلی یې نه وی نو سخته به ناجوړه سی اوکه اور ددود سره ووینی نو دلیل دی چې په خپلو کارونو کی به بیره ویني او که ووینی چې اور د آسمان څخه را ایله دی او هغه ښار یا کلی یا سرای یې سوزلی دی نو دا ددي خبری دلیل دی چې په هغه ښار یاځای کی به بلا او فتنه راځي او که ووینی چې دبیری اواز وو او اور شغلی وهلی لیکن په کوم ځای کی چې راځي هلته شغلی نه وهی نو دا ددي خبری دلیل دی چې په هغه ځای کی به زبانی جنګ اوفساد

وی او که وويني چې دزمکی څخه بيريدونکی اور راووتی او دآسمان طرفته تللی دی نو دليل يي دا دي چې دهغه ځای خلک به دالله دخوښو خلکو سره په درواغو او بهتان سره جنګ کوي دهغه اور دطاقت مطابق اوکه وويني چې اور ډير زيات او ځای پر ځای لګيدلي دی ليکن چاته څه تکليف نه ورکوي نو دليل يي دا دي چې خوب ليدونکی ته به فائده حاصله سی او که فقير وی نو مالدار به سی. اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې که څوك په خوب کی وويني چې اور د آسمان څخه دباران په ډول اوريږی نو دليل يي دا دي چې په هغه ځای کی به دپاچاهانو دطرفه جنګ او مصيبت راځي او که وويني چې د آسمان څخه اور راغی او هغه دخوراك شيان وسوزل نو دليل يی دا دي چې دهغه عبادت الله تعالی قبول کړی دی دالله تعالی فرمان دی (بقربان تاكله النار، سورة آل عمران: ۱۸۳) ترجمه: قربانی چې هغه اور خوری. اوکه وويني چې د آسمان څخه اور راوريږی اوهيڅ شی هم نه سوزی نو دا دالله تعالی دبيری دليل دی دالله تعالی فرمان دی (عذاب النار التی كنتم بها تكذبون، سورة سبا: ٤٢) ترجمه: داور عذاب کوم چې تاسو درواغ ګڼلۀ. او ده ته به دباچا څخه بيره وی او که وويني چې ډير اور ته ناست دی او ګرميږی نو دا د دی دليل دی چې يونيك پاچا ته به نژدی کيږی اوکه وويني چې څه شی په اور پخوی نو دليل يي دا دی چې ددين او دنيا کار به يي پوره کيږی. اوکه وويني چې اور د آسمان څخه راکښته کيږی او دزمکی شين ګياه سوزی نو دليل يي دا دی چې پر دغه ملك به له طرفه دخدای ناڅاپه مرګ ډير راځي او که وويني چې ډير اور ګنبده يا مينار سوزلی دی نو دليل يي دا دي چې دهغه ځای پاچا به مری بعض تعبير بيانوونکی وايي چې که څوك وويني چې اور د مڅکی څخه راوتلی دی او روښانه سوی دی نودليل يي دا دي چې په هغه ځای کی به خزانه وی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك به خوب کی وويني چې د اور سکروټی خوری نو دا ددي خبری دليل دی چې دی ديتمانو مال خوری دالله تعالی فرمان دی (ان الذين ياكلون اموال اليتمى ظلما انما ياكلون فی بطونهم نارا وسيصلون سعيرا، سورة النساء: ۱۰) ترجمه: کوم خلک چې ديتمانو مال په ظلم خوری هغه خپلو نسو ته اور اچوی او ژر به دوی دوږخ ته ولاړ سی. او که څوك په خوب کی وويني چې دهغه دخولی څخه اور راوزی نو دا ددي خبری دليل دی چې دی درواغ خبری اود درواغو الزامونه لګوی اوکه وويني چې هر ځای اور بليږی نو دليل يي دا دي چې درعيت او پاچا په مينځ کی به دقاصد کار کوي او که وويني چې دده په ارخ کی اور بليږی او څه نقصان نه کوي نو دليل يي دا دي چې ده ته به نيکی رسيږی دالله تعالی فرمان دی (افرايتم النار التي تورون، سورة الواقعة: ۷۱) ترجمه: ايا تاسی هغه اور ليدلی دی کوم چې تاسو بلوی، او که وويني چې اور لرګی سوزی نودا دفتنی او جنګ دليل دی د الله تعالی فرمان دی (كلما اوقدوا نارا للحرب، سورة المائدة: ٦٤) ترجمه: کله چې هغوی دجنګ لپاره اور پورته کوي که په خوب کی وويني چې اور خلک سوزی

Maktaba Tul Ishaat.com

نو دلیل یې دا دي چې پر دښمنانو باندی به کامیابی حاصله کړی او که ووینی چې اور دی سوزی او په هغه کی رڼا نه وه نو دلیل یې دا دي چې د سرسام په مرض به اخته سی او که په هغی کی رڼا ووینې نو دلیل یې دا دي چې دهغه په خپلوانو یا زامنو کی به دچا زوی پیدا کیږی اوخلک به دهغه تعریف کوي او دهغه اور درنا برابر به ورته بزرګی او مال حاصل سی اوکه دجنګ په میدان کی اور ووینی نو دا دسختو ناجوړیو دلیل دی لکه تناکه، طاعون، سرسام او نابیره مرګ وغیره خدای مه کړه. اوکه اور ددود سره ووینی نو دا ددي خبری دلیل دی چې ده ته به دپاچا بیره وی او که په بازار کی اور ووینی نودا دبازار والاوو دبی دیني دلیل دی چې بازار والا په تجارت کی انصاف نه کوي یا په اخستل سوو شیانو کی درواغ وایي او که په ملك کی اور لګیدلي ووینی نو دلیل یې دا دي چې پر ده به مصیبت او بیره راسي اوکه په خوب کی ځان په اورکی ولاړ ووینې نودا ددی خبری دلیل دی چې ده ته به غم رسیږی.

آتش افروختن \ اور بلول

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کی داور بلول دپاچا دقوت دلیل دی اوبغیر ددوده داور لیدل درنا رونق زر ومال او سامان کوم چې دزړه دخواهش سبب وی دلیل دی، او د دود والا اور دپاچا په ظلم غم او تکلیف اوپه نقصان دلیل دی اوکه دګرمیدو لپاره اور بل کړی یا یو بل څوك ګرم سی نو دلیل یې دا دي چې دخه شی طلب به کوي اونفع به پیدا کوي اوکه ووینی چې بی فائدي یې اور بل کړی دی نو داد دی خبری دلیل دی چې بی وجی به جنګ کوي اوکه دخه شیانو کبابولو لپاره اور بل کړی نو دلیل یې دا دي چې دخلکو دغیبت لپاره به خه کار کوي ددی وجی څخه به دچا حال معلوم سی، اوکه هغه وریت سوی شی وخوری نو دلیل یې دا دي چې ددغه برابره روزی به په غم او فکر سره ورته ملاو سی اوکه ووینی چې دریګ څخه لاندی اور بلوی او په هغه کی غوښه یا یو بل شی وی نو دلیل یې دا دي چې داسی یو کار به کوي چې په هغه سره به دکور مالک ته څه فائده رسیږی او که په هغه دیګ کی دخوراک څه شی نه وي نودا ددي خبری دلیل دی چې په دغه کارسره به غم او فکر وی اوکه اور یې درنا لپاره بل کړی وی نودلیل یې دا دي چې کار به په حجت اودلیل سره کوي اوکه دحلوا جوړولو لپاره یې اور بل کړی وی نو دلیل یې دا دي چې ده ته به نیکه خبره وویل سی. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك ووینی چې دیو ځای دسوزلو لپاره یې اور بل کړی دی نو دلیل یې دا دي چې دهغه ځای دخلکو بدی اوغیبت به کوي او که اور یې بغیر داخلی پخلی په تنور نغری وغیره کی بل کړی نو دلیل یې دا دي چې هغه به دخپلو خپلوانو یا داهل بیتو سره جنګ کوي او که ووینی چې دخپلی فائدی لپاره اور بلول غواړی او اور بل سوی نه دی نو دلیل یې دا دي چې دخپل علم څخه به فائده اخلی او که پاچا وی نوعزت مرتبه او دولت به یې زیات سی او که ووینی چې اور بل سوی دی اوبیا مړ سوی دی نو دا دده دهلاکت کیدو دلیل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك په خوب کی ووینی چې په ځنګل کی یې اور بل کړی دی ددی وجی چې خلک ددی په رڼا کی خپلو ځایونو ته ولاړ سی نو دلیل یې دا دي چې دده دعلم څخه

به خلک فائده اخلی او پر سمه لار به ځی. اوکه ووینی چي اور کمزوری کیږی او دهغی رڼا کمیږی نو دلیل یي دا دي چي دخوب لیدونکی حالات به بدل سی او ددنیا څخه به سفر وکړی. که څوك په خوب کی ووینی چي په ځنګل کی یي اور بل کړی دی لیکن سم نه دی بل سوی نو دلیل یي دا دي چي خلک به دهغه دعلم په وجه ګمراه سی اوکه سوداګر په خوب کی ووینی چي هغه دیوځای دسوزلو لپاره اور بل کړی دی او اور هغه نه دی سوزلی نو دلیل یي دا دی چي په بی دینۍ سره به اخستل خرڅول کوي او دهغه مال به حرام وی او که ووینې چي دهمسایه دکور څخه اور اخلی نو دلیل یي دا دي چي ده ته به حرام مال ملاویږی.

اتش روشنایي \ داور رڼا

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي که څوك په خوب کی داور رڼا ووینی چي دهغه په رڼا کی پر لار تللی وی نو دا ددي خبری دلیل دی چي دولت او تقوی به پیدا کوي اوکه رڼا ولاړه ووینی نو دلیل یي دا دي چي دهغه ددولت ځای به هغه وی او که د اور سکروټی برېښېدونکی ووینی نو دلیل یي دا دي چي دهغه ملك دپاچا سپرلی به ښکاره سی. اوکه په خپل کور کی سکروټي ووینی چي دهغه رڼا کور روښانه کړی دی نو دلیل یي دا دي چي دهغه کار به پرترقی وی او دولت به یي زیات سی اوکه په خوب کی ووینی چي هغه سکروټه یي مړه کړی ده نو دا ددي خبری دلیل دی چي دهغه په کورکی به جنګ کیږی.

اتش پرستیدن \ داور عبادت کول

دانیال علیہ السلام ویلی دی چي که څوك په خوب کی ووینی چي اور ته سجده کوي نو دا ددي خبری دلیل دی چي ظالم پاچا ته به سجده کوي او دهغه په خدمت کی به مشغول سی اوهغه ته به په بدی کی صبر اوارام حاصل نه سی او که ووینی چي تنور یا اور یا چراغ ته سجده کوي نودلیل یي دا دي چي دښځو په خدمت کی به مشغول سی او که ووینی چي داور عبادت کوي او ښکلوی یي نودلیل یي دا دي چي دپاچا جاسوس به سی. که څوك په خوب کی ووینی چي په اور کی خوار ګرځی نو دلیل یي دا دي چي دپاچا دسوداګری خواهش به کوي لیکن انجام به یي ښه نه وی خاصکر که داور څخه یي بدن ته نقصان ورسیږی او که داور څخه یي بدن ته نقصان ونه رسیږی نو دلیل یي دا دي چي سلامتی او دزړه تسلی به دپاچا وخت نه پیدا کوي اوکه په خوب کی ووینی چي په اور کی دننه ولاړ دی نو دلیل یي دا دي چي دپاچا څخه به هغوندی فائدی اخلی. اوکه په خوب کی ووینی چي اور دده پر مخ یا جامو یا پر لاس رڼا غورځوی او خلک هغه رڼا ته حیران وی نودلیل یي دا دي چي پر دښمن به کامیابی او ددواړو جهانو مراد به ورته حاصل سی دالله تعالی فرمان دی (وادخل یدك فی جیبک تخرج بیضاء من غیر سوء، سورة طٰهٰ: ۲۲)

ترجمه: او خپل لاس په تخرګ کی دننه کړه سپین اوبی عیبه به راووزی. او دامعجزه دموسی علیہ السلام دفرعون په مقابله کی وه. اسماعیل بن اشعث رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کی ووینی چي داور عبادت کوي نو دلیل یی دا دي چي دپاچا ملازمت به کوي او که ووینی چي

Maktaba Tul Ishaat.com

اور دسکروټو په شکل کی دی نو دهغه غرض به په دین سره مال جمع کول وی او حرام مال به ورته ډیر حاصل سی.

اتشین شراره \ داور سکروټه

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي په خوب کی سکروټه لیدل ډیره خرابه خبره ده کومه چي به ده ته رسیږی او که داور سکروټي باندی ډیری را ایله سی نودلیل یي دا دي چي په محنت اوسخته بلا کی به ګرفتار سی کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي که څوک په خوب کی ووینی چي په ښار یا محله کی داور سکروټي را ایله سی نو دلیل یي دا دي چي په هغه ځای کی به جنګ او فتنه پورته کیږی او که داور سکروټی ډیری غټی غټی ووینی نو دلیل یي دا دي چي دالله تعالی عذاب به ده ته یا دغه ځای ته رسیږی دالله تعالی فرمان دی (انها ترمی بشرر کالقصر کانه جمالة صفر، سورة المرسلات: ۳۲–۳۳) ترجمه: بی شکه هغه اور غورزوی لمبی دا لوړ ځای برابر ګویا چي هغه زیږ اوښان دی. او که ووینی چي داور سکروټی پر خلکو را ایله سی نو دلیل یي دا دي چي په هغه ځای کی به جنګ کیږی اور غورزول او داور سره بازی کول ډیر ښکنځل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي که څوک ووینی چي په لاس کی یي داور سکروټه نیولی ده نو دلیل یي دا دي چي په پاچاهي کار کی به مشغول سی او که داور سره دود ووینی نو داپه کار کی دبیری دلیل دی. که څوک په خوب کی ووینی چي اور دهغه په لاس کی یخ سوی دی نو دلیل یي دا دي چي دپاچا په خدمت کی به ورته حرام مال حاصل سی او که ووینی چي دهغه اور څخه یوه ټکره نورو خلکو ته ورکوي نو دلیل یي دا دي چي دده دکار څخه به خلکو ته خفګان او نقصان وی او خلک به دده دښمنان سی اوکه په اور باندی دخوراك شیان نه پخوی او خوری یي نو دلیل یي دا دي چي دخلکو څخه به ښی ښی خبری واوری. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ علیه ویلی دی چي په خوب کی اور لیدل په پنځه ویشتو وجو دی: ۱: فتنه ۲: جنګ ۳: فساد ۴: بیره ۵: جنګ جدل ۶: خرابی خبری ۷: دکار څخه منع ۸: دپاچا غصه ۹: عذاب ۱۰: دښمنی ۱۱: بي دینی ۱۲: حکمت اوعلم ۱۳: دهدایت لار ۱۴: مصیبت ۱۵: ترس۱۶: سوزیدل ۱۷: دپاچا خدمت ۱۸: طاعون ۱۹: سرسام ۲۰: تناکه ۲۱: د کار فراخی ۲۲: فضیلت ۲۳: حرام مال ۲۴: روزی ۲۵. نفع.

اتش دان \ نغری \ انګیټی

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي په خوب کی انګیټی ښځه ده چي دکور خدمت کوي که انګیټی داوسپنی وی نودلیل یي دا دي چي هغه ښځه دخپلوانو څخه ده او که دلرګی وی نو دلیل یي دا دي چي هغه ښځه منافقه ده او که انګیټی دخاورو وی نو دلیل یي دا دي چي هغه ښځه دتکبر کوونکو اومشرکانو څخه ده. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي په خوب کی انګیټی لیدل په دوو وجو ده ۱: خادمه ښځه ۲: منځه.

اتش زنه \ بکرۍ

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې بکرۍ او دانګیتی کانې دواړه یو شی دی یو پکښې قوی او زړه ور دی او دوهم سخت زړی دی دا دواړه خلکو ته ترقی او غټ کارونو راوړی. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې که څوك ووینی چې دبکرۍ څخه یې اور را ایستلی دی او په هغه یې ډیوه بله کړی ده که خوب لیدونکی پاچا وی نو دلیل یې دادی چې رعیت به دهغه دعدل او انصاف څخه ارام پیداکوي او که خوب لیدونکی عالم وی نودلیل یې دا دي چې خلکو ته به دهغه څخه خیر بخشش او احسان ورسوی او که فقیر وی نو خلک به دهغه دخوی او کردار څخه فائده پورته کړی. جعفر صادق رضی اللہ عنہ ویلی دی چې که څوك ووینی چې دبکرۍ څخه یې اور را ایستلی دی نو دلیل یې دا دي چې دپاچا لپاره به حرام مال جمع کړی یا به دهغه په کار کی رشوت اخلی اوکه دبکرۍ دکانې څخه یې اور نه وی بل کړی نو دلیل یې دا دي چې دمال طلب به کوي خو نه به ورته رسیږی.

اتش کده \ د اتش پرستو عبادت خانه

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کی اتش کده لیدل خراب ځای دی کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې اتش کده کم عقل خلق اوخالی ځای دی اوکه څوك په خوب کی ووینی چې اتش کدي ته تللي دی او هلته یې څه موندلی دی نودلیل یې دا دي چې دهغه برابر ذلت اوخواری به وینې لیکن دبدی څخه به خلاصون پیداکوي او دانجام څخه به یې پښیمانه وی.

اردګون \ د اوړو په رنګ ګل

اردګون یو ګل دی او دا په خوب کی لیدل دغم او ناجوړی دلیل دی.

ارد \ اوړه

اوړه په خوب کی لیدل دمال اوحلال نعمت دلیل دی چې بغیر دتکلیف څخه به حاصل سی دانیال علیہ السلام ویلی دی چې که څوك ووینی چې اوړه دواوری په ډول را اوریږی نودا ددی خبری دلیل دی چې خوب لیدونکی ته به دهغه هومره مال او حلال نعمت حاصل سي دکوم ځای څخه چې یې امید نه وی. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې دوربشو داوړو تعبیر ددین ددرستی دلیل دی او دغنمو داوړو تعبیر مال اودولت دی چې دتجارت څخه به حاصل سی اوډیره فائده به یې وسی اودباجری اوړه دلږ مال دلیل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کی خپل ځان داوړو خرڅوونکی لیدل خپل دین ددنیا په بدله کی دخرڅولو دلیل دی.

ارد پیز \ د اوړو غلبیل

کرماني رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې داوړو چانولو غلبیل په خوب کی لیدل داسی سړی دی چې پخپلو اندیوالانو او خپلوانو کی ګرځی، ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کی داوړو چانولو غلبیل یوه فضوله ښځه یایو خراب خادم وی. که یوغټ داوړو چانولو غلبیل یې واخستی یا ورته چا ورکړی نو دلیل یې دا دی چې یو ښځه یا خادم لکه څنګه چې مونږ بیان کړ دهغه به دوست وی. بعض تعبیر بیانوونکي وایي چې نیك سړی دی چې دده په خدمت کی به مقیم

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږی او دوست کیږی به یي، جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي داوړو چانولو غلبیل په خوب لیدل په څلورو وجو دی ۱: نیك سړی ۲: فضوله ښځه ۳: خادم ۴: لږه نفع.

اروغ \ اړمی کول

کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي که څوک په خوب کی اړمی کول ووینی نو دلیل یي دا دي چي داسی خبره به کوي چي په هغه سره به ورته ملامتي حاصله سی اوکه ووینی چي دا ړمی سره یي دمړئ څخه ډوډی راوتلی ده نو دلیل یي دا دي چي دده مرګ نزدی دی. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي که څوك په خوب کی، ووینی چي تروه اړمی یي وکړه اوخوب ورغلی نودلیل یي دا دي چي داسی خبره به کوي چي نقصان اوخطره به ووینی اوکه اړمی ددود په ډول ووینی نو دلیل یي دا دي چي بی وخته خبره به کوي اوپه هغه به یي خلک ملامتوي او دهغه عیب انجام به پښیمانی وی.

ازاد شدن \ ازادیدل

دانیال علیہ السلام ویلی دی چي څوك په خوب کی ووینی چي ازاد سو یا چا ازاد کړی نو دلیل یي دا دي چي که نا جوړه سو نوشفا به پیداکړی که قرضداره وی نو دقرض څخه به خلاص سی او که حج یي نه وی کړی نو حج به وکړی که غلام وی نو ازاد به سی که ګنهګاره وی نو توبه به وکاړی که غمګین وی نو خوشحاله به سی اودغم څخه به خلاصون پیداکړی که قید وی نو ازاد به سی غرض داچي ازادی په خوب کی لیدل ډیر ښه وی.

آس تانه \ درشل، چار چوب

کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي په خوب کی لوړ درشل دکور مالك دی اولاندنی درشل دکور مالکه ده که څوك په خوب کی ووینی چي لوړ درشل را ایله سو اوخراب سو نو دلیل یي دا دي چي دکور مالك به مری اوکه کور والا ووینی چي لاندنی درشل را ایله سوی دی یا سوزلی دی نو دلیل یي دا دي چي دکور والا بی بی به مری. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي دکور مالك په خوب کی ووینی چي لاندنی درشل یا لوړ یي نوی بدل کړی دی نو دلیل یي دا دي چي ښځی ته به طلاق ورکړی اوبله ښځه به وکړی اوکه لوړ درشل یي مچ کړی نو دلیل یي دا دي چي ځان به هلاک کړی او که ووینی چي لوړ او لاندنی دواړه درشلی یي را ایستلی دی نو دلیل یي دا دي چي دکور مالك او دواړه به مری.

آسمان

دانیال علیہ السلام ویلی دی چي څوك په خوب کی خپل ځان په اول آسمان کی ووینی نو دلیل یي دا دي چي دهغه مرګ نزدی سویدی او که په دوهم آسمان کي یي ووینی نودلیل یي دا دي چي علم او عقل به حاصل کړی او که په دریم آسمان کی ووینی نو دلیل یي دا دي چي په دنیا کي به عزت اومر تبه پیداکړی اوکه په څلورم آسمان کی خپل ځان ووینی نو دلیل یي دا دي چي دپاچا مقرب او دوست به سی او که خپل ځان په پنځم آسمان کی ووینی نو هیبت او بیره به

پيداکړی که ځان په شپږم آسمان کی ووينی نو دليل يي دا دي چي روزي، دولت او نيکي به پيدا کړی، اوکه خپل ځان په اول آسمان کی ووينی او دروازي بندي پيدا کړي نو دليل يي دا دي چي دهغه کارونه به ديو بزرګ سړی په وجه بند سي او که ووينی چي آسمان ته يي نظر نه دی کړي او سر يي کښته کړی دی نو دليل يي دا دي چي ديو بزرګ سړی ددیدار څخه به جلا سی او که ووينی چي فرشتي د آسمان څخه راکښته کيږي او دده پر خوا تيريږی نو دليل يي دا دي چي پر ده به دعلم او حکمت دروازي خلاصيږي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي که څوک خپل ځان په آسمان کی ووينی نو دليل يي دا دي چي سفر به کوي او په هغه کی به ورته ددنيا عزت حاصل سي او که ووينی چي د آسمان او دزمکی په مينځ کي الوزی نو دليل يي دا دي چي دنعمت اوبرکت سره به سفر کوي اوکه څوک ووينی چي سيده الوځی او روان دی چي آسمان ته ورسيږي نودليل يي دا دي چي نقصان اوغم به ووينی. که څوک ووينی چي آسمان ته پدي نيت تللي وی چي بيا به مځکي ته نه راځي نودليل يي دا دي چي بزرګي او پاچاهي به ورته حاصله سي اوغټ کار به کوي اوکه څوک ووينی چي د آسمان څخه داذان اواز اوري نو دا دخير اوسلامتی دليل دی اوکه څوک ووينی چي د آسمان څخه يوه مرغی دده سره خبري کوي نو دا ددي دليل دی چي دي به خوشحالي پيداکړی. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوک په خوب کي ووينی چي په آسمان کي عمارت جوړوي لکه څنګه چي پر مځکه جوړوي نو دليل يي دادي چي دهغه مرګ نزدي دی او که ووينی چي ددنيا دبنيادونو په ډول دخښتو اوخاورو څخه په آسمان کی عمارت جوړوي نو دليل يي دا دي چي خوب ليدونکي به په دنيا کي مغرور وي او که ووينی چي ګبين د آسمان څخه دباران په ډول وريږی نودليل يي دا دي چي خلکو ته به خير اوبرکت اومال دولت حاصل سي او که ووينی چي د آسمان څخه شګي يا خاوري اوريږي نوکه لږ اوريدلی وی نونيکي ده او که ډيري وي نوبدي ده. که څوک ووينی چي د آسمان څخه لړمان ماران يا کانې اوريږي نو دا ددي خبري دليل دی چي پر دغه ملک به دالله تعالی عذاب نازل سی اوکه ووينی چي ځان يي په آسمان پوري ځړولي دی نو دليل يي دا دي چي مرتبه به يي لوړه سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي که خوب ووينی چي اووم آسمان ته تللی دی داسی ځاي چيري چي ګمان هم نه سی تللی او کښته بيا ندي راغلي نو دا ددي خبري دليل دی چي دهغه مرګ نزدي دی اوانجام يي ښه دی او که خوب ليدونکی نيک وي او ووينی چي کښته را تاسوي دي نو دليل يي دادي چي ددين په لار کي به پرهيزګاره سي اوکه خوب ليدونکي نيک او پرهيز ګاره نه وي نودليل يي دا دي چي دګناهونو څخه به توبه وکاږي يا به هلاک کيږي. که څوک ووينی چي د آسمان څخه مځکی ته راغلي دی نودليل يي دادي چي په غم او ناجوړي سره به هلاکت ته ورسيږي اوبيابه صحت او شفا پيداکړي. که څوک ووينی چي د آسمان او دزمکي په مينځ کي بنياد دقبي يا دمحل په ډول دی او دکانو يا دخښتو څخه دی نو دا ددي خبري دليل دي چي خوب ليدونکی په علم او عمل کي مغرور وي اوکه ووينی چي د آسمان دروازي خلاصي دي نو دليل يي دادي چي په دغه کال به دعا قبليږي او ډير باران به وسي او اوبه به

Maktaba Tul Ishaat.com

زياتي سي دالله تعالى فرمان دي (ففتحنا ابواب السما بما منهمر وفجرنا الارض عيونا فالتقى الماء على امر قد قدر، سورة القمر: ۱۱ –۱۲) ترجمه: مونږ د آسمان دروازي دپرلپسي باران لپاره خلاصي کړيدي او دزمکي چينې مو خلاصي کړيدي نو داندازي مطابق اوبه جمع سوي. که څوك ووينې چې د آسمان يوه دروازه دده لپاره يا دملك دخلکو لپاره خلاصه ده نو دادخلکو پرخير اونعمت دليل دي خاصکر دده په دوستانو کي به دنيکي اثر ظاهر سي او که څوك په خوب کي ووينې چې د آسمان څخه راپورته سوی دی نو دا دالله تعالى دغصي دليل دی. امام جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوک په خوب کي آسمان شين ووينې نو دليل يې دا دي چې په دغه ملك کی به نيکي ښه والي او امن وی او که سپين يې ووينې نو دليل يې دا دي چې په دغه ځاي کي به تکليفونه او ناجوړی وي او که آسمان سور ووينې نو دليل يې دادي چې په دغه ملک کي به جنګ او خونريزي کيږي. اوکه ووينې چې آسمان تور دی نو دا ددي خبري دليل دی چې په دغه ملک کی به لوي فساد پيدا سی او که آسمان دمعمول څخه زيات روښانه ووينې نو دليل يې دا دي چې ده ته به په دين کي رښا حاصله سي. که څوك ووينې چې دده پر برابر د آسمان دروازي خلاصي سوي نو دليل يې دا دي چې پر ده به دخير او روزي دروازه خلاصه سي او عالم اوحکيم به سي او دده څخه به ډيرو خلکو ته روزي ورسيږي او که په آسمان کي سري نخښې دستنو په ډول ووينې نو دليل يې دادي چې دهغه ځاي نيکو خلکو ته به نصرت حاصل سي او که ووينې چې د آسمان عبادت کوي نو دليل يې دا دي چې بې دينه اوګمراه به سی. اسماعيل اشعث رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك ووينې چې د آسمان څخه کانې دباران په شکل را وريږي نو دا ددي خبري دليل دی چې په دغه ځاي کي په سخت عذاب راځي دالله تعالى فرمان دي (وامطرنا عليهم حجارة من سجيل، سورة الحجر: ٧٤) ترجمه: او مونږ په هغوی باندي دپخي خاوري کانې وورول او که څوك ووينې چې د آسمان څخه غنم او وربشي وريږي نو دا ددي خبري دليل دي چې په دغه ملك کي به رنګا رنګ بې اندازي نعمت امن اومعاش خلکوته حاصل سي.

آستانه \ چوکاټ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که يو سړي په خوب کي ووينې چې دهغه دکور چوکاټ لوړ سوی دي نو داددي خبري دليل دي چې دهغه په اندازه مال نعمت اودمرتبی بزرګي به پيداکي. اوکه څوک ووينې چې دهغه دکور دچوکاټ را ايله سويدی نو دليل يې دا دي چې هغه به دخپل مرتبي څخه را ايله کيږي او په خلکو کی به ذليله سی او که ووينې چې دده دکور چوکاټ دباران په ډول پاکي اوبه غورځوي نودليل يې دادي چې دهغه په اندازه مال اونعمت به پيدا کړي او که ووينې چې دده دکور دچوکاټ څخه لړمان او ماران غورزيږي نو دليل يې دادي چې دپاچا يا حاکم څخه به ورته تکليف رسيږي. کرماني رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوک ووينې چې دکور چوکاټ پرده را ايله دی اوپخپله دهغی څخه لاندي اخښلي دی نو دا دده دهلاکت دبيري

دليل دي دالله تعالى فرمان دي (فخر عليهم السقف من فوقهم، سورة النحل: ٢٦) ترجمه: پر هغوى دلوړه څخه بام را ايله سو اوكه ووينې چې دهغه دكور چوكاټ په ډيرو رنګونو نقشدار دى نو دا ددي خبري دليل دى چې په زينت او ښه ډول به په دنيا كى ژوند تيروي.

آسيا \ ژرنده

دانيال عليه السلام ويلي دى چې كه څوك په خوب كې ووينې چې په ژرنده غنم اوړه كوي نو ددي دليل دا دي چې دژرندي د مالك څخه به ورته ډيره فائده رسيږي اوكه په خوب كې ووينې چې دژرندي كانې مات سوي اوبې كاره سويدى نو ددى خبري دليل دادي چې دژرندي مالك به مري، اوكه ووينى چې دژرندي په كانې كى چاك پيدا سوي دي او په هغه كى خلل ظاهر سوي دي نو ددي دليل دادي چې دژرندي دمالك په عيش كى به خلل پيدا سي او كه ووينى چې دژرندي كانې چا پټ كړي دى نو دليل يې دادي چې دژرندي مالك ته به نقصان رسيږي. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چې ژرنده په خوب كى ليدل دجنګ اوفساد دليل دى چې دهغه به دچا سره جنګ كيږي او كه ووينې چې ژرنده دده ملكيت دى نو كار به يې سم سي او كه په ژرنده كى غله نسته او وګوري چې څنګه ګرځي نو ددي خبري دليل دا دي چې په سفر به ځي او كه ووينې چې دژرندي كانې دتانبى يا دپيتلو يا داوسپني دى نو داټول دجنګ دليل دى او كه ووينې چې كانې دشيشي دى نو دليل يې دا دي چې دهغه به دښځو سره جنګ كيږى او كه ووينې چې ژرنده دغلي په ځاي كانې يا اوسپنه اوړه كوي نو دليل يې دا دي چې دده سره به دچا جنګ كيږي ليكن كه ووينې چې ژرنده پخپل لاس ګرځوي نو دليل يې دا دي چې دده شريك به سخت زړى وي او دهغه په وجه به يې په كار كى ګټه نه وي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دى چې دژرندي په خوب كى ليدل په پنځو وجو دي ١: پاچا ٢: رئيس ٣ مالدار ۴: ژر يا وروسته به مرى ۵ دپاچا داشپزخاني مهتمم به وي، او د ژرندي ځاي ليدل دځاي مالداره اوبزرګ كيدل دى اوكه ژرنده خرابه ګرزيدونكى ووينې نو دليل يې دا دي چې كوم شي په ژرنده كى وي هغه به خراب سى.

آسيابان \ ژرنده ګړي \ آسيوان

ژرنده ګړي په خوب كى هغه سړي وي دچا په ذريعه چې دكور خلكو ته روزى حاصليږى او روزى ګټى ددى وجى څخه چې دكور خلك ژوند باندى تير كړى. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چې دژرنده ګړي په خوب كى ليدل دداسى سړي ليدل دي دچا په لاس كې چې روزي وي كه ژرنده ګړي ځوان وي نو تعبير يې نيك دى اوكه په خوب كې ووينې چې ژرنده دخر يا اوښ اوړه را غورزوي نو دليل يې دا دي چې ژرنده ګړي ته به دولت اومرتبه حاصله سى اوكه دژرندي دګرځيدو په وخت كى ژرنده ګړي دژرندي دكانې اواز اوري نو ددي دليل دا دي چې دهغه په كار كى به قوت وي.

اشتى كردن \ صلح كول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چې څوك په خوب كى ووينې چې صلح كوي نو دليل يې دا دي چې

Maktaba Tul Ishaat.com

دهغه عمر به زيات سی او که ووينی چې په صلح کی چاته ددين دفساد دعوت ورکوي نو دليل يې دا دي چې هغه ته ددين دلاري اودصلاح او خير دعوت ورکوي او که ووينی چې چاته په غصه سره ددين صلاح ورکوي نو دليل يې دادي چې هغه ته دفساد او شر صلاح ورکوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کي صلح کول په درو وجو دی ۱: ډير عمر ۲: دقوت دليل دی ۳: ښه عقيده او ښه خوی دی.

اغوش کرفتن \ په غيږ کي نيول

کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك په خوب کی ووينی چې هغه يو مشهور سړی په غيږ کی نيولي دی نو ددي دليل دا دي چې هغه سړی به نيك اوصالح وی او ددين خير به پيدا کړی او که ووينی چې ماشوم يې په غيږ کي نيولي دی نو دليل يې دا دي چې دي دښه زوي خواهشمند دی او که ووينی چې زمري يې په غيږ کي نيولي دی نودليل يې دادي چې ددښمن سره به صلح کوي.

افتاب \ لمر

دانيال عليه السلام ويلي دی چې په خوب کي لمر پاچا يا خليفه بزرګوار وي که څوك په خوب کي ووينی چې د آسمان څخه يې لمر نيولي دی يا يې پخپل ملکيت کی کړيدی نو دليل يې دا دي چې پاچاهی يا بزرګي به پيدا کړي، او يا به دپاچا انډيوال اومقرب سي، اوکه ووينی چې پخپله لمر سوي دی نودليل يې دا دي چې دلمر په اندازه به پاچا سي او که دپاچاهي اهل نه وي نو دخپل همت برابر بزرګي او مرتبه به پيدا کړي، اوکه ووينی چې دلمر سره جنګ کوي نو دليل يې دا دي چې پاچا به ورسره جنګ کوي، اوکه ووينی چې دلمر په ځای سپورمی ولاړه ده نو دليل يې دا دي چې پاچا به سي او پاچاهي به يې برقراره وي او که ووينی چې دلمر څخه رڼا اخلي نو دليل يې دا دي چې دلوي پاچا څخه به ملک اخلي اوکه ووينی چې لمر يې نيولي دی ليکن د آسمان څخه او دهغه شغلي او رڼا هم نسته او توره تياره ده نو دغم څخه به خلاصون پيدا کړي اوکه ووينی چې لمر تک تور دی اوپخپل ځای نه دی نو دليل يې دا دي چې پاچا به پخپلو کارونو کي محتاج سي. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کي لمر بزرګوار پاچا وي اوسپورمي وزير، اوزهره ښځه او عطارد دپاچا منشي اومريخ شاهي پهلوان اوباقي ستوري د پاچا لښکر وي. جابر مغربي رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کي لمر پلار سپورمی مور اوپاته ستوري ورونه دي الله تعالی په خپل کلام کی ديوسف په قصه کي بيان فرمايلي دی (اني رايت احد عشر کوکبا والشمس والقمر رايتهم لي ساجدين، سورة يوسف: ٤) ترجمه: ما په خوب کی يوولس ستوري وليدل او لمر او سپورمی مي وليدل چې ماته يې سجده کوله اوچې څه زيات يا کم په لمر سپورمی يا ستورو کی ووينی نو داپر مور اوپلار او پر ورونو دليل دي او که ووينی چې لمر روښانه او پاك راختلي دی او دده په کور کی يې رڼا کړيده نودليل يې دادي چې په خپلوانو کي به ښځه کوي، او که ووينی چې وريځ او داسی نور دلمر رڼا پټه کړي ده نو دليل يې دادي

چې دپاچا حال به خطرناك وي او دهغه احوال خاصكر كله چې لمر روښانه وويني بدل به سي، اوكه وويني چې لمر دتياري څخه رڼا ته راغلی دی نو دليل يې دادي چې پاچا به ناجوړه سي او ژر به صحت پيدا كړي. اوكه وويني چې دلمر په جسم پوري رسی يا تار رازړيږي اوده لاس باندي ايښې دي نو دليل يې دادي چې ده ته به دپاچا څخه مدد او قوت حاصل سي اوكه وويني چې هغه رسی پرې ده اودي را ايله دی نودليل يې دادي چې دبزرګی اومرتبې څخه به خلاص سي. اوكه وويني چې ده لمر يا سپوږمی پر سجده كړي ده نو دليل يې دادي چې دده څخه به ګناهونه او خطاګانی بښكاره سی اوكه وويني چې لمر يا سپوږمی يا ټول ستوري يو ځاي جمع سوي دي او دي دهغه څخه رڼا اخلي نو دليل يې دادي چې دجهان پاچاهي به حاصله كړي او دجهان ټول پاچاهان به دده فرمانبردار وي. او كه وويني چې لمر سپوږمی او ستوري يې نيولي دي او ټول تور دي نو دا ددي خبري دليل دی چې خوب ليدونكي به هلاك سي او خاصكر چې دي ظالم او ستمګر هم وي. كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې كه څوك وويني چې دلمر په مينځ كي توره نقطه ده نو دليل يې دا دي چې دپاچا زړه به په ملك كی مشغول سي او كه وويني چې دوه لمرونه جنګيږي نودليل يې دادي چې دوه پاچاهان به ديوبل سره جنګ كوي اوكه لمر پرمځكه را ايله سي بی رڼائي وويني نو دليل يې دا دي چې دهغه ملك پاچا به دپاچاهی څخه معزول سي او ملك به ځني ولاړ سي. او كه لمر پخپل لاس كی تور وويني نو دليل يې دا دي چې پاچا اوخوب ليدونكی دواړه به په غم كی مبتلا سي، اوكه وويني چې لمر په يو سايه كی ورك سوی دی نو دليل يې دا دي چې پاچا به مړ سي اوپر عامو خلكو باندی به غم او خفګان وي، او كه وويني چې لمر او ستوري څه شي پټ كړی دی نو دليل يې دا دي چې پاچا به دلښكر سره ددښمنانو څخه ماته وخوري، اوكه وويني چې دلمر عبادت كوي نو دليل يې دا دي چې ديو لوی پاچا مقرب به سي. اسماعيل رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې كه څوك په خوب كی وويني چې دهغه مخ دلمر طرفته دی او بيايې دلمر څخه مخ اړولی دی نو دليل يې دا دي چې اول كافر وو بيا مسلمان سو او په اخر كی به بيا كافر سي، اوكه په خوب كی وويني چې لمر يې بيا ليدلی دی نو دليل يې دا دي چې دهغه ملك پاچا به ديو نا اميده شي څخه غم پيدا كوي اوكه لمر دځان سره په خبرو كولو وويني نو دليل يې دا دي چې دپاچا څخه به مرتبه، دبدبه اوبزرګي پيدا كوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دلمر دليدلو تدبير په اتو وجو دی. ۱: خليفه ۲: عزتمند پاچا ۳: مشر ۴: عزتمند حاكم ۵: عادل پاچا ۶: درعيت فائده ۷: دسړي لپاره ښځه دښځي لپاره سړي ۸: نيك او صفا كار. او دا هم دوی ويلي دی چې كه څوك وويني چې دی لمر ته سجده كوي نو دليل يې دا دي چې پاچا به پرده مهرباني كوي او خپل انډيوال به يې جوړوي، مرتبه به يې لويه وي دملك رئيس او مالداران به عدل كوي، او صرف دلمر شغلي ليدل ددي خلاف حكم لري.

افتابه \ كوزه

ابن سيرين رحمة الله علمه ويلي دی چې په خوب كی كوزه خادمه ښځه يا مينځه ده دكومي پر

Maktaba Tul Ishaat.com

ذمه چې ډيوه بلول وي. بعض تعبير بيانوونکي وايي چې کوزه قوي خادم دی چې قوم دهغه طاعت کوي او دګناه څخه ځان ساتي اوکه څوك وويني چې دهغه سره نوي کوزه ده يا ورته چا ورکړيده نو دليل يې دا دي چې هغه ته به خادمه يامينځه حاصله سي دهغه صفت کوم چې بيان سو، او که وويني چې کوزه ماته سوي ده نو دليل يې دا دي چې خادمه يا مينځه به يې ناجوړه سي يا به مړه سي او که وويني چې کوزه ضائع سوي ده نو دليل يې دا دي چې خادمه يا مينځه به يې وتښتي يا به جلا سی، جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې دکوزې ليدل په نهو وجو دي. ۱: ښځه ۲: خادم ۳: مينځه ۴: انصاف ۵: بدن ۶: ډير عمر ۷: مال او نعمت ۸: خير او برکت ۹: دښځو دطرف څخه راحت او خوشحالي.

الج \ يوه ميوه يا واښه

الج چې په عربی کې زعر ورته وايي که څوك په خوب کې وويني چې الج خوري نو دا دتکليف او ناجوړی دليل دي کرماني رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك وويني چې دهغه سره الج دی يا يې چا ته ورکړي دی يا يې دکور څخه دباندي غورزولي دی اوخورلي يی نه دی نو ددي دليل دا دی چې دغم او ناجوړی څخه به په امن وي، غرض دا چې په خوب کې دالج خورل خير اوفائده نه ورکوي.

اماس \ پرسيدل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلی دی چې په خوب کې پرسيدل مال دی او که وويني چې پربدن يې پرسوب ښکاره سوي دي نو دليل يې دا دي چې دهغه برابر مال به ورته حاصل سي که په پرسوب کې ډير نَو هم وويني. کرماني رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك په خوب کې وويني چې پر بدن يې پرسوب دی او ورته تکليف نه وي نو دليل يې دا دي چې حرام مال به ورته حاصل سي جعفر صادق (رح) ويلي دی چې په خوب کې پر بدن پرسوب ليدل په پنځو وجو دی: ۱: مال به يې زيات سي۲: فائده منده ښځه ۳: هلک به يې کيږي ۴: مراد به يې پوره سي ۵: دغمونو څخه به په امان سي او که ټول بدن پرسيدلی وويني نوهغه ته به داپنځه سره شيان حاصل سي.

اهک \ چونه

دانيال عليه السلام ويلی دی چې که څوك په خوب کی وويني چې په چونی سره يې دبدن څخه وريښته خريلی دی که مالدار نه وي نو دهغه هومره مال به يې وسي که غمګين وي نو دغم څخه به خلاصون پيدا کړي، که قرض داره وي نو قرض به ادا کړي. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې په چوني سره وريښته ليري کول که مالدار وي نو مال به يې نور هم ډير زيات سي که فقير وي نو قرض به ادا کړي او دکافر انو لپاره داسلام نښه ده. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې چونه په درو وجو ده ۱: خير دی ۲: خرابي اوناخوښي خبري دی ۳: مشکل کار، او دچوني عمارت وغيره جوړول خراب تعبير لري.

اهن \ اوسپنه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې دمعمولي اوسپني په خوب کې ليدل خادم دی ورنه په قدر د

اوسپني به ورته دنياوي مال حاصل سي، اوكه ووينې چې چا ورته په خوب كې اوسپنه وركړي ده نو دليل يې دا دي چې دهغې اوسپني هومره به ورته څوك دنياوي مال وركړي. كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې په خوب كې د اوسپني ليدل دصلاحيت او پاچا سره نسبت لري الله تعالى په قران كې ارشاد فرمايلي دى (وانزلنا الحديد فيه بأس شديد ومنافع للناس، سورة الحديد: ۲۵) ترجمه: موږ اوسپنه پيدا كړيده پدې كې سخت جنګ او دخلكو لپاره فائده ده او كه ووينې چې اوسپنه يې دكانې څخه ايستلې ده نو دليل يې دا دي چې هغه ته به سختي راځي دالله تعالى فرمان دى (قل كونوا حجارة او حديدا او خلقا مما يكبر فى صدوركم، سورة الاسراء: ۵۰ – ۵۱) ترجمه: ووايه چې تاسو كانې يا اوسپنه سي يا ددي څخه هم زيات داسې مخلوق كوم چې ستاسو په خيال كې راځي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې كه څوك په خوب كې ووينې چې اهنګري كوي حالانكه هغه اهنګر نه وي نو ددي خبري دليل دادي چې دچا سره به جنګ كوي او كه دي پخپله اهنګر وي نو بيا داخوب دخير او نفعې دليل دى او بعض تعبير كوونكي وايي چې داهنګر تعبير پاچا او بزرګ دى كوم چې عادل او انصاف كوونكى وي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې داهنګر په خوب كې ليدل دكوم سره چې يې پيژندګلوى وي دپاچاهي دليل دى اوكه پيژندګلوى والا ونه ووينې نو چې څه يې ليدلي وي دهغې نيك اوبد تعبير به داهنګر طرفته بيرته كيږي اوكه په خوب كې ووينې چې اوسپنه يا پيتل ويلي كوي نو دليل يې دادي چې دغه سړي دخلكو غيبت كوي او بد به يې وايي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې څه شيان په خوب كې داوسپني ووينى كه څه هم ستن وي نو دليل يې نفع، قوت، ولايت همت او پر دښمن دبري پيدا كول دى.

اهو \ هوسۍ

كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې كه څوك په خوب كې ووينې چې هوسۍ يې نيولې ده نو دليل يې دا دي چې ښائسته منځه به حاصله كړي. كه ده ليدلي وي چې دهوسۍ مري يې پري كړيده نو دليل يې دا دي چې دپيغلې انجلۍ پيغلتوب به ماته وي او كه ووينې چې دهوسۍ دشا څخه يې مرى پري كړيده نو دليل يې دادي چې دمنځي سره به خلاف شرع جماع كوي او كه ووينې چې دهوسۍ څخه يې پوست ايستلى دى نو دليل يې دا دي چې دغريبې ښځي سره به زنا كوي، اوكه ووينې چې دهوسۍ پوست يې خوړلى دى نو دليل يې دا دي چې ده ته به ښائسته ښځه ملاو سي او كه ووينى چې دهوسۍ پوست يا غوښه او يا وازګه يې خوړلى ده يا دده وخواته بيرته راغلې ده نو دليل يې دا دي چې ده ته به مالداره ښځه ملاو سي، او كه ووينې چې ده هوسۍ وهلې ده نودليل يې دا دي چې دښځي دطرف څخه به غمګين سي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې كه څوك په خوب كى ووينې چې په هوسۍ پسې ولاړې او هغه يې را وپرزوله نو دليل يې دادي چې ځوانه ښځه يا مينځه به حاصله كړي او كه ووينې چې هوسۍ يې دښكار په وخت كې را غورزولې ده نو دليل يې دا دي چې دغنيمت مال به حاصل كړي او كه ووينې چې هوسۍ په كور كې مړه سويده نو دليل يې دا دي چې دښځي دطرف څخه به ورته غم او تكليف

Maktaba Tul Ishaat.com

ورسيږي او که ووينې چې هوسۍ يې په کانو يا په غشو ويشتلي ده نو دليل يې دا دي چې نالائقه خبره به يوې ښځې ته کوي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې په لاسو يې هوسی نيولي ده يا چا ورکړيده نو ددې خبرې دليل دا دي چې ده ته به دمنځې څخه زوي حاصل سي. جعفر صادق ويلي دی چې هوسی ليدل په څلورو وجو وي ۱: ښځه ۲ : مينځه ۳: زوي ۴: دښځو څخه فائده حاصلول.

اواز

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که دسړي اواز په خوب کې لوړ وي نودليل يې دا دي چې په خلکو کې به عزت پيدا کړي او که څوک ووينې چې دده اواز لوړ سوي وو نو دا دده دقدر دلوړوالي دليل دی چې دده نوم او اواز به لوړ سي او که ووينې چې دده اواز کمزوری سوی وو نو دليل يې دا دي چې د ده نوم او اواز به ضعيف سي او څوک به دي نه پيژني. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې داواز لوړوالي دسړيو لپاره دبزرګۍ او دنوم دلوړوالي دليل دی او دښځو لپاره په خوب کې لوړ اواز ليدل ښه نه دی.

اويختن \ پانسي کيدل

دانيال عليہ السلام ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې پاچا دده دپانسي حکم ورکړيدی نو دليل يې دا دي چې دپاچا دبدبه او عزت به بيا پيدا کوي ليکن دده په دين کې به خلل راسي. او که ووينې چې دی پانسی دی او خلک ورته ګوري نو دا ددی خبرې دليل دی چې پر دغه قوم به حکومت او سرداري پيدا کوي او که ووينې چې خلک جمع دی او دي يې پانسي کړيدی نو دليل يې دا دي چې ددغه قوم سردار او فرمانروا به سي او که ووينې چې يونامعلوم بوډا دی پانسي کړيدي او خلک دده نظاره کوي نو دليل يې دا دي چې پر خلکو به حاکم سي، خاصکر که خپلوان هم په دغه نظاره کې شامل ووينې او که ووينې چې ځان يې پانسي کړيدی او چا دده نظاره نه وي کړي بلکه ځان يې پخپله پانسي ليدلي وي نو ددې خبرې دليل دا دي چې پر خپلوانو به حکومت کول غواړي ليکن څوک به دده تابعدار نه وي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې دي خلکو پانسي کړيدي او رسی پرې سويده او دی را ايله سويدی نو دا دلوی عزت او دمرتبې څخه درا ايله کيدو دليل دی.

ائينه \ شيشه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې شيشه ليدل ولايت او مرتبه ده، او که ووينې چې شيشه ورسره ده يا چا ورکړيده نو دليل يې دا دي چې دشيشې دلوی والي په اندازه به مرتبه ولايت اونعمت حاصل کړي. او که ووينې چې چا ته يې شيشه ورکړيده نو دليل يې دا دي چې خپل مال او اسباب به دچا مخ ته حاضر کړي اوکه ووينې چې داوسپنی په شيشه کې ګوري نو دليل يې دا دي چې خپله مرتبه او عزت ته به دنفرت په نظر ګوري ځکه چې تعبير بيانوونکی داوسپنی شيشه بده بولي. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې داوسپني په شيشه کې ګوري نو دليل يې دا دي چې که دهغه ښځه حامله وي نو هلک به يې پيدا سی اوپه

ټولو خبرو کي به دپلار په ډول وي او که دمخه رقم خوب حامله ښځه ووينې نو انجلی به يې پيدا سي چې په هرڅه کي به دمور په ډول وي اوکه ښځه حامله نه وی نو دليل يې دادي چې خاوند به ورته طلاق ورکړي بله ښځه به وکړي او دغه ښځه به بل خاوند وکړي، او که هلک په خوب کي شيشه ووينې نو دليل يې دا دي چې دهغه به ورور پيدا سی او که انجلی شيشه ووينې نو دليل يې دا دي چې ددي به بله خور پيدا سی، او که حاکم يا پاچا شيشه ووينې نو دليل يې دا دي چې معزول به سي او حکومت به دهغه دلاسه څخه ولاړ سي اوبل چا ته به ملاو سي او دده پر ځاي به پر تخت کښيني. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که چا په خوب کي په شيشه کي ښايسته معلوم مخ ليدلي وي نو پاچا به سي اوکه نامعلوم يې ليدلی وي نو چې څنګه يې ليدلي وی نو دهغه تعبير به نيك او بد دشيشه ليدونکی خواته رجوع کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي شيشه ليدل په شپږو وجو دی. ۱: ښځه ۲: زوی ۳: رتبه او فرمان ۴: يار او انډيوال ۵: شريک ۶: ښکاره کار. او داهم دوی ويلي دی چې که غريب سړی په خوب کي شيشه ووينې نو ددي خبري دليل دا دي چې ښځه او عزت به پيدا کوي که انجلی يې ووينې نو واده به سي اوخاوند ته به نزدي او قدرمنه وي، اوکه په خوب کي ووينې چې ده ته چا نامعلومه سړی شيشه ورکړيده نو ددي خبري دليل دا دي چې ورك سوي انډيوال به ووينې او خوشحاله به سي.

ابر \ وريځ

دانيال علیہ السلام ويلي دی چې وريځ په خوب کي ليدل په شپږو وجو ده. ۱: سپينه وريځ ۲: توره وريځ ۳: ژړه وريځ ۴: سره وريځ ۵: دباران اورولو وريځ ۶: باران نه ورولو والا وريځ او دهر يو تعبير جلا دی. که څوك خپل ځان په سپيني اوريدونکي وريځ کي ووينې نو دليل يې دا دي چې الله تعالی ورته علم او حکمت ورکړی او خلکو ته به دده دعلم او حکمت څخه فائده وي. او که ووينې چې په ژړه وريځ کي ولاړ دی نودليل يې دا دي چې ناجوړه به سي او بعض تعبير بيانوونکي وايي چې ښځه به پيدا کړي چې دهغه څخه به ورته غم اوتکليف وي. اوکه په سره وريځ کي ووينې نو دليل يې دا دي چې په محنت او بلا کي به ګرفتار سي ځکه چې الله تعالی چې پرکوم قوم باندي عذاب نازل کړي دی اول يې په هغوی سره وريځ ښکاره کړيده او که ووينې چې وريځ جګه دده پرسر دريدلي ده نودا ددي خبري دليل دی چې حکومت به پيدا کړي او که ووينې چې وريځ دده پرسر تيره سوي ده نو دليل يې دا دي چې دده ناسته به دنيک سړی او دمرتبی دخاوند سره وی او دهغه څخه به ورته مراد حاصل سي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې وريځ په هوا کي چلوي نو دليل يې دا دي چې دده ناسته به دعالمانو او حاکمانو سره وي اوکه داخوب پاچا ووينې نو دليل يې دا دي چې په خپل ولايت کي به باخبر قاصدان ليږي اوکه په خوب کي ووينې چې وريځ يې دهوا څخه نيولي ده او مځکي ته يې راوړي ده نو دليل يې دا دي چې نيکي بزرګي او علم به حاصل کړي او که ووينې چې وريځ دده په سر سايه کوي نو دليل يی دا دي چې په دغه کال به خير او نعمت ډير پيدا کړي دالله تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمان دی (وظللنا علیکم الغمام وانزلنا علیکم المن والسلوی کلوا من طیبات مارزقنکم، سورة البقرة: ۵۷) ترجمه :
او مور پر تاسو دوریځ سایه وکړه او پر تاسو مو ترنجبین او مړزان راولیږل او مور پاك شیان تاسو ته درکړه چی هغه خوری. اوکه ووینی چي په وریځ سره یې کالي تور سوي وي اوده اغوستي وه نو دلیل یي دا دي چي دومره علم به ورته حاصل سی چي چا ته به نه وي حاصل سوي او که ووینی چي وریځ ټول جهان پټ کړیدی او باران ځني نه دي اوریدلي نو دا خراب دلیل دی. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که چا په خوب کي لیدلی وي چي وریځ یي جمع کړیده یا یي لوړه کړیده یا یي خوړلي ده نو ددي خبري دلیل دا دي چي هغه به پرحکیمانو باندي په عقل سره لوړ سي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینی چي وریځ خوري نو دلیل یي دا دي چي دهغه ژوند به په حکمت سره وي، اوکه ووینی چي توره وریځ پر یو ځاي را ایله سویده نو دا پر دغه ملک دالله تعالی دعذاب دلیل دی څوک چي دوریځ سره نزدی ووینی هغه به دالله تعالی عذاب ته نزدي وي او که دوریځ سره باران ووینی نو دا دخیر او درحمت دلیل دی. او که ووینی چي دوریځي څخه باران را اوریږي نو دلیل یي دا دي چي هغومره رحمت اونیکي به ووینی او که دوریځي سره باران او سخته بریښنا ووینی نو دا دمور او پلار او دمسلمانانو دشر او دبیریدو دلیل دی، اوکه دبریښنا سره بجلي ووینی نو دادسختو عذابونو دلیل دی، اوکه پخپل کور او ځاي باندي وریځ راتلونکي ووینی نو دلیل یي دا دي چي دده زوي او کور والاوو ته دوریځي دتیاري په اندازه عقل اوحکمت حاصلیږي.
جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي وریځ لیدل په نهو وجو دي. ۱: حکمت ۲: ریاست ۳ : پاچاهي ۴: رحمت ۵: پرهیزګاري ۶: عذاب ۷: قحطی ۸: بلا ۹: فتنه.

اب سفنج \ وریځ

اسماعیل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي توره وریځ د بیري او سختی دلیل دی او اوریدونکي وریځ دخیر اوبرکت او فراخی دلیل دی او که غم او فکر هم وي لیکن هغه وریځ کومه چي ددریاب دغاړي څخه پورته کیږي هغه ته په عربي ژبه کي اسفنج وایي دا په خوب کي لیدل ددي خبري دلیل دي چي په څومره اندازه یي لیدلي وي په هغه اندازه به ورته مال غنیمت حاصل سي.

ابروها \ وریزي

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي دورزو په خوب کي لیدلی دین دي، که څوك په خوب کي ووینی چي دده وریزي پوره بي نقصانه دی نو دلیل یي دا دي چي دده ښائست پوره او کامل دی اوکه ووینی چي دده وریزي را ایله دی نو ددي تعبیر داولنی خلاف دی. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینی چي دده وریزي نسته یا یي وریښتان را ایله سوی دي نو ددی خبري دلیل دا دي چي دیو شي اراده به کوي چي دهغه سره به دده په دین کي بدنامی اوفساد وي او که ددي خلاف ووینی نو دلیل یي دادي چي دځه شي قصد به کوي چي دهغه سره به یي نیك نامی

او ددين اصلاح وسي او كه ووينې چې دده وريزې سپينې سوې دي نو دليل يې دا دي چې دده علم او صبر به زيات سي ليكن دمال نقصان به يې وسي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې كه څوك ووينې چې يوه وريزه يې را ايله سويده اوبله يې سمه نو دليل يې دا دي چې دهغه په مال او مرتبه كې به نقصان راسي او بعضې وايي چې ددين دزينت په نقصان دوريزې را ايله كېدل او وتل دليل دى.

ابريشم \ ريښم

په خوب كې دريښمو دليدلو دتعبير ذكر به په حرف "ق" كې راسي.

ابليس \ شيطان

دانيال عليه السلام ويلي دى چې دشيطان په خوب كې ليدل ددشمنۍ بى دينۍ درواغو دهوكو بې شرمۍ دنيكۍ څخه دنا اميدى خلكو ته دبدى ښولو او دشر او فساد دليل دى او كه په خوب كې ووينې چې پر شيطان غالب سوې دى په جنګ كې نو دليل يې دا دى چې دده توجه دصلاح او خير طرفته ده او كه ووينې چې شيطان پر ده غالب سوې دى نو دليل يى دا دي چې دشر او فساد طرفته به مائل سي او كه په خوب كې ووينې چې شيطان دده سره خبرې كوي نو دليل يې دا دي چې شيطان به يې دلاري څخه واړوي او دبندګى څخه به يې منع كړي او كه ووينې چې شيطان ده ته نصيحت كوي او ده ته ښه معلوميږي نو دليل يې دا دي چې دده مال او بدن ته به نقصان ورسيږي او كه ووينې چې شيطان دده لاس نيولي دى او يو ځاى ته يې بيولي دى او ده (لا حول ولا قوة الا بالله العلي العظيم) ترجمه: نسته دګناه څخه دبچ كيدو او دنيكۍ طاقت مګر دالله تعالى سره دى چې لوى او لوړ دى. ووايه نو دليل يې دا دي چې په غټه او لويه ګناه كې به اخته سي او بيا به دچا په نصيحت ددې څخه بچ سي او كه ووينې چې ده دشيطان په مرى كې پرې اچولى دى نو دليل يې دا دي چې ديندارو او ښو خلكو ته به خوشحالى ورسيږي او كه ووينې چې شيطان ضعيف او عاجز دى نو دليل يې دا دي چې په اصلاح كوونكو عالمانو او نيكو خلكو كې به طاقت پيدا سي. كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې كه څوك په خوب كې ووينې چې دشيطان فرمانبردار سويدى نو دليل يې دا دي چې په نفسيه خواهشاتو كې به مبتلا سي. او كه ووينې چې شيطان ورته څه وركړيدي نو كه هغه ښه شي وي نو حرام مال به حاصل كړي او كه هغه شي خراب وي نو دليل دا دي چې دهغه په دين كې به فساد وي. او كه څوك ووينې چې شيطان خوشحاله او رضا دى نو دليل يې دا دي چې دخلكو په كارونو كې به ډير فساد راسي او كه ووينې چې شيطان په توره مړ كول غواړي او هغه تبنتيدلي دى نو دليل يې دا دي چې ده ته به يوهلك ملاويږي اودي به عدل اوانصاف كوي اوكه ووينې چې شيطان يې مړ كړيدي نو دليل يې دا دي چې پرخپل نفس باندي به غالب سي اونفس به مغلوب كړي او پر نيكه لاره به ځي.

ارزيز \ تانبه \ كلايي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې كه څوك په خوب كې ووينې چې دده سره كلايى ده نو دليل يې

Maktaba Tul Ishaat.com

دا دي چې هغومره ددنيا سامان به حاصل کړي کوم چې دلوښو څخه لاندې وي لکه پيالي او تالی او داسی نور او که پوهيږي چې دده ملك دی نو دليل يې دا دي چې هغونده نوکران به پيدا کړي. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك وويني چې کلايی ويلي کوي نو دليل يې دا دي چې خلک به د ده بدي بيانوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې کلايی په خوب کې ليدل په درو وجو وي. ۱: نفع ۲: خدمتګار ۳: دکور سامان.

اره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې وويني چې په اری سره يې درخته پريکړه نو دليل يې دا دي چې ددی سړي به ددرختی دمالك سره جدايي راسي او هغه به تنګوي، او دهري يوي درختي تعبير به په حرف (د) کې راځي اوکه په خوب کې وويني چې خپل زوي يا ورور يا خور يې په اره دوه ټکړي کړيده نودليل يې دا دي چې دهغه په ډول زوي يا ورور يا خور به يې پيدا سی. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې وويني چې هغه ته اره ملاو سوه يا يې واخسته يا چا ته يې ورکړه نو ددي خبري دليل دا دي چې که دهغه زوي وي نو بل زوی به يې پيدا سی اوکه لور يې وي نو بله لور به يې پيدا سی او که زوي يې نه وي او حيوانان يې وي نو ددي خبري دليل دا دي چې دهغه په ډول نور حيوانان به ورسره پيدا سی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې اره ليدل په درو وجو وي. ۱: زوي ۲: ورور يا خور ۳: شريك.

ازار \ لنګ، پرتوګ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې لنګ او پرتوګ ښځه ده او که څوك په خوب کې وويني چې لنګ يې ترلي دی نودليل يې دا دي چې ښځه به راولي يابه مينځه اخلي اوکه وويني چې يې لنګ ضائع سوي دي نو دليل يې دادي چې هغه به دښځي څخه جلا سي او که وويني چې پرتوګ يې شليدلي دی نو دا دښځی دعيب او نقصان دليل دی او که وويني چې پرتوګ يې په اور کې سوزلي دی نودا دښځي دافت او دناجوړي دليل دي، جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې وويني چې دهغه لنګ دسونی، دريښمو يا دپشميني دی نو دليل يې دا دي چې دهغه ښځه به جنګ ماره اودينداره وي او که وويني چې دده پرتوګ پخوانی او خيرن دی نو ددی تعبير د اولنی خلاف دی او که وويني چې دده پرتوګ دريښمو دی نو دليل يې دا دي چې دهغه ښځه به عيش کوونکی اومغروره وي.

ادعای پيغمبري \ د پيغمبرۍ دعوې کول

دانيال عليہ السلام ويلي دي چې که څوک په خوب کې وويني چې هغه دنبيانو څخه نبي سوي دي او خلک خداي تعالي او د هغه دتوحيد طرفته رابولي نو دليل يې دا دي چې اول به په غم او تکليف کې ګرفتار سي او بيا به پردښمن کاميابي پيدا کړي او که خپل ځان پرهيزګار اونيک کاره وويني نو بيا يې هم دغه دليل دی ليکن دهغه غم اوتکليف به په دنيا کې کم وي او که وويني چې دی دبدبی والا او مالدار سوی دی نودليل يې دا دي چې ددنيا نعمت به باندي فراخ

سي ليکن دين به يي تباه سي. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده نوم بدل سوي دي چي په ښو نومونو مثلا محمد سعد سعيد صالح اوعلي او داسی نورو باندي بلل کيږي سي نو دليل يي دا دي چي دی به په ذکر خير اوپه نيکی سره ياد کړي او که ددي خلاف ووينې نو دی به په بدی سره ياد کړي. اوکه ووينې چي دی پاچا يا امير ياقاضی سويدی نو دليل يي دا دي چي دی به پخپل کاروبار کي عدل او انصاف کوي او که ددي خلاف ووينې نو دبدی دليل دی. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ فرمايلي دی که ووينې چي دده حامل دښه والي څخه دفساد طرفته بدل سويدی نو دا دبد بختی او بي نصيبی دليل دی، اوکه ددی خلاف ووينې نو دا د دين او دنيا دسعادت او دمالداره کيدو دليل دی.

اژدها \ غټ مار

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دغټ مار په خوب کي ليدل دغټ دښمن ليدل دی کوم چي ورسره قوي دښمني ساتی. اوکه ووينې چي غټ مار ورسره دی نو دليل يي دا دي چي دبزرګانو سره به ملاو سي او که ووينې چي د غټ مار سره يي جنګ کړيدي اوغالب سوي دی باندي نو دليل يي دا دي چي ددښمنانو سره به جنګ کوي او اخر کار به دښمنان ختموي او که ووينې چي مار يي مړ کړ نو دهغه مال به اخلي او دغه مال به پخپل کور خرڅ کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي مار وچيچی نو دليل يي دا دي چي ددښمن څخه به ورته بيره وي او دښمن به دی هلاک کړي، اوکه ووينې چي دغټ مار پر ملا سپور سويدي او غټ مار دده تابع فرمان دی نو ددي خبري دليل دا دي چي غټ دښمن به يي تابعدار سي ا و دده ټول کارونه به په انتظار سره وي.

آسپندان \ توره د سپيلنی دانه

کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دآسپندان په خوب کي ليدل دغم دليل دی اوکه ووينې چي چا ورته سپيلني ورکړي دی نو ددي خبري دليل دادي چي هغوندي غم اوتکليف به ورته رسيږي اوکه ووينې چي چا بل چا ته سپيلنی ورکړيدی نو دليل يي دا دي چي دهغه څخه به ورته غم رسيږي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي څوک په خوب کي ووينې چي سپيلني ورسره وي او خوړلي يي نه دی يا يي چا ته ورکړيدي يا يي دکور څخه دباندي اچولي دی نو دليل يي دا دی چي ده ته به غم او فکر کم وي.

اسپ \ آس

دانيال عليہ السلام ويلي دی چي دعربي آس په خوب کي دليدلو دليل بزرګي عزت او مرتبه ده او که ووينې چي په عربي آس ناست دی اوآس فرمانبردار دی نو دا دعزت او بزرګي دليل دی ليکن ددومره اندازي مطابق څومره چي آس ښه عمده وي اوکه څوك په خوب کي ووينې چي آس يې اخستي دی ليکن عربي آس نه دی يا چا ورته ورکړيدي اوپر هغه ناست دی نو شرف او بزرګي به دآس په نسبت کمه پيدا کړي اوکه ووينې چي دآس په سامان کي کمی دی مثلا چي زين يا لمسي يا واګي يي نه وي نودليل يي دا دي چي هغونده به يي په بزرګي کي نقصان وي. او که

Maktaba Tul Ishaat.com

وويني چي دآس لکی غټه او اوږده ده نو دليل يي دا دي چي هغوندي به يي نوکران وي او که لکی پريکړل سوي وويني نو دليل يي دا دي چي نوکران اوخادمان به يي نه وي او که وويني چي څه شيان دده دآس په اندامونو يعني بدن کي ناقص وو نودليل يي دا دی چي هغونده به يي په عزت اوشرافت کي نقصان وي اوکه وويني چي دآس سره يي جنګ کړيدي او آس باندي غالب سويدی او فرمانبردار سوي نه دی نودا دګناه او نافرمانی دليل دی. محمد ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک په خوب کي وويني چي پر لځ آس باندي سپور وي نو دليل يي دا دي چي دهغه مصيبتونه او ګناهونه به زيات سي او که هغه آس دبل چاوي نو دآس دمالک به دغه حال وي کوم چي مور بيان کړيدی. اوکه ووايي چي آس لځ دی ليکن دده تابعدار نه دی نو دا دشرف او دبزرګی دليل دی اوکه يي ليدلی وي چي پر آس سپور وي او آس پر چت يا پر ديوال ولاړ دی نو دليل يي دا دي چي ګناه او نافرماني به ډيره کوي اوکه پر آس سپور وي او آس والوزي او يا وويني چي دآس دمرغيو په ډول وزري دی او دمرغيو په ډول الوزي نو دليل يي دا دي چي سفر به کوي او په دين او دنيا کي به شرافت او بزرګی حاصله کړي. کرماني رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک خپل ځان پر برګ آس باندي سپور وويني نو دليل يي دا دي چي داسي کار به کوي چي پر هغه به خلک ګواهي ورکوي او که ځان پر تور آس سپور وويني نو دليل يي دا دي چي داسي کار به کوي چي په هغه سره به مال او سرداري پيدا کړي او که ځان پر کميت (سور مائل توروالي ته وي) آس سپور وويني نو دليل يي دا دي چي دپاچا څخه به قوت اوبزرګی پيداکړي اوکه ځان پر وريت (ژړ بخون) آس سپور وويني نو دا ددين ددرستی دليل دی او دپاچا څخه به عزت پيدا کړي او که ځان پر تک ژړ آس سپور وويني نو دليل يي دا دي چي لږ به ناجوړه سي او دسپين آس هم دغه دليل دی او که پر تور شين آس باندي خپل ځان سپور وويني نو دا دخير او دصلاح دليل دی او که پر سليس آس باندي ځان سپور وويني نو دليل يي دا دی چي ښځه به ورته ملاو سي. اوکه وويني چي دآس څخه راکښته سويدی نو دليل يي دا دي چي دعزت او دمرتبي څخه به کښته سي او که وويني چي دلځ آس څخه را کښته سي نو دليل يي دا دي چي دګناه او دنافرمانی څخه به بچ سي او که وويني چي دوسلي سره پر آس سپور سويدی نو دليل يي دا دي چي بی مشکله به ورته شرافت او مرتبه حاصله سي او پر دښمن به کامياب سي، اوکه وويني چي دجنګ لپاره آس زغلوي نو دليل يي دا دي چي دهغه څخه به ګناه وسي او دآس زغلولو په قدر به بيره وويني اوکه وويني چي پر آس باندي سپور دی او دجماعت خواته تللي دی نو په دی کي څه خير نسته ليکن که آس دهغه ځاي څخه دباندي راوباسي نو دخير دليل دی او که وويني چي آس ورسره مينه کوي نودليل يي دا دي چي مال اودولت به ورته ملاو سي اوکه آس دځان سره په خبرو کولو وويني نو دليل يي دا دي چي داسي کار به وکړي چي خلک به ورته حيران سي او که وويني چي پردی آس دده کور يا کوڅي ته راغلي دی نو دليل يي دا دي چي يو شريف سړي به دده کور يا کوڅي ته راسي او داسي دقدر او قيمت مطابق مقام به حاصل کړي او که وويني چي آس دهغه دکوڅي څخه تللي

دی نو دلیل یي دا دي چي یو شریف سړي به دده دکوڅي څخه ولاړ سي یا به مړ سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي اسپه یي اخیستي ده یا چا ورکړیده نو دلیل یي دا دي چي برکتی ښځه به ورته ملاو سي او که توره اسپه یي لیدلي وي نو دلیل یي دا دي چي هغه ښځه به شریفه او نامداره نه وي. او که ووینې چي برګه اسپه ده نو دلیل یي دا دي چي دښځی مور اوپلار په دیو نسل څخه نه وي او که ووینې چي اسپه توره شنه ده نو دلیل یي دا دي چي هغه ښځه به دین داره او پرهیزګاره وي او که وریت رنګه اسپه ووینې نو دلیل یي دا دي چي هغه ښځه به عزیزه او دمرتبې خاونده وي او که تورچکی سره اسپه ووینې نو دلیل یی دا دي چي هغه ښځه به عیش پسنده او خوش باشه وي او که ووینې چي هغه اسپه کوچنی والا ده نو دلیل یي دا دي چي دهغې ښځي به زوی هم پیداسي اوکه داسپي سره بچی هم ووینې نو دلیل یي دا دي چي هغه ښځه به انجلی والا وي. او که ووینې چي په خوب کي دآس غوښه خوري نودلیل یي دا دي چي پاچا به دهغه غوښتونکي وي او خپل ملګري به یي جوړکړي او که ووینې چي دچا څخه شاته پر آس سپور دی یا دده څخه شاته څوك ناست دی نو چي شاته څوك سپور وي هغه به دمخکښي دفرمان تابع وي. اوکه ووینې چي ډیر آسونه دده په کور یا کوڅه کي جمع دی نو دلیل یي دا دي چي پر هغه ځای به باران ډیر کیږي او سیلاب به راځي. اشعث رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوک په خوب کي ووینې چي په تیز رفتاراو خوش رفتار آس باندي ناست دی نو دلیل یي دا دي چي دمالداري او صالح ښځي سره به نکاح وکړي او که هغه ددي اهل نه دی نو دداسي ښځي سره به مصاحبت کوي دکومي څخه چي به ورته نفع او نیکي حاصله سي. او که ووینې چي دآس غوږ پرې سویدی نودلیل یي دا دي چي دسردارانو پیغام به دده څخه پرې سي، او که ووینې چي آس دسر څخه را ایله سو او بیا راپورته سو نو دلیل یي دا دي چي اول به یي په کار کي خلل راځي او بیابه سم سي. اوکه ووینې چي لکی پریکړل سوی آس یي اخستي دی او پر هغه سپور دی نودلیل یي دا دي چي دبي اصله ښځي خاوند به سي ا و که ووینې چي آس لغته ورکړیده نو دلیل یي دا دي چي دده اولاد به په فضولیاتو کي مشغول سي او که ووینې چي پرآس باندي په هوا کي تللي دی اوبیا دهوا څخه را ایله سویدی نو دلیل یي دا دي چي دپاچا دلاس څخه به هلاک سي. او که ووینې چي دده آس چا پټ کړیدی نو دا بیره ده چي دده اولاد به هلاک سي او که ووینې چي دده آس ورك سویدی نو دلیل یي دا دي چي خپلي ښځي ته به طلاق ورکړي. اوکه یي لیدلي وي چي خپل آس یي خرڅ کړیدی نو دلیل یي دا دي چي دده مرتبه او عزت به کم سي یا به دده څخه اولاد جلا سي او که ووینې چي پر آس چپه ناست دی نو دلیل یي دا دي چي کار به یي خراب سي او ده ته به نقصان او ملامتیا ورسیږي. جابر رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي دآس په خوب کي لیدل دخپل نفس خواهشات لیدل دی او که سرکښه آس ووینې نو دلیل یي دا دي چي دده دنفس خواهشات به سرکښه وي او که ووینې چي آس یي مطیع او فرمانبردار دی نو دلیل یي دا دي چي دده دنفس خواهشات به دده په بدی کي ډیر سخت وي. که ووینی چي دآس دبدن په هر اندام دپاچاهي

Maktaba Tul Ishaat.com

نخښه وه يا پر آس دپاچا وينه ووينې نو دا دعزت او رفعت دليل يې دی او دعامو خلک په خوب کې آس ليدل عزت اودبخت دليل دی اوکه ووينې چې نا معلوم آس دمحلي څخه وتلي دی نودليل يې دا دي چې دمحلي په بزرګانوکې به يوسړي ددنيا څخه ولاړ سي. خالد اصفهانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې ګډی والا آس دسړي نصيب دی څومره چې ګډی والا آس مطيع او فرمان بردار وي هغونده به يې نصيب مطيع او فرمانبردار وي او که ووينې چې ګډی والا آس بنار کلي يا سرای ته تللي دی نو دليل يې دا دي چې يو مسافر عجمي به دغه ځای ته راسي. او که ووينې چې په اوږدي لکی والا آس باندي سپوردی نودليل يې دادي چې دآس دلکی داوږدوالي برابر به دده تابعدار وي او که ددي خلاف ووينې نو دليل يې دا دی چې دهغه حال به بد وي او ژوند به باندي تنګ سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دآس ليدل په پنځو وجودی. ۱: عزت ۲: مرتبه ۳: حکومت ۴: بزرګي ۵: خير اوبرکت.

حضور صلی اللہ علیہ وسلم ويلي دی (الخير معقودفی نواصي الخيل والبرکة الی يوم القيامة والذل فی ادبار البقر) ترجمه: تر قيامة پوری دآسونو په تندیو کې خير اوبرکت دی او ذلت دغوايانو په لکی کې دی او که ووينې چې دده پر آس باندي بيزو سپور دی نو دليل يې دا دي چې يهودي به دده دښځي سره فساد کوي او که ووينې چې سپی دده پر آس سپور دی نو دليل يې دا دي چې يو څوک اتش پرست به دده دښځي سره فساد کوي.

آستر \ غاتره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې قچر ووينې نو که تابعدار وي نو نيك دی کنی بد دی او که ووينې چې پر بې زينه غاتره باندي سپور دی او معلومه ورته نه ده چې داقچر دکوم ملك دی نو دليل يې دا دي چې په سفر به ځي او که ووينې چې پرخپله غاتره سپور دی نو که سفر وکړي نو فائده اونفع به ورته ورسيږي او که ووينې چې پر غاتره يې کډي يا کجاوه اينې ده نو دليل يې دا دي چې دده ښځه به شنډه وي خاصکر که غاتره دده ملکيت وي يا ورته چا بخښلي وي. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې پرتوره غاتره سپور دی اولوړ دی نو دليل يې دا دي چې داسی ښځه به غواړي چې دعزت خاونده به وي او که غاتره سپينه وي نو ښائسته او ښه ښځه به ورته ملاوسي او که شنه غاتره ووينې نو دليل يې دا دي چې هغه ښځه به پرهيزګاره او ديندار وي او که غاتره سره وي نو دليل يې دا دي چې هغه ښځه به ډمه او عيش پرسته وي اوکه غاتره وريته يا ژړه وي نو دليل يې دا دي چې هغه ښځه به ناجوړه او ژړه وي او که غاتره تابعداره ووينې نو دليل يې دا دي چې سړي به ضعيفه سي. جابرمغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې غاتره دمالك اولاد دی که غاتره ووينې نو سفر به کوي او ددی علم بعضو استاذانو ويلي دی چې غاتر سړي دی او غاتره ښځه ده اوکه ووينې چې دچا څخه يې غاتره اخيستي ده نو دليل يې دا دي چې مينځه به اخلي او که ووينې چې غاتره يې خرڅه کړيده نودليل يې دا دي چې مينځه به خرڅوي يا به ځني مينځه جلا کيږي

او که ووينې چې پر غاتره سپور دی نو دليل يې دا دي چې شنډه ښځه به کوي او که ووينې چې پر غاتره سپور دی نو دليل يې دا دي چې عمر به يې زيات سي او مراد به يې حاصل سي او که ووينې چې غاتره دده څخه شاته ځغلي نو دليل يې دا دي چې ده ته به غنم ورسيږي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې غاتره ژاړي نو دا دښځو دخوا څخه دمال دزياتوالي دليل دی او که ووينې چې قچره دده سره خبرې کوي نو دليل يې دا دي چې داسې عجيبه کار به کوي چې خلک به ورته حيران سي او که ووينې چې غاتره يې مړه کړيده نو دليل يې دا دي چې مال به پيدا کړي او که ووينې چې غاتره مړ سويده يا ضائع سويده نو ددې خبرې دليل دی چې ښځه به يې مړه سي يا به مينځه ځني جلا سي او که غاتره نر وي نو ديو سړي دصحبت څخه به جلا سي. ياد ولري چې په خوب کې دغاتري غوښه او پوستکي مال او دولت دی اوبعض تعبر بيانوونکي وايي چې د غاتري غوښه ناجوړې ده او که په خوب کې ووينې چې دغاتري شيدی چيښي نو دشيدو دانداز مطابق دبيرې او خوف او غم دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دغاتري په خوب کې ليدل په پنځو وجودی. ۱: سفر ۲: ډير عمر ۳: پر دښمن کاميابي پيدا کول ۴: جمال او ارائش ۵: احمق سړي، غاتره شنډه ښځه او دغاتري کوچني دفايدې او مراد پيدا کولو دليل دی.

استخوان \ هډوکي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې هډوکي مال او دولت دی په کومو چې خلک ګزاره کوي که څوک په خوب کې ووينې چې هډوکي يې پيدا کړيدی او پر هغو غوښه هم ده نو دليل يې دا دي چې دغوښې دانداز مطابق خير اومال به پيدا کوي او که ووينې چې هډوکي بغير دغوښې څخه دی نو دليل يې دا دي چې ده ته به ښيګړه لږ ورسيږي او که ووينې چې چا ته يې هډوکي ورکړيدی نودليل يې دا دي چې دچا سره به ښه کوي. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې دچا مات سوي هډوکي يې ترلي دی نو دليل يې دا دي چې بزرګي او قسما قسم نعمتونه به حاصل کړي او نيک کار به کوي بعض تعبير کوونکي بيان کړيدی چې دده تنګي او محتاجي به ختمه سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دهډوکي ليدل په اوه وجو دي ۱: دمال اميد ۲: خپلوان ۳: بچی ۴: داوسيدو کور ۵: مال ۶: ورونه ۷: انډيوال.

استغفار \ بخښه غوښتل

داستغفار معني ده ګناهونو څخه معافي غو ښتل (استغفر الله) ويل دالله تعالی څخه بخښنه غوښتل دی. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کی استغفر الله ووايي نو دليل يې دا دي چې الله تعالی به ورته مال او روزي ورکړي دالله تعالی فرمان دی (استغفروا ربکم انه کان غفارا يرسل السمآء عليکم مدرارا ويمددکم باموال وبنين، سورة نوح: ۱۰ –۱۲) ترجمه: دالله تعالی څخه بخښنه غواړی ځکه چې هغه بخښونکي دی پر تاسو به په شيبو شيبو باران وکړي او په مال او

Maktaba Tul Ishaat.com

اولاد سره به ستاسو مدد وکړي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي استغفار ويل په څلورو وجو وي. ۱ مال ۲ زوی ۳ دالله تعالی څخه بخښنه ۴ دګناهونو څخه توبه کښل.

اسطر لاب \ د علم نجوم يوه آله

کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي داسطرلاب ليدلو تعبير دپاچا ملګري او اسردار دی که څوك په خوب کي ووينې چي دهغه سره اسطرلاب دی يا يې اخستي دی يا چا ورکړيدی نو دليل يې دا دي چي دپاچا د ملګرو څخه به وي او دقوم سردار به وي اوکه ووينې چي اسطرلاب ورك سويدی يا مات سويدی نو دليل يې دا دي چي دده په مرتبه کي به نقصان وي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي په اسطرلاب سره لمر ته ګوري نو دليل يې دا دي چي دپاچا يا دهغه دسرادرانو په کار کي به مشغول سي اودهغوئ څخه به خير اونفع پيدا کړي او بعض اهل تعبير بيان کوي چي په خوب کي اسطرلاب داسي سړي وی کوم ته چي ثبات او صبر نه وي او په کار کي پائيداره نه وي.

اسفناح \ د پالک بلګ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي پالك ليدل د فکر او غم دليل دی او د دی خوړل ضرر او دمال نقصان دی او که په غوښو کي يې پوخ کړي ووينې او ويې خوري او غوړي پکښې هم وي نو څومره چي يې وخوري دخير اودنفعي دليل دی.

اشتر \ اوښ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي خپل ځان پر نامعلوم اوښ ووينې چي هغه ځغلي نو دسفر دليل دی او که ووينې چي اوښ غورځي نو دا دغم او دفکر دليل دی اوکه ووينې چي په اوښ سپور دی اولار ځني ورکه سويده او دا ورته نه وي معلومه چي لار کوم طرفته ده نو دليل يې دا دي چي په خپله لاره کي به عاجز سي او هيڅ تدبير به نسي کولاي او که اوښه پيدا کړي نو ښځه به پيدا کړي او که اوښه حامله وي نو زوي والا ښځه به کوي او که ووينې چي داوښ شا ته ځغلي نو دا دغم دليل دی او که ووينې چي اوښ ځني مخ اړولي دی او فرمانبردار نه دی نو دليل يی دا دي چي غمناکه به سي. دانيال عليه السلام ويلی دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي پر مست اوغضبناکه اوښ باندی ناست دی نو دليل يې دا دي چي پر ده به يو لوي سړي قبضه وکړي او که ووينې چي داوښ سره جنګ کوي نو دليل يې دا دي چي ديو عجمي سړي سره به يې دښمني جوړه سي او دهغه سره به يې جنګ کيږي او که ووينې چي اوښان څروي او دا پيژني چي اوښان دده خپل دی نو دليل يې دا دي چي ده ته به ملک ملاو سي او ددغه ملک پر خلکو به حکومت کوي. او که ووينې چي چا اوښه ورته بخښلي ده يا يې پخپله اخيستي ده نو دليل يې دا دي چي ښځه به کوي يا به مينځه اخلي. او که په خوب کي ووينې چي دده اوښه تښتيدلي ده يا چا پټه کړيده نو دليل يې دا دي چي دښځي څخه به جلا سي يا به يې پخپلو کي جنګ وسي. او که ووينې چي دده اوښه مړه سويده نو دليل يې دا دي چي دده ښځه به مري او که ووينې چي داوښې بچي يې سويدی نو دليل يې دا دي چي دده به

زوي پيدا سي او مال به يي زيات سي او که په خوب کي اوښه ووينې نو دليل يي دا دي چې مراد به يي پوره سي او که په خوب کي ووينې چې داوښ غوښه خوري نو دليل يي دا دي چې ناجوړه به سي. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې چا ورته ډيره داوښ غوښه ورکړيده نو دليل يي دا دي چې هغونده مال به پيداکړي او که ووينې چې داوښ سره خبري کوي نو دليل يي دا دي چې خير اونيکي به ورته ورسيږي. اوکه ووينې چې دوه اوښان يي پيدا کړيدی نو دليل يي داد چې دهغي دقدرو قيمت هومره به نفع پيدا کړي. او که ووينې چې يو قوم اوښ ذبح کړيدی او دهغه غوښه يي تقسيم کړيده نو دليل يی دا دي چې دهغه ځاي سردار به مري او دهغه مال به تقسيموي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې ډير اوښان ورسره دی اوټول دده ملکيت دی که اوښان عربي وي نو دعربو په ملک کي به پاچا سي او که اوښان عجمي وي نو دعجميانو په ملك کي به پاچا سي اوکه ښځه په خوب کي ووينې چې اوښ يي خوړلي دی نو دليل يي دا دي چې مال اونعمت به پيدا کړي او داوښ دپوست هم دغه دليل دی. بعض تعبير کوونکو بيان کړيدی چې دغه ښځي ته به وارث ملاو سي او که ووينې چې داوښ سره خبري کوي نو دليل يي دا دي چې خير او نيکي به ورته ورسيږي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي داوښ ليدل په لسو وجو دی. ۱ عجمي پاچا ۲ مالداره سړي ۳ مومن سړي ۴ سيل ۵ فتنه ۶ ابادي ۷ ښځه ۸ نعمت ۹ نعمت ۱۰ مال او دعربي او دعجمي اوښ پر عربی او عجمی سړي دليل دی او دشتر بانی دليل دصاحب تدبير ولايت او په کارونو کي دسم والی او دښه والی دی.

اشترمرغ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي شتر مرغ ځنګلي سړی دی او شتر ښځه ځنګلی ښځه ده او که ووينې چې ښځه شتر مرغ يي نيولي دی يا چا ورکړيدی نو دليل يي دا دي چې د دا دمخه صفت ښځه به کوي يا به مينځه اخلي اوکه ووينې چې په شتر مرغ ناست دی نو دليل يي دا دي چې دځنګل سفر به وکړی او بعضي اهل تعبير بيان کړيدی چې پر ځنګلي سړی به غالب راځي او مراد ته به رسيږي. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې شتر مرغ يي ويشتلي دی نو دليل يي دا دي چې پر ځنګلي سړي به غالب سي او هغه به مغلوب راځي او که ووينې چې دده سره دشتر مرغ کوچني زوی دی نو دليل يي دا دي چې دځنګلي سړی زوی به ورته ملاو سي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کي ووينې چې پر شتر مرغ ناست دی او هغه دده فرمانبردار دی او دی يي په هوا کړي دی اوبيا يي مځکی ته راوستي دی نو دليل يي دا دي چې دځنګلي سړی سره به سفر کوي او وروسته به راځي او ډيره نفع به پيدا کړي او که ددی خلاف ووينې نو بيا ددي تعبير خراب دی.

اشتر خار \ ازغي داره بوټی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي اشتر خار ليدل دغم او فکر دليل دی او که ووينې چې ده په خوب کي اشترخار راخستی دی يا چا ورکړي دی او ده خوړلی دی نو دليل يي دا دي

Maktaba Tul Ishaat.com

چي ده ته به غم او فکر رسيږي اوکه ووينې چي چا ته يې ورکړي دی يا يې خرڅ کړيدی نو دليل يې دا دي چي دغم او فکر څخه به خلاصون پيداکړي او که ووينې چي ده اشتر خار ساتلی دی او اوښ ته يې ورکړي دی نو دليل يې دا دي چي دغه سړي ته به داوښ لپاره غمناک سي.

اشک \ اوښکي

کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دسترګو څخه يې يخي اوښکي بهيږي نو ددي دليل دا دي چي دغه سړي به ښادی او خوشحالي ووينې او که معمولي اوښکي بهيدونکی ووينې نو دليل يې دا دي چي غمګين ا ودرد مند به سي او که ووينې چي بغير دژړا څخه يې پر مخ اوښکي دی نو دليل يې دا دي چي ده ته به په خبرو سره خلک پيغور ورکوي او که ووينې چي په سترګو کي يې داوښکي پر ځای دوړي او خاوري جمع دی نو دليل يې دا دي چي دهغي برابر حرام مال به ورته بغير دڅه تکليف څخه ورسيږي او که ووينې چي دده دمخ څخه اوښکي بهيږي نو دليل يې دا دي چي هغه به خپل مال دخپل کور په خرچه کي راولي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دسترګو اوښکي ليدل په درو وجو دی: ۱ ښادي او خوشحالي ۲ غم اوفکر ۳ نعمت.

اشنان \ زومی

زومی يعني هغه وانبه چي کالي باندي پريوللل کيږي، ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي داشنان ليدل دغم او فکر دليل دی او ددی خوړل دناجوړي دليل دی.

اصلع \ د سر داغ

اصلع په فارسي ژبه کی دسرداغ ته ويل کيږي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که يوڅوك دسر داغونو والا په خوب کي ووينې چي دسر وريښته يې راختلي دی نو دليل يې دا دي چي لږ مال به ورته حاصل سي او که ووينې چي پر سر يې داغ لګيدلي دی نودليل يې دا دي چي دغم او فکر څخه به خلاصون پيداکړي ليکن که ښځه ووينې چي پرسر يې داغ لګيدلي دی نو دليل يې دا دي چي دهغي په زينت اوښه والي کي به نقصان راسي . ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي په خوب کي دسر داغ ليدل دسوداګر لپاره فائده مند دی او دکار کوونکي لپاره کسب او صناعت دی او دپاچا لپاره فکر دی او دښځي لپاره په زينت کي دنقصان باعث دی.

افروشته \ يو قسم خوشبوداره حلوا

محمد ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي افروشته هغه غوره وي په کوم کي چي زعفران نه وي که لږ يې ووينې نو ښه او غوره ده او که ډير يې ووينې نو مال دی کوم چي به ورته په غم او سختی سره حاصل سي او که ووينې چي چا ورته لږ افروشته ورکړي ده او ده خوړلي ده نو دليل يې دا دي چي دهغه څخه به ښي خبري اوري چي دطبيعت سره به موافق وي او که ووينې چي دده سره ډيره افروشته ده نو دليل يې دا دي چي هغونده مال به ورته په سختی او تکليف سره حاصل سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دافروشتي ليدل په درو وجو ده ۱ ښه خبره ۲ مال ۳ دزړه مراد حاصلول.

افسرده \ مړشی

کرماني رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي مړ شی خوړل غم او فکر دی که څوك ووینې چي مړ شي خوری نو دلیل یي دا دي چي هغونده به ورته غم اوفکر وي او که ووینې چي چا ورته مړ شي ورکړیدی او ده خوړلي دی نو ددي خبری دلیل دا دي چي دهغه سره به یي جنګ کیږي او که خوړلي یي نه وي نو دا دغم څخه د ساتل کیدو دلیل دی. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي دمړ شي خوړل دلیل دی چي هغه به جنګ کوي مقصد داچي په خوب کي دمړشي په خوړلو کي هیڅ فائده نسته.

افسون \ جادو، منتر

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي جادو منتر کول دخلکو سره دهوکه کول دی لیکن که دالله تعالی په نومونو او دقران په ایتونو سره وي نو صحیح دی، که داسي جادو منتر په خوب کي ووینې چي په هغه سره ده ته یابل چا ته شفا او راحت رسیدلي دی نو دلیل یي دا دي چي دغم څخه به راحت پیدا کړي او دزړه مراد به یي پوره سي او که ددي خلاف ووینې نو دا دغم او فکر دلیل دی. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په جادو منتر کي دالله تعالی ذکرونه کوي نو هغه جادو منتر کول باطل دی او که جادو منتر په قران کریم او دالله تعالی په نومونو سره وکړي نو دلیل یي دا دي چي هغه حق او ښه کار کړیدی او په دی سره به ورته ددواړو جهانونو خیر اوصلاح حاصل سي.

افیون \ افیم

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي دافیم په خوب کي لیدل دغم او فکر دلیل دی او په خوب کي دافیمو خوړل دغم فکر مصیبت او دتکلیف دلیل دی.

الو \ ګونګي

الو یو ښکاري مارغه دی دانیال علیہ السلام ویلي دی چي په خوب کي ګونګي یو ظالم او خوفناکه پاچا دی چي هر څوك ځني بیریږي او که ووینې چي په خوب کي یي ګونګي نیولي دی یا ورته چا ورکړیدی اوفرمانبر دار او مطیع دی نو دلیل یي دا دي چي پاچا ته به خاص مقرب سي او که ووینې چي ګونګي دی نیولي دی او په هوا کړي یي دی نو دلیل یي دا دي چي دپاچا په حکم به سفر کوي اوبزرګي او نوم به پیداکوي. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي ګونګي په یو کوڅه کي را کښته سویدی نو دلیل یي دا دي چي پاچا به دغه کوڅي ته راځي او که ووینې چي خلکو عقاب وژلي دی نو دلیل یي دا دي چي پاچا به مري یا به معزول کیږي او که ووینې چي ګونګي دي نیولي دی نودلیل یي دا دي چي پاچا به پناه ورکړي او که ووینې چي عقاب دخولي څخه شي را ایستلي دی او ده ته یي ورکړیدی نو دلیل یي دا دي چي هغونده به دپاچا څخه بخشش پیدا کړي او که ووینې چي عقاب دده دلاس څخه والوتي او تار یا څه بل شي دده په لاس کي پاته سویدی نو دلیل یي دا دي چي پاچا به غصه ورباندي وکړي او دځان څخه به یي لیري کړي او دده څخه مال به واخلي. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ویلي

Maktaba Tul Ishaat.com

دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي په عقاب سره يي ښکار نيولي دی نو دليل يي دا دي چي دپاچا مال او خزانه به دده په قبضه کي راسي او که ووينې چي عقاب دی په مښوکه يا په پنجو سره وهلي دی نو دليل يي دا دي چي ده ته به دپاچا دطرف څخه تکليف اومصيبت ورسيږي او دده مال به ضبط سي او که ووينې چي دعقاب سره جنګ کوي نو دليل يي دا دي چي دپاچا سره به جنګ کوي اوکه ووينې چي عقاب يي خوړلي دی او دهغه وزري يي را ايستلي دی نو دليل يي دا دي چي دهغه برابر به دپاچا څخه مال اونعمت حاصل کړي او که ووينې چي عقاب دده په سر يا په مخ ناست دی نو دليل يي دا دي چي زوی به يي پيدا سي او پاچا به سي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دعقاب په خوب کي ليدل په دوو وجو وي ۱: ظالم ستمګر اوخونخوار پاچا ۲: بې دينه او مکار عالم، بعضو ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي عقاب ورسره دی نو دليل يي دا دي چي عمر به يي زيات سي.

الوئي \ آلوبخارا \ الوچه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي سره ياتوره الوبخارا په خپل وخت ووينې نو دا دمال اومراد دليل دی او ژړه الو بخارا دناجوړي دليل دی او که ووينې چي الو بخارا ژړه سره يا توره ده او خوږه ده او پخپله يي واخلي يا يې څوك ورکړي او ويې خوري نو دليل يي دا دي چي مال اومراد به پيدا کړي او که په خوب کي ژړه الو بخارا بې موسمه وخوري نو دا دغم فکر مصيبت او دجنګ دليل دی او که تروه وي نو ښه دی.

امامت کردن \ امامت کول

که څوك په خوب کي ووينې چي دقوم امام دی اوحالانکي امام نه وو نو دليل يي دا دي چي دهغه قوم سردار به سي او ټول خلک به يي فرمانبرداره سي لکه څنګه چي مقتديان په لمونځ کي دامام تابعداره وي اوکه ووينې چي يو ټولګي دلمونځ لپاره تيار دی او ده ته يي وويل چي زمونږ امام سه او پاچا دده دامام کيدو حکم ورکړو او دی مخکي سو او امامتي يي وکړه نو دليل يي دا دي چي ددغه ملك حاکم او امير به سي او دهغوي سره به په هغه اندازه عدل او انصاف کوي څومره چي دقبلي صحيح والي او په لمونځ کي درکوع او سجدو باقاعدګي ده او که ووينې چي په لمونځ سره يي دڅه شي نقصان کړيدی نو دليل يي دا دي چي په قدر دنقصان دلمونځ به پر ده ظلم او داسي نور کوي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك يه خوب کي ووينې چي په ناستي امامتي کوي نو دليل يي دا دي چي ناجوړه به سي او که په اړخ وي او دلمونځ څه شي يي ووايه نو دليل يي دا دي چي ژر به مړسي او خلک به يي دجنازی لمونځ کوي او که امام په خوب کي ووينې نو دليل يي دا دي چي دامام دقدر اومرتبي برابر عزت او شرف به پيدا کوي او که ووينې چي امام ته يي ولايت ورکړيدی يا دامام سره کورته ته تللي دی يا ورته امام څه بخششي کړيده يا يي دامام سره ډوډۍ خوړلي ده نو دليل يي دا دي چي هغه قدر غم او فکر به ورته رسيږي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دامام سره په جهاد کي وو نو دليل يي دا دي چي په دولت او ولايت کي به دهغه سره شريك

سي اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي کوم شيان دامام څخه پخپل ځان کي زيات ووينې نو ولايت او بزرګي به يې زياته سي او څه چې پخپل امام کي کمي ووينې نو دهغه برابر به يې په مال او نعمت کي نقصان وسي، جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي امامتي کول په شپږو وجو وي. ۱: حکومت ۲: په عدل او انصاف سره پاچاهي ۳: علم ۴: نيك کار او اراده ۵: نفع ۶: ددښمن څخه امن. اوکه څوك په خوب کي ووينې چې دښځو امامتي کوي نو دليل يې دا دي چې پر ضعيفه خلکو به حاکم سي او که ووينې چې امام دآسمان څخه راکښته سويدی او دجماعت امام سويدی نو دليل يې دا دي چې پر دغه ځمکه دالله تعالی رحمت نازل سويدی او که دمړي جنازه وکړي نو دليل يې دا دي چې دپاچا څخه به حکومت پيدا کړي.

امرود \ امروت

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دامرود په خپل وخت کي خوړل چې شين او خوږ وي دحلال مال دپيدا کولو دليل دی او که امرود ژړ وي نو ناجوړه به سي او که موسمي نه وي او امروت ژړ يا سور وي اوخوږ وي نو ددي خبري دليل دا دي چې حلال مال به حاصلوي او که تريو اوبي خونده وي نو دغم دليل دی. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې شين اوخوږ امروت په موسم کي ليدل مراد حاصلول دی او که يې خوري نوبيا هم دنفعي دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي امروت خوړل په پنځو وجو دی ۱: حلال ۲: مالداري ۳: ښځه ۴: مراد حاصلول ۵: نفع، او که څوك ووينې چې پاچا امروت خوري نو دليل يې دا دي چې څونده يې چې خوړلي وي نو دهغي مطابق به ديو بزرګ سړي څخه نفع حاصلوي.

انار

دانيال عليہ السلام ويلي دی چې په خوب کي دانار ليدل مال دی ليکن دسړي پر همت باندي دی خاصکر کله چې يې پر وخت خوړلي وي يايې بې وخته خوړلي وي او که ووينې چې انار يې ددرختي څخه وشکوله او ويې خوړل نو دليل يې دا دي چې دښائسته ښځي څخه به نفع پيدا کړي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي خوږ انار مال جمع کول دی بعض اهل تعبير ويلي دی چې په خوب کي يوخوږ انار خوړل په يو زر درهمه دی چې بيا به يې حاصلوي او تريو انار غم او فکر دی او که دانار تريو والي يا خوږوالي نه پيژني نو دهغي تعبير دخوږ انار په ډول دی. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې خوږ انار دهغه په موسم کي خوري نو دليل يې دا دي چې زر درهمه به پيدا کړي يا کم از کم پنځوس درهمه به پيدا کړي يا ممکنه ده چې ددرهم پر ځاي به دينار حاصلوي تعبير بيانوونکي ته پکارده چې دخوب ليدونکي دهمت او قدر مطابق تعبير بيان کړي. او که ووينې چې په باران کي انار خوري که په وخت وي او که بې وخته وي خراب دی او دخوږ انار حکم په درميانه درجي دی. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې دانارو په موسم کي انار خوري که هغه مسافروي نو سفر به يې مبارك سي او که سوداګروي نو دهغه سامان او اسباب به خرڅ سي او ښه ګټه به يې وسي اوکه ووينې چې دخوږ انار داني يې پيدا کړي يا ورته چا ورکړيدی نو دليل

Maktaba Tul Ishaat.com

يي دا دي چي هغونده به ورته غم ورسيږي که دانارو وخت وي او که نه وي او که خوږ انار يا يي پوستکي او يا يي مغز وخوري نو دليل يي دا دي چي دټولو شيانو څخه به فائده پورته کوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي خوږ انار خوړل په دريو وجو وي ۱: مال به جمع کړي ۲: پرهيزګاره ښځه ۳: ښار به اباد سي ليکن تريو انار خوړل دغم سبب دی. اسماعيل اشعث رحمة الله عليه ويلي دی چي که پاچا ووينې چي انار ورسره دي نو دليل يي دا دي چي ښار يا ولايت به بيا حاصلوي او دغه حال درئيس هم دی او سوداګر ته به لس زره درهمه اوبازاري ته زر درهمه او فقير ته به لس درهمه يا يو درهم ملاوسي.

انجير \ انځر

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دانځر خوړل په موسم کي وي او که بي موسمه وي ښه نه دی او که ووينې چي انځر يي خوړلي دی يا يي جمع کړي دی يا ده ته چا ورکړيدی نو دليل يي دا دي چي غم او فکر به حاصلوي او ممکنه ده چي داسي کار به وکړي چي په هغه سره به پښيمانه سي. کرماني رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي ژړ انځر خوړل يا ليدل دناجوړي دليل دی اوتور انځر غم او فکر دی اوشين انځر پخپل وخت خوړل چي خوږ وي هيڅ نقصان نه ورکوي.

انجيل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که په خوب کي څوك انجيل وايي نو دليل يي دا دي چي پخپله به دالله دلاري څخه په باطله روان سي اوکه څوك په انجيل ويلو سره ووينې نو دليل يي دا دي چي هغه پر عيسائي مذهب دی لږ خير به ووينې او که زباني يي وايي نو دليل يي دا دي چي دالله جل جلاله څخه به باطل طرفته واوړي او دعيسايانو دوست به سي.

انداختن مردم \ د سړو غورزول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ده څوك راغورزولي دی نودليل يي دا دي چي پر دښمن به زړه ور اوبيباکه سي او که ووينې چي څوك يي په کانو ويشتلي دی نو دليل يي دا دي چي چا ته به سخته خبره کوي بعض اهل تعبيرو بيان کړيدی چي ددي دليل دا دي چي خلک به پر ده د زنا يا دګناه تهمت لګوي او که څوك ووينې چي په ټکر کي يي اچولي دی نو ددي هم دا دليل دی چي چا ته به سخته خبره کوي. اواهل تعبير ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي پر ده چا شکر بادام يا چيني اچولي دی که غورزولو والا معلوم وي نو دهغه څخه به هغونده بخښش حاصلوي او که نامعلوم وي نو هغونده به دچا څخه فائده حاصله کړي او که ده هم دخوراك شيان څارويو ته اچولي وي نو دليل يي دا دي چي خپل مال به جاهلانو ته ورکړي.

اندامها \ اندامونه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دقوم اندامونه زيات سويدی نو دليل يي دا دي چي دده خپلوان اواهل بيت به زيات سي او که ووينې چي اندامونه يي کټ

سويدی يا دبدن څخه را ايله سويدی نو دليل يي دا دي چي سفر به کوي او دده خپل به خوابدي سي او که ووينې چي خپل بدن يي پريکړی دی يا خراب سوي دی نو دليل يي دا دي چي خپل اهل بيت او خپلوان به يې په ښارونو کي پراته وي. کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي داسي ووينې چي دهغه دبدن څخه دغوښې ټکړه پري سوي وي نو دليل يي دا دي چي خير اونفع به ورته ورسيږي اوکه ووينې چي دده يواندام دبدن څخه جلا سويدی نو دليل يي دا دي چي دده دمال څخه به څوك په زور څه واخلي او که ووينې چي دخپل بدن څخه غوښه پري کوي او چرګ ته يي اچوي نو دليل يي دا دي چي دخپل مال څخه به چاته يوڅه وبخښي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کی ووينې چي دده دبدن يواندام دده سره خبري کوي نو دليل يي دا دي چي په خلکو کي به رسوا سي. دالله تعالی فرمان دی (قالوا انطقنا الله الذي انطق كل شيء، سورة حٰم السجدة: ۲۱) ترجمه: هغوی به وايي چي هغه ذات موږ ته ګويائي راکړيده چا چي هر شي ته ګويائی ورکړيده. او که ووينې چي دده دبدن يو اندام پر لاره ځي نو دليل يي دا دي چي داسي کار به وکړي چي په هغه به يي بروسه وي او که ووينې چي دده دبدن څخه څه جلا سويدی نو دليل يي دا دي چي دده په خپلوانو کي به څوك په سفر ځي او که ووينې چي دده اندامونه درد کوي نو دليل يي دا دي چي ناجوړه به سي او که ووينې چي مرغی دده دبدن څخه دغوښې ټکړه وړي ده نو دليل يي دا دي چي څوک به دده مال په زور واخلي او که ووينې چي د خپلي غوښې ټکړه يي مرغی ته اچولي ده نو دليل يي دا دي چي دخپل مال څخه به چا ته څه ورکړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي دده په اندامونو کي يواندام تباه سويدی نو دليل يي دا دي چي دی پر سمه لاره نه دی. فضيل رضی اللہ عنہ ويلي دی چي ما د حضور صلی اللہ علیہ وسلم په خدمت اقدس کي عرض وکړ چي اي دالله رسوله مايو ډير خراب خوب ليدلي دی حضور صلی اللہ علیہ وسلم وويل چي څه دي ليدلي دي ما عرض وکړي چي ما په خوب کي ليدلي دی چي خلکو ستاسو دبدن څخه يوه ټکره پريکړه او زما په غيږه کي يي اينبولي ده حضور صلی اللہ علیہ وسلم وويل چي دفاطمې رضی اللہ عنہا به زوي پيدا سي چي ستا په غيږ کي به لوي سي بيا يي بچي پيدا سو يعني حسين رضی اللہ عنہ او هغه دفضيل رضی اللہ عنہ په پرورش کي لوی سو.

انګبين \ شهد، شات

کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ګبين په مالونو کي غنيمت او په کارونو کي نيکي ده ځکه چي په دی کي د دردونو لپاره شفا او ګبين غټ رزق دی دالله تعالی فرمان دی (فيه شفاء للناس، سورة النحل: ٦٩) ترجمه: پدی کي دخلکو لپاره شفا ده. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي دګبين خوړل په دريو وجو دی ۱: حلال رزق ۲: نفع ۳: دواړه مراد حاصلول. او ګبين رزق دی چي بي منته رسيږي دالله تعالی فرمان دی (وانزلنا عليكم المن والسلوى، سورة البقرة: ٥٧) ترجمه: او موږ تاسوته من او سلوی را ليږلي دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

انګشتان \ ګوتي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي دراسته لاس پنځه ګوتی پنځه لمونځونه دی او دچپه لاس پنځه ګوتي زامن او ورونه دی. بعض اهل تعبيرو بيان کړيدی چي بته ګوته دسهار دلمونځ دليل دی او دشهادت ګوته دماپښين لمونځ او دمينځ ګوته دمازيګر لمونځ او ددي سره ګوته دمابنام لمونځ او کوچني ګوته دماخستن دلمونځ دليل دی. او که څوك په خوب کي ووينې چي د راسته لاس ګوته يي نسته نو دليل يي دا دي چي دهغه زوي يا ورور به مري او بعضي وا يي چي دهغه پر زوي يا ورور به سخت مصيبت راسي. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دلاس ګوتي يي ديو بل سره يو ځاي نه دی نو دا دتنګ دستی دليل دی او که ديو بل سره يو ځای وي نو دليل يي دا دي چي دهغه دزامنو او د ورور کار به سم سي او که ګوتی دمتې په ډول بندي کړل سوي ووينې نو دليل يي دا دي چي دده اودکور والو کار به يي درست سي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دهغه ګوته پرې سويده نو ددي خبري دليل دا دي چي دمال قوت به يي وي او که ووينې چي دشهادت ګوته يي پري کړيده نو دليل يي دا دي چي په فرض لمونځو کي کوتاهي کوي او که ووينې چي دمينځ ګوته يي پريکړی ده نو ددي خبري دليل دا دي چي ددغه ښار پاچا يا رئيس به مري. او که ووينې چي دمينځ ذګوتی سره خواته ګوته يي پري سويده نو دليل يي دا دي چي په مال کي به يي نقصان وسي او که ووينې چي کوچني ګوته يي پري سويده نو ددي خبري دليل دا دي چي لمسی به يي پيداسي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دپښو ګوتي په خوب کي ليدل د زينت او ارائش دليل دی او که دپښو ګوتي سختي اوقوي ووينې نو دليل يي دا دي چي واده به يي وسي او که ددي خلاف ووينې نو دده کار به اوس نه کيږي او که ووينې چي دپښو ګوتو ته يي تاوان رسيدلي دی چي ګرځيدلي نه سي نو دليل يي د ادی چي دمال په تلو باندي به ورته سخت غم ورسيږي او که دپښو ګوتي پري سوي ووينې نو دليل يي دا دي چي کار به يي خراب سی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دګوتو ليدل په شپږو وجو دي ۱: زوي ۲: وراره ۳: مزدور ۴: انډيوال ۵: طاقت ۶: پنځه لمونځونه، که څوك په خوب کي ووينې چي ګوتي يي را ايله سويدی يا پري سويدی نو دليل يي دا دي چي دخپلوانو او دکوروالاوو څخه به جلا سي او پخپله به هم پريشانه سي او که ووينې چي ګوته يي پري سوي ده نو دليل يي دا دي چي دده په کور والاوو کي به څوك مري خالد اصفهانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دهغه دغتې ګوتي څخه شيدي راوزي يا يي دشهادت دګوتي څخه وينه راوزي نو دليل يي دا دي چي دغه سړي به دخپلي خوانبي سره جنګ کوي او که په خوب کي ووينې چي دګوتي څخه يي اواز راوزي نو ددي خبري دليل دا دي چي دهغه په خپلوانو کي به خير کيږي.

انګشتري \ ګوتمۍ

دانيال عليہ السلام ويلي دی چي که څوك په خوب کي دګوتي صفت او نقش ووينې نو دليل يي دا دي

چي دمالك څخه به ورته خير او نيكي ورسيږي او كه ووينې چي چا ورته دمهر لپاره انګشتري ورکړيده نو دليل يې دا دي چي څه دده لائق وي ډير به پيداکړي يعني دانګشتري دقدر قيمت مطابق كه دپاچاهی لائق وي نو پاچا به سي او كه نه مال او دولت به پيدا كړي او كه ووينې چي په جماعت كي يا په لمونځ كي ياپه جهاد كي ورته چا انګشتري ورکړيده نو دليل يې دا دي چي دغه سړی به عبادت كوونكي او پرهيزګاره سي كه سوداګر وي نو په تجارت كي به نفع پيدا كړي وعلى هذاالقياس اوكه ووينې چي پاچا ورته انګشتري ورکړيده نو دليل يې دا دي چي په ملك كي به ورته پاچا څه ورکړي يا دپاچا په ملك كي به ده ته يا دده خپلوانو ته بدي رسيږي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي دده انګشتري ضائع سوي ده يا چا پټه کړيده او وړې يې ده نو دليل يې دا دي چي دده په كارونو كي به تكليف او ګراني ښكاره سي، اوكه ووينې چي دده انګشتري ماته سوه او غمی يې پاته سو نو دليل يې دا دي چي بزرګي به يې ښه سي او دده عزت دبدبه او رعب به قائم پاته سي.

او كه ووينې چي خپله انګشتري يې چا ته بخښلي ده نو دليل يې دا دي چي په خپل ملكيت كي څومره مال او دولت لري دهغي څخه به څه چا ته وبخښي او كه ووينې چي خپله انګشتري يې خرڅه کړيده او دهغه قيمت يې اخستي دی نودليل يې دا دي چي څه ورسره وي خرڅ به يې كړي اوكه قيمت يې نه وي اخستي نو دجائيداد څخه به يې څه حصه خرڅه كړي. كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي دده دانګشتري جوړښت ښه نه دی نو دليل يې دا دي چي دده په مال كي به څه وسي او پاچا به ورباندي په غصه سي او كه داوسپني انګشتري ووينې نو دليل يې دا دي چي دده مال حلال دی او كه دسرو زرو انګشتري ووينې نو دليل يې دا دي چي دده مال مكروه اوحرام دی اوكه داوسپني انګشتري ووينې نو څه چي دده سره دی لږ اوذليل دی اوكه انګشتري داوه سيكو يا داوسپينی دكلايي وه نو دا دمال لږ كيدو دليل دی او كه ووينې چي دده انګشتري دسرو زرو ده نو ددي خوب تعبير دټولو څخه خراب دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي دده انګشتري د اوسپني ده نو دليل يې دا دي چي قوت او طاقت به پيدا كړي او كه دتانبي يا دسيكي وي نو دليل يې دا دي چي دبي اصله خلكو څخه به فائده پورته كړي او كه دشيشي انګشتري ووينې نو دليل يې دا دي چي دعامو خلكو څخه به ورته څه ملاو سي اوكه دچاندي انګشتري ووينې نو ديوخوا څخه به ورته ملاو سي. او كه ووينې چي ده خپله انګشتري دچا سره امانت ايښي ده يا يې بخښلي ده او هغه ورته هم انګشتري واپس ورکړيده نو دليل يې دا دي چي دنكاح لپاره به ښځه غواړي اوهغه به يې قبول نه كړي او نه به يې ورکړي او كه ووينې چي خپله انګشتري يې ماته کړيده نو دليل يې دا دي چي دهغه په عيال كي به جدائي راځي. اوكه ووينې چي دده دانګشتري دوه غميان دی چي ده ته چا ورکړيدی او دواړه غميان ديو بل مطابق دی نوددي خبري دليل دا دي چي خوب ليدونكي د غلام زوی دی او كه ووينې چي ددوو غميو نه يو را ا يله سويدی نو ددی خبري دليل دا دي چي په دوو ګناهونو كي يې ديوه څخه توبه کړيده اوكه ووينې چي پر ليكل

Maktaba Tul Ishaat.com

سوي خط يي په انګشتری سره مهر لګوي نو دليل يي دا دي چي پټ شي به ورته ملاو سي اوکه ووينې چي پر خلاص خط يي مهر لګوی نو دليل يي دا دي چي ښکاره شي به ورته حاصل سي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي داوسپني انګشتري ليدل په څلورو وجو وي. ۱: سلطنت ۲: ښځه ۳: زوي ۴: مال او دولت، او دسرو زرو انګشتري ښه ده، که ښځه ووينې چي انګشتري دغمي سره ضائع سويده نو ددي خبري دليل دا دي چي دهغي عزت او مرتبه به ختمه سي يا به زوي مړ سي يا به يي مال ضائع سي که حاکم وي نو معزول به سي او که ښځه داسي خوب ووينې نو دهغي خاوند يا زوي به مړ سي.

انګور

دانيال عليه السلام ويلي دي چي پخپل موسم کي په خوب کي تور انګور خوړل دغم اوفکر دليل دی اوبي وخته خوف اوبيره ده اهل تعبير بيان کوي چي دتورو انګورو دهري خوړل سوي داني په شمار به دی په لرګو وهل کيږي او دسپينو انګورو پخپل وخت خوړل دامید څخه زيات ددنيا خير او مال دی او دبي موسمه خوړلو دليل دا دي چي دخوب ليدونکي دخولي څخه به څه شي راوزي ددي دليل مال خرڅول دی او دسرو انګورو خوړل هم دغه دليل دی. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب دسپينو انګورو په موسم کي خوړل دمال او دولت دليل دی ليکن په محنت سره به ورته ملاويږي او سور انګور په موسم کي خوړل دلږ نفع دليل دی دکومو انګورو پوستکي چي سخت وي دهغه په خوب کي خوړل دمال دليل دی چي په مشکله به ورته ملاويږي اودبزي پوستکي والا انګور دحلال مال دليل دی او دکوم انګور اوبه چي توري وي دهغه خوړل دحرام مال دليل دی اوکوم انګور چي په ليدوکي سره وي دعزت او دمرتبي دليل دی او کوم انګور چي په ليدو کي تور وي دغم اوفکر دليل دی او کوم انګور چي خوږ او پاک وي دمال مرتبی او دزيات عزت دليل دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي انګور دلرګي په مشين نښتيځل سوي وي نو دليل يي دا دي چي دظالم پاچا خدمت به کوي اوکه په خښته ياخټه يي نښتيځلی وي نودليل يي دادي چي ددينداره پاچا خدمت به کوي اوکه په پخي خښتي ياپه شيشه اوکانې اوچوني سره يي نښتيځلی وي نو ددبدبي او رعب والا پاچا خدمت به کوي. او که ووينې چي انګور په تالي کي نښتيځلی وي نو ددي خبري دليل دا دي چي دمالداري ښځي خدمت به کوي اوکه ووينې چي په پياله کي انګور نښتيځلي وي نو دليل يي دا دي چي دبد اخلاقه سړی خدمت به کوي. او که شيره نښتيځلی وي او په چاټيو کي يي جمع کوي نو دليل يي دا دي چي دپاچا په ذريعه به دځان لپاره ډير مال جمع کړي او که دکوروالاو سره انګور نښتيځلي وي نو دليل يې دا دي چي ده ته او دده عيال ته به دپاچا دخدمت څخه فايده حاصله سي او که خوب ليدونکي دپاچا دخدمت لائق نه وی نو بيا به ورته دبل امير يا حاکم څخه فائده حاصله سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي دتورو انګورو او سپينو په وخت او بي وخته په خوب کي ليدل په درو وجو دي ۱: نيک زوي ۲: دفرائضو علم (علم ميراث) ۳: حلال مال. دايي هم ويلي دی چي دانګورو نښتيځل هم په دريو وجو دي ۱:

مال يا خير او برکت ۲: دنعمت فراخي ۳: دقحط څخه امان حاصلول دالله تعالى فرمان دى (عام فيه يغاث الناس وفيه يعصرون، سورة يوسف: ٤٩) ترجمه: کامل دى چي په دي کي به خلک فرياد ته رسيږي او په دى کي به ننښتيځل وي.

افتادن \ راايله کيدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چي که څوك په خوب کي ووينې چي پر خله رايله سويدى نو دا دپريشاني دليل دى خاصکر که هغه په جنګ کي وي او که ووينې چي ديوځاى څخه را ايله سويدى مثلا دغره يا بالا خاني يا ديوال څخه نو دليل يې دا دي چي ارمان اومراد به يې پوره نه سي. کرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چي که څوك په خوب کي ووينې چي ديو ځاي څخه را ايله سويدى نو دليل يې دا دي چي اميد به يې پوره نه سي او که دغر څخه کښته را ايله سوي وى نو دليل يې دا دي چي درا ايله کيدو مطابق به بدحاله سي او بدن ته به يې تکليف ورسيږي او که ووينې چي سخت زخم ورته رسيدلي دى او ديو اندام څخه يې وينه راوتلي ده نو دليل يې دا دي چي دزخم مطابق به ورته نقصان ورسيږي. او که ووينى چي پښه يى وښويده او را ايله سو نو دليل يې دا دي چي غم او تکليف به ورته ورسيږي او که ووينې چي را ايله سوى دى او تکليف ورته ندي رسيدلي نو دا دآساني او دسهولت دليل دى. او که خوب ليدونکي ووينې چي دکور د درشل څخه مار يا لړم يا څه بل يو خوړونکي حيوان را ايله سي نوددي خبرې دليل دى چي هغه ته به دپاچا څخه يا دحاکم څخه غم او تکليف رسيږي. او که ووينې چي بالا خانه يا ديوال پر ده را ايله سويدى نو دليل يې دا دي چي ده ته به مال دداسي ځاي څخه ملاو سي دکوم ځاي څخه چي يې اميد نه وي او پدي وجه به ډير خوشحاله سي او کار به يې روان سي او الله تعالى ښه پوهيږي.

[ب - پ]

بادام

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چي په خوب کي بادام ليدل نعمت او روزي ده ليکن په جنګ سره به حاصله سي او که په خوب کي يې بادام حاصل کړه نودهغه په اندازه نعمت او روزي به ورته په محنت سره ملاو سي. او اهل تعبير بيان کوي چي په خوب کي دبادام تعبير علم دى او دناجوړې څخه شفا ده او دبادام مغز ليدل غوره دى. کرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چي که څوك په خوب کي ووينې چي دپوستکي سره بادام ورسره دى يا چا ورکړيدي نو دليل يې دا دي چي دبخيل سړى څخه به يو شي په سختى سره پيداکړي اوکه ووينې چي دبادام دمغز څخه يې ترخه تيل را ايستلي دى نودليل يې دادي چي دکنجوس سړى څخه به ورته دهغه تيلو دانداز مطابق فائده ورسيږي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چي په خوب کي بادام ليدل مال او نعمت دى ليکن که بادام دپوستکي سره ووينې نو دليل يې دا دي چي مال او دولت به ورته په آساني سره ملاو سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چي په خوب کي بادام ليدل په دوو وجو دي ۱: پټ

Maktaba Tul Ishaat.com

مال به ورته حاصل سي ۲: دناجوړي څخه به شفا حاصل کړي.

پاچا

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي په دولسو شيانو کي يو شي ليدل دپاچاهي دليل دی اول که ووينې چي حضور ﷺ دی امام کړيدی دوهم که و وينې چي علم شريعت يي قبول کړي وي دريم چي پيغمبر ﷺ مبارك دځان سره ووينې چي داقامت او لمونځ په انتظار کي دی څلورم چي د حضور ﷺ پر منبر يي خطبه ويلي وي پنځم چي دنبی ﷺ کالي يي په خوب کي اغوستي وي شپږم چي ګوته په لاس کي ووينې اووم که ووينې چي لمر او سپوږمي سوي دی اتم که ووينې چي بدن يي درياب سويدی نهم که ووينې چي سترګي يي دښار ديوالۍ سوي دی لسم که ووينې چي سترګي يي دجامع مسجد محراب سويده يولسم چي مړ سوي پاچا ګوتمی ورکړيده دولسم ګوتمی په خوب کي ليدل دپاچاهی اودسلطنت دليل دی. دانيال عليه السلام ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي پاچا ورته کالي او ټوپی ورکړيده نو دليل يي دا دی چي پرخپلو خلکو به حاکم اورئيس سي او که ووينې چي دپاچا پرسر پاك تاج دی نو دا دپاچا دشرافت مرتبي او دډير عمر دليل دی او که ووينې چي د پاچا پر سر خيرين او څيري تاج دی نو دا دپاچا دخراب حالت دليل دی او که څوك په خوب کي ووينې چي د پاچاه سر پټو دي لکه څنګه چي به دنبی ﷺ په زمانه مبارکه کي داصحابو کرامو پر سر و نو دليل يي دا دي چي پاچا به عادل او منصف وي او که ووينې چي پاچا هوا نيولي ده اوهوايي فرمانبرداره سويده نو دليل يي دا دي چي ملکونه به فتح کړي او په ارام به سي او که څوك په خوب کي ووينې چي پاچا سويدی نو دليل يي دا دي چي مالدار به سي او که په خوب کي ووينې چي پاچا کوڅي يا سراي ته راغلي دی او دهغه راتلل په زاری او انکار سره وي نو دليل يي دا دي چي دهغه ځاي خلکو ته به دپاچا دطرف څخه غم اوفکر رسيږي. دالله تعالی فرمان دی (ان الملوك اذا دخلوا قرية افسدوها وجعلوا اعزة اهلها اذلة، سورة النمل: ٣٤) ترجمه: کله چي پاچا يوکلي ته داخليږي نوهغه خرابوي اودهغه ځاي مشران ذليله کوي. اوکه ووينې چي دپاچا په تللو سره څه خرابي نه ده سوي نو دليل يي دا دي چي دهغه ځاي خلکو ته به هيڅ قسم نقصان نه وي. کرمانی رحمه الله ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي پاچا مړ سو اوچا دفن نه کړي اونه ورپسي چا وژړل او نه يي کفن او جنازه ورته ورکړه نو دليل يي دا دي چي دده کور به خراب سي او زړه به يي فکرمند اوناجوړه سي. او که پاچا په خوب کی ووينې چي کعبه دده کور دی يا دده کور کعبه ده نو دليل يي دا دي چي هغه پاچا ته به زوال نه وي او ددښمن څخه به په امن وي او که ووينې چي ده چا ته سلام وکړو يا ده ته چا سلام وکړو نو دغم اوفکر څخه دپه امن کيدو دليل دی اومراد ته به ورسيږي دالله تعالی فرمان دي (سلام عليكم طبتم فادخلوها خالدين، سورة حٰم السجدة: ٧٣) ترجمه: پر تاسو دي سلام وي اودي ته داخل سی او همیشه خوشحاله اوسی او که پاچا په خوب کي ووينې چي دده لاس رسی ده يا دده په لاس کي رسی ترلي ده نو ددي دليل دا دي چي

پر صحيح لار به ځي او دعدل او انصاف په طريقه به قائم سي. دالله تعالى فرمان دى (واعتصموا بحبل الله جميعا، سورة آل عمران: ۱۰۳) ترجمه: تاسو ټول دالله رسى ونيسي. جابر مغربي رحمة الله عليه ويلي دى چي كه څوك په خوب كي خپل ځان دباچا سره نزدي بزرګ ووينې نودليل يي دا دي چي مقرب پاچابه سي او كه پاچا په ښه جامو كى په داسي كور يا كوڅه كي ووينې چي دده طرفته منسوب وي نو دا دپاچا دملاقات بزرګي ولايت عزت مرتبه دبدبي او ډيرو نوكرانو او فامل او خزانو دليل دى او كه پاچا نقصان ووينې نو ددي تعبير داولنى خلاف دى. كرمانى رحمة الله عليه ويلي دى چي كه پاچا نسكور پروت وى نودليل يي دا دي چي پاچاهي به يي ختمه سي او كه پاچا ووينې چي په مځكه كي ننوتلي دى نو دليل يي دا دي چي ديو سړي څخه به دپاچا عزت او حرمت زيات سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چي كه خوك پاچا ورين تندى او خوشحاله ووينې نو دليل يي دا دي چي كار به يي فراخ سي او كه څوك دپاچا وزير په خوب كي ووينې نو دليل يي دا دي چي داسي كار به كوي چي ژر به درست سي او كه شاهى دربار ووينې نو دليل يي دا دي چي دكارونو څخه به منع سي او اخر به مراد ته ورسيږى او كه دپاچا ملک ووينې نو دليل يي دا دي چي دچا څخه به ورته ملامتيا ورسيږى او كه شاهى ملازمان ووينې نو دليل يي دا دي چي دده شغل او عمل به سم سي او كه دپاچا مددګاران او ملګري ووينې نو دليل يي دا دي چي دي به څوك ملامت كړي او دده ضائع سوى مال به بيا ورته ملاو سي او كه دوكيل نوكران ووينې نو دليل يي داد چي څوك به يي ملا كړي او دبدو كارونو څخه به عاجز سي. او كه دپاچا پرده ووينې نو دليل يي دا دي چي دده بند كارونه به خلاص سي او كه دپاچا دښځي برقعه ووينې نو دليل يي دا دي چي څوك به ورسره ددرواغو وعده كوي او كه دپاچا قيديان ووينې نو دليل يي دا دي چي مراد به ورته ژر حاصل سي او كه دپاچا منشي ووينې نو دليل يي دا دي چي په يوشى پسي به ګرځي هغه به بيا حاصل كړي او كه دپاچا اسلحه ووينې نو دليل يي دا دي چي دښځي څخه به نفع پيدا كړي او كه شاهى نوكر ووينې نو دليل يي دا دي چي سخت درواغ اوبي فائدي خبره به واوري او كه شاهي دربار ووينې نو دليل يي دا دي چي غم اوفكربه ورته ورسيږي. اوكه شاهى لباس والا ووينې نو دليل يي دا دي چي دهغه كار به په ښه شان سره وسي او كه شاهي ليكونكي ووينې نو دليل يي دادي چي دغه سړي ته به دښځو څخه فايده حاصله سي او كه شاهى فوجي مشر ووينې نو دليل يي دا دي چي خوشحاله به سي اومال به ورته حاصل سي، اسماعيل بن اشعث رحمة الله عليه ويلي دى چي كه څوك په خوب كي ووينې چي پاچا ښارته راغلي دى او پرښار يي غلبه كړيده نو دليل يي دا دي چي پر دي ښار به آفت راسي او كه په خوب كي پاچا په خپل كور كي بيده سوي ووينې نو دليل يي دا دي چي پاچا ته به ضرورت وي او دي به په يو كار لګوي.

پاتيله \ پتيله

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب كي پتيله ليدل دكور ښځه ده او كه ووينې چي نوي

Maktaba Tul Ishaat.com

پتيله يي اخيستي ده يا چا ورکړيده نو دليل يې داد چي کورودانې ته به يي افت ورسيږي. ابراهيم رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي په پتيله کي دخوراک يو شي دی نو دليل يي دا دي چي ده ته به دکور دبيګم څخه خير اونفع ورسيږي او که ووينې چي په پتيله کي دخوراک يو خراب شي دی نو دليل يي دا دي چي دکور ودانې څخه به ورته ضرر رسيږي. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کی پتيله ليدل دتوجه قابل شي نه دی.

باد \ هوا

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي سخته هوا چليږي نو دليل يي دا دي چي ملك والاوو ته به خوف او بيره وي او که هوا دونه ووينې چي درختي دبيخه څخه باسي او خرابه وي نو دليل يي دا دي چي دغه ملک والاوو ته به دطاعون مرض او په سرخي مرض سره بلا او مصيبت راسي. کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي ګرمه هوا ليدل دسختو ناجوړيو دليل دی او معتدله او برابره هوا په خوب کي ليدل په دغه ملك کي دسختو ناجوړيو راتلو دليل دی او معتدله هوا ددغه ملک دخلکو د صحت تندرستي اوپر ښه کسب دليل دی. او که ووينې چي هوا يي ديو ځاي څخه بل ځاي ته وړي نو دليل يي دا دي چي دليري ځاي سفر به کوي او په دغه سفر کي به دهوا اخوا ديخوا والا مطابق مرتبه او بزرګی پيدا کړي او که ووينې چي هوا د دوړي اوتياري سره ده نو پر دغه قوم دبيري راتلو ګمان دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک ووينې چي سختي دهوا آسمان طرفته وړي دی نو دليل يي دا دي چي دهغه مرګ نزدی دی او که ووينې چي هوا دآسمان څخه مځکي ته راوړي دی نودليل يي دا دي چي ناجوړه به سي اوپه اخر کي به صحت او شفا پيدا کړي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي هوا په خوب کي ليدل په نهو وجو وي. ۱: زيری۲: حکومت ۳: مال او دولت ۴: مرګ ۵: عذاب ۶: وهل ۷: ناجوړي ۸: شفاء ۹: راحت. او که څوک په خوب کي ووينې چي په هوا ناست دی نو ددي خبري دليل دا دي چي بزرګي او حکومت به پيدا کوي، اسماعيل اشعث رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي دمغرب هوا نرمه نرمه چليږي نو دليل يي دا دي چي ددغه ملك خلکو ته به مال او نعمت زيات حاصل سي او که دشمال دطرف څخه هوا نرمه نرمه چليږي نو دا د دغه ملك پر شفا اوراحت دليل دی او که ددي خلاف ووينې نو ښه نه دی که په خوب کي ووينې چي دهوا اواز اوري نو دليل يي دا دي چي په دغه ملك کي به دپاچا او دسردار خبر ښکاره سي اوکه ووينې چي هوا ددغه ملك خلک پورته وړي دی نو دليل يي دا دي چي دغه خلک به شرف او بزرګي حاصله کړي.

بادرها کردن \ باد اچول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي دخلکو په جمع کي يي باد اچولي دی اوخلکو يي اواز اوريدلي دی نو دليل يي دا دي چي داسي خرابه خبره به کوي چي خلک به افسوس باندي کوي اوپه دی وجه به په خلکو کي رسوا سي. او که ووينې چي باد يي واچوي خو خلکو يي اواز نه دی اوريدلي نو ددي تعبير داولني خلاف دی او که دا خوب سړی

وويني نو دليل يي دا دي چي خوشحالي به ورته حاصله سي. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي وويني چي باد يي پري سويدی او دهغه تيز اواز او بوی ولاړي نو دليل يي دا دي چي داسي کار به وکړي چي خلک به يي ملامتوي او په درد به ورته وايي او که وينې چي اواز يي سته ليکن بوی يي نسته نو دليل يي دا دي چي بي فايدي کاربه کوي ليکن په دی کي به يي خير وي او که وويني چي پخپله ارادي سره يي باد اچولي دی اوخلکو ورپوري وخندل او دي شرمنده سو نو دليل يي دا دي چي په بي کاره کار سره به يي ژوند جوړ سي.
جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي باد اچول په څلورو وجو دی ۱: خرابه خبره ۲: ملامتيا او پيغور ۳: دملامتيا کار ۴: رسوايي، او که څوك وويني په خوب کي چي هوايي دنس څخه په ارادي سره را وايستله نودليل يي دادي چي هغه سړي به بي دينه اوبي مذهبه وی.

بادروک \ بادرنګ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي وويني چي بادرنګ خوري نو دليل يي دا دي چي دهغه کار به پوره سي او مراد به يي حاصل سي حضور ﷺ ويلي دی چي (ما اطيبك وما اطيب ريحتك) ترجمه: ته څومره پاك يي او ستا خوشبويي څومره ښه ده. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دبادرنګ په خوب کي خوړل په درو وجو وي ۱: حاجت پوره کيدل ۲: مراد پيدا کول ۳: دغائب زيارت کول.

بادريسه \ د څرخي پرکی

کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ښځه ووينی چي دځرخي پرکی يي حاصل کړيدی ياچا ورکړيدی نو دليل يي دا دي چي مينځه يا خادمه به ورته ملاو سي او که ښځه وويني چي دهغه دځرخي دتکلي څخه پرکی را ايله سويدی نو دليل يي دا دي چي دهغې محبت به دخاوند څخه ختم سي.

باذنجان \ تور بانجن

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تور بانجن خوړل که په موسم کي وي او که بي موسمه او که پوخ کړي يي وخوري او که اوم يي وخوري تازه وي او که وچ څومره چي يي وخوري هغونده غم اوفکر به لوړ کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي وويني چي دده سره ډير توربانجن دی ليکن ټول يي خرڅ کړيدی يا يي چاته بخښلي دی يا يي دخپل کور څخه دباندي اچولي دی او خوړلي يي نه دی نو ددی خبري دليل دا دي چي دغم او تکليف څخه به خلاصون حاصل کړي.

بار کشيدن \ بار پورته کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي وويني چي دده پر ملا سپك بوج دی نو دليل يي دا دي چي دهغه مطابق به ورته فائده وی او که پر ملا يي دروند بوج وی نو دليل يي دا دي چي دده ګناهونه ډير زيات دی دالله تعالي فرمان (ليحملوا اوزارهم كاملة يوم القيامة، سورة

Maktaba Tul Ishaat.com

النحل: ۲۵) ترجمه: هغوی به دخپلو ګناهونو بوج پوره دقیامت په ورځ لوړوي. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي ډیر بوج لري او په دي پوهیږي چي دا دده ملکیت دی نو دلیل یي دا دي چي دبوج دجنس مطابق به ورته فائده یا نقصان یا بدي رسیږي. او که ووینې چي دبوج پخپله مالك نه دی نو بیا به هم ددغه نیکي اوبدی دخوب لیدونکي طرفته رجوع کوي.

باران

دانیال علیہ السلام ویلي دی چي په خوب کي باران دالله تعالی دطرف څخه پر بندګانو رحمت اوبرکت دی کله چي عام باران وي او هرځاي ته ورسیږي دالله تعالی فرمان دی (وهو الذي ینزل الغیث من بعد ما قنطوا وینشر رحمته، سورة الشوری: ۲۸) ترجمه: او الله هغه ذات دی چي دنا امیدي څخه وروسته هم باران اوروي او خپل رحمت خپروي. او باران پر وخت لیدل ډیر ښه دی او خاصکر کله چي خلک باران غواړي نو ډیر ښه دی لیکن که سخت باران صرف پخپله کوڅه کي ووینې چي ددي ځاي څخه علاوه بل ځاي نه وي سوي نو دا ددغه ځاي پر خلکو باندي دخیر او برکت دلیل دی او که ووینې چي په اول کال یا په اوله میاشت باران اوریږي نو دلیل یي دا دي چي په دغه کال او په دغه میاشت به دنعمت فراخي زیاته وي او که ووینې چي باران سخت او تور دی نو دا دناجوړي دلیل دی چي په هغه کي به هلاک سي. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي سخت باران ووینې چي پرخپل وخت اوریدلي وي نو دلیل یي دا دي چي په دغو ورځو کي به دغم اومصیبت لښکر راځي. او که ووینې چي دباران په اوبو مسح کوي نو دلیل یي دا دي چي دبیري او غم څخه به په امن کي سي او که په خوب کي ووینې چي باران دده پر سر اوریږي نو دلیل یي دا دي چي په سفر به ځي او دخیر اونفعي سره به بیرته راځي. او که څوك ووینې چي باران دخلکو پر سرونو دطوفان په ډول اوریږي نو ددي خبري دلیل دا دي چي په دغه ملك کي به خداي دی نه کړي ناڅاپي مرګ راځي او که ووینې چي دباران دهر ډاډکي څخه اواز راځي نو دلیل یي دا دي چي دده دمرتبي او عزت اواز به زیات سي او که څوك په خوب کي ووینې چي ډیر زیات باران اوریږي او ټول نهرونه جاري سویدی او ده ته ځني څه نقصان نه دی رسیدلي نو دلیل یي دا دي چي پاڅا به سختي کوي او خوب لیدونکي به دهغه دشر څخه محفوظ وي او که ووینې چي دنهرونو څخه نسي تیریدلاي نو دلیل یي دا دي چي دپاڅا شرارت به دځان څخه لیري کړي. او که ووینې چي اوبه دهوا څخه دباران په ډول راځي نو دلیل یي دا دي چي دالله تعالی عذاب او ناجوړي به په دغه ځاي کي ښکاره سي. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که دباران پرځاي ګبین اوریدونکي ووینې نو دلیل یي دا دي چي نعمت اوغنیمت به په دغه ملك کي زیات وي او چي څه شي دآسمان څخه اوریدونکي ووینې نو دهغه تعبیر دهغه شی دجنس څخه دی اوکه ووینې چي دباران اوبه چنبي او درختي پاکي دی اورنې وي نو دلیل یي دا دي چي ده ته به دهغونه خیر او راحت رسیږي او که ووینې چي دباران اوبه توري او

بي خونده دی نودليل يي دادي چي هغونده اندازه غم اوناجوړي به ورته رسيږي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي باران ليدل په دوولسو وجو دی ۱: رحمت ۲: برکت ۳: فرياد کول ۴: غم اوناجوړي ۵: بلا جنګ ۷: قتل کول ۸: فتنه ۹: قحطی ۱۰: امن حاصلول ۱۱: کفر ۱۲: درواغ.

بارانی \ برساتي کوټ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي دده پر بدن کوټ دی او دي دپاچا په خدمت کي دی نو دليل يي دا دي چي دده نيک کار اوښتا او صفت به په خلکو کي ښکاره سي او که کوټ يي دجامو پر ځاي په بدن وي نودليل يي دا دي چي ده ته به په دين او دنيا کي فائده حاصله سي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي کوټ دوړی يا دپمبي دی او شين رنګ يي دی نو دا دښه والي دليل دی ليکن ژړ کوټ دغم او ناجوړي دليل دی او که کوټ آسماني رنګه وي نوبيا دګناه او دنافرمانی دليل دي او که سپين وي نو ده ته به ديوځاي څخه خير اونفع رسيږي.

باروئی \ د فصيل مناري

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دښار قلعي اودکلي دفصيل مناري پر پاچا يا پر والي دليل دی او اهل تعبير بيان کړيدي چي دښار مناري پر پاچا او دکلي مناري دکلي پر مالك دليل دی که دښار مناري مضبوطی او لوړی ووينې نو دا دپاچا پر قوت اونيکی دليل دی او که ووينې چي دښار مناري خرابي سويدی که ټولي را ايله وي نو دا دپاچاهي دهلاک کيدو دليل دي اوکه لږ را ايله وي نو دښار حاکم به مري او که نوي جوړ سوي ووينې نودليل يي دا دي چي نوي پاچا به په ښار کي مقيم سي او که بعضي جوړي سوي وي نو نوي حاکم به په ښارکي مقيم سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي کومي مناري ښار ته نزدي وي دهغه ليدل دعيش او امن دليل دی او کومي چي دښار دشا طرف ته وي نوهغه چي څنګه ووينې دهغه ښه او بد اثر به پر ليدونکو راسي.

باز

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که چا په خوب کي وليدل چي باز يي نيولي دی يا چا ورکړي دی او باز تابعدار دی يعني پر لاس يي ناست دی نو دادعزت د رتبي اودقدر دزياتوالي دليل دی. او که ووينې چي سپين باز دده پر لاس ناست دی نو دليل يي دا دي چي دپاچا څخه به عزت او مرتبه پيدا کړي او که ووينې چي باز دده دلاس څخه ايله سو او مړ سو نو دليل يي دا دي چي دمرتبي څخه به را ايله سي او تنګ دسته به سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي سپين باز پيدا کړي او دي دپاچا په نوکرانو کي وي نو دپاچا څخه به ولايت او مرتبه پيدا کړي او که په رعاياوو کي وو نو ډير مال به پيدا کړي او که ووينې چي چا ورته باز بخښلي دی نو دليل يي دا دي چي دده به دپاچا سره ملګرتيا جوړه سي او خير اونفع به ځني حاصله کړي او که ووينې چي باز وتښتيدي او کورته ولاړي او دښځي ترلمني لاندي پټ

Maktaba Tul Ishaat.com

سو نو دلیل یي دا دي چي ددغه ښځي به ښائسته هلك پیداسي او که ووینې چي دباز په پښو کي دسرو او سپینو زرو جهانجیر دی نو دلیل یي دا دي چي ددغه ښځي به انجلی پیداسي . جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي باز یي پیدا کړیدی او مړ دی نو دلیل یي دا دي چي که دی دپاچا دنوکرانو څخه وی نو دخپلو کارو څخه به معزول سي او که دپاچا نوکر نه وي نود کوروالاو څخه به ورته غم او تکلیف ورسیږي او که ووینې چي باز دده دلاس څخه والوتي او بیرته رانغلي که داخوب پاچا ووینې نو دلیل یي دا دي چي دده دلاس څخه به پاچاهي ولاړه سي اوکه باز بیرته راغلي اوده پر لاس کښنستي نو دلیل یي دا دي چي ملك اوقدر به پیدا کړی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي باز دده تابع دی نوددي تعبیر په پنځو وجو دي. تابعداري ۲: خوشحالی ۳: زیري ۴: فرمان ۵: مراد حاصلول او مال په قدر دقیمت دباز حاصلول، که چیري باز سپین اوتابع وي نو دوه زره درهمه به ورته حاصل سي او که تابع نه وی نو ددي تعبیر په څلورو وجو دی ۱: ظالم پاچا ۲: حاکم چي دبدی طرفته به مائل وي ۳: خیانت کوونکی فقیه ۴: زوی چي دمور او پلار نافرمانه وي.

بازو \ مټې

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي ورور یا زوی یا اعتبار دوست یا شریك دی که په خوب کي ووینې چي مټي مضبوطی دی نو ده ته به دهغوی څخه قوت اوفائده ورسیږي او که ددي خلاف ووینې نو ده ته به دهغوی څخه هیڅ قسم فایده نه وي او که ووینې چي دده مټ را ایله سویدی یا چا ځني پري کړي دی نو دلیل یي دا دي چي دده ورور یا ملګري یا شریك به ددنیا څخه رحلت وکړي یا به دده څخه جدائی تلاش کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي مټ لیدل په شپږو وجو دي ۱: ورور ۲: زوی ۳: شریك ۴: لاس ۵: دتره زوي ۶: همسایه.

بازوبند \ د لاسونو پټې

ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي دده په لاس دسروزرو بازو بند دی نو دلیل یي دا دي چي ده ته به دورونو څخه یا دبل چا څخه نفرت او غم رسیږي او که بازوبند داوسپنی وي نو دلیل یي دا دي چي دده دلور یا دخورزي واده به کیږي. او که داخوب ښځه ووینې نو دا دمال نعمت او زینت دلیل دي او که ووینې چي بازو بند دچاندئ یا داوسپني دی نو دلیل یي دا دي چي ده ته به دورونو څخه قوت او مدد حاصل سي او که ووینې چي بازو بند مات سو یا ضائع سویدی نوددي تعبیر د اولني خلاف دی.

پاسداشتن \ چوکیداري کول

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي پیره کول په دوو وجو ده. که ووینې چي دنیکو خلکو پیره ده نو دا ددواړو جهانونو په خیر او نفع دلیل دی او که ووینې چي دپاچا دمحل چوکیداري کوي نو دلیل یي دا دي چي دپاچا څخه به خیر او فایده حاصلوي او که دا خوب سوداګر ووینې نو په تجارت کي به ورته ډیره فائده وي او که ووینې چي دنیکو او پرهیزګارو

خلکو حفاظت کوي نو دليل يي دا دي چي دهغوی څخه به ددنيا نفع او خير ووينې او په خوب کي محافظ ليدل دقدر مرتبي او دولايت خاوند کيدل دی او کارونه به درست کړي او خلک به دده په انتظام کي وي.

پاشنه بائي \ د پتوګيټي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دپښو ګيټي ليدل دکار وبار په انتظام او دسړي په ګټه دليل دی او که ووينې چي ګيټي يي ماته سويده نو دليل يي دا دي چي په داسي کار به مشغول سي چي په هغه سره به ورته پښيماني وي او که ووينې چي دده ګيټي زخمي سويده نو ددي هم دغه تعبير دي ليکن د اولني په نسبت به ورته پښيماني کمه وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دپښې ګيټي يي پري کړيده او درنده ګانو ته يي ورکړه او ويي خوړل نو دليل يي دا دي چي ګټه به کوي او خپله به يي هم خوري او دښمنانو ته به يي هم ورکوي اوکه ووينې چي دده ګيټي را ايله سويده نو دليل يي دا دي چي بي کاره او فقير به سي.

باغ

دانيال عليہ السلام ويلي دی چي په خوب کي باغ ليدل ښځه ده او که ووينې چي باغ ته اوبه ورکوي نو دليل يي دا دي چي دخپلې ښځې سره به جماع کوي اوکه ووينې چي باغ ته اوبه ورکوي خوباغ اوبه سوي نه دی نو دليل يي دا دي چي دده ښځه دجماع خواهشمنده ده او که څوك په خوب کي ووينې چي په باغ کي ګل ريحان کري نودليل يي دا دي چي صالح زوی به يي پيداسي او که ووينې چي دشفتالو په باغ کي ګرځي نو دليل يي دا دي چي زوی به يي پيداسي چي ډير ژر به علم او ادب زده کړي او که ووينې چي په باغ کي دګل ريحان ګلدسته ده او ده پورته کړه اوبوی يي کړه نو دليل يي دا دي چي دده زوی به زړور هوښيار او عقل مند وي او دريحان بوی دزوی دليل دی. او که څوك خپل باغ شين اباد اوبه پکي رواني او محل والا ووينې او دهغه څخه څه ميوي وخوري او څه ورسره وي او دخپلې ښځې سره نظاره کوي نودليل يي دا دي چي دي جنتي دی او که ووينې چي په ترو تازه شين اواباد باغ کي دی او ددرختو څخه ميوي خوري نو دليل يي دادي چي مالداره ښځه به ورته حاصله سي او دهغې څخه به مال او دولت حاصل کړي. او که ووينې چي دخزان په موسم کي نامعلومه باغ ته تللي دی او ددرختو بلګونه غورزيږي نو دليل يي دا دي چي غم اوفکر به ورته راځي. او که ووينې چي په باغ کي محل شينګي اواوبه رواني دی اوښائسته ښځه دی را بولي نو دليل يي دا دي چي په اخرت کي به ورته جنت او حور العين حاصلي سي او دليل دی چي دشهادت درجه به حاصله کړي او که ووينې چي دده باغ يا چا ورکړيدی او دهغه باغ ميوي خوري نودليل يي دا دي چي مالداره ښځه به ورته حاصله سي او دهغې مال به خوري او که ووينې چي دی په باغ کي وي او دلوړو درختو ميوي پرده را غورزيږي نودليل يي دا دي چي دشريف سړی سره به جنګ کوي او پر هغه به غالب کيږي او که ووينې چي په باغ کي ددرختي په سر کي بيده سويدی نو دليل يي دا دي

Maktaba Tul Ishaat.com

چي دده نسل اوزامن به ډير وي. ابراهيم كرماني رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب كي باغ ليدل عزتمند مالدار اوښه سړى دى او كه ووينې چي دپسرلي يا دګرمى په موسم كي يي يوښه باغ لګولي دى او په هغه كي ميوي او ګل ريحان را زرغون سوي دى او اوبه پكښې دي اودي پكښې ناست دى نودليل يي دا دي چي دي به شهيد كيږي ځكه چي داټول دجنت صفات دى او كه دګرمي په ورځو كي نامعلوم باغ ووينې او دهغه ميوي خوږي وي اوددرختو بلګونه را ايله سوي وى نو دليل يي دا دي چي دى به دپاچا ملګري وي په داسي حال كي چي پاچا به دنوكرانو اولښكر څخه جلا وي. اوكه په ګرمي كي شين باغ دميوو څخه ډك او اوبه پكښې بهيدونكي ووينې اوده باغ دريښو څخه ايستلي او خراب كړيدى نودليل يي دا دي چي ددغه ملك پاچا ته به د هلاك كيدو بيره وي او يو بل غټ پاچا به حمله كوي اويا به معزول سي. او كه ووينې چي اور راغلي دى اودباغ ټولي ميوي يي سوزلي دى نو دليل يي دا دي چي دهغونه به ورته خير اونفع حاصله سي او كه ووينې چي په باغ كي هر څه جمع كوي نودليل يي دا دي چي دپاچا څخه به په سختى سره نفع حاصله كړي. جابر مغربى رحمة الله عليه ويلي دى چي اصل خبره داده چي په خوب كي باغ ليدل دخلكو دهمت مطابق دكاروبار شغل دى او كه په باغ كي شينګيا ووينې نو دليل يي دا دي چي دده شغل به نيك وي اوكار به يي ښه وي او كه باغ دشينګيا اوميوو څخه خالي ووينې نو دليل يي دا دي چي دده كاربه ښه نه وي او كه باغ ښه ووينې او ده ته څوك ووايي چي دادفلانكي ملكيت دى او ده ددغه باغ څخه ميوي خوړلي وى نو دليل يي دا دي چي دباغ دمالك څخه به هغونده اندازه فائده حاصله كړي او كه دپسرلي او دګرمي په ورځو كي باغ وران ووينې او په هغه كي يي شينګيا اودرختي نه وي ليدلي نو دليل يي دا دي چي پاچا به پر رعايا ظلم اوزياتي كوي. او كه ووينې چي پخپل لاس يي باغ لګولي دى او درختي يي پكي لګولي دى اوميوي پكي لګيدلي دى نو دليل يي دا دي چي دمالداري ښځي سره به نكاح كوي اومال نعمت او زامن به ځني ورته حاصل سي او كه په دغه باغ كي موسمي انګور ووينې نوددي دليل دا دي چي هغه به دخپل همت مطابق مال او مرتبه حاصلوي.

حكايت

بيان كوي چي يو سړي سليمان عليه السلام ته راغلي اوعرض يي وكي چي اي دخداي پيغمبره يو ښه باغ مي په خوب كي ليدلي دى او په هغه كي ډيري ميوي دي اوما وليدل چي په دغه باغ كي يو ډير غټ خنزير ناست دى او ما ته خلكو وويل چي داباغ ددي خنزير ملكيت دى زه په دي خبره حيران يم او په باغ كي مي ډير خنزيران په ميوي خوړلو وليدل اوخلكو وويل چي دا ټول خنزيران ددي لوي خنزير په حكم سره ميوي خوري. سليمان عليه السلام وويل چي دغه لوى خنزير ظالم او جابر پاچا دى اودانور خنزيران عقلمند حرام خواره دى كوم چي دظالم پاچا مطيع او فرمان برداره دي اودين ددنيا په بدله خرڅوي او دالله تعالى دعذاب څخه نه بيريږي.

جعفر صادق رضي الله عنه ويلي دى چي باغ په خوب كي ليدل په اوو وجو دى ۱: ښائسته ښځه ۲: زوى او نيكه ښځه ۳: ښه ژوند ۴: مال ۵: لوړوالي ۶: واده ۷: مينځه اوباغ په خوب كي ليدونكي

ښځو قائمولو والا دی او که وويني چې باغواني کوي نودليل يې دا دي چې مالداره ښځه به کوي او دهغه په شغل کې به مشغول سي او هر قسم خوشحالي به وي اوبعض اهل تعبير بيان کوي چې دباغ ليدل په درو وجو دی ۱: دکور مالك ۲: پر ښځه اختيارمند ۳: زوی چې دهغه څخه سترګو ته يخوالي وي.

بافتن جامها \ جامي جوړول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې کالي اودل سفر دی او اودولو والا به مسافر وی او که وويني چې کالي يا يو بل شي ودي نو دا دسفر دليل دی بيان کوي چې په خوب کې کالي اودل جنګ دی او که وويني چې کالي يې جوړ کړی اوبيا يې څيري کړل نو دليل يې دا دي چې دغه کار به په جنګونو ختميږي او ددي څيرل هم دسفر سبب دی او که وويني چې رسی ته غوټه ورکوي نو دليل يې دا دي چې سفر به کوي. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك دوريښمو پر ځاي رسی ته غوټې ورکوي نو دليل يې خراب دی ځکه چې دا دخيانت نښه ده او که وويني چې ټوله کالي يې جوړ کړه او بيايې پريکړه نو دليل يې دا دي چې په سفر به ځي او کار به پوره کوي او که وويني چې ټوله کالي يې نه دی اودلي نو دليل يې دا دي چې دده کار به نيمګړي پاته سي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك وويني چې دجولاګانو کار کوي نو دليل يې دا دي چې دده به دخلکو سره جنګ وي او دده مال به نيك وي ليکن خلک به يې ملامتوي.

باقلا \ لوبيا \ کرخي \ باغلي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې لوبيا ليدل که پخپل وخت وي او که بې وخته وي که پخه سوې وخوري او که کچه يې وخوري دغم دليل دی او دلوند او وچ دتعبير حکم برابر دی او که وويني چې لوبيا يې خوړلي نه ده نو بيا هم لږ غم اوفکر به وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك وويني چې چا ورته لوبيا ورکړيده او خوړلي يې نه ده نو دليل يې دا دي چې غمناکه به سي اوممکنه ده چې دغه سړي به جنګ هم کوي. او بعض اهل تعبير بيان کړيدی چې که څوك وويني چې دده سره لوبيا ده يا چا ورکړيده يا يې دکور څخه دباندي غورځولي ده او دهغې څخه يې څه خوړلي نه ده نو دليل يې دا دي چې ده ته به نقصان نه وي خاصکر چې لوبيا يې دهغه په موسم کې ليدلې وي.

بالا رفتن \ پورته تلل

محمد ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك وويني چې پر غر ناست دی يا په بالاخانه يا په ډيران يا په محل او يا ددي په ډول په بل شي کې ناست دی نو دليل يې دا دي چې ديو شي په تلاش کې دی هغه به پيداکړي او دهغه مراد به پوره سي. اوبعض تعبير بيانوونکي بيان کوي چې که څوك وويني چې په مشکله پورته تللی دی نو دليل يې دا دي چې ديو شي په تلاش کې تللي دی هغه به په غم او تکليف سره حاصل کړي او که وويني چې پر ځينو پورته ختلي دی نو دليل يې دا دي چې په دين کې به عزت او مرتبه پيدا کړي خاص کار که ځينه دخاورو وي او که وويني چې ځينه دچونې يا ډبرې وي نو دليل يې دا دي چې دده په دين کې به خلل راسي.

Maktaba Tul Ishaat.com

ابراهيم كرماني رحمه الله عليه ويلي دی چي كومه ځينه دچوني يا دډبري وی پر هغه دپورته ختلو دليل دا دي چي په دي جهان كي به شرف او عزت پيدا كړي او كه ووينې چي ځينه دكچه خښتو يا دخاورو جوړه سوي ده نو دليل يي دا دي چي هغه به په اخرت كي قدر اومنزله پيدا كوي او كه ووينې چي آسمان ته تللی دی اوبيا واپس راغی نو دليل يي دا دي چي سخت ناجوړه به سي او په اخر كي به شفا حاصله كړي. جعفر صادق رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب كي پورته تلل په پنځو وجو دی. ۱: دحاجت پوره كيدل ۲: ښځه غوښتل ۳: قرب اوبزرګي ۴: مراد حاصلول ۵: كاروبار.

پالانه \ كته د حيوان

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب كي پالانه ليدل ښځه ده كه څوك په خوب كي ووينې چي دده سره كته ده يا يي دچا څخه اخيستي ده نودليل يي دا دي چي ښځه به كوي يا به مينځه اخلي او كه ووينې چي كته دده پرملا ده نو دليل يي دا دي چي دښځي فرمانبرداره به وي او هغه به پر غالبه وي او كه ووينې چي كته دده څخه ضائع سويده نو دليل يي دا دي چي ښځه به ځني جلا كيږي يا به دی هغي ته طلاق وركړي جابر مغربی رحمه الله عليه ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي دي خپله كته پاكه اونوې ساتي نو دا ددي خبري دليل دي چي ده ته به ښائسته اونيك سيرته ښځه ملاو سي او دهغه څخه به خير او نفع پيداكړي او كه ووينې چي كته سخته اوګنده ده نو دا ددي خبري دليل دی چي دي به جنګ ماره اوخرابه ښځه كوي او دهغه څخه به نقصان اوتكليف پيدا كوي.

بالش \ بالښت

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب كي دليدلو والا لپاره بالښت خادم دی كه څوك په خوب كي ووينې چي دده سره نوي اوشين بالښت دی يا چا وركړيدی نودليل يي دا دي چي نيك او پرهيزګاره خادم به ورته حاصل سي او كه په خوب كي ووينې چي دده بالښت پخوانی او خيرين دي يا ژړ يا تور دی نو ددي تعبير داولني خلاف دی او كه ووينې چي په خوب كي دده بالښت څيري سويدی يا سوزلي دی يا ورك سويدی نو دليل يي دا دي چي دده نوكران به ضائع سي يا به وتښتي يا به خوب ليدونكي په غم اومصيبت كي اخته سي چي دهغه په وجه به دده نوكران دده څخه جلا سي ابراهيم كرماني رحمه الله عليه ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي چا دده دكور څخه بالښت پټ كړيدی نوددي دليل دا دي چي څوك دده په ښځه پسي لګيدلي دي يا دده په مينځه پسي لګيدلي دی ددي لپاره چي دهوكه ورته وركړي اهل تعبير بيان كړيدی چي دبالښت په كوركي ليدل ددي خبري دليل دي چي څوك به دده دكور څخه مري او كه څوك سړي په خوب كي ووينې چي ده ډير بالښتونه پيدا كړيدی نودليل يي دا دی چي په هغونه اندازه به ورته خادمان اومنځي حاصلی سي او كه په خوب كي ووينې چي اور دده بالښت وسوزي نو دليل يي دا دي چي دده خادمان او مينځي به مړي سي يا به وتښتي. جعفر صادق رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب كي دبالښت ليدل په پنځو وجو دي ۱: خادم ۲: مينځه ۳

رياست ۴ نيك دين ۵: پرهيزګاري او عدل او انصاف.

بالاخانه \ بام

که څوک په خوب کي ووينې چې پر نامعلومه بالاخانه باندې دی نو دليل يې دا دي چې دهغه دلورواليې مطابق به عزت او مرتبه والا ښځه پيدا کوي او که دنامعلومه کور په بالاخانه کي وو نو دليل يې دا دي چې شرف اوبزرګي به حاصله کړي او کاروبار به يې په انتظام سره وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې پر بالاخانه باندې پاچا دي نو دليل يې دا دي چې بزرګي اومرتبه به پيدا کړي او که ووينې چې پخپله دبالاخاني څخه را ايله سو نو دليل يې دا دي چې دعزت او مرتبې څخه به را ايله سي او علم اوفکربه ورته ورسيږي.

بانګ داشتن جانوران \ د حيوانانو اوازونه اوريدل

محمد ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دخلکو اوحيوانانو اوازونه په خوب کي اوريدل دهغه ځاي لپاره دغم اومصيبت دليل دی او که ووينې چې ده ته دليري ځاي څخه اوازونه ورکوي نو دليل يې دا دي چې ناجوړه به سي او که ووينې چې دژړا اوازونه کوي که ده جواب ورکړی وي نودليل يې دا دي چې ژر به مري او که ووينې چې جواب يې نه دي ورکړي نو دليل يې دا دي چې ناجوړه به سي او که ووينې چې دژړا اوازونه راځي نودليل يې دا دي چې خوشحاله به سي او که ووينې چې ده فرياد اوريدلي دی نودليل يې دا دي چې ناخوښه خبره به اوري او که ووينې چې دزاری کولو اواز يې اوريدلي دي نو دليل يې دا دي چې مرادبه يې پوره سي او پردښمن به کاميابه سي او که دښکنځلو اواز واوري نو ده ته به مکروه خبره رسيږي او ژر به زائله سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک داسي اواز په خوب کي واوري نو دليل يې دا دي چې هغونده خوشخبري به اوري. اوبعض اهل تعبير بيان کوي چې ضرور به ده ته تکليف رسيږي ځکه چې حيوانان درواغ نه وايي او که په خوب کي دخره اواز واوري نو دليل يې دا دي چې ددښمن او جاهل څخه به فولاد واوري دالله تعالی فرمان دی (ان انکر الاصوات لصوت الحمير، سورة لقمان: ۱۹) ترجمه: په ټولو اوازونو کي خراب اواز دخره دي. اوکه اوښ په اواز کولو ووينې نو دليل يې دا دي چې حج ته به ځي يابه په تجارت کي فائده پيدا کړي. او که ووينې چې چيلی خبری کوي نو دليل يې دا دي چې دبزرګي څخه به ورته خير اونفع رسيږي او که چيلی دکوچني اواز واوري نو دا دخوشحالی واده او دنعمت دليل دی او که ووينې چې اوسی اواز کوي نو دليل يې دا دي چې مينځه به ورته حاصله سي او که په خوب کي دزمری غړمبيدل واوري نودليل يې دا دي چې دپاچا څخه به بيره او ترس حاصل کړي او که دشرمښ اواز واوري نو دليل يې دا دي چې ده ته به جنګ راسي او که ووينې چې هوسۍ په تښتيدلو کي اوازونه کول نو دليل يې دا دي چې څوک به غصه باندې کوي او خپله لويی به باندې ښکاره کوي. اوکه ووينې چې ليوه اوازونه کوي نودليل يې دا دي چې پر دښمن باندې به کاميابي حاصله کړي او که ووينې چې ګيدړه اواز کوي نو دښځو دطرف څخه به ورته غم اوفکر رسيږی او که ګيدړه په

Maktaba Tul Ishaat.com

اواز کولو وويني نو دليل يي دا دي چې درواغجن سړي به ورسره حيله او دهوکه کوي او که دپشي اواز واوري نو دليل يي دا دي چې دغله څخه به ورته بيره وي او که دشترمرغ اواز واوري نودليل يي دا دي چې دپټ سړي خبر به واوري او که دچرګ اواز واوري نو دليل يي دا دي چې دپټ سړي خبر به واوري اوکه کوچني ګونګي اواز واوري نودليل يي دا دي چې دغم او مصيبت خبره به واوري او که دغټ ګونګي اواز واوري نو دهغي هم دغه دليل دی اوکه دګوګوشتو اواز واوري نودليل يي دا دي چې يوه ددرواغو خبره به اوري او که دزرکي اواز واوري نو دليل يي دا دي چې دښايسته ښځي خبر به اوري او که دطاوس اواز واوري نودليل يي دا دي چې دعجمي پاچا خبر به واوري او که دزانې اواز واوري نودليل يي دا دي چې دنيکي ښځي خبر به اوري او که دکوړکوړي اواز واوري نودليل يي دا دی چې دکلي والی سړي خبر به اوري اود هغه څخه به خوشحاله سي. او که دغريز تيتر اواز واوري نو دليل يي دا دي چې دنيکي ښځي اواز به اوري او که د ډيرو زرکو اوازونه واوري نو دليل يي دا دي چې دپرده داري ښځي خبر به واوري او که دکارغه اواز واوري نودليل يي دا دي چې دحرام خور سړي خبر به واوري او که دمرغی اوازونه واوري نو خوشخبري به واوري او که دبلبل اواز واوري نو دساز ږغونکي يا دنوحګر خبر به واوري او که دمرغابی اواز واوري نودليل يي دا دي چې هغه ته به غم او تکليف ورسيږی او که دبطي اواز واوري نو دهغه په اهل کي به پر چا مصيبت راځي او که دچرګي دکوچنيانو اواز واوري نو ماتم اومصيبت به ورته ورسيږي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې دټولو مارغانو اوازونه په خوب کي اوريدل ښه دی ليکن هغه مارغه چې دهغه اواز بد فال شميرل کيږي ځکه چې دغه اواز دغم اومصيبت دليل دي. او دمار اواز ددښمن څخه ترس اوبيره ده دمچمچې اودملخ اواز بيره اوخوف دی او دچرمښکی اواز دليل دی چې دي به چيري کښته کيږی. جابر مغربي رحمة الله عليه او کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې څوك په خوب کي وويني چې دآسمان څخه يا دزمکي څخه يا دهوا څخه خوفناك اواز راځي نوداپرپاچا دغم تکليف او مصيبت دليل دی او دهر څنګه خير او شر تعبير ورکوونکي دی.

حکايت

يو سړي محمد ابن سيرين رحمة الله عليه ته راغلي اوورته يي وويل چې ما خوب ليدلي چې يو حيوان زما سره خبري کوي هغوی وويل چې ستا مرګ نزدي دی ځکه چې الله تعالی ويلي دی (واذا وقع القول عليهم اخرجنا لهم دابة من الارض تكلفهم، سورة النمل: ۸۲) ترجمه: اوکله چې پر دوی حکم واقع سي نو مونږ به ددوی لپاره دزمکي څخه چارپايان را وباسو چې ددوی سره به خبري کوي او کله چې يوه هفته پوره سوه نو هغه سړی ددنيا څخه رخصت سو.

بانګ نماز \ اذان

محمد ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې مصلح مومن اوپرهيزګاره بنده په خوب کي وويني چې ديو معلوم ځای څخه داذان اواز اوری يا پخپله دلمونځ لپاره اذان کوي نو دليل يي دا دي چې

دبيت الله شريف حج به کوي دالله تعالى فرمان دى (واذن فى الناس بالحج ياتوك رجالا، سورة الحج: ۲۷)
ترجمه: او په خلکو کي دحج اعلان وکړه ستا طرف ته به لځي پښې راسي. اوکه پر نامعلوم ځای باندي اذان کوي نو دليل يي دا دي چي مکروه او ناخوښه خبره به ورته وسي او که دا خبره څوك بدکار ووينې نو دليل يي دا دي چي په غلا کي به ګرفتار سي او که ووينې چي دلمونځ لپاره دجماعت يا دمناري څخه اذان کوي نو دليل يي دا دي چي خلک به دالله تعالى طرفته راوبولي. او که ووينې چي پر بستره بيده دى اواذان کوي نو دليل يي دا دي چي دخپلې ښځې سره به مينه ساتى او که ووينې چي پخپل کورکي اذان کوي نو دليل يي دا دي چي مفلس او نادار به سي اوبيان کوي چي دده په کوروالاوو کي به مړى وسي. اوکه ووينې چي په کوڅه کي اذان کوي نو دا ددي خبري دليل دى چي جاسوسي به کوي او که ووينې چي په کوهي يا په برف خانه کي اذان کوي نودليل يي دادى چي دغه سړى به زنديق يا منافق وي. ابراهيم کرمانى رحمة الله عليه ويلي دى چي که څوك ووينې چي دخپلې ښځې سره اذان کوي نو دليل يي دا دي چي ددنيا څخه به رخصت سي او که داذان په کلمو کي زياتي يا کمي ووينې نو دليل يي دا دي چي پر خلکو به ظلم اوزياتى کوي. او که ووينې چي يو څوك معصوم اذان کوي نو دليل يي دا دي چي دهغه موراو پلار به درواغ وايي او که ووينې چي په حمام کي اذان کوي نو داپه دين اودنيا کي دهغه دبدحالى دليل دى او که ووينې چي په قافله يا په لښکرګاه کي اذان کوي نو ددي تعبير ښه نه دى او که ووينې چي مجوسي په قيدخانه کي اذان کوي او تکبير يې ويلي دى نو دليل يي دا دي چي دقيدخاني څخه به خلاصون پيدا کړي او که ووينې چي دبازي په ځاي کى اذان کوي نو دا دهلاکيدو دليل دى او که ووينې چي دغره پر څوکه اذان کوي نو دليل يي دا دي چي پاچا به رښتيا خبره کوي او دى به الله تعالى ځان ته را وبولي. اوکه ووينې چي پر مينار اذان کوي نودليل يي دا دي چي بزرګي او حکومت به پيدا کوي او که ووينې چي دکور په کونج کي اذان کوي نو دليل يي دا دي چي دحق په کار کي به خيانت کوي او که ووينې چي په تيه خانه کي اذان کوي نو دليل يي دا دي چي ژر به په سفر ځي او په هغه کي به غم اوتکليف پورته کوي اوډير وخت به پکښې وي او که ووينې چي پر غر اذان کوي نو دليل يي دا دى چي په ظالم قوم کي به ګرفتار سي او دهغو سره به خيانت کوي او که ووينې چي پر يو شي يا پر سړى يا پر تختي ناست يا ولاړ دى او په خندا اوبازيو اذان کوي نو دليل يي دا دي چي ليونى به سي او که دبل چا اذان واوري نو دليل يي دا دي چي دعبادت او اطاعت په کارو کي به سست وي او څوك به يي دالله تعالى طرفته را وبولي او که ووينې چي دتکبير اواز اوري نو دليل يي دا دي چي دالله تعالى په کارونو کي به توفيق پيدا کړي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب کي اذان په دولسو وجو وي ۱: حج ۲: خبري ۳: حکومت ۴: بزرګي ۵: رياست ۶: سفر ۷: مرګ ۸: غريبي ۹: خيانت ۱۰: جاسوسي ۱۱: نفاق او بې ديني ۱۲: لاس پريکول.

پابند \ د پښو کړۍ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب کي دپښوکړۍ ليدل ښې خبري زوى او عيال يا انډيوال

Maktaba Tul Ishaat.com

مچول دی او که ډیري دپښو کړی وویني نو دا دهغومره مال نعمت او حلال رزق دلیل دی او که وویني چي ده ته بوډی ښځه دپښو کړی بخښلي وی نو دلیل یي دا دي چي هغونه به ورته په انتظام سره ددنیا مال اونعمت ملاو سي او که وویني چي دده سره ډیري دپښو کړی دي او ټولي یي بخشش کړي دی یا ورکړي دی نو دلیل یي دا دي چي که نعمت ورسره وي نو ټول به خرچ کړي یا به یي ورکي کړي.

پائی \ پښې

دانیال علیہ السلام ویلي دی چي که څوك په خوب کي یوه پښه پریکړه سوي یا ماته سوي وویني نو دلیل یي دا دي چي دهغه به نیم مال ورك سي او که دواړي پښي پریکړل سوي یا ماتي سوي وویني نو دلیل یي دا دي چي دهغه به ټول مال ورك سي یا به پخپله مړ سي او بعض اهل تعبیر وایي چي که څوك دواړي پښي ماتي یا پریکړل سوي وویني نو دلیل یي دا دي چي په سفر به ځي او که وویني چي دده پښي داوسپني یا تانبي دی نو دلیل یي دا دي چي عمر به یي زیات وي او مال به یي باقي وي او که وویني چي دده پښي دشیشي دی نو دلیل یي دا دي چي دده عمر به ژر ختم سي او مال به یي پاته نه سي ځکه چي دشیشي بقا او طاقت نه وي او که وویني چي دده پښي شلي دی نو دا دده دکمزوری او سستي دلیل دی په هر حال کي که خیر وي او که شر وي. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که نیک سړی په خوب کي وویني چي دده پښي شلي سویدی نو دا ددین دزیاتوالي دلیل دی دالله تعالی فرمان دی (ولا علی الاعرج حرج، سورة النور: ٦١)

ترجمه: اوپر شل باندي هیڅ ګناه نسته. او که وویني چي دده پښي په رسی ترل سویدی نو دلیل یي دادی چي ده ته به دچا څخه فائده رسیږي او که وویني چي دده پښي نسته او دلرګي په ډانګو ګرځي نو دلیل یي دا دي چي پرچا به بهروسه کوي او دهغه څخه به وفاداري نه وینې. او که څوك شاهي حاکم وویني چي دواړي پښي یي پري سویدی نو دلیل یي دا دي چي له کار څخه به معزوله سي اومال به یي ورك سي اوکه وویني چي دده پښي داوسپني دی نو دلیل یي دا دي چي مال به یي زیات سي او که وویني چي دده پښي دچاندي دی اوګیتي یي دسرو زرو دی نوییا یي هم دغه تیر سوي دلیل دی او که وویني چي دده پښي درد کوي نودلیل یي دا دي چي نقصان به ورې. او که وویني چي دده پښه دستني سره ترل سویده نو ددي تعبیر ښه نه دی ځکه چي درخته دسړي په ډول ده او ستن دچړې په ډول ده او که وویني چي دده پښه په جال کي ده یا په مځکه کي نغښتي ده نو دلیل یي دا دي چي څونه یې پښه ښځه سویده په هغونه اندازه به په مکر اوفریب کي ګرفتار سي او که وویني چي پښه یي په یو ځاي یا غر کي ښویبدلي ده نودلیل یي دا دي چي ددین او دنیا دکارڅخه به منع سي یا به څوك داسي خبره ورته کوي چي ناجوړه به سي او که وویني چي پښي یې غزولي دی نودلیل یي دا دي چي دکار په لټون کي به وي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي وویني چي دده پښه داوښ یا دغوائي دنوک په ډول ده نو دلیل یې دا دي چي طاقت او مال به یي زیات سي او که وویني چي

دده پښه دآس يا دخره په ډول ده نودليل يې دا دي چې طاقت او مرتبه به يې زياته سي. او که خپله پښه ددرنده دپنجې په ډول وويني نو دليل يې دا دي چې حرام مال به حاصل کړي او که خپله پښه دچرګانو دپښو په ډول سره وويني نودا دده دکسب او دژوند دقوت دليل دی اوپر دښمن به کاميابي حاصله کړی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دپښې په خوب کې ليدل په اوو وجو دي ۱: ژوند ۲: عمر ۳: کوشش کول ۴: دمال طلب ۵: طاقت ۶: سفر ۷: ښځه او په خوب کې دپښو وهل ليدل مصيبت اوغم دی.

پائي اورنجن \ پايزيب

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که سړی په خوب کې وويني چې دده په پښو پايزيب دی نودا دده دغم دليل دی او که دچاندي پايزيب وويني نو سختي به باندي کمه سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دښځې پايزيب ليدل خوند دی اوليدل يې ښه دی او دسروزرو ليدل دښځو لپاره ملکيت دی او دسړو لپاره حرام دی او که وويني چې پايزيب يې دپښې څخه ايستلي دی يا ځني ورک سويدی نودليل يې دا دي چې دغه سړی به د زړه دغم څخه خلاص سي.

بندنهادن \ دام ايښودل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خپله پښه کې دام وويني نو دادخوف اوبيرې دليل دی او که وويني چې دده په پښه کې دوه دامونه دی اودی په جماعت کې دی نودليل يې دا دي چې دا سړی به په دين کې يا په لمونځ کې يا په جهاد کې يا کوم کار چې ددين په اصلاح کې کوي ثابت قدم به وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې وويني چې دده په پښه کې دام ايښول سويدی او دده دسفر اراده ده نو دليل يې دا دي چې په سفر کې به مقيم سي اوډير وخت به وي او څونه چې دام په پښه کې قوي او محکمه وويني په هغونه اندازه به سفر زيات وي او دتنګ دام په نسبت دفراخو دام ليدل غوره دی او که دتانبی يا داوسپني دام وي نو بيايي دغه تير سوي دليل دی او که وويني چې دام درسی دی نو دا دده داقامت دين لپاره دی او که دام دلرګي په ډول وي نو دده اقامت به ددين دفساد لپاره وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ناجوړه وويني چې دده په پښه کې دام دی نو دليل يې دا دي چې دناجوړي څخه به خلاص سي او که پاچا وويني چې دده په پښه کې دام دي نودليل يې دا دي چې پاچاهي به يې پائيداره وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دام ايښول په خوب کې ليدل په دريو وجو دي. ۱: په دين کې ثابت قدمي ۲: نکاح کول ۳: دسفر څخه وروسته راتلل مقصد داچې کوم سړي داسي خوب وويني نو که نيک وي نو په نيکی کې اوکه بد وي نو په بدي کې به پائيدار وي.

پائي تابه \ جرابي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې جرابي ايښول سوي وويني نو مال دی او که اغوستي وويني نو سفر دی او که په خوب کې جرابي اغوستل سوي وويني لکه څنګه چې مسافر دبيابان اراده کوي او ورسره څوک ملګري اودلاري خرڅ نه وي نو دليل يې دا دي چې ژر

Maktaba Tul Ishaat.com

به ددنيا څخه رخصت سي. او که ووينې چې خپلې جرابې يې خرڅې کړيدی يا يې چاته ورکړيدی نو دليل يې دا دي چې دده مال به ورک سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې جرابې ليدل په دريو وجو دی ۱: مال او دولت ۲: سفر ۳: مرګ دهغه لپاره څوک چې يواځې دسفر اراده وکړي اوځنګل ته لاړ سي.

پاچه \ د سرلې يا داسي بل حيوان پښې

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې دسرلی پښې خوري نو دليل يې دا دي چې څونه يې خوړلي وي په هغونه اندازه به ورته نعمت حاصل سي او که ووينې چې دغوا پښې يې خوړلي دی نودليل يې دا دي چې دخوراک مطابق به دده لپاره په دغه کال کې دنعمت فراخي وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دسرلی پښيې خوړل څومره چې يې خوړلي وي خاصکر دکچه خوړلو په حالت کې ديتيمانو دمال خوړلو دليل دی.

پابنداني کردن \ قيد کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې چا قيد کړيدی نودليل يې دا دي چې په کار کې به يې پائيداري وي اودهغه څخه به جلا نه سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې قيد کول په دريو وجو ده ۱: کوم سړی چې قيد سوي وي دهغه مقيم کيدل ۲: په هغه بخښش کول ۳: هغه ته به خير اونفع رسيږي او که ووينې چې دقيديانو څخه څوک دباندي راوتلي دی يعني دهغه دقيد څخه يې خلاصون پيدا کړي نو ددې تعبير د اول څخه خلاف دی.

ببر \ زمری

ببر يو قسم زمری دی ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې ببر يو درنده ځناور د زمری دښمن دی او دي په خوب کې ليدل مضبوط او زړه ور دښمن دی ليکن کريم اومهربانه دی او که ووينې چې دزمري سره يې جنګ کړيدی اوهغه يې مغلوب کړيدی نو دليل يې دا دي چې پر دښمن به غالبه سي او که دهغه څخه مغلوب سوي وي نو دښمن به پر ده کاميابي حاصله کړي او که ووينې چې زمری دده څخه بيريدلي دی او تښتيدلي دی نودليل يې دا دي چې ددښمن څخه به په امن وي. ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دزمري هډوکي او ويښته او پوست په خوب کې ليدل مال او نفع ده چې دليدونکي دقدر مطابق به ورته ددښمن څخه حاصل سي او که ووينې چې پر زمري سپور دی او دده مطيع دی نو دليل يې دا دي چې دښمن به دده تابعدار سي.

بت

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې دبت عبادت کوي نو دليل يې دا دي چې په الله تعالی به دروغ وايې اوپر باطله لاره به ځي او که دلرګي دبت عبادت کوي نو دا په دين کې دنفاق پيدا کولو دليل دی او که ووينې چې بت دسپينو زرو دی نو ديوي خواهشمندي ښځي سره به جماع کوي او که ووينې چې دسروزرو بت دی نو دده ميلان به دمکروه کار او مال جمع کولو طرفته وي او که ووينې چې بت داوسپني يا دتانبې يا دسکې دی

نو دليل يي دا دي چي دده مقصد ددين څخه ددنيا جوړول اودنيا طلبي ده. ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك په خوب كي دجواهراتو بت ووينې نودليل يي دا دي چي ددين څخه دده غرض پاچاهي نوكران اودبدبه حاصلول دی. كه په خوب كي ووينې چي هغه دجواهرو بت ليري سويدی نو دليل يي دا دي چي دده غرض ددين څخه حرام جمع كول دی او كه ووينې چي بت په كوركي دی نو دخپل عقل او هوښيارتيا څخه به عاجزه اوحيران سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي بت په خوب كي ليدل په دريو وجودی ۱: بي فايدي درواغ ۲: مكار منافق ۳: دهوكه وركوونكي مفسده ښځه.

بخشش كردن \ مال چاته بخښل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي خپل مال په كار خيركي بخشش كوي نو دليل يي دا دي چي دخپل زوی لپاره به ښځه كوي يا به په خپلوانو كي دچا واده كوي او خپل مال به پر تقسيموي او كه ووينې چي خپل مال يي په ناجائزه طريقه بخشش كړي دی نو دليل يي دا دي چي دحرام اوفساد طرفته به مائله سي او كه ووينې چي خپل مال يي پردو ته بخښلي دی نودليل يي دا دي چي دده دمرګ اوژوند حال به خراب سي. ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك ووينې چي دچا مال دهغه په رضا سره بخشش كوي نودليل يي دا دي چي دهغه دنيكی اوبدي اثر به صاحب مال ته رسيږي.

بخور كردن \ دود كول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي دود دبزرګ سړی څخه پيسي اخستل دی او كه ووينې چي خوشبوداره شيان دودكوي نودليل يي دا دي چي په هغونده اندازه به ورته دچا څخه مال حاصلوی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كوم دود ډير خوشبوداره وي دليدونكي لپاره ډير زيات خير اونفع ده اوكه دود خوشبوداره نه وي نو دخوب ليدونكي لپاره ددي تعبير خلاف دی، جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي دلوګي كولو تعبير په دريو وجو دی ۱: ډير مال ۲: ښه ژوند ۳: نيك نوم.

پر \ وزر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي په وزرو الوزي يعني دمرغيو په ډول وزري يي دی نو دليل يي دا دي چي دوزرو په اندازه به ورته عزت او سرداري ملاو سي اوبعض اهل تعبير ويلي دی چي په خوب كي وزر ليدل قوت او پنا ده. ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي په وزرو الوزي نو دليل يي دا دي چي په سفر به ځي او كار به يي ښه وي او كه ووينې چي دده سره دمرغی وزري دي نو دليل يي دا دي چي په هغونه اندازه به ورته خير اونفع حاصله سي او كه ووينې چي دده وزري را ايله سويدی نو دليل يي دا دي چي دعزت او مرتبي څخه به خلاص سي او دمال نقصان به يي وسي.

پرپهن \ ورخاړي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي ورخاړي ليدل داندينې اودغم دليل دي او ساتل

Maktaba Tul Ishaat.com

يي نقصان دي.

بربط \ سرينده

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي سرينده ددنيا لهو سخت درواغ او ناممکنه شي دی که په خوب کي ځان سرينده ږغونکي ووينې نو دليل يي دا دي چي بي فائدي اودرواغ خبري به کوي اودچا څخه به ددرواغو صفت اوتعريف کوي او که ووينې چي څوک دده مخ ته سرينده ږغوي نودليل يي دا دي چي بي فائدي او درواغ خبري به اوري او که ووينې چي دسريندي سره رباب اوشپيلی وهي نو داډول پر دغه ځاي دغم اومصيبت دليل دی. او که ووينې چي دده سرينده ماته سويده يا را ايله سويده نودليل يي دا دي چي ددرواغو او بي فائدي کارونو څخه به توبه کوي او که څوک په خوب کي ووينې چي ناجوړه اوسرينده ږغوي نو دا دده دمرګ دليل دي. ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي سرينده په سرينده باندي دپوه سړی په شان ږغوي حالانکه دی سرينده نه سي ږغولي که خوب ليدونکي عالم وي نو دليل يي دا دي چي خلکو ته به علم اوبيان په ښه طريقه ورکوي او دا دري علمونه تفسير فقه او قصص به پيژني او که څوک جاهل سړي يي ووينې نوداسي کاربه وکړي چي خلک به ملامتيا وايي او که ووينې چي دسريندي اواز اوري نودليل يي دا دي چي دخرابي ښځي خبر به اوري او دهغي سره به يي محبت وي.

برجستن \ ټوپ وهل

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي ځاي پرځاي ټوپونه وهي او ګرځي نودا ددي خبري دليل دي چي دده حال به بدل سي. او که ووينې چي په ليري ځاي کي يي ټوپ وهلي دی نو دليل يي دا دي چي په ليري سفر به ځي او که وينې چي دټوپ وهلو په وخت کي يي په لاس کي کوټک دی نودليل يي دا دي چي دده اعتماد به پر قوي سړي باندي وي. ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دی چي که څوک ووينې چي دځاي څخه يي دباندي ټوپ وهلي دی نو دليل يي دا دي چي دبدحالی څخه به نيک حاله سي او که ووينې چي چيري غواړي نو هلته ټوپ وهي نو دا دده پر قوت او هوښيارتيا دليل دی. جابر مغربی رحمه الله عليه ويلي دی چي که څوک ووينې چي دپاک ځاي څخه يي ټوپ وهلي دی نو دليل يي دا دی چي دخراب حالت څخه به نيک حاله سي او که ددي خلاف ووينې نو دښه حاله څخه به بدحاله سي.

بردار کون \ په سولې کول

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي يوه ورځ يو سړي ماته راغلی اوهغه وويل چي ماپه خوب کي ليدلي دی چي ديو سړي دواړه لاسونه پري سويدی اوبل په سولی خيژولای سي ما ورته وويل چي که ته داخبره رښتيا وايي نو نن به دښار امير معزول سي اود هغه پر ځاي به بل امير کښيني بيا په هغه ورځ دغه شان وسوه اوبل امير کښينول سو. ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دی چي که څوک ووينې چي څوک يي په سولی کړيدی اوخلک يي تماشه کوي نودليل يي دا دي چي پر دونه خلکو به سردار سي اوکه ووينې چي څوک يي تماشه نه کوي نودليل يي دا دي چي شرافت

اوعزت به پيداکړي ليکن ددين په لاره کي به بي نصيبه او فاسق وي، او که څوک په خوب کي ووينې چې دپه سولی سوي سړی غوښې خوري نودليل يې دا دي چې په مصيبت کي دګرفتاره سړي مال به خوري خاصکر که دهغه اثر هم ووينې اوکه ووينې چې دي په سولی سويدی او وينه ځنې وبهيږي نودليل يې دا دي چې دخلکو غيبت به کوي او دده څخه به ډير ګناهونه کيږي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي په سولی کيدل په څلورو وجو دی. ۱: سرداري او حکومت ۲: مال اودولت ۳: دخلکو غيبت.

برد \ پټو \ څادر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دټولو کپړو څخه غوره پټو دی که څوک په خوب کي ووينې چې پټو يې دسوترو دی او شين يا سپين دی يا يې نوي کالي اغوستي دی نودليل يې دا دي چې دکالو دښه والي په اندازه به دنعمت فراخي حاصلوي او که ووينې چې کالي يې تنګ دی او توري يا اودي دی نو ددي تعبير د اولنې خلاف دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې پټو خرڅونکي داسي سړی دی چې دين ددنيا په بدله کي اختياروي خاصکر که دسوترو پټو وي او که دريښمو پټو ووينې نو دليل يې دا دي چې ددين اودنيا دواړو غوښتونکي دی.

پرده

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې څوک په خوب کي پرده ووينې چې دده پر دروازه زړيږي که تنګه او غټه وي نودغم اوفکر دليل دی او خوف اوبيره ده اوپه اخر کي امن دی او که په خوب کي ووينې چې دسراي په دروازه يا دجماعت په دروازه يا په بازار کي پرده پرته ده نودا دغم فکر اوډيري غټې خطري دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کي ووينې چې پرده ورکه سويده نو خوب ليدونکي به دغم اوفکر څخه خوشحالي پيداکوي اودخوف اوبيرې څخه به په امن وي اوکه پرده ووينې اونامعلومه وي نوډير سخت غم اوفکر به وي اوکه هغه معلومه وي نوزيات آسان به وي، جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې نوې پرده ليدل دپاچا لپاره ښه دی او درعايا لپاره ښه نه دی اوزړه پرده ليدل په هيڅ حال کي هم ښه نه ده.

پرده داري \ پرچاپرده اچول

محمد ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کي ووينې چې پرده داري کوي نودا ددي خبرې دليل دی چې دده مراد به پوره سي اوعزت اومرتبه به يې زياته سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کي ووينې چې دمصلح اوعادل پاچا پرده داری کوي نودليل يې دا دي چې دنيکی اوخير طرفته به مائل سي اوحلال مال به پاچا پيدا کړي. اوکه دمفسد اوظالم پاچا پرده داری کوي نو دليل يې دا دي چې دفساد طرفته به مائل سي اوحرام مال به حاصل کړي.

پرستو \ توته

حضرب ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کي ووينې چې دده سره توته دی يا ده ته چا ورکړيدی نو دليل يې دا دي چې دچا څخه به جلا وو دهغه سره بر بيا ملاو سي اوقرار به

Maktaba Tul Ishaat.com

ورسره سي. اوکه ووينې چې توته يې مړ کړي يا يې په لاس راغورزولي دی نو دليل يې دا دي چې دچا سره محبت لري دهغه څخه به جلا سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې توته په خوب کې ليدل مالدار او عزتمند سړی دی او ماده توته عقلمنده او مالداره ښځه ده اوکه ووينې چې توته کرکې دده څخه الوتې ده نو دليل يې دا دي چې دسړی څخه به مال جلا سي او که ووينې چې توته کرکې دده په لاس کې مړ سويدی نودليل يې دا دي چې دده ملګري به مري او غم اوفکر به وينې. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې ده توته نيولې ده نو ددې خبرې دليل دا دي چې دغمونو څخه به خلاصون پيدا کړي او دخوف او بيرې څخه به په امن وي.

برف \ واوره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې واوره ليدل غم فکر اوعذاب دی که لږه ووينې نو خير دی که ديخني په موسم کې واوره ووينې يا يې په داسې ځای کې ووينې چيرې چې همیشه کيږي نو دليل يې دا دي چې هغه ځای والاوته به غم اوفکر رسيږی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې واوره ليدل لښکر ته ماتې ورکول دی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې واوره ليدل په شپږو وجوده ۱: روزې ۲: ژوند ۳: ډير مال ۴: ډير لښکر ۵: ناجوړې ۶: غم اوفکر او که ووينې چې دګرمې په ورځو کې واوره جمع کوي نودليل يې دا دي چې حلال مال به جمع کوي او خوشحاله ژوند به تيروی اوډيره نفع به حاصلوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په يخ ملک کې واوره په خوب کې ليدل دخير اونيکې دليل دی او په ګرم ملک کې ليدل دقحط غم اوفکر دليل دی او که ووينې چې واوره پخپل موسم کې خوري نو دبې موسمه څخه غوره ده.

برق \ بجلي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې بجلي ليدل دپاچا خزانچي دی او بعض اهل تعبير بيان کوي چې برق دپاچاهي دبدی لپاره لالچي سړی ته دلالچ په وجه وعده ورکول دی او که ووينې چې بجلي يې دهوا څخه يا دوريځي څخه نيولې ده نودليل يې دا دي چې داسې کار به وکړي چې په هغه سره به حيران سي او که برق په رپيدو سره ووينې نودليل يې دا دي چې په دغه کال به دنعمت فراخي وي خاصکر که دبرق سره نرمه هوا هم وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې په خوب کې برق ليدل په پنځو وجو دی. ۱: دپاچا خزانچي ۲: بده وعده ۳: ملامتيا ۴: رحمت ۵: صحيح لار.

برګستوان \ زغره \ جنګي کالي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې زغره په خوب کې پائيداري اومضبوطي ده او که ووينې چې دجنګي کالو سره پر آس سپور دی نودليل يې دا دي چې دده کار به سم سي او پر دښمن به کاميابي حاصله کړي اوهغه به مغلوب کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ځان پر آس سپور دجنګي کالو سره په ميدان جنګ کې ووينې نو دليل يې دا دي چې کار به يې دمراد

سره وسي اوبخت او دولت به يي نصيب سي او که ووينې چې زغره داس څخه را ايله سويده يا ورکه سويده نودليل يي دا دي چې دنامرادۍ او ددښمنانو دلاسه به قيد سي.

برنج پلاو \ وريجي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي پلاو ليدل مال دی چې په قدر دپلاو ليدلو به ورته حاصل سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې پوخ سوي پلاو خوري نودليل يي دا دي چې مراد به يي پوره سي اوخير اونيکي به ورته ورسيږي او که ووينې چې پلاو يي خوړلي دی نو دا دغم اوفکر دليل دی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې پلاو په خوب کي ليدل په درو وجو دی ۱: مال اودولت ۲: مراد حاصلول ۳: خير اونفع چې ده ته به ورسيږي.

پرنده \ مرغۍ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې مرغی دده دلاس څخه الوتلي ده اوبيا دده لاس ته راغلي ده نو دليل يي دا دي چې مراد به يي پوره سي او که ووينې چې مرغی دده دلاسه څخه الوتلي ده نو دليل يي دا دي چې دده دمال نقصان به وسي.

پرنيان \ ريښم

پرنيان (ديبا) يوقسم کپړه ده ددي تفصيل به په حرف دال کي راځي.

بره \ د بزې بچی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي دبزې بچي ليدل که څه هم ښځه وي تعبير يې زوی دی. اوکه په خوب کي ووينې چې دبزې بچي يي نيولي دی يا چا ورکړيدی نودليل يي دا دي چې زوی به يي کيږي او دده په ډول به وي اوکه ووينې چې دبزې بچي يي مړ کړيدی نو دليل يي دا دي چې دده زوی به مړ سي او که ووينې چې دبزې دبچي غوښه يي خوړلي ده نو ددي خبري دليل دا دي چې ده ته به دزوی دطرف څخه غم اوفکر رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دبزې بچي په خوب کي ليدل خير اونفع ده او دده دلوي والي اوکوچنيوالي مطابق نيکي او حلال مال هم دی او که ووينې چې دده سره دبزې بچي دی نو په هغه قدر دمال اوغنيمت رسيدلو دليل دی او که ووينې چې دبزې بچي يي مړ کړی او ويي خوړي ليکن دغوښي لپاره يي نه دي ذبح کړي نو دليل يي دا دي چې ده ته به دزوی دطرف څخه مصيبت رسيږي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دبزې بچي په خوب کي ليدل په څلورو وجو دي ۱: زوی ۲: حلال مال ۳: ژوند ۴: غم او فکر.

برهنګي \ لڅيدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك خپل ځان په خوب کي لڅ ووينې اوددنيا طلب کوونکي وي نو دا پرغم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چې لنګ يي ترلي دی نو دليل يي دا دي چې په اطاعت اوعبادت کي به کوشش کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي لڅيدل دمحنت او رسوايی دليل دی او که په خوب کي ښځه کالي اغوستونکي وي نودنيك

Maktaba Tul Ishaat.com

سړی لپاره ښه اودبدکار لپاره بدي ده جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي به خوب کي لځیدل دنیک سړي لپاره خیر اونیکي ده او دمفسد سړی لپاره بدي او رسوایي او بي حرمتي ده.

پروانه \ ګوډی

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي ګوډی په خوب کي لیدل کمزوري اوکم عقل سړی دی چي خپل ځان په کم عقل توب سره هلاکت ته غورزوي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي چا په خوب کي ولیدل چي دده دشا څخه ګوډي والوتي او ده ونیوي نو دلیل یي دا دي چي دپیغلي مینځي څخه به یې زوی کیږي او که په خوب کي ووینې چي ګوډی یي څیري کړي یا دده دلاسه څخه ولاړي نو دلیل یي دادي چي دده زوی به مری.

بروت \ بریت

په خوب کي بریت لیدل دهیبتناکه سړی دلیل دی او که ووینې چي دده بریت چا په غچي سره برابر کړیدی نو ددي تعبیر نیك دی او ده ته به نقصان نه وي او که ووینې چي دده دبریت دبرابر کولو په وخت کي دبدن څخه را ایله دی نودسړی دنقصان اوهیبت دلیل دی ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي دده بریت لوی سویدی نودا دطاقت دلیل دی اوکه څوك په خوب کي ووینې چی چا دده بریت را ایستلي دی نو دلیل یي دا دي چي دچا سره به جنګ کوي او که په خوب کي ووینې چي دده بریت سپین سوي دی نودلیل یي دا دي چي دنه کولو کار څخه به منع سي او که ووینې چي دده بریت دی نو که اوږده وي نودلیل یي دغم اوفکر دی او که کوچني وي نو دعزت مرتبي او دمراد حاصلولو دلیل دی.

برج \ دولس برجونه

دانیال علیہ السلام ویلي دی چي حمل اسد او قوس لیدل دپاچا لښکر دی اوثور سنبله اوجدي لیدل شهزاده اودین دی او جوزا میزان اودلو لیدل قاضي پاچا او وزیران دی او سرطان عقرب او حوت لیدل خاوند دشرط او پاچا شرابدار دی، ابن سیرین ویلي دی چي که څوك په خوب کي برج حمل ووینې نو دده کار به دمرتبي والا سړي سره سي او مراد به یي پوره سي او که برج ثور ووینې نو دده کار به دجاهل او کم عقل سړی سره کیږی او مرادبه یي پوره سي او که برج جوزا ووینې نو دده کار به دزبان دان اوفصیح سړی سره سي او مراد به یي پوره سي او که برج سرطان ووینې نو دده کار به د بي اصله سړی سره سي او حاجت به یي پوره سي اوبزرګي او مرتبه به پیدا کړي اوکه برج سنبله ووینې نودده کار به د بي وفا زمینداره سړی سره سي اومراد به یي پوره نسي اوکه برج میزان ووینی نو دده کار به دقاضي سره سي او کومه وعده چي وکړي هغه به پوره کوي او که برج عقرب ووینې نو دمفسد سړي یا دبد کاره ښځي سره به یي کار وي او ده ته به زحمت اوغم رسیږی اوکه برج قوس ووینې نودده کار به دسردار او عزتمند سړی سره وسي او دده ضرورت به پوره سي اوخلک به دده سره مینه او محبت کوي او که برج حوت ووینې نو دده کار به دغریب سړی ساده زړه نیك خیاله مهربانه او کم خبري کوونکي سړی سره وسي او دده مراد به پوره سي.

پری \ ښاپیرۍ

په اهل تعبیر کي اختلاف دی بعض دوي ته دښمن وایي اوبعض وایي چي په بخت او فکرونو کي کاروایي ده، ابو هریره رضی الله عنه ویلي دی چي نبی صلی الله علیه وسلم ویلي دی چي په خوب کي ښاپیرۍ لیدل دولت اوبزرګي ده اودهغه په لاس کي لاس ورکول او دهغه سره خبري کول دخوشحالۍ دلیل دی. محمد ابن سیرین رحمة الله علیه ویلي دی چي ښاپیرۍ په خوب کي لیدل که ښائسته او خوشحاله وي ددی دلیل چي عزت اودولت به پیدا کړي او که بد شکله اوغمګینه ښاپیرۍ ووینې نو دغم او فکر دلیل دی اوکه ښائسته ښاپیرۍ مړه ووینی نو دده کار به بي خونده وي اوکه دښاپیرۍ سره جنګ وکړي نو ددي خبري دلیل دا دي چي دده کار به دخفګان وي. ابراهیم کرمانی رحمة الله علیه ویلي دی چي بعضي ښاپیرۍ مسلماني وي دهغو په خوب کي لیدل ددوست بخت او دولت دیدار دی اوکوم چي کافري دی دهغو په خوب کي لیدل ددښمني بدبختي او دغم دلیل دی. دانیال علیه السلام ویلي دی چي که څوك په خوب کي ځان ووینې چي دښاپیرۍ په منځ کي دی نو دلیل یي دا دي چي په سفر به ځي اودغه سفر به یي مبارك سي. او که ووینې چي ښاپیرۍ یې تر څټ نیولي ده او وړي یی ده نو دا دعزت مرتبي او بزرګي دلیل دی او که ووینې چي ښاپیرۍ پر څټ را غورزیدلي ده نودلیل یي دا دي چي دعزت او مرتبي څخه به را ایله سي اوکه ووینې چي ښاپیرۍ په مهربانی سره خبري کوي نو دلیل یي دا دي چي دده کاربه نیك وي او که ښاپیرۍ په ښه کالو کي ووینې نو حال به یي نیك وي او که په خرابو کالو کي یي ووینې نو حال به یي بد وي او که ووینې چي ښاپیرۍ ورته دسروزو یا دسپینو زرو څه شي ورکړیدی نودلیل یي دا دي چي دولت اومرتبه به یي زیاته سي. جابر مغربی رحمة الله علیه ویلي دی چي که ښاپیرۍ ناجوړه یا مړه ووینې نودا دبد حالی دلیل دی او که ووینې چي دښاپیریو پاچا مهربانی باندي کړیده نودلیل یي دادی چي دولت به پیدا کړي او پاچا ته به مقرب سي اوکه ووینې چي ښاپیرۍ ورته خپل کور ښوولي دی اوکله ورته ښکاره سي اوکله ځني پټه سي نو دلیل یي دادي چي ښځه به ورسره خیانت اومکر کوي اوکه ووینې چي دښاپیریو کورته تللی دی اوهغه یي پیژندلي دی نودلیل یې دا دي چي سفر به کوي اوډیر ښارونه به ووینې. جعفر صادق رحمة الله علیه ویلي دی چي د ښاپیرۍ لیدل په پنځو وجو دی ۱: خوږ ملګري ۲: بخت اودولت ۳: مراد پوره کیدل ۴: عزت او دبدبه ۵: درواغ خبره او بي فائدي کار.

پرواز کردن \ الوتل

دانیال علیه السلام ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي دمرغیو په ډول ځاي په ځاي الوزي نو دلیل یي دا دي چي دلوړوالی مطابق به په سفر ځي او دزمکي څخه الوتل مرتبه اوشرافت پیدا کول دی او که ووینې چي سیده آسمان ته ځي نودا نقصان دی اوکه ووینې چي دونه الوتلی دی چي آسمان ته رسیدلي دی اوپه هغه کي ورك سویدی اوبیا مځکه ته نه دی راغلي نودلیل یي دا دي چي ددنیا څخه به ژر رخصت سي یعني مړ به سي. محمد ابن سیرین رحمة الله علیه ویلي دی چي که څوك ووینې چي دقبلي دطرف څخه الوتلی دی اوبیا خپل ځاي ته راغلي دی

Maktaba Tul Ishaat.com

نو دلیل یې دا دي چې دسفر څخه به ژر واپس راسي اوډیره نفع به راوړي ا و خاصکر که وزري یې هم وي او که بغیر دوزورو الوزي نودلیل یې دا دي چې حال به یې بدل سي او که وویني چې خپلې بالاخاني ته الوتي دی نودلیل یې دا دي چې ښځې ته به طلاق ورکوي اوبله ښځه به کوي یا به مینځه اخلي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوك وویني چې هوا ته لوړ الوتلي دی نو دا دحج دلیل دي اوکه وویني چې دخپل کور څخه یونامعلوم کورته الوتي دی نودلیل یې دا دي چې دده مرګ نژدي سویدی ده ته پکار ده چې دګناهونو څخه توبه وکاږي اوکه وویني چې دده وزري سته لیکن دمرغیو دوزرو په ډول نه دي نو دلیل یې دا دي چې ناجوړه به سي او هلاکت ته به نژدي سي اوپه اخر کي به شفا پیدا کړي او که وویني چې دیوځاي څخه بل ځاي ته الوزي نو دلیل یې دا دي چې نژدي ده چې سفر به وکړي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کي الوتل په پنځو وجو وي ۱: سفر ۲: حج ۳: بزرګي ۴: دحامل بدلیدل ۵: دمرګ مرض دخدای پناه.

بریان \ وریت سوی شی \ کباب

محمد ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کي وریت سوي شی لیدل ددي خبري دلیل دی چې خوب لیدونکي دفراخ روزي په تلاش کي دی او دپخ سوي غویي تعبیر دکچه غوښو څخه غوره دی. کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوک وویني چې ده دبوزي غوښه وریته سوي خوړلي ده نو دلیل یې دا دی چې هغونه مال به په تکلیف اوسختي سره حاصل کړي او که دغوا غوښه وریته سوي وخوري نو دلیل یې دا دي چې دخوف اوبیري څخه به په امن وي اوکه وویني چې دبزې بچی وریت سوی خوري نو دلیل یې دا دي چې ده ته به څه مال ملاو سي اوبعض اهل تعبیر بیان کوي چې په خوب کي دبزي بچی وریت سوي خوړل دزوی دپیدا کیدو دلیل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوك وویني چې وریت سوي سر خوري نو دلیل یې دا دي چې ده ته به دبزرګي څخه فایده ملاو سي اوکه وویني چې وریت سوي چرګ خوري نو دلیل یې دا دي چې دښځي دطرف څخه به په مکر او فریب سره مال حاصل کړي اوکه وریت سوی ماهي وخوري نو دلیل یې دا دي چې دعلم دطلب دباره به سفر کوي اودیو بزرګ سره به ملاو سي که خوب لیدونکي نیك سړی وي نو دا ورته دتکلیف غم فکر او دښمن دلیل دی اوتازه وریت سوي ماهي تر زاړه غوره دی اوغټ تر وړوکي څخه غوره دی. او په خوب کي وریت سوي شیان خرڅولو والا داسي سړی دی دچا په وجه چې دنورو خلکو روزي فراخه وي.

بزاز \ کالي خر څونکی

په خوب کي دکالو سوداګر لیدل ډیر خطرناکه سړی لیدل دی ځکه چې دکالو قیمت دینار او درهم وي چې ورکوي اواخلي یې او ددینار او درهم تعبیر مکروه او خطرناکه دی په کوم کي چې خیر نسته اوکه دکالو په قیمت کي ددرهم اودینار څخه علاوه څه بل شي واخلي نو بیا په هغه شي سره ددی خوب دښه والي اوبدوالي تعبیر دی. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوک په خوب کي وویني چې دکالو سوداګري کوي او دکالو قیمت روپی او پیسي نه اخلي نو

دليل يي دا دي چي ده ته به غم اونقصان ورسيږي اوکه ووينې چي د سامان په بدله کي سامان اخلي نو دليل يي دا دي چي مراد به ورته حاصل سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي په خوب کي دکالو سوداګري ليدل ددنيا زينت دی.

بز \ بوزه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سرلی سړی دی او سرلی ښځه ده او که په خوب کي ووينې چي نامعلومه بزه يي مړه کړيده نو دليل يي دا دي چي پر لوی سړی به فتح حاصله کړي او که ووينې چي د بزې څخه يي پوست ايستلي دی نو دليل يي دا دي چي ډير مال به ورته حاصل سي اوهغه به جمع کوي اوکه ووينې چي بزې غوښه خوري نو دليل يي دا دي چي مال به خوري اوکه ووينې چي پر هغه سپور دی او ګرځي باندي نو دليل يي دا دي چي دلوی سړی سره به مکر اوفريب کوي اوچيرې چي غواړي ګرځي به اوکه ووينې چي بزې دخپلي شاځخه را غورزولی دی نو دليل يي دا دي چي خوب ليدونکي به دمرتبې اودبدبې څخه معزول کيږی اوکه ووينې چي ده دبزې دواړه ښکرونه مات کړيدی نو دليل يي دا دي چي دغه سړی به دعمل څخه منع سي. اوکه ووينې چي دبوزی ښکرونه غټ سوي او مضبوط سويدی يا په حساب کي زيات سوي دي نو دليل يي دا دي چي پخپل عمل اودسردار په عمل کي به قوي سي او په کارونو کي به کامياب سي اوکه په خوب کي ووينې چي دبوزي ويښته زيات سويدی نودليل يي دا دي چي دده مال به زيات سي اوکه ووينې چي هغه پشم يي اخيستي دی نو دليل يي دا دي چي دهغه په قدر به دخپل زوی مال اخلي اوکه په خوب کي ووينې چي بوزه يي پيدا کړيده يا چا ورکړيده نو دليل يي دا دي چي ښځه به کوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دبوزي څخه يي شيدي واخيستلي اووبي چينلي نو دليل يې دا دي چي دښځي څخه به ورته مال حاصل سي. اوکه ووينې چي بوزه يي حلاله کړيده او دهغه غوښه يي خوړلي ده نودليل يی دا دي چي دهغه ښځي څخه به دهغه ضرورت پوره سي اوکه ووينې چي بوزه يي دغوښې لپاره نه ده حلاله کړي نو دليل يي دا دي چي دښځي سره به نکاح کوي او دهغه څخه به فائده ونه وينې اوکه ووينې چي بوزه يي دکور څخه ايستلي ده نو دليل يي دا دي چي ښځي ته به طلاق ورکړي اوکه ووينې چي دبوزي ګنډك په کور کي ساتي يا په بل ځاي کي دی او په دي پوهيږي چي دا دده ملکيت دی نو دليل يی دا دي چي دهغو نه به ورته مال نعمت او غنيمت حاصل سي. اوکه ووينې چي دبوزو کنډك يا رمې په ځنګل کي پيايي اوکوم ځاي ته چي يي وغواړي ځي نودليل يي دادي چي پرعربو ياپرعجمو به حاکم سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دبوزي غوښه يي خوړلي ده نو دليل يی دا دي چي ناجوړه به سي او ژر به شفا حاصله کړي. دبوزو پوست پشم اوشيدي په خوب کي ليدل خير اوبرکت اومال دی چي ده ته به حاصل سي اوکه ووينې چي دبوزو پچي چا ورته ورکړي دی يا يي پيدا کړي دی يا يي پخپله اخيستي دی نو دليل يي دا دي چي دده به مبارك زوی پيداسي اوکه دبوزو بچي يي مړ کړيدی نودليل يي دا دي چي دده زوی به هلاک

Maktaba Tul Ishaat.com

سي او که ووينې چې دبوزو دبچي غوښه يې خوړلې ده نو دليل يې دا دي چې دزوی دمال څخه به څه خوري. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې سرلي په خوب کي دلښکر مقدمه ده اوکه سرلي يې پيدا کړي وي اوپر سپور وي نو دليل يې دا دي چې دا سړی به دلښکر مقدمه وی اوکه سرلي يې پيدا کړي وي او پر هغه سپور وي نو دليل يې دا دي چې داسړی به دلښکر سردار سي اوکه خوب ليدونکي دعامو خلکو څخه وی نو دليل يې دا دي چې دده به دلښکر دسردار سره ملګرتيا جوړه سي اومالدار به سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې بوزه په خوب کي ليدل او دهغې غوښه خوړل مال جمع کول دی اوبعض اهل تعبير بيان کړيدی چې ده ته به جمع سوي مال حاصل سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې بوزه په خوب کي ليدل اوخوړل که خوندوره اوصحيح وي نو دخير اوفائدي دليل دی اوکه بې خونده وه نودغم اوفکر دليل دی.

بزر قطونا \ اسپيغول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې اسپيغول په خوب کي ليدل دغم اوفکر دليل دی اوخوړل يې دخوړلو مطابق دمال نقصان او دغم دليل دی.

بساط \ فرش

فرش په خوب کي ليدل خوشحالی اوراحت دی اوکه ووينې چې فرش يې غوړولې دی او پر هغه ناست دی نودليل يې دا دي چې روزي به يې فراخه سي اوعمر به يې ډير سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې فرش پاك نوي غټ اوفراخ دي نو دليل يې دا دي چې دهغه نعمت او دولت به ډير سي خاصکر چې اوار وي او که ووينې چې خپل فرش يې خرڅ کړي يا يې چاته بخښلي دی نو دليل يې دا دي چې دده په مال کي به نقصان وسي اوکه ووينې چې دده فرش سوزلي دی نودليل يې دا دي چې پر ده به روزي تنګه سي اوحال به يې بد سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دفرش په خوب ليدل که غټ او نوي وي نو په شپږو وجو دی. ۱: عزت اومرتبه ۲: بزرګي او لوړوالي ۳: عهده ۴: مال ۵: ډير عمر ۲: دبزرګی مطابق تعريف اوکه دفرش قيمت واخلي نو تعبير يې ددي خلاف دی.

بستر \ بستره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې بستره په خوب کي ليدل ښځه ده اوددي دښه والي اوبدوالي تعلق دښځي سره دی که خوب ووينې چې بستره يې په بلې بستري بدله کړيده يا ديوي بستري څخه بلې بستري ته تللي دی نو دليل يې دا دي چې دوهمه ښځه به کوي او اولنی ته به طلاق ورکړي اوکه ووينې چې دده دبستري حالت بدل سويدی نودليل يې دا دي چې دهغې ښځي حالت به بدليږي او که ووينې چې دده بستره دبل چا بستره سويده اودبل هغه دده بستره سويده او ددي څخه ښه يا خرابه ده، ددې دليل دی چې ښځه به کوي او اولني ته به طلاق ورکړي اوکه ووينې چې خپله بستره يې خرڅه کړي يا راټوله کړيده نو دليل يې دا دي چې ښځي ته به طلاق ورکړي يا به غايبه سي يا به پدي دواړو کي يو مري. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي خپل ځان پر نامعلومه بستره ووينې نو دليل يې دا دي چې دهغې دقدر او

قيمت مطابق به ده ته نقصان رسيږي او که ووينې چې دده بستره پر نامعلومه کټ غوړيدلي ده او دي پر ناست دی نو دليل يې دا دي چې بزرګي اونفع به پيدا کړي اودښمن به مغلوب کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې بستره په خوب کې ليدل ولايت او اساني ده دالله تعالی فرمان دی (متكئين على فرش بطائنها من استبرق، سورة الرحمٰن: ٥٤) ترجمه: پر فرشونو باندې تکيه لګونکي وي چې په هغه کې دننه ريښم وي اوکه ووينې چې بستره يې دکور څخه دباندې اچولې ده اوبيا يې کورته راوړې ده نو دليل يې دا دي چې خپلې ښځې ته به طلاق رجعي ورکوي. اوکه ځان په درو يا څلورو بسترو بيده سوي ووينې نو دليل يې دا دي چې دبسترو په حساب به ښځې کوي يا به مينځې اخلي. او که خپله بستره په کورکې ووينې يا يې په غارکې ووينې چې دکوم ځاي څخه يې دباندې نه سي ايستلې نو دليل يې دا دي چې ښځه به يې ناجوړه سي او ددي دتکليف څخه به خلاصون پيداکړي او که ځان پر نرمه بستره بيده ووينې نو دليل يې دا دي چې دغه کامل به دده لپاره مبارک سي اوکه ووينې چې دده بستره دپشم څخه ډکه ده نو دليل يې دا دي چې هغه به پائداره ښځه کوي. اوکه ووينې چې دده بستره څيرې سوي ده يا سوزلې ده نو دليل يې دا دي چې دده مرګ نژدې سويدی او دده اولاد ته به دين او ديانت او شرم نه وي. اوکه ووينې چې دده دريښمو بستره په سوترو سره بدله سويده نو دليل يې دا دي چې بدکاره ښځه به ليرې کړي اونيکه ښځه به وکړي اوکه ووينې چې دده په بستره کې مورګ بيده سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده ښځه به دچا سره نالائقه معامله وکړي اوهغه به په خرابی راضي سي او که دده بستره په هوا کې را زړيږي نو دليل يې دا دي چې دده بستره به پر لوړ ځاي اواره سي اودده شغل به لوړ سي اودولت به حاصل کړي اوکه ووينې چې دده بستره دهوا څخه پر مځکه را ايله سويده نو دليل يې دا دي چې دده ښځه به ناجوړه سي او په اخر کې به شفا حاصله کړي. دانيال عليه السلام ويلي دی چې که څوک خپله بستره شنه ووينې نودليل يې دا دي چې دينداره او پرهيزګاره ښځه به کوي اوکه په خوب کې خپله بستره سره ووينې نو دليل يې دا دي چې دده ښځه به ناموافقه اوبد خويه وي اوکه ووينې چې دده بستره پخوانی وه اونوي بستره پخوانی سويده نودليل يې دا دي چې دده نيک خويه ښځه به بدخويه سي. اوکه ووينې چې دده شنه بستره سره سويده نودليل يې دا دي چې دده ښځه به داصلاح څخه دفساد ته طرفته مائله سي اوکه ددې خلاف ووينې نو ښځه به يې دفساد څخه داصلاح طرفته راسي. اوکه ووينې چې دده سره بستره سپينه سوي ده يا ژړه سويده نو دليل يې دا دي چې دده ښځه به دګناه څخه توبه وکړي او ناجوړه به سي او ددي وجي څخه به ورته دمرګ بيره وي. اوکه ووينې چې خپله بستره يې غوړولې ده او بالښت يې باندې ايښې دی نو دليل يې دا دي چې ښځه به کوي يا به خادمان او مينځې اخلي اوکه پرخپله بستره بالښتونه لګيدلي ووينې نودا پر خادمانو دليل دی دالله تعالی فرمان دی (ونمارق مصفوفة، سورة الغاشية: ١٥) ترجمه او غالې قطار په قطار لګيدل سوي اوکه پر نامعلومه ځاي بستره ووينې نو دليل يې دا دي چې مځکه به اخلي او يوه به پکښې کوي اواهل تعبير

Maktaba Tul Ishaat.com

بيان کوي چي وراثت به حاصل کړي. اوکه ووينې چي پر بستره بيده سوي دي نودليل يي دا دي چي ارام او اسانتيا به حاصل کړي اوکه ووينې چي په هوا کي يي بستره غورولي ده اوبيده سويدی پکښې نودليل يي دا دي چي دښځي په وجه به مرتبه او بزرګي ووينې اوکه ووينې چي دده بستره څيره سويده نو دليل يي دا دي چي دده ښځه به ناکاره وي اواهل تعبير بيان کوي چي ښځه به يي مړه سي. اوکه ووينې چي پر بستره يي اور لګيدلي اوهغه سوزلي دی نودليل يي دا دي چي ښځه به يي مري يا به ورته طلاق ورکړي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي بستره ليدل په څلورو وجو ده ١: ښځه ٢: مينځه ٣: ولايت ۴: ژوند نفع او دتن اساني.

پست \ ستوان

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي ستوان خوري نودليل يي دا دي چي په هغونه اندازه غم اوفکر به لوړوي او که ووينې چي چا ته يې ستوان ورکړي دی يايي خرڅ کړي دی نو دليل يي دا دي چي غم اوفکر به ځني ليري سي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره ستوان دي اوهغه يي دکور څخه دباندي اچولي دي يا يي چاته بخښلي وي او دهغه څخه يي خوړلي نه ده نو دليل يي دا دي چي دغم څخه به خلاصون پيدا کړي.

بستان افروز \ سره کردي ګلونه \ دګلونو بوټي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دګلونو بوټي ليدل واده دی ليکن په دين کي به وي اوکه په خوب کي ووينې چي ګلونه يي اخستي دي يا چا ورکړيدی نو دليل يي دا دي چي هغه به خوشحاله کړي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي څوك په خوب کي دګلونو بوټي په خپل موسم کي ووينې نو سرداري ده اوبعض اهل تعبير ويلي دی چي دګلونو بوټي سوداګره خوش طبعيته مالداره او ښائسته ښځه ده اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دګلونو بوټي په يو ځاي کي لګوي نو دليل يي دا دي چي دده ملګرتيا به دسوداګر سره وي اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دګلونو بوټي ديو ځاي څخه راباسي نودليل يي دا دي چي خوب ليدونکي به ديو سړی دملګرتيا څخه جلا سي.

پستان \ تيونه

تي په خوب کي انجلۍ ده اوڅه چي په تيو کي کم يا زيات اصلاح اوفساد ووينې هغه ټول پر انجليانو وارد کيږی اوکه په خوب کي ووينې چي دده دتيو څخه شيدي جاري دی نو دليل يي دا دي چي دده پر انجليانو به نعمت اوروزي فراخ وي اوحلال مال به پيدا کړي. اوکه په خوب کي ووينې چي دشيدو پر ځاي وينه بهيږي نو دليل يي دا دي چي حرام مال به پيدا کوي اوکه ووينې چي تي يې تراندازي زيات را ځړېدلي دی نودليل يي دا دي چي لور به يي پيدا سي که سړي ووينې چي دهغه په تيو کي شيدي جمع سويدی نوکه ښځه يي نه وي نونکاح به وکړي اوکه ښځه يي وي نومالدار به سي اوکه داسي خوب بوډي ووينې نو دا دهغي دتنګ دستی دليل دی او که داسي خوب ځوانه ښځه ووينې نو دليل يي دا دي چي په هغونه اندازه دهغي

عمر زيات سي اوکه انجلی يي ووينې نودليل يي دا دي چې په کوچنيوالي کي به مړه سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که يو سړی په خوب کي ووينې چې دبل سړی تيان روي نو دليل يي دا دي چې ناجوړه به سي اوکه دهغه ښځه حامله وه نو زوی به يي پيداسي اوکه ښځه داخوب ووينې چې دتيو څخه به شيدي چيښي نو دليل يي دا دي چې ددنيا کار به باندي بند سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي دسړي تي دهغه ښځه ده او دښځي تيان دهغه انجلی ده اوکه ښځه په خوب کي ووينې چې دهغه دتيو څخه لاندي بل تي پيدا سويدی نودليل يي دا دي چې لور به يي پيداسي اوکه سړي ووينې چې دده دواړه تيان لوي سويدی نو دليل يي دا دي چې دهغه دزامنو حامل به ښه سي يابه يي دلور واده سي. اوکه ووينې چې ددواړو تيو څخه شيدي چيښي نودليل يي دا دي چې غم اوملامتيا به ورته حاصله سي اوکه ووينې چې دتيو څخه يې شيدي نس ته ځي نو دليل يي دا دي چې نقصان به ورته وسي. اوکه ووينې چې يو تي يي په اور کي سوزل سويدی نو دليل يي دا دي چې دهغه لور ته به دپاچاهی کار پيښ سي اوکه ووينې چې دهغه پر ټول بدن تيان دي نودليل يي دا دي چې دهغه اهل او زامن به ډير سي اوکه زامن يي نه وي نو مال به يي زيات سي ليکن دخلکو څخه به ملامتيا ورته وسي او که ښځه په خوب کي ووينې چې هغه دتيو څخه را ايله سويده نودليل يي دا دي چې دهغې به حرامي زوی پيدا سي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي تيان ليدل په پنځو وجو دی. ۱: کوچني زامن ۲: لونې ۳: خادمان ۴: ملګري ۵: ورونه.

پستان بند \ سينه بند

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دښځي په خوب کي سينه بند ليدل عزت مرتبه اوکامراني ده او دسړو لپاره زخم غم اواندينه ده اوکه ښځه ووينې چې تازه اونوی سينه بند ورسره دي نو دليل يي دا دي چې عزت مرتبه اومراد به حاصل کړي. اوکه ښځه ووينې چې سينه بند ورسره دي نو دليل يي دا دي چې مال اونعمت به حاصل کړي اوخوشحاله به وي اوکه سړي ووينې چې سينه بند ورسره دي نو دليل يي دا دي چې دبرابر والاوو څخه به رسوايي اونامردي ووينې.

پشت \ شا \ ملا

ابن سير ين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي ملا ليدل دسړي طاقت، پناه اومدد طلب کول دی اوکه په خوب کي ووينې چې دده ملا ماته سويده نو دليل يي دا دي چې کوم سړي دده پټ دښمن وو هغه به ددنيا څخه رخصت سي او که ووينې چې دده ملا ته زخم رسيدلي دي نو دليل يي دا دي چې دده معاون اومددګار ته به غم اوتکليف رسيږی ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دملا هډوکي طاقت اوزامن دي اوکوم صحيح والي اوخراب والي چې دملا په هډوکي کي وي دهغه تعبير دخوب ليدونکي زامن دي اوکه په خوب کي ووينې چې دده ملا کلکه اوقوي ده نو دليل يي دا دي چې دده دزامنو بدنونه به قوي وي اوهوښياربه وي. اوکه په خوب کي ووينې چې څه شي يي په شا کړيدی نو دليل يي دا دي چې دمړي دخلکو څخه به ده ته سخت محنت ملاويږي اوکه ووينې چې دده ملا پيچل سويده نودليل يي دا دي چې دي به بدحاله سي. جابر

Maktaba Tul Ishaat.com

مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي ددښمن ملا لیدل ددښمن دشر څخه امن دی او دښځي ملا لیدل ددنیا دګرځیدو دلیل دی. اسماعیل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي ملا لیدل ورور دی اوکه ووینې چي ملا یي ماته سویده نودلیل یي دا دي چي دده ورور به مري اوکه ووینې چي ملا یي درد کوي نود لیل یي دا دي چي ده ته به دورور یا بزرګ دطرف څخه غم او فکر رسیږي اوکه په خوب کي په څه وجه دده پرملا داغ لګیدلي وي نو دا ددین اودنیا داصلاح دلیل دی اوکه ووینې چي ملا یي ددیوال طرف ته لګولي ده نو دلیل یي دا دي چي په سفر به ځي اومال او دولت به حاصل کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي په خوب کي ملا لیدل په دوولسو وجو ده ۱: قوت ۲: وروروليي ۳: ملګري ۴: پاچا ۵: وزیر ۶: صحبت ۷: پلار ۸: ورور ۹: هلك ۱۰: مال اودولت ۱۱: مدد کول ۱۲: نیکه. او اهل تعبیر بیان کوي چي دکافرانو لپاره ملا لیدل ایمان دی او دبد کارو لپاره توبه ده او دمنافق لپاره اخلاص دی.

پشته \ غونډۍ \ ډیران

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوک په خوب کي ووینې چي دي دځنګل پر غونډۍ یا دغره پر غونډۍ ناست دی نو دلیل یي دا دي چي دبزرګ سړی څخه به شرف اومرتبه حاصله کړي او ددغه بزرګ شرافت اومرتبه به ددونه مځکي برابره وي څونه چي دده خوا اوشاته ده اوکه ووینې چي پرغونډۍ ولاړدی نودلیل یي دا دي چي داسي سړی ته به نزدی سي دچا څخه چي به ورته مال اوعزت حاصل سي. اوکه ووینې چي دغه غونډۍ دچا ملکیت اوځاي دي نو دلیل یي دا دي چي یو لوی سړی به یي مغلوب کړي اودده مال اونعمت به واخلي او دده پر ځاي به مقیم سي اوکه ووینې چي ددغه غونډۍ څه حصه دده ملکیت دي نو دلیل یي دا دي چي په هغونه اندازه نعمت او بزرګي به حاصله کړي اوکه ووینې چي دغونډۍ څخه کښته را ایله سوی دی یا چا غورزولي دی نو دلیل یي دا دي چي دعزتمند سړی څخه به عزت اونقصان ووینې اوکه ووینې چي غونډۍ ته په مشکل اوتکلیف سره تللي دی نو دلیل یي دا دي چي غم اوفکر به ورته رسیږي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي غونډۍ لیدل په څلورو وجو ده ۱: لوړوالي ۲: مال ۳: قوت ۴: طاقت.

پشم \ وړۍ

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي پشم لیدل په ټولو وجو سره حلال مال او روزي ده او کومه وړۍ چي رنګ سوي نه وي هغه غوره اوښه ده اوکه ووینې چي وړۍ دده سره ده یا چا ورکړیده یا یي اخستي ده یا یي خپل ځاي ته راوړي وي نو دلیل یي دا دي چي په هغونه اندازه به ورته مال ملاو سي دالله تعالی فرمان دی (ومن اصوافها واوبارها واشعارها اثاثا ومتاعا الی حین، سورة النحل: ۸۰) ترجمه: وړئ اوویښتان سامان دی اوتر یو وخته پوري فائده ده. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوک په خوب کي ووینې چي وړۍ دځان څخه لیري کوي نو دلیل یي دا دي چي خپل مال به ضائع کوي اوکه ووینې چي وړۍ سوزي نودلیل یي دا دي چي خپل مال به

تباه کوي. اوکه ووينې چې دده پر بدن دوړی کالي دی نو دليل يې دا دي چې دښځو څخه به ورته مال ملاو سي اوکه ووينې چې دوړيو يا دپمبوو کالي يې اخيستي دی يا دده سره دوړئی بستره ده نو دليل يې دا دي چې مالداره ښځه به کوي.

جابرمغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي داوښ وړی مال دی چې دپاچا څخه به ورته ملاو سي اواهل تعبير وائي چې دوراثت مال دی.

پشه \ غوماشه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې غوماشه په خوب کی ليدل يو ذليل اوخوار سړی دی چې وران او ذليل کار کوي. اوکه ووينې چې دغوماشي سره جنګ کوي نو دليل يې دا دي چې دکمزوري سړی سره به جنګ کوي اوکه ووينې چې غوماشه يې تيره کړيده نو دليل يې دا دي چې د ذليل سړی سره به په ذليل کار کي مشغول سي اودهغه څخه به ورته لږ شي حاصل سي. اوکه په خوب کي ووينې چې ډيري غوماشي دده پر بدن جمع سويدی اودي چيچي نودليل يې دا دي چې دعامو خلکو پر ژبه به ورخيږي او دهغوی څخه به ورته نقصان وسي او ده ته به ضرر اوسخت نقصان رسيږي ځکه چې غوماشي دسړی وينه چيښي. اوکه په خوب کي ووينې چې غوماشي دده په غوږ يا پوزه کي ننوتلي ده او ددي څخه ورته تکليف رسيدلي دي نو دليل يې دا دي چې ده ته به دکمزوري سړی څخه غم او تکليف اوضرر رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کی ووينې چې ډيري غوماشي دده کورته راغلي دی نو دليل يې دا دي چې ده ته به غم اوفکر ورسيږي اوکه ووينې چې غوماشي زياتي سوي دی او دده په کورکي جمع سوي دی نودليل يې دا دي چې پرکمزوري دښمن به فتح حاصله کړي. اوکه څوك په خوب کي ووينې چې غوماشي دده پوزي ته ورننوتلي ده او د دباندي څخه راوتلي ده نودليل يې دا دي چې په محنت اوبلا کي به ګرفتار سي.

بطه \ هيلی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې بطه په خوب کي ليدل دمال اونعمت دليل دی خاصکر که دخپل کور او خپل ملکيت سره يې ووينې نو دهغه په قدر به فراخي حاصله کړي اوکه ووينې چې ډيري بطی دده په کور يا کوڅه کي جمع کيږي اوخبري کوي نودليل يې دا دي چې په دغه ځای کي به افت اومصيبت راسي اوکه ووينې چې بطي دده سره خبري کوي نودليل يې دا دي چې دمالداري ښځي په وجه به سفر کوي او په هغه کي به عزت اوفائده پيدا کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي بطه ليدل دکور والاو څخه يو عزتمند مالدار اودبدبي والا سړی دی اوکه ووينې چې دهغه څخه يې څه حاصل کړي دی نو دليل يې دا دي چې ددغه صفت والا سړی څخه به څه حاصلوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي سپينه بطه ليدل مال وي يا مالداره ښځه وي او توره بطه په خوب کي ليدل مينځه وي او که په خوب کي ووينې چې بطه يې مړه کړيده او دهغه غوښه يې خوړلي ده نودليل يې دا دي چې دښځي مال به په وراثت کي حاصل کړي اوضائع به يې کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

بغل \ تخرګ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي تخرګ ليدل ملامتيا اوبدي ده چي ده ته به ورسيږي او دتخرګ وينښته په خوب کي ليدل دمراد حاصلولو اوپر دښمن دغلبي حاصلولو دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده دتخرګ څخه بد بوی راځي نو ددي خبري دليل دا دي چي خوب ليدونکي به حرام مال حاصلوي. او بدي ده چي ده ته به ورسيږي او دتخرګ وينښته په خوب کي ليدل دمراد حاصلولو او پردښمن دغلبي دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده دتخرګ څخه بدبوی راځي نو ددي خبري دليل دا دي چي خوب ليدونکي به حرام مال حاصلوي. محمد ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي تخرګ ليدل ملامتيا اوبدي ده چي ده ته به ورسيږي او دتخرګ وينښته په خوب کي ليدل دمراد حاصلولو او پر دښمن دغلبي حاصلولو دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده دتخرګ څخه بدبوی راځي نو ددي خبري دليل دا دي چي خوب ليدونکي به حرام مال حاصلوي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده دتخرګ څخه ډيره بدبويي راځي نو دليل يې دا دي چي حرام مال به پيدا کوي. اوکه ووينې چي ترتخرګ لاندي لاسونه ساتي نو دليل يې دا دي چي دښمن به مغلوب کړي اومال به حاصل کړي دالله تعالی فرمان دی (واضمم يدك الى جناحك تخرج بيضاء، سورة طٰهٰ: ۲۲) ترجمه: خپل لاس په تخرګ کي ننباسه سپين به را ووزي اوبعض اهل تعبير بيان کوي چي دمروت اودځوان مردۍ دليل دی اوکه ووينې چي دده په تخرګ کي څه نقصان نسته نودليل يې دا دي چي ده ته به په مشکله مال ملاو سي. اوکه ووينې چي دتخرګ څخه يې خولې بهيږي نو دليل يې دا دي چي دخولو دانداز مطابق به يې نقصان وسي.

بقالي کردن \ سبزي خر څول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کی سبزي خرڅول په کارونو کي کوشش او دژوند لپاره شيان حاصلول دی اوکه ووينې چي سبزي خرڅوي نو دليل يې دا دي چي ددنيا په کاروبار او کسب کي به مشغول سی اوڅه چي لري په هغونه اندازه به ددنيا سامان حاصلوي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي سبزي په روپۍ سره خرڅوي نو دا دغم اوفکر دليل دی ځکه چي دروپۍ تعبير دغم اوفکر دی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي سبزي خرڅول په دريو وجو وي ۱: کسب کول ۲: نفع ۳: غم اوفکر که چيري سامان دروپۍ په بدله کي خرڅوي.

پلانګيني \ لينده

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي په لاس کي دليندی لرلو دليل دا دي چي ده ته به دچا څخه قوت اومدد نه وي اوکه په خوب کي ووينې چي لينده يې دنرم لرګي څخه تراش کړيده نو ددي تعبير داولني تعبير څخه خلاف دی.

پلاس \ غټه ډبله کپړه

په خوب کي ډبله کپړه ليدل مصلح فقير پرهيزګار دچا کاروبار چي ددينداری وي اوامانت داره سړی دی اوکه په خوب کي ووينې چي پنډي کپړي يي اغوستي دي نو دليل يي دا دي چي دده به دپرهيزګار سړی سره دملګرتيا اتفاق کيږي او دهغه څخه به داخرت خير او نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي دده سره ډيری پنډي کپړي دي نو حلال مال دی اوکه په خوب کي ووينې چي دده سره نوي پنډي کپړي دی نو دليل يي دا دي چي پرهيزګاره او مالداره ښځه به وي او دهغه څخه به خير اونفع حاصله کړي اوکه ووينې چي نوي کالي يي اغوستي دی نودليل يي دا دي چي پرهيزګاره مينځه به اخلي اودهغه څخه به ورته خير اونفع حاصل سي.

بلبل ديدن \ بلبل ليدل

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي بلبل ليدل عقلمند زوی اوغلام دی او په خوب کي دده اواز دخوشحالی خبری وي اوکه په خوب کي ووينې چي بلبل الوتي دی نو دليل يي دا دي چي دده زوی يا غلام به ضائع سي اوکه په خوب کي ووينې چي بلبل دده په لاس کي مړ سوي دی نودليل يې دا دي چي دده زوی يا غلام مري جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي دده سره ډير بلبلان وي نو دليل يي دا دي چي هغونه غلامان به اخلي اوکه په خوب کي ووينې چي بلبلان يي مړه کړيدی او دهغه غوښه يي اخيستي ده نودليل يي دا دي چي په وراثت کي به ورته ډير غلامان ملاو سي.

بلبله \ کوزه

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي کوزه ليدل مينځه ده. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي کوزه دهغه ښځه ده اوکه په خوب کي ووينی چي کوزه يي واخسته يا چا ورکړيده نو دليل يي دا دي چي مينځه به اخلي يا به ښځه کوي اوکه ووينې چي ددغه کوزي څخه اوبه چيښي نو دليل يي دا دي چي دښځي سره به جماع کوي او که په خوب کي ووينې چي کوزه ماته سويده نو دليل يي دا دي چي دده ښځه يا مينځه به مري.

حکايت

دابو خلده څخه روايت دی، دی وايي چي زه دمحمد ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کي حاضر وم چي هغه ته يو سړی راغلي اوبيان يي وکړي چي ماخوب ليدلي دی چي دکوزي څخه اوبه چيښم اودهغه دوې خلي دی ديوي خوا څخه يي خوړې اوبه چيښم اودبلي خوا څخه ترخي دوی ددي په تعبير کي ارشاد وفرمايی چي ستا سره ښځه اودهغه خور دواړه دی اوته ددواړو سره جماع کوي توبه وباسه اودخداي څخه وبيريږه هغه سړی وويل چي ستا حکم پر ځاي دی ما توبه وايسته او دالله تعالی طرف ته يي رجوع وکړه.

بلغم ديدن \ بلغم ليدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي بلغم په خوب کي ليدل مال دی اودده په ښه والي کي به مال خرڅوي اوکه څوک په خوب کي ووينې چي ځاي پر ځاي بلغم غورزوي نو ددي تعبير داولنی

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاف دی اوکه ووینې چې دمری څخه یې بلغم پرپاک ځای غورزولي دی نو دلیل یې دا دي چې په صحیح ځای به مال خرچوي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که ناجوړه ووینې چې ده بلغم غورزولي دی نو دلیل یې دا دي چې دناجوړې څخه به شفا حاصله کړي اوکه ووینې چې تور بلغم یې غورزولي دی نو دا دغم اوفکر دلیل دی اوکه په بلغم کې وینه ووینې نودلیل یې دا دي چې دده دمال دځه حصې نقصان به وسي اوکه ووینې چې بلغم یې پخپل کورکې دننه غورزولي دی نو دلیل یی دا دي چې مال به خرچ کوي.

برګ \ پاڼه

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کې ددرختو پانې لیدل ددرختو مطابق دهغه اخلاقو دلیل دی خاصکر که پخپل موسم کې ووینې اوکه ووینې چې ددرختو پانې یې په موټې کې نیولي دی نودلیل یې دا دي چې خوب لیدونکي خوش اخلاقه اونیک دی. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوک په خوب کې ووینې چې ددرختې تازه پانې یې اخیستې دي نودلیل یې دا دي چې په هغونه اندازه به ورته درهم ملاو سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کې دهغه درختې پانې لیدل دکومې میوې چې خوړې وي دنیک خوئی دلیل دی اودترووو میوو والا درختې پانې په خوب کې لیدل دبدخویی دلیل دی اود هغو درختو پانې لیدل کومې چې میوې نه نسي پر درهم اودینار دلیل لري اواهل تعبیر بیان کوي چې که دمیوه داره درختو پانې په خوب کې ووینې نو ددرهم او دینار ملاویدو دلیل دی.

پلنګ \ پړانګ

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کې پړانګ قوي اومضبوط دښمن دی اوکه څوک په خوب کې ووینې چې دپړانګ سره جنګ کوي نو دخپل دښمن سره به جنګ کوي او دښمن ته به غلبه او فتح وي. یعنې که پړانګ پرده غالب سو نو دښمن به باندې غالبه سي اوکه دې پر پړانګ غالب سو نو دې به پر دښمن کامیابی حاصله کړي اوکه په خوب کې ووینې چې دپړانګ غوښه خوړې نو دلیل یې دا دي چې په جنګ کې به راسي او په اخر کې به فتح حاصله کړي او شرافت اوبزرګي به حاصله کړي. اوکه په خوب کې ووینې چې زمری پړانګ خوړي نودلیل یې دا دي چې ددښمن څخه به ورته بیره ورسیږي اونتیجه به یې امن وي اوکه په خوب کې ووینې چې دپړانګ پوست یا هډوکي یا وینښته ده اخیستې وي یا بل چا ورکړیدی نو دلیل یې دا دي چې په هغونه اندازه کې به ددښمن مال حاصل کړي اوکه څوک په خوب کې ووینې چې پړانګ یې مړ کړیدی نو دلیل یې دا دي چې داسلام څخه به مخ اړوي او ده ته به څه خیر نه وي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کې پړانګ لیدل په دریو وجو دی ۱: قوي دښمن ۲: ددښمن څخه مال حاصلول ۳: دپاچا بیره.

بلور \ د شیشې کانې

دشیشې کانې په خوب کې بې اصله ښځه ده اوکه ووینې چې دده سره دشیشې کانې دی یا چا ورکړیدی نودلیل یې دا دي چې بې اصله ښځه به کوي. اوکه څوک به خوب کې ووینې چې دده

سره دشيشي کانې دي يا ورك سويدی نودليل يي دا دي چي ښځي ته به طلاق ورکړي يا به دده ښځه پخپله غائبه سي اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دده سره ډير دشيشي کانې دي نودليل يي دا دي چي دښځو په وجه به مال حاصل کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دشيشي کانې خرڅوي اوپه بعضوکي سوري دی اوپه بعض کي سوري نسته نو دليل يي دا دي چي دکونډو ښځو او دبي اصله پيغلو انجليو دلالي به کوي.

بلوط \ د څيړې درخته

بلوط يوه غرنۍ درخته ده ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دځيړې درختـه ليدل حلاله روزي ده هرڅونه چي وخوړل سي هغومره. اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دده په کور کي دځيړې ددرختو غونډۍ لګيدلي دی نودليل يي دا دي چي په دغه کال به ډير مال اونعمت حاصل کړي اوکه ووينې چي دځيړې درختي دده ملکيت دی اودبل چا په کور کي دی نودليل يي دا دي چي خلک به خپل مال دده سره دامانت په طور ږدي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دځيړې درخته ليدل په درو وجو ده ۱: حلاله روزي ۲: نفع ۳: ښه کار.

پليته \ بتۍ

حضر ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي بتۍ بلوونکي حاکم دی چي خلک پر ګيرچاپيره وی اودده خدمت به کوي اوکه بتۍ بله نه وي نوددي تعبير داولني خلاف دی.

بناګوش \ د غوږ پوستکی

دغوږ پوستکی په خوب کي ليدل ښائسته اومبارك هلک دی او دوه پوستکي دوه هلکان دی ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دغوږ پوستکی په خوب کي ليدل دقدر او مرتبي دليل دی او دغوږ په پوستکي کي کمي اوزياتي ليدل دخوب ليدونکی پر قدر اومرتبي دليل دی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دغوږ پوستکی ليدل په څلورو وجو دی ۱: ښائسته هلك ۲: قدر اومرتبه ۳: سموالی ددين ۴: دزوی په وجه نفع.

پنبه \ مالوچ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي څونه پنبه ووينې هغونه حلال مال دی او په خوب کي دپنداني ليدل هم پر مال اودولت دليل دی کوم چي به خوب ليدونکي ته په اسانی سره بغير دتکليف اومحنت څخه حاصل سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي پمبه ليدل په درو وجو ده ۱: حلال مال ۲: فائده ۳: دپردي کيدل.

پنبه دانه \ د پمبي تخم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دپمبي تخم جنګ کوونکي اوبيهوده سړي دی.

بنجشک \ مرغۍ

دانيال عليہ السلام ويلي دي چي په خوب کي مرغۍ ليدل قدرمن او مرتبي والا سړی دی که پرهيزګاره وي اوکه نه وي او که ووينې چي مرغۍ يي په دام اوحيلي سره نيولې ده نو دليل يي دا دي چي د بي قدره سړی سره به مکر اوچم کوي اوهغه به مغلوبه کوي. اوکه ووينې چي مرغۍ يي نيولي

Maktaba Tul Ishaat.com

ده نودلیل یې دا دي چې قدر منه ښځه به پر ده کامیابه سي اوکه ووینې چې ددي غوښه یې خوړلي ده نو دلیل یې دا دي چې دخوړل سوي غوښې مطابق به دي سړی ته مال ملاو سي او که ووینې چې مرغی یې دهغه دځالي څخه را ایستلي ده نو دلیل یې دا دي چې غم اوملامتیا به ورته حاصله سي. محمد بن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوك ووینې چې دمرغۍ بچي یې ښکاره کړیدی او دهغه ستونه یې مات کړیدی او په جولۍ کې یې اچولي دی نو دلیل یې دا دي چې دماشومانو معلم به سي اوهغوی ته به په لښتو سزا ورکوي. او که ووینې چې سره مرغۍ یې ښکار کړیده نو دلیل یې دا دي چې ژړ رقمه ناجوړه ښځه به کوي. او اهل تعبیر بیان کوي چې په خوب کې مرغۍ پیداکول زوی یاغلام دی او که ووینې چې دده سره ړنده مرغی ده نودلیل یې دادي چې دخراب اوحریص سړی سره به محبت کوي او وایي چې په خوب کې مرغی پیداکول دفقیر سړی لپاره ښېړ درهمه دی او دمالدار سړي لپاره شېړ زره درهمه دی چې اوبه یې حاصلي کړي دی او په خوب کې دمرغی ځالګي لیدل خیر نرمي او امن دی اوکه ووینې چې دمرغۍ بچي یې دکور څخه را ایستلي دی نودلیل یې دا دي چې دده به حلال اوحرام زامن وسي. اوکه په خوب کې ووینې چې مرغی اواز کوي او دهغه اواز یې اوریدلي دی نو دلیل یې دادي چې دحیرانتیا خبری به واوري اواهل تعبیر بیان کوي چې په خوب کې دمرغیو اواز تسبیح دی اوکه ووینې چې ده ته ډیری مرغۍ حاصلي سوي دی نودلیل یی دا دي چې دیو قوم سردار به سي اوډیر مال به حاصل کړي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوك په خوب کې یوه مرغی ووینې نو زوی دی اوکه ووینې چې ډیري مرغی خبري کوي نو دلیل یې دا دي چې دشور کونکو خلکو سره به یې کار وسي اوکه څوك په خوب کې ووینې چې په خوله کې یې مرغی نیولي ده اوتیره کړي یې ده نودلیل یې دا دي چې زوی به یې وسي اوکه په خوب کې ووینې چې چا ورته ډیري مرغی بخښلي دی نو دلیل یې دا دي چې په هغونه اندازه مال به حاصل کړي اوکه ووینې چې مرغی یې مړه کړیده یا دده په لاس کې مړه سویده نودلیل یې دا دي چې نقصان به ورته ورسیږي اوزوی به یې مړ سي اوکه ووینې چې دمرغی ځالګي یې اخیستي ده نودلیل یې دا دي چې دده زوی به په ځنګل کې پیداسي او دغټ وجود والا به وي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې مرغی په خوب کې لیدل په نهو وجو ده ۱: پاچا ۲: مال ۳: بزرګ ۴: ښائسته غلام ۵: قاضي ۶: سوداګر ۷: غل ۸: جنګ مار سړی ۹: دجماع لپاره حرص ناکه سړی.

حکایت

ابوخلده بیان کوي چې یو واري زه دمحمد بن سیرین رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کې حاضر وم چې یو سړی راغلي اوهغه خپل خوب بیان کړي چې ما لیدلي دی چې زما په لستونې کې ډیری مرغی دی او زه دهغو څخه یوه یوه راباسم او حلالوم یې اوکلمۀ شهادت وایم او دوي څاه ته اچوم ددي خوب تعبیر څه دی؟ ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ پوښتنه ځني وکړه چې ستا کور په کوم ځاي کې دی هغه په جواب کې وویل چې په فلانکي محله اوفلانکي کوڅي کې دی دوی وویل چې زما

تراتلو پوري ته دلته يوساعت کښينه دوي ولاړه اودوخت پاچا ته ورغله اوهغه ته يي ټول حالات وويل چي يو سړی دخلکو په نقصان کي لګيا دی بيا دوي دپاچا عسکر دهغه کورته بوتل او دهغه دکور تلاشي يي واخيسته دوی وليدل چي تقريبا پنځوس کسان يي مړه کړيدی او څاه ته يي اچولي دی معلومه سوه چي دغه سړی به خلک به يوه بهانه کورته بوتلل او دهغه څخه به يي مال واخيستي مړ به يي کړي او څاه ته به يي وغورځوي پاچا وويل چي داسړی دی قصاص سي او خلک ددي خوب په تعبير ډير حيران سوه. په خوب کي دمرغی تعبير ورکوټي بچي دی اوددي نيك او بد تعبير به پر ورکوټي بچي واقع کيږی.

پند دادن \ نصيحت کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي نيک سړی ته نصيحت کوي په کوم کي چي ددين اودهغه داخرت خلاصون دی نو دا پر زيري دليل دی چي په دي کي ددين او دنيا خير دی اوکه ددي خلاف ووينې نو ددين او ددنيا دفساد اوتباهی دليل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي چاته نصيحت کوي په کوم کي چي دده ددين اصلاح ده ښه دي او نصيحت کونکي مقربه فرښته ده چي ده ته دخيرات زيري ورکوي چي ده ته به حاصل سي ددي لپاره چي شکريه ادا کړي او داسي نصيحت چي په هغه کي ددين فسادوي داسي نصيحت کوونکي شيطان ترټل سوي وي چي ده ته دفساد اوتباهی خبر ورکوي په داسي موقع باندي توبه او الله تعالی ته رجوع کول پکار وي ددي لپاره چي دهغه دشر اوفساد څخه يي الله تعالی حفاظت وکړي او دالله تعالی دعذاب څخه خلاصون حاصل کړي.

بندنهادن \ بيړی ته اچول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي په پښو کي دبيړئ ليدل دليل دا دي چي دده په دين کي خلل دی اودي داسلام په درواغو دعوه کوونکي دی او بخيل دی چي چا ته دده څخه فائده نسته اوبعضي اهل تعبير بيان کړيدی چي که نيك سړی پخپل لاس کي هتکړی ووينې نو دليل يي دا دي چي دخراب اوناکاره کار څخه به منع سي او که هتکړی دلرګي ووينې نو څه چي بيان سوي دی کم او اسان به وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي پخپله مړی کي دلرګي بيړئ ووينې نودليل يي دا دي چي دده پر ذمه امانت دی چي ده نه دي ادا کړي اوکه دلرګي بيړي پخپله پښه کي ووينې نو دليل يې دا دي چي د اطاعت دحق څخه به منع سي اوکه په سفر کي وي نو په سلامتی سره به بيرته راسي. اوکه پخپله مړئ کي دسپينو زرو هتکړي ووينې نودليل يي دا دي چي ده ته به دښځي په وجه غم اوتکليف رسيږي اوکه ووينې چي دده هتکړي دسروزرو ده نو دده غم اوتکليف به دمال په وجه وي اوکه داوسپنی هتکړي ووينې نو دده دغم وجه به کار او ژوند وي او که ووينې چي ده هتکړي ماته کړيده نو دا دده په دين کي دخلل وجه ده او خاص به يي دلاس هتکړي ماته کړي وی اوکه ووينې چي دده دپښو څخه چا بيړی وړې ده نو دليل يي دا دي چي دپاچا دنوکري څخه به خلاص سي اوکه په خپلو پښو کي بيړي ووينې نو دليل يي دا دي چي دده ملګرتيا به دمنافق سړي سره وي اوکه

Maktaba Tul Ishaat.com

خپلي پښي په رسۍ سره تړل سوي وويني نودليل يي دا دي چي ده ته به دچا څخه فائده وي. دانيال عليه السلام ويلي دی چي که مالدار سړی وويني چي دده په پښو کي بيړۍ پرتي دی نو دليل يي دا دي چي دخپل وطن څخه به په سفر ځي او په هغه کي به اوسيږي اوکه څوك وويني چي دده په دواړو پښو کي بيړۍ پرتي دی نو دليل يي دادي چي ولايت به حاصلوي او که وويني چي په پښو کي يي څلور بيړی پرتي دی نو دليل يي دا دي چي دده به څلور زامن وسي اوکه وويني چي دپښو څخه يي بيړي ايستلي دی نودليل يي دا دي چي دغمونو څخه به خلاصون حاصل کړي او که مالدار وويني چي دده پښي په بيړيو او زنجيرونو کي دی نودليل يي دا دي چي ده ته به دعيسايانو څخه نفع وي. اوبعضي اهل تعبير بيان کوي چي دده کار به اسانه سي او که وويني چي دده هتکړي داوسپنی دي نودليل يي داد ی چي دښځي سره به نکاح کوي يا به پر ښځه عاشق سي اوکه وويني چي دده هتکړي دسروزرو دي نو دليل يي دا دي چي په سفر به ځي يا به ناجوړه سي اوکه وويني چي هتکړي يې داوسپني دی نو دليل يي دا دي چي په ليري سفر به ځي. جابر مغربي رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي بيړۍ ليدل ددين دثابت والي دليل دی ځکه چي حضور صلى الله عليه وسلم ويلي دی (احب القيد فی النوم ولا احب الغل لان القيد ثبات فی الدين) ترجمه: زه په خوب کي دپښو قيد غوره کوم او دځپ قيد نه غوره کوم ځکه چي دپښو بند په دين کي ثابت قدمي ده. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي دبيړۍ په خوب کي ليدل په څلورو وجو دی. ۱: کفر ۲: نفاق ۳: بخل ۴: په لاس سره ګناه منع کول. اوبعضو اهل تعبير بيان کړيدی چي په خوب کي په لاسونو کي هتکړي ليدل ددي خبري دليل دي چي دظالم پاچا لاس به دظلم څخه منع کوي.

بنده \ غلام

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي وويني چي نابالغ غلام دی چي هغه بالغ سوي دی نو دليل يي دا دي چي ازاد به سي اوکه وويني چي خپل غلام يي ازاد کړي دی نو دليل يي دا دي چي ژر به ددنيا څخه رخصت سي. اوکه غلام وويني چي خپل سردار يي خرڅ کړي دی نو دليل يي دا دي چي محتاج اوغمناکه به سي اوکه سردار وويني چي غلام يي اخيستي دی نو دليل يي دا دي چي خوشحاله به سي.

بنفشه \ يو قسم ګل دي

محمد بن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي پر موسم بنفشه ليدل ددې دليل دي چي دښځي يا دمينځي څخه به ورته څه ملاو سي يا به يي هلک وسي او که دا دخپلي درختي څخه جلا وويني نو دليل يي دا دي چي دغه سړی به غمناکه او فکرمند سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ښځه وويني چي بنفشه يي ايستلي ده اوخپل خاوند ته يي ورکړيده نو دليل يي دا دي چي خاوند به ورته طلاق ورکړي اوکه وويني چي چاورته دبنفشه دسته ورکړي ده نو دليل يي دا دي چي په هغو کي به جدايي راسي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دبنفشي درخته بدخويه او ناموافقه ښځه ده.

بنياد نهادن \ بنياد ايښودل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي ده نوي بنياد ايښي دی نودليل يي دا دي چي هغونه به دخاصو اوعامو څخه فائده ووينې اوکه پرنامعلومه ځاي يي بنياد ايښي وي اومعلوم ورته نه وی چي دچا ملکيت دی نودليل يي دا دي چي ددين اودنيا کار به يي بي فائدي وي اوکه ووينې چي بنياد يي په خپل ملکيت کي ايښي دی نو دليل يي دا دي چي دحلال رزق فائده به لوړوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي بنياد يې دپخو خښتو او چوني څخه ايښي دی نو دليل يي دا دي چي ددين په کار کي به دده مرتبه لوړوالي سي اوکه ووينې چي دپخو خښتو بنياد يي ايښي دی اولوړ کړي يي دی نو دليل يي دا دي چي ددنيا په کارونو کي به مشغول سي. اوکه خوب ليدونکي پخپله بنياد ايږدي او مزدوري اخلي نو دليل يي دا دي چي نفع به حاصله کړي اوکه ووينې چي دپخو خښتو بنياد يي ايښي دی نو دليل يي دا دي چي دپاچا څخه به فائده اخلي اوکه ووينې چي بنياد يي دکچي خښتو اوختو څخه جوړ کړي او لوړ کړي دی نودليل يي دا دي چي دعامو خلکو څخه به فائده حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي ده ښار جوړ کړيدی نودليل يي دا دي چي دخلکو ټولګي به په خپله پناه ګيري کي واخلي اوکه ووينې چي قلعه يي جوړه کړيده نو دليل يي دا دي چي ددنيا په کار کي به مشغول سي اوکه ووينې چي کور يي جوړ کړيدی او په هغه کي ناست دی نو دليل يي دا دي چي دفائدي شي به ووينې. اوکه ووينې چي جماعت يي جوړ کړيدی نو دليل يي دا دي چي خلک به داصلاح په کار کي راولي اوکه ووينې چي دمناري بنياد يي ايښي دی نودليل يي دا دي چي دده نوم به په خيرات کي ښکاره سي اوکه ووينې چي نقشي شي يي جوړ کړي دی نودليل يي دا دي چي ښځه به کوي اوکه ووينې چي حمام يي جوړ کړيدی نودليل يي دا دي چي په تکليف اوغم کي به راسي. او که ووينې چي باغ يي جوړ کړيدی نو دليل يي دا دي چي پرهيزګاره اومالداره ښځه به کوي اوکه ووينې چي قبرستان يي جوړ کړيدی نو دليل يي دا دي چي داخرت په کارکي به مشغول سي اوکه ووينې چي قبه يي جوړه کړيده نودليل يي دادي چي دقدر اومنزلت تلاش به کوي اوکوم بنياد چي ووينې چي تيار کړي يي دی نو دليل يي دا دي چي ددنيا اودين کار به پوره کړي اوکه هغه نيمګړي پريږدي نو دده کار به نيمګړي وي.

پنير

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي وچ پنير لږ مال دی چي دسفر څخه به حاصل سي او تازه پنير ډير مال دي چي په سفر کي به ورته حاصل سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي تازه پنير مال اونعمت دی چي په اساني سره به ورته حاصل سي اوخشک پنير لږ مال دی چي دسفر څخه به ورته حاصل سي اوکه څوک په خوب کي ووينې چي پنير دډوډئ سره خوري نو دليل يي دا دي چي ده ته به په سفر کي لږ مال غم اوفکر حاصل سي. اوبعضي اهل تعبير بيان کړيدی چي ده ته به ناجوړي ورسيږي اوډير ژر به خلاصون ځني پيدا کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

بهی \ بهی (یو ډول میوه)

دبهي تخم بهیدانه ده په خوب کي دبهي په تعبیر کي داستادانو دفن اختلاف دي بعضو ویلي دی چي دبزرګ سردار سره به ملاوسي او دهغه څخه به خیر اونفع ووینې اونیك تعریف به اوري او بعضو ویلي دی چي دبهي لیدل زوی دی اوبعضو ویلي دی چي نا جوړه به سي او چاچي ددي تعبیر ناجوړي ښوولي ده دارنګه وایي چي دده ژړ رنګ دناجوړي دلیل دی اوځوك چي وایي چي اوږد سفر به یي دجسماني تکلیف سره وي دهغوئ دلیل دادی چي جبرئیل علیه السلام ادم علیه السلام ته دجنت څخه دوتلو په وخت کي بهی ورکړي وو ددي وجي څخه داوږد سفر تکلیف دفکر اوغم حکم لري ځکه چي دادم علیه السلام سفر دجنت څخه دنیا طرف ته دقسماقسم غمونو اوفکرونو سره وو چي ده ته حاصل سو. او چاچي دبهي تعبیر په زوي سره کړیدی ددي وجه داده چي کله ادم علیه السلام دنیا ته راغلي نو دبهي په خوړلو سره دهغه مني زیات سویدی نو ددي وجي څخه دونه اولاد ځیني پیدا سو. اوکومو خلکو چي ویلي دی چي دبزرګ سردار څخه به نیك تعریف خیر اونفع پیداکړي دهغوئ دلیل دا دي چي بهي ورکوونکي جبرائیل علیه السلام وو اودهغه اخستونکي ادم علیه السلام وو په دي وجه یي نیك تعریف اونفع هم پیدا کړله او استاذانو دهر خوب تعبیر داسي سرسري نه دي بیان کړي. ابراهیم کرمانی رحمة الله علیه ویلي دی چي په خوب کي په خپل موسم شنه بهي لیدل زوی دی اوکه بي موسمه او ژړه یي ووینې نو ناجوړي ده.

بهار \ پسرلی

ابن سیرین رحمة الله علیه ویلي دی چي دپسرلي تعبیر په پسرلي کي پاچا دی که څوك په خوب کي ووینې چي دپسرلي موسم دی او هوا معتدله نه ده بلکي یخه ده یا ګرمه ده او خلکو ته ضرر او نقصان رسیږي نو دلیل یي دا دي چي ددغه ملك خلکو ته به دپاچا څخه غم او ضرر رسیږي او دي به هم ووینې اوکه په خوب کي ووینې چي هوا معتدله ده ګلونه را ټوکیدلي دی اوخلکو ته هیڅ قسم تکلیف نسته نو دلیل یي دا دي چي دملك خلکو ته به دپاچا څخه خیر اونفع ورسیږئ اوکه پسرلي پخپل وخت په اعتدال سره ووینې نو دلیل یي دا دي چي عزت اومرتبه به حاصله کړي او عامو خلکو ته به دپاچا څخه قوت اومدد وي او پاچا به عدل او انصاف کوونکي وی دپسرلي دموسم دا تعبیر دی.

بهشت \ جنت

ابن سیرین رحمة الله علیه ویلي دي چي په خوب کي جنت لیدل دالله تعالی دطرف څخه خوشحالي او خوشخبري ده دالله تعالی فرمان دی (ادخلوها بسلام امنین، سورة الحجر: ٤٦) ترجمه: په هغه کي په سلامتي او امن سره داخل سي. اوکه ووینې چي دجنت میوي ورسره دی یا چا ورکړیدی او ده خوړلي دی نودلیل یي دا دي چي څونه چي میوي یي خوړلي وي په هغونه اندازه به علم عقل او ددین خویونه زده کړي لیکن فائده به ځني لوړه وي. او که څوك په خوب کي جنت ووینې نو دلیل یي دا دي چي زکندن به باندي اسانه سي او که ووینې چي په جنت کي مقیم دي لیکن غمناک دی نو دلیل یي دا دي چي دفساد اوګناه طرف ته به مائل سي او که په خوب کي ووینې

چي دجنت دروازي باندي بندی کړل سويدی نو دليل يي دا دي چي مور اوپلار به دده څخه ناراضه سي اوکه ووينې چي جنت ته ولاړی او بيرته راغلي نو دليل يي دا دي چي دمرګ په ناجوړۍ کي به ګرفتار سي ليکن شفا به حاصله کړي. اوکه ووينې چي فرښتو دده لاس نيولي دی اوجنت ته يي بيولي دی او په دغه وخت کي دي دطوبي په سايي کی ناست دي نودليل يي دا دي چي ددواړو جهانونو مراد به يي پوره سي دالله تعالی فرمان دی (طوبى لهم وحسن ماب، سورة الرعد: ۲۹) ترجمه: ددوي لپاره خوشخبري او ښه ځاي دی. اوکه ووينې چي دي دشرابو او شيدو دچينلو څخه منع دی نو دا دده ددين دتباهی دليل دی دالله تعالی فرمان دی (ومن يشرك بالله فقد حرم الله عليه الجنة، سورة المائدة: ۷۲) ترجمه: او که څوك دالله سره شريك ونيسي نو اللهﷻ به پرهغه جنت حرام کړی. او که ووينې چي چا دجنت ميوه ورته ورکړيده نو دليل يی دا دي چي ده ته به علم حاصل سي او که ووينې چي په جنت کي يي اور اچولي دی نو دليل يي دا دي چي دچا دباغ څخه به حرام شيان خوري او که ووينې چي دحوض کوثر څخه يي اوبه چينلي دی نو دليل يي دا دي چي پر دښمن به کاميابي حاصلوي اوکه ووينې چي دجنت محل ورته ملاو سويدی نودليل يي دا دي چي خوږه معشوقه يا مينځه به ورته ملاوسي اونکاح به ورسره وکړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دجنت داروغه رضوان دده مخي ته خوشحاله او ترو تازه دی نو دليل يي دا دي چي دچا څخه به خوشحاله سي دالله تعالی فرمان دی: (سلم عليكم طبتم فادخلوها خلدين، سورة الزمر: ۷۳) ترجمه: سلام دی وي په تاسو په دي کي دهميشه لپاره په خوشحالی سره داخل سي اوکه ووينې چي دجنت په ډول پر ښه او لوړ ځاي باندي دی او په دي پوهيږی چي داجنت دي نو دليل يي دا دي چي دعادل پاچا سره يا دامير سره يا دبزرګ عالم سره به ملګرتيا کوي او که ووينې چي دجنت طرفته ځي نو دليل يی دا دي چي پرحقه لاره به وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي جنت ليدل په نهو وجو وي. ۱: علم ۲: پرهيزګاري ۳: احسان ۴: خوشحالی ۵: زيري ۶: امن ۷: خير او برکت ۸: نعمت ۹: نيك بختی. اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دي په جنت کي دی نو دليل يي دا دي چي ددواړو جهانونو مراد به يي حاصل سي او دده دلاسه به ډير خيراتونه کيږي او که مصلح يي ووينې نو دليل يي دا دي چي په ناجوړی يا مصيبت کي به اخته سي ددي وجي څخه دجنتيانو ثواب به وي او عالم به سي اوخلک به دده دعلم څخه فائده اخلي.

پهلو \ اړخ \ډډه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي اړخ ښځه ده اوکه ووينې چي دده اړخ پرسيدلي دی نو دليل يي دا دي چي دده ښځه اومينځه دواړه به حامله سي او که په خوب کي ووينې چي اړخ يي سور دی اود غوښو يوه ټکړه په وينيو لړلي دده دړخ څخه را ايله ده نو دليل يي دا دي چي دده دښځي حمل به بي وخته ساقط سي او که ووينې چي دواړه لاسونه يي پر اړخ ايښي دی نو

Maktaba Tul Ishaat.com

دليل يي دا دي چي سخت غم به ورته ورسيږي. ابراهيم كرماني رحمة الله عليه ويلي دى چي كه څوك په خوب كي ووينې چي دده دارځ هډوكي مات سويدى نودليل يي دا دي چي ده ته به دپلار يا مور يا اولاد څخه غم اوفكر ورسيږي. اوكه څوك په خوب كي ووينې چي دده دارځ پوست جلا سويدى اورا ايله سوي دى نو دليل يي دا دي چي مال او اولاد دواړه به برباد سي او كه په خوب كي ووينې چي دده دواړه ارځونه ژړ سويدى نو دليل يي دا دي چي دده اولاد به ناجوړه سي اوكه ووينې چي دده په ارځ كي سور سري دى اودهغه څخه جواهرات را لوږي نو دليل يي دا دي چي دده به پرهيز ګاره اوعالم زوى پيداسي او كه څوك په خوب كي ووينې چي دده ارځ قوي اومضبوط سويدى نو دا ددين دصحيح والي او داولاد دطاقت دليل دى اوكه ووينې چي دده ارځ كوچني او كمزوري دى نو ددي تعبيرد اولني خوب خلاف دى. جابر مغربى رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب كي ارځ پرښځو دليل دى ځكه چي ښځه دسړيو دارځ څخه پيدا سويده ددي وجي څخه كوم خراب والي او ښه والي چي په ارځ كي ووينې نو دهغي تعبير به پرښځو راسي او كه ووينې چي دده ډير ارځونه دى نودليل يى دا دي چي په هغونه اندازه به ورته ښځي او مينځي حاصلي سي اوكه ووينې چي دده د ارځ څخه مار راوتلي دي نودليل يي دادى چي دده زوى به پيدا كيږي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دى چي ارځ په خوب كي ليدل په پنځو وجو دى.
۱: ښځه ۲: انجلى ۳: مينځه ۴: خادم ۵: بوډئ ښځه كومه چي په كوركي وي.

بوتيمار \ بګله \ د اوبو يو مرغه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب كي بګله روزي او حلال مال وي چي دښځي څخه ملاويږي او كه ووينې چي بګله يي نيولي ده يا چا وركړيده نو دليل يي دا دي چي په هغونه اندازه به دښځي دطرف څخه مال حاصلوي. ابراهيم كرماني رحمة الله عليه ويلي دى چي كه څوك په خوب كي ووينې چي بګله يي مړه كړيده او دهغي غوښه يي خوړلي ده نو دليل يي دا دي چي په هغونه اندازه به دښځي مال خوري او دبګله په خوب كي ليدل په بزرګي دليل دى اوكه ووينې چي بګله يي نيولي ده او كورته يي راوړي ده نو دليل يي دا دي چي په خپلوانو كي به ښځه كوي اومال اونفع به حاصله كړي.

بوريا \ بوزي \ چټايي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب كي بوزي يا چټائي ليدل يو كمينه سړى دى اوبي اصل اوضعيفه ښځه ده اوليدونكي به يي دخلكو څخه مال حاصلوي ا وكه ووينې چي بوزي يي جوړه كړي ده اوفارغ سويدى ځني نودليل يي دا دي چي خپل كار به ختم كړي او كه ووينې چي دكور لپاره بوزي جوړوي نودليل يي دا دي چي په ښځه كولو كي به مشغول سي. جابر مغربى رحمة الله عليه ويلي دى چي كه څوك په خوب كي ووينې چي دده سره بوزي ده يا چاوركړيده نو دليل يي دا دي چي دښځي څخه به ورته دبوزي دغټوالي او كوچنيوالي مطابق فائده ورسيږي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب كي بوزي په دريو وجو ده ۱: فائده ۲: نكاح كول ۳: په خپله خانه ابادي كي مشغول كيدل.

بوزينه \ شادو \ بيزو

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي بيزو په خوب کي ددهوکه کونکو اوملعون دښمن دليل دی اوکه ووينې چي دشادو سره ناست دی او هغه دده تابع ده نو دليل يي دا دي چي پر دښمن به غالب سي او هغه به فرمانبردار کړي اوکه په خوب کي وينې چي دشادو سره يي جنګ کړيدي او دهغي څخه بيريدلي دي نو دليل يي دا دي چي ناجوړه به سي او شفا به حاصله کړي يا به دده پر بدن عيب وي او دهغي څخه به خلاصون حاصل نه کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي شادو يي مړه کړي ده نو دليل يي دا دي چي دښمن به مغلوب کړي اوکه ووينې چي دهغه غوښه يي خوړلي ده نودليل يي دا دي چي څوك به ورسره دښمنی ښکاره کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي شادو يي مړه کړيده نو دليل يي دا دي چي دی به ناجوړه سي او ژر به شفا حاصله کړي او که ووينې چي شادو پر آس ناسته ده نو دليل يي دا دي چي يهودي به دده دښځي سره فساد کوي اوښځه شادو په خوب کي فسادي او جادوګره ښځه وي اوکه ووينې چي شادو دده سره خبري کوي نو دليل يي دا دي چي دهغه په کور کي به جادو کوي اوکه ووينې چي شادو دده سره خبري کوي نودليل يي دا دي چي ښځه به دده نقصان کوي. اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دي شادو خوړلي دی نو دليل يي دا دي چي دی به ناجوړه سي يابه دخپل اولاد څخه بد رد واوري او که په خوب کي ووينې چي شادو ده ته څه شي ورکړيدی يا يي دهغه څخه اخيستي اوخوړلي دی نو دليل يي دا دي چي خپل مال به برباد کړي.

پوست \ پوستکي \ څرمن

دانيال عليہ السلام ويلي دی چي دسړی پوستکي په خوب کي داوسيدو ځاي او دخلکو خانه ابادي ده. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دسړي پوستکي ستر مال اوبرکت دی او که څوک خپل پوستکي پورته سوي اورا ايله سوي ووينې نو دليل يي دا دي چي دهغه ستر اوراز به ښکاره سي اومال به يي ضائع سي اوکه خپل پوستکي تور يا شين ووينې نو دليل يي دا دي چي ده ته به غم او فکر ورسيږي اوکه ووينې چي دده دپښې پوستکي روښانه دی نودليل يي دا دي چي ددغه سړی مرادبه پوره سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي د ټولو چارپايانو پوست په خوب کي ليدل مالل دی او داوښ پوست دلوی سړی وراثت دی او دبوزي پوست دخوب ليدونکي لپاره روزي ده اوکه دشني درختي پوستکي ووينې نوددي ليدونکي روژه دار دی اوکه ووينې چي دځناورو څخه يي پوست کښلي دی نودليل يي دا دي چي دکوم سړی سره يي نسبت دی دهغه څخه به مال حاصلوي او که ووينې چي دپوست ايستلو لپاره يي کور جوړ کړيدی که قصاب وي نو دهغه په کور کي به ديوال جوړ سي اوکه معلم وي نوپه هلکانو به ظلم کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي پخوانی پوستکي بدلوي نو دليل يي دا دي چي دپخوانی شيانو په صحيح کولو کي به وخت خرچ کړي او دپاچا قاصد به جوړ سي کله چي به امير اودشاهی لښکر سرداران په ډيرو کارونو کی دپاچا خلاف کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

پوستين

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ديخني په موسم کي يې پوستين اغوستي دی نو دليل يې دا دي چي دده دژوند يو شي به ده ته ملاو سي او که دګرمي موسم وي نوبيا يې هم دغه تعبير دی ليکن ددي نتيجه به په اخره کی غم وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دبوزی يا دميږي دبچي پوستين لري نو دليل يې دا دي چي مالداره ښځه به کوي اودهغه څخه به مال حاصلوي اوکه ووينې چي دسمساري پوستين يې اغوستي دی نو دليل يې دا دي چي مالداره ښځه به کوي او که ووينې چي دوړي نوي پوستين يې اغوستي دي نودليل يې دا دي چي مالداره او پرهيزګاره ښځه به کوي ليکن هغه به فريب کوونکي اومکاره وي اوکه ووينې چي دهوسی پوستين يې اغوستلي دی نو دليل يې دا دي چي ناکاره اوبد فعله ښځه به کوي او دهغې څخه به زحمت وينې اوکه ووينې چي دسنجاب پوستين يې اغوستی دی نودليل يې دا دي چي دناموافقی ښځي سره به واده وکړي اوکه ووينې چي دپشي پوستين يې اغوستي دی نو دليل يې دا دي چي دبدخويه ښځي سره به واده وکړي چي غله اوبد ديانته به وي اوکه ووينې چي دوشق پوستين يې اغوستي دی نو دليل يې دا دي چي ددينداري اواصيلي ښځی سره به واده کوي اوکه ووينې چي دمورګ پوستين يې اغوستي دي نو دليل يې دا دي چي دناپاکي ښځي سره به نکاح کوي اوکه ووينې چي پوستين يې څيري سوي دی يا سوزلي يا ورك سوي دی نو دليل يې دا دي چي دمال نقصان به يې وسي اوغم اوفکر به حاصل کړي.

بوسه \ مچه \ ښکلول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ده څوك مچ کړي دی نودليل يې دا دي چي هغه به دده ملګري اوخوښوونکي وی او که هغه نامعلوم وي نو دليل يې دا دي چي دنا اميده ځاي څخه به فائده پورته کړی او که معلوم سړی يې مچ کړي نو دليل يې دا دي چي دهغه څخه به خير اونفع حاصله کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي يو سړی په شهوت سره مچ کړي دی نو دليل يې دا دي چي دمړي لپاره به خيرات کوي اوهغه به په دعاء خير سره يادوي اوکه ووينې چي مړي دی مچ کړيدي نو دليل يې دا دي چي دده انډيوال او طالب به وي اوکه ددي خلاف ووينې نودليل يې دا دی چي مراد اومقصود به حاصل نه کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي مچول په څلورو وجو دی. ۱: خير اونفع ۲: حاجت پوره کيدل ۳: پر دښمن کاميابي حاصلول ۴: ښې خبري اوريدل.

بوق زدن \ ښکر ږغول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ښکر ږغوي او په ږغولو يې نه پوهيږي نو دليل يې دا دي چي خلکو ته به خپل راز ښکاره کړي اوکه ووينې چي ښکر ږغوي نو دليل يې دا دي چي په سردارانو به درواغ وايي اودهغه تاکيد به په قسم سره کوي او په اخر کي به هغه درواغ ښکاره سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دښکر ږغولو تعبير

دسړو لپاره مصيبت دی اودښځو لپاره رسوائي ده او ددوی رازونه ښکاره کيدل دي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ښکر ږغول په څلورو وجو باندي دی ۱: درواغ خبر ۲: خرابه خبره ۳: دراز ښکاره کيدل ۴: ګناه.

پل ساختن \ پل جوړول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي پل په خوب کي پاچا يا لوئ سړی دی دچا په وجه چي خلک مراد ته رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دپل تعبير په خوب کي نيك دی اوکه په خوب کي ووينې چي پر پل باندي تير سويدی نو دليل يي دا دي چي ده ته به دپاچا څخه عزت او مرتبه حاصله سي اودهغه څخه به نفع ووينې اوکه ووينې چي پر پل باندي يي بنياد ايښول سوي دی اوکور يي باندي جوړ کړي دی نودليل يي دا دي چي ولايت اوپاچاهی به حاصله کړي او دده سره به ډير مال جمع سي دالله تعالی فرمان دي (والقناطير المقنطرة من الذهب، سورة آل عمران: ١٤) ترجمه: او دسروزرو ډيران لګوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي پل ليدل په څلورو وجو دی. ۱: سړی دی چي دهر چا په کار راځي اودهر چا حاجتونه پوره کوي ۲: پاچا ۳: ډير مال حاصلول ۴: نيکي اومطلب حاصلول اوکه ووينې چي پل خراب سو او را ايله سو نودا دپاچا دحالت او دهغه دملك دتباهي اوبربادي دليل دی.

بوم \ ګونګی

ګونګي په خوب کي ليدل ناکاره مفسد اوحسد کوونکي غل دی اوکه ووينې چي دګونګي سره جنګ کوي نو دليل يي دا دي چي دده به ديو سړي سره جنګ کيږي ا و په نورو ټولو حالاتو کي دګونګي ليدل فائده مند دي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره ګونګي دی يا ده ته چا ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي غل به مغلوب کړي اوکه ووينې چي دګونګي غوښه خوري نو دليل يي دا دي چي په هغونه اندازه به دغله سړی مال خوري اوکه دګونګي غوښه په خوب کي خوري نو دليل يي دا دي چي غل کوچني غلام يا دهغه شاګرد به ده ته ملاو سي.

بوی خوش \ خوشبوئي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دخوشبوئي اوبد بوئي تعبير نيکي بدي او نالائقه خبره ده اوکه په خوب کي ووينې چي خوشبوئي بويوي نو دليل يي دا دي چي دهغه به تعريف کيږي اوکه په خوب کي ډيري خوشبوياني بويوي نو دادمرګ دليل دی ځکه چي دمړي لپاره خوشبويي اوحنوط ضروري وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دي خوشبويه کړي سوي دي نو دليل يي دا دي چي دده به تعريف اوثنا وکړي اوکه ددي خلاف ووينې نو په خلکو کي به دده بدي اومذمت وسي اوده بدنامي به وسي.

پي \ پله \ پلې

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ چي پله په خوب کي مال او ددي جمع کوونکي دی اوکه څوك په خوب کي

Maktaba Tul Ishaat.com

وينې چې پله دده پر بدن وچه سويده يا څيري ده نودليل يې دا دي چې دده دکار وکيل به دده څخه جلا سي يا به ددنيا څخه رخصت سي. اوکه څوك په خوب کې ووينې چې دده دبدن پلی وچې سوي دی نو دليل يې دا دي چې د ملګرو څخه به جلا سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دبدن پلی پر خپلو اواهل بيتو دليل دی اوکه په خوب کې ووينې چې دده دبدن پلی سختي اومضبوطی دي نو دليل يې دا دي چې دده خپلوان اواهل بيت به بد حاله اوضعيفه سي.

بيابان \ ځنګل \ دښت \ ډاګ \ ميدان

دانيال عليہ السلام ويلي دی چې ځنګل په خوب کې دخپلې فراخي اوپلنوالي مطابق قسمت اورزق دی اوکه په خوب کې ووينې چې په ځنګل کې ګرځي نودليل دا دي چې دسفر څخه به ډير مال جمع کړي. او که څوك په خوب کې ووينې چې ديو ټولګي سره په ځنګل کې ګرځي نو دليل يې دا دي چې دسفر څخه به ډير مال اونعمت حاصل کړي اوروزي به باندي فراخه سي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې دځنګل څخه دباندي راغلي دی نو دليل يې دا دي چې دغم اوفکر څخه به خلاصون حاصل کړي اوکه ووينې چې ځنګل ته تللي دی نو دليل يې دا دي چې غمګين اومحتاج به سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې ځنګل ليدل په څلورو وجو دی ۱: روزي اوقسمت ۲: حيرانتيا او پريشاني ۳: دښمني اوغم ۴: بيره اودهلاکت خطره ليکن ددي څخه به ډيز ژر خلاصون حاصل کړي.

پياز

ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې پياز ليدل حرام مال بدي او ناخوښه خبره ده او که خوب ليدونکي نيك او پرهيزګاره وي او په کوشش سره ځان دپياز دخوړلو څخه منع کړي نو خير دی اوکه پرهيز ګار نه وي نو حرام مال به جمع کوي او په دي کې به هميشه خرابي خبري اوري که خاصکر سور پياز يې ليدلي وي او که پوخ سوي پياز ووينې چې خوړلي يې دی نو دليل يې دا دي چې په اخيره کې به دحرامو خوړلو څخه توبه وکړي او دالله تعالی طرف ته به رجوع وکړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې پياز ليدل په درو وجو باندي وي ۱: حرام مال ۲: غيبت چغلي اوخرابي خبري ۳: په کارونو کې خرابي اوپښيماني.

پياله

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې پياله په خوب کې مينځه ده چې دهغه سره به عيش او خوشحالی کوي اوکه ووينې چې دپيالي څخه اوبه ياګلاب چښي نودليل يې دادي چې دمينځې سره به خوشحاله وي او دهغې څخه به ورته نيك زوی حاصل سي او که ووينې چې هغه اوبه يې دپيالي يا ګلاس څخه توي کړيدی نو دليل يې دا دی چې زوی به يې مړسي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې پياله په خوب کې ليدل په دوو وجو باندي ده ۱: مينځه ۲: خادم.

پيراهن \ قميص

دانيال عليہ السلام ويلي دی چې په خوب کې سپين قميص ليدل سړی دی او بعض اهل تعبير بيان کړيدی چې قميص ليدل دهغه پر حلال کار کسب او ژوند دليل دی او که څوك په خوب کې

ووينې چې نوي اوفراخ قميص يې اغوستې دی نو دا دکار پر صحيح والي دليل دی اوکه دقميص يوه ټکړه څيري سويده نو ددي تعبير دنيک اودبد په مينځ کې دی او که ووينې چې دده قميص پخواني اوخيرن دی نو دليل يې دا دي چې فقيري غم اوتکليف به ده ته ورسيږی څونه چې قميص زيات پخوانی خيرن او زيات څيري سويدی نو دبلا مصيبت او خوف به زيات وي چې خوب ليدونکي به هلاک سي اوکه ووينې چې پاچا ده ته قميص ورکړيدی يا يې ورته اغوستې دي نو دليل يې دا دي چې دهغه څخه به پاچاهی اخلي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې نوي قميص يې اغوستې دی نو دليل يې دا دي چې په ظاهره نيک او په باطن کې بد دی اوکه ووينې چې دده قميص او پرتوګ دواړه خيرن اوزاړه دی نودليل يې دا دي چې که مالداروي نوفقير به سي اوپه غم اوفکرکې به ګرفتار سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې ده نوي اوفراخ قميص اغوستې دی نو دليل يې دا دي چې ژوند به باندې فراخ سي اوکه تنګ قميص ووينې نو دليل يې دا دي چې ژوند به باندې تنګ سي اوکه ووينې چې دده قميص څيري سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده راز به ښکاره سي اوکه څوک په خوب کې ووينې چې دده دقميص ګريوان نسته او يو درز دی پکښې او ده بې لستونې اغوستې دی نو دليل يې دا دي چې دده مرګ نژدې سويدی اوکه ووينې چې دده قميص غټ دی نو دليل يې دا دي چې کار به يې ښه سي اومراد به يې پوره سي. او که څوک په خوب کې ووينې چې دده ګريوان دشاځخه څيري سويدی نودليل يې دا دي چې پر ده به ددرواغو تهمت ولګيږي دالله تعالی فرمان دی (وان کان قميصه قد من دبر فکذبت، سورة يوسف: ۲۷) ترجمه: او که دده قميص دشا څخه څيري سوي وی نو هغه درواغجنه ده. او که په خوب کې ووينې چې ده قميص چاته ورکړي دی اوهغه دغه قميص پخپله هم اغوستې دی نو دليل يې دا دي چې بې غمه به سي او ديو ځای څخه به ورته زيري راسي دالله تعالی فرمان دی (اذهبوا بقميصي هذا فالقوه علی وجه ابی يات بصيرا، سورة يوسف: ۹۳) ترجمه: زما دا قميص يوسي او زما دپلار پر مخ يې واچوي هغه به بينا سي. اوکه ووينې چې دده په لاس کې په وينو لړلي قميص دی نو دليل يې دا دي چې ډير وخت به په غم اوفکر کې وي اوکه په خوب کې ووينې چې ده څيري قميص اغوستې دی نو دليل يې دا دي چې دده کار به خراب وي او راز به يې ښکاره سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دنوي اوفراخ قميص ليدلو تعبير په شپږو وجو دی ۱: دخلکو ديدار ۲: ستر ۳: خوشحاله ژوند ۴: رياست ۵: آرام او خوشحالي ۶: زيري.

بيت المعمور

بيت المعمور دخانه کعبې پر برابر څلورم اسمان کې يو کور دی چيرې چې فرشتې حج کوي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې بيت المعمورته تللي دی نو دليل يې دا دي چې په خلکو کې به په علم اوامانت سره ښکاره سي اودبيت الله شريف حج به وکړي او ددښمنانو څخه به محفوظ وي. اوکه بيت المعمور په مځکه کې ووينی نو دليل يې دا دي

Maktaba Tul Ishaat.com

چي دعالم اوعادل پاچا ملګري به سي اوکه ووينې چي په بيت المعمور کي يې کور جوړ کړيدی او په هغه کي بيده سوي دی نو دليل يي دا دي چي دده مرګ نزدي سويدی اوکه څوک په خوب کي ووينې چي دبيت المعمور څخه چاپيره طواف کوي نوييا يي هم دغه تعبير دی چي ددنيا څخه به رخصت سي اوکه چا بيت المعمور دجماعت په ډول وليدی او په هغه کي يې لمونځ وکړي نو دليل يي دا دي چي دده ټول مرادونه به پوره سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کی ووينې چي د مځکي څخه تربيت المعمور پوري لار خلاصه سويده نو دليل يي دا دي چي په دغه کال به ډير خلک حج اوعمره کوي اوکه ووينې چي بيت المعمور ښائسته کړه سويدی اوفرشتي دهغه طواف کوي نو دليل يي دا دي چي عالمان اواهل دين به په انتظام سره وي او عزت اومرتبه به حاصل کړي.

پيروزه \ فيروزه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي فيروزه ليدل دفتحي قوت او دمراد حاصلولو دليل دی اوکه څوک په خوب کي ووينې چي دده څخه فيروزه ورکه سويده نو دليل يي دا دي چي دده مرادبه پوره نه سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي که چا وليدل چي دده سره ډيري فيروزی دی نو ددي دليل دا دي چي په هغونه اندازه به مال ورته حاصل سي او شرافت او بزرګي به حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي فيروزه ليدل په څلورو وجو باندي ده ۱: کاميابی ۲: حاجت پوره کيدل ۳: قوت ۴: ملك اوولايت.

پير \ بوډا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي بوډا سويدی او ويښته يي سپين سوي دی نو دليل يي دا دي چي عزت اومرتبه به حاصله کړي اوکه نامعلومه بوډا ووينې. چي خوشحاله دی نودليل يي دا دي چي ديو ملګري څخه به دده مرادونه پوره سی اودغم څخه به خلاصون پيداکړی اوکه معلوم بوډا په خوب کي ووينې چي خوشحاله دی نودليل يي دا دي چي دهغه څخه به ده ته څه شي ملاوسي اوکه هغه په خفګان سره ووينې نو د دي تعبير د اولني خلاف دی. جابرمغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي بوډا ځوان سويدی نو دليل يی دا دي چي د ده په عزت اومرتبه کي به نقصان وي او په دنيا کي به مغرور وي او که ځوان يا معصوم ووينې چي هغه بوډا سويدی نودليل يي دا دي چي عزت اومرتبه به پيدا کړي او داخرت په کارکي به مشغول سي.

پيس \ برګي مرض

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي برګي په خوب کي مالداره کيدل دی اوکه ووينې چي دده پر بدن برګي دی نودليل يي دا دي چي په هغونه اندازه مال اونعمت به حاصل کړي او بعض اهل تعبيرو بيان کړي دی چي برګي په خوب کي ليدل وراثت دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دبرګي مرض په خوب کی ليدل په څلورو وجو دی ۱: مال ۲: وراثت ۳: نفع ۴: دشغل کار ښکاره کيدل. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي دده ملګرتيا

دبرګي مرض والا سړی سره ده نوکه پرهيزګار اومصلح وي نو ده ته به داخرت نفع حاصله سي او که مفسيد اوبخيل وی نو ده ته به دحرامو څخه نفع ورسيږي.

پيشاني \ تندی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تندي ليدل دسړي عزت اومرتبه ده ځکه چي دا الله تعالی ته دسجدي ځاي دی اوبعض وايی چي دتندي ليدل پر زوي دليل دی چي دده په اهل بيتو کي به مالداره وي اوکه څوك په خوب کي ووينې چي پر تندي يي نښه ده نو دليل يي دا دي چي خوب ليدونکي به په ديندارۍ اوپرهيزګاري کي مشهور سي. اوکه څوك ووينې چي چا دي په تندي وهلي دی اووينه ځني بهيدلي ده نو دليل يي دا دي چي دده عزت اومرتبه به زياته سي او که ووينې چي دده تندی کوچني سويدی اوتنګ سويدی نو ددي تعبير د اولني خلاف دی اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دده تندي دخپل ځاني حال څخه بدل سويدی نودليل يي دا دي چي ده ته به نقصان رسيږي اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دده پر تندي ويښته راختلي دی نو دليل يي دا دي چي قرضداره به سي اوکه ووينې چي ويښته باندي سره يا سپين دی نودليل يي دا دي چي هغه قرضه به داولاد په وجه وي اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دده په تندي پړسوب دی نو دا دمال دزياتيدو دليل دي اوکه ووينی چي دده دتندي څخه مار يا لړم يا څه بل شي وتلي دی نو دليل يي داد ی چي دهغه په قدر به غم اوتکليف ورته ددښمنانو څخه ورسيږی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده پر تندي باندي يوه سترګه ده نو دليل يي دا دي چي دخپل کور پرکار باندي غور لري اوکه ووينې چي پرتندي يي ډيري سترګي دی نوبيا يي هم دغه دليل دی چي دخپل مصلحت په کارونو کي ډير غور کوي اوکه ووينې چي دده په تندي شين خط ليکل سويدی نو دليل يي دا دي چي دده به عالم او پرهيز ګاره زوی وسي. او که ووينې چي دده په تندي درحمت ايت ليکل سويدی نو دليل يي دا دي چي دده انجام به ښه وي اومرګ به يي په شهادت سره وي اوکه ووينې چي دده په تندی دعذاب ايت ليکل سويدی نودليل يي دا دي چي دده انجام به ښه نه وي اوتعبير يي د اولني خلاف دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي تندي په خوب کي ليدل په شپږو وجو باندي دی ۱: مرتبه او عزت ۲: عظمت اوبزرګي ۳: زوی مالداره ۴: ژوند ۵: رياست ۶: سخا اوبخشش.

پيشي ګرفتن \ مخکي کيدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي په يو کار ددين کي لکه حج عبادتونه جهاد وغيره کي مخکي او پيش سويدی نودليل يي دا دي چي په اخرت کي به خلاصون حاصل کړي او دالله تعالی په نزد به ورته ثواب ملاو سي اوکه څوك ددنيا په کارکي مخکي والي وکړي نو دليل يي دا دي چي عزت اومرتبه به حاصله کړي.

پيشه \ کسب \ هنر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي خپل کسب پريږدي اوپه بل کسب کي

Maktaba Tul Ishaat.com

مشغول سي چي دهغه څخه ښه وي نو دليل يي دا دي چي دده کار اوحال به ښه سي اوپه کارو او کسب به يي ترقي وسي. اوکه څوك په خوب کي ووينې چي قسما قسم هنرونه کوي که دغه هنرونه ښه وي نو دخير اونيکی دليل دی اوکه خراب وي نو دشر او بدئ دليل دی اوکه ووينې چي بعضي هنرونه خراب کوي اوبعضي ښه نوکوم چي ډير وي دهغه مطابق به يي تعبير وي.

بيشه \ ځنګل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي د درختو ځنګل ځنګلي ښځه ده اوکه ووينې چي ځنګل ته تللي دي اوهغه دميوه دارو درختو څخه ډك دی اوپر موسم يي وليدل اوميوي يي ځني وخوړلي نودليل يي دا دي چي دځنګل اصله ښځه به کوي يا به مينځه اخلي چي دهغه پرورش به په ځنګل کي سوي وي او ددغه ښځي څخه به ورته خير او نفع حاصله سي اوکه ځنګل ددي شيانو څخه خالي ووينې نو داپه شر اونقصان دليل دی اوکه ووينې چي په دغه ځنګل کي ددرختو پرځاي غني دی اوددغه غنو څخه ورته تکليف رسيدلي وي نودليل يي دا دي چي ده ته به دښځو دخوا څخه غم اوفکر رسيږي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي ځنګل ليدل په څلورو وجووي ۱: ځنګلي ښځه ۲: مينځه ۳: نفع ۴: غم اوفکر.

بيع \ اخيستل \ خرڅول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي قران کريم خرڅول ددي خبري دليل دی چي دده دين دده په نزد سپك دی او ده خپل ځان ذليل اوسپك کړي. اوکه څوك په خوب کي ووينې چي ده خپل غلام خرڅ کړي دی نودليل يي دا دي چي کاربه باندي تنګ سي او دي به ظالم وي اوکه ووينې چي خپله ښځه يي خرڅه کړيده نو دليل يي دا دي چي دده حرمت اوعزت به زايل سي او دي به بدنامه سي ليکن که ددي ښځي څخه ماسوا کومه چي يي خرڅه کړيده دده بله ښځه وي نو دليل يي دا دي چي دي به بيا ښه سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي کوم شي په دين کي ښه دی په خوب کي دهغه خرڅول بد دی اواخستل يي ښه دي.

پيګان \ د غشي سوکه

دغشي سوکه په خوب کي ليدل بزرګ سړی اوډير خطر ناك دی اوکه ووينې چي ډيره ليره دغشي سوکه يي پيدا کړيده يا چا ورکړيده نودليل يي دا دي چي ده ته به کار په صحيح ډول سره حاصل سي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دغشي سوکه ليدل په خبرو کي طاقت دی چي مخالف ته به يي وايي خاصکر دفولادو که يي ووينې چي ماته يا زنګ سوي وي نو ددي تعبير د اولني خلاف دی.

پيغمبر

ددي تعبير په شپاړسم فصل کي بيان سويدی هلته يي وګوري.

پيکر \ عکس

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي عکس په خوب کي ښځه ده اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دده سره عکس دی نو دليل يي دا دي چي ښځه به کوي اوکه ووينې چي دچا څخه يي عکس

اخيستي دی نو دليل يي دا دي چي مينځه به اخلي اوکه ووينې چي دده څخه تصوير ورك سوي دی يا يي دلاسه څخه ايله سويدی اومات سويدی نو دليل يي دا دي چي بنځي ته به طلاق ورکړي يابه دده بنځه ددنيا څخه رخصت سی اوکه دخپل عکس مخ په بل مخ ووينې نودليل يي دا دي چي کومه بنځه يي ليدلي وي دهغه مطابق به يي احوال بدل سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که خپل عکس په خراب شکل سره بدل سوي ووينې نو دليل يي دا دي چي دده حال به بدل سي اوکه ووينې چي پخپل حال اوشکل سوي دی نو دليل يي دا دي چي پر خپل حال باندي به دالله تعالی طرفته رجوع کوي اوکه خپل عکس په خفګان ووينې نو دليل يي دا دي چي خلک به مخ ځني واړوي او پرده به ظلم کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي دسړی عکس دحيوان په عکس بدل سوي دی نودليل يي دا دي چي دغه سړی به بي مذهبه يا درواغجن وی يا به دالله په صفاتو کي ناجائزه خبره کوي اوکه ووينې چي دچا عکس دهغه دجنس څخه نه دی نو دليل يي دا دي چي خوب ليدونکي ته به څه مشکل کار پيښ سي او په هغه کي به حيران سي او په خوب کي عکس جوړونکي داسي سړی دی چي په الله تعالی پوري بهتان تړي.

پيل \ فيل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي تعبير بيانوونکي ويلي دی چي دشپي اوورځي په خوب کي سوا دفيل څخه هيڅ فرق نسته که څوك په خوب کي ووينې چي پر فيل سپور دی نو دليل يي دا دي چي ناکاره بنځه به کوي اوکه داخوب دورځي ووينې نو دليل يي دا دي چي بنځي ته به طلاق ورکړي يابه مينځه خرڅوي اوکه ووينې چي فيل يي مړ کړيدی نو دليل يي دا دي چي دده دلاسه به کوم پاچا مري يا به يوه مضبوطه قلعه فتح کوي. اوکه ووينې چي فيل خپله پښه دده پر سر ايښي ده اودي يي مړ کړيدی نو دليل يي دا دي چي دده مرګ نزدی دی اوحال به يي بدل وي اوکه ووينې چي دفيل پر سر ناست دی نودليل يي دا دي چي دخپل پاچا دخدمت څخه به دبل پاچا خدمت ته ولاړ سي. اوکه څوك ووينې چي دفيل غوښه خوري نو دليل يي دا دي چي په هغونه اندازه به دعجمو دپاچا څخه مال اونعمت حاصلوي اوکه ووينې چي دفيل هډوکي يا پوست دده سره دی نو بيا يي هم دغه تعبير دی چي دباچا څخه ورته مال اودولت ملاو سي اوکه ووينې چي دجنګ په وخت کي پر فيل ناست دی نو دليل يي دا دي چي غټ دښمن به مغلوب کړي او په دی قول کي يي داصحابو فيل قيصه په دليل کي راوړيده اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دفيل دملا څخه را ايله سويدی نو دليل يي دا دي چي په سخت مصيبت کي به ګرفتار سي اوکه ووينې چي دفيل څخه را ايله سويدی اومړ سويدی نو دليل يي دا دي چي ددغه ملک پاچا به مري جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دتماشي لپاره پرفيل ناست دی اوهغه فيل پر ده زورور دی نو دليل يي دا دي چي دعجمي بنځي سره به نکاح کوي اودهغه په وس کي به وي او که ددي خلاف فيل ووينې نو دي به پخپله پر بنځي قادر وي. اوکه ووينې چي پر فيل وسله پرته ده اوهغه بنار په بنار ګر ځوي نو

Maktaba Tul Ishaat.com

دليل يې دا دي چې ددغه ملك پر سلطنت به دبل سلطنت پاچا حمله کوي او ددي ملك پاچا به هلاک کړي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې فيل ليدل په شپږو وجو دی. ۱: دعجمو پاچا ۲: غلام سړی ۳: مکارسړی۴: بارعبه اوقوت والاسړی ۵: حاسدسړی ۶:خونخوار ظالم.

پيل گوش \ رسوت بوټی \ يو تريخ بوټی \ دوايي والا تريخ بوټی

پيل گوش يوسم وانبه دی چې دهغې پانې غټې او پلنې دي اوددي غوټئ اوګل ژړ وي دا په خوب کې ليدل بې اصله او بده خادمه ښځه ده اوکه څوك په خوب کې ووينې چې دده سره رسوت بوټي دی يا چا ورکړي دی نودليل يې دا دي چې دده به دداسي ښځي سره صحبت وي چې دهغې څخه به ورته نفع حاصليږي.

پيله ور \ طبيب \ دوا فروش

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې دپيله ور مثال دطبيب اوفقيه دی ځکه چې طبيب دناجوړی علاج کوي اوفقيه خلکو ته ددين لار ښيی اوکه ووينې چې پيله ور دوائي خر څوي او خلکو ته خير اوراحت رسوي نو دا دخير اوسعادت دليل دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك ووينې چې طبيبي کوي نو دليل يې دا دي چې دده به هرچاته خير او نفع رسيږي او دده ښه نوم به په ملك کې روښانه سي.

بيل \ کداله

ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې کداله يو داسي خادم دی چې په نفاق سره کار کوي اوبعض اهل تعبير وايي چې کداله په خوب کې داسي کار دی په کوم سره چې غم او تکليف وي اوکه څوك په خوب کې ووينې چې دده سره کداله ده اوخه کار باندي کوي نودليل يې دا دي چې دده کار به پوره سي اوکه په هغه څه کار نه کوي نو دليل يې دا دي چې دده کاربه پوره نه سي.

بيماري \ ناجوړي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې ناجوړه دی نودليل يې دا دي چې دده په دين کې فساد دی او دخلکو سره دنفاق خبري کوي. اوبعض اهل تعبير بيان کړيدی چې په دغه کال به مري اوکه ووينې چې دناجوړتيا څخه ښه سويدی او په کور کې نه دی او دچا سره خبري نه کوي نو دليل يې دا دي چې دده ناجوړتيا به اوږده سي او ددي څخه به مړسی اوکه ووينې چې دخلکو سره ناست دی اوخبري کوي نو دليل يې دا دي چې دناجوړتيا څخه په ژر ښه سي اوصحت به حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې دناجوړتيا په وجه لځ دی نو دليل يې دا دي چې ژر به مري اواهل تعبير بيان کوي چې په خوب کې ناجوړتيا دفسق اوفجور دليل دی اوده ته به غم اوفکر دپاچا يا داولاد دطرف څخه رسيږي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې دقسما قسم ناجوړي ليدو دليل دا دي چې دده فرائض اوسنت بې قاعدي دی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك په خوب کې

وويني چي ناجوړه دی اودناجوړتيا په وجه ژاړي نودليل يي دا دي چي دغم څخه به په امن کي سي اوکه په ناجوړتيا صبرکوونکي راضي اوشکر کوونکي دی نوددي تعبير نيک او پر صحت دی اوکه وويني چي ناجوړه اولځ دی نو دليل يي دا دي چي دده مرګ نزدي سويدی دالله تعالی فرمان دی (ولقد جئتمونا فرادی کما خلقنکم، سورة الانعام: ٩٤) ترجمه: تاسو به ماته يو يو راځي څنګه چي ما تاسو په اول واري پيدا کړي واست.

پيمانه \ د ناپ کولو لوښی

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي پيمانه په خوب کي ليدل قاصد دی اوکه څوک په خوب کي وويني چي پيمانه ورسره ده يا چا ورکړيده نودليل يي دادی چي انصاف به کوي اوکه څوک په خوب کي وويني چي پيمانه ماته سويده يا سوزلي ده نو دليل يي دا دي چي خوب ليدونکي ته دمرګ بيره ده اوکه څوك په خوب کي وويني چي په پيمانه څه ناپ کوي نو که اهل علم وي نو دقاضي کيدو دليل دی اوکه اهل علم نه وي نو دليل يي دا دي چي دانصاف لپاره به دقاضي محتاج سي او دبلي وينا مطابق په خوب کي پيمانه رښتيا ويونکي اوانصاف کوونکي سړي دی چي دخلکو سره انصاف کوي.

بيني \ پوزه

دانيال عليه السلام ويلي دی چي په خوب کي پوزه ليدل دعزت اومرتبي دليل دی او څونه چي پکښې زيات اونقصان وويني هغه دخوب ليدونکي په قدر اومرتبي دليل دی اوکه څوك په خوب کي وويني چي پوزه يې کوچني سويده نو دده دقدر اومرتبي دکميدو دليل دی اوکه وويني چي دده پوزه را ايله سويده نو دليل يي دا دي چي ددغه قدر اومرتبي څخه به را ايله سي اوکه وويني چي دده دپوزي سريان غټ سويدی نو دليل يي دا دي چي ژوند به باندي فراخ سي اوکه وويني چي سريان يي تنګ سوي دي نو دليل يي دا دي چي ژوند به باندي تنګ سي. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي وويني چي دده دپوزی څخه ماغزه راوتلي دی نو دليل يي دا دي چي دسردار څخه به نفع حاصله کړي اوکه وويني چي دده دپوزي څخه چينجي يا مچ يا يو حيوان راوتلي دی نو دليل يي دا دي چي زوی به يي پيداسي اوکه وويني چي دده په پوزه کي سريان دی اوپه هغه کي يې رسۍ اچولي دی نو دليل يي دا دي چي دخلکو ميلمستيا به کوي يا به يي دعزتمندي ښځي سره ملګرتيا کيږي اودهغه څخه به مال اونعمت حاصلوي اوکه څوک په خوب کي وويني چي دده دپوزي سر ټړل سويدی اوساه نه سي کښلای نو دليل يي دا دي چي دده کاربه بند کړل سي اوکه وويني چي په پوزي کي خبري کوي نو دليل يي دا دي چي دده دولت په برباد سي اوکه وويني چي دده دپوزي يو سری پورته سويدی نودليل يي دا دي چي ده ته به نقصان حاصل سي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك وويني چي دده دپوزي څخه وينه راوزي او تعبير ښودونکي ته ووايي چي زما دپوزي څخه وينه راوتلي ده نودليل يي دا دي چي ډير مال به حاصل کړي اوکه وويني او ووايي چي وينه زما پوزي ته ننوتلي دننه ځي نو دليل يي دا دي چي مال به ولاړ سي تعبير بيانوونکي ته پکار ده چي دخوب ليدونکي په

Maktaba Tul Ishaat.com

وينا تعبير بيان کړي او په دي خبره کي مال په نظر کي ساتي اوکه ووينې چې دده دپوزی دواړه سريان يو سويدی نو دليل يې دا دی چې دعقلمندي ښځي سره به صحبت کوي اوکه ووينې چې دده دپوزي سر پري سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده زوی به سنت وي اوبعض خلک وايي چې دده په عزت اومرتبه کي به نقصان راسي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې څه شي په زور دده په پوزه کي ننوتلي دی نو دغصي اونيکي دليل دي اوکه ووينې چې دپوزي څخه يې وينه راوتلي ده او دده ټول بدن باندي لړل سوي دی نو دليل يې دا دي چې ده ته به حرام مال ملاو سي. اوکه ووينې چې لږ شنه وينه دده دپوزي څخه راوتلي ده نو دليل يې دا دي چې دده دښځي حمل به ساقط سي او بعضو اهل تعبير ويلي دی چې دغه سړی به فقير سي اوکه ووينې چې دده دپوزي څخه وينه راوتلي ده او دي باندي پخپله نه دی ګنده سوي نو دليل يې دا دي چې زوی يادښځي به يې دکوره وباسي يا به ورته تکليف ورکړي اوکه ووينې چې دده پوزه پر مځکه را ايله ده نودليل يې دا دي چې دده به لور پيداسي اوکه ووينې چې دي خپله پوزه مينځی نو دليل يې دا دي چې څوک به دده ښځي ته دهوکه ورکړي او که ووينې چې دده دپوزي څخه چرګ راوتلي دی نو دليل يې دا دي چې دده حيوان به بچي راوړي اوبعض اهل تعبير وايي چې دپوزي څخه دوينې وتل مال دی چې دهغه ملك دپاچا څخه به ورته ملاو سي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې دده پوزه دفيل دشوندک په ډول غټه يا تردي لږه غټه ده نو دليل يې دا دي چې دهغه په اندازه عزت اومرتبه به يې زياته سي او دده خپلوان به هم عزت حاصل کړي. اوکه ووينې چې دده پوزي ته خوشبويي تللي ده نو دليل يې دا دي چې دده به نيک زوی پيدا سي اوکه ووينې چې دده پوزي ته بدبويي تللي ده نو ددي تعبير ددي اول خلاف دی. جاحظ رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې پوزه يې نسته نو دليل يې دا دي چې په خپلوانو کي به يې څوک مري اوکه خپلي دوي پوزي ووينې نو دليل يې دا دي چې دده داولاد په مينځ کي به اختلاف پيداسي اوکه ووينې چې چا خوشبويي باندي بوي کړيده نو دليل يې دا دي چې نيك عمله زوی به يې پيداسي اوکه ووينې چې چا بدبويي دده دپوزي لاندي ايښي ده نودليل يې دا دي چې ده ته به پر دغه سړی غصه رائي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې پوزه په خوب کي ليدل په پنځو وجو ده ۱: عزت ۲: مال ۳: بزرګي ۴: زوی ۵: خوشحاله ژوند.

پيه \ چربي \ واز ګه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې چربي خوري نو دليل يې دا دي چې خير نعمت اوفراخي به حاصله کړي اوکه ووينې چې دده سره دپوزي چربي ده اوهغه خوري نو دليل يې دا دي چې دهغه په قدر به حلال مال حاصل کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي چربي ليدل په دروو وجو ده ۱: نعمت او فراخي ۲: مال اونفع ۳: دبندو کارونو خلاصول اوفراخي.

بي هوشي

ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي بي هوښه سويدی اوعقل ځني تللي دی نودليل يې دا دي چي ده ته به داسي كار پيښ سي چي دي به پكښې حيران او پريشان سي ليكن په اخير كي به يې نتيجه ښه وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي بي هوښي په دوه ۲ تعبيرونو ده ۱: په كارونو كي سختي ۲: حيراني پريشاني عاجزي او لا چاري.

[ت]

تاب دادن \ تاوورکول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي رسی ته تاو وركوي نو دليل يې دا دي چي په سفر به ځي. اودسفر اوږدوالي او كموالي به درسی داوږدوالي اوكموالي مطابق وي كه رسی اوږده وي نو سفر به يې اوږدوي او كه لنډه وي نو سفر به يې هم لنډ وي او كه څوك ووينې چي دځه شي دګنډلو لپاره تار ته تاو وركوي نودليل يې دا دي چي دمصلحت لپاره به كار كوي او يا به دخپلي خوشحالی لپاره كوشش كوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي تار يا رسی ته تاو وركول په درو وجو باندی دی. ۱: سفر اوواپسي ۲: رياضت نفس۳: دكارونو خلاصول اوفراخي.

تابستان \ دوبی \ دګرمي موسم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي ګرمي په خوب كي ليدل سخت پاچا دی كه په خوب كي دګرمي موسم ووينې چي خلكو ته نقصان ځني رسيږي نو دليل يې دا دي چي دملك خلكو ته به دپاچا څخه خير اوښيګړه وي دګرمي موسم پخپل وخت ليدل ډير ښه دی. ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك دګرمي موسم پر وخت اوداسي ووينې چي خلك خوشحاله دی او درختي دميو څخه ډكي دی نودليل يې دادي چي دده عزت اودولت به زيات سي ا و دده كار به مراد ته ورسيږي اودعام سړي په خوب كي پاچا ليدل دپاچا څخه قوت اومدد حاصلول دی اوكه څوك دګرمي موسم بي وخته ووينې نو ددي تعبير داولني خلاف دی.

تاج

محمد بن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دپاچاهانو لپاره په خوب كي تاج ليدل ملك او ولايت دي او دښځو لپاره خاوند دی او دعامو خلكو لپاره ښه حال دی. كه په خوب كي ووينې چي دده پر سر دسروزرو پېيل سوی تاج دی نو دليل يې دا دي چي لويه اولوړه مرتبه به حاصله كړي ليكن ددين اوشريعت په لار كي به كمزوري وي اوكه داخوب ښځه ووينې نو دليل لي دا دي چي ددي خاوند به ددنيا په كارونو كي مرتبه والا وي. ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي پاچا دچا پر سر تاج ايښي دی نو دليل يې دا دي چي هغه ته به دپاچا څخه عزت اومراد حاصل سي اوكه ووينې چي پاچا ده ته تاج وركړيدی اوده پر سر يې ايښي دی نو

Maktaba Tul Ishaat.com

دليل يې دا دي چې مالداره اوښايسته ښځه به کوي او دهغې څخه به دزړه مراد اوانصاف حاصلوي اوکه څوك په خوب کي ووينې چې تاج دده دسر څخه را ايله سو اومات سو نودليل يې دا دي چې خپلې ښځې ته به طلاق ورکوي اوکه څوك په خوب کي ووينې چې تاج دده دسر څخه واخيسته سو نو دليل يې دا دي چې ښځه به ځني جلا سي اوکه ووينې چې تاج دده دسر څخه را ايله سو اوخراب سو نو دليل يې دا دي چې دده ښځه به مري يا به دده په اهل خانه کي څوک مري. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که بې خاونده ښځه ووينې چې ددي پر سرتاج دی نودليل يې دادي چې خاوند به کوي او که خاوند والا ښځه يې ووينې نو دليل يې دا دي چې پر ښځو به مشره سي او که ووينې چې ددي دسر څخه تاج واخستل سو نو دليل يې دا دي چې خاوند به يې بله ښځه کوي يا به دي ته طلاق ورکوي. اوکه څوك ووينې چې دپاچا پرسر دملغلرو پېيل سوي تاج دي نو دليل يې دا دي چې عزت او مرتبه حاصله کړي.

تاراج \ لوټ \ يرغل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې دچا مال اونعمت لوټ کوي نو دليل يې دا دي چې څونه يې لوټ کړي وي دهغه په اندازه غم اوفکر به ورته ورسيږي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دلوټ کولو دليل په څلور وجو دي ۱: شور ۲: نقصان ۳: غم اوفکر ۴: ارزاني دنرخ شايد چې دغنيمت څخه وي.

تاريکي \ تاريکه \ تيارہ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي تاريکه ددين په لاره کي ګمراهي ده اوکه ووينې چې پخپله يې تاريکه کړيده يا ورته چا تياره کړيده نو دليل يې دا دي چې په هغونه اندازه به ګمراهي حاصله کړي اوکه ووينې چې په تاريکه کي وو اوبيا په رڼا بدله سوه نو دليل يې دا دي چې توبه به کوي اوددين لاربه ورته خلاصه سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کي ووينې چې په تاريکه کي وو او بيا باندي رڼا سوه اوبيا تاريکي ته تللي دی نو دليل يې دا دي چې دغه سړي منافق دی دالله تعالی فرمان دی (واذا اظلم عليهم قاموا ولو شاء الله لذهب بسمعهم، سورة البقرة: ۲۰) ترجمه: اوکله چې تاريکه سي نو هغوئ ودريږي اوکه الله تعالی وغواړي نو تله به وکړي په اوريدلو دغوږونو ددوئ. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي تاريکه غم اوفکر دی اوکه ووينې چې هوا توره تاريکه سويده نو دليل يې دا دي چې دغه ملک والاو ته به غم اوفکر رسيږي او ددوي په کاروبار کي به تباهي راسي اوکه ووينې چې هوا روښانه وه او ناڅاپه توره وريځ راغله نو دليل يې دا دي چې په دغه ملك کي به ناڅاپه مرګ ښکاره سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي تاريکه په پنځو وجو ده ۱: کفر ۲: حيرانتيا اوخفګان ۳: دکار رکاوټ ۴: بدعت ۵: په ګمراهی کي پريوتل. ابراهيم اشعث ويلي دی چې که څوک په خوب کي ووينې چې دتاريکي څخه رڼا ته راغلي دی نو دليل يې دا دي چې دغريبي څخه به مالداری ته راسي او دغمونو څخه به خلاصون حاصل کړي اوکار به باندي

فراخ سي او دګمراهی څخه به ليري سي.

تازيانه\ کوړه\دُره

دانيال عليه السلام ويلي دی چي په خوب کي تراشل سوي کوړه ليدل دليل دی چي کار به يي پوره او په انتظام سره وي اوکه ووينې چي دده کوړه تراشل سوي نه ده نو ددغه کوړي په اندازه به شرف او بزرګي حاصله کړي. اوبعضي خلک وايي چي په خوب کي کوړه ليدل دمال دليل دی څونه چي دخوب ليدونکي قدر وي اوکه ووينې چي دده دکوړي پوست څيري سويدی نو دليل يي دا دي چي دده څخه به څوك بزرګ يا مال جلاسي. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي ده په خوب کي څوك په کوړي وهلي دی نو دليل يي دا دي چي يوځای به په کار کي مشغول سي او دهغه څخه به ورته فائده نه وي او که ووينې چي کوړه يي دلاس څخه را ايله سويده نو دليل يي دادي چي کوم کار کوي هغه به ځني ونه سي او که ووينې چي کله يي په کوړه وهلي دی نو دهغه څخه وينه بهيدلي ده نو دليل يي دا دي چي دغم خبري به اوري اوکه ووينې چي وينه ځني نه ده بهيدلي نو دليل يي دا دي چي دهري کوړي په وهلو به يو يو درهم حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي په کوړو وهل سوي دی نو دليل يي دا دي چي دکوړو وهونکی څخه به حرام مال حاصل کړي اوکه ووينې چي دکوړو دزخم څخه وينه بهيدلي ده نو دليل يي دا دي چي مال به حاصل کړي اوکه ووينې چي د کوړي زخم دده پر بدن دی نو دليل يي دا دي چي دغم خبري به اوري اوکه ووينې چي دي په کوړو وهل سويدی او وهونکي معلوم نه دی نودليل يي دا دي چي نابيره به مال پيداکړي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده په لاس کي ډيره ښه کوړه ده يا دهغه رسی دوريښمو ده نودليل يي دا دي چي زوی به يي پيداسي اوکه ووينې چي کوړه دلرګي ده نو دا دقوي حال دليل دی اوکه ووينې چي دده کوړه دپوست ده يايي تسمه دپوست ده نو دليل يي دا دي چي خير اونفع به حاصله کړي. او که څوك په خوب کي ووينې چي کوړه دده په لاس کي ماته سويده نو دليل يي دا دي چي زوی به يي مري يا به دخپل کار څخه معزول سي اوکه څوك په خوب کي ووينې چي پر آس ناست دی او په کوړه يي وهي نو دليل يي دا دي چي په ځاي کي به کار کوي او پرهغه به احسان کوي اوکه ووينې چي دچا ملا په کوړو وهي نو دليل يي دا دي چي دغه سړی به حرام مال حاصل کړي يا به وهونکي دګناه تهمت باندي لګوي اوکه پرخپله ملا يي دکوړي زخم ليدلي وي او دوهونکي څخه خبر نه وي نو دليل يي دا دي چي ددين اودنيا شغل به پوره سي اوکه ووينې چي څوك يي په کوړه وهلي دی او کوړه ټکړه ټکړه سوي ده نو دليل يي دا دي چي دده اهل خانه به جلا جلا سي او که څوك يي بي شماره کوړي وهلي وي نو دليل يي دا دي چي ده ته به غم او فکر ورسيږي. اسماعيل اشعث رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خپل کور کي په خوب کي ووينې چي دده په لاس کي کوچني کوړه وه اوبيا هغه اوږده سوه نو دليل يي دا دي چي دده ژبه به پر دښمن اوږده سي اوکه ووينې چي کوړه اوږده وه اوبيا کوچني سوه نو دليل يي دا دي چي دښمن به غلبه باندي وکړي. جعفر

Maktaba Tul Ishaat.com

صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي کوړه ليدل په پنځو وجو باندي ده ۱: شور اوغوغا ۲: جنګ ۳: دمشکل کار اسانيدل ۴: سفر اوجدايي ۵: بزرګي.

تابه \ تبخی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي تبخی په خوب کي دکور خدمتګار دی کوم چي دکور انتظام کوونکي وي او پخپل اولاد او نورو خرچ کوی که ووينې چي دده سره نوي تبخي دی يا ورته چا ورکړيدی نو دليل يي دا دي چي نيك عمله خدمت ګار به ورته حاصله سي يابه ځني جلا سي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي پر تبخی څه پخوي نو دليل يي دا دي چي دده دخدمت ګار کار به سم سي او که ووينې چي دتبخي څخه څه شي خوري نو دليل يي دا دي چي دخوړلو مطابق به ورته دخدمت ګار څخه فائده حاصله سي او که ووينې چي هغه شي تريو او بي خونده وو نودا پر غم اوفکر دليل دی.

تب \ تبه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينی چي دده هميشه تبه وه او يوساعت نه ځني جلا کيدله نو دليل يي دا دي چي هميشه به په ګناه اوفساد کي مبتلا وي ده ته توبه ايستل پکارده چي دعذاب څخه خلاصون حاصل کړی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ډيره تبه يي ده نو دليل يي دا دي چي بدن به يي درست اوعمر به يي ډير وي اوکه ووينې چي لږه تبه يي ده نو ددي تعبير د اولني خلاف دی.

تبر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي تبر په خوب کي داسي خدمت ګار دی چي په وينا کار کوي اوکه دځه کار ورته وويل سي نو غواړي چي مات ګوډ يي کړي ددي لپاره چي بيا ورته دکار ونه ويل سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تبر ليدل بيرونکي سړي دی که مدد وکړي نومنافق دی او په خلکو کي جنګ اوجلائي اچوي اوکه په خوب کي ووينې چي دده سره تبردي يا چا ورکړيدی نودليل يي دا دي چي دداسي قسم سړی سره به يي ملګرتيا وي اوکه ووينې چي دده تبر مات سوي دی يا ورك سوي دی نو دليل يي دا دي چي دي به مري.

طبله \ تبيره \ دپړی

دپړئ په خوب کي ليدل بد دی، درواغ خبره ښکاره کار او روښانه دی اوداټول ددي پر ږغونکي دليل دی. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي ددپړي سره نڅا کوي نو دا پر غم فکر اومصيبت دليل دی او که ووينې چي صرف ږغوي يي نو دليل يي دا دي چي باطل کار او بيهوده خبري به کوي چي دهغه په وجه به مشهور سي اوبعض اهل تعبير بيان کړيدی چي په خوب کي د دپړئ ښه اواز بي هوده دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دپړئ ږغوي نو دليل يي دا دي چي بيهوده کاربه کوي چي دهغه څه اصل نه وي او دخلکو سره به ددرواغو وعدي کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دپړئ ږغوونکي داسي کار دی چي په نادانی سره کيږي اواخري ښکاره سي چي داباطل دی او په خوب کي دپړئ

ږغوونکي خواږه اوښه درواغ وايي او په باطن کي غيبيت کوونکي اوخرابي خبري کوونکي دی.

تتماج \ د خوراک نرم شي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي تتماج دبوزي يا دميږي دخوږو مستو سره خوري نو دليل يې دا دي چي دهغه په اندازه به ورته دشاهي سړی څخه فائده حاصله سي اوکه ووينې چي دغوا يا دسوی دغوښی اودتروو مستو سره يې خوري نو دليل يې دا دي چي لږ فايده به ورته دبد سړي څخه ورسيږی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي تتماج دسوی دغوښي سره دغم دليل دی.

تخت

محمد بن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي پر تخت ناست دی او په هغه يې څه شي نه دی اچولي نو دليل يې دا دي چي په سفر به ځي اوکه ووينې چي پر تخت بيده دی او په هغه يې څه شي اچولي دی نودليل يې دا دي چي عزت به پيدا کړي اودتخت دقدر اوقيمت مطابق به دښمنان مغلوب کړي ليکن دهغوی څخه به غافل وي که داسړی داهل فسادو څخه وي نودليل يې دا دي چي دي به په سولی کي وخيږي خاصکر که خپل ځان پر تخت بيده ووينې او که ووينې چي تخت مات سو او دي ځني را ايله سو نو دليل يې دا دي چي دعزت اومرتبې څخه به معزول سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تخت ليدل په اوو وجو باندي دی ١: عزت اومرتبه ٢: سفر ٣: مرتبه ۴: لوړوالي ۵: ولايت ۶: قدر اومرتبه ٧: دکاروبار ترقي.

تخم کاشتن \ تخم کرل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ده تخم کرلي دی او بيايې جمع کړی نو دليل يې دا دي چي مرتبه اوبزرګي به حاصله کړي اوکه ووينې چي کوم ځاي يې کرلي وي هم هلته يې خوري نوددي تعبير داول څخه ښه دی. اوکه ووينې چي دکرلوځخه ورته هيڅ حاصل نه سوه يا يې ونه پيژندل چي ددي ميوه څه ده اونه يې کم اونه يې زيات وپيژندل نو دا په غم اوفکر دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي غنم يې کرلي دی نو دليل يې دا دي چي ده ته به خير اونيکي ورسيږئ اوکه ووينې چي اوربشي يې کرلي دی نو دليل يې دا دي چي دده مال به جمع سي اوکه ووينې چي باجره يې کرلي ده نودا پر لږ مال دليل دی اوکه ووينې چي مسور کرخي باقلی او لوبيا اوددي په ډول نور شيان يې کرلي دی نو دا په غم اوفکر دليل دی. دانيال عليہ السلام ويلي دی چي که څوك ووينې چي پخپله مځکه کي تخم کري نو دليل يې دا دي چي ښځه به کوي اوکاربه يې سم سي اوکه پخپله کرل سوي مځکه کي کرونده کوي نو دليل يې دا دي چي مال اونعمت به ورته حاصل سي اوکه ووينې چي اوربشي يا غنم يا درختي يې پخپله مځکه کي کرلي دي نو دليل يې دا دي چي عزت اومرتبه به يې زياته سي څونه چي ده کرلي وي دهغه مطابق به حاصل کړي.

جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تخم کرل په څلورو وجو دي ١: مرتبه اوبزرګي ٢:

Maktaba Tul Ishaat.com

فساد ٣: حرام مال ۴: په تجارت کي نفع.

تخمه \ هيضه \ بد هضمي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي ده ته هيضه سوي ده نو دليل يې دا دي چي دسود مال خوري اودي باندي خرابيږي ده ته پکار دی چي توبه وباسي چي دالله تعالی دعذاب څخه خلاصون حاصل کړي اوداهل تعبيرو اتفاق دی چي په خوب کي بد هضمي ليدل دنيکی دليل نه دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تخمه ليدل په څلورو وجو باندي وي ١: دسود مال ٢: فساد ٣: حرام مال ۴: دنفس دخواهشاتو تابعداري.

تخمها \ تخمونه

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي که په خوب کي تخمونه ووينې چي تروه ترخه او بې خونده وي دا ټول دغم اواندېښنې دليل دي خاصکر هغه تخم دکوم خوړل چي ډيرګران وي ليکن کوم تخمونه چي په خوراك کي خوارې اوخوندور دی دهغو په خوب کي خوړل دلږ فائدې دليل دی. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تخمونه ليدل ښه دی ليکن زاړه اوچينجو خوړلي ليدل يا خوړل ښه نه دی.

تذرو \ زرک \ تنذري

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تنذري بې وفا سړی اودهوکه کوونکي ښځه ده اهل تعبير بيان کړيدی چي تنذري په خوب کي حرام مال دی چي په دهوکه به يې حاصل کړي اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دتنذري سره جنګ کوي نو دليل يې دا دي چي دده به د بې وفا سړی سره جنګ وسي اوکه څوك ووينې چي ښځه تنذري ورته حاصل سوي دی نو دليل يې دا دي چي داسي ښځه به وکړي چي په هغه کي به هيڅ قسم ښه والي نه وي اوکه څوك په خوب کي دتنذري ځاله ووينې نو دليل يې دا دي چي ددغه ځالي دښکلي والي مطابق به دښائسته ښځي سره نکاح کوي يا به مينځه اخلي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده په کور کي تنذري وي اوهغه مړه سوه نو دليل يې دا دي چي دده ښځه به هلاکه سي يا به باندي دښځي په وجه مصيبت راسي اوکه څوك ووينې چي تنذري دده دکور څخه الوتلي دی نو دليل يې دا دي چي خپلي ښځي ته به طلاق ورکړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي تنذري په خوب کي پرهيزګاره ښايسته اومالداره ښځه ده او که ووينې چي ده تنذری پيدا کړي ده يا يې نيولي ده نودليل يې دا دي چي ددغه صفت ښځه به کوي کوم چي موږ بيان کړ او که ووينې چي تنذري دده په غيږ کي را ايله سوه او بيده سوي ده نو دليل يې دا دي چي څوك به دده داولاد سره بحث کوي او دهوکه به ورکوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي تنذري په خوب کي ليدل په څلورو وجو دی. ١: ښځه ٢: حرام مال ٣: نفع ۴: دزړه مرادونه تلاش کول.

ترازو \ تله \ ميزان

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي ترازو په خوب کي قاضي دی که څوك ووينې چي نوي ترازو

ورسره دی یا چا ورکړي دی نو دلیل یي دا دي چي په دغه ځاي کي قاضي پاك دین فقیه دی او دترازو پلې دقاضي قوت سماعت دی اوکوم درم چي په دي کي دی مقدمه ده چي قاضي یي کوي او دترازو کانې انصاف دی چي فریقین یي دقاضي دحکم مطابق اوري اوکه ووینې چي دترازو دواړي پلې بالکل برابري دی نودلیل یي دا دي چي قاضي عادل دی او که ووینې چي ترازو صحیح نه دي نو دلیل یي دا دي چي قاضي ښه اومنصف نه دی په حکمت کي یوطرف ته مائله دی. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چي که څوك ووینې چي دترازو ډنډی ماته سویده نو دلیل یي دا دي چي ددغه ملك قاضي به مري اوکه ووینې چي په ترازو کي ډیر نقصان دی نو دلیل یي دا دي چي دقاضي په عدل او انصاف کي نقصان دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي ترازو په خوب کي درست کول او په طور دتحفي اوسوغات یي جوړول دقاضي د دوزخ دعذاب څخه نجات اوخلاصون دی.

ترازوګر \ تله جوړونکی

ترازو جوړونکي په خوب کي پاچا دی اودرسته ترازو ریښتوني حاکم اوقاضي دی یا عادل وزیر دی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي دقیامت ترازو په خوب کي لیدل په شپږو وجو دی.١: قاضي ٢: پاچا ٣: فقیه ۴: قاصد ۵: ریښتوني حاکم ٦: درواغجن حاکم. اوکه ووینې چي دقیامت په ورځ دده نیك عملونه په ترازو کي دبد عملونو څخه زیات دی نو دلیل یي دا دي چي جنت ته به ځي اودعذاب څخه به خلاصون حاصل کړي دالله تعالی فرمان دی (فمن ثقلت موازینه فاولئك هم المفلحون، سورة الاعراف: ٨) ترجمه: دچا چي نیك عمل دروند وی هغه به خلاصون حاصل کړي. اوکه ددي خلاف ووینې نو دلیل یي دا دي چي ددوزخ دعذاب لائق دی دالله تعالی فرمان دی (ومن خفت موازینه فاولئك الذین خسروا انفسهم فی جهنم خالدون، سورة المؤمنون: ١٠٣) ترجمه: اودچا بد اعمال چي زیات وي دوی هغه خلک دی چاچي خپل ځانونه په خساره کي اچولي دی دوی به په دوزخ کي همیشه وي.

ترب \ مولی

ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي مولی لیدل اوخاصا دهغه خوړل دغم اوفکر دلیل دی اوکه څوك په خوب کي ووینې چي مولی یي وخوړله نو چي څونه یي خوړلي وي دهغه په اندازه غم اوفکر به ورته وي. اوکه څوك په خوب کي ووینې چي چا ته یي مولي ورکړیده نو دلیل یي دا دي چي دهغه څخه به دده زړه ته غم اوفکر رسیږي اوکه ووینې چي ده چا ته مولی ورکړي ده یا یي دکور څخه دباندي غورزولي ده اوهغه یي لږ هم نه ده خوړلي نو دلیل یي دا دي چي دغم اوفکر څخه به خلاص سي.

تربد \ نسوت \ سپینه او توره دوا

تربد یعني نسوت یوه سپینه اوتوره دوائي ده ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي نسوت لیدل دغم او اندیښني دلیل دی اوکه ووینې چي خوړلي یي دی نو دخوړلو مطابق دمال

Maktaba Tul Ishaat.com

دنقصان دليل دی.

ترخون \ د پودينې يوقسم دي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې ترخون په خوب کې بد اخلاقه اوبدکرداره سړی دی ځکه چې دترخون اصليت سپيلني دی کله چې سپيلني په سرکه کې خشته کړي سي اوخه موده پس ځني راوايستل سي اوطبعيت اوخوند يې بدل سي بيا چې کله هغه وکړي او را وټوکيږي نو هغه ته ترخون ويل کيږي. او که ووينې چې ترخون ورسره دي يا چا ورکړيدی نودليل يې دا دي چې ده ته به ددغه سړی څخه ضرر اونقصان رسيږي او که ووينې چې ده چا ته ترخون ورکړيدی يا يې دکور څخه دباندې غوزولي دی نو دليل يې دا دي چې دداسې سړی دصحبت څخه به جدايي تلاش کوي اودهغه څخه به ليرې سي.

ترسائي \ عيسائي

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک مسلمان په خوب کې ووينې چې اتش پرست سوي دی نو دليل يې دا دي چې دګمراهی اوبدعت پر لاره چليږي اوپه دين اسلام اعتقاد نه لري. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې عيسائي ووينې نو په هغه به فتح حاصله کړي ځکه چې عيسائي نصراني دی اونصراني مشتق دی دنصرت څخه اوکه عيسائي ووينې چې مسلمان سوي دی نودليل يې دا دي چې دی به مسلمان سي يا به مړسي. جعفرصادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې دده ناسته ولاړه دعيسايانو سره ده نو دليل يې دا دي چې دده به دوست سي او په دين اسلام به دده اعتقاد کمزوري او سست وی.

ترشيها \ تروه شيان

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې تروه شيان خوړل لکه تروه ميوه خوړل غم دی اوکه ووينې چې چا تروه شيان ورکړي دی نو دليل يې دا دي چې دده په وجه به بل چاته غم اوفکر رسيږي غرض داچې دترووو شيانو په خوړلو کې هيڅ خيرنسته.

ترف \ وچ سوي پنير

ترف يعني وچ سوي پنير چې تروه وي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې وچ سوي پنير ليدل دغم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چې وچ سوي پنير يې خوړلي دی نودليل يې دا دي چې قرضدار به سي اوددي په وجه به غمجن سي ځکه چې دترف خوند تريو اورنګ يې خيرن وي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې وچ سوي پنير په خوب کې ليدل لږ مال دی اوددي خوړل غم اوفکر دی.

ترنج \ ليمبو

دانيال عليہ السلام ويلي دی چې ليمبو که څه هم ژړ وي ليکن خوشبوداره اوخوشذائقه په ليدلو کې ښه وي اووايي چې دجنت دميوو څخه دی اوداپه خوب کې ليدل نيک وي اوکه څوک يو ليمبو يا دوه دري په خوب کې ووينې نو ددي تعبير زوی دی او که ډير ووينې نو مال اوحلال نعمت به حاصل کړي او په خوب کې شين ليمبو دژړ څخه ښه دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې

ليمبو په خوب کي دخلکو په نزد مالداره اوښائسته سړی دی کوم چي ټول خلک خوښوي اوکه ووينې چي دده سره ليمبو دی يا چا ورکړي دی نو دليل يې دا دي چي دده به دداسي سړی سره ناسته ولاړه وي اوکه ليمبو په خپله غيږ کي ووينې نو دليل يې دا دي چي دده کره به ښايسته هلک پيداسي. اوکه ووينې چي ليمبو يې خوړلي دی نو دليل يې دادي چي دخپل مال څخه يا ديو مشر دمال څخه به ورته کاميابي وي اوکه ووينې چي ليمبو يې پټ کړي دی اواغوستي يې دی نو دليل يې دا دي چي دده زوی به هلاک سي او که ووينې چي دده. په کورکي ډير ليمبوګان دی اوچاته يې بخښلي دی نو دليل يې دا دي چي دچا په حق کي به نيکي کوي او که ووينې چي ليمبو دده په لستونې کي دی نو دليل يې دا دي چي دده به دمينځه څخه زوی پيدا کيږي اوکه ووينې چي ليمبو دده دلستونې څخه را ايله سويدی نو دليل يې دا دي چي ده ته به زوی حاصل سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ليمبو ليدل په څلورو وجو دی ۱: ښائسته ۲: پاک دينه مينځه ۳: مالداره اندِيوال ۴: شريف اونيک عمله زوی.

ترنجبين \ حلوی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي حلوی يې منته حلال مال دی دا لله تعالی فرمان دی (وانزلنا عليكم المن والسلوى كلوا من طيبات ما رزقنكم، سورة البقرة: ۵۷) ترجمه: اومورِ پر تاسو من سلوی رانازله کړه زمورِ درليږل سوي پاک شيان خوري اوکه ووينې چي دده سره ډيره حلوا ده يا چا ورکړي ده نو دليل يې دا دي چي د بي اميده ځاي څخه به ډير رزق حاصل کړي او دده کاروبار به په ښه انتظام سره وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي حلوا ووينې يا يې وخوري نو ددي دليل په دروو وجو دی ۱: بغير دڅه احسان څخه مال اورزق ۲: په ژوند او کارونو کي اسانتيا ۳: دزړه مراد پوره کول.

تره دوغ \ شلومبي \ تروي شلومبي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تروي شلومبي چيښل دغم او فکر دليل دی.

تره فروشي \ سبزي خرڅول

که څوک په خوب کي ووينې چي سبزي خرڅوي نو ددي تعبير نيک دی ځکه چي دده لاسونه داسي کار کوي چي دهغه ټولو خلکو ته ضرورت دی اوپه خوب کي سبزي خوړل دناجوړي غريبي غم اوفکر دليل دی.

تره \ سبزي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی کومي سبزياني چي بي خونده اوترخي دی دضرر اونقصان دليل دی.

تریاق \ تارياک

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دناجوړی په وجه تریاک خوړل دليل دی چي دغم څخه به خلاصون حاصل کړي او ټول کارونه به پر ده فراخ سي اوکه ددي خلاف وي نو دغم فکر نقصان اندِيښني او دمختلف قسمه فکرونو دليل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

تزويج \ نكاح كول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي دښځې سره يې واده كړيدی نو دا دشرافت اوبزرګي دليل دی اوكه دي غريب وي نومالداره ښځه به كوي اوكه ووينې چي ښځي ته يې طلاق وركړي دی نو دليل يې دا دي چي دده عزت او شرافت به ختم سي اوكه ووينې چي دمړي ښځي سره يې نكاح كړيده اودهغه سره يې جماع هم كړيده نو دليل يې دا دي چي ددغه مړي ښځي دملكيت اومال څخه به ده ته لږ شي ملاو سي اوكه ووينې چي دهغې سره يې جماع نه ده كړي نودليل يې دا دي چي دهغې دمال څخه به ده ته لږ څه ملاو سي اوكه ښځه ووينې چي دي دمړ سړي سره نكاح كړي ده او دښځي په كور كي هغه سړی ورسره جماع كړيده نودليل يې دادي چي ددي ښځي دمال نقصان به وسي اوحال به يې بدسي اوكه ووينې چي ښځه يې كړيده ليكن ښځه يې ليدلي نه ده او دهغی حال ورته معلوم نه وي نودليل يې دادی چي دده مرګ نزدي دی اوكه ښځه ووينې اونامعلوم ځاي وي اودغه كور دمړي ملكيت وي اوهغه مړی ددي ښځي سره جماع كړي وی نودليل يې دا دي چي دغه ښځه به مري اوكه دغه كور معلوم وي نو دښځي دنقصان دليل دی. ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه خاوند والا ښځه ووينې چي ددي دويم خاوند دی او واده يې نه وي ليدلي نو دادعزت شرافت اودمال دزياتوالی دليل دی. اوكه ووينې چي ددي واده كيدونكي دی او واده يې نه وي ليدلي اونه يې پيژندلي وي نو ددي دمړي بيره ده اوبعض وايي چي يو سړی به ددي دلاسه هلاک سي اوكه ووينې چي دنامعلومي ښځي غوښتونكي دی يا ووينې چي دده ښځه خاوند كوي اوهغه خاوند يې كور ته بيولي وي نودليل يې دا دي چي په دي طريقي به يې ځان ته ډير مال حاصل سي اوكه ووينې چي يوه ناكاره ښځه دده په نكاح كي راغلي ده اودهغه سره يې جماع كړيده نودليل يې دا دي چي ګران كار به باندي اسانه سي اوكه بي جماع ورسره نوي كړي نو څه چي مور ووېل هغه به كم وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوک په خوب كي ووينې چي دپيغلي انجلي سره يې واده كړيدی او دهغې پيغلتوب يې زايل كړي دی نو دليل يې دا دي چي په دغه كامل به ده ته ښځه يا مينځه حاصليږي او دپاچا څخه به خير اونيكي ووينې اوكه ووينې چي په حرامو سره يې پيغله انجلي بيولې ده نوددي دليل دا دي چي حرام مال به حاصل كړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی په خوب كي ښځه كول په څلور قسمه تعبير لري ۱: عزت او بزرګي ۲: دمال ډيروالي ۳: ارام سهولت ۴: واده خوشحالي.

تسبيح \ تسبيح ويل

ابين سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي تسبيح كول دالله تعالی دفرمان تابعداري ده كه څوك په خوب كي ووينې چي تسبيح كوي نو دليل يې دا دي چي دالله تعالی دفرمان تابعدار به وي اودغمونو اوفكرونو څخه به خلاصون حاصل كړي او كه ووينې چي تسبيح ورسره دی نو ده ته به غم او فكر ورسيږي ليكن ده ته به دهغه اجر اوثواب حاصل سي. اوكه ووينې چي دتسبيح سره دالله شكر ادا كړي نودليل يې دا دي چي په دين كي به قوي سي اومال به حاصل كړي.

اوکه داخوب دملك حاکم ووينې نودليل يې دا دي چې دهغه ملك به اباد سي دالله تعالى فرمان دى (لئن شكرتم لازيدنكم، سورة ابراهيم: ۷) ترجمه: که تاسو شکر ګزاره سي نو موږ به درته نور زيات درکړو.

طشت \ تالې

ابراهيم کرمانى رحمة الله عليه ويلى دى چې تالي په خوب کي خادمه ښځه ده. محمد بن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چې تالي په خوب کي داسي مينځه ده کومي ته چې دکور ټول ضرورتونه حواله سوي وى اوکه ووينې چې دده سره تالي ده يا چا ورکړيدى يا ده اغوستي ده نو دليل يې دا دي چې کورته به خادمه ښځه راولي يابه مينځه اخلي اوکه ووينې چې تالې ماته سوي ده يا ورکه سوي ده نو دليل يې دا دي چې دده مينځه به وتښتيږي يا به ددنيا څخه رخصت سي. کرمانى رحمة الله عليه ويلي دى چې که څوك په خوب کي ووينې چې تالې يې اغوستي ده نودليل يې دا دي چې خادمه ښځه يا مينځه به خپله ښځه جوړوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کي تالي ليدل په درو وجو دي ۱: خادمه ښځه ۲: مينځه ۳: دښځو څخه نفع حاصلول.

تشنګي \ تنده

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چې په خوب کي په اوبو مړيدل دتندي څخه غوره دي. اوکه ووينې چې ډير تندي سوي دى او اوبه ورته نه دي حاصلي سوي دى نو دليل يې دا دي چې ده ته به ددين لپاره يا ددنيا لپاره غم اوتکليف رسيږي او که ووينې چې تږي وو يا اوبه ورته ملاو سي يا چا ورته ورکړي وي او ده ونه چيښلي نو دليل يې دا دي چې دغم اومصيبت څخه به خلاصون حاصل سي او په اخر کي به مراد ته ورسيږي. جابر مغربى رحمة الله عليه ويلي دى چې په خوب کي تنده ددين فساد دى اوکه ووينې چې تږي وو اواوبه يې پيدا کړي او ويې چيښلي نو دليل يې دا دي چې ګناه به کوي اوپه اخيره کي به توبه وکړي اونيک عمله پرهيزګار به سي.

تعويذ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چې که څوك په خوب کي ووينې چې دده سره دالله دنومونو تعويذ دى نو دليل يې دادي چې دسختى اوغم څخه به خلاص سي که قرضدار وي نو دقرض څخه به خلاص سي که ناجوړه وي نوشفا به حاصله کړي که قيد وي نو ازاد به سي که په سفر کي وي نو په سلامتي سره به واپسي راسي. ابراهيم کرمانى رحمة الله عليه ويلي دى چې که څوک ووينې چې تعويذونه ليکي اوخلکو ته يې ورکوي نو دليل يې دا دي چې دده څخه به خلکو ته نفع ورسيږي او که ووينې چې تعويذونه ليکي او دخلکو څخه قيمت باندي اخلي نو دليل يې دا دي چې فکرمند اوغمجن به سي.

تاغار \ غټه تالې

غټه تالي په خوب کي ليدل همدرده اونيك عمله ښځه ده کومه چې کور ښه ساتي اوخلکو ته دنيکې لار ښيي اودشر او فساد څخه توبه کوي. ابراهيم کرماني رحمة الله عليه ويلي دى چې که څوك

Maktaba Tul Ishaat.com

په خوب کي ووينې چې دده غټه تالې ماته سوي ده يا ورکه سوي ده نودليل يې دا دي چې دغه ښځه به دده څخه جلا سي يا به ددنيا څخه رخصت سي او دبعض اهل تعبيرو په نزد غټه تالې مينځه او يا خادمه ده.

تفشله \ پخ کړی مسور

پخ کړي مسور په خوب کي ليدل دغم اوفکر دليل دی. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې پخ کړي مسور خوري نودليل يې دا دي چې غم اوفکر به ورته رسيږي يا به ورسره جنګ وسي او ددي په وجه به ناجوړه وي مقصد داچې په خوب کي په مسورو خوړلو کي هيڅ خير اونفع نسته.

تکبير

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې تکبير کوي نو دليل يې دا دي چې ددښمنانو دشرارت څخه به په امن کي وي او دخيرات دروازې به باندي خلاصي سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي تکبير کول په څلورو وجو باندي وي. ۱: ددښمن څخه امن ۲: دمصيبت اوفتنې څخه خلاصون ۳: خير اوبرکت ۴: دبندو کارونو خلاصيدل.

تګرګ \ ګلی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې ګلی په خوب کي ليدل که لږ وي نو عذاب او ددنيا تنګي ده اوکه پرځپل وخت يې ووينې نو ددغه ځای خلکو ته به فراخي اونعمت ملاو سي ليکن بې وخته ګلی ليدل ددغه ځای پرخلکو دغم اوفکر اودخفګان دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي ګلی ليدل په پنځو وجو باندي وي ۱: مصيبت ۲: جنګ ۳: لښکر ۴: ناجوړتيا.

تل \ ډيرې غونډې

تل په فارسي کي پشته يعني ډير ته ويلای سو او ددي تفصيل په حرف (ب – پ) کي بيان سويدی.

تمام شدن کار \ د کارونو پوره کيدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې دده ددنيا کارونه په انتظام سره وي اوبامراده دی نو دليل يې دا دي چې دده حالات به بدل سي دالله تعالی فرمان دی (حتی اذا اخذت الارض زخرفها وازينت، سورة يونس: ٢٤) ترجمه: تردی چې مځکه خپل ځان ښائسته کوي او ښائسته سي اوکه څوك ووينې چې دده کار نه دی پوره سوي نو دا دده دحال دبدليدو دليل دی اوبيره ده چې دده عمر پوره سوي دی اوداچې دي ظالم دی اودده څخه به انتقام اخيستل کيږي.

تن \ بدن

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي دبنيادم بدن ليدل دغم اوفکر دليل دی چې دخلکو روزي ده اوخونه چې پر بدن کمی او زياتي ووينې پر عيش اوژوند دليل دی او که ووينې چې دده بدن کمزوري دی نو دا پرفقيری اوبندو کارونو دليل دی اوکه بدن چرب ووينې نو دا په

مالداري او دکارونو پرفراخي دليل دی اوکه ووينې چې دده دبدن څخه تار وتلي دی او اوږد سوي دی نو دليل يې دا دي چې په عيش او فراخي سره به ژوند تيروي او مال به يې زيات سي او که ووينې چې تار پرې سوي دی نو تعبير يې ددي خلاف دی اوکه ووينې چې دده بدن داوسپنې دی يا دتانبې سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده عمر به زيات سي اورزق اونعمت به باندي فراخ وي اوکه ووينې چې دده بدن دشيشي سويدی نو دليل يې دا دي چې دده مرګ نزدی سوي دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې دده بدن روغ اوقوي دی نو دليل يې دا دي چې دده کار به په انتظام سره وي اوراز به يې ښکاره وي اوکه ووينې چې دده بدن کمزوري دی نو دليل يې دا دي چې فقير به سي اوراز به يې ښکاره سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک پرخپل بدن زياتې ووينې نو دا پر طاقت مالداري او پر دښمن دکاميابي دليل دی اوکه پخپل بدن نقصان ووينې نو ددي تعبير د اولنې څخه خلاف دی اوکه ووينې چې دده پر ټول بدن پاڼسوب دی نودليل يې دا دي چې ناجوړه به سي.

تندر \ برېښنا \ ټکه

تندر په خوب کې ليدل دحاکم اودعامو خلکو څخه خوف اوبيره ده ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک تندر دباران سره ووينې نو دليل يې دا دي چې دخلکو خوف اوبيره به کمه وي او خير او نعمت به ورته زيات حاصل سي اوکه په سخت باران کې سخت تندر ووينې نو دليل يې دادي چې خوب ليدونکي به دمور اوپلار په دعاسره بيره حاصله کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې لږ رعد او پرقيدل دلږ باران دليل دی چې دپرهيزګار اودنيک عمله خلکو ددعا څخه به ورته بيره وي، جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دتندر ليدلو دليل په پنځو وجو دی ۱: عذاب ۲: حکومت ۳: تکليف ۴: دبدبه. ۵: دپاچا غصه. اوکه څوک په خوب کې دتندر اواز دباران اوريدو په وخت کې واوري نو دليل يې دا دي چې په دغه ملک کې به خير او برکت ښکاره سي اوکه څوک ووينې چې دباران پرقهاری اوبجلي ده نو دليل يې دا دي چې ددغه ملک خلکوته به دپاچا څخه بيره وی اوکه څوک ووينې چې دباران سره ږلی هم ده نو دليل يې دا دي چې په دغه ملک کې به فتنه عذاب اوهلاکت پورته سي. اوکه څوک ووينې چې بريښنا سخته اوري نو دليل يې دا دي چې په دغه ملک کې به دپاچا هيبت راسي اوکه ووينې چې بريښنا اوتوره تياره ده نودليل يې دا دي چې ظالم پاچا به ښکاره سي.

تنديسها \ عکسونه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک دعکسونو سايه پر مځکه را ايله ووينې خاصکر که تور وي نو دغم اوفکر دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دعکسونو ليدلو تعبير په دروو وجو دی ۱: غم اوفکر ۲: دمرتبې اوقدر نقصان ۳: په کارونو کې خيانت.

تنګي \ سختي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې که څوک ووينې چې دسختي څخه راحت ته راغلي

Maktaba Tul Ishaat.com

دی او دامن په ځاي کي دی نو دليل يي دا دي چي دده کارونه به په انتظام سره وي او دغمونو څخه به په راحت او اسانی کي وي اوکه ددي خلاف وويني نوتعبير يي ښه نه دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك وويني چي په سخت ځاي کي ګرفتار سوي دی نودليل يي دا دي چي په مشکل کار کي به راسي اوخلاصون به ځني حاصل کي اوکه وويني چي په دغه ځاي کي خوراك سخت دی نودليل يي دا دي چي پر ده به روزي تنګه سي او دټولو شيانو سختي په خوب کي ښه نه ده.

تنور

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي تنور په خوب کي بزرګ او دکور سردار دی اوبعض اهل تعبيرو بيان کړيدی چي تنور په خوب کی دکور مالکه ده که وويني چي دده سره تنور دی نو دليل يي دا دي چي دکور کارونه به يي په انتظام سره وي اوښه به وي اوکه وويني چي تنور مات سويدی او خراب سو نو دا دغم مصيبت ناجوړي او دکور دبربادي دليل دی اوکه وويني چي په تنور کي ډوډۍ لګيدلي ده نودليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به حلال رزق حاصل کړي اوکار به يي ښه وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک وويني چي په تنور کي ډير اور دي اوبغير درنا او دود څخه دی نودليل يي دا دي چي بيت المقدس يا حج ته به ځي دالله تعالی فرمان دی (من شاطیء الوادي الايمن فی البقعة المبارکة، سورة القصص: ۳۰) ترجمه: دوا دی ايمن پر غاړه مبارك ځاي کي او بعض وايي چي خوب ليدونکي ته به خير اونفع حاصله سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي تنور په خوب کي ليدل په دوو وجو دی ۱: خير اونفع خاصکر که نوی وي ۲: هيبتناکه سړی چي دشفقت سره وي.

توبره

توبره يعني داس خولي ته د ايښولو کڅوړه، ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي توبره په خوب کي خاصکر که نوي وي خير اوبرکت دی که وويني چي دده سره توبره ده يا چا ورکړيده نو دليل يي دا دي چي دچا څخه به ورته خير اونفع رسيږی اوکه وويني چي توبره ځني ورکه سوي ده نوددي تعبير داول خلاف دی.

توبه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي وويني چي ده توبه کړي ده نو دليل يي دا دي چي په ټولو ګناهونو اونافرمانی به پښيمانه سي او دالله تعالی درضا کار به کوي او ددنيا څخه به لاس اخلي او اخرت ته به يي مخه سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي توبه کول په څلورو وجو دی ۱: دګناه څخه پښيماني ۲: دالله تعالی رضا ۳: داخرت لار ۴: سعادت.

توتيا \ رانجه

کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي رانجه ليدل مال دی که څوك په خوب کي وويني چي ده رانجه لګولي دی او ددي څخه يي مقصد دسترګو روښانه کيدل وي نو دليل يي دا دي چي

ددين صلاح به څيړي او که مقصد يي ددي خلاف وي نو دليل يي دا دي چي خپله دينداري به پر خلکو په منافقانه طور ښکاره کوي ددي وجي څخه چي خلکو ته ښه ښکاره سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ده ته چا رانجه ورکړي دی نو دليل يې دا دي چي دهغه په قدر به ورته مال حاصل سي اوکه ووينې چي رانجه يي خوړلي دی نو دليل يي دا دي چي محتاج اوغمجن به سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دتخرګ دبدبوئي دليري کولو لپاره رانجه ساتي نو دليل يي دا دي چي داسي کار به کوي چي دهغه په وجه به يي خلک مدح ثنا اونيکي بيانوي.

توت \ شهتوت

په خوب کي خوږ توت خوړل رزق دي اوشهتوت يعني اوږده اوږده تور او تروه توتان خوړل غم او فکر دی. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دخوږ توت په موسم کي خوړل دليل دی چي په هغونه اندازه به پخپل کسب کي روزي حاصله کړي که داخوب دتوتانو په موسم کي ووينې نو ډير ښه دی اوکه پخپل موسم کي نه وي نو دغم اوفکر دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي خوږ توت خوري نودليل يي دادي چي دځوان سړی څخه به مزدوري او انعام اخلي اوکه په خوب کي ووينې چي شهتوتان يي اوږده اوږده تور اوتروه خوړلي دی نو دليل يي دا دي چي غمجن اوفکر مند به سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي توت ليدل په دريو وجو وی ۱: مال ۲: دکسب څخه نفع ۳: دښځي لپاره جنګ.

تورات

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي تورات وايي نو په ظاهره دليل دی چي ده ته به دمرتبي والا سړی څخه قوت حاصل سي اوکه ووينې چي ده په ښکاره تورات وايه نو دليل يي دا دي چي دچا سره به جنګ کوي او په هغه قدر به کاميابي حاصلوي او مراد به ورته حاصل سي اوکه څوک ووينې چي چاته دتورات تعليم ورکوي نودليل يي دا دي چي ده ته به دهغه څخه خير ورسيږي.

تير \ غشي

دانيال عليہ السلام ويلي دی چي غشي په خوب کي ليدل ريښتوني سړی دی چي دهغه څخه خلکو ته خير رسيږئ اوبعض اهل تعبير وايي چي غيبت کوي اوکه ووينې چي چا دده طرفته غشي ورغوزولي دی نو دليل يي دا دي چي ده ته به پيغام رسيږي خاصکر که ووينې چي دده دزخمي کولو لپاره يي باندي ويشتلي دی اوکه ووينې چي دي چا په غشي ويشتلي دی اونيت يي نخښه وه نو دليل يي دا دي چي ده ته به خط راځي.

[چ – ج]

چادر \ پټو

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي پټو ليدل دښځي ستر پوش دی که څوك ووينې

Maktaba Tul Ishaat.com

چي دښځو په ډول يي پټو اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي په دغه کار کي خير اوشر دی ليکن دغه کار به بد ګڼي اوکه ووينې چي پټو يي څيري سوي دي يا سوزلی دی نو دليل يي دا دي چي پردغه وخت به دده بي پردګي کيږی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي دشپي پټو په خوب کي ليدل ښځه ده که څوک ووينې چي دده سره دشپي پټو دی يا چا ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي نوي ښځي به کوي اوکه ووينې چي نوي پټو يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي مينځه به اخلي اوزوی به يي پيداسي اوکه دا خوب ښځه ووينې نو دليل يي دا دي چي خاوند به کوي اوکه ښځه ووينې چي دهغي دشپي پټو سوزلي دی نو دليل يي دا دي چي خاوند به يي مري يا به طلاق ورکوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي پټو په خوب کي ليدل په دروو وجو دی. ۱: عزت اومرتبه ۲: سړی ته ښځه اوښځي ته خاوند حاصليدل ۳: دکور حکومت او سرداري.

جادو

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي جادو کول باطل کار دی که څوک په خوب کي ووينې چي جادو کوي نو دليل يي دا دي چي بيهوده اوبي فائدي کار به کوي او دبعض اهل تعبيرو په نزد دچا لپاره چي جادو کوي هغه ته فتنه ده جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي جادو کول ددرواغو وعده ده چي په هغه سره خلکو ته دهوکه ورکوي او په خوب کي جادو دهوکه ورکوونکي دښمن دی، جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دجادو کولو تعبير په شپږو وجو باندي دی. ۱: فتنه ۲: دهوکه ۳: مکر ۴: انديښنه ۵: بي فائدی او درواغ ۶: بي اصله کار.

چهارپای \ ځناور \ حيوان

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي دده سره ځناور دی. اودده تابع او فرمانبرداره دی نو دليل يي دا دي چي دهغه قيمت مطابق به دځنګلي سړی څخه فائده پورته کوي. که څوک ووينې چي دده دځنګلي ځناورو رمه را غله اودده فرمانبرداره سوه نو دليل يي دا دي چي کوم خلک په ځنګل کي اوسيږي هغه به دده تابعدار سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي دځنګلي ځناورو سره محبت لري نو دليل يې دا دي چي دهوښيارو خلکو سره به جنګ کوي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي دي ځناور سويدی نو دليل يي دا دي چي دده عقل به ختم سي او که ووينې چي ځناور دده سره خبري کوي نو دليل لي دا دي چي عزت به حاصلوي اوکه ووينې چي دځناور غوښه خوري نودليل يي دا دي چي دهغه په اندازه مال به حاصلوي.

جاروب \ جارو

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي جارو په خوب کي ليدل نوکر اوخدمت ګار دی اوپه شپه کي جارو خادم دی چي د ډيرو شيانو تقاضا کوي اوکه ووينې چي کور جارو کوي نو دده مال به ضائع سي اوکه ووينې چي دچا کور جارو کوي نو دليل يي دا دي چي دچا مال به ورته ورسيږي

خاصکر که ووينې چې دچا کور يې جارو کړي دی اوخاوره يې دځان سره خپل کور ته راوړي ده. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې جارو په خوب کې ليدل په درو وجو ده ۱: خادم ۲: نفع ۳: دخلکو دشيانو تقاضا چې ده ته به ورسيږي.

جام \ پياله

ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دي چې که څوک ووينې چې پياله يې داوبو څخه يا دګلابو داوبو څخه ډکه نيولې ده يا چا ورکړې ده او ده چينبلې ده نو دليل يې دا دي چې ښځه به کوي يا به مينځه اخلي چې دهغه څخه به پرهيزګاره هلک پيداسي او دهغه څخه به راحت ووينې. اوکه ووينې چې دپيالې څخه اوبه تويږي او پياله پاکه پاته سوه نو دليل يې دا دي چې دده زوی به مړ سي او ښځه به يې بچ سي اوکه پياله ماته سوه اواوبه يې توي سوي نو دښځې او ما شوم د دواړو دمرګ دليل دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوک ووينې چې دده دکور پر ديوال پياله لګيدلې ده نو دليل يې دا دي چې ددغه پيالو په شمار به دده ښځې اومينځې وي اوکه سپينه يا شنه پياله ووينې نودليل يې دا دي چې دده دښځې به نيک عمل او پرهيزګاره وي اوکه څوک سره پياله ووينې نو دليل يې دا دی چې دده ښځه به عيش کوونکې اومفسده وي اوکه ژړه پياله ووينې نودليل يې دا دي چې دده ښځه به ناجوړې اوژړه وي اوکه توره پياله ووينې نو دليل يې دا دي چې دده ښځه به غمجنه اومصيبت وهلې وي.

جامه \ کالي

دانيال عليه السلام ويلي دی چې کالي په خوب کې کسب او دسړی کار دی که خپل کالي ښه ووينې نو دليل يې دا دي چې دده کسب به بد وي. که پاچا په خوب کې خپل کالي تور ووينې نو دهغه دنيک حال دليل دی اوکه رعايا خپل کالي تور ووينې نو دغم اوفکر دليل دی او ژړ کالي په خوب کې ناجوړې ده اوسره کالي په خوب کې خوشحالي ده او داطاعت توفيق دی، دليل يې دا دی چې شنه کالي دجنتيانو دی دالله تعالی فرمان دی (عليهم ثياب سندس خضر واستبرق، سورة الدهر: ۲۱) ترجمه: پرهغو دشنو وريښمو کالي دی. او سپين پريوللل سوي کالي ليدل دکار جوړيدو دليل دی او اسماني رنګ کالي دنقصان دليل دی اوسوزل سوي کالي دښځو دليل دی چې دپاچا دوجې څخه وي اوخيري سوي کالي دراز ښکاره کيدو دليل دی او دپشميني لنډ او دتاټ کالي دمال اومراد حاصليدو دليل دی اوتوکر لګيدل سوي کالي دفقيری او تنګدستي دليل دی اوخيرن کالي که هر قسم وي دفکر اوغم دليل دی او کاغذي کالي دملامتيا اوبدي دليل دی اودځناورو دپوست کالي دخير او نفع دليل دی او بې درزه کالي دکفن په شکل دليل دی چې دده ددين کارونه پوره سوي دی ليکن دده عمر اخيرته رسيدلي دی اوکه ووينې چې دخره پوست يې اغوستي دي نودليل يې دا دي چې عزت اومرتبه به حاصله کړي. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوک ووينې چې دسرداری کالي يې اغوستي دی نوکه دي ددي کاليو اهل وي نو کار به يې قوي سي اوکه ووينې چې دوزارت کالي يې اغوستي دي نو دليل يې دا دي چې دده مال به زيات سي ليکن دخلکو څخه به ملامتيا وينې او که ووينې چې ددربار کالي

Maktaba Tul Ishaat.com

يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي دمشرانو دعطاء څخه به محروم وي اوکه ووينې چي دشاهي مددګار کالي يي اغوستي دی نودليل يي دا دي چي څوك به ورته په بخشش رسولو کي مدد کوي اوکه ووينې چي دجلاد کالي يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي نفع به حاصله کړي اوکه ووينې چي دنمبردار کالي يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي امانتدار او ژبه ور به وي اودخلکو په ضروري کارونوکي به مشغول سي. او که ووينې چي دصوفيانو کالي يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي دين به يي زيات وي اوکه ووينې چي دپرهيزګارانو کالي يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي امانت دار به وي اوکه ووينې چي دسوداګر کالي يي اغوستي دی نودليل يي دا دي چي دده ددنيا کاروبار به نيك وي اوکه ووينې چي داهل اصلاح کالي يي اغوستي دي نو دليل يي د ادی چي دده دين به په صلاح سره وي اوکه ووينې چي دفسادیانو کالي يي اغوستي دی نو دا دغم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چي دمزدور کالي يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي فکر مند اورنځور به سي. اوکه ووينې چي دطبيب کالي يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي دده کار به نيك وي او په خلکو کي به مشهورسي اوکه څوك ووينې چي ديهوديانو کالي يي اغوستي دي نو دليل يي دا دي چي څوك به په دهوکه او بهانه هلاک کړي او دده انجام به بد وي اوکه ووينې چي دعيسايانو کالي يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي داسي کاربه کوي چي دهغه په وجه به ددښمن څخه په امن نه وي اوکه ووينې چي دپادريانو کالي يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي دي به بدعتي وي اودده توجه به دکفر اوګمراهي طرف ته وي اوکه ووينې چي دده سره داتش پرستو کالي دی نو دليل يي دا دي چي دده رغبت به دبي دينو اوجاهلانو طرفته وي اوکه ووينې چي دسپاهيانو کالي يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي څوك به ورته يو شي ورکړی اوبيابه يي بيرته ځنی اخلي او که ووينې چي دبت پرستو کالي يي اغوستي وي نو دليل يي دا دي چي دپاچا يا امير په خدمت کي بل مشغول سي اوکه ووينې چي دښځو کالي يي اغوستی دی نو دليل يي دا دي چي دخپل بزرګ څخه به ليري سي اوکه ووينې چي دجيليانو کالي يي اغوستي دي نو دليل يي دا دي چي دځه کار لپاره به غمجن او حاجتمند سي اوکه ووينې چي ددقلي کالي يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي امانتداره به وي اوبدنام به وي اوکه ووينې چي دګورکن کالي يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي دبد اودکم همته سړی په خدمت کی به مشغول سي. او که ووينې چي دمانګي کالي يي اغوستي دی نودليل يي دا دي چي ده ته به په يو مصلحت حلال رزق ورسيږي اوکه ووينې چي دده سره دقصاب کالي دی نو دليل يي دا دي چي ده ته به نقصان او فکر ورسيږی اوکه ووينې چي دماتمي کالي يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چي دښځي سره به په ښه طريقه صحبت نه ساتي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي نوي کالي ورسره دی او دهوبي پريولي نه دی نو دنيکي دليل دی اوتنګي اوخرابي جامي ليدل دنوی اودهوبي پريولل سوي څخه ښه دی او دکيمخا کالي عقلمنده ښځه اوهوشياره مينځه ده او پټه داره کالي خير اونفع ده او دنامعلومه رسي کالي دکوړي زخم يا سخت غم دی چي ده ته

به ورسیږی او مقرره کالي طلب کړه سوي مال دی. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي دکالو لیدلو تعبیر پر دوه قسمه دی دیو تعلق ددین سره دی او دبل تعلق ددنیا سره دی او سپین کالي دین دی او دپټکي نوي کالي دنیا ده اوکه څوک ووینې چي دده سره نوي سپین او پاك کالي دي نو دا ددین او دنیا ددواړو لپاره ښه ده او که پنډ اوتنګ کالي ووینې دا ددین اودنیا دواړو لپاره بدوالی دی اوکه کالي خیرن او څیري ووینې نو داهم ددین او ددنیا دفساد دلیل دی اوسره کالي دښځو او سړیو دواړو لپاره ښه دی اوپرتوګ لنګ دوریښمو پټو قبا او پټکي داټول دسړیو لپاره غم اوفکر دی یا جنګ دی اوژړ کالي دسړیو لپاره ناجوړي ده اودبعض اهل تعبیرو دفرمان مطابق که ښځه ووینې چي هغې ژړ کالي اغوستي دی نو دلیل یې دا دي چي خاوند به کوي اوکه خاوند والاوي نوناجوړه به سي اوشنه کالي دښځو اوسړو لپاره دین دی که په ژوندي یې ووینې نو ددین صلاح ده او که په مړي یې ووینې نو داخرت دخلاصي دلیل دی اوتور کالي دهغه چا لپاره چي همیشه تور کالي اغوندي ښه دی لیکن دسپینو کالو اغوستونکي لپاره تور کالي ښه نه دی په دین او دنیا دواړو کي ښه نه دی. او دبعض اهل تعبیرو په نزد تورکالي دخطبي قاضي اوپاچا دپاره ښه دی اودرعایا لپاره غم اوفکر دی او اسماني رنګ کالي بهتان غم اومصیبت دی. اوکه څوك ووینې چي دده سره رنګدار کالي دی شنه سره اوژړ دي نودلیل یې دا دي چي دپاچا څخه یا ددغه ولایت دحاکم څخه به داسي خبره اوري چي ده ته به ښه نه معلومیږي. اسماعیل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي څوك ووینې چي دده سره دواړه طرفته رنګ سوي کالي دي نو دلیل یې دا دي چي داهل دنیا اواهل دین سره به په ذلت سره ژوند تیروي اوکه ووینې چي خپل کالي خوري نو دلیل یې دا دي چي دخپل مال ډیره حصه به خرڅ کوي اوکه ووینې چي څیري سوي کالي یې اغوستي دی نودلیل یې دا دي چي په سفر به ځي یا دڅه کار لپاره به قیدخاني ته ولیږل سي اوکه ووینې چي دده کالي ورك سویدی یا چا ځني واخستل او دي پخپله لخ پاته سو نودلیل یې دا دي چي عزت اومرتبه به یې کمه سي او ذلیله اوخوار به سي اوکه ووینې چي خپل کالي یې څیري کړل نودلیل یې دا دي چي غمجن به سي اودخپلې ښځي سره به جنګ کوي اوکه ووینې چي دده کالي څیري دی نودلیل یې دا دي چي دښځي څخه به جلا سي اوکه ووینې چي خپل کالي یا دخپلې اهل خاني کالي پیدا کړي نو دلیل یې دا دي چي دخپلوانو سره به یې جنګ کوي یا به دده دوست سره جنګ کوي اوکه ووینې چي چا ځني په زور اخیستي دی اودي یې لخ پاته کړیدی نودلیل یې دا دي چي دعزت او مرتبي څخه به معزول سي اوکه ووینې چي د قحط کړه سوي کالي یې خلاص کړي دی نو دلیل یې دا دي چي په سفر به ځي اوکه ووینې چي خلاص سوي کالي یې نغښتي دی نودلیل یې دا دي چي دده څخه ورك سوی سړی به دسفر څخه واپس راځي. که ووینې چي دښځو کالي یې اغوستي دی نو دلیل یې دا دي چي مال به یې زیات سي لیکن بیره به یې زیاته سي اودیو قول مطابق ده ته به غم فکر او بې حرمتي وي اوکه ووینې چي دسړیو کالي لري نو دلیل یې دا دي چي خیر اونعمت به ورته حاصل سي او په خوب کي کالي پیدا کول دسفر دلیل دی او

Maktaba Tul Ishaat.com

دکالو داوربدوالي اوپلنوالي مطابق به دسفر موده وي اوکه ووينې چې کالي يې تمام کړيدی نو دليل يې دا دي چې دغم څخه به خلاصون پيداکړي.
اصفهانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې په ټولو کالو کې ښه کالي دسوترو دي چې ريښم پکښې نه وي اوسوتي عنابي کالي يا دريښمو کالي دواړه دحرام مال او ددين دفساد دليل دی او دريښمو اوابريشم کالي دسړو لپاره بد دي اودښځو لپاره ښه وي او زاړه کالي دپاچا دطرف څخه غم اوفکر دی اوکه څوك په خوب کې ووينې چې زاړه کالي يې خرڅ کړي دی نو ښه دی او که زاړه کالي واخلي نو بد دی اوزاړه کالي دبدن څخه ليرې کول ښه دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې مينځل سوي کالي واغوندي نو دتبې دليل دی اوکه خيرن کالي ووينې نوفقير به سي اوکه په خوب کې ووينې چې رنګين کالي يې اغوستي دی نو دښځې اوسپاهي لپاره يې تعبير ښه دی اوکه ووينې چې عجيبه رنګ کالي لري نو دليل يې دا دي چې مکروه خبره به دده مخ ته راسي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې نوي کالي په خوب کې ليدل په څلورو وجودی. ۱: ښځه ۲: پاچا ۳: مال ۴: خير اونفع، او دايې هم ارشاد وفرمايې چې که څوك ووينې چې خپل کالي په غچې سره پريکوي نودليل يې دا دي چې څه شي به ورته ورسيږي اوکه ووينې چې غلو دده څخه کالي ايستلي دی نو دليل يې دا دي چې دده دښځو په مينځ کې به فساد پيداسي.

جامه خواب \ د خوب کالي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دخوب کالي په خوب کې ليدلو تعبير ښځه ده اوکه ووينې چې دخوب کالي پاك اوسپين دي نو دليل يې دا دي چې اولاد به يې پرهيزګاره او ديندار وي او که دخوب کالي تور ووينې نو دليل يې دا دي چې ده ته به دخپل اولاد څخه غم اوفکر ورسيږي. اوبعض اهل تعبير بيان کړيدی چې په خوب کې تورکالي دپاچا لپاره ښه دی او درعايا لپاره ښه نه دی اوکه دخوب کالي اسماني رنګ ووينې نو دليل يې دا دي چې ده ته به داولاد په وجه غم فکر اومصيبت رسيږي اوکه ووينې چې دده دخوب کالي خيرن دی او څيري دي نو دليل يې دا دي چې دده ښځه به خرابه خيرنه اوناموافقه وي اوکه ووينې چې دده دخوب کالي ورك سوي دی يا چا پټ کړي دی نو دليل يې دا دي چې ښځې ته به طلاق ورکړي يا به ځني جلا سي اوکه ووينې چې دده دخوب کالي سوزلي دی نو دليل يې دا دي چې دده اولاد به مري. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دخوب کالي ليدل په دروو وجو دی ۱: نيکه ښځه ۲: اسانتيا اوراحت ۳: غم فکر اومصيبت.

جان \ روح

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې روح ليدل زوی مال يا موافق عيال دی اوکه ووينې چې دده دبدن روح وتی نو دليل يې دا دي چې دده زوی يانښځه به مري يا به يې مال ورك سي او يابه پخپله هلاك سي اوکه خپل روح دنيك سړي په شکل کې ووينې نودليل يې دا دي چې دده به نيك زوی پيداسي اوحال به يې ښه سي اويا دخوش طبيعته اوځوانمرده پاچا خدمت به ورته

حاصل سي او حال به يي ښه سي او که خپل روح ديو خراب سړی بدخويه په شکل کي ووينې نو ددي تعبير د اولني څخه خلاف دی.

حکايت

په حديث شريف کي راغلي دی چي يو سړی دنبي ﷺ په خدمت کي حاضر سو اوعرض يي وکړي اي دالله رسوله ماپه خوب کي ليدلي دی چي روح زما دبدن څخه راوتلي دی او زه يي په غيږه کي اخيستي يم اوبيا اسمان ته تللي دی حضور ﷺ وويل چي وصيت وکړه ستا روح خپل ځاي ته رسيدلي دی بياهم په هغه ورځ هغه سړی ددنيا څخه رخصت سو. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ وايي چي که په خوب کي خپل روح پخپل لاس کي ووينې نو دليل يي دا دي چي په خطرناك کار کي به مشغول سي او ده ته به دمرګ بيره وي اوکه ووينې چي روح دده دلاس څخه اسمان ته تللي دی نو دليل يي دا دي چي ژر به مري اوکه ووينې چي دده دروح رنګ ژړ دی نو دليل يي دا دي چي په سخته ناجوړي کي به مړسي اوکه روح سور يا سپين ووينې نو دده انجام به ښه وي او دغمونو څخه به خلاصون حاصل کړي اوکه روح تور رنګي ووينې نو دليل يي دا دي چي دالله تعالی دعذاب مستحق به وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دمړي څخه روح وزي او خپلوان ورته ژاړي نو دليل يي دا دي چي دمړي کورواو ته به غم اوفکر ورسيږي او که ووينې چي خپلوان يي په کراره کراره ژاړي نو دليل يي دا دي چي دمړي روح په عذاب کي دی.

چاه \ څاه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي دڅاه اصل تعبير ښځه دی که څوك ووينې چي په يو ځاي کي څاه کني نو دليل يي دا دي چي ښځه به کوي اوکه ووينې چي دڅاه په کښلو کي ورسره څوك مدد کوي نو دليل يي دا دي چي دده او دښځي تر مينځ به وکيل وي او دی غواړي چي په مکر اودهوکي سره ددغه ښځي سره واده وکړي ځکه چي په متلونو کي څاه کښل مکر او حيله ده چي فلاني دفلاني لپاره څاه کاږي يعني دهغه سره بد اومکر کوي اوپه خوب کي دڅاه کښل يعني دهغه سره بد او مکر کوي او په خوب کي دڅاه اوبه دښځي مال دی اوکه څوك ووينې چي دڅاه اوبه يي چينبلي دي نود ليل يي دا دي چي دښځي مال به خوري اوکه دداسي څاه څخه اوبه چينبي چي دپخو خښتو څخه جوړ سوی دی نودا دښځي پر مال دليل دی او که ووينې چي څاه يي کښلي دی اواوبه يي ځني راونه ايستلي نو دليل يي دا دي چي دغريبي ښځي سره به واده کوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دڅاه اوبه په چينبلو کي خوږې دي نو دليل يي دا دي چي دښځي مال به په نفرت سره اخلي اوکه ووينې چي دڅاه اوبه ښي يخي دی نو دليل يي دا دي چي دښځي څخه به خير اونفع حاصله کړي. اوکه ووينې چي په څاه کي ډيري اوبه دی نو دليل يي دا دي چي ښځه به يي ځوانه اوسخي وي اوکه ووينې چي په څاه کي اوبه لږ دي نو دليل يي دا دي چي ښځه به يي بد ذاته اوبده وي او که ووينې چي څاه يي وکښي اوژر اوبه پکښي راغلي نو دليل يي دادي چي ښځه به يي ناجوړه سي او که دڅاه څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

توري يا اسماني رنګ اوبه وتلي وی نودليل يي دا دي چي غم اوفکر به ورته ورسيږی اوکه دځاه څخه سپيني اوبه راوزي نو دليل يي دا دي چي وراثت به حاصلوي اوکه ووينې چي دځاه اوبه ژوري ولاړی اوهيڅ پاته نه سوي نودليل يي دا دي چي ښځه به يي هلاکه سي اومال به يي ورك سي اوکه ووينې چي څاه تر زمکي لاندی ولاړي نو دليل يي دا دي چي ښځه به يي هلاکه سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي څاه ته يي بوقه اچولي ده چي اوبه ځني راباسي او رسۍ يي پري ده نو دليل يي دا دي چي دده به ناقص زوی پيدا سي.

حکايت

په حديث شريف کي راغلي دی چي يو سړی دعبدالله بن عباس رضی اللہ عنہ څخه پوښتنه وکړه چي ما په خوب کي ليدلي دی چي څاه ته مي داوبو را ايستلو لپاره بوقه واچوله نو رسي دوه ټکړي سوه يو ټکړه په څاه کي پاته سوه اوبله راوختله عبدالله ددي خوب په تعبير کي ووايي چي ته دخپل عيال څخه غائب وي او ستا دشپږو مياشتو زوی پيدا سو اوهغه يي دفن کړو هغه سړی وويل چي ماته په دي خبره ډير تعجب وسو يعني پوره تعبير يې بيان کړو.

دانيال عليہ السلام ويلي دی چي که څوك ووينې چي په نامعلومه ځاي کي څاه کني نو دليل يي دا دي چي دخپلوانوسره به مکراوفريب کوي اودبعض اهل تعبيرو دوينا مطابق څاه کيندل او اوبه را ايستل دنکاح حکم لري اوکه ووينې چي دبل چا لپاره څاه کني نودليل يي دا دي چي دده په واسطه به دچا نکاح کيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك دځاه څخه اوبه راوباسی نو دليل يي دا دي چي په مکر اوفريب سره به مال جمع کوي خاصکر که پخپله يي کښلي وي او که ووينې چي دبوقي څخه اوبه منګي ته اچوي نو دليل يي دا دي چي دخپل مال حفاظت به کوي. اوکه اوبه راوباسي او په مځکه يي توي کړي نو دليل يي دا دي چي په مکر اوحيله کی به راسي اوکه ووينې چي باغ ته اوبه ورکوي نو دليل يي دا دي چي کوم مال يي ګټلي وي په هغه به ښځه کوي يا به باندي مينځه اخلي. اوکه ووينې چي په دغه باغ کي ميوي دی نو دا پر زوی پيدا کيدو دليل دی او بعضي وايي چي که ووينې چي باغ ته اوبه ورکوي نو دليل يي دا دي چي دخپلي ښځي سره به نکاح کوي اوکه ووينې چي اوبه دځاه سر ته راغلي او بهيږي نو دليل يي دا دي چي دمالداري ښځي سره به واده کوي او ددغه ښځي څخه به ورته مال اونعمت حاصل سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي څاه ليدل په شپږو وجو دی ۱: ښځه ۲: مينځه ۳: عالم ۴: مالداري ۵: مکر ۶: فريب او حيله او په خوب کي څاه کښل مکر اوحيله ده.

جبه \ غټ کوټ \ چپنه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي چوغه په خوب کي ښځه ده که ووينې چي د ده سره فراخه اوپاکه چوغه ده نو دليل يي دا دي چي دده ښځه به نيك خياله اونيك خويه وي اوکه د دې خلاف ووينې نو دده ښځه به بدخويه اونا موافقه وي او که ووينې چي دده چوغه څيري ده يا

سوزلي ده نو دليل يي دا دي چي دسړی اوښځي ترمينځ به جدائي راسي. صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ديخني په موسم کي پرخپل بدن چوغه ليدل ښه دی اوپه څلورو وجو دی ۱: ښځه ۲: قوت ۳: واده ۴: نفع او زړه اوخيرنه چوغه غم اوفکر دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي چوغه ورسره ده يا چا ورکړي ده اورنګ يي شين دي نو دليل يي دا دي چي پاك دينه ښځه به کوي او که ووينې چي سپينه اونوي چوغه ورسره ده نو دليل يي دا دي چي پرهيزګاره او امانتداره ښځه به کوي او که ژړه ووينې نو ناجوړه ښځه به وي اوکه اسماني رنګ ووينې نو فکرمنده اوغمجنه ښځه به کوي او که سره چوغه ووينې نوښځه به يي عيش پسنده وي او دده سره به موافقت نه کوي.

چترى \ سايوان

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده پر سر چتري لګوي نو دليل يي دا دي چي که دشاهي اهل نه وي نو پاچاهی به حاصله کړي کنې دمشرئ دليل دی اوکه ووينې چي دپاچا چتري دده په لاس کي ده نو دليل يي دا دي چي د پاچا مقرب به سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي چتري ليدل په اووه وجو ده: ۱: سلطنت ۲: عزت ۳: مرتبه ۴: رياست. ۵: لوړوالي ۶: ولايت ۷: د مشرانو سره ناسته ولاړه.

چراغ \ ډيوه

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ډيوه دکور خادم دی اونورو اهل تعبيرو ويلي دی چي دکور مالکه ده که په خوب کي ووينې چي دده په کور کي پاکه ډيوه روښانه ده نو دليل يي دا دي چي دکور مالکه اصلاح منده اونيك خويه ده او که ووينې چي ډيوه بليږي نو دکور په مالکي يا ښځي يا دخادمي پر غم دليل دی او که ووينې چي ډيوه مړه سوي ده نو دليل يي دا دي چي کور به را ايله سي او دکور مالکه به مړه سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي په تاخ کي ډيوه بله ده نو دليل يي دا دي چي که واده يي کړي دی نو زوی به يي پيدا سي کنې ښځه به کوي يا به مينځه اخلي اوکه څوك يي په سفر تللي وي نو بيرته به راسي اوکه ووينې چي په ښار کي ډيري ډيوې دي نودليل يي دا دي چي دملك پاچا عادل اوقاضي انصاف کوونکي دی اودښار خلک به خوشحاله وي اسماعيل رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي دده په لاس کي ډيري ډيوې دی نو دليل يي دا دي چي زوی به يي راسي او عزت او دولت به حاصل کړي او که خوب ليدونکي بدکاره وي نو دليل يي دا دي چي دالله تعالی طرف ته به رجوع وکړي اوتوبه به وکړي او که مشرك وي نو هدايت به حاصل کړي اوکه مسلمان وي نو دعبادت توفيق به حاصل کړي دالله تعالی فرمان دی (وسراجا منيرا وبشر المؤمنين بان لهم من الله فضلا كبيرا، سورة الاحزاب: ٤٧) ترجمه: او يوه روښانه ده اوايماندارانو ته زيري ورکړه چي پر دوی دالله تعالی دطرف څخه لوئ فضل دي. اوکه ووينې چي څراغ مړ سو نو دليل يې دا دي چي زوی به يي هلاک سي يا به يي په عزت اودولت کي نقصان وسي او که ووينې چي د ده په مخکي ډيوه

Maktaba Tul Ishaat.com

بليږي نو دليل يي دا دي چي ددين اودنيا مرادبه حاصل کړي اوکه ووينې چي دده په لاس کي دوه بتيو والا ډيوه بليږئ نو دليل يي دا دي چي دده به يوځای دوه زامن پيداسي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلی دی چي په خوب کي د ډيوي ليدلو تعبير په څوارلسو وجو دی ۱: پاچا ۲: قاضي ۳: زوی ۴: ناوي ۵: ولايت ۶: سرای ۷: سردار ۸: واده ۹: علم ۱۰: مالداري ۱۱: خوشحاله ژوند ۱۲: مينځه ۱۳ : نفع ۱۴: څنګه چي يي ليدلي وي هغسي به کيږي.

چراغ پايه \ پر کومي چوکۍ چي ډيوه ږدي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي څراغ پاپه دکور خدمت ګار دی که و ووينې چي د ده سره چوکی ده يا چا ورکړي ده نو دليل يي دا دي چي دده خادمه به خوشطبعه اومهربانه وي او که چوکی ته سره زر لګيدل سوي ووينې نودليل يي دادي چي د ده خادم به متکبره او مغروره وي اودين به يي کمزوري وي اوکه ووينې چي چوکی دلرګي ده نودليل يي دا دي چي خادمه به يي بد ذاته وي او دهغي په خبرو اعتبار کول نه دي پکار.

چراغ دان \ د ډيوي ايښودلو تاخ

څراغ دان په خوب کي ښځه ده او اهل تعبير بيان کړيدی چي دکور اوقبيلي خدمتګار دی او څراغ دان حکومت دی، ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي څراغ دان داوسپني دی نو دليل يي دا دي چي دده خدمت ګار داصله اتش پرست دی اوکه دخاورو يي ووينې نو د ده خدمت ګار داصله مسلمان دی او ديندار اوامانتدار دی او که ووينې چي څراغ دان دده دلاس څخه را ايله سو او مات سو نو دليل يي دا دي چي دده ښځه يا خدمت ګار به مري.

چرغ \ يو ښکاري مارغه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کی چرغ پاچا دی او که په خوب کي وحشي چرغ ووينې نو دليل يي دا دي چي دده زوی به بلوغ اوځواني ته ورسيږي. او که ووينې چي چرغ يي نيولي دی او په هغه يي ښکار کړيدی نو دليل يي دا دي چي پاچا به پر ده ظلم اوزياتي کوي او که ووينې چي پاچا چرغ ورکړي دی اوهغه ښکار کوی نو دليل يي دا دي چي دپاچا څخه به عزت اوحرمت ووينې اوپر نورو خلکو به ظلم کوی اوکه ووينې چي چرغ ښکار کوي اوهغه يي نيولي دی نو دليل يي دا دي چي دده به نافرمانه زوی وسی او که ووينې چي دده دغوښي څخه چرغ څه خوړلي ده نو دليل يي دا دي چي د زوی څخه به غم اوبدي ووينې ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دچرغ ليدلو تعبير بزرګ هيبتناك اوقوي سړی دی او که ووينې چي چرغ دده پر کور په يوه يا دوه واري اواز کړيدی نو دليل يي دا دي چي ده ته به نقصان رسيږي او که دري اوازونه يي کړي وي نو هيڅ نقصان به ورته نه وي او بعض اهل تعبير وايي چي په خوب کي چرغ غل سړی دی چي دشپي هر قسم کارونه کوي.

چرګ \ خيره

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي کالي يي خيرن دی نودا دده

ددین اودنیا دتباهي دلیل دی اوکه ووینی چي دده دکالو خیري دمړو دوچي څخه دی نو دا ددین دفساد او ددنیا دصلاح دلیل دی. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي پر بدن او پر سر خیری لیدل غم اوفکر دی اوپه خوب کي پر بدن خیري لیدل دهیڅ قسم خیر اونفع دلیل نه دی.

جزغ \ کوړئ د مړي

کوړئ په خوب کی لیدل مختلف حال ګنده او غلامزاده ښځه ده که ووینې چي دده سره کوړئ ده یاچا ورکړي ده نو دلیل یې دا دي چي دپورته صفت ښځه به کوي اوکه ووینې چي کوړئ دده څخه ورکه سوي ده نو دلیل یې دا دي چي ښځه به یې مري یا به ورته طلاق ورکوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي دسپیني اوروښانه کوړئ لیدلو دلیل دا دي چي پرهیزګاره امانتداره او ښائسته ښځه به کوي اوکه ووینې چي کوړی تکه توره ده نو ددي تعبیر د اولني خوب خلاف دی.

جستن \ جمپ وهل

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي دیو ځاي څخه یې جمپ وهلي دی نودلیل یې دا دي چي حال به یې بدل سي او که لیري یې جمپ وهلي وي نو په اوږد سفر به ځي اوکه ووینې چي دده په لاس کي لرګي یا نیزه ده اودهغې سره یوځاي ته جمپ وهل وي نو دلیل یې دا دي چي دمدد لپاره په قوي سړی اعتماد کوي چي هغه کار دده په مرضی برابر وسي او که ووینې چي ددیوال څخه یې جمپ وهلي وی اوپر ځناور ناست دی نودلیل یې دا دي چي هلاک به سي اوکه ووینې چي دکور پر کوټه یې جمپ وهلي دی اوکور را ایله سوي دی او دي مړ سویدی نو دلیل یې دا دي چي ښځه به ځني جلا سي اوبیا به بیرته راسي. اوکه ووینې چي دمځکي څخه یې هواته جمپ وهلي دی او دقبلي طرف ته یې مخ کړي دی اوبیا یې ځان په حرم کعبه یامکه یا مدینه منوره کي ولیدی نو دا ټول دحج کولو دلیلونه دی اوکه ووینې چي دنامعلوم ځاي څخه یې نامعلوم ځاي ته جمپ وهلي دی نودلیل یې دا دي چي هلاک به سي او که ووینې چي په شګون سره یې جمپ وهلي دی اوهلته را زړیږي نودلیل یې دا دي چي عیش به باندي خلاص سي او که ووینې چي هواته یې جمپ وهلي دی اومرغي یې نیولي ده نو دلیل یې دا دي چي خپله ښځه به پریږدي اوبله ښځه به کوي اوکه ووینې چي په لرګي یا په همسا سره یې دیو ځاي څخه بل ځاي ته جمپ وهلی دی اوګرځي نو دلیل یې دا دي چي دغم اواندیښني څخه به خلاص سي او کار به یې په انتظام سره وي.

چشم \ سترګي

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چي په خوب کي سترګه لیدل یو بینا سړی لیدل دی چي دهغه څخه به دهدایت لاره پیداکړي شني سترګي بدعت دی اوګلابي سترګي زوی دی اوکه څوک ووینې چي پخپله ږوند سوي دی نو دلیل یې دا دي چي دهدایت دلاري څخه به ورك سي یابه یې زوی مړ سي. اوکه ووینې چي دی په یوه سترګه ږوند سوي دی نودلیل یې دا دي چي دده نیم دین

Maktaba Tul Ishaat.com

ورك سوي دی یا ده ډیره لویه ګناه کړیده یا به دده په لاس یا یوه پښه یا دبدن په یوه حصه مصیبت راځي یا به دده نیم کار خراب سي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي په سترګو کي یي رانجه لګولي دی نو دلیل یي دا دي چي ددین اصلاح به تلاش کوي اوکه وینې چي درانجو څخه دده مقصد ښکلي والي او ارائش دی نو دلیل یي دا دي چي ځان دخلکو په مخکي امانتدار اودیندار ښکاره وي چي عزت حاصل کړي اوکه ووینې چي چا ده ته رانجه ورکړي دی چي په سترګوکي یي واچوي نو دلیل یي دا دي چي دهغه په قدر به مال حاصل کړي اوکه ووینې چي دده دسترګو نظر کمزوري سوي دی نو دلیل یي دا دي چي دی په ښکاره اوپه پټه دوه مخي منافق دی اوکه ووینې چي دده پر بدن ډیري سترګي دی اوټول شیان په ښه طریقه سره وینې نودا ددین دصلاح دلیل دی او دشریعت فرائض اوسنت په ښه رقم سره ادا کوي. اوکه ووینې چي چا سترګي ځني ایستلي دی نودلیل یي دا دي چي په کوم شي دده سترګي روښانه وي لکه ښځه زوی باغ دابه دده دنظر څخه ورك سي داسي چي بیا به یي نه وینې. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که داوسپني سترګي ووینې نو دلیل یي دا دي چي پرده به یي شلیږي اوکه ووینې چي دده پردواړو سترګو پاڼسوب دی چي سترګي یي نه سي خلاصیدلی نو دلیل یي دا دي چي دمخالف سړی په صحبت کي به کښینې او که دسترګو رڼا کمزوري ووینې نو دلیل یي دا دي چي ده ته به په طاعت کولو کي نقصان رسیږي اوکه خپلي سترګي ایستل سوي ووینې نو دلیل یي دادي چي ددین او شریعت څخه به یي برخي وي اوکه ووینې چي دده دمخ په مینځ کي یوه سترګه ده نو دلیل یي دا دي چي ددین په باره کي به دخپلي ژبي څخه نالائقه خبري کوي او که ووینې چي دده سترګي روښانه دی او خلکو ته ړندي ښکاري نو دلیل یي دادي چي دده ددین باطن دظاهر څخه غوره دی اوکه څوك ووینې چي دده په تورو سترګو کي ککئ سوي دی نو دا دبدي او دحال دبدلیدو دلیل دي. دالله تعالی فرمان دی (ونحشر المجرمین یومئذ زرقا، سورة طه: ۱۰۲) ترجمه: اومونږ به ګنهګاران دقیامت په ورځ شین سترګي را پورته کړو. اوکه ووینې چي دده دواړي سترګي سپینې سوي اوبیا توري سوي نو دلیل یي دا دي چي ناجوړه به سي یا به دچا سره جنګ کوي اوکه ووینې چي سترګي یي توري سوي اوسپین والي په کي پاته نه سو نو دلیل یي دا دي چي متکبر به سي اوکه ووینې چي دده پر یوه سترګه افت راغلي دی نو دلیل یي دا دي چي دده زامن له به څوك افت رسوي اوکه ووینې چي چا ځني یوه سترګه وویشته نو دلیل یي دا دي چي څوك به دده زوی دلاري څخه بوزي اوکه ووینې چي چا دده سترګه ټرلي ده یا یي په لاس کي اخیستي ده نو دلیل یي دا دي چي دده دزوی یا دمال نقصان به وسي یا به ګناه کوي اوکه ووینې چي دده دسترګي څخه وینه بهیږي نو دلیل یي دا دي چي ده ته به دزوی دطرف څخه غم رسیږي یا به یي دمال نقصان وسي. اسماعیل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي سترګه یي غورې سوي دی اوغورې یي سترګه سویده نو دلیل یي دا دي چي دانجلي مور به کوي اوددواړو سره به جماع کوي اوکه ووینې چي سترګه یي په تلي کي ده

نودليل يې دا دي چې مال به حاصل کړي اوکه ووينې چې دده په سترګو کې سپين والي دی نو دليل يې دا دي چې غم اوفکر به ورته ورسيږي دالله تعالی فرمان دی (وابيضت عيناه من الحزن، سورة يوسف: ٨٤) ترجمه: دغم دوجي يې دواړي سترګې سپينې سوي.

حکايت

بيان کوي چې يو سړی ددانيال عليه السلام په خدمت کې حاضر سو اوعرض يې وکړ چې ما په خوب کې ليدلي دی چې زما راسته سترګه چپه سترګه مچوي دوی يې په تعبير کې وويل چې اي سړيه دالله څخه وبيريږه اوتوبه وکړه او ائنده دخپل همسايه سره خيانت مه کوه د دې وجي څخه چې ته دالله تعالی دعذاب څخه په امن کې سوي خوب ليدونکي عرض وکړي چې ما توبه کړي ده. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې سترګې ليدل په اووه وجودی ۱: رښا ۲: ددين هدايت ۳: اسلام ۴: زوی ۵: مال ۶: علم ۷: دمال او ددين زياتوالي.

چشمه \ چينه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې داوبو چينه سرداري ده اوبخښش کوونکي يې ځوانمرد او دخوشبوداره اوبو په ډول دی دالله تعالی فرمان دی (فيها عين جارية، سورة الغاشية: ١٢) ترجمه: په هغه کې چينه جاري ده اوکه دچيني اوبه توري خرابې اوبدرنګه وي نو دليل يې دا دي چې دده انجام دغم بيماری او دمصيبت دی اوکه ووينې چې په چينه کې اودس کوي نو دليل يې دا دي چې دغمونو څخه به خلاصون حاصل کړي اوکه ووينې چې دچيني اوبه زياتې سوي دی نو دليل يې دا دي چې عزت اومرتبه به حاصله کړي او په دغه ملک کې به سخاوت زيات سي اوکه ووينې چې دچيني اوبه نقصاني سوي دی نوددي تعبير داولني خلاف دی او که ووينې چې دچيني اوبه وچې سويدي نودليل يې دا دي چې يوڅوک سخي سردار به ددغه ملک څخه رحلت کوي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوک ووينی چې دده په کور کې يا دده په دکان کې داوبو چينه ښکاره سويده نو دليل يې دا دي چې ددغه چيني دقدر او قيمت په اندازه به ورلره غم اوفکر ورسيږي اوکه اوبه بې خونده ووينې نو غم اوفکر به ورته سخت وي اوکه ووينې چې په دغه چينه کې يې مخ لاس پريولي دی نو دليل يې دا دي چې که غلام وي نو ازاد به سي که غمجن وي نو دغم څخه به خلاصون حاصل کړي که بيمار وي نو شفا به حاصله کړي که قرضداره وي نو دقرض څخه به خلاصون حاصل کړي اوکه ګنهګاره وي نو توبه به وکړي اويا به حج وکړي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې دچيني اوبه دخوب ليدونکي پر عمر دليل دی خاصکر که په اوبو کې يې لاس وهلي وي نو دچيني مطابق به يې عمر وي او ولاړي اوبه د جاري اوبو څخه په تعبير کې کمزوری دی. اوبعض اهل تعبير وايي چې دچيني ولاړي اوبه ددين صلاح ده او جاري اوبه پر غم او فکر دليل دی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې دچيني اوبه په خوب کې ليدل په پنځو وجو دی ۱: سرداري او سخاوت ۲: غم او فکر ۳: مصيبت ۴: ناجوړي ۵: عمر او ژوند حاصلول.

Maktaba Tul Ishaat.com

چغانه \ يو ساز دی

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي ساز بيهوده خبره او درواغ دی که څوك ووينې چي باجه ږغوي نودليل يي دا دي چي بيهوده خبري اودرواغ به وايي اوکه ووينې چي پاچا باجه ورکړيده نو دليل يي دا دي چي دپاچا څخه به ورته غم اوفکر رسيږي اوکه ووينې چي ساز يي مات کړي او غورزولي يي دی نو دليل يي دا دي چي ددرواغو اوباطلو خبرو څخه به توبه کوي اوکه ووينې چي باجه ږغوي اومخکي ورته باجه ږغول نه وه ايزده نو دليل يې دا دي چي که صاحب علم وي نوخلکو ته به تعليم ورکوي اودخپل علم څخه به فايده رسوي اوخلکو ته به دحديث فقه او دتفسير علم ښيي اوکه خوب ليدونکی جاهل وي نو داسي کاربه اختيار کړي چي په هغه به يي خلک ملامتوي اوکه ووينې چي دساز سره لاس چکچکی وهي نودا پر غم او فکر او مصيبت دليل دی.

چغد \ کوچنی گونگی

گونگي په خوب کي فساد کوونکي اوحرامي دی اوکه ووينې چي څوك گونگي نيسي نودليل يي دا دي چي هغه به دداسي سړی سره جنگ کيږي اوپه هيڅ حال کي هم گونگي ليدل مبارك نه وي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي دگونگي اواز اوري نودليل يي دا دي چي په هغه ځاي کي به دگونگي داواز مطابق ژړا او فرياد وي اوکه په خوب کي دگونگي بچي ووينې نو دليل يي دا دي چي دده زوی به کمبخته اونافرمانه وي اوکه ووينې چي دگونگي غوښه يي خوړلي ده نو دليل يي دا دي چي دهغه په قدر به دغله او مفسد سړی مال خوري.

چغندر \ جغندر

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي جغندر دغم اوفکر دليل دی که څوك ووينې چي جغندر يي خوړلي دی نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه غم اوفکر به ورته وي اوکه ووينې چي جغندر يي دکور څخه دباندي غورزولي دی نو دليل يي دا دي چي دغم څخه به خلاصون حاصل کړي او په خوب کي جغندر دښځو لپاره لږ نفع ده.

چيک \ د جايداد کاغذ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي مهر سوي چيك که څوك حاصل کړي يا چا ورکړي وي نو دليل يي دا دي چي مال اونفع به حاصله کړي اوکه ووينې چي چا په دي چيك يا خط باندي څه ليکلي وي نو دليل يي دا دي چي ښکر به لګوي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي مهر سوي چيک ورسره دی او دهغه څخه يي مهر ليري کړي دی نودليل يي دا دي چي دمال نقصان به يي وسي اوکه څوك ووينې چي چيك ځني ورك سوي دی يا يي سوزلي دی نودليل يي دا دي چي هغه به ورك سي.

چکاوک \ سرخاب مارغه

سرخاب يو مارغه دی چي په خوب کي د دې تعبير زوی يا غلام دی که په خوب کی ووينې چي

سرخاب يي نيولي دی يا چا ورکړي دی نودليل يي دا دي چي دده غلام يا زوی به راسي که نروي نوغلام يا زوی به يي وي اوکه ماده وي نو غلام يا انجلي به وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي سرخاب په خوب کي خورِ زبانه غريب اوکم ازاده سړی دی که څوك په خوب کي ووينې چي سرخاب يي نيولي دی يا چاورکړي دی نو دليل يي دا دي چي دداسي سړی سره به يي ملګرتيا وي.

جګر \ اينه \ ځيګر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي اينه ليدل پټ مال دی که دسړی اينه ووينې نو پټ سوي مال به يي پيداسي او خرڅ به يي کړي اوکه ووينې چي ډيره سره کړي يا پخه اينه ورته ملاو سوي ده نو دليل يي دا دي چي خزانه به حاصله کړي دغوا او بوزي اينه هم دمال اونعمت دليل دی اوبعض اهل تعبير وايي چي اينه په خوب کي ليدل پر زامنو دليل دي لکه چي نبي کريم صلی اللہ علیہ وسلم ويلي دی چي (اولادنا اکبادنا) ترجمه: زمونږ اولاد زمونږ ځيګرونه دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دايني وتل يا ښکاره کيدل پر پټ مال دليل دی چي ښکاره به سي اوډيري اينې پخي يا اومې پر خزانه يا پر علم غيب دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي اينه په خوب کي ليدل په دروو وجو ده ۱: زوی اومال ۲: اندېوال چي دزوی پر ځاي وي ۳: علم. اوکه ووينې چي اينه يي دکور څخه دباندي اچولي ده يا اور اينه سوزي نو دليل يي دا دي چي پاچا به دده خزانه اخلي اوکه داخوب څوك عالم ووينې نو دليل يي دا دي چي ټول علمونه به هير کړي.

جماع \ کوروالي کول

دانيال عليہ السلام ويلي دی چي جماع په خوب کي حاجت پوره کيدل دي خاصکر که ووينې چي مني ځني وتلي دی اوکه ووينې چي چا ورسره جماع کړي ده نو دليل يي دا دي چي دده خاندان به مالدار سي اوکه ووينې چي چا ورسره داسي جماع کړي ده چي سړی لاندي دی اوښځه پورته ده نو دليل يي دا دي چي دوهمه ښځه به کوي اودهغه څخه به خير اونفع وينې. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دخپلي ښځی سره يي يا دبلي ښځي سره يي په دوهمه لار جماع کړي ده نودليل يي دا دي چي دغه سړی به نالائقه کارکوي اوپه دغه کار کي به ورته فايده نه وي اودنبي کريم صلی اللہ علیہ وسلم سنت به په نظر کي نه ساتي اوکه ووينې چي دمور سره يا دخور سره يا دبل چاسره چي پر ده حرام وي جماع يي کړي ده نو دليل يي دا دي چي د خپلوانو محبت به دده څخه جلا سي که څه هم هغه ژوندی وي اوکه مړ وي خو په هر حال دغم اوفکر دليل دی او بعض اهل تعبير وايي چي که ژوندي وي نو دهغه څخه به خير اونفع ووينې او حج به وکړي اوکه دمړي سوي ښځي سره په خوب کي جماع وکړي نو دليل يی دا دي چي دکوم کار څخه نا اميده وی هغه به وکړي خو پوره به يي نه کړي اوکه ووينې چي دنامعلوم ځوان سره يي جماع کړي ده او ديو بل سره په جنګ وو نو دليل يي دا دي چي انجام به يي په محبت وي او دهغه څخه به خير اونيکي ووينې اوکه هغه ځوان معلوم وي نوبه فتح حاصلوي او که ووينې چي

Maktaba Tul Ishaat.com

دبوډا سړی سره يي جماع کړيده نو دليل يي دا دي چي د خپل نصيب څخه به خير اونيکي ووينې. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک ووينې چي پيغله انجلۍ ورته حاصله سويده نو دليل يي دا دي چي په دغه کال به واده کوي يا به مينځه اخلي اوکه ووينې چي دپاچا کورته ولاړي او هلته يي جماع وکړه نو دليل يي دا دي چي پر دښمنانو به کاميابي حاصله کړي. اوکه ووينې چي دده سره جماع وسوه نو بيايي هم دغه دليل دی چي مراد به يې حاصل سي اوبعض اهل تعبير وايي چي ده ته به دپاچا دطرف څخه خوف اوبيره حاصله سي او که ووينې چي دچرګ سره يي جماع کړي ده نو دليل يي دا دي چي دده طرف ته کم سړی منسوب دی پر هغه به فتح حاصله کړي. اوکه ووينې چي دعيسائي يا يهودي يا فارسي سره يي جماع کړيده نو تعبير يي دا دي چي دده دنيوي کار به په انتظام سره وي او که بوډا سړی چي شهوت يي بالکل ختم وي په خوب کي وګوري چي دده شهوت غالب سوي دی څنګه چي په ځواني کي وو نو دليل يي دا دي چي ددين په کار کي به ښه مينه لري. اوکه ووينې چي دناکاره ښځي سره يي جماع کړي ده نو دليل يي دا دي چي ددنيا اوحرام مال طلب به کوي اوکه داسي خوب ښځه ووينې نوبيا يي هم دغه تعبير دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي داوښ سره يي جماع کړي ده نو دليل يي دا دي چي دسختي څخه به خلاص سي اوپر دښمن به کاميابي حاصله کړي اومال به يي زيات او نوم به يي لوړ سي. اوکه ووينې چي دپاچا سره يي جماع کړي ده نو دليل يي دا دي چي دهغه به رازدار اومقرب سي اوکه ووينې چي دپاچا دښځي سره يي جماع کړي ده نودليل يي دا دي چي دهغي څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي دحيض والا ښځي سره يي جماع کړي ده نو دليل يي دا دي چي دده کار به خراب وي اوکه ووينې چي دمړي ښځي سره يي جماع کړي ده نو دليل يي دا دي چي دده کاربه خراب وي يا به دهغه دخپلوانو سره ملاقات کوي اوکه هغه ژوندۍ وي نو دهغه دخپلوانو سره به جدايي کوي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي دحائضي ښځي سره په خوب کي، جماع کول ددنيا په کارونو کي اسانتيا ده. اسماعيل اشعث رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک ووينې چي ده دښځي سره چي دده مينځه وه جماع کړي ده نو دليل يي دا دی چي د پاچا څخه به خير اونفع حاصله کړي اوکه ووينې چي ده دمعلوم ځوان سړی سره جماع کړي ده نو دليل يي دا دي چي ده ته به دهغه څخه خير ورسيږي اوکه ووينې چي دنامعلوم ځوان سړی سره يي جماع کړيده نو دليل يي دا دي چي دهغه لپاره به دعا يا خيرات کوي اوکه ښځه ووينې چي دي دبلي ښځي سره جماع کړي ده نو دليل يي دا دي چي دهغه نيکي به وينې او مراد به يي پوره سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي جماع کول چي غسل باندي واجب سي د دې تعبير نسته.

جلاب \ د دستونو او اسهالونو راوستلو دوا

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي جلاب چيښل حلال مال اوپاک دين دی که ووينې چي چا ورته جلاب ورکړي دی او ده چيښلي دی نو دليل يي دا دي چي دهغه په قدر به ورته مال حاصل سي او دده دپاکي عقيدي او ددين ددرستی دليل دی اوکه ووينې چي چا ورته

جلاب ورکړي دی نو دليل يې دا دي چې دهغه څخه به خير اونفع حاصله کړي اوکه ووينې چې جلاب يې چيښلي نه دی بلکې پرمځکه يې تويې کړي دی نو د دې تعبير داولنې خلاف دی.

جنازه

که څوك په خوب کې جنازه وړونکی ووينې نو دليل يې دا دي چې خوب ليدونکی به پر دونه خلکو حکومت کوي اوپه هغو به ظلم کوي اوکه ووينې چې پخپله مړسوي دی اوجنازه يې وړه سوي ده اوخلک دجنازی څخه وروسته روان دی نودليل يې دا دي چې شرف اوعزت اومشري به حاصله کړي ليکن دين به يې خراب سي اوپر دغه قوم به حکومت کوي. اوکه ووينې چې پخپله دمړي جنازه وړي نو دليل يې دا دي چې دپاچا خدمت به کوي او دهغه څخه به خير او نيکي ووينې او که ووينې چې خلک دده دجنازي څخه وروسته راروان دی اوپه هوا کې وي نو دليل يې دا دي چې ددغه ښار يو لوي سړی په سفر کې مري اوکه پخپله جنازه ووينې چې په مځکه يې وړی نو دليل يې دا دي چې په سفر به ځي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې دژوندي جنازه وړي اوپه هغه پسې هيڅ څوك نسته نو دهغه دعزت مرتبه او دکار دنقصان دليل دی او که ووينې چې خلک دهغه دجنازي څخه وروسته وو نو د دې تعبير داولنې خلاف دی اوکه ووينې چې دده جنازه روانه وه نو دليل يې دا دي چې پر خلکو به ظلم کوي. اوکه ووينې چې جنازه سپکه ده نو دليل يې دا دي چې پر خلکو به رحم کوي اوحال به يې ښه سي اوکه ووينې چې دجنازي څخه را ايله سوي دی يا جنازه وړونکو دي غورزولي دی نو دليل يې دا دي چې دعزت او مرتبې څخه به را ايله سي اودده کاربه بند سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې جنازه په خوب کې ليدل په درو وجو دی ۱: بزرګي ۲: ولايت ۳: عزت مرتبه او لوړوالي.

جنب بودن \ جنب کيدل

که څوك په خوب کې ووينې چې جنب دی نو په حرامو کې به حيران او پريشان سي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چې سفر به کوي او ددنيا مرادبه حاصل کړي اوکار به يې تباه سي. اوکه ووينې چې دجنابت غسل يې کړي دی او کالي يې اغوستي دی نو دليل يې دا دي چې په اخره کې به د کار څخه خلاصون حاصل کړي اوکار به يې تباه سي او که دغسل پوره کيدو سره ناست دی نو دليل يې دا دي چې کار به يې پوره نه سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې ځان جنب او لخ ووينې نو دليل يې دا دي چې پخپل کار کې به حيران او عاجز سي او که ووينې چې په حمام کې يې غسل کړي دی او راوتلي دی او پاك کالي يې اغوستي دی نو دليل يې دا دي چې دالله تعالی طرف ته به رجوع وکړي اوتوبه به وکړي.

چنګال \ پنجه

که څوك په خوب کې ځان دچرګانو په ډول پنجو والا ووينې نو دليل يې دا دي چې ده ته به په کسب او روزي کې قوت وي اوپر دښمنانو به کاميابي حاصله کړي اوکه ووينې چې دده په لاس کې دچرګانو پنجه ده نودليل يې دا دي چې ده ته به دچرګ په اندازه خير اونفع حاصله سي

Maktaba Tul Ishaat.com

جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي پنجه ليدل په درووو وجو ده ۱: په کارونو کي قوت او طاقت ۲: معيشت ۳: کسب کول.

چنګاله \ زوز

زوز په خوب کي بدکار اوغم ورکوونکي سړی دی که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره زوز دی يا چا ورکړي دی نودليل يې دا دي چي دداسي صفت سړی سره به يې صحبت او اړيوالي کيږی اوکه ووينې چي زوز دده بدن زخمي کړي دی نو دليل يې دا دي چي ده ته به دبد کردار سړی څخه نقصان رسيږی اوکه ووينې چي زوز دده څخه ورك سوي دی يا چا ورکړي دی نو دليل يې دا دي چي دبدکرداره سړی دصحبت څخه به جلا سي.

چنګ زدن \ ساز ږغول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ساز ږغول درواغ خبره ده که ووينې چي ساز ږغوي نو دا پر باطله اودرواغ خبري دليل دی او ده ته به ځني غم اوفکر اونقصان رسيږی. اوکه ووينې چي پاچا ده ته ساز ورکړي دی نو دليل يې دا دي چي ده ته به دپاچا څخه بخشش اوبزرګي حاصله سي او که د دې اهل نه وي نو دغمونو او فکرونو څخه به خلاصمون حاصل کړي. اوکه ووينې چي ساز يې مات کړي يا يې غورزولي دی نو دليل يې دا دي چي ددرواغو اوباطل کار څخه به توبه وکړي اوکه څوك ساز ږغوي او دي يې اوري نو دليل يې دا دي چي درواغ او بې فائدي خبري به اوري او اهل تعبير بيان کړي دی چي په خوب کي ساز ږغول د ډير عمر دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي ساز ږغوي نو دليل يې دا دي چي په سردارانو کي به دچا دښځي سره ملاو سي اوعزت اومال به حاصل کړي اوپه اخره کي به دهغې ښځي سره نکاح وکړي او که ووينې چي دساز سره نڅا هم ده نو ددي دليل غم اومصيبت دی جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ناجوړي ووينې چي ساز ږغوي نو دا دده دمرګ دليل دی.

جنګ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دخلکو سره يا دځناورو سره جنګ کوي اوهغه ورك سوي دی نو دليل يې دا دي چي پر دښمن به کاميابي حاصله کړي.

جو \ اوربشي

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي لندي يا وچي يا پخي اوربشي خوري نو دليل يې دا دي چي يوڅه لږ شي به ورته ملاو سي اوکه ووينې چي دده سره اوربشي دي يا چا ورکړيدی نو دليل يې دا دي چي دهغه په اندازه به ورته خير او نيکي رسيږي او صحت مندبه وي او که ووينې چي اوربشي يې پر مځکه کي کرلي دی نو دليل يې دا دي چي مال به ورسره جمع سي او دالله تعالی دخوشحالی کار به وکړي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي اوربشي په خوب کي مال دی چي په اساني سره به ورلره حاصل سي او اوربشي خرڅونکي داسي سړی دی چي دنيا پر دين باندي اختياروي.

جوال دوز \ د بورې ګنډلو ستن

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دبوجې ګنډلو ستن په خوب کي ليدل داسي سړی دی کوم چي دخلکو کارونه کوي خاصکر کوچني کوچني کارونه اوکه ووينې چي دده سره ستن ده يا چا ورکړي ده نو دليل يې دا دي چي دده به د دې صفت سړی سره ناسته ولاړه کيږی او که ستن ماته سوي يا ورکه سوي ده نو ددغه سړی دهلاکت دليل دی.

جوان شدن \ ځوانيدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ځوان سوي دی اوسپين وريښته يې تور سوي دی نو دليل يې دادی چي بد سړی به سي او که نامعلومه ځوان ووينې نو دليل يې دا دي چي ددښمن څخه به ذلت ووينې اومراد به يې پوره نه سي اوکه ووينې چي ځوان سپين ږيری سو نو دليل يې دا دي چي عزت به يې زيات سي ښځي هم په دي خوب کي دسړو برابر دی جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دځواني څخه سپين ږيری سوي دی نو دليل يې دا دي چي علم او ادب به زده کړي او د دې تفصيل به په حرف ميم کي راسي.

چوب \ لرګی

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي لرګي ليدل نفاق دی اوکه څوك پردی يې ورکړي نو دده سره به نفاق کوي او دکوږ لرګي په خوب کي دليدلو تعبير دسيده لرګي په ډول دي او که کوږ لرګي دسوزلو قابل ووينې نو دا منافق او درواغجن ويونکي سړی دی.

جراب \ جرابي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي جرابي دخادمو ښځو دحساب څخه دی که ووينې چي دوريښمو يا دتار نوي جرابي يې اغوستي دی نودليل يې دا دي چي دده خادم به اصل وي او دهغه څخه به فائده پورته کوي او که ووينې چي دده جرابي پشميني يا نقشداري دی نودليل يې دا دي چي ښائسته مينځه به اخلي يا به ښائسته ښځه کوي اوکه ووينې چي دده سره ژړي جرابي دی نودليل يې دا دي چي دده خادم به ناجوړه غوندي ښکاري اوکه ووينې چي دده جرابه سره ده نو دليل يې دا دي چي دده خادم به بې شرم وي او که ووينې چي دده جرابي توري دی نو که خوب ليدونکي مصلح وي نوتعبير يې نيك دی اوکه مفسد وي نو تعبير يې بد دی او که ووينې چي دده جورابه زړه او خيرنه ده نودليل يې دا دي چي دده پر خادم به تهمت لګوي او که ووينې چي دده جرابه ورکه سويده يا سوزلي ده نودا دخادم پر مرګ دليل دی اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي په خوب کي جرابه مال اومراد دی اوکه جورابي بوي کوي نودليل يې دا دي چي دمال زکوة به ورکوي او که دجورابو بوی وي نو دليل يې دا دي چي دمال زکوة به نه ورکوي او خلک به ورپسي خبري کوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده جورابي دپوست دی که داوښ دپوست وي نودليل يې دا دي چي دده خادم به باهمته او داصله بزرګ وي او که دبوزو دپوست وي نودليل يې دا دي چي دده خادم دعامو خلکو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

دی او که داس دپوست وي نودليل يي دا دي چي دده خادم بزرګ او دسپاهيانو دنسله دی اوکه دده جورابي دځنګلي ځناور دپوست وي نو دليل يي دا دي چي دده خادم ځنګلي دی جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي دده جورابي په پښو دی نودليل يي دا دي چي مال به په نظر کي ساتي اوکه ووينې چي دده سپينې او پاکي جورابي په پښو دی نو دليل يي دا دي چي ده دخپل مال زکوة ادا کړي دی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي استعمال سوي جورابي سړی دی اودزکوة دمال ساتونکي دی اوکه ووينې چي دده دجرابوڅخه خوشبويي راځي نودليل يي دا دي چي په مرګ اوژوند کي به نيک نومه سي او که بدبوی ځني راتلی نو نفرت به ورسره کوي اوکه ووينې چي دده جورابي ورکي سوي دی نودليل يي دا دي چي زکوة به نه ورکوي اومال به يي ورک سي.

جوش \ زغره \ د اوسپني قميص

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي داوسپني قميص اغوستل په اندازه دهغي د اوسپنيوالي اوپاکوالي دليل دی که ووينې چي دده سره زغره ده نودليل يي دا دي چي دده کوروالا به ددښمن دشر څخه په امن کي وي اوکه ووينې چي ده زغره اغوستي ده نودليل يي دا دي چي دده بدن به ددښمن دشرڅخه محفوظ وي اوهغوي به پر ده کاميابي حاصله نه کړي. اوکه ووينې چي دده سره زغره اووسله ده نودليل يي دا دي چي دمنافق دمکر اودعامو خلکو دشرارت څخه به په امن وي او بعض اهل تعبير بيان کړي دی چي زغره په خوب کي ليدل ددين زياتي دی کوم سړی چي په خوب کي زغره ووينې نو دليل يي دا دي چي دي به پټ دالله په حفاظت کي وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي زغره ليدل په شپږو وجو ده ۱: بزرګي ۲: پناه ۳ : قوت ۴: مال ۵: ژوند ۶: ددين زياتي، په خوب کي زغره غم خوار ملګري دی.

چوګان زدن \ غونډسکي کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دغونډسکی کولو دليل دا دي چي دکوم شي طلب کوي هغه به حاصلوي اوعزت اومرتبه به حاصلوي ليکن په دين اوعبادت کي به سست وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي غونډسکی دپاچا په لاس کي ووينې نو دليل يي دا دي چي پر دښمنانو به کاميابي حاصلوي او که غونډسکي دعام سړی په لاس کي ووينې نو دليل يي دا دي چي دچا سره به جنګ کوي اودښځو څخه به خرابه خبره اوري اواهل تعبير غونډسکي ته دخولي سره اوجوګان ته دژبي سره تشبيه ورکوي.

جولاها \ جولا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي جولا مسافر يا قاصد سړی دی کوم چي په دنيا کي ګرځي اوکه ووينې چي جولا کالي جوړوي نودليل يي دا دي چي دده به دچا سره فساد او جنګ وي ځکه چي دکالو جوړولو تعبير جنګ دی ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دکالو دجوړولو اوشيانو ته دپيچ ورکولو بيان په حرف (ب) کي سوي دی که څوک په خوب کي ووينې

چي کالي يي ټوله جوړ کړي دی نو دليل يي دا دي چي غمجن به سي.

جواهر \ ملغلري

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي ملغلري خرڅوی او هغه دده ملکيت وي نودليل يي دا دي چي عالم او ديندار به سي او دهرچا سره به نيکي اواحسان کوي او که ديندار نه سي نو دغلامانو مالك به سي او ددغه ملغلرو دقدر وقيمت مطابق به ورته مال حاصل سي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که مصلح او پرهيزګار وي اوملغلري خرڅوی نو دليل لي دا دي چي دين اوعلم به ورته حاصل سي.

جوئي آب \ دوالي اوبه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويليي دی چي په خوب کي دوالي اوبه ليدل چي دخوړو اوپاکو اوبو په ډول وي نودليل يي دا دي چي دده ژوند به ښه تير سي اوکه ووينې چي دنامعلومي والي څخه يي پاکي اوبه چينبلي دی او داسړی په سفر کي وي يا په پردي ځاي کي وي نودليل يي دا دي چي په نامعلوم کار کي به مشغول سي اوخپل عمر به تير کړي اوددغي والي څخه به داوبو چينبلو مطابق نفع حاصله کړي او که دوالي اوبه تروي اوبي خونده وي نو دا دخوړو ژوند تيريدو دليل دی. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دوالي ليدلو اصل وکيل دی چي مقرب به سي که څوک دوالي اوبه بهيدونکي اوپاکي ووينې نودليل يي دا دي چي کار به يي جاري وي او که ووينې چي دوالي اوبه ګنده دي نو دليل يي دا دي چي کار به يي تباه اوبي انتظامه سي او په کوم ځاي کي چي دوالي اوبه ووينې دهغي تعبير دساحل تعبير دی اوخومره چي په والي کي کمي يا زياتي ووينې هغه به پر وکيل واقع کيږي اوکه ووينې چي پر تخت ناست دی او دهغه څخه لاندي اوبه بهيږي نو دليل يي دا دي چي دولت اومرتبه به دده طرفته مخ کړي او دده ددوارو جهانونو احوال به نيك سي دالله تعالی فرمان دی (تجري من تحتها الانهر لهم فيها ما يشاءون، سورة النحل: ۳۱) ترجمه: تردي لاندي والي بهيږی ددوي لپاره چي څه غواړي مراد به يي حاصل سي او که ووينې چي دوالي په پاکو اوبوکي ناست دی نو دليل يي دا دي چي دغم څخه به خلاصون حاصل کړي که ناجوړه وي شفا به حاصله کړي که قرضدار وي نو قرض به يي ادا سي که په سفر کي وي نو وطن ته به راسي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دويالي په تعبير کي دبدبي والا او نفعي والا سړی دی او که ووينې چي دوالي څخه يې اوبه را لوړي کړي دی نو دليل يي دا دي چي دهغه په قدر به ديو مالداره سړی څخه مال حاصل کړي او کوچني وياله ژوند دی او الله تعالی دټولو کارونو حقيقتونه ښه پيژني.

[ح]

حبر \ سياهي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دسياهي طلب کول عيش او مال حاصلول دی اوکه ووينې چي سياهي يي اغوستي ده يا چا ورکړيده نو دليل يي دا دي چي عيش به باندي فراخ

Maktaba Tul Ishaat.com

سي اومراد به يي حاصل سي او كه ووينې چې سياهي يې توي كړي ده يا ځني وركه سوي ده نو د دې تعبير داولني خلاف دى ابراهيم كرمانى رحمة الله عليه ويلي دى چې كه څوك ووينې چې سياهي دده پر كالو توي سوي ده كه منشي وي نو دده لپاره نقصان دى او كه ووينې چې په سياهي څه ليكلي دي كه ليكل سوي شي قرآن كريم يا دالله نومونه وي نو دخير اوصلاح دليل دى اوكه د دې خلاف وي نو دشر اوفساد دليل دى.

حب خوردن \ ددوا ګولي خوړل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چې كه څوك په خوب كي ددوا ګولى ديوې ناجوړې لپاره وخوري او دهغه دخوړلو سره ورته شفا او نفع حاصله سو ده نو دانبه والي اوپه كارونو كي دنفعي دليل دي اوكه ووينې چې دوا يي دځه نفعي لپاره نه وي خوړلي نو ددې تعبير داولني خلاف دى.

حج گزاردن \ حج كول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چې كه څوك په خوب كي ووينې چې ده حج كړي دى نو دالله به په ده حج كول نصيب كړي كه ناجوړه داخوب ووينې نو شفا به حاصله كړي كه قرضداره يي ووينې نو دقرض څخه به خلاص سي كه مسافر دا خوب ووينې نو وطن ته به په سلامتى سره بيرته راسي اوكه په خوب كي ووينې چې حج ته تللي دى اوحج يي نه دى ادا كړي نو دليل يې دا دي چې عمر به يي زيات سي اوكار به يي په انتظام سره سي ابراهيم كرمانى رحمة الله عليه ويلي دى چې كه څوك په خوب كي ووينې چې حج ته تللي دى اوپه حرم شريف كي لبيک وايي نو دليل يي دا دي چې ده ته به خوف او بيره وي اوكه ووينې چې حج پر واجب سويدى او دتلو اراده يي نه ده كړي نو دليل يي دا دي چې خيانت به كوي اوكه ووينې چې دعرفي ورځ ده نو دليل يي دا دي چې دچا سره به صلح كوي او كه ووينې چې په خانه كعبه كي لمونځ كوي نو دليل يي دا دي چې دبزرګانو څخه به نفع حاصله كړي او كاربه يي نبه سي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دى چې په خوب كي حج كول په اوو وجو دى ۱: نكاح كول ۲ : مينځه اخستل ۳: دعادل پاچا زيارت كول ۴: نيكي ۵: دنيك كار كولو كوشش كول ۶: دثواب اجر حاصلول ۷: دعالمانو ناستي او ملګرتيا ته تلل.

حجر اسود

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چې كه څوك په خوب كي ووينې چې پر حجر اسود باندي لاس وهي نو دليل يي دا دي چې داهل حجاز څخه به ورته نفع حاصله سي اوكه ووينې چې حجر اسود يي را ايستلي دى نودليل يي دا دي چې بي مذهبه بي اعتقاده او ناپاكه به سي ا وكه ووينې چې حجر اسود يي بيا پرخپل ځاي ايښي دى نودليل يي دا دي چې بيا به پر سمه لار روان سي او كه ووينې چې دزم زم اوبه يي چيښلي دى نودليل يي دا دي چې ورك سوي شي به ورته بيا ملاو سي ابراهيم كرمانى رحمة الله عليه ويلي دى چې كه څوك په خوب كي ووينې چې حجر اسود مچوي اوپر هغه مخ مښي نو دليل يي دا دي چې د ده ددين خير اوصلاح به زياته سي او د عالمانو سره به ملاو سي.

حجامت کردن \ ښکر لګول \ وينه کښل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي يو چا پردي ورته بي ځايه ځاي ښکر لګولي دی نو دليل يي دا دي چي امانت به پرخپله ذمه اخلي او که ووينې چي دوست ورته ښکر لګولي دی نو دليل يي دا دي چي امانت به ورته واپس کيږي او ددښمن دشرارت څخه به په امن وي او دغمونو څخه به خلاصون حاصل کړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي سپين ږيري ته يي ښکر لګولي دي نو دليل يي دا دي چي کار به يي ښه سي اوکه ووينې چي پاچا ته يي ښکر لګولي دی نو دليل يي دا دي چي دپاچا مقرب به سي اوکه ووينې چي دښکر لګولو سره وينه نه ده راوتلي نو دليل يي دا دي چي ښکر لګوونکي به دپاچا منشي سي که جاهل وي نو قرضداره به سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ښکر لګول په اوو وجو دی ۱: امانت ادا کول ۲: شرط ۳: ولايت حاصلول ۴: عزت او بزرګي۵: مرتبه ۶: دپيغمبر سنت ۷: که حاکم وي نو دکار څخه به معزوله سي اوبعض اهل تعبير بيان کړيدی چي که ښکر لګونکي ځوان وي نو دليل يي دا دي چي دخرڅ حساب کوونکي به سي يا دشيانو اندازه کوونکي او دخلکو کارونه به دده په لاس فراخ کيږي.

حذر دادن \ سزا ورکول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سزا ورکول دښځو دکار پوره کيدلو دليل دی که ووينې چي سزا يي ورکړي ده نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به دښځو کار کوي اوکه ووينې چي ده ته چا سزا ورکړي ده نوددي تعبير داولنی خلاف دی جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي پر څه ګناه باندي يي سزا ورکړي ده نوکه خوب ليدونکي مصلح وي نو ددنيا په شغل کي به مشغول سي او که مفسد وي نودغم اوفکر دليل دی.

حربه \ کوچني نيزه

که په خوب کي ووينې چي دده سره نيزه ده نو دليل يي دا دي چي زوی به يي مړ پيدا سي او که واده يي نه وي کړي نو مال به حاصل کړي اوکه ووينې چي دنيزي سره نوره وسله هم ده نو دليل يي دا دي چي عزت اومرتبه به حاصله کړي او که ووينې چي پاچا ورته نيزه ورکړي ده نودليل يي دا دي چي دپاچا څخه به نفع حاصله کړي او که ووينې چي ده ته چا نيزه ورکړي ده، نو دليل يي دا دي چي دهغه څخه به ورته څه ملاو سي او که ووينې چي نيزه دده په لاس کي ماته سوي ده نو دليل يي دا دي چي پر دښمن به کاميابي حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دنيزي په خوب کي دليدلو تعبير په شپږو وجو دی ۱: غرور ۲: ولايت ۳: ډير عمر ۴: فتح ۵: رياست ۶: نفع.

حرم مکي \ بيت الله شريف

بيت الله شريف دامن ځاي دی که څوك ووينې چي دي په بيت الله کي دی نو دليل يي دا دي چي ددنيا دافتونو څخه به په امن وي اوحج به ورته نصيب سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي پاچا يا سردار حرم ته تللي دی نودليل يي دا دي چي په ټولو

Maktaba Tul Ishaat.com

ښارونو کي به امن وي او دپاچا څخه به ورته څه ملاو سي اوبعض اهل تعبير کوونکو بيان کړيدی چي دده به ددغه حرم والاوو سره څه کار راځي اوکه ووينې چي پاچا دی خپل ځای ته غوښتي دی او دي په دغه ځاي کي مقيم سوي دی نو دليل يي دا دي چي دپاچا کار به کوي او ده ته به په دغه کار کي بدنامي وي او که ووينې چي دظالم پاچا ځاي ته تللي دی نو د دې هم دغه تعبير دی.

حرير \ ريښم

دحرير خز او ديبا بيان به په حرف دال کي راځي ان شاءالله تعالی.

حساب

ابن عباس ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي حساب کوي نو دليل يي دا دي چي په محنت اوعذاب کي به راسي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي الله تعالی دقيامت په ورځ پر ده حساب اسان کړي دی نواميد دی چي خلاصون به حاصل کړي او که د دې خلاف ووينې نو په زحمت کي دراتلو دليل دی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دقيامت حساب ليدل په شپږو وجو دی ۱: پاچا عذاب ۲: مشغوليات ۳: سختي او غم ۴: بد حالي ۵: فکر او غم ۶: لږ عمر.

حصار \ کلا

که څوك ووينې چي کلا ته تللي دی نودليل يي دا دي چي ددښمن دشر څخه به په امن وي او که ووينې چي د کلا څخه وتلی دی نو دليل يي دا دي چي پر دښمن به کاميابي حاصلوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي په مضبوطه کلا کي دی او هغه دده ملکيت دي نودليل يي دا دي چي ددښمن دشر څخه به په امن وي اوکه ووينی چي د کلا څخه وتلي دی نو ددي تعبير داولني خلاف دی جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ځان په کلا کي ووينې نو دليل يي دا دي چي نعمت او روزي به باندي فراخه سي او که د دې خلاف ووينې نو دده دتباهي او دکاروبار دبنديدو دليل دی.

حصيري \ پوزي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره پوزی دي يا چا ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي د پوزی په اندازه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي پوزی جوړوي نو دليل يي دا دي چي پر ښځو به عاشق سي او که ووينې چي پوزی دلږ قيمت دی او دي يي جوړوي نودليل يي دا دي چي دغه ښځه به يي اصيله اوفقيره وي او که ووينې چي پوزی قيمتي او پاك دی نو دليل يي دا دي چي اصليه اومالداره ښځه به کوي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي پوزی ليدل په دروو وجو دی ۱: ښځه ۲: نفع ۳: غوښتل چي ده ته به دهغه څخه نفع حاصله سي.

حقنه \ د لويي بولو په ځای کي دوا دننه اچول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي حقنه په خوب کي په غصي سره ديوځاي څخه بل ځاي ته تلل

دی په داسي رقم سره چي دسختی څخه بي هوښه سي اوبعضي اهل تعبير بيان کړي دی چي حقنه په خوب کي داسي کار دی چي پر ليدونکي بيرته راځي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ده حقنه کړي ده اوده ته ځني تکليف رسيدلي دی نودا دده دبد حالی دليل دی او که د دې خلاف ووينې نوخير او نفع به حاصله کړي.

حقه \ د جواهراتو ډبی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي ډبی په خوب کي ښځه يا مينځه ده که څوك ووينې چي دده سره نوي ډبه ده يا يي اغوستي ده يا چا ورکړي ده نودليل يي دا دي چي ښځه به کوي يا به مينځه اخلي اوکه ووينې چي ډبی مات سوي دی يا ورك سوي دی نودليل يي دا دي چي ښځه به ځني جلا سي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده سره نقشدار غټ ډبی دی نو دليل يي دا دي چي مالداره ښځه به کوي اودهغي څخه به نفع حاصلوي او که د دې خلاف ووينې نو دليل يي دا دي چي دبد شکلي او فقيري ښځي سره به واده کوي.

حکمت

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دحکمت علم وايي نو دليل يي دا دي چي قران شريف به وايي اوکه ووينې چي دحکمت کتاب يي سوزلي دی نو دا دده ددين دتباهی دليل دی ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دحکمت دکتاب ورقي خوري نو دليل يي دا دي چي دحکمت علم به وايي اوکه ووينې چي ورقي يي څيري کړي دی نو دليل يي دا دي چي خوب ليدونکي لمونځ نه کوي او که ووينې چي څوك دحکمت کتاب وايي او دي يي اوري نو دليل يي دا دي چي دي به علم کوي.

حلاج \ نداف \ پمبه ټکوونکی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي نداف قوي سړی دی دچاپه لاس چي دخلکو کارونه کيږي اوکه ووينې چي ندافي کوي نو دليل يي دا دي چي دداسي سړی سره دکومو ذکر چي لوړ وسو دده به ورسره صحبت کيږی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ندافي کول په دوو وجو دی ۱: نفع ۲: فراخي.

حلتيت \ هنجه \ اينجه

حلتيت انګوزه هنجه دا شيان په خوب کي ليدل په هر حال کي غم اوفکر دی.

حلوا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي حلوی داسي مال دی چي دپاچا په لاس تيريدو سره حرام سوي دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي حلوی په خوب کي ليدل ډير مال اوخالص دين دی او په خوب کي دحلوی يوه ټوټه زوی مچول دی او دميوو والا حلوه يوه ګوله ښه ده او په کومه حلوی کي چي دبادامو يا دغوزانو مغز وي دهغي تعبير نفع ده چي ده ته به دبخيل څخه رسيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دحلوی جوړولو دليل دا دي چي دهغي په اندازه به حلال مال اوحلاله روزي حاصلوي او که ووينې چي په حلوی کي زعفران دی

Maktaba Tul Ishaat.com

نو داهم دښه والي دليل دی اوپه خوب کي حلوی خرڅونکي خوږ زبانه دی.

حمال قلي \ مزدور

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي قلي دمرتبي خاوند او خطرناك سړی دی او که ووينې چي دده پر ملا سپك پيټی دی اودغه پيټی دده ملکيت دی نو دليل يې دا دي چي ددغه پيټي مطابق به ورته راحت خير اونفع رسيږي او که ووينې چي هغه پيټي دونه دی چي دده ملا ته تکليف ځني رسيږي نو دليل يې دا دي چي دي ګنهکاره اونافرمانه دی دالله تعالی فرمان دی (ليعلموا اوزارهم كاملة يوم القيمة، سورة النحل: ۲۵) ترجمه: ددي لپاره چي دوي په ښه رقم خپل پيټي دقيامت په ورځ پورته کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دخلکو پيټي بغير دڅه اجر څخه وړي نو دليل يې دا دي چي دالله تعالی دمخلوق سره به په خير او احسان سره پيش کيږی اوکه ووينې چي دپيټي وړلو مزدوري اخلي نو ددي تعبير غم او فکر دی.

حنا \ نکريزي

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده پر لاس او پښو نکريزي لګيدلي دي نودليل يې دا دي چي خپل ځان به ښايسته کوي ليکن په دين کي به يې کراهت وي. اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دی چي دخپلوانو حال به ځني پټ نه وي او که داخوب داسي سړی ووينې چي نکريزي لګول يې عادت نه وي نو دليل يې دا دي چي ده ته به غم اوفکر پيښيږي اوژر به ځني خلاصيږي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي نکريزي لګول په درو وجو دی ۱: دخپلو ښايست ۲: دکور والاو ستر ۳: غم او فکر.

حنوط \ د مړي خوشبويي

حنوط يوه خوشبولي ده چي مړی ته لګول کيږي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي حنوط باندي لګول سوي دی نو دليل يې دا دي چي توبه به کوي او دالله تعالی په پناه کي به سي اوکه داخوب يو څوك مصلح سړی ووينې نو دغم اوفکر څخه به خلاص سی او دبيري څخه به په امن کي سي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي حنوط بويول دخلکو ډير تعريف دی ځکه چي بعض اهل تعبير ويلي دی چي دحنوط په اندازه دمړی کوروالاو به نيک نامه وي.

حوض \ تالاب

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تالاب ليدل علم اوپوه ده که ووينې چي دتالاب څخه يې پاکي او صفا اوبه چيښلي دی نو دليل يې دا دي چي دهغه په اندازه به دعلم څخه حصه حاصلوي اوکه ووينې چي په حوض کي يې لامبلي دی نو دليل يې دا دي چي دطاعت توفيق به حاصلوي او دنافرماني څخه به منع سي اوکه ووينې چي دتالاب ټولي اوبه يې چيښلي دی نو دليل يې دا دي چي عمر به په سلامتي سره تير کړي اومال به يې زيات سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي که څوك ووينې چي خپل کالي يې په تالاب کي پريولي دی نو دليل يې دا دي چي دده دکور خلک توبه کوي او ددين پر لاره به ځي اوکه ووينې چي په حوض

کي يي کالي پريولي دی او داوبو لاندي ځاي اوبام ښکاره سوي دی نو دليل يي دا دي چي په علم به کار نه کوي او که ووينې چي دتالاب پر غاړه شينکي دی نو دليل يي دا دي چي دخپل علم څخه به فايده پورته کوي او خلک به دده دعلم څخه نفع حاصلوي خاصکر که تالاب دده ملکيت وي اوکه ووينې چي دتالاب اوبه زياتي سوي دي بغير د دې څخه چي حوض ته دبل ځاي څخه اوبه نه راځي نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به يي مال اوعلم زيات سي اوکه ووينې چي دتالاب اوبه خرابي اوترخي دي نو دليل يي دا دي چي غم اوفکر به حاصل کړي.
جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تالاب ليدل په څلورو وجو دي۱ : فايده مند سړی ۲: مالدار سړی ۳: مال جمع کول ۴: عالم چي خلک نفع ځني حاصلوي.

حوض کوثر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي قيامت دی او خلک حوض کوثر ته رابولي نو دليل يي دا دي چي داسي پاچا به ښکاره سي چي په خلکو کي به عدل او انصاف کوي. اوکه ووينې چي دحوض کوثر څخه يي يوه پياله چيښلي ده نو دليل يي دا دي چي مړ ک به يي داسلام سره وي اوکه ووينې چي دحوض کوثر په خوا کي ګرځي او اوبه غواړي او اوبه ده ته نه دی حاصلی سوي نو دليل يي دا دي چي دنبي کريم صلی اللہ علیہ وسلم او داصحابو کرامو ددوستانو دښمن به وي اوکه ووينې چي نبي صلی اللہ علیہ وسلم دحوض کوثر څخه اوبه ورکړي دي او ده چيښلي دی نودليل يي دا دي چي دنبي کريم صلی اللہ علیہ وسلم شفاعت به حاصلوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده نوم پر حوض کوثر ليکل سوي دی او ده پياله راواخسته او اوبه يي وچيښلي نو دليل يي دا دي چي دده به دعالم سره صحبت وي او ددواړو جهانونو مراد به يي حاصل سي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي ده دحوض کوثر څخه اوبه چيښلي دی او اوبه خرابي دی نو دليل يي دا دي چي خوب ليدونکي منافق دی اوده ته به دقران او حديثو علم نصيب نه سي اوکه په خوب کي ووينې چي حوض کوثر هغه رقم دی لکه څنګه چي په حديث شريف کي بيان سويدی اوده ځني څه اوبه دکوثر چيښلي دی نودليل يي دا دي چي د دې سړی دالله په نزد لوي مقام اومرتبه ده او دي به ددين دبزرګانو څخه وي.

حيض (د ښځو مياشتنی ناجوړي)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي حيض دسړو لپاره په ژوند کي بقا ده او د ښځو لپاره دمال زياتوالي دی اوکه ووينې چي حيض يي راغلي دی نو دادفساد او حرامو دليل دی او اهل تعبير بيان کړي دی چي که په خوب کي ووينې چي حيض يي راغلي دی نو دا دغم او سختي دليل دی اوکه ښځه ووينې چي حيض ورته راغلي دی نو دليل يي دا دي چي دوينې په اندازه به حرام مال حاصل کړي اوکه سړي ووينې چي دده دښځي حيض راغلي دی نو دليل يي دا دي چي په ده به ددنيا کار بند سي اوکه ووينې چي خوب ليدونکي پټ دی نودليل يي دا دي چي په دين کي به حيران سي اوکه ووينې چي دده ښځه پاکه سوي ده اوهغي د حيض څخه مخکي غسل کړي دی نو دليل يي دا دي چي پر ده به ددنيا کارونه خلاص سي والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

[خ]

خار\غوز\زوز

زوز په خوب کي قرض دی که څوك په خوب کي ووينې چې زوز دده په بدن کي دي يا چا په بدن کي ټمبلي دی نو دليل يې دا دي چې دچا څخه به قرض اخلي اود زوز دتکليف مطابق به ترخي خبري اوري اوکه ووينې چې دده بدن چا په زوز وهلي دی نو دليل يې دا دي چې چا ته به قرض ورکوي اودهغه څخه به ناخوښې خبری اوري ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك ووينې چې ډيري غنې دي اوپه هغه سره دده پښو ته تکليف رسيدلي دی نو دليل يې دا دي چې قرضدار به سي او په اخر کي به خلاصون ځني حاصل کړي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې زوز په خوب کي ليدل په دروو وجو وي ۱: قرض ۲: ښکنځل ۳: په کارونو کي مشکلات.

خارپشت\شکونې

جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کي شکونې ليدل بدشکله دښمن دی اوکه ووينې چې د شکونې غوښه يې خوړلي ده نودليل يې دا دي چې پر دښمن به غالب سي اوکه ووينې چې د شکونې غوښه يې خوړلي ده نودليل يې دا دي چې دهغه په اندازه به ددښمن مال خوري او که ووينې چې دی شکونې خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې ددښمن څخه به ورته نقصان ورسيږي خاصکر که ووينې چې د زخم څخه وينه هم راوتلي ده.

خارش تن\د بدن خارشت

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې که څوک په خوب کي ووينې چې دده پر بدن خارشت ښکاره سوي دی نو دليل يې دا دي چې دخپلوانو طلب به کوي او دهغوي لپاره به غم اوفکر کوي ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې دبدن خارشت دخپلوانو اودکور والاوو احوال پوښتل او دهغوي لپاره غم او فکر کول دی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې که دبدن خارشت تکليف ورکوي نو ده ته به دخپلوانو څخه زحمت رسيږي.

خاشک\خزلي\خشاک\خس\خاشه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کي خزلي ليدل دعامو خلکو لپاره مال اونعمت دی که ووينې چې په کور کي ډيري خزلي دی او دي پکښې مقيم دی نو دليل يې دا دي چې دهغې په اندازه به مال اونعمت حاصل کړي اوکه ووينې چې دده خشاك هوا يووړي يا يې وسوزي نودليل يې دا دي چې پاچا به دده مال اخلي اوکه ووينې چې خشاك ددیګ څخه لاندي يا په تنور کي سوزي نو دليل يې دا دي چې خپل مال به په اولاد خرڅ کوي اوجمع کوي به يې اوکه ووينې چې خشاك دځنګل څخه راوړي اوپه کور کي يې جمع کوي نو دليل يې دا دي چې دهغه په اندازه به په سفر کي مال حاصلوي اوکه ووينې چې دښار په کوڅوکی هوا خشاك راوړي نودليل يې دا دي چې ددغه ښار خلکو ته به دهغه په اندازه خير اونفع حاصله سي.

خاک \ خاوره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي خاوره که لږ وي اوکه ډيري روپی دی اوکه ووينې چي په کور کي خاوره ده نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به روپی حاصلي کړي او ده ته به بغير دتکليف څخه ملاو سي اوکه ووينې چي پر خاوره ګرځي يا يي خوري يا يي جمع کوي يا يي پورته کوي نو داټول دمال دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي خاوره دکور څخه دباندي غورزوي نو دليل يي دا دي چي خپل مال به يې ورک سي. اوکه ووينې چي خاوره په لاس سره خوري نو دليل يي دا دی چي دهغه په اندازه به دده مال ورک سي اواهل تعبير بيان کړي دی چي دمال څخه به خلاص سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي خاوره ليدل په پنځو وجو ده ۱: مال ۲: نفع ۳: شغل ۴: دپاچا دطرف څخه فايده ۵: درئيس دطرف څخه فايده.

خاکستر \ ايره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ايره باطل مال دی چي دپاچا دطرف څخه وي او دچا سره پاته کيږي نه اواهل تعبيرو بيان کړي دی چي داسي علم به حاصل کړي چي دهغه څخه به خير اونفع حاصله سي، جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ايره ليدل په نهو وجو وي ۱: نامقبول علم ۲: حرام مال ۳: بي فايدي کار ۴: جنګ ۵: بدکاري ۶: مکر اوحيله ۷: افسوس ۸: پښيماني ۹: داسي کار چي په هغه کي ښه والي نه وي دالله تعالی فرمان دی (مثل الذين كفروا بربهم اعمالهم كرماد اشتدت به الريح في يوم عاصف، سورة ابراهيم: ۱۸) ترجمه: کوم خلک چي پخپل رب کفر کوي دهغو اعمال دايرو په ډول دی چي دطوفان په ورځ يي سيلي پورته کړي او ګرځوي يي.

خادمه \ قلم

که څوک ووينې چي قلم يي اخيستي دي يا چا ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي علم به حاصل کړي اوکار به يي ښه سي اومراد به يي پوره سي اوکه ووينې چي په قلم يې څه ليکلي دی که چيري ليکل نيک وي نو پر نيکي دليل دی اوکه بد وي نو پر بدي دليل دی اوکه ووينې چي په دوو قلمونو سره ليکل کوي نو دليل يي دا دي چي دده په سفر کي تللي سړی به بيرته راسي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي که څوک پخپل لاس کي قلم ووينې نو که د عالمانو څخه وي نو دليل يي دا دي چي دعالمانو اوصالحانو سره به صحبت ساتي اوکه ووينې چي په قلم سره يې څه ليکلي دي اووايي يي نو دا دده دمرګ دليل دی (اقرأ كتابك كفى بنفسك اليوم عليك حسيبا،سورة الاسراء: ١٤) ترجمه: وواپه خپله عملنامه ته دنن ورځي حساب اخيستونکي يي اوکه څه يي ليکلي وي اوهغه د اهل سنت والجماعت دکتابونو سره موافق وي نو دليل يي دا دي چي عزت اومرتبه به حاصله کړی. اوکه ووينې چي قلم دده په لاس کي مات سويدی نو که عالم وي نو عزت به يي کم سي اوکار به يي بي خونده سي اوکه ووينې چي په مات سوي قلم ليکل

Maktaba Tul Ishaat.com

کوي او ده چي څه ليکلي دی هغه دحيوانانو دحساب څخه دی نو ددی تعبير به دده دذات صورت اوخاصيت مطابق وي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي قلم ليدل په اووه وجو وي ۱: حکمت ۲: فرمان ۳: علم ۴: هوښيارتيا ۵: ولايت ۶: دشيانو صحيح کيدل ۷: کار او مراد.

خانه \ کور

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي کور دسړی لپاره ښځه ده که څوك په خوب کي ووينې چي کور يې دستنو سره دځاي څخه پورته کړي دی نو دليل يې دا دي چي دمخوري او مهرباني ښځی سره به واده کوي. اوکه ووينی چي کور ته يې نوی دروازه جوړه کړي ده نو دليل يې دا دي چي مالداره ښځه به کوي اومالدار به سي اوکه ووينې چي يواځي کورته يې چونه لګولي ده اودا ورته معلوم نه وی چي کور دچا ملکيت دی نو دليل يې دا دي چي کوروالا به ددنيا څخه رخصت سي. اوکه ووينې چي دکور دروازه زړه او دی په کور کي بند دی اودغه کور دنورو کورونو سره ملاو دی نو دليل يې دا دي چي دغم اوسختي څخه به خلاص سي اوکه ناجوړه وي نو شفا به حاصله کړي اوکه ووينې چي دده کور غټ سويدی نو دليل يې دا دي چي پر ده به مال اونعمت فراخ سي او که د دې خلاف ووينې نو مال اونعمت به باندي تنګ سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده دکور ديوال يا کور رانړيدلي دی نو دليل يې دا دي چي ده ته به مال ورسيږي اوکه ووينې چي دده کور وچ او خراب سوي دی نو دليل يې دا دي چي ده ته به مال اودرهم حاصل سي اوکه ووينې چي کور داوسپني دی نودليل يې دا دي چي مالدار به سي. اوکه ووينې چي دده کور دچاندي دی نو دليل يې دا دي چي ده ته توبه کښل په کار ده دالله تعالی فرمان دی (لمن يكفر بالرحمن لبيوتهم سقفا من فضة، سورة الشورٰی: ۳۳) ترجمه: کوم خلک چي دالله تعالی سره کفر کوي دهغوي دکورونو بامونه به داوسپني کړو. اوکه مالدار وي نونعمت به يې نورهم زيات سي اوکه ووينې چي دده دکور شاوخوا ته بل کور نسته نو دليل يې دا دي چي دده حال به تباه سي.

خرابی \ وران ځايونه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي وراني غم اوفکر دی ځکه چي وراني د لوړي څخه لاندي وي اوکه ووينې چي ويراني ته تللي دی نودليل يې دا دي چي غمجن به سي اوکه ووينې چي په ويراني کي يې غسل کړي دی نو دليل يې دا دي چي دغمونو څخه به خلاص سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که په خرابيو کي سايې يا کورونه ښکاره سي نو دليل يې دا دي چي په دغه ځاي کي به غم فکر اومصيبت وي.

خاييسک \ چټک

چټک په خوب کي ليدل سرداري ده که ووينې چي دده سره ډير چټکونه دی يا چا ورکړي دی نو دليل يې دا دي چي دده صحبت به د قوم دمشر سره وي او دهغه څخه به نفع حاصلوي اوکه

وويني چي څوک يي په چټک وهلي دی نو دليل يي دا دي چي سردار به مغلوب کړي اوکه وويني چی دده چټک ورک سوي دی نو دليل يي دا دي چي دسرداري څخه به جلا سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک دآهنګري په کار نه پوهيږي او دا وويني چي چټک په سندان وهي نو دليل يي دادي چي ددوو مشرانو په مينځ کي به چغلي کوي اودښمني به وغوروزي.

خايه مرغ \ دچرګي هګۍ

دانيال عليہ السلام ويلي دی چي په خوب کي هګي ليدل پر مينځه دليل دی که په خوب کي وويني چي چرګي دده په مخکښي هګۍ اچولي ده او ده ته معلومه نه ده چي څنګه ده نو دليل يي دا دي چي ښځه به کوي اوډير وخت به ورسره وي او که وويني چي پخه سوي هګي خوري نو دليل يي دادي چي په تکليف اومحنت سره به مال خوري او ده ته به تکليف اوغم رسيږي اوکه وويني چي هګي يي دپوستکي سره خوړلي ده نو دليل يي دا دي چي دمړو کفن به پټوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي وويني چي پخپله يي هګۍ اچولي ده نو دليل يي دا دي چي دښځي سره به ډيره مينه لري او پر جماع به حرصناک وي. اوکه وويني چي پر هګيو دمرغيو په ډول ناست دي نودليل يي دادي چي دښځوسره به کښيني اوفايده به حاصلوي اوکه وويني چي چرګي ته يي هګۍ ايښي ده اوچرګه هغه دباندي کړي ده نودليل يي دا دي چي دده مړ کار به ژوندي سي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي دده به ايماندار ه زوی پيداسي اوکه وويني چي هګۍ ماته سوي ده نو دليل يي دا دي چي لور به يي ځوانه سي او که وويني چي دده سره ډيري هګۍ دی نودليل يي دا دي چي دده به ډير زامن وی او دهيلی هګۍ په تعبير کي فقير اوبي چاره زوی دی او دمرغی هګۍ پر خوشحالي دليل دی.

خايه ادمي \ خايه \ دسړی خايې

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي دده هګۍ غټه سوي ده نو دليل يي دا دي چي قوت زامن اومال به يي زيات سي اوکه ووينې چي دده دواړي هګي کوچني سوي دی نو ددي تعبير داولني خلاف دی اوکه ووينې چي دده هګۍ ماته سوي ده نودليل يي دا دي چي دښمن به باندي کاميابه سي اوکه ووينې چي خپله هګۍ يي چا ته بخښلي ده نو دليل يي دا دي چي دده زوی به حرامزاده وي اونسب به يي دبل چا څخه وي. اوکه ووينې چي دده هګۍ پرسيدلي ده يا دهوا څخه ډکي سوي دی نو دليل يي دا دي چي ډير مال به حاصل کړي ليکن ددښمن څخه به ورته بيره وي اوکه ووينې چي دده هګۍ اوږده سوي ده اوپر مځکه راکشول کيږي نو دليل يي دا دي چي ډير مال به ورته حاصل سي اوکه ووينې چي دچا هګۍ راکاږي نو دليل يي دا دي چي څوک به دده پر زوی ظلم کوي. اوکه ووينې چي چا دده هګۍ سخته نيولي ده نو دليل يي دا دي چي دزوی دمرګ خبر به اوري اوکه زوی يي نه وي نو عزت به يي کم سي اوکه ووينې چي هګۍ يي وريښته پريکړي دی نودليل يي دا دي چي قوت به يي ختم سي اوکه ووينې چي هګی په رسي يا په بل شي تړل سوي ده نودليل يي دا دي چي په دغه سړی به يې

Maktaba Tul Ishaat.com

ټول کارونه بند سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي دسړی هګي ليدل ددښمن دسختي د ده څخه دمنع کيدو دليل دی اوکه ووينې چي دده په هګي کي نقصان دی نو دليل يي دا دي چي دښمن به باندي کاميابي حاصله کړي اوکه ووينې چي دده چپه هګي وتلي ده نو دليل يي دا دي چي هلاک به سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي خصيه ليدل په اووه وجو وي. ۹: زوی ۲: مال ۳: اهل بيت ۴: عزت ۵: بزرګي ۲: حاجت غوښتونکي ۷: مراد حاصلول.

خايه مرغابي \ دايلې هګۍ

دايلي هګي په خوب کي ليدل په څلورو وجو دی ۱: مراد حاصلول ۲: ښځه کول ۳: مينځه اخستل ۴: زوی پيدا کيدل.

خفه کردن \ مړی خفه کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوك په خوب کي ووينې چي مرغۍ يي خفه کړه نودليل يي دا دي چي غمجن به سي اوکوم کار چي کوي دهغه څخه به معزول سي اوکه ووينې چي ده دچا مري خفه کړه نو دليل يي دا دي چي دهغه په غم اوفکر کي به وي اوبعض تعبير بيانوونکي وايي چي دده ژوند به تنګ سي.

ختنه کردن \ سنتول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ده ختنه کړي ده نو دليل يي دا دي چي داسي سنت به پر ځاي راوړي چي دي به دګناهونو څخه پاك سي. اوکه ووينې چي دسنتولو په وخت کي ددده څخه وينه جاري سوي ده نودليل يي دا دي چي په دي سنتو به قايم وي اودګناهونو څخه به توبه وباسي اوکه ووينې چي دختني پر وخت يي پر ختنه نظر کوی نو دليل يي دا دي چي ده ته به غم اوفکر ډير ورسيږي، ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دي يي سنت کړي دی نودليل يي دا دي چي دګناهونو څخه به پاك سي او که ختنه يي نه وي کړي نو دليل يي دا دي چي داسلام او سنتو لار به پريږدي ليکن مال به يي زيات سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي ختنه کول په پنځو وجو دی ۱: سنت پر ځاي راوړل ۲: زوی ۳: نيکي ۴: ارام ۵: دښځي او زوی څخه جلا کيدل.

خربوزه \ خټکی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي خربوزه په خوب کي ناجوړي ده اوکه شنه خوړه اوپه موسم کي وي نو صحت اونفع ده اوکوچني خربوره دغټي څخه ښه ده. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي شنه خربوزه دغم اوفکر پر ليري کيدو دليل دی اوکه ووينې چي دده په مخکي ډيري خربوزي پرتي دی نودليل يي دا دي چي په غم کي به ګرفتار سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي خربوزه په موسم کي ليدل دډيري نفعي سره ښځه ده او دډيري خوشحالي اوعيش دليل دی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي په خوب کی خربوزه ليدل په پنځو وجو دی ۱: ناجوړي ۲: ښځه ۳: غلام ۴: نفع ۵: خوشحاله ژوند خاصکر که په موسم کي وی.

خرچنگ کوني \ چانچر کوني \ کبر (حیوان آبی) \ چنگابن

چنگابن په خوب کي پرکم همته سړی دلیل دی که ووینې چې ده چنگابن نیولي دی نودلیل یې دا دي چې دکم همته بد سړی ملګري به سي اولږ نفع به ځني جلا سي اوکه ووینې چې چنگابن یې ووژي یا یې لیري وغورزوي نو دلیل یې دا دي چې دبد خویه اوکم همته سړی څخه به جلا سي اوکه ووینې چې د چنگابن غوښه یې خوړلې ده نو دلیل یې دا دي چې دهغه په اندازه به مال حاصل کړي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوك په خوب کی ووینې چې دده سره چنگابن دي نو دلیل یې دا دي چې دخوش طبعیته سړی سره به اړیوالي کوي اوخوش خویه به سي او دهغه څخه به نیکي ووینې.

خر

دانیال علیہ السلام ویلي دی چې خر په خوب کي نصیب او بزرګي ده اودخره ښه والي ا وبدوالي خوب لیدونکي ته رجوع کوي او که ووینې چې خر دده خپل دی یا دده په قبضه کي راغلي دی او ده خر نیولي دی اوترلي یې دی نو دلیل یې دا دي چې دخیر دروازه به پر ده خلاصه سي اودغمونو څخه به خلاصون حاصل کړي اوکه ډیر خره ووینې نو دلیل یې دا دي چې دده مال اونعمت به زیات سي اوښه تعبیر په خوب کي دخر دا دي چې خر دده تابعدار وي، ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوك په خوب کي ووینې چې پر تورخره ناست دی نودلیل یې دا دي چې بزرګي او سرداري به حاصله کړي او دعزت اومرتبې دلیل دی اوکه ووینې چې پر شینه خره ناست دی نو دلیل یې دا دي چې عابد او پرهیزګار به سي اوکه ووینې چې پر سره خره ناست دی نودلیل یې دا دي چې عیش او عشرت به کوي اوکه ووینې چې پر ژړ خره ناست دی نو دلیل یې دا دي چې ناجوړه به سي اوکه پر حاملي خري ناست وي نودلیل یې دا دي چې خیر اوخوشحالي به حاصله کړي. اوکه ووینې چې دخره غوښه یې خوړلې ده نو دلیل یې دا دي چې په تجارت کي به مال حاصل کړي اوکه ووینې چې دده په کښیناستو سره خر مړ سو نو دلیل یې دا دي چې خوب لیدونکي به ژر مري اوکه ووینې چې دخپل خره څخه را ایله سوي دی نودلیل یې دا دي چې فقیر اوتنګ دسته به سي اوکه ووینې چې دخره څخه کوم چې دده خپل وو را ایله سو نو دلیل یې دا دي چې دچا څخه به ضرر او نقصان حاصل کړي اوکه ووینې چې دخره څخه راکښته سو او بل سړی باندي کښینستي نو دلیل یې دا دي چې خپل مال به خرڅ کړي اوکه ووینې چې دځه کار لپاره دخره څخه راکښته سوي دی نو دلیل یې دا دي چې دکوم کار طلب کوي هغه به یې ژر پوره سي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چې که څوك ووینې چې زمري خر خوري نو دلیل یې دا دي چې ناجوړه به سي اوژر به شفا حاصله کړی اوکه ووینې چې خر یې اخیستي دی اودهغه قیمت یې نه دی ورکړي نو دلیل یې دا دي چې مشر ته به دیوي خبري کولو په وجه خوشحاله سي اوکه ووینې چې دخره یوه سترګه ده یا یې یوه سترګه کمزوري ده نو دلیل یې دا دي چې په مشکله به روزي طلب کوي اوکه ووینې چې دده سره خر دی او دهغه دواړه سترګي نسته نودلیل یې دا دي چې کوم مال دده سره دی هغه به ورك سي اوکه وینې چې دخره ډیر لاسونه

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپښي دی او خر اوږد سوي دی نودليل يي دا دي چي ډيرخلک به دده تابعداره سي اوکه ووينې چي دده خر مړ سويدی اودي پر بل خرناست دی يا ده خپل خر خرڅ کړي دی اوبل يي اخيستي دی نو دليل يي دا دي چي دده ژوند به ديوحال څخه بل حال ته بدل سي اوکه ووينې چي دده خر غاتره سويده نودليل يي دا دي چي دده معشيت به دپاچا څخه وي ليکن په ظلم سره به وي اوکه ووينې چي خر سرلي سويدی نو دليل يي دا دي چي حلال مال به حاصل کړي اوکه ووينې چي دده خر غل وړي دی نو دليل يي دادي چي دده ښځه به دفساد شهرت حاصل کړي او ددي نتيجه به دده څخه جلا وي اوکه ووينې چي د ده خر قوي او زورور دی نودليل يي دا دي چي ددنيا کار او ګټه به پرده اسانه سي اوکه د دې خلاف ووينې نو دليل يي دا دي چي خر يي بوڅ ايښي دی او دي باندي ناست دي نودليل يي دا دي چي مالدار به سي او که ووينې چي د خري سره يي جماع کړي ده نو دليل يي دا دي چي خپل مراد به حاصل کړي اوکه ووينې چي خر يي پشاه کړي دی او داوبو څخه يي ايستلي دی نو دا دقوت حال بزرګي بخت او دمرتبي دليل دي اوکه ووينې چي خر چيغي کړي دی نو دانيك دليل نه دی دالله تعالی فرمان دی (ان انکر الاصوات لصوت الحمير، سورة لقمان: ۱۹) ترجمه: دټولو اوازونو څخه خراب اواز دخره دی جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي پر خره ناست دی اوخر دشا څخه اواز کړي دی نو دليل يي دا دي چي دده عيال به بدخويه وي اوکه ووينې چي خپل خر يي په بل خره سره بدل کړي دی او دهغه څخه خراب دی نو دده حال به خراب سي اوکه د اول خره څخه ښه دی نو دده حال به نيك سي اومال به يي زيات سي. او که ووينې چي خپل خر يي په اس يا غاتري سره بدل کړي دی نو دليل يي دا دي چي دپاچا څخه به مال او نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي په درنده سره يي بدل کړي دی نودليل يي دا دي چي دظالم پاچا څخه به ورته څه ملاو سي اوکه ووينې چي خپل خر يي په مرغي سره بدل کړي دی نو دليل لي دا دي چي دمرغی دقيمت په اندازه به ده ته څه ملاو سی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي خر ليدل په لسو وجو دی ۱: نصيب ۲: دولت ۳: حکومت ۴: رياست ۵: مال ۶: ښځه ۷: مينځه ۸: مرتبه ۹: مشري ۱۰: بخت اوپه خوب کي خر ساتلو والا ليدل دولايت اوتدبير خاوند دی اوکارونو سمولو والا او معيشيت تيارووونکي دی.

خرګور \ ځنګلي خر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره ځنګلي خر دی نو دليل يي دا دي چي غنيمت به ورته حاصل سي او که ووينې چي پر ځنګلي خر ناست دی او دده تابعدار دی نودليل يي دا دي چي دي به ګناهګاره اونافرمانه وي اوکه ووينې چي ځنګلي خره ورسره جنګ کوي نو دا دکار دسختي اودغم دليل دی چي ده ته به ورسيږي اوکه ووينې چي دځنګلي خره ښکار يي کړي دی نو دا پر خير اونفع دليل دی اوکه ووينې چي دوه ځنګلي خره ديو بل سره جنګ کوي نو دليل يي دا دي چي دوه ناکاره سړی به دده لپاره جنګ کوي اوکه

ووينې چې ځنګلي خر يې کورته راوستلي دی نو دليل يې دا دي چې ناکاره سړی به کورته را ولي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې ځنګلي خر ليدل جاهل اواحمق سړی ليدل دی چې علم اوعقل يې نه وي دالله تعالی فرمان دی (اولئك كالانعام بل هم اضل، سورة الاعراف: ۱۷۹) ترجمه: دغه خلک دچارپايانو په ډول دی بلکې دهغوځخه هم زيات ګمراه دی اوکه ووينې چې دځنګلي خره غوښه يې خوړلې ده نو دليل يې دا دي چې ډير مال به حاصل کړی اوکه ووينې چې پرځنګلي خر ناست وو او را ايله سو نو دليل يې دا دي چې دځه کار طلب به کوي خوحاصل به يې نه کړي اوکه ووينې چې پر ړوند ځنګلي خر ناست دی نو دليل يې دا دي چې بې اندازې مال به حاصل کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دځنګلي خره پوست او غوښه ليدل مال غنيمت عزت اومرتبه ده اوکه ووينې چې دځنګلي خر ماغزه يې پيدا کړي دی نو دليل يې دا دي چې زر درهمه به پيدا کړي او ملګرتيا به يې ديو مشر سره وي چې خير اونفع به ځنې حاصله کړي او که ووينې چې دځنګلي خر سر يې خوړلې دی نو دليل يې دا دي چې ډير عبادت به کوي او ددين لاربه قبوله کړي او که ووينې چې ځنګلي خر دده څخه تښتيدلې دی نو دليل يې دا دي چې دمسلمانانو څخه به جلاسي.

خردل\وری

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې وري ليدل پر غم اوفکر اواندېښنې دليل دی اوکه ووينې چې وری يې خوړلې دی نو دليل يې دا دي چې دمال نقصان به يې وسي يا به په غيم او فکر کې ګرفتار سي. حضر جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې وري خوړل پر مصيبت جنګ اوناجوړې دليل دی.

خرس\ليوه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې ليوه بد اواحمق دښمن دی او که ووينې چې پر ليوه ناست دی نو دليل يې دا دي چې دپاچا څخه به ذلت حاصل کړي او که ووينې چې ليوه يې وژلي دی نو دليل يې دا دي چې پر دښمن به کاميابي حاصله کړي . اوکه ووينې چې دليوه غوښه يې خوړلې ده اوپوست يې دځان سره ايښې دی نو دليل يې دا دي چې ده ته به بيره رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې نرليوه په خوب کې بدبخته اوليونې سړی دی اوښځه ليوګې د دې خوې ښځه ده اوکه ووينې چې ښځه ليوګې يې نيولې ده نو دليل يې دا دي چې د دې صفت ښځه به کوي اوکه ووينې چې ليوه دده کورته راغلې دی که نروي نو د دې صفت سړی به دده کورته راځي اوپه هر حال کې ليوه ليدل ښه نه دي .

خرګاه\تنبو\خيمه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې تنبو ليدل ښه دی او که ووينې چې په تنبو کې ناست دی نو دليل يې دا دي چې ددنيا دسامان څخه به ورته څه ملاو سي. اوکه ووينې چې تنبو دده خپل دی نو دليل يې دا دي چې ښځه به کوي او که تنبو شين يا سپين وي نو دخير اونيکي

Maktaba Tul Ishaat.com

دليل دی او که تنبو معلوم اوشين وي اودي په کي ناست وي نو دليل يي دا دي چي ديندار به سي اوکه تنبو نامعلوم وي نودليل يي دا دي چي دي به شهيد سي او سپين تنبو پر مال اونعمت دليل دی او که تنبو سور وي نوپه بازيو اوعيش کي به مشغول سي اوکه ووينې چي دتنبو رنګ دی نو دا پرغم فکر اومصيبت دليل دی اوتور تنبو لږ نفع ده او که تنبو دده خپل وي نو ددي تدبير دخوب ليدونکي طرفته په ښه اوبد کيدو کي رجوع کوي.

خرګوش \ سوی

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي ده سوی نيولي ده يا چا ورکړي ده نو دليل يي دا دي چي خرابه ښځه به کوي يا به ناکاره مينځه اخلي اوکه ووينې چي د سوی پوست يي اغوستي دی يا يي ددې غوښه خوړلي ده نو دليل يي دا دي چي دښځي څخه به ورته يو شي حاصل سي اوکه ووينې چي دده سره دسوی بچي دی نو دليل يي دا دي چي مال به ورته حاصل سي اوپه هغه کي به خير نه وي اوبعض اهل تعبير وايي چي ده ته به د زوی دطرفه غم او ناجوړي اوفکر ورسيبري. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي سوی په خوب کي پرهيزګاره او خاموشه ښځه ده اوکه ووينې چي دده سوی مړه سوبده يا چا مړه کړي ده نودليل يي دا دي چي ښځه به يي هلاکه سي يا به ده ته داولاد دطرفه زحمت وي اوکه ووينې چي دده سوی څټ شاته پيچلي دی لکه چي مري يي وربدله کړي ده نو دليل يي دا دي چي دخپلي ښځي سره به په بل طرف جماع کوي.

کجور \ خورما

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي خرما په خوب کي مال اومراد دی اوکه ووينې چي خرما يي خوړلي ده که داهل علم څخه وي نوعلم به يي زيات سي که سوداګر وي نو دليل يي دا دي چي مال به يي زيات سي اوکه ووينې چي خرما يي خوړلي ده اوهډوکي يي دباندي غورزولي دی نو دليل يي دا دي چي دشريعت حکمونه به پر ځاي راوړي اوبعضي اهل تعبيرو بيان کړيدی چي که څوک ووينې چي خرما يي خوړلي ده نودليل يي دا دي چي وراثت به حاصل کړي اوکه ووينې چي کچه خرما يي خوړلي ده نو دليل يي دا دی چي دخپل زوی ميراث به خوري. اوکه ووينې چي دده په کورکي دخرما درخته ده اوډيري ميوي پکښې دی نو دليل يي دا دي چي دلوي سړی سره به ملاو سي اودهغه څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي دغه دخرما درخته وچه سويده نو دليل يي دا دي چي ددوي تر مينځ به جدايي راسي اوکه ووينې چي دده په کورکي وچه خرما ده او هغه شنه سوه نو که ناجوړه وي نوشفا به حاصله کړي اوکه ووينې چي دخرما دريښې نيلونه پريکړه سوه نو دليل يي دا دي چي دده په خاندان کي به څوک ناجوړه کيږي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دي چي که څوک په خوب کي ووينې چي دده سره تازه خرما ده نو دليل يي دا دي چي په سختي سره به مال حاصل کړي اواهل تعبيرو بيان کړي دی چي خرما په خوب کي نفع ده چي ده ته به دمالدار څخه حاصله سي اوکه ووينې چي دده په کور کي ډيري خرماوي دی نودليل يي دا دي چي دخرما په اندازه به مال اوسامان کړي او که ووينې چي تازه

يا وچه خرما يي خوړلي ده نو دليل يي دا دي چي دايمان خوند به حاصلوي اوکار به يي په انتظام سره وي اوکه ووينې چي خرما يي دبيخه ايستلي ده نودليل يي دا دي چي کوم کار کوي هغه به نه کيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي دده سره خرما ده نودليل يي دا دي چي مالداره ښځه به کوي او دبلي وينا مطابق مال به حاصلوي اوکه ووينې چي په خرما کي ډير انګور لګيدلی دی او ده راخيستي دی نودليل يي دا دي چي دتوري مينځي به زوی پيدا کيږي اوکه ووينې چي دوچي خرما څخه يي تازه خرما راخيستي ده نودليل يي دا دي چي دمنافق څخه به پاکه خبره اوري اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دی چي د جاهل سړی څخه به دفايدې خبره اوري اوکه خوب ليدونکي غمجن وي نو غمونه به يي خلاص سي دالله تعالی فرمان دی (بجذع النخلة تساقط عليك رطبا جنيا، سورة مريم: ۲۵) ترجمه: دخرما تنه به په تازه خرما را وغورزوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي خرما ليدل په سختي سره دمالداري دطرف څخه حلال مال دی اوپه خوب کي وچه خرما پر پاك دين اوحلال مال دليل دی او تازه خرما دسترګو پر رڼا حلال مال او پر نيك زوی دليل دی.

حکايت

يو سړی دابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کي حاضر سو اوعرض يي وکي چي ماپه خوب کي ليدلي دی چي ما دپاچا دمحل په دروازه کي څلويښت خرماوي پيدا کړي دی دوي يي په تعبر کي وويل چي سبا به په دغه ځاي کي تاته څلويښت بيتونه لګيږي اوهم داغسي وسوه بيا په بل کال هغه سړی د ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کی حاضر سو اوعرض يي وکي چي ما دپاچا دمحل په د روازه کي څلويښت خرماوي پيدا کړي دی دوي وويل چي ته به څلويښت زره درهمه حاصل کړي هغه سړی عرض وکړي چي تير کال د دې خوب تعبير بل رقم وو اوسږ کال څنګه داسي دی دوي وويل چي تير کال دخرما په درختو خرما نه وه د دې وجي څخه دهغه تعبير دغه وو بيا يوه هفته وروسته هغه سړی څلويښت زره درهمه پيداکړل.

خرمن ګرفتن \ د غلې ډيران لګول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي دغلي ډيران داسي سړی دی چي په تکليف او مشقت سره مال حاصلوي اوهغه مال فضول جمع کوي اوکه ووينې چي ويي کرل او ويي ريبل او ډيران يي کړل نو دليل يي دا دي چي په تکليف سره به مال حاصلوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوک ووينې چي دغلو ډيران يي اخيستي دي يا چاورکړي دي نو دليل يي دا دي چي ښځه به کوي اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دی چي دده به دداسي سړی سره صحبت وي کوم چي مال په سختي اوتکليف سره حاصلوي.

خرنوت \ ځنګلي توت

ځنګلي توت چي تور اوتريو وي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي توت داسي سړی دی چي مال په تکليف اوسختي سره حاصلوي اوکه ووينې چي ځنګلي توت يي خوړلي دی نو

Maktaba Tul Ishaat.com

دليل يي دا دي چي خپل مال يي په تکليف سره حاصل کړي دی او خوړلي يي دی اوکه ووينې چي ځنګلي توتان يي په لاس کي جمع کړي دی نودليل يي دا دي چي دبخيل سړی څخه به دهغه په اندازه مال حاصلوي او که ووينې چي ځنګلي توت يي په اور کي سوزلي دی نو دليل يي دا دي چي پاچا به دده ملکيت اومال واخلي.

خروس بانګي \ نر چرګ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي څوک په خوب کي ووينې چي دده سره چرګ دی اوپيژني يې چي دا دده خپل دی نو دليل يي دا دي چي په غلام زاده به فتح حاصله کړي اوکه ووينې چي دچرګ سره جنګ کوي نو دليل يي دا دي چي دعجمي سړی سره به جنګ کوي اوکه ووينې چي ده ته دچرګ څخه تکليف رسيدلي دی نو دليل يي دا دي چي دعجمي سړی څخه به ورته نقصان رسيږي. اوکه ووينې چي دنر چرګ بچي يي پيدا کړي دی نو دليل يي دا دي چي کوچني غلام يا دمينځي څخه به ورته زوی حاصل سي اوکه ووينې چي دچرګ اواز يي اوريدلي دی نو دليل يي دا دي چي نيکي اوخيرات به خوښوي اوکه ووينې چي چرګ په منښوکه وهلي دی نو دليل يي دا دي چي دچا څخه به ورته فکر رسيږي اوپه خوب کي دهګۍ ليدل غلام دی اوکه ووينې چي چا ورته دڅرګ بچي ورکړي دی نو دليل يي دادي چي دغه سړی به دغلام بخښش کوي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره کورني چرګ دی نو دليل يي دا دي چي زوی به يي پيداسي او دموذن سړی سره به يي صحبت وی دنبي کريم ارشاد دی (الديك محبي وهو يدعوا الى الصلاة) ترجمه: چرګ زما دوست دی چي دلمونځ طرف ته بلنه کوي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي چرګ يي قابو کړي دی نو دليل يي دا دي چي دسردار زوی به قابو کړي اوهغه به مغلوب کړي. اوکه وينې چي دچرګ هګي يي پيدا کړي ده او ماته کړي يي ده نو دليل يي دادي چي پر يو چا کوچني يا لوي به واک ترلاسه کړي.

خريداو فروخت \ اخيستل او خرڅول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي اخيستل او خرڅول ښه شي دی ځکه چي په روپو او پيسو سره يي کوي اوکه سامان په سامان سره بدلوي نودليل يي دا دي چي د دې اندازې مطابق به دغه سړی نفع حاصلوي.

خز \ ريښم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دريښمو چوغه پټکي ټوپي او څه چي د دې په ډول وي دسړو لپاره ښه دی اوکه د دې رنګ يو رقم وی نو نيك دی اوکه رنګ يي يورقم نه وي نو غم او فکر دی او دکالو شين رنګ ښه وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي ريښم په خوب کي ليدل يا څوك چي ريښم اخلي په پنځو وجو دی ۱: مال اونفع ۲: خيرات اوبرکت ۳: عزت او مرتبه ۴: په اندازه دقيمت ۵: رياست او بزرګي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب

کي دريښمو کالو اغوستل دليل دحرام مال دی اهل تعبيرو بيان کړي دی چي دسړو لپاره ريښم په خوب کي ليدل ښه نه دی او دښځو دپاره ښه دی او ريښم خرڅونکي سړی په خوب کي داسي دی چي ددين په بدله کي دنيا اختياروي.

خسته کردن \ زخمي کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي دده بدن چا زخمي کړي دی او دهغه څخه وينه راوتلي ده نودليل يې دا دي چي زخمي کوونکي به ده ته ريښتوني خبره کوي د دې وجي څخه دي به دهغه جواب نه سي ورکولی اوکه ووينې چي ددغه زخم څخه وينه نه ده را وتلي نو دليل يې دا دي چي دهغه سړی څخه به درواغ خبره اوري ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوک ووينې چي توره يې ووهله اودوه ټوکړي يې کړي ده نو دليل يې دادي چي دده په مخکي به څوک خبره کوي اوخلک به ورته پيغور ورکوي اوکه څوک په خوب کي پرخپل بدن ډير زخمونه ووينې نو دليل يې دا دي چي دپاچا څخه به نفع حاصله کړي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي زخم په دروو وجو دی ۱: مال او دولت ۲: خير اونفع۳: ناخوښه خبره.

خشت \ خښته

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي خښته مال جمع کول اويوځاي کول دي د دې وجي څخه دهري يوي خښتي په بدله کي زر درهمه مقرر کوي اوکه ووينې چي ده ډيري خښتي جمع کړي دی نو دليل يې دا دي چي دده به ډير مال جمع سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي ده ددیوال څخه ډيري خښتي نړولي دی نودليل يې دا دي چي ددیوال دمالک مال به اخلي اوکه ووينې چي خښتي يې ماتي اوبې کاره کړي نودليل يې دا دي چي خپل مال به ضايع کړي، جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي پخي خښتي په خوب کي بدي دی ځکه چي دي ته اور رسيدلي وي نو د دې وچه څخه دا پر غم اوفکر دليل دی.

خشم گرفتن \ غصه کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي پر چا يې ددنيا لپاره غصه کړي ده نو دليل يې دا دي چي ددنيا کار به ذليل او خوار ګڼي اوپه دنيا به مغرور وی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي پر ده مور اوپلار غصه کړي ده نو دليل يې دا دي چي دلوړ ځاي څخه به را ايله سي دا لله تعالی فرمان دی (ومن يحلل عليه غضبي فقد هوى، سورة طٰهٰ: ۸۱) ترجمه: په چا چي زما غصه راسي هغه به هلاک سي.

خصومت \ جنګ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي دچا سره جنګ کوي اوپر هغه غالب سوي دی نو دليل يې دا دي چي اخر داچه غالب به سي اوفتح به حاصله کړي اوکه ووينې چي دښمن باندي غالب سوي دی نو د دې تعبير د اولني خلاف دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي ددغه ملک دحاکم سره يې جنګ کړي اوپر هغه غالب سويدی نودليل يې دا

Maktaba Tul Ishaat.com

دي چي دحاکم څخه به خير او نفع ور رسيږي اوکه ددې خلاف ووينې نو دحاکم څخه به ورته تکليف ورسيږي اوکه ووينې چي دپاچا په مخکې په جنګ سره تللي دی نو دليل يې دا دي چي مراد به يې پوره سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دچا سره بې وجي جنګ کوي نو دليل يې دا دي چي خلک به ځني خفه وي ځکه چي خلک تنګول غواړي.

خصي کردن \ خصي کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي ځان يې خصي کړي دی نو دليل يې دا دي چي مراد به يې پوره سي اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دی چي زوی به يې مړ سي او کنې دالله په عبادت کې به مشغول سي اومالدار به سي اوکه نامعلوم سړی خصي ووينې نو دليل يې دا دي چي دغه سړی به نيك او پرهيزګار وي او داهم وايي چي فرشته به وي چي دي دخير او صلاح طرفته رابولي او دخير خوشخبري ورته اوروي ځکه چي فرشتو ته دخواهش شهوت نه وي اوکه ووينې چي دهغه په خبرو کې علم اوحکمت نسته نو هغه به فرشته نه وي اوکه څوك يې ليدلي وي اوهغه خصي او معلوم وي نو څه ښه يا بد يې ليدلي وي دهغه تعبير دخوب ليدونکي ته رجوع کوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده يوه خايه پرې سوي ده او را ايله سوي ده نودليل يې دا دي چي پر دښمن به کاميابي حاصله کړي اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دی چي په خوب کې دخايې پريکيدلو دليل دا دي چي اينده به دده انجلي نه پيدا کيږي ځکه چي خايه انجلي وي اوکه ووينې چي خپلې خايې يې ايستلي دی اوچاته يې ورکړي دی نودليل يې دا دي چي چا ته به انجلي ورکوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي بې وجي خصي سوي دی نودليل يې دا دي چي ذلت اونقصان به ورته رسيږي اوکه دده اندام مخصوص دبدن څخه پريکولاي سي نو د دې هم دغه تعبير دی اوده نوم به په خلکو کې ورك سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کې خصي ليدل په دروو وجو وي ١: پرهيزګار سړی ليدل ٢: فرشته ٣: عبا دت.

خضاب کردن \ نکريزي لګول

دانيال علیہ السلام ويلي دی چي پر ږيره خضاب لګول کارونه پټول دی اوکه ووينې چي دږيري سره يې دسر خضاب هم کړي دی او رنګ سوي نه دی نودليل يې دا دي چي خپل ښکاره به خلکو ته ښکاره کوي اوکه ووينې چي خضاب يې کړي دی نو دليل يې دا دي چي دده کار به نيک وي ليکن کارونه به يې پټ وي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي په داسي شيانو سره خضاب کوي چي په هغه سره خلک خضاب نه کوي نو دليل يې دا دي چي خپل ځان به په خوښه او محالو خبرو کې لګوي اوکه ووينې چي پرخپل لاس اوپښو يې نکريزي لګولي دی نو دليل يې دادي چي دده ورك سوي مال به واپس راسي اوکه ووينې چي پخپلو دواړو لاسونو يې نکريزي لګولي دی نو دليل يې دا دي چي خپل زامن به په څه ښايسته شي ښايسته کوي چي دشريعت خلاف به وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي خپل لاس يې نقش کړي دی اونکريزي يې هم باندي لګولي دی نو دليل يې دا دي چي پخپل کار اوکسب کې

به مکر اوحیله کوي اوکه ووینې چې پر ټول بدن باندې نقش دی نودلیل یې دا دي چې دده به یو څوك عزیز مري یا به پخپله هلاك کیږي اوکه دا خوبونه یو څوك ښځه ووینې نو دواده او خوشحالي دلیل دی. اسماعیل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوك ووینې چې پر لاس اوپښو یې نکریزي لګولي دی نو دلیل یې دا دي چې داسي کار به کوي چې دهغه په وجه به خلک پر ده افسوس کوي اوکه ووینې چې پر سر اوګوتو یې نکریزي لګولي دی نو دلیل یې دا دي چې تسبیح به کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کې نکریزي لګول په ځلورو وجو دی ۱: ښه کار ۲ : ددنیا دکار ښه والي ۳: دعزت اومرتبې طلب ۴: په درواغو مشهور کیدل.

خطبه خواندن \ خطبه ویل

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوك ووینې چې پر منبر خطبه ورکوي او دي د دې اهل وي نو دلیل یې دا دي چې خوب لیدونکي به عزت اوبزرګي حاصله کړي او که د دې خبري اهل نه وي نو دلیل یې دا دي چې په سفر به ځي او ډیر وخت به پکښې وي او خوف اوبیره به ورته وي او وایي چې که مالدار وي نوفقیر به سي او که ووینې چې بې دینه سړی خطبه ورکوي نو دلیل یې دا دي چې مسلمان به سي یا به مړ سي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوك ووینې چې پاچا پر منبر خطبه ورکوي نو که پاچا مصلح وي نو عدل به کوي اوکه مفسد وي نو غایب به سي او که ووینې چې ښځه پر منبر خطبه ورکوي اوخلکو ته نصیحت کوي نو دلیل یې دا دي چې دهغه خاوند به رسوا اوذلیله سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوك ووینې چې دخلکو په مینځ کې دنکاح خطبه ورکوي نو دلیل یې دا دي چې دهر چاسره به نیکي کوي اوخیر صلاح اونفع به حاصلوي.

خطمي \ ګل خیرو

خطمي یوه دوایي ده ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کې ګل خیرو پخپل موسم کې لیدل نفع ده او بې موسمه لیدل یې غم اوفکر دی اوخوړل یې ضرر اونقصان دی او ددي اوبه پر توبې اوپاك دین دلیل دی.

خفتن \ بیده کیدل \ خوب

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کې ځان بیده لیدل خوشحالي اوخلاصون دی اوکه ووینې چې پر تخت بیده دی نودلیل یې دا دي چې مشري به حاصلوي او ددین دلاري او پرهیزګاري څخه به بې خبره وي ځکه چې دا ددین په لاره کې غفلت دی اوکه ووینې چې په یو ځاي کې په بستره بیده دی نو دا دسپکاوي اوذلت دلیل دی. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چې خوب دیریدونکي لپاره امن دی اودمړي لپاره بخښش اودناجوړي لپاره شفا اود قیدي لپاره خلاصون دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوك ووینې چې دمړو په مینځ کې بیده دی اوده ته خلک ګوري نودلیل یې دادي چې په خلکو کې به شهرت حاصل کړي دالله تعالی فرمان دی (وتحسبهم ایقاظا وهم رقود، سورة الکهف: ۱۸) ترجمه: ته ګمان کوي پر دوي چې دوي ویښ

Maktaba Tul Ishaat.com

دی حالانکه چي دوي بيده دی.

خلال کردن \ خلالول دغابنونو

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي خلال کول ښه نه دی ځکه چي په خوب کي غابنونه اهل بيت دی اوخلال په مثال دجارو دی چي داهل بيتو مال باندي جارو کوي او که ووينې چي خلال کوي نو دليل يي دا دي چي دغابنونو څخه وزي داهل بيتو نقصان دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي په خلال سره يي دغابنونو څخه څه را ايستلي دی او چا ته يي ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي داهل بيتو څخه به په ناحقه مال اخلي او چا ته به يي ورکوي.

خلعت \ انعامي کالي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي انعامي کالي په خوب کي پاك اوښه دی اودعزت مرتبې رياست او پاچاهي حاصلولو دليل دی او مينځه اوښځه ده او دانعامي کالو ورکوونکي دقدرو قيمت مطابق دتعبير حکم دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که پاچا ورته انعامي کالي ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي دپاچا څخه به انعامي کالي اودقدر مطابق مال حاصلوي اوکه ووينې چي يو عالم ورته انعامي کالي ورکړي دی نودليل يي دا دي چي ددغه عالم څخه به علم او پوهه حاصلوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي ده ته سپينې يا شنې انعامي جامي ملاو سوي دی نو دليل يي دا دي چي دين اوعزت به حاصلوي او که ريښمي جامي وي نو دليل يي دا دي چي ددين اودنيا عزت به حاصلوي.

خرقه (زړه دکالو ټوټه)

خرقه په خوب کي غم اوفکر دی اوکه ووينې چي زاړه کالي يي دخپل بدن څخه ايستلي دی نو دليل يي دا دي چي غم اوفکر به ځني ليري سي اوټول شيان نوي په خوب کي ليدل ښه دی ليکن زړه موزه ليدل دنوي څخه ښه دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي زاړه کالي خرڅ کړي نودا ډير بد دی او که خپل نوي کالي خرڅ کړي نودا ښه دی زاړه شيان خرڅونکي په خوب کي داسي سړی دی چي بدي دځان څخه ليري کوي.

خلم \ بلغم \ دپوزي ګړنګ او مرداري

خلم چي دپوزي څخه وزي که په خوب کي ووينې چي دده دپوزي څخه پليتي وزي نو دليل يي دا دي چي دقرض غمونو او فکرونو څخه به خلاص سی. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دپوزي ګړنګ او پليتي پر زوی دليل دی او که ووينې چي دده پرکالو دپوزي ګړنګ او پليتي را ايله ده نو دليل يي دا دي چي زوی به يي پيداسي اوکه ووينې چي دده دپوزي ګړنګ او پليتي پر مځکه را ايله ده نو دليل يي دا دي چي انجلي به يي پيدا سي اوکه ووينې چي ده پر مځکه چينجي غورزولي دی نو دليل يي دادي چي دده ښځه به حامله سی اوددي څخه به دزوی اسقاط وسي اوکه ووينې چي پر ښځي باندي پليتي غورزوي نو دليل يي دا دي

چي دهمسايه دښځي سره به فساد کوي اوکه ووينې چي چينجي يې خوړلي دی نو دليل يې دا دي چي دقيد خاني مال به په نيکه وجه خوري.

خليفه \ داسلام پاچا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي خليفه خندرويه ووينې نو دليل يې دا دي چي ده ته به ددين او دنيا خير حاصلوي اوکه ووينې چي خليفه ده ته په خاصو کارونو کی دخه کار حکم کړي دی نو دليل يې دا دي چي عزت بزرګي اومرتبه به حاصلوي اوکه ووينې چي خليفه ورته ولايت ورکړي دی نو دليل يې دا دي چي که مسلمان وي نوشرف اوبزرګي به حاصله کړي اوکه ووينې چي د خليفه محل ته تللي دی نودليل يې دا دي چي دهغه دمقربو څخه به سي اوکه ووينې چي خليفه ورته ددنيا دسامان څخه څه ورکړي دی نو دليل يې دا دي چي مرتبه به حاصلوي اوپه مالدارو کي به لوي نوم يوسي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي خليفه ورسره په يوه شرعي کارکي جګړه کړي ده نو دليل يې دا دي چي مراد به يې پوره سي اوپر دښمن به کاميابي حاصله کړي اوکه ووينې چي د خليفه پر بستره پخپله بيده سوي دی نو دليل يې دا دي چي خليفه به ورته ښځه يا مينځه يا مال ورکړي اوکه ووينې چي د خليفه څخه شاته پر اس ناست دی نو دليل يې دا دي چي په خلافت کي به دهغه سره شريک سي اوکه ووينې چي دخليفه څخه مخکي ياپه اړخ کي روان دی نودليل يې دادي چي په خلافت کي به دهغه سره شريك سي او که ووينې چي د خليفه څخه مخکي يا په اړخ کي روان دی نو دليل يې دا دي چي دهغه په کارونو کي به مختاره سي اوکه ووينې چي خليفه ورسره تريو تندي دی نو دليل يې دا دي چي دده په دين کي به خلل وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دي خليفه سو حالانکه دخلافت اهل نه وي نودليل يې دا دي چي خليفه به يې څه کار ته ليږي او که ووينې چي دي خليفه په يو کار پسي ليږلي دی نو دليل يې دا دي چي خير اونفع به حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك خليفه مړ يا ژوندي ووينې او خوشحاله وي او ده ورسره خبري کړي وي نو دليل يې دا دي چي مراد به ورته حاصل سي او عزت او دولت به حاصل کړي اوکه خليفه غمجن ووينې نو د دې تعبير داولنی خلاف دی.

خم \ چاټی \ منګی \ ماټی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي چاټي داسي ښځه ده چي دهغه دطرف څخه دچاټي دغټوالي مطابق فايده رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دشرابو چاټي خزانه ده او داوبو چاټي ښځه ده ليکن ښځه به مالداره وي اوکه ووينې چي دده په کورکي داوبو چاټي ده او دي دهغي څخه اوبه چيښي نو دليل يې دا دي چي ډير مال به حاصل کړی اودخير په لاره کي به يې خرڅ کړي اوپه خوب کي دسرکي چاټي پرهيزګار سړی دی او دغورو او کوچو چاټي حلال مال دی او دترخو اوبو چاټي پر ناجوړی سړی دليل دی او دخاورو د تيلو چاټي خراب او ځوان سړی دي اوپه خوب کي چاټي پر پاچا او دپاچا پر ارکان سلطنت دليل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

خمير کردن \ اوړه اخښل

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي داوړو اخښلو تعبير ددين درستي ده او دغنمو اوړه اخښل پر داسي مال دليل دی چي په تجارت سره حاصل سوي دی اوکه خمير لوړ سوي وی نو دا دفساد دليل دی او په خوب کي دباجري اوړه اخښل دلږي نفعي دليل دی چي ده ته به حاصله سي. ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي ده خميره کړيده يا يي اخښلي ده يا چا ورکړيده که چيري داوربشو خميره وي نودا ددين او نيکي درستي ده او که خميره دغنمو وي نو گټه به حاصله کړي. جعفر صادق رحمه الله عليه ويلي دي چي په خوب کي خميره ليدل په دروو وجو ده. ۱: ددين زياتوالی ۲: نفع ۳: حلال مال.

خبزه \ د ډوډۍ پخولو تبخی

په دي کي دري قولونه دی بعض وايي چي خادمه ده اوبعض وايي چي داسي سړی دی چي ښارونو ته پيغام وړي او راوړي اوبعض وايي چي ښځه ده اوکه ووينې چي دشيشو تبخي دده په کور کي دی نو دليل يي دا دي چي ښځي ته به طلاق ورکوي. جابر مغربی رحمه الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده سره تبخي دی يا چا ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي خادمه ښځه يا مينځه يا مال به ورته دتبخي په اندازه حاصل سي. يا به يي دخادمي ښځي سره صحبت وي چي دهغه څخه به فائده پورته کوي اوکه ووينې چي تبخي ځني ورك سوي دی نو ددي تعبير داولني خلاف دی.

خنجر \ توره

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده په لاس کي خنجر دی نو دليل يي دا دي چي دده به دچا سره دښمني وی اوکه ووينې چي دده خنجر مات سوي دی يا ورك سوي دی نو دليل يي دا دي چي ددوي ترمينځ دجنګ او دښمني انجام به صلح وي، اوکه ووينې چي دده په لاس کي خنجر دی نو دليل يي دا دي چي کوم کار غواړي په هغه کي به ورته دچا څخه مدد حاصل سي او که دخنجر سره نوره وسله هم ورسره وي نو دليل يي دا دي چي پر دښمن به کاميابه سي او کار به يي په انتظام سره وي.

خندا

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي خندا په خوب کي غم اوفکر دی اوکه ووينې چي په کټ کټ سره خاندي نو دليل يي دا دي چي زيات غم به ورته لاحق سي دالله تعالی فرمان دی (فليضحكوا قليلا وليبكوا كثيرا، سورة التوبة: ۸۲) ترجمه: پکار دی چي خندا کمه وي او ژړا زياته وي اوکه په کراره خاندي نو دليل يي دا دي چي فکر به يي کم وي. ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي په کراره خندل مراد او زيري حاصلول دی دالله تعالی فرمان دی (فتبسم ضاحكا من قولها، سورة النمل: ۱۹) دهغه په وينا يي کرار وخندل. جعفر صادق رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي په کراره خندا پر زوی دليل دي دالله تعالی فرمان دی (فضحكت فبشرنها باسحق، سورة هود: ۷۱) ترجمه:

هغه روخندل نو مورِ ورته زيري ورکړو په اسحق سره او په زوره زوره خندا په خوب کي پر غم اوفکر دليل دی اوداالله تعالی په کارونو تعجب کول دی دالله تعالی فرمان دی (افمن هذا الحديث تعجبون، سورة النجم: ۵۹) ايا تاسو په دي خبرو تعجب کوي.

خوان\خوانچه\سترخان

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي دده سره خوانچه ده اوپه هغه کي خوراك دی اودهغه څخه څه خوري نودليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به غنيمت حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ډکه خوانچه ښه ده اوکه بغير د خوراك څخه يي پورته کړي نوغم اوفکر دی او خوراك ډير خوړل د ډير عمر دليل دی. اوکه ووينې چي په خوانچه کي دري قسمه خوراك دی نو دليل يي دا دي چي روزي به باندي فراخه سي دالله تعالی فرمان دی (ربنا انزل علينا مائدة من السمآء، سورة المائدة: ۱۱۴) ترجمه: اي زمورِ ربه پر مورِ داسمان څخه خوراك راوليږه. اوبعض اهل تعبير وايي چي عزت مرتبه اوخوشحالي ده جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي خوانچه ليدل په پنځو وجو دی ۱: غنيمت حاضره ۲: شريف سړی ۳: قوت ۴: دکارونو انتظام ۵: عزت مرتبه او خوشحالي.

خود\داوسپني ټوپۍ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي د ده پر سر داوسپني ټوپي ده نو دا د مرتبي او زوی دليل دی او دټوپي د پرڤاپدو او برښپدو مطابق به يي قوت زيات وي اوکه ووينې چي دده پرسر ټوپي ده نو دليل يي دا دي چي دسردارانو څخه به قوت حاصل کړي اوکه ووينې چي خپله داوسپني ټوپۍ يي ماته کړي ده يا ځني ورکه سوي ده نودليل يي دا دي چي عمر به يي کم وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي داوسپني ټوپۍ ليدل په پنځو وجو وي ۱: قوت ۲: مال ۳: زوی ۴: بقا او نيکي ۵: ځان ددهوکي څخه ساتل.

خوردن\خوړل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دخوراك بوي ښه دی او خوړل يي خير اوخوشحالي ده اوکه بد بويه وي نو دفقيري او دعاجزي دليل دی ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که خوراك په خوند کي ښه وي نو خوشحالي او واده دی اوکه تريو او تريخ وي نو پر غم اوفکر دليل دی اوپه خوب کي دخوراك شيان خرڅونکي زياتي خبري کوونکي سړی دی.

خوشه\وړي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي وړي ليدل که تازه وي نو زوی برکت او دمال زياتي دی او که وچ وي نو په ډير عمر والا زوی دليل دی ليکن په دغه کال به تنګي اوقحط وي او دانګورو او خرماوو وړي ښه دی خاصکر که پخپل موسم کي يي ووينې. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوک په خوب کي ووينې چي شين وړي يي خوړلي دی نو دليل يي دا دي چي په دغه کال به پر ده عيش اوفراخي وي اوکه وچ اوژړ وړي ووينې نو دليل يي دا دي

Maktaba Tul Ishaat.com

چي پر دغه کال به پرې قحطی اوتنګي وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي شين وړي پر زامنو اوبرکت دليل دی دالله تعالی فرمان دی (سبع سنابل في كل سنبلة، سورة البقرة: ٢٦١) ترجمه: اووه وړي دی په هر يوه وړي کي تراخر پوري. او وچ وړي قحطی ده.

خوګ \ خنزير

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلی دي چي په خوب کی خنزير مالداره اوقوت والا سړی دی ليکن بي همته اوبي خيره وي اوکه ووينې چي په يو ځاي کي بي خنزيران جمع کړي دي اونه يي پريږدي ددي لپاره چي ګډوډ سي نو دليل يي دادي چي ډير مال به جمع کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دخنزير حفاظت کول ددنيادارى لپاره ښه دی او ددين لپاره بد دی او دخنزير بچي په خوب کي غم اوفکر دی او که وينې چي دي خنزير خوري نو دليل يي دا دي چي دي به کانې خوري اوکه ووينې چي خنزيران ځاي پر ځاي ګرځوي نو دليل يي دا دي چي دده ددنيا احوال به ښه سي اوداخرت احوال به يي بد سي اوکه ووينې چي دخنزيرانو په مينځ کي ګرځي نو دليل يي دا دي چي دي حرام مال جمع کوي او خوشحاله به سي. او وايي چي په خوب کي دښځي خنزيري شيدي چيښل غم فکر اومصيبت دی او که وينې چي دخنزيرانو په مينځ کي ناست دی نو دليل يي دا دي چي پر دښمن به غالب سي اوکه ووينې چي خنزير دده پر شا راغلي دی او دده په مخکي دباندی راوتلي دی نو دليل يي دا دي چي دده ناپاکه مراد به پوره سي او که ووينې چي دخنزير غوښه ورسره ده ياچا ورکړي ده نو دليل يي دا دي چي حرام مال به حاصلوي اوکه ووينې چي دي دخنزيرانو پيوونکي دی نو دليل يي دادي چي دبي دينه اوبدکاره ټولګي مشر به وي. حضر جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دخنزير سره ځنګل ته تللي دی نو دليل يي دا دي چي دظالم او خراب سړی سره به دده جنګ وي او که ووينې چي دده سره دخنزير ويښته يا پوست ياهډوکي وی نو دليل يي دادي چي دهغه په اندازه به حرام مال حاصلوي.

خون امدن \ وينه راتلل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي وينه يي بغير دزخم څخه دده دبدن څخه راوتلي ده نودليل يي دادي چي ده ته به نقصان رسيږي اوکه پرخپل بدن زخم ووينې نو دا دمال دنقصان دغم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چي دي په توره وهل سوی دی اووينه يي بهيدلي ده نو دليل يي دا دي چي دده نقصان به اوږد سي اوپر هغه به ثواب حاصل کړي او که ووينې چي دزخم په وينه دده کالي خراب سوي دی نودليل يي دا دي چي حرام مال به حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي وينه چيښي نو دليل يي دا دي چي حرام مال به خوري يا به په ناحقه خون کوي اوکه ووينې چي دده په بدن کي سوري دی او دهغه څخه وينه يا نو بهيږي اوددە کالي يي خراب کړي دی نودليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به حرام مال حاصلوي او که ووينې چي وينه دده داندامِ مخصوص څخه راوتلي ده نو

دليل يي دا دي چې انجلي به په حمل کې ساقطه سي او که ووينې چې دده دلويو بولو دځاي څخه وينه راوتلې ده نو دليل يي دادي چې دهغه په اندازه به حرام مال حاصلوي اوکه ووينې چې دده دغابنونو دوريو څخه وينه راوتلې ده نودليل يي دا دي چې دخپلو اهل بيتو څخه به غم اوفکر حاصل کړي اوکه ووينې چې دښار په کوڅوکې وينه بهيږي نو دليل يي دا دي چې پر دغه ځاي کې به ډيره خونريزي کيږي. دانيال عليه السلام ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې دده دپوزی څخه وينه راوتلې ده نودا دحرام مال پيدا کيدو دليل دی که چيرې کالي يي نه وي باندې خراب سوي نودليل يي دا دي چې فقير به سي او دمال نقصان به يي هم زيات سي.

خيار \ بادرنګ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که بادرنګ په خوب کې ووينی نو دليل يي دا دي چې کومه ښځه غواړي دهغه څخه به ښه خبره واوري اوکه ووينې چې دبادرنګ څخه يي څه حصه خوړلې ده نو دليل يي دا دي چې دهغه ښځې څخه به يي مراد حاصل سي او دبادرنګ اوخټکي يو حکم دی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې بادرنګ ليدل په دروو وجو دی ۱: پرکار پښيماني ۲: خوشحالي او ارام ۳: دخپلوانو او انډيوالانو څخه فايده.

خيک \ مشک

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې مشک ليدل دزمري او مار مخ دی چې دهغه په لاس حرام مال خرچ کيږي او دشهدو مشك په خوب کې عالم او عقل ښودلو والا او رهبر سړی دی اوکه ووينې چې دده سره مشك دی يا يي اغوستي دی نو دليل يي دا دي چې دده به دداسي سړی سره صحبت وي چې دهغه څخه به خير اونفع ووينې اوکه ووينې چې مشك چا ځني پټ کړي يا يي ورك کړي دي نو دليل يي دا دي چې دداسي سړی سره به يي جدايي راسي.

خيمه \ تنبو

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك ووينې چې ده دځان لپاره تنبو لګولې دی اوپه هغه کې ناست دی نو دليل يي دادي چې که خيمه توره وي نو دهغه دغټ والي او کوچنيوالي مطابق به مال حاصل کړي اوکه سوداګر وي نوپه سفر به ځي اومال به حاصلوي اوکه يو لوی سړی داخوب ووينې نو پر غم اوفکر دليل دی اوکه تنبو زوړ وي نوزيات نقصان به وي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك ووينې چې دتنبو څخه دباندې راوتلې دی نوشرف اوبزرګي به حاصله کړي اوکه ووينې چې پاچا دتنبو په دروازه کې ناست دی نو دليل يي دا دي چې دده کار به نيك وي اوپر دښمن به کاميابه سي اوکه ووينې چې پاچا دی خپل تنبو ته راغوښتي دی او دي هلته ناست دی نو دليل يي دا دي چې دپاچا څخه به بزرګي حاصله کړي اوکار به يي په ښه انتظام سره وي.

خيو \ توکانې \ ناړې

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك ووينې چې ده ناوړې توکلي دی نو دليل يي دا دي چې ناجايزه خبره به کوي اوکه ووينې چې په جمات کې يي توکلي دی نو دليل يي دا دي چې ددين

Maktaba Tul Ishaat.com

په باره کي به غلطه خبره وکړي او دغه رقم چي پرکوم ځاي کي يي توکلي دی دليل يي دا دي چي دهغه ځاي والا په باره کي به خبره کوي اوکه ووينې چي پر مځکه يي توکلي دی نو خپل نقصان به ووينې اوکه ووينې چي په درخته يي توکلي دی نو دليل يي دا دي چي وعده خلافي به کوي اوددرواغو قسمونه به خوري. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي ګرمي ناوړي د ډير عمر دليل دی اويخي ناوړي په مرګ دليل دی او دا سرچپه دی او توري ناوړي پر غم اوفکر دليل دی او ژړي ناوړي پر ناجوړي دليل دي اوکه ناوړي دخولي څخه راووزي او کالي خراب نه کړي نو دليل يي دا دي چي په باطل او درواغ علم به تقرير کوي اوکه د دې اهل نه وي نو درواغ به وايي اوکه ووينې چي بلغم يي دمري څخه را ايستلي دي او په لستونې کي يي واچول نو دليل يي دا دي چي خپل مال به پراولاد خرچ کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي چا دده پرمخ دوينو څخه خرابي ناوړي توکلي دی نودليل يي دا دي چي څوک به دده اهل ته پيغور ورکوي اوکه ووينې چي وينه دناوړي سره ملاو سوه نو دليل يي دا دي چي حرام مال به خوري او درواغ به وايي او وعده به نه پوره کوي.

[د]

دارو

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي ده دناجوړي لپاره دارو خورلي دی او دهغه سره موافق دي نو دليل يي دا دي چي ددين اصلاح به تلاش کوي اوکه ووينې چي دارو يي خورلي دی اوموافق نه دی نو دليل يي دا دي چي ددين صلاح به دده څخه زايله سي اوکه ووينې چي د جوړيدو لپاره يي دارو خورلي دی نو دليل يي دا دي چي څونه موافق وي دهغه په قدر به ددنيا صلاح طلب کوي اوکه په خوب کي ووينې چي دخلکو لپاره دارو جوړوي نو دليل يي دا دي چي دالله پر مخلوق به احسان کوي اوکه ووينې چي دارو وچ سوي دی نو دليل يي دا دي چي دغم اوفکر څخه به خلاصون حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوک ووينې چي ده دارو خورلي دی اوډير دستونه يي سوي دی نو دليل يي دا دي چي ده ته به نقصان رسيږي اوکه د دې خلاف ووينې نونفع ده او که ووينې چي ده دارو خورلي دی اوعقل او هوش ځني تللي دی نو دليل يي دا دي چي دغم اوفکر څخه به خلاصون حاصل کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي کوم دارو ژړ وي هغه غم اوناجوړي ده او دکوم دارو دخورلو څخه چي يي کرکه وي هغه په ناجوړي دليل دی.

دارو چيني \ دال چيني

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي ده داروچيني خورلي ده نودليل يي دا دي چي دده دغم اوفکر به زيات سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوک ووينې چي ده داروچيني دخه ناجوړي لپاره خورلي ده او ده ته يي فايده ورکړي ده نو داپر خير اونفع دليل دی.

داغ کردن \ داغ لګول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي داغ لګول مال اوخزانه ده اوکه ووينې چي خلکو پر ده داغ لګولي دی نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به مال دالله تعالی په لاره کي خرڅ کړي او په اخرت کي به دعذابه څخه خلاص وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ددغه ځاي څخه وينه يا نو راوتلي دی نو دليل يي دا دي چي دپاچا په کور کي به مقيم سي او که وينه او نو نه وي نو دپاچا څخه به هيڅ نفع حاصله نه کړي. دانيال عليہ السلام ويلي دي چي که څوک ووينې چي ده دچا پر بدن داغ لګولي دی نو ددې تعبير خرابه خبره ده يا به په ده تهمت لګيږي اوکه ووينې چي دڅه ناجوړي څخه دده پرشا داغ لګيدلی دی نو دا ددين اودنيا دصلاح دليل دی او بعض اهل تعبيرو بيان کړي دی چي داغ لګول دپاچا په کارکي بنياد دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي داغ لګول زکوة منع کول او دپاچا سره مشغولتيا ده دالله تعالی فرمان دی (يوم يحمی عليها فی نار جهنم فتکوی بها جباهم وجنوبهم وظهورهم، سورة التوبة: ۳۵) ترجمه: په کومه ورځ چي ګرم کړي سي دا په اور دجهنم کي بس په دې به وداغل سي تندي ددوي او اړخونه ددوي او ملاګاني ددوي.

داس \ لور (دريبلو آله)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي که څوک په خوب کی ووينی چي دده په لاس کي لور دی نو دليل يي دا دي چي داسي اوزار به جوړوي چي په هغه به مال حاصل کړي اوکه ووينې چي دده څخه لور ضايع سوي دی نو دليل يي دادي چي دده دمال نقصان به وسي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي دده سره دسروزرو يا دسپينو زرو لور دی نو دليل يي دا دي چي دحرام مال يو شي به حاصلوي اوکه ووينې چي په هغه سره يي يو قيمتي شي پريکړي دی نو دليل يي دا دي چي مال اونعمت به حاصل کړي.

دام \ جال

دانيال عليہ السلام ويلي دي چي په خوب کي جال مکر اوحيله ده اوکه ووينی چي دده پښه په جال کي نغښتي ده نو ددې تعبير داولني خلاف دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي حيوان يي په جال کي راوستي دی نو کوم سړی چي د دې حيوان مالک دی هغه به په مکر او حيله سره په قبضه کي راولي.

دانها \ داني

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي داني که پخي وي يا کچه پرغم او فکر دلالت کوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوک په خوب کي ووينې چي داني په مځکه غورزيدلي دی نو دليل يي دا دي چي دهغه نرخ به ارزانه وي او څنګه چي داني ووينې چي که کورته يي راوړي يا يي په بوجي کي واچوي دليل يي دا دي چي هغه شي به ګران وي او که ووينې چي مړو خلکو ته داني ورکوي نو دليل يي دا دي چي هغه داني به ارزانه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د باغي کردن \ پوست رنګول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي پوست رنګول شغل او فرمان جاري کول دی اوکه په خوب کي ووينې چي پوست رنګوي نو دليل يې دا دي چي دا دپوستو رنګولو پيشه به اختيار کړي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دغورو لوټه امانتدار سړی دی او که ووينې چي دده سره دغورو کونجي ده يا چا ورکړي ده نودليل يې دا دي چي دده صحبت به دامانتدار سړی سره وي او دهغه څخه به خير اونفع وينې او دهغه غورو د ټيم مطابق به فايده پورته کوي اوکه ووينې چي کونجي زړه اوخيرنه ده نودليل يې دا دي چي ليدونکي ته به ضرر رسيږي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي ټيم ليدل په نهو وجو وي ١: امانتدار سړی ٢: ښځه ٣ : خادم ۴: ددين مضبوط والي ۵: دبدن صلاح ٦: ډير عمر ٧: مال او نعمت ٨: خير او برکت ٩: د ښځو دطرف څخه وراثت.

دبيري \ منشي توب

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي منشي توب کوي نو دليل يې دا دي چي دمړو مال به په حيله سره اخلي او دنه کولو کار به کوي اوکه ووينې چي دپاچا منشي جوړ سوي دی نو دليل يې دا دي چي دپاچا دخلکو څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي دعامو خلکو منشي توب کوي نو دليل يې دا دي چي دخلکو زړونه به پر ځان سوزوي. دانيال عليه السلام ويلي دی چي که څوك ووينې چي منشي سوي دی نو دليل يې دا دي چي دخلکو څخه به په مکر اوحيله سره روزي حاصلوي اوکه هوشيار منشي ووينې چي منشي توب کوي نو دليل يې دا دي چي ډير خير اونفع به حاصله کړي اوکه خوب ليدونکي عملدار يعني مزدور وي نو معزول به سي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي قران کريم او حديث شريف ليکي نو دليل يې دا دي چي دهغه جهان خير اونفع به حاصلوي اوکه ووينې چي غزلي او شعرونه ليکي نو دليل يې دا دي چي په عيش کي به مشغول سي اوکه ووينې چي خط ليکي او سياهي ښه ده نو دليل يې دادی چي خط به ليکي اوکه ووينې چي دده ليکل دشريعت خلاف دی نو دليل يې دا دي چي د دې سړی انجام به بد وي.

دبيرستان \ دفتر \ دمنشي ځاي

دمنشي ځاي په خوب کي ليدل دغم ځاي دی ليکن عاقبت به يې ښه وي او دنفعي او بزرګي دليل دی.

دجال

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي دجال په معلوم ځاي کي دليدلو دليل دا دي چي په هغه ځاي کي به فتنه راسي اوهلته به دروغجن خلک جمع سي او هلته به خير اوبرکت نه وي.

دختر \ لور

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي لور ليدل واده او خوشحالي ده اوکه په خوب کي ووينې چي دده لور پيدا سوي ده يا چا بخښش کړي ده نودليل يې دا دي چي دانجلي دښايست

او خوی مطابق به ده ته مال نعمت اوخوشحالي حاصله سي اوکه ووينې چې انجلي مړه سوي ده نو ددي تعبير داولني خلاف دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې انجلي ناقصه او خرابه ده نو دليل دغم دی اوکه ووينې چې انجلي يې په غيږ کې واخسته او بوي يې تلی نو دا پرخير اونفعي دليل دی اوکه ووينې چې خپله لور يې چا ته ورکړي ده نو دليل يې دا دي چې دده څخه به هغه سړی ته خوشحالي رسيږي.

دخنه \ دود

که څوک ووينې چې دځان څخه لاندې يې دعود دود کړي دی يا يې خوشبوداره شيان اينبي دی نو دليل يې دا دي چې کسب به زده کوي او دهغه څخه به نفع حاصله کړي او دخلکو سره به په خوشحالي اوعيش سره ژوند تيروي اوکه بد بويه وي نو تعبير يې د دې خلاف دی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې ددود تعبير په دروو وجو دی. ۱: کسب ۲: خير اونفع ۳: ښه بنياد.

دوګان \ شرمښان

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که څوک ووينې چې دده سره شرمښان دی ټول خره سوي دی يا يو خرا او بل غويي يا بوزه سوي ده نو دليل يې دا دي چې پر ده به روزي فراخه سي ليکن دده لپاره نقصان هم دی اوکه ووينې چې دده رمه ليوان سوي دی نو د دې تعبير داولني خلاف دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې دی دشرمښانو په شکل سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده عقل به زايل سي اوکه ووينې چې ليوان خبري ورسره کوي نو دليل يې دا دي چې پاچاهي به حاصلوي اوکه ووينې چې ليوان يې وژني نو دليل يې دا دي چې پر دښمن به کاميابي ورته حاصله سي.

دراج \ زرکه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې زرکه په خوب کې ښايسته ښځه ده ليکن بې محبته ده چې دخاوند سره مواقت نه کوي اوکه ووينې چې زرکه يې نيولې ده يا چا ورکړي ده نو دليل يې دا دي چې دا قسم ښځه به کوي اوکه ووينې چې دزرکي غوښه يې خوړلې ده نو دليل يې دا دي چې دهغه په مقدار به دښځي مال اخلي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که څوک ووينې چې دده سره ډيري زرکي دی اوپوهيږي چې دا دده دي نو دليل يې دا دي چې دهغه په اندازه به مينځي او ښځي حاصلي کړي اوکه ووينې چې زرکي دده دلاس څخه الوتلي دی نو دليل يې دا دي چې ښځي ته به طلاق ورکړي.

دراعه \ زغره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې ده نوي غټه فراخه اوشنه زغره اغوستې ده نو دليل يې دا دي چې دهغه په اندازه به ورته مرتبه او قوت حاصل سي اوبزرګي به حاصله کړي اوکه ووينې چې تنګه اوخيرنه زغره يې اغوستې نو د دې تعبير داولني خلاف دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې سپينه زغره يې اغوستې ده

Maktaba Tul Ishaat.com

نودليل يي دا دی چي مال نعمت اوبزرګي به حاصله کړي اوکه سره زغره يي اغوستي وي نو دليل دمصيبت دی اوکه توره وي نو دغم اوفکر دليل دی ليکن توره زغره قاضي اوخطيب ته نقصان نه ورکوي اوکه ووينې چي زغره يي دبدن څخه ايستلي ده نو دليل يي دا دي چي دښځي څخه به جلا سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي زغره ليدل په اوو وجو وي: ۱: خوشحالي ۲: قوت ۳: محبت ۴: بزرګي ۵: مرتبه اوولايت ۶: دکارونو انتظام ۷: ښځه.

در \ دروازه

دروازه په خوب کي ليدل ښځه ده اوکه څوك ووينې چي دمعلوم يا نامعلوم ځاي بندي دروازي ده ته خلاصي سوی دی اوکوم چي خلاصي سوي دی هغه دلاري طرفته دی نو دليل يي دا دي چي خپل مال به خرڅ کړي اوکه ووينې چي په کور کي دده برابر دروازه ماته ده نو دا دمصيبت او دلوي غم دليل دی. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي چا دده دکور دروازه ايستلي ده او وړي يي ده او چاته معلوم نه وي چي چيري يي وړي ده نو دا پر کور والا دمحنت او مصيبت دليل دی اوکه ووينې چي دده دکور دروازه بنده سوي ده نو دا پر کور والا دمصيبت دليل دی اوکه ووينې چي دده دکور دروازه وړه سوي ده نو دليل يي دا دي چي دده اولاد ته به افت رسيږي. اوکه ووينې چي دده دکور دروازه دټولو کورونو ددروازو څخه غټه ده نو دليل يي دا دي چي دده کور ته به نافرمانه قوم په قوت مصيبت او جنګ سره راځي اوکه ووينې چي ده دکور ددروازي زنجير وښوراوو که جواب ورته ملاو سوي وی نو دليل يي دا دي چي دده دعا به قبوله سي او ممکنه ده چي خزانه به حاصله کړي او که ووينې چي کله يي زنجير وشرنګاوو نو دروازه ژر خلاصه سوه نو دليل يي دا دي چي الله تعالی به دده دعا قبوله کړي اوپر دښمن به کاميابی حاصله کړي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دي چي که څوك ووينې چي ده نوي دروازه مضبوطه بنده کړي ده او قلف يي ورته لګولي دی نو دليل يي دا دي چي ښځه به يي مري يا به ورته طلاق ورکوي اوکه ووينې چي ده ترکان ته دنوي دروازي جوړلو لپاره ويلي دی د دې لپاره چي په کورکي يي ولګوي نو دليل يي دا دي چي پيغله مينځه به اخلي اوکه ووينې چي دده دکور پر دروازه زنجير نسته نو دليل يي دا دي چي کونډه ښځه به کوي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي چي که څوک ووينې چي دده دکور پر دروازه شرمښان راختلي دی او اوازونه کوي نو دليل يي دا دي چي ځوانه ښځه به دده دعيال قصد کوي اوکه ووينې چي داسمانونو دروازي خلاصي سوي دی نو دليل يي دا دي چي ددغه ملك پرخلکو به دخيرات دروازي خلاصي سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي دروازه ليدل په دروو وجو ده ۱: دکور مالك ۲: ښځه ۳: خادم.

دربان \ چوکيدار

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي دښار دروازه ووينې نو دليل يي دا دي چي دپاچا پاسبان او دربان به سي اوپه خوب کي دربان ليدل بزرګ سړی ليدل دي. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دربانې کوي نو دليل يي دا دي چي دده

مراد به ژر پوره سي او ديوه لوی سړی څخه به عزت او مرتبه حاصله کړي. اوکه ووينې چې چوکيداري کوي او دروازه نسته نودليل يې دا دي چې ديوچا په وجه به چې دده مراد وي هغه به پوره سي ليکن مرتبه به نه وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې دپاچا چوکيداري کوی نو دليل يې دا دي چې دپاچا مقرب به سي.

دربر ګرفتن \ په غيږ کې اخيستل

ددي شرح په حرف الف کې بيان سوي ده.

درختان \ درختي

دانيال عليہ السلام ويلي دی چې په خوب کې داسي درخته ليدل کوم چې دخلکو خوښه وي نو هغه شريف اوبزرګ سړی ليدل دی اوکه ذليله درخته ووينې نو پر بد سړی دليل دی اوکومه درخته چې ميوه داره وي نو دليل يې دا دي چې مالداره سړی به سي اوبې ميوو درخته پر فقير سړی دليل دی اوکومه درخته چې دعربو په ملک کې وی هغه پرځنګلي سړی دليل دی اوکومه درخته چې دعجمو په ملک کې وی هغه پرعجمي سړی دليل دی اوکومه درخته چې په باغ کې ووينې هغه د باغ دمالك پرمال دليل دی اوکه ووينې چې درخته يې دبيخه ايستلي ده نو دليل يې دا دي چې يو سړی به دمرتبې اونعمت څخه پرې باسي.

درخت خرما \ د خرما درخته

دخرما درخته په خوب کې ليدل پر شريف اوعالم سړی دليل دی اوکه ووينې چې دده سره دخرما درخته ده نو دليل يې دا دي چې دلوی سړی ملګري به سي اوکه دخرما درخته په باغ کې ووينې نو د دې تعبير دباغ مالك ته رجوع کوي.

درخت انبوس

درخت انبوس په خوب کې ليدل پرهغه سړی دليل دی کوم چې پخپل کار کې عاجزه وي اوبعض اهل تعبير وايي چې ښځه يا مينځه ده.

درخت الو \ دالوچي درخته

دالوچي درخته طبيب سړی دی چې هر چا ته فايده رسوي.

درخت بادام \ دبادام درخته

دبادام درخته ښايسته ښځه ده.

درخت انار \ د انار درخته

دانار درخته مالدار اونفعي والا سړی دی.

درخت پيپل \ د پيپل درخته

دپيپل درخته دمرچو درخته پر لوی سړی دليل دی.

درخت برګد \ دبړ درخته

دبړ درخته پر کرار او اطمينان والا سړی دليل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

درخت ترنج \ د ترنج درخته

دترنج درخته پر مخالف او خود رايي سړی باندي دليل دی.

درخت زيتون \ د خونه درخته

دخونه درخته پر اصيل اونسب والا سړی باندي دليل دی.

درخت حنظل \ د مړغوني درخته

دمړغوني درخته په فقير اوبي دينه سړی باندي دليل دی.

درخت زردالو دزردالو درخته

دزردالو درخته په مبارك سړی دليل دی چي خلكوته نفع ورسوي.

درخت سرو \ دسروي درخته

دسروي درخته پر عجمي خوش طبع سړی باندي دلالت كوي.

درخت سنجد \ دمرخنو درخته

دمرخنو درخته پر نازك مزاجه او دولت مند سړی باندي دليل دی.

درخت سيب \ د سيبو درخته

دسيبو درخته پر ناجوړه سړی باندي دليل دی.

درخت شمامه \ ځنگلي خربوزه

ځنگلي خربوزه پر تيز دولت مند سړی باندي دليل دی چي ژر به هلاك سي.

درخت شفتالو \ د شفتالو درخته

دشفتالو درخته پر عزت مند اوشرمناكه سړی باندي دليل دی.

درخت عود \ د عود درخته

دعودو درخته په ښايسته اوخوش زبانه سړی باندي دليل دی.

درخت فستق \ د پستې درخته

دپستي درخته پر مالدار اوبخيل سړی باندي دليل دی.

درخت گل \ د گلابو درخته

دگلابو درخته پر خوشحال سړی باندي دليل دی.

درخت فندوق (يو ډول ميوه)

فندوق په غريب اوسخت سړی باندي دلالت كوي چي بازي خوښوی.

درخت بلوط \ د څيړي درخته

دځيړي درخته په خوب كي ليدل پر بي خبره اومنافق سړی باندي دلالت كوي.

درخت غوزان \ د غوزانو درخته

دغوزانو درخته ليدل پر شريف اوځوان سړی دليل دی.

درخت جوز هندي \ د كوپړي درخته

دكوپړی درخته په عجمي سړي دليل دی چي دخلكو سره بخل كوي او دخپل اولاد سره سخت

وي اوکه ووينې چې درختي ته ختلي دی نو دليل يې دا دي چې دلوي سړی سره به ملاو سي او دهغه څخه به نفع اوبزرګي حاصله کړي.

درخت ليمون \ د ليمو درخته

دليمبو درخته ليدل په جادوګر يا نجومي سړی دليل دی.

درخت مورد \ د مانو درخته

دمانو درخته پر ناسازګان او ګران طبع سړی دليل دی.

درخت ني \ دنل درخته \ بانس

دبانس درخته پر بدخويه او چغل خور سړی دليل دی اوکومه درخته چې ميوه داره وی دهغه دميوی په قياس دهغه تعبير دی اوکه ووينې چې دميوه داره درختي څخه ميوي خوري نو دهغه ميوي په اندازه به مال حاصلوي اواهل تعبير بيان کړي دی چې په خوب کې پخپل کورکې درخته ليدل ښځه ده اوکه درخته دپاچا په کورکې ووينې نو دليل يې دادي چې دپاچا خدمتګار به سي اوکه درخته بغير دتنې څخه ووينې لکه دبادرنګ يا دختګې درخته نو د دې تعبيرکم همته خلک دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که ددرختي ريښې قوي ووينې نو دليل يې دا دي چې دمال زکوة به يې ورکړي وي کنې د دې خلاف دی او ددرختي پوستکي پر زوري دليل دی چې ددرختي دمالك لپاره وي او ددرختي ښاخونه وروڼه خپلوان اوزامن وي اوکه په درخته ډيري پانې ووينې نو دليل يې دا دي چې ددرختي مالك به خوش طبعه وي اوکه ووينې چې په درختي کې لږ ميوي دی نو د دې تعبير داولني خلاف دی او دوني ميوه دهغه پر مالك دليل دی چې پرهيزګاره او ديندار ه به وي اوکه ووينې چې درخته يې پريکړي ده او راويې غورزوله نو دا د درختي دمالك پرمرګ دليل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې درخته خوشبوداره ده او ميوه يې مزيداره ده نو دا پر مصلح اوپاك دينه سړی دليل دی اوکه ووينې چې درخته بې خونده او ازغې داره ده نو دا پر مفسد اوبې ديانته سړی باندې دليل دی. اوکه ووينې چې دده په کورکې يا دبل چا په کورکې کوچنۍ درخته ده نو دليل يې دا دي چې دده په کور کې به مصيبت راسي اوکه ووينې چې پخپل کور کې يې تخم کرلي دی نو دليل يې دا دي چې ددغه تخم په اندازه به ورته يو شي ملاو سي اوکه ووينې چې ديو پردي سړی پر مځکه يې درخته لګولي ده نو دليل يې دا دي چې ديو پردی سړي سره به صحبت او شرف او بزرګي حاصله کړي اوکه ووينې چې پخپل کور کې يې درخته لګولي ده نو دليل يې دا دی چې زوم به راولي اوکه ووينې چې ددرختي سر ته ختلي دی نو دليل يې دا دي چې دده کار به لوی وي اوکه ووينې چې ددرختي پانې جمع کوي دليل يې دا دی چې دهغه په اندازه به درهم حاصلوي اوکه ووينې چې ددرختو څخه ميوه حاصلوي نو دليل يې دا دي چې دده نسل اوزامن به زيات وي اوکه ډيري ميوي داره درختي ووينې اوپيژني چې دا دده ملکيت دی نو دليل يې دا دي چې دده عمر به زيات وي اوفتح اوبزرګي به حاصله کړي اوکه ووينې چې درخته يې پريکړي ده نو دليل يې دا دي چې ناجوړه به سي يا به دده په خپلوانوکي څوك مري اوکه دخزان

Maktaba Tul Ishaat.com

په موسم کي په يو نامعلوم باغ کي ووينې چې ددرختو پانې غورځيږي نو دا دغم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چې درختې دده سره خبرې کوي نودليل يې دا دي چې داسې کار به وکړي چې په هغه سره به خلک حيران سي اوکه ووينې چې درخته يې ديو ځای څخه را ايستلې ده نو دليل يې دا دي چې ناجوړه به سي يا دکوم ځای څخه چې يې درخته ايستلې وي هلته به څوک مري. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که څوک درختې پريکړه سوي يا وچې ووينې نو دليل يې دا دي چې خلک به بې دينه وي اوکه درخته ښه ووينې نو دليل يې دا دي چې دده دين به ښه وي اوڅونه چې په درختو کي نقصان ووينې نو دا دده پر نقصان دليل دی اوکه ووينې چې ددرختې ترسايې لاندې ناست دی يا بيده دی نودليل يې دا دي چې دداسې سړی سايې ته به ځي چې دهغه به ددغه درختې سره نسبت وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې درخته په خوب کي ليدل په لسو وجو ده ۱: پاچا ۲: ښځه ۳: سوداګر ۴: مرد ميدان ۵: عالم ۶: ايماندار ۷: کافر ۸: مددګار ۹: جنګ ۱۰: دشک مال.

دردانداما \ دبدن او بندنو درد

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کي ووينې چې دده بندونه درد کوي نو دليل يې دا دي چې دده دقبضې څخه به مال ځي اوکه ووينې چې دده سر درد کوي نودليل يې دا دي چې ډير ګناهونه يې کړي دی توبه دی وکړي اوصدقه دی ورکړي دالله تعالی فرمان دی (فمن كان منكم مريضا او به اذی من راسه ففدية من صيام او صدقة اونسك، سورة البقرة: ۱۹۶) ترجمه: څوک چې په تاسو کي ناجوړه وي يا په سر کي تکليف وي نو دروژو فديه يا صدقه دی ادا کړي، اوکه ووينې چې دده تندی درد کوي نو دا ددين پر فساد غم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چې دده سترګه درد کوي نو دليل يې دا دي چې څوک به ده ته دحق لاره ښيي اوکه ووينې چې دده وږه درد کوي يا دده په ژبه کي نقصان دی نو دليل يې دا دي چې دچا څخه به خرابه خبره اوري اوکه ووينې چې دده پوزه درد کوي يا دده په ژبه کي نقصان دی نو دليل يې دا دی چې داسې خبره به کوي چې دهغه وبال به پرده راسي اوکه داخوب سوداګر ووينې نو دليل يې دا دي چې په سوداګري کي به درواغ وايي اوکه خپله ژبه پريکړه سوي ووينې نو دا د اصلاح او پرهيزګاري دليل دی اوکه ووينې چې دده تالو درد کوي اوپرسيدلي دی نو دليل يې دا دي چې دچا دحق څخه به انکار کوي اوکه ووينې چې دده خوله درد کوي نو دليل يې دا دي چې دخپلوانو څخه به غم حاصل کړي اوکه ووينې چې دده څټ درد کوي نودليل يې دا دي چې دده پر ذمه امانت دی او هغه نه ادا کوي اوکه ووينې چې دده نس درد کوي نو دليل يې دا دي چې ده حرام مال خوړلی دی اوکه ووينې چې دده ملا درد کوي نو دليل يې دا دي چې دخپلوانو په وجه به درد حاصل کړي اوناجوړه به سي اوکه ووينې چې دده زړه درد کوي نو دليل يې دا دي چې پرخپلو زامنو به مهربانه وي اوکه دلاس درد ووينې نو دليل يې دا دي چې دهمسايه پر ورور به ظلم کوي اوکه ووينې چې ګوته يې درد کوي نو دليل يې دا دي چې بدي داره به وي او که ووينې چې نو يې

درد کوي نو دليل يي دا دي چي خپل اولاد به تنګوي اوکه ووينې چي دده پر عضو تناسل درد دی نو دليل يي دا دي چي فساد به کوي اوکه ووينې چي دده دلويو بولو پر ځاي درد دی نو دليل يي دا دي چي فساد اوحرام به کوي اوکه ووينې چي دده پر کوناټو درد دی نو دليل يي دا دي چي پر خپلوانو او دوستانو به ظلم کوي او که ووينې چي دده پښه درد کوي نودليل يي دا دي چي په خپلوانو او دوستانو به ظلم کوي او که ووينې چي دده پر بدن داغ دی نو دليل يي دا دي چي مال به حاصلوي.

درهم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دخلکو طبعيتونه مختلف دی اوکوم سړی چي په خوب کي درهم ووينې نو په ويښه ددرهم حاصليدو دليل دی اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي څوك په خوب کي درهم ووينې نو دليل يي دا دي چي نيکه خبره به اوري يا به دالله تعالی تسبيح بيانوي اوکه ووينې چي درهم سپين دی نو د دې تعبير ډير ښه دی اوکه درهم تور وي نو پر جنګ دليل دی اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي که ووينې چي په کوچنيوالي يې درهم پيدا کړي دی نو دا پر کوچني زوی دليل دی اوکه ووينې چي دده څخه درهم ورك سوي دی يا ځني چا پټ کړي دی نو دليل يي دا دي چي دکوچني زوی په وجه به دده پر زړه بوج راځي اوکه ووينې چي کوچني درهم ځني ضايع سوي دی اوبيا يي پيداکړي دی نو دليل يي دا دي چي دغه بوج به دده دزړه څخه زايل سي او که بيا يي نه وي حاصل کړي نودليل يي دا دي چي دده زوی به هلاک سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي درهم په لاس کي لرل ښه خبره ده اومات سوي درهم خرابه خبره ده او ډير درهمونه مال دی اوکه ووينې چي پخپل اولاد يي پخپل لاس درهمونه تقسيم کړي دی نو دليل يي دا دي چي ددوي ترمينځ به جنګ کيږي. اوکه ووينې چي ډير درهمونه په کور کي لري نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به مال حاصل کړي او که ووينې چي ډير درهمونه يي جمع کړي دی نو دليل يي دا دي چي خلک به دحق اوباطل څخه منع کوي دالله تعالی فرمان دی (جمع مالا وعدده يحسب ان ماله اخلده، سورة الهمزة: ۲ –۳) ترجمه: مال يي جمع کړي اوشمار يي کړی ګمان کوي چي دده مال به هميشه وي اوکه يو سپين درهم پخپل تلي کي ووينې نو دليل يي دا دي چي زوی به يي مړ پيداسي اوکه ووينې چي دغه درهم دده څخه ورك سو نودا دزوی پرمرګ دليل دی اوکه په خوب کي درهم ددينارو په بدله کي حاصل کړي نو دليل يي دا دي چي حلال مال اونعمت به جمع کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که سپين درهم په خوب کي ووينې نو تور درهم به حاصلوي او ډير خلک په خوب کي درهم وينې او په ويښه يي حاصلوي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي صفا درهم په خوب کي ددين صفايي ده او مات سوي درهم جنګ دی اوکه ووينې چي پاچا ورته درهم ورکړي دی نو دا دغم اوفکر څخه دخلاصون دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي درهم ليدل په يولسو وجو دی ۱: سمي خبري ۲: مراد پوره کيدل ۳ : ولايت ۴: مال جمع کول ۵: ملګري ۶:

Maktaba Tul Ishaat.com

زوی ۷: فتنه ۸: دروزي فراخي ۹: امن ۱۰: مینځه ۱۱: درهم پیدا کول خاصکر که خوب لیدونکي پرهیزګار وي اوکه پرهیزګار نه وي نو دزامنو په زحمت غم اوفکر دلیل دی لیکن مات سوي درهم په خوب کي لیدل په څلورو وجو دی ۱: خرابه خبره ۲: جنګ ۳: بند اوقید ۴: خبري.

درمنه (یوه دوا ده)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چي درمنه په خوب کي لیدل پر غم او فکر دلیل دی اوددي خوړل دمال او د اولاد پر نقصان دلیل دی.

دروغ ګفتن \ درواغ ویل

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي درواغ ویل ددین پر تباهي او پر فساد دلیل دی اوکه ووینې چي ده ددرواغو ګواهي ورکړي ده نو دلیل یي دا دي چي دده دین به تباه سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي باچا درواغ ویلي دی نو دلیل یي دا دي چي خلک به دهغه بدي اوخرابي کوي او دهغه عزت او حفاظت به ختم سي.

درودګري کردن \ لرګي تراشل

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي لرګي تراشلو والا دخلکو خیرخوا دی لیکن صحبت یي دمنافقانو سره دي او بي مذهبه دی او دهغو پر رایه چلیږي ځکه چي لرګو والا په خوب کي لیدل په نفاق دلیل دي دالله تعالی فرمان دی (کانهم خشب مسندة، سورة المنافقون: ٤) ترجمه: ګویا چي ولاړ لګول سوي لرګي دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي دلرګو تراشلو والا دهلکانو معلم دی چي جاهلانو اوکم عقلانو ته پوهه ښیي اودخلکو دکارونو مصلح او تدبیر کوونکي دی او هغوي دفساد او دنفاق دلاري څخه لیري کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي ترکانو دخلکو معلم دی.

درویشي \ فقیري

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي فقیري دمالداري څخه ښه دی خاصکر که په صلاح او ددین په لاره کي وی که څوك ووینې چي دي فقیر سوي دی نو دا پر درستوالي ددین دلیل دی اوکه ووینې چي مالدار سوي دی نو د دې تعبیر داولني څخه خلاف دی. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که چا په خوب کي مسلمان فقیر ته خیرات ورکړ نو دلیل یي دا دي چي دغمونو او تکلیفونو څخه به خلاص سي اوکه ووینې چي دخلکو په دروازو کي ډوډي غواړي او ګرځي نو دلیل یي دا دي چي ده ته به خیر اونفع ورسیږي.

دریا \ دریاب \ سمندر

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي دریاب پاچا یا لوی عالم دی او که ووینې چي ددریاب اوبه روښانه صفا او خوندوري دی نو دلیل یي دا دي چي پاچا به پرهیزګاره عدل کوونکي او انصاف کوونکي وي اوکه ووینې چي ددریاب اوبه خرابی اوتروی سوي دی

نودليل يي دا دي چي باچا به فسادي او ظالم وي اوکه ووينې چي ده ددرياب څخه اوبه چينبلي دی نو دليل يي دا دي چي دپاچا څخه به عزت اومرتبه حاصلوي اويابه دعالم څخه نفع حاصلوي اوکه ووينې چي ددرياب څخه يي اوبه منګي ته اچولي دی نودليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به دپاچا څخه نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي په درياب کي ډوب سوي دی اوبدن يي دختو څخه ډك سوي دی نو دليل يي دا دي چي ده ته به دپاچا څخه غم اوفکر ورسيږي اوکه ووينې چي خپل بدن يي دختو څخه پاك کړي وي نو دليل يي دا دي چي دده غم اوفکر به ختم سي اوکه ووينې چي ددرياب په اوبو کي لمبيږي نو دليل يي دا دي چي پاچا به دي قيدي کړي اوکه ووينې چي ددرياب څخه په لمبيدو وتلي دی نو دليل يي دا دي چي دقيد څخه به خلاص سي او که ووينې چي په درياب کي غرق سوي دی اومړ سوي دی نو دليل يي دا دي چي ددين په لاره کي به مصروف سي اوکه ووينې چي دليري څخه يي درياب ليدلي دی اونزدي ورته نه دی تللي نو دليل يي دا دی چي دده اميد به پوره سي اوکه ووينې چي په درياب کي تير سوي دی اوپښي يي نه دی لندي سوي نودليل يي دا دي چي ددوړخ داور څخه به په امن کي وي او ددنيا کارونه به باندي اسانه سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دی په درياب کي دی نو دليل يي دا دي چي دپاچا په خدمت کي به تابعدار اوفضيلت والا سي او که ووينې چي ددرياب مينځ ته تللي دی نودليل يي دا دي چي دده کار به خطرناکه وی اوکه ووينې چي ددرياب څخه راوتلي دی نو دليل يي دی چي بی غمه به وي اوکه ووينې چي ددرياب څخه يي يخي اوبه چينبلي دی او خوب ليدونکي عالم وي نو دليل يي دا دي چي پوره نصيب به حاصل کړي اوکه خوب ليدونکي پوره عالم نه وي نو د دې تعبير داول څخه خلاف دی دالله تعالی فرمان دی (قل لو کان البحر مدادا لکلمات ربی لنفد البحر قبل ان تنفد کلمات ربی، سورة الکهف: ۱۰۹) ترجمه: ووايه چي که درياب زما درب دکلماتو لپاره رنګ سي نو زما درب دکلماتو دختميدو څخه اول به درياب ختم سي اوکه خوب ليدونکي دپاچا دخلکو څخه وي نو دليل يي دا دي چي دپاچا دمعتبرو خلکو څخه به سي اوکه ووينې چي ددرياب په اوبو يي ځان پريولي وی نو دليل يي دا دي چي دپاچا څخه به امن حاصل کړي اوکه ووينې چي ددرياب ګرمي اوبه يي چينبلي دی نو دليل يي دا دي چي ګناه به کوي دالله تعالی فرمان دی (يتجرعه ولا يکاد يسيغه، سورة ابراهيم: ۱۷) ترجمه: دابه په ګوټ ګوټ چينبي خو تيري به يي نه کړي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي ددرياب په اوبو کي تللي دی نو دليل يي دا دي چي دعبادت توفيق به حاصل کړي اوامانت به ادا کړي اوکه ووينې چي ددرياب اوبه يي چښلي دي نو دليل يي دا دي چي پر دښمن به کاميابه سي اوکه ووينې چي ددرياب اوبه زياتي سوي دی نودليل يي دا دي چي پاچا په دلښکر سره هلاک سي. اوکه ووينې چي ديو ځاي څخه چي پورته سوي دی او ټوله دنيا په وريځو باندي تاريکه سوي ده نودليل يي دا دي چي ددغه ملك خلک

Maktaba Tul Ishaat.com

به نافرمانه اوګنهګاره وي دالله تعالی فرمان دی (من فوقه موج ومن فوقه سحاب، سورة النور: ٤٠) ترجمه: پر دوي لوړ څپې دی اوپر دوي لوړ وريځي دی. اوکه ووينې چې په درياب کې ښکار نيسي نو دليل يې دا دي چې حلاله روزي به حاصله کړي او دده په عيال به ژوند فراخ وي دالله تعالی فرمان دی (احل لکم صيد البحر وطعامه متاعا لکم، سورة المائدة: ٩٦) ترجمه: ستاسو لپاره ددرياب ښکار حلال دی او ددي خوراك ستاسو لپاره سرمايه دی. اوکه ووينې چې ددرياب اوبه تروي دی نو دليل يې دا دي چې حرام مال به خوري اوکه ووينې چې ددرياب اوبه خرابی سوي دی اودي ښکار پکې نيسي نودليل يې دا دي چې دی به هلاک سي دالله تعالی فرمان دی (واسئلهم عن القرية التي كانت حاضرة البحر، سورة الاعراف: ١٦٢) ترجمه: دهغه کلي والاوو څخه پوښتنه وکړه چې پر درياب باندي حاضر وو اوکه ووينې چې ددرياب څخه يې ياقوت او مرجان را ايستلي دی نودليل يې دا دي چې ددين په علم زده کولو کې به مشغول سي اوکه اهل علم وي نوعلم به يې نور زيات سي اوکه ووينې چې ددرياب څخه يې مګرمچ نيولي دی اووژلي يې دی نو دليل يې دا دي چې دپاچا دښمن به دده په لاس مړ کړه سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې درياب ليدل په شپږو وجودی ۱: پاچا ۲: حاکم ۳: رئيس۴: مال ۵: عالم ۶: لوی کار.

دژ \ قلعه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې ده قلعه جوړه کړي ده نو دا دده دښمنه والي دليل دی اوکه ووينې چې خپله قلعه يې خرابه کړي ده نو دا دده ددين پر تباهي او فساد دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که قلعه يې په خوب کې دپخي مسالي او پخو خښتو څخه جوړه کړي وي نو دليل يې دا دي چې دوړخي به وي اوکه ووينې چې دخټي او خښتو څخه يې جوړه کړيده نودليل يې دا دي چې جنتي به وي. اوکه په قلعه کې مقيم وي نو دا ددين دصلاح او دسمي لاري دليل دی اوکه ووينې چې هروخت قلعه ته ننوځي اوراوځي نو دليل يې دا دي چې ددين په لاره کې به کامل نه وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که خپل ځان په قلعه کې ووينې نو دا پر صلاح ددين دليل دی اوکه د دې خلاف ووينې نو دا ددين پر کمزورتيا اوتباهي دلالت کوي.

دزدي کردن \ غلا کول

اوکه ووينې چې دچا مال يې پټ کړي دی او څه يې خرڅ کړي دی نو دليل يې دا دي چې دی به مړ کيږي اوکه ووينې چې دغلا نيت يې وکړی ليکن غلا يې نه وکړه نو دليل يې دا دي چې خرابي خبري به چا ته رسوي اوبعضي وايي چې ناجوړه به سي اوبيا به شفا حاصله کړي اوکه ووينې چې دده دکور څخه يې څه پټ کړي دی نودليل يې دا دي چې ده ته به څه افت يا غم رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې دغل په لاس قيد سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده حال به بد سي اوپه غم اوفکر کې به ګرفتار سي اوکه ووينې چې غلو ډاکه باندي اچولي ده نو دليل يې دا دي چې دغه سړی به غم، اوفکر وينې. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ

ويلي دي چي غلا په خوب کي ناجوړي ده اواهل تعبير بيان کړي دی چي چيري غلا وکړي هلته دزوم والي دليل دی يابه يي زوی پيداسي اوکه دخوب ليدونکي زوی غايب وي نوپه سلامتي سره به بيرته راسي. دانيال عليه السلام ويلي دی چي په خوب کي غل ليدل خيانت اوحيله ده.

دستار \ لنگوټه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي لنگوټه ليدل دين دی اوکه ووينې چي دده لنگوټه سپينه ياشنه يا ژړ رنگه يا دستر دی نو دا ددين دصلاح دليل دی اوکه ووينې چي سپينه او پاکه لنگوټه لري نو دليل يي دا دي چي ددين او دنيا اصلاح به وي او دريښمو لنگوټه ددنيا په کارونو کي درستي ده اوکه ووينې چي دده دلنگوټي سره بله لنگوټه مښتي ده نو دليل يي دا دي چي دده بزرگي اومرتبه به زياته سي اوکه ووينې چي دده لنگوټه را ايله ده يا ورکه سوي ده نو دا ددين دنقصان او دده دبي حرمتي دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که خپله لنگوټه پټه سوي ووينې نو دده دمرتبي او دقدر دنقصان دليل دی اوکه ووينې چي لنگوټه يي پيچلي ده اوښه يي ساتي نو دليل يي دا دي چي ددنيا دارو اودينداروسره به موافقت کوي او که نقشداره لنگوټه لري نو دليل يي دا دی چي په سفر کي به په خلکو کي مشهوره سي اوکه ووينې چي دده لنگوټه اوکالي شنه دی نودليل يي دا دي چي ددنيا څخه به په شهادت ځي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي څونه لنگوټه غټه وي دده مرتبه اوعزت به زيات سي اوکه ووينې چي دده لنگوټه خيرنه ده نودا دده دمرتبي او دعزت او نقصان دليل دی اوکه سره لنگوټه ووينې نو دليل يي دا دي چي پر چابه ظلم کوي اوکه ژړه يي ووينې نو دليل يي دا دي چي ناجوړه به سي اوکه اودلي لنگوټه ووينې نو دليل يي دا دي چي ده ته به مصيبت رسيږي اوکه توره ووينې نو ده ته به نقصان او ضرر رسيږي ليکن دخطيب اوقاضي لپاره نقصان نه دی اوکه پر سر دريښمو لنگوټه ووينې نو دليل يي دا دي چي منصف اوحاکم به سي او خلک به يي عزت کوي اوکه ووينې چي اوږده لنگوټه يي تړلي ده نودليل يي دا دي چي دسفر څخه به ژر راسي او دريښمو توپی ددين پرفساد دليل دی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي لنگوټه ليدل په اوو وجوده ۱: دين ۲: رياست ۳ : عمل ۴: ولايت ۵: مرتبه ۶: توانايي ۷: سفر.

دستار حمامي \ د حمامي دسمال

ان شاءالله د دې بيان به په حرف ميم کي راځي.

دست اس \ ميچن

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي ميچن ليدل دفکر څخه خلاصون دی اوکه ووينې چي دده سره ميچن ده نودليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به نعمت حاصل کړي اوکه ووينې چي دميچن کانی مات سوي دی نو دليل يي دا دي چي ميچن والا به هلاک سي يابه سخت ناجوړه سي اوکه ووينې چي په ميچن يي نکريزي وغيره اوړه کړي دی نو دا دجنګ دليل دی.

دست \ لاس

دانيال عليه السلام ويلي دی چي دراسته لاس تعبير ورور دی او دچپه لاس تعبير خور ده که څوک

Maktaba Tul Ishaat.com

وويني چي دده راسته لاس اوږد سوي دی نو دليل يي دا دي چي دده دورور يا دده دشريك كار به نيك وي اوكه وويني چي دده دواړه لاسونه بيا كوچني سوي دی نو دليل يي دادی چي دده ورور او خور به دده څخه مخ واړوي اوكه وويني چي دده دواړه لاسونه لنډ سوي دی نو دليل يي دا دي چي دخپل ورور ياخور څخه به نفع حاصله كړي اوكه وويني چي دده دواړه لاسونه پريكړه سوي دی او را ايله سوي دی نو دليل يي دا دي چي دده ورور او خور به دده په ژوند كي دده څخه جلا سي اوكه وويني چي ده دواړه لاسونه پر سينه ايښي دی نو دليل يي دا دي چي دخپلو دوستانو لپاره به غم خوري. اوكه وويني چي دخلكو په مينځ كي دی اولاسونه ښوروي نو دليل يي دا دي چي په دغه ځاي كي به واده كوي اوكه وويني چي يواځي لاس وهي او خوشحاله كيږي نودا دغم او فكر دليل دی اوكه وويني چي پاچا ياقاضي دده راسته لاس پريكړي دی نو د ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ دوينا مطابق به دده ورور يا خور يا زوی مري اوكه دده دواړه لاسونه يي پريكړي دی نو دليل يي دا دي چي دخپل كسب اومراد څخه به منع سي اوكه وويني چي ده په يو لاس سره دبل لاس پوست ايستلي دی نو دليل يي دا دي چي په خپلوانو به ظلم كوي. اوكه وويني چي خپل لاس يي په چاړه سره پريكړي دی نو دليل يي دا دي چي دچا سره به جنګ كوي يا به دده زړه په چامشغول سی دالله تعالی فرمان دی (وقطعن ايديهن، سورة يوسف: ۳۱) ترجمه: او دوي خپل لاسونه پريكړل. اوكه وويني چي خپل يو تلي په بل تلي پريولي نو دليل يي دا دي چي دخپلوانو څخه به ښځه كوي اوكه وويني چي دده يي يولاس پريكړي دی او پهانسي كړي يي دی نو دليل يي دا دي چي ددغه ځاي امير به معزول سي اوكه وويني چي دحيوانانو په ډول پرلاس او پښو ګرځي اومخ يي داسمان طرفته كړي دی نو دليل يي دا دي چي ناممكنه ارمان به تلاش كوي او په مشكله به پوره سي او كه وويني چي دده لاس پيدايشي وچ دی نو دليل يي دا دي چي دصدقي ور كولو او دكار خير څخه به عاجز وي ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك وويني چي دده لاسونه په ستني سره درست سويدی نو دليل يي دا دي چي دده همت به دعلم اودعقل په تعليم سره وي، اوكه وويني چي دده لاس پري سويدی او دانه پيژني چي راسته لاس يي پري سوي دی كه چپه لاس نو دليل يي دا دي چي ده ته به مصيبت رسيږي اوكه وويني چي كله دده لاس پري كيدی هغه وخت ده قران مجيد ويلو نو دليل يي دا دي چي لاس به يې دګناه څخه منع سي. او اهل تعبيرو بيان كړي دی چي په خوب كي لاس پري سوي ليدل دليل لري چي عمر به يي زيات سي اوګناه پريښول اوپه كار كي مشغولتيا ده اوكه وويني چي دده راسته لاس دځه ګناه په وجه پري سوي دی نو دليل يي دا دي چي دروا غجن اوبي ديانته به وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي كه څوك وويني چي په څټ كي يي خپل لاس را ځړولي دی نو دا دلمونځ طاعت جهاد او دنيك كار پر ځاي راوړو دليل دی. اوكه وويني چي دده راسته لاس پري سوي دی نو دليل يي دا دي چي ددرواغو قسمونه به خوري او كه وويني چي دده لاس پري سوي دی او دوخت دپاچا پر بدن لګيدلی دی كه پاچا

مصلح وي نو پر شر او فساد دليل دی اوکه ووينې چې دده يو لاس دبل لاس څخه ډير اوږد سوي دی نو دليل يې دا دي چې قوت اومرتبه به يې زياته سي او څه چې طلب کوي هغه به حاصل کړي. اوکه ووينې چې دي په دواړو لاسونو ګرځي نو دليل يې دا دي چې پخپل کار به يې بهروسه وي اواهل تعبيرو بيان کړي دی چې دخپلوانو څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چې دده لاسونه او پښې دده سره خبري کوي نو دليل يې دا دي چې دده ژوند به ښه وي اوکه ووينې چې دخپل اندېوال لپاره يې ملغلري په لاس کې نيولي دی نودليل يې دا دي چې ټول قران مجيد به په ناظره وايي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که څوک ووينې چې دده لاس دپاچا په ډول سوي دی نو دليل يې دا دي چې بزرګي او يا پاچاهي به حاصله کړي اوکه ووينې چې دده راسته لاس دسرو زرو سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده دولت به ختم سي اوکه ووينې چې خپل لاس يې په صابون پريولي دی نو دليل يې دا دي چې نا اميده به سي اوکه ووينې چې دکوم حيوان تعبير نيك دی هغه دده په چپه لاس ننوتلي او دراسته لاس څخه دباندي را وتلي دی يا په راسته لاس ننوتلي او دچپه لاس څخه دباندي راوتلي دی نو دليل يې دا دي چې دغم څخه به خلاص سي او اخري انجام به يې ښه وي اوکه هغه حيوان په تعبير کی بد وي نو دليل يې دا دي چې پر يو کمزوري به ظلم کوي. اوکه ووينې چې دده لاس وچ سويدی نودا دده دصحت پر خرابيدو دليل دی اوکه ووينې چې دده لاس چا ژوندي يا مړي پخپل لاس کې نيولي دی يا دده څټ ته يې لاس اچولي دی نودليل يې دا دي چې دده عمر به زيات سي اوکه ووينې چې دچا مشرك لاس ته يې کړي اچولي ده نو دليل يې دا دي چې هغه مشرک به دده په لاس اسلام راوړي دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې لاس ليدل په دولسو وجو دی ۱: ورور ۲: خور ۳: شريك ۴: اندېوال ۵: زوی ۶: ملګري ۷: قوت ۸ : طاقت ۹: ولايت ۱۰: مال ۱۱: محبت ۱۲: پيشه او صنعت وغيره.

دست کړی\رنجن کړی\دلاس کړی

دست اورنجن هغه کړي ده چې په لاس کې يې اچوي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې کړي دښځو لپاره خاوند دی اودسړو لپاره غم اوفکر دی اوکه ووينې چې دسپينو زرو کړي ورسره ده نو دليل يې دا دي چې غم اوفکر په يې کم وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په خوب کې ووينې چې چا کړی ورته ورکړي ده نو دليل يې دا دي چې دده ورور يا زوی به پيدا سي اوکه داخوب ښځه ووينې نو خاوند به کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په خوب کې ووينې چې دده په دواړو لاسونو کې کړي ده نو دليل يې دا دي چې ده ته به مال او نعمت په غم سره ملاو سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کی کړی ليدل په پنځو وجو دی ۱: رياست ۲: حکومت ۳: مکر ۴: غم ۵: ورور يا زوی.

دست وروی شتن\مخ او لاس پريوالل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که څوک ووينې چې ده مخ او لاس په صفا اوبو پريولی دی نو دليل يې دا دي چې دغم څخه به خلاصون حاصل کړي که ناجوړه وي نو شفا به حاصله کړي که

Maktaba Tul Ishaat.com

قرضدار وي نو دقرض څخه به خلاص سي اوکه ووينې چې يې دلاس پريولو څخه لمونځ کوي نو دليل يې دا دي چې دده دين به کمزوري وی اومال به يې دلاسه ولاړ سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې دواړه لاسونه او مخ يې پريولي نو دليل يې دا دی چې دخپلو دوستانو څخه به مدد غواړي اوکه ووينې چې مخ او لاس يې پريولی او دده اودس دغه وخت مات سوي وو نو دليل يې دا دي چې پخپل کسب اوګټه کې به عاجز سي اوکه ووينې چې دده اودس مات سوي دی او بيايې مخ او لاس پريولي دي اولمونځ يې شروع کړيدی ليکن ختم کړي يې نه دی نو دليل يې دا دي چې دده عمر اخري سوي دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې څوك ووينې چې چا دده مخ او لاس پريولي دی او هغه سوچ پکښې کوي نو دليل يې دا دي چې دده مراد به پوره سي.

دستينه \ لاستی دچړې وغيره

کړه يا لاستي په خوب کې دسړو لپاره دښځو څخه غوره دی ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې دده په لاس کې داوسپنې کړه ده نو دليل يې دا دي چې قوت والا او مالدار به سي اوپه دښمن به کاميابی حاصل کړي خاصکر که دفولادو کړه وي د دې تعبير دلاس دکړي مطابق دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې کړه ليدل په دروو وجو وی ۱: قوت او توانايي ۲: پر دښمن بري حاصلول ۳: ددنيا دکار انتظام.

دښمن

که په خوب کې ووينې چې پر دښمن يې غلبه کړي ده نو دليل يې دا دي چې مراد به يې پوره سي اوکه دښمن غلبه باندي کړي وی نو د دې تعبير داول خلاف دی اوکه ووينې چې دښمن دی خوړلي دی نودليل يې دا دي چې په بلا او مصيبت کې به راسي توبه ايستل پکار دی چې بلا دفع سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دښمن په خوب کې ليدل په دروو وجو دی ۱: دکارونو بنديدل ۲: غم اوفکر ۳: دمال تاوان.

دشنام \ بنکنځل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې چا ورته بنکنځل کړي دی نو دليل يې دا دي چې حال به يې نيك سي اوپر بنکنځل کوونکي به کاميابی حاصله کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې چا ورته بنکنځل کړي دی نو دليل يې دا دي چې هغه سړی به پر ده کاميابی حاصله کړي.

دعا کردن \ دعا کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دعا کول مراد حاصلول دی اوکه ووينې چې دځان لپاره يې دعا اوبخښنه غوښتي ده نو دليل يې دا دي چې دده خاتمه او کار به په خير سره وي او مراد به يې پوره سي او که ووينې چې دچا مصلح لپاره يې دعا کړي ده نو دليل يې دا دي چې دظلم اوفساد طرفته به مايل نه وي او امر بالمعروف به پر ځاي راوړي اوکه ووينې چې دمخلوق لپاره دعا غواړي نو دليل يې دا دي چې دمخلوق خيرخوا به وي او مراد به يې پوره

سي اوکه ووينې چې خاصکر دعا غواړي نو دليل يې دادي چې زوی به يې پيداسي دالله تعالی فرمان دی (اذ نادی ربه نداء خفيا، سورة مريم: ۳) ترجمه: کله چې يې خپل رب ته په پټه اواز کوي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوک ووينې چې په تاريکه کې دعا غواړي که مصلح او پرهيزګار وي نوالله تعالی به يې وبخښي اومراد به يې پوره سي اوکه خوب ليدونکي مفسد وي نو توبه کوي او که کافر وي نو مسلمان به سي.

دفزدن\نغاره وهل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې نغاره وهل دامر معروف کولو دليل دی اوکه ووينې چې نغاره وهي نو دليل يې دا دي چې دچا اصلاح به کوي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې داستاذ په طور نغاره وهي نو دليل يې دا دي چې بدکاره ښځه به کوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې دنغاري اواز اوريدل خوشحالي ده او که دمينځې څخه يې واوري نو ښه دی اوکه دسړی څخه يې واوري نو دولت او بزرګي به حاصله کړي اوکه دځوان څخه يې واوري نو دا دکارونو ښکاره کيدو دليل دی.

دلالي کردن\دلالي کول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې دلالي کول په څلورو وجو دی ۱: دخلکو ترمينځ صلح کول ۲: رسته لاره ۳: نيک کار ۴: امر بالمعروف په ځاي راوړل او دلال داسي سړی دی چې دخلکو لارښونه کوي دخير طرف ته به لار ښيي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې دلالي کول په پورته ذکر سوي څلورو وجو ده.

دل\زړه

دبدن دښار باچا زړه دی اوبدن دده پر فرمان قايم دی اوپه ښکاره اوباطن کې زړه دعقل خزانه ده. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې زړه ليدل درسيدلي مال جمع کول دی اوکه ووينې چې زړه دده دبدن څخه دباندي دی نو دا پر صلاح اونيکي دليل دی دالله تعالی فرمان دی (حتی اذا فزع عن قلوبهم قالوا ماذا قال ربکم قالو الحق، سورة سبا: ۲۳) ترجمه تردي پوري چې کله ددوي زړونه وبيريږي نو دوي به ووايي چې ستا رب څه وايي هغوي به ووايي چې حق يې وويل اوکه ووينې چې زړه يې تنګ سوي دی نو دليل يې دا دي چې کارونه به باندي تنګ سي اوکه ووينې چې زړه يې خوشحاله دی نو دليل يې دا دي چې کارونه به باندي فراخ سي او که زړه بند ووينې نو دليل يې دا دي چې دګناه څخه به توبه وباسي دالله تعالی فرمان دی (افلا يتدبرون القران ام علی قلوب اقفالها، سورة محمد: ۲٤) ترجمه: دوي ولي په قران کې سوچ نه کوي يا ددوي پر زړونو قلف لګيدلي دی. که زړه په لاس کې ووينې نو دليل يې دا دي چې ناجوړه به سي اوکه ووينې چې زړه يې په دواړو لاسونو کې نيولي دی نو دليل يې دا دي چې دده کارونه به پوره سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوک ووينې چې دده زړه درد کوي نو دليل يې دا دي چې مال به

Maktaba Tul Ishaat.com

يي زيات سي اوکه ووينې چې دده دزړه سترګې خلاصې دی نو دليل يي دا دي چې ددواړو جهانونو پرکار به حرصناکه اومتوجه سي. اوکه ووينې چې دده دزړه څخه وينه وزي نو دليل يي دا دي چې دنه کوونکي کار څخه به توبه وکړي او دالله تعالی طرفته به رجوع وکړي اوکه ووينې چې دده دزړه څخه صفرا وتلي ده نو دليل يي دا دي چې ناجوړه به سي اوکه ووينې چې دده زړه ته زخم رسيدلي دی نو دليل يي دا دي چې بي غمه به سي اوکه ووينې چې دزړه څخه يي ملغلري وتلي دی اوپه خوله يي ملغلري غورزولي دی نو دليل يي دا دي چې کافر به سي اوکه ووينې چې ملغلره يي دځمکې څخه لوړه کړه او ووينې خوړه نو دليل يي دا دي چې بيا به مسلمان سي اوکه ووينې چې دزړه څخه يي ملغلره ووتله او دهغه څخه يي جواهرات پرمځکه وغورزول او ملغلري يي وخوړې نو دليل يي دا دي چې پنځه سره لمونځونه به پريږدي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې دده زړه ټکړي ټکړي سوي دی نو دليل يي دا دي چې په ناممکنه حرصونو کې به خپل زړه لګوي اوکه ووينې چې دده زړه روښانه دی نو دا ددين دصلاح دليل دی اوکه ووينې چې دده پرزړه تياره ده نو د دې تعبير داولنې خلاف دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې زړه ليدل په لسو وجو دی ۱: مال ۲: رياست ۳: زوی ۴: بهادري ۵: ځوانمردی ۶: حرص۷: قوت ۸: مدد ۹: شهوت ۱۰: خپل احوال پټ ساتل.

دنبال\لکۍ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې دده داس ياخره يا غوايي په ډول لکۍ سوي ده نو دليل يي دا دي چې دهغه په اندازه به مال اونعمت حاصل کړي اوکه ووينې چې دده په لاس کې دداسې حيوان لکي ده دکوم غوښه چې حرامه ده نو دليل يي دا دي چې حرام مال به حاصل کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې په خوب کې لکی ليدل په څلورو وجو وی. ۱: اخستل خرڅول ۲: باران ۳: مال ۴ : خوشحالي اوعيش.

دنبل\ننګي\دانه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې پر ده ننګي ده نو دليل يي دا دي چې دننګي په اندازه به دده مال زيات سي اوکه ووينې چې ننګي ماته سوي ده اووينه ځني وتلي ده نو دليل يي دا دي چې دهغه په اندازه به دده مال ورک سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې دننګی څخه وينه او نو وزي او دي يي څټي نو دليل يي دا دي چې دهغه په اندازه به حرام مال حاصل کړي اوکه ووينې چې ده پر ننګي دارو لګولي دی او کالي يي دوينې څخه پريولي دی نو دليل يي دا دي چې دحرامو څخه به توبه کوي.

دنبه\ګډ\پسه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې پسه دمال بټوه ده چې دهغه حفاظت کوي يا دنبځي مال دی دهغه دغټ والي او کوچني والي په اعتبار سره اوکه ووينې چې کچه يعني مزدور پسه يي خوړلي دی نو دليل يي دا دي چې مشتبه مال به خوري اوکه ووينې چې پوخ سوي پسه يي خوړلي دی نو دليل يي دا دي چې دده دنبمن به دده دمال څخه څه خوري. ابراهيم

کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي ده ته دپسه په ډول لم لګیدلي دی نو دلیل یې دا دي چي دده زوی به راځي چي ددولت اومرتبې خاوند به وي او روزي به یې فراخه وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي پسه لیدل دسرو زرو تیلې ده.

دندان \ غاښونه

دانیال علیہ السلام ویلي دی چي په خوب کي غاښونه دخاندان خلک دی لوړ غاښونه پر نر دلیل لري او لاندي غاښونه پر ښځه دلیل لري او مخکي غاښونه پر زامنو ورونو اوخوندو یا پر مور اوپلار دلیل لري او داړخ غاښونه پر اکا او داکا پرزامنو باندي دلیل لري او وروستني غاښونه په نورو خپلوانو دلیل لري او دغاښونو سپین والي او پاکوالي دکور والاوو پرقوت او مرتبې دلیل لري. اوبعض اهل تعبیرو بیان کړي دی چي په اولو غاښونو کي کوم راسته طرفته دی هغه دده پر پلار او خپلوانو دلیل لري اوکوم چي چپه طرفته دی هغه پر مور او دمور پر خپلوانو دلیل لري او که ووینې چي دده اولني غاښونه خیرې نو دده په خاندان کي به یو سړی ناجوړه سي. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي دده اولني غاښونه په تلی کي یا په غیږ کي یا په مځکه کي را ایله دی اوپه خاور خراب سوي نه دی نو دلیل یې دا دي چي دده به زوی یا ورور یا خور پیدا کیږي اوکه ووینې چي دده غاښونه په خاورو کي را ایله سوي دی یا ورك سوي دی نو دلیل یې دا دي چي ددوي څخه به کوم چي بیان یې وسو څوك مري اوکه ووینې چي دده غاښونه مات سوي دی یا خراب سوي دی نودلیل یې دا دي چي په بیان سوي خلکو کي به په یوافت راځي اوکه ووینې چي دده اولني غاښونه ټکیدلي دی نودلیل یې دا دي چي ددوي سره به دده دښمني وي اوکه ووینې چي دغاښونو څخه یې یو ایستلي دی نو دلیل یې دا دي چي دغه کسان به ده ته سختي خرابي خبري کوي او دده څخه به جدایي تلاش کوي. اوکه ووینې چي دده اولني غاښونه زیات سویدی نو دلیل یې دا دي چي دده په خپلوانو کي به یو په راحت او خوشحالي کي وي اوکه ووینې چي دده دغاښونو په اړخ کي یوبل غاښ راختلي دی که لاندي وي نو انجلي به پیدا کیږي اوکه دلوړه څخه وي نو هلك به پیدا کیږي اوکه ووینې چي ده خپل اولني غاښونه ایستلي دی نو دلیل یې دا دي چي دلوړ ذکر سوي خپلوانو څخه به خپل تاوان اخلي اوکه ووینې چي ټول غاښونه یې را ایله سول او حال یې ښکاره سو نو دا دخاوند دخلکو پر هلاکت دلیل لري اوکه ووینې چي دده غاښونه دلاس په تلي کي یاپه غیږ کي را ایله سول نو دلیل یې دا دي چي دده خاندان به زیات سي اوکه ووینې چي دده ټول غاښونه لاندي طرفته دی که خوب لیدونکي داهل اصلاح څخه وي نو پر خیر اونیکي دلیل دی اوکه داهل شر څخه وي نو پر شر اوفساد دلیل لري اوکه ووینې چي دده غاښونه دسپینو زرو دی یا دشیشي یا دټیکري دی نو دا دده پرهلاکت دلیل لري اواهل تعبیر بیان کړي دی چي دغاښونو را ایله کیدل قرض ادا کول دی اوبعض وایي چي پرجنګ دلیل لري. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چي لوړ غاښونه کوم چي دسترګو په مقابل کي دی پر نر اولاد دلیل لري او لاندني غاښونه پر ښځینه اولاد دلیل لري. اوکه ووینې چي ټول غاښونه یې په غیږ کي

Maktaba Tul Ishaat.com

را ايله دی اوده دلاس په تلي کی اخيستي دی نو دليل يي دادی چي خپلوان به جمع کوي او هغوي به جدايي ته نه پريږدی اوکه ووينې چي دده دغاښونو څخه خوشبويي راځي نو دليل يي دا دي چي دده خپلوان به دده تعريف کوي او که د دې خلاف ووينې نو دليل يي دا دي چي دده غيبت به کوی او که ووينې چي دده غاښونه درد کوي نو دا پر غم اوفکر دليل دی او که ووينې چي دده غاښونه ژړ سوي دی نو دليل يي دا دي چي کوم سړی دده طرف ته منسوب دی هغه به ناجوړه سي او که ووينې چي دده غاښونه تور سوي دی نودليل يي دا دي چي ده ته به غم اوفکر ورسيږي اوکه ووينې چي دده غاښونه را ايله سويدی او بيا يي ښه مضبوط ټرلي دی نودليل يي دا دي چي دده عمر به زيات وي او دده ټول خپلوان به دده په مخکي قبر ته ځي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي غاښونه يي درد کوی اوهغه يي پخپل لاس ايستلي دی اوپه دواړو لاسونو کي يي اخيستي دی دليل يي دا دي چي ډير مال به حاصل کړي اوکه ووينې چي دچا دخولي څخه يي دوينو خراب غاښونه په لاس کي نيولي دی نودليل يي دا دي چي دچا غاښونه يي نيولي دی هغه ته به نفع وي ليکن ده ته به نقصان رسيږي او که ووينې چي دده بعضي غاښونه ښکاره دی نو دليل لي دا دي چي دده بعض خپلوان به يې په سفر ځي اوپه سلامتي سره به بيرته راځي اوکه ووينې چي دده ټول غاښونه دژبې په مينځ کي جمع سوي دی او بيا ټول پرخپل ځاي لګيدلي دی نو دليل يي دادي چي دخپلوانو څخه به شکي سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي غاښونه ليدل په شپږو وجو دی ۱: اهل بيت ۲: مال ۳: نفع ۴: غم اوفکر ۵: جدايي ۶: ضرر او نقصان.

دهان\خوله

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي خوله دکارونو کيلي اودهغه خاتمه ده او څه چي دخولي څخه وځي هغه په جوهر او کلام دليل لري نيك وي اوکه بد څه چي په خوله کي وي که دنياوي وي که په کراهت ستغ او ترخه سره په خوله کي وي نو په ژوند کي دمحنت او غم دليل دی او څه چي په خوله کي خواږه و اوپه اساني سره تيريږي نو داپه روزګار خوشحالي او ژوند دليل دی. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي دده خوله په سختي سره ټرلي سوي ده نو دليل يي دا دي چي هلاک به سي اوکه و وينې چي دده خوله دغنمو يا داور بشو داوړو څخه ډکه سوي ده نو دليل يي دا دي چي دده مرګ نزدی دی اوکه دده خوله پراخه سوي ده اوډير خوراك پکي راځي نو دليل يي دا دي چي دده مرګ نزدی دی اوکه دده خوله پراخه سوي وی او ډير خوراك پکي راځي نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به نعمت اوروزي ورته ملاو سي اوکه ووينې چي دده خوله ښه ده نو نيکه خبره به اوري اوکه ووينې چي دده دخولي څخه وينه وتلي ده نو دليل يي دا دي چي دچا سره به خبري کوي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده د خولي څخه چينجي يا يو بل حيوان وتلي دی نو دليل يي دا دي چي دده په عيال کي به يو جلا سي. اوکه ووينې چي دده د خولي څخه مرداري وتلي ده نودليل يي دا دي چي کوم سلوك يي کړي وي هغه به په احسان اچولو سره خرابوي اوکه ووينې چي دده د

خولي څخه ملغلري راوتلي دی او خلکو لوړي کړي دی نو دليل يې دا دي چې خلک به دده دعلم څخه فايده اخلي اوکه ووينې چې چا دده پر خوله مهر لګولي دی او دمهر لګوونکي پته نه وي نو دليل يې دادي چې رسوا به سي دالله تعالی فرمان دي (اليوم نختم على افواههم وتكلمنا ايديهم وتشهد ارجلهم، سورة يٰسين: ٦٥) ترجمه: نن به موږ ددوي پر خولو مهر ولګوو او زمونږ سره به ددوي لاسونه خبري کوي او ددوي پښې به ګواهي ورکوي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې د خولي څخه يې څخه ښه شيان وتلي دی نو دليل يې دا دي چې دښه مطلب خبري به کوي اوکه د دې خلاف ووينې نو تعبير يې خلاف دی اوکه ووينې چې څه شي يې په خوله کې ايښې دی اوهغه شي ښه وو نو دليل يې دا دي چې حلال شي به خوري. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې خوله ليدل په اووه وجو ده ۱: منزل ۲: خزانه ۳: دکارونو خلاصول ۴: مال ۵: حاجت ۶: وزير ۷: دربان.

دهل زدن \ ډول وهل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې ډول وهل بې فايدي کار خرابه خبره درواغ ښکاره کار او روښانه دی او د دې ټولو تعبير دا دي چې ډول وهل بد دی اوکه ووينې چې ډول سره شپيلۍ وهي او نڅا کوي نو دا پر غم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چې صرف ډول وهي نو دا د باطلو خبرو دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې ډول وهل مختلف خبرونه او بې فايدي خبري دی.

دهليز \ درشل

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې درشل خادم دی اوکه ووينې چې په درشل رونق دی نو ښه دی اوپر تندرستي دليل دی يا دکوم دخادم پرانتظار دليل دی اوکه ووينې چې درشل خرابه ده نو د دې تعبير داول خلاف دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که دکور درشل ديوال دښتو او خټو وي نو دليل يې دا دي چې دکور خادم به مفسد اوبې دينه وي.

دوال \ د پوست تسمه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې تسمه ليدل پر خير اونفع دليل دی دهغه حيوان دقيمت په اندازه دکوم چې يې پوست او تسمه جوړه کړي وی اوکه ووينې چې د پوست تسمه يې ټکړي کړي کړي ده يا يې ورکه کړي ده نو دليل يې دا دی چې دهغه په اندازه به ورته ضرر رسيږي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې د پوست ډيري تسمې ورسره دی او هغه تسمه دحلال حيوان د پوست دی دليل يې دا دی چې حلال مال به حاصلوي اوکه ددی خلاف ووينې نو حرام مال به حاصلوي.

دوختن جامه \ د کالو ګنډل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې خپل کالي ګنډي نو دليل يې دا دي چې دده کار به مراد ته ورسيږي او حال به يې ښه سي اوکه دخپل اولاد کالي ګنډي نو

Maktaba Tul Ishaat.com

بيايي هم دغه تعبير دی اوکه ووينې چې دپردې ښځې کالي ګنډې نو دليل يې دا دي چې ده ته به غم او نقصان رسيږي که ووينې چې ديو سړی کالي ګنډې نودليل يې دا دي چې خير اونيکي به ووينې اوکه ووينې چې ستن يې په لاس کې ده او ټول کالي يې ګنډلي دی نو دليل يې دا دي چې کوم کار دده په مخکې دی هغه به ختم کړي اوکه ووينې چې دده په کورکې ډيری ګنډل سوي جامې دی نو دليل يې دا دي چې دده ژوند به فراخ وي او پوره مال به په وراثت کې حاصلوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې دځان لپاره يې قميص ګنډې او تمام يې کړی نو دليل يې دا دي چې داولاد سره به يې موافقت وي اوکه و وينې چې پرتوګ يې ګنډلي دی خو بډه يې نه ده ورته پوره کړي نو دليل يې دا دي چې ښځه به کوي او په اخر کې به دهغه څخه جلا سي اوکه ووينې چې چوغه کوټ يا چوغانه يې ګنډلي ده نو دليل يې دا دي چې په خدمت کې به مشغول سي اوکه ووينې چې داولاد کالي ګنډې نو دليل يې دا دي چې داولاد په خبروکې به مشغول سي اوکه ووينې چې د پريوللل سوو کالو لپاره تار غړي نودليل يې دا دي چې اولاد به د يو ځای څخه بل ځای ته بدل کړي اوکه ووينې چې دخپل اولاد لپاره دريښمو کالي ګنډې نو دليل يې دا دي چې غمجن به سي او دګناه په تهمت کې به فکر حاصل کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې درزي هغه سړی دی چې خراب شيان جمع کوي او په اصلاح کې يې راولي.

دود

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دود ظالم پاچا دی اوکه ووينې چې دمشرق يا دمغرب دطرف څخه ډير دود دی نو دليل يې دا دي چې ددغه ملک خلک به دظالم پاچا دلاسه ظلم او زياتي وړي اوکه ووينې چې په دنيا کې دود پورته سوي دی او اور شغلي وهي نو دليل يې دا دي چې په جهان کې به فتنه راسي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې په ښار يا ولايت کې داور څخه بغير دود ښکاره سويدی نو دليل يې دا دي چې هلته به دالله تعالی دطرف څخه بيره وي اوکه ووينې چې دکور څخه يا دده د خولې څخه دود وزي نو دليل يې دا دي چې ظالم پاچا به ده ته ضرر او نقصان رسوي يا به تاوان باندې اچوي اومال به ځنې په زور اخلي.

دوږخ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې دی په دوږخ کې دی اودباندې دی وتلې دی نو دليل يې دا دي چې ګنهګاره اوبد عمله دی ده ته توبه ايستل په کار دی اوکه دوږخ ووينې اوده ته ځنې څه تکليف نه وي رسيدلي نو دليل يې دا دي چې په غم اوفکر کې به ګرفتار سي او په اخر کې سلامیتا به حاصلوي اوکه ووينې چې په دوږخ کې مقيم دی او داور ته نه وي معلوم چې کله دی ته راغلې دی نو دليل يې دا دي چې هميشه به په دنيا کې په روزي پسې ګرځي او که ووينې چې ددوږخيانو خوراك چيښاك خوري اوپه اور کې سوزي نودليل يې دا دي چې په دنيا کې به بدعمله وي اوپه اخرت کې به پر ده وبال وي اوکه ووينې چې دي فرشتې دتندې

دوييښتانو څخه نيولي دی او دوزخ ته يې غورزولي دی نودليل يې دا دي چې دخوب ليدونکي لپاره دبدبختي علامت دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که خپل ځان په دوزخ کې ووينې نو دليل يې دا دي چې په ګناهونو کولو کې به زړور وي اوکه ووينې چې زقوم او ايشيدلي اوبه چيښې نو دليل يې دا دي چې په باطل علم اوجهالت کې به مشغول سي. اوکه ووينې چې توره يې ايستلي ده او جهنم ته تللی دی نو دليل يې دا دي چې فحش اوخرابي خبري به کوي اوکه ووينې چې په دوزخ کې يې څه خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې ديتيم مال به خوري اوکه ووينې چې ده ددوزخ خواته اور بل کړي دی نو دليل يې دا دي چې يو سخت کار به ده ته پيښيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې دي دوزخ ته په راکشولو بيول سوي دی نو دليل يې دا دي چې په اخرکې به کافر سي دالله تعالی فرمان دي (يوم يسحبون فی النار علی وجوههم ذوقوا مس سقر، سورة القمر: ٤٨) ترجمه: په کومه ورځ چې دمخ دطرفه را کشول کيږي اوپه دوزخ کې واچول سي نو ددوزخ عذاب به وڅکي. اوکه ووينې چې دوزخ ته تللي دی او بيا دباندي راغلي دی نو دليل يې دا دي چې کوم ګناهونه يې کړي دی دهغه څخه به توبه کوي اوکه ووينې چې دي يې دوزخ ته بيولي دی او ده فرياد هم نه دی کړي نو دا دده په کفر دليل دی دالله تعالی فرمان دی (قال اخسئوا فيها ولا تكلمون، سورة المومنون: ١٠٨) ترجمه: حکم به وسي چې دي ته ځي او زما سره خبري مه کوي. اوکه ووينې چې ده ددوزخ اواز اوريدلي دی نو دليل يې دا دي چې ده ته به دپاچاهي هيبت اوسياست رسيږي اوکه ووينې چې دي ددوزخ خواته دی نودليل يې دا دي چې دنيا به پر ده تنګه سي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دوزخ ليدل په شپږو وجو دی ١: دالله تعالی غضب ٢: په ګناه کې اخته کيدل ٣: دپاچا ظلم ۴: ددنيا تنګي ۵: غم او مصيبت ٦: دده دوزخي کيدل.

دوشاب\رس

دوشاب دانګور يا دجوارو رس چې دوي شپې باندي تيري سي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې رس لږ مال اونعمت دی اوکه ووينې چې رس يې چيښلي دی نو دليل يې دا دي چې دهغه په اندازه مال به حاصلوي اوکه ووينې چې رس جوړوي نو دليل يې دا دي چې داسي کار به کوي چې په هغه سره به مال اونفع حاصلوي اوکه ووينې چې رس جوړوي نو دليل يې دا دي چې داسي کار به کوي چې په هغه سره به مال اخلي اوکه ووينې چې دده په خوله کې رس دی نو دليل يې دا دي چې دچا څخه به ښه خبره اوري. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې دده سره سپين اوپاک رس دی نو دليل يې دا دي چې دده به ښايسته زوی پيداسي.

دوش\اوږه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې اوږه په خوب کې دسړی لپاره ښايست دی اوکه ووينې چې دده ښي اوږه کمزوري سوي يا ماته سوي ده نو ددې تعبير داولني خلاف دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې دده اوږه مضبوطه او درسته ده نو دليل يې دا دي چې دده په

Maktaba Tul Ishaat.com

ذمه به امانت وي او دنا اميده ځاي څخه به مال حاصلوي.

دوشيزګي \ پيغلتوب

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي که څوك ووينې چي ده دپيغلي ښځي سره نکاح کړي ده نو دليل يي دا دي چي حرام مال به حاصل کړي او که پيغله ښځه نه وي او دي په خوب کي ووينې چي پيغله ده نو دا ددغه سړی پر ستر او پرهيزګار کيدو دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمه الله ويلي دی چي که سړی په خوب کي ووينې چي ده ته پيغله ښځه ملاو سوي ده نو دليل يي دا دي چي په دغه کال به پيغله ښځه کوي يا به مينځه اخلي.

دوغ \ شلومبې

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي شلومبي خړخول غم اوفکر دی او د دې چينبل ناجوړي ده اواهل تعبير بيان کړي دی چي په خوب کي شلومبي چينبل حرام مال حاصلول دی ځکه چي د دې څخه کوچي ايستل سويدی اوکه ووينې چي چا شلومبي ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي هغه سړی به غمجن وي.

دکان

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي دکان يي جوړ کړي دی نو دليل يي دا دي چي ښځه به کوي اوکه ووينې چي دکان يي خراب کړي دی نو دليل يي دا دي چي ښځي ته به طلاق ورکړي اوکه ووينې چي دکان را ايله سوي دی نو دليل يي دا دي چي ښځه به يي مري اوکه ووينې چي دمالک داجازت څخه بغير دهغه په دکان کي ناست دی نو دليل يي دا دي چي دچا پرعيال به تصرف کوي. جعفر صادق رحمه الله ويلي دی چي دکان په خوب کي ليدل په شپږو وجو دی ۱: ښځه ۲ : ژوند ۳: عزت اومرتبه ۴: نيکي ۵: لوړوالی ۶: که نوي دکان وي نو مرتبه به حاصله کړي.

دوک \ څرخه

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي څرخه پر انجلي دليل دی که سړی ووينې چي ده څرخه اخيستي ده اوپه هغه کي دوه پرکي دي نو دليل يي دا دي چي دانجلي نکاح به کوي اوکه ووينې چي څرخه ماته سوي ده نو دليل يي دا دي چي دده لور يا خور به مري. ابراهيم کرمانی رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي څرخه مسافر سړی دی اوکه ووينې چي دده سره څرخه ده يا چا ورکړی ده نو دليل يي دا دي چي دمسافر سړی نکاح به کوي اوکه ووينې چي دده دڅرخي څخه پرکي را ايله دی نو دليل يي دی چي دده دښځي محبت به دخاوند سره ختم سي. جابر مغربی رحمه الله ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دي څرخه صحيح کوي نو دليل يي دا دي چي غمجن به سي اوکه داخوب ښځه ووينې نو دليل يي دا دي چي بي غمه به سي او داهم وايي چي څرخه دلاله ښځه ده.

دولاب \ ارهټ

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي ارهټ خزانه ده او داباد کور دنعمت څخه ډك والي

دی که وويني چي ارهټ جوړوي که د دې اهل نه وي نو دليل يي دا دي چي خپله خزانه جوړوي اوکه د دې داهل څخه نه وي نو دليل يي دا دي چي دبل چا لپاره خزانه جوړوي اوکه وويني چي پاچا يا لوی سړی ورته ارهټ ور کړي دی نو دليل يي دا دي چي دپاچا خپله خزانه يا دهغه دکور خزانه به ده ته ملاو سي اوکه وويني چي دارهټ څخه اوبه چيښي يا يي جمع کوي نو دليل يي دا دي چي ده ته به دخزانچي څخه نفع ورسيږي.

دلو \ بوکه \ سلواغه

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي بوکه داسي سړی دی چي نه پيژندل سوي مال را وباسي اوکه وويني چي بوکه داوبو څخه ډکه ده يا په بوکی سره اوبه را باسي نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به تکليف اوسختي حاصله کړي اوکه وويني چي دده سره دصفا اوبو څخه ډکه سوي بوکه ده يا چا ورکړي ده نو دليل يي دا دي چي ده ته به په اساني سره مال ملاو سي اوکه وويني چي په بوکه کي دوالي اوبه راوړی نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به دي مال حاصلوي او دامال به په مکر اوحيله سره حاصلوي اوکه وويني چي په بوکه سره پر مځکه اوبه غورزوي نو دليل يي دا دي چي مال به په نيکي کي خرڅ کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك وويني چي دده سره غټه بوکه ده يا چا ورکړي ده نو دليل يي دا دي چي دمالدار سړی سره به دوستي کوي او دهغه څخه به نفع حاصله کړي.

دوات

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك وويني چي دده سره دوات دی يا چا ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي دخپلوانو سره به جنګ کوي اوکه وويني چي په دوات ليکل کوي نو دليل يي دا دي چي دده څخه به کار اخيري حد ته ورسيږي اوکه وويني چي دوات مات سوي دی يا چا پټ کړي دی يا ورك سوي دی نو دليل يي دا دي چي دکونډی ښځي څخه به نفرت کوي اوکه وويني چي په قلم سره په دوات کي سياهي اچوي نو دليل يي دا دي چي دده به زوی پيداسي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك وويني چي دسرو زرو دوات ورسره دی نو دليل يي دا دي چي فکرمند به سي اوکه وويني چي دسپينو زرو دوات ورسره دی نو دليل يي دا دي چي ښځه به کوي يا به مينځه اخلي اوکه وويني چي دده دوات دپيتلو دی نو دليل يي دا دي چي نفع به حاصله کړي اوکه داوسپني دوات وويني نودليل يي دا دي چي په کاروبار کي به طاقت حاصلوي اوکه داوسپني دوات وويني نودليل يي دادي چي ده ته به يولړشي ملاو سي.

دويدن \ ځغستل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي وويني چي پخپله ځغلي يا حيوانان ځغلوي نو دليل يي دا دي چي په سفر به ځي او خونده چي زيات ځغلي دهغه په اندازه به سفر اوږدوي اوکه وويني چي پرتيار کړي اس باندي سپور دی اوهغه ځغلوي نو دليل يي دا دي چي دعيال سره به په سفر ځي او مال به حاصل کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك وويني چي په ځغاسته کي دچا څخه مخکي کيدی نو دليل يي دا دي چي دمال په حرص کي به

Maktaba Tul Ishaat.com

دهغه څخه مخکي سي اوکه ووينې چې په ځغاسته کې عاجز سوي دی اوارام يې کړي دی نو دليل يې دا دي چې دنيا به پريږدی او صبرناك به سي.

ديبا\ريښم

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې ريښم د دې جهان خير او اصلاح ده که ښځه ريښيم ووينې نو تعبير يې ښه دی اوکه سړی ووينې چې ده دريښمو چوغه اغوستې ده اوجهاد کوي نو دليل يې دا دي چې په دين اودنيا کې به عزت اومرتبه حاصله کړي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي چې که ښځه ووينې چې دي د شنو ريښمو چوغه اوقميص اغوستي دی نو د ليل يې دا دي چې دغه ښځه به ديندار اوامانت داره وي اوکه ووينې چې سپين وريښم يې اغوستي دی نو دا ددي پر پرهيزګاري دليل دی اوکه اسمانی رنګه ريښم وی نو دليل يې دا دي چې پر دي به مصيبت راځي اوکه تور ريښم ووينې نو دليل يې دا دي چې غمجنه به سي اوپه خوب کې ريښم جوړونکي سړی مسافر دی چې ددنيا اصلاح او ددين خرابی کوي او دپريانو او ښاپيريو يوقسم ريښم تعبير دديبا دريښمو دتعبير برابر دی.

ديګ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې نوي ديګ ښځه ده. اواهل تعبيرو بيان کړي دی چې ديګ دکور مالك دی که په خوب کې ووينې چې ده سره ديګ دی يا چا ورکړي دی او ده پر اور ايښي دی او دخوراك څه شي يې باندې پوخ کړي دی نو دليل يې دا دی چې په يوه وجه به ورته دپاچا څخه نفع اومال ورسيږي اوکه ووينې چې دده سره داوسپنی يا دکانی ديګ دی نو دليل يې دا دي چې ددي په اندازه به فايده حاصله کړي اوکه ديګ دخاورو وي نو دليل يې دا دي چې داسي کار به وکړي چې دهغه په وجه به ورته دکور دسردار څخه فايده رسيږي اوکه ووينې چې ديګ يې پر اور ايښي دی او دخوراك څه شي پکښې نسته نو دليل يې دا دي چې چا ته به داسي کار ښيي چې دهغه څخه دده نفرت وي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې ديګ په خوب کې دکور مالک يا مالکه دی اوکه ووينې چې په ديګ کې غوښه يا دخوراك څه شي دی نو دليل يې دا دي چې ده ته به وريجې دخوراك لپاره ملاويږي اوکه ووينې چې دده ديګ مات سويدی نو دليل يې دا دي چې دکور مالك او بي بي دواړه به مري. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې ديګ ليدل په پنځو وجو دی. ۱: دکور مالک ۲: دکور بي بي ۳: رئيس ۴: خادم ۵: دکارونو ذمه وار.

ديګدان\نغری

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې نغري په دوه وجو دی ۱: دکور مالک ۲ : دکور ښځه که په خوب کې ووينې چې دده سره نغري دی يا چا ورکړي دی نو دليل يې دا دي چې ښځه به کورته راولي که ښځه و وينې چې نغري مات سوي دی نو دليل يې دا دي چې دکور مالک به مري جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې نغري دکور قوي مالک دی چې دچا څخه نه بيږي.

دينار\افغانی\اشرفی\روپی\پيسې

دانيال ﷺ ويلي دی چې که څوك ووينې چې دده په لاس کې دځلورو څخه زياتې پيسې دی نو دليل يې دا دي چې ده ته به يو بد شي رسيږي يا به څه خبره اوري چې ده ته به خرابه معلومیږي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په خوب کې ورسره پنځه درهمه يعنې پيسې دی نو دليل يې دا دي چې دي به يو ښه اونيك كار په عمل کې راولي اوکه دده سره يوه اشرفي يا زر اشرفي وی نو دليل يې دا دي چې داسې علم به حاصل کړي چې په هغه سره به ورته اشرفي ملاو سي ليکن دهغه شمير جفت پکار دی اوکه ووينې چې چا ته يې اشرفي ورکړيده يا ورکه سوي ده نو دليل يې دا دي چې د زوی دطرف څخه به ورته مصيبت ورسيږي اوکه ووينې چې دده سره ډيرې اشرفي دی نو دليل يې دا دي چې ده ته به غم ورسيږي. اواهل تعبير بيان کړي دی چې په خوب کې اشرفي ادا کول امانتونه دی دالله تعالی فرمان دي (ومنهم من ان تامنه بدينار لايؤده اليك، سورة آل عمران: ۷۵) ترجمه: اوپه دوي کې بعض خلک داسې وي چې که ته ددوي سره يوه اشرفي امانت کښيږدې نو دوي به يې ادا نه کړي. اوکه دخپل لاس په تلې پنځه اشرفي ووينی نو دليل يې دا دي چې پنځه وخته لمونځ به ادا کوي اوکه ووينې چې دده سره ډيرې اشرفي دي او په يو ځاې کې يې محفوظې اينبې دی نو دليل يې دا دي چې دمسلمانانو امانت به په نظر کې ساتي اوکه ووينې چې اشرفي تقسيموي نو دليل يې دا دي چې خلکو ته به دنيکې حکم کوي او امانت به ورکوي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې ده يوه اشرفي پيدا کړي ده نو دليل يې دا دي چې دامانت حواله کولو لپاره به په ده چيك ليکي اوډير خلک په خوب کې اشرفي وينې اوپه وينبه ورته ملاويږي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې اشرفي په خوب کې ليدل دين اوسمه لاره ده کله چې پر اشرفي تصوير نه وي اوکه ووينې چې دده سره اشرفي ده او دهغه پر يو طرف دالله نوم دی اوپه بل طرف تصوير دی نو که خوب ليدونکې مسلمان وی نو مرتد به سي اوکه کافر وي نو مسلمان به سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې اشرفي پنځه لمونځونه دی اوکه اشرفی جفت ووينې نو دپاك دين او نفعمند علم دليل دی اوکه په شمير کې طاق وي نو د دې تعبير داول خلاف دی. حافظ معبر رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې اشرفي پنځه لمونځونه دی اومينځه ده او ډيرې اشرفي ډير مال دی چې په تکليف او جنګ سره حاصليږي.

ديه\کلي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که په خوب کې ووينې چې دي په نامعلوم کلي کې دي نو دا پر خير اونيکې دليل دی اوکه دهغه کلي نوم معلوم وی نو پر بدې دليل دی اوکه ووينې چې دکلي څخه دباندی وتلې دی نو دا پر نيکې دليل دی اوکه ووينې چې يو کلي ته تللی دی نو دا پربدې دليل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که څوك په خوب کې ووينې چې دښارڅخه کلي ته تللي دی اوهلته اباد سويدی چې په هغه کې نعمت دی نو دا پر خير اوبرکت عزت اومرتبې

Maktaba Tul Ishaat.com

دلیل دی اوکه د دې خلاف ووینې نو پر بدې اوبدبختي دلیل دی اوکه په خوب کې ووینې چې دې یو ځای په کلي کې ورك سویدی نو دا پر خیر دلیل دی اوکه په خوب کې ووینې چې چا ورته نامعلوم کلي ورکړي دی یا یې اخیستي دی یا یې جوړ کړي دی نو دلیل یې دا دي چې دکلي دعمارت په اندازه به خیر اونفع حاصل کړي اوکه د دې خلاف ووینې نو پر نقصان دلیل دی.

دیوار\دیوال

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې دیوال دخوب لیدونکي حال دی که ووینې چې ښه او مضبوط دیوال دي نو داپه دنیا کې دښه حال دلیل دی اوکه ووینې چې دیوال زوړ دی او دي یې غورزوي نو دلیل یې دا دي چې مال به حاصل کړي اوکه ووینې چې نوي دیوال خرابوي نو ددیوال دخرابې مطابق دغم اوفکر دلیل دی اوکه ووینې چې دیوال کمزوري اوتنګ دی نو دلیل یې دا دي چې دده حال به په دنیا کې کمزوري سي اوکه ووینې چې پر دیوال دده پښه ده نو دلیل یې دا دي چې حال به یې مستقیم سي اوکه ووینې چې په دیوال زړیږي نو دا دده پرخراب حال اودژوند پرزوال دلیل دی اوکه ووینې چې دیوال را ایله سوي دی نو دلیل یې دا دي چې دمعیشت او صنعت څخه به را ایله کیږي ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوك ووینې چې دښار یا دجماعت دیوال را ایله سویدی نو دلیل یې دا دي چې ددغه ښار حاکم به هلاك سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چې دخاورو خټو څخه یې پخپل لاس دیوال جوړ کړي دی نو دا دده پر پاك دین دلیل دی اوکه دخښتو او چونې څخه یې جوړ کړي وي نو داپه دین کې دده دحال دتباه کیدو دلیل دی اوکه دیوال دچونې اوکانو وي نو دلیل یې دا دي چې پر اشرفیو به عاشق وي او داخرت طالب به نه وي.

دیو\شیطان

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې شیطان په خوب کې لوی دښمن مکار اودهوکه باز سړی دی اوکه ووینې چې شیطان ورته وسوسي اچوي نو دلیل یې دا دي چې دبې فایدې خبرونه به توبه کوي د دې وجې څخه چې دښمن باندي کامیابه سي دالله تعالی فرمان دی (ان الذین اتقوا اذا مسهم طائف من الشیطان تذکروا فاذا هم مبصرون، سورة الاعراف: ۲۰۱) ترجمه: په تحقیق سره چې کوم خلک پرهیزګار دی ددوي سره چې شیطاني ټولګي چیرچار کوي نو دوي نصیحت قبلوي او دوي هوښیار دی. اوکه ووینې چې دشیطان سره یې جنګ کړی دی او هغه یې مغلوبه کړي دی نو دلیل یې دا دي چې دده دین به درست وي اوکه د دې خلاف ووینې نو ددین پر کمزوري دلیل دی. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که شیطان په خوب کې خوشحاله ووینې نودلیل یې دادي چې خوب لیدونکي به په حرص اوشهوت کې مشغول سي اوکه شیطان غمجن ووینې نو دلیل یې دادی چې په عبادت او ددین په درستي کې به مشغول سي اوکه ووینې چې شیطان دده دبدن څخه کالي ایستلي دی که خوب لیدونکي حاکم وي نو معزول به سي او که دا خوب

يو کلي وال ووينې نو دليل يې دا دي چې نقصان به ورته ورسيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که څوک ووينې چې شيطان دده شاته ختلي دی نو دليل يې دا دي چې شيطان به باندي کاميابه سي اوکه ووينې چې دي دشيطان په لاس کې قيد سوي دی اوهغه وړي دی نو دليل يې دا دي چې په رسوايي کې به مشهور سي اوکه ووينې چې دشيطان سره يې ملاقات کړي دی نو دليل يې دا دي چې ډيره لويه ګناه به کوي اوکه ووينې چې دشيطان سره يې خبرې کړي دی نو دليل يې دا دي چې ددښمن سره به په يوه صلاح وي اوالله تعالی به دده مراد پوره کړي دالله تعالی فرمان دی (انما النجوى من الشيطان ليحزن الذين امنو وليس بضارهم شيئا الا باذن الله، سورة المجادلة: ۱۰)

ترجمه: چې پټې جرګې دشيطان نه دی ددی لپاره چې دايمان خاوند غمجن کړي او دالله دحکم څخه بغير دوي ته ضرر نه سي ورکولاي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که په خوب کې ووينې چې ده دشيطان سره خوراك خوړلی اواوبه چيښلي دی نو دليل يې دا دي چې دبدکار اوفساد پرلاره به ځي او دشيطان تابعداري به کوي او که د دې خلاف ووينې نو دليل يې دا دي چې دخير اوصلاح په کار کې به وي او ددين په لار کې به صبر کوي اوکه ووينې چې ده شيطان نيولي دی يا دهغه په نس کې ختلي دی نو دليل يې دا دي چې دفساد دلاري څخه به ليرې وي اوتوبه به وکړي اوپه عبادت کې به مشغول سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې شيطان ليدل په شپږو وجو دی ۱: دښمن ليدل ۲: فساد ۳: شهوت مصيبت او دنفس خواهش ۴: دطاعت څخه ليرې کيدل ۵: داهل خير اوصلاح څخه ليرې والي تلاش کول ۶: حرام شيان.

ديوانګي \ ليونتوب

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې ليونتوب دخوب ليدونکي لپاره دليونتوب په اندازه حرام مال حاصليدل دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په خوب کې و ويني چې دی ليوني سوي دی نو دليل يې دا دي دی چې په حرامو کې به راسي اوسود به خوري دالله تعالی فرمان دی (الذين ياكلون الربا لا يقومون الا كما يقوم الذي يتخبطه الشيطان من المس، سورة البقرة: ۲۷۵)

ترجمه: کوم خلک چې سودخواره دی هغه به نه لوړيږي دقيامت په ورځ مګر دهغه سړي په ډول به لوړسي دکوم سره چې شيطان چيرچار کړي وی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې دليوني سره ملګري سوي دی نو دليل يې دا دي چې دسود خور او فاسد سړی سره به ملګري سي او ده ته به ملامتيا او بدنامي حاصله سي.

[ذ]

ذکر (دسړيو خاص اندام)

دانيال عليہ السلام ويلي دی چې په خوب کې ذکر ليدل مبارك او نامور زوی دی اوکه څوک په خوب کې ووينې چې دده دوه عضو تناسل دی نو دليل يې دا دي چې دده به زوی پيداسي او په خلکو کې به عزت حاصل کړي اوکه ووينې چې دده عضو تناسل سست سوي دی نو دليل يې

Maktaba Tul Ishaat.com

دا دي چي دده زوی به ناجوړه سي. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چي په خوب کي دعضو تناسل غټ والي په ډیرو زامنو اونوم پیدا کیدو دلیل دی او کوچنیوالي د دې خلاف دی. اوکه ووینې چي دده دعضو تناسل سره دښاخونو په ډول نور لګیدلي دی نو داپه ډیرو زامنو اولمسیانو دلیل دی اوکه ووینې چي دده دعضو تناسل نه ماهی وتلي دی نو دلیل یې دا دي چي دده به دهغه ښځي څخه لور پیدا سي کومه چي یې دمشرق ددریاب دغاړي څخه راوستي ده اوکه ووینې چي د ده دعضو تناسل څخه پشي وتلي دي نیو دلیل یې دا دي چي دده به غل اوډاکو زوی پیدا سي اوکه ووینې چي دده دعضو تناسل څخه چرګ وتلي دی نو د دې تعبیر دچرګ مطابق دی اوکه ووینې چي دده دعضو تناسل څخه مړه وتلي ده نو دلیل یې دا دي چي دده به ناکاره لور پیدا سي چي په هغه کي به هیڅ خیر نه وي اوکه ووینې چي دده دعضو تناسل څخه مار وتلي دی نو دلیل یې دا دي چي دده به زوی پیداسي چي د ده دښمن به وي اوکه ووینې چي دده دعضو تناسل څخه لړم وتلي دی نو بیا یې هم دغه تعبیر دی اوکه ووینې چي دده دعضو تناسل څخه میږي وتلي دی نو دلیل یې دا دي چي دده به کم همته کمزوري بدن والا زوی پیداسي اوکه ووینې چي دده دعضو تناسل څخه ډوډۍ وتلي ده نودلیل دی چي دده عیال به وږي اوتنګ دسته وي او که ووینې چي دده دعضو تناسل څخه کونزلي وتلي دی نودلیل دی چي څوك به دده دعیال سره په پټه مینه کوي اوکه ووینې چي دده دعضو تناسل څخه نو وتلي دي نو د دې تعبیر داول خلاف دی اوکه ووینې چي دده دعضو تناسل څخه مني وتلي دی نو دلیل یې دا دي چي ده ته به دهغه په اندازه مال حاصل سي اوکه ووینې چي دده دعضو تناسل څخه وینه وتلي ده نو دلیل دی چي دحیض والا ښځي سره به جماع کوي اوکه ووینې چي دده دعضو تناسل څخه اور وتلي دی او نیم دمشرق طرفته اونیم دمغرب طرفته تللي دی نو دلیل یې دا دي چي د ده به زوی پیداسي چي دمشرق او دمغرب پاچابه وي اوکه ووینې چي دده عضو تناسل څخه سوتی وتلي دی نودلیل دی چي دده به دهلکانو سره مینه وي اوکه ووینې چي دده عضو تناسل لوړ دی اوسخت سویدی نو دلیل یې دا دي چي دده نصیب اومرتبه به قوي سي. اوکه ووینې چي دده عضو تناسل سخت سوي او اوږد سوي دی نو دلیل یې دا دي چي دده به ډیر زامن پیدا سي اوکه ووینې چي دده دعضو تناسل څخه چاپیره وزري را ټوکیدلي دی نو دلیل یې دا دي چي دده نوم به په ملك کي مشهور سي اوعزت اومرتبه به یې زیاته سي اوکه ووینې چي پخپل لاس یې خپل عضو تناسل ایستلي دی اوبیا یې پرخپل ځاي ایښي دی نو دلیل یې دا دي چي اولني زوی به یې مړسي او دوهم به پیداسي اوکه ووینې چي خپل عضو تناسل یې دچا په خوله کي ایښي دی اوهغه روي نو دلیل یې دا دي چي له هغه څخه به ورته نفع ورسیږي او که ووینې چي دده په عضو تناسل ویښته را ټوکیدلي دی نو دلیل یې دا دي چي د زوی څخه به خوشحاله سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي عضو تناسل دده څخه جلا سوي دی نو دلیل دی چي دده زوی به مری یا به یې مال ختم سي اوپه خوب کي دعضو تناسل حرکت لیدل په قوت اودنعمت په فراخي دلیل دی اوکه

ووينې چې عضو تناسل شليدلي دی اووينه ځنې بهيږي نو دليل يې دا دي چې دمال نقصان به يې وسي اوزوی به يې مړسي اوکه ووينې چې دده عضو تناسل پرسيدلي دی نو دليل يې دا دي چې مال به يې زيات سي اوکه ووينې چې خلک دده عضو تناسل وهي نو دليل يې دا دي چې دده ژوند به تباه سي اوکه ووينې چې دده عضو تناسل په مينځ کې ټرل سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده ګواه به دده لپاره ګواهي نه ورکوي اوکه ښځه ووينې چې ديته عضو تناسل لګيدلي دی که حامله وي نو زوی به يې پيداسي ليکن مړ به سي اوکه حامله نه وي نو حامله به سي اوکه ووينې چې دده عضو تناسل نري دی نو بيايې هم دغه تعبيردی اوکه ووينې چې دده عضو تناسل لږ پريکړه سوي دی نو دليل يې دا دي چې زوی به يې مړسي اومال اومرتبه به يې کمه سي اوکه ووينې چې دده دعضو تناسل څخه ملغلري يا جواهرات وتلي دی نو دليل يې دا دي چې دده به پرهيزګار اوعالم زوی پيداسي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې عضوتناسل ليدل په اووه وجو دی ۱: زوی ۲: اهل خانه ۳: مال ۴: بزرګي ۵: طلب حاجت ۶: عمر ۷: عزت حرمت اوبهتري.

[ر-ز-ژ]

رازيانج\کاړه\بادیان

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې کاړه ليدل که په موسم وي اوکه بې موسمه غم او فکر دی اوخوړل يې نقصاني دی اوکه پرخپله مځکه ډير کاړه ووينې نو په غم اوفکر کې به ګرفتار سي.

راسو\نولي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې نولي غل دی اوکه ووينې چې نولي يې نيولي دی يا يې وژلي دی نو دليل يې دا دي چې غل به نيسي اوکاميابي به باندي راسي اوکه ووينې چې دنولي غوښه يې خوړلي ده يا دهغه دبدن څه شی دده په لاس کې دی نو دليل يې دادي چې دغل څخه به دغلا مال اخلي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې ده نولي نيولي دی يا يې خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې ناجوړه به سي اوپه اخير کې به شفا حاصله کړی او که ووينې چې دنولي سره يې جنګ کړي دی او پر هغه غالب سوي دی نو پر دښمن به غالب سي او هغه به ګير کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې نولي ليدل په دروو وجو وي ۱: غل ۲: غم او فکر ۳: ناجوړي.

ران\ورون

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې ورون دخپلوانو قوت دی اوکه ووينې چې دده ورون مات سوي دی يا را ايله سوي دی نو دليل يې دا دي چې دخپلوانو څخه به جلا سي اوکمزوري به سي او په سفر کې به مړ کيږي اوکه ووينې چې دچا ورون يې څيري کړي دی نو د دې هم دغه تعبير دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې راسته ورون دپلار په خپلوانو دليل

Maktaba Tul Ishaat.com

دی اوچپه ورون دمور پر خپلوانو دليل دی اوکه ووينې چې دده ورون نرې سوې دی نو دليل يې دا دي چې دده دخپلوانو کار به کمزورې سي اوکه ووينې چې دده ورون پريکړه سوی دی نو دليل يې دا دي چې دخپلوانو څخه به جلا سي اوکه ووينې چې دده ورون مات سوې دی نو دليل يې دا دي چې دسردار څخه به ورته ذلت اوخواري ورسيږي اوکه ووينې چې دده د ورنو غوښه را ايله سويده نو دليل يې دا دي چې دده دخپلوانو مال به ورک سی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې ووينې چې دده ورنونه په رسۍ سره تړلي دی نو دليل يې دا دی چې دخپلوانو څخه به جلاسي اونکاح به کوي اوکه ووينې چې دخپل ورون غوښه يې پخپله خوړلې ده نودليل يې دا دي چې دهغه په اندازه دخپلوانو مال به خوري.

حکايت

يو سړی د ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کې حاضر سو اوسوال يې وکړې چې ما په خوب کې ليدلي دی چې زما په ورون کې سوری سويدی اوپر هغه ويښته را ټوکيدلي دی ما چا ته وويل چې زما داويښته وخريږي دوي يې په تعبير کې وويل چې ته قرضدار يې اوستا يو خپل به ستا قرض ادا کوي بيا په هغه مياشت کې دهغه دخپلوانو څخه څوک راغلي اودده دقرض دوه سوه اشرفي يې ادا کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې ورون ليدل په څلورو وجو دی. ۱: اهل بيت ۲: ملګری چې بهروسه باندې وي ۳: مال ۴: غصه.

راه\لاره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کی لاره ليدل داستقامت او ديندارې دليل دی او ددين په لاره کې دسموالي تلاش دی اوکه ووينې چې پر سړک ګرځي نو دليل يې دا دي چې ددين پر لاره دی اوکه ووينې چې ديو ټولګی رهبري په سمه لاره کوي نو دليل يې دا دي چې يو قوم به په سمه لار او ددين په صلاح لګوي اوکه ووينې چې په لاره کې حيران اوخفه دي نو دليل يې دا دي چې ددين پر لاره يا ددنيا په کارو کې به حيران او پريشانه به سي اوکه ووينی چې غل دده سامان دلاري څخه وړي دی نو دليل يې دا دي چې څونه يې وړي دی دهغه په اندازه به دچا تاوان ادا کوي اوکه ووينې چې پرلاره ځي اونه ستړي کيږي نودليل يې دا دي چې خپل حق به دچا څخه په مشکله سره اخلي اوکه ووينې چې چا دسمي لاري څخه کړی لاري ته بيولي دی نو دليل يې دا دي چې په ګناه کې به مشغول سي او دثواب دلاري څخه به ليرې سي اوکه ووينې چې په تاريکه شپه کې ځي اولاره باندې مشکله ده او دده خيال وي چې دی په سمه لاره دی نو دليل يې دادی چې استقامت اوسمه لاره حاصله کړي اوکه ډيرې لاري ووينې اومعلومه ورته نه وي چې پر کومه لاره تلل دی نو دليل يې دا دي چې پخپل دين کې به حيران سي اودبې دينه خلکو سره به صحبت لري اوکه ووينې چې دده څخه لاره ورکه ده اونه پيژني چې چيرې ځي اود نبي صلی اللہ علیہ وسلم دفرمان مطابق دراسته لاس طرفته روان سو نو دليل يې دا دي چې حقه لاره به پر پټه نه وي اوکه ووينې چې قصدا دسمي لاري څخه يو طرفته تللې دی نو دليل يې دا دي چې ددښمن سره به مکر اوحيله کوي اوکه ووينې چې پر سمه لاره روان دی خو دچا

دعزت په وجه واپس سويدی نودليل يي دا دي چي داسي کار به کوي چي په هغه سره به دين ته نقصان وي او دخپل ژوند لپاره به په ناممکنه خبرو کي مشغول سي اوکه ووينې چي پر لاره روان دی اويوه ښځه مخته ورته راغلي ده اودهغه په وجه يي لار پريښوده اوبل طرفته روان سويدی نو دليل يي دا دي چي دده په دين کي به خلل راسي او پر دنيا به عاشق سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي په لاره کي شينکي اوښه ښه بوټي دی نو دا دده دنيکي او دپاك دين دليل دی اوکه ووينې چي پر يوه پټه لار په ګمان سره ځي نو دليل يي دا دي چي په دين کي به بدعت کوي اوپه خپل کار کي به حيران سي. دالله تعالی فرمان دی (وان هذا صراطی مستقیما فاتبعوه، سورة الانعام: ۱۵۳) ترجمه: دا زما سمه لاره ده د دې پيروي کوي. او که ووينې چي څوك يي دلاري څخه بيولي دی نو دا دده ددين پر فساد دليل دی دالله تعالی فرمان دی (وقد خاب من دسها، سورة الشمس: ۱۰) ترجمه: چاچي هغه دهوکه کړی نوهغه په خساره کي راغلي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سمه لاره اسلام دی اوکړه لاره د دې خلاف دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي لاره ليدل په پنځو وجو دی ۱: دنيا ۲: ارام ۳: نيک کار ۴: خير او برکت ۵: اساني اورحمت.

راهزن\غل\ډاکو

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي غل دخلکو سره جنګيالي سړی دی که ووينې چي غل دده مال وړي دی نو دليل يي دا دي چي دداسي سړی سره به ملاويږي اوهغه به خپلوي او څونه مال چي غل ځني وړي دی دهغه په اندازه به دهغه څخه فايده پورته کوي او که ووينې چي پر ده غله جمع سويدی او دده څخه شي نه سي اخيستي نو دليل يي دا دي چي که ناجوړه وي نو شفابه حاصله کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي غله يو څه ځني وړي دی نو دليل يي دا دي چي هغه غل به ده ته درواغ وايي اوکه ووينې چي غل دده څخه ټوپی وړې ده نو دليل يي دا دي چي په مصيبت کي به ګرفتاره سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي ده غلا کړي ده اوسامان يي اخيستي دی نو دليل يي دا دي چي دچا څخه يي غلا کړي وی هغه به باندي په قهر سي اوکه ووينې چي ده پخپله غلا کړي ده او سامان يي وړی دی نو دليل يي دا دي چي ناجوړه به سي اوبيا به شفا حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي غل په درو وجودی ۱: جنګ ۲: همیشه جنګ او درواغ ويل ۳: د ژوند تباهي او ناجوړي.

ربها\شيره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي خوشبودار او خوږه شيره ليدل په خير اوبرکت دليل دی او ددی خلاف پر ضرر تکليف اوپه غم دليل دی. او خوږه شيره په خوب کي پخول په کار خير اونفع دليل دی اوکه ترخه وي نو تعبير يي د دې خلاف دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

رباب

رباب ديو مشهور ساز نوم دی ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ساز ليدل په بي فايدي خبرو بازيو او درواغو ويلو دليل دی اوکه په خوب کي دساز ږغ وي نو دليل يي دا دي چي درواغ به وايي او دچا به په درواغو صفت کوي اوکه ووينې چي دده مخته ته ساز ږغوي نو دليل يي دا دي چي په بي فايدي خبره به راضي سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي دساز سره ګنګري اوشپيلی هم ده نو دا ټول پر غم اومصيبت دليل دی او که ووينې چي ساز مات سوی دی يا ورک سوي دی نودليل يي دا دي چي ددرواغو څخه به توبه کوي اوکه ناجوړه ووينې چي ساز ږغوي نو دليل يي دا دي چي مړبه سي يابه ناجوړي باندي راسي.

رخسار\مخ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي مخ ريا اودسړی لپاره بزرګي ده اوکه په خوب کي ووينې چي دده مخ پاک اوسور دی نو دليل يي دا دي چي په خلکو کي به مخور سي اوکه ووينې چي دده مخ تور يا ژړ دی نو د دې تعبير د اول څخه خلاف دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي مخ په خوب کي دخلکو ښايست او دکور مالک دی اوکه سوزيدلي مخ ووينې نو دصاحب خانه لپاره دښه والي اونيکي دليل دي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي مخ ليدل د حال دښه والي او دسړی دخوشحالی دليل دی او خراب مخ پرغم فکر او ناجوړي دليل دی.

زر\دانګوروزيلی\واښکی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دانګورو زيلي پر نيکوکاري او سخي ښځي دليل دی اوکه دانګورو پاکيزه اوشني درخته په موسم کي ووينې نو دليل يي دا دي چي نيکو کاره ښځه به کوي اودهغه څخه به خير اونفع حاصله کړي اوکه ووينې چي دانګورو پانې ژړي سوي دی نودليل يي دا دي چي ناجوړه به سي اوکه دده ملکيت نه وي نو د دې تعبير به د دې دمالک طرفته رجوع کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دانګورو واښکی ليدل په درووو وجو وي ۱: سخي او نيکو کاره ښځه ۲: نفع ۳: تکليف اوغم. اوکه دانګورو زيلی خراب ووينې نو د دې دمالک دحالت په خرابي دليل دی.

رستخيز\قيامت

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي قيامت په يقين اوصداقت سره قايم دی نو دليل يي دا دي چي الله تعالی به پر دغه ملک والا رحمت وکړي اوکه ددغه ملک پاچا ظالم وي نو دليل يي دا دي چي پرهغه به بلا اوافت راځي اوکه مظلوم وي نو پر ظالمانو به کاميابي حاصله کړي اوکه و ووينې چي ملک والا دالله تعالی په مخکي ولاړ دی نو دليل يي دا دي چي پر هغو به دالله تعالی قهر اوغصه وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي قيامت قايم دی نو دليل يي دا دي چي مظلومان به پر ظالمانو واک حاصل کړي اوکه په غم

محنت او فکرکي وي نو دليل يې دا دي چې خلاصون به حاصل کړي اوکه ووينې چې يوه علامه د قيامت دعلامو څخه ښکاره سوه لکه لمر دمغرب څخه راوختي يا دجال ملعون يې وليدي يا ياجوج ماجوج ښکاره سوه نو ددې تعبير دا دي چې توبه دی وباسي او دالله تعالی طرفته دی رجوع وکړي اوکه ووينې چې دشمير ځاي دی نو دغفلت نخښه ده دالله تعالی فرمان دی (اقترب للناس حسابهم وهم فی غفلة معرضون، سورة الانبياء: ۱) ترجمه: دخلکو حساب نزدی سوي دی او دوي په غفلت سره مخ ګرځوونکي دی. اوکه ووينې چې دده حساب کيږي نو دليل يې دا دي چې ده ته به نقصان ورسيږي د الله تعالی فرمان دی (فحاسبناهم حسابا شديدا وعذبناها عذابا نكرا، سورة الطلاق: ۱۰۸) ترجمه: مورږ به دهغوي څخه سخت حساب اخلو او هغوي ته به خراب عذاب ورکوو اوکه ووينې چې عملونه وزن کوي او دده نيکي زياتي سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده انجام به نيک وي دالله تعالی فرمان دی (فمن ثقلت موازينه فاولئك هم المفلحون، سورة الاعراف: ۸) ترجمه: دچا دنيکيو تله چې درنه وه هغه به خلاصون حاصل کړی اوکه ووينې چې بدي يې دنيکيو څخه زياتي دی نو دليل يې دا دي چې دده ځاي دوزخ دی دالله تعالی فرمان دی (فاولئك الذين خسروا انفسهم بماكانوا بايانتا يظلمون، سورة الاعراف: ۹) ترجمه: هغه خلک دی چا چې دخپلو عملونو په وجه ځايونه په خساره کي وساتل. اوکه ووينې چې ده ته عملنامه په راسته لاس کي ملاو سوي ده نو دليل يې دا دي چې په راسته لاس به ځي او اميد دی چې دده ددين لار به سمه وي دالله تعالی فرمان دی (وانزلنا معهم الكتاب والميزان، سورة الحديد: ۲۵) ترجمه: اومورږ ددوي سره کتاب اوميزان وليږي. اوکه ووينې چې ده ته عملنامه ورکړه سوي ده او دويلو لپاره ورته وويل سوه که داهل اصلاح نه وي نو دده کار به نيک وي اوکه داهل فسادو نه وي نو دده کار به په خطره کي وي دالله تعالی فرمان دی (اقرا كتابك كفى بنفسك اليوم عليك حسيبا، سورة بني اسرائيل: ۱٤) ترجمه: خپل کتاب ووايه نن ستا ځان دحساب لپاره پوره دی اوکه ځان پر پل صراط ووينې نو دليل يې دادي چې دی پرسمه لاره دی اوکه ووينې چې دپل صراط څخه نه سي تيريدلي نودليل يې دادی چې دي پر خطا لاره دی توبه ايستل پکار دی چې الله رضا سي.

رسن\رسۍ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي رسي وعده او لوظ دی اوکه ووينې چې په لاس کي يې رسي ده اوپه هوا کي زړيږي نو دليل يې دا دي چې درسي دلوړوالي مطابق مرتبه به حاصله کړي اوکه ووينې چې رسي يې په لاس کي وه او ايله سوه نو دليل يې دا دي چې خوب ليدونکي به دعزت اومرتبې څخه معزول سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې رسي داسمان څخه رازړيږي اوده نيولي ده نو دليل يې دا دي چې دده اودالله ترمينځ به څه وعده اولوظ وي مثلا که دناجوړي په وخت کي ووايي چې که الله تعالی ماته شفا راکړي نو زه به توبه وکړم اوکه ووينې چې په پښه کي يې رسي ده اودي ولاړ دی نو دليل يې دا دي

Maktaba Tul Ishaat.com

چي ده دين نيولي دی دالله تعالی فرمان دی (واعتصموا بحبل الله جميعا، سورة آل عمران: ١٠٣) ترجمه: ټول په جمع دالله رسي ونيسي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي په خوب کي رسي ليدل دالله تعالی اودمخلوق سره وعده اولوظ دی اوکه ووينې چي دده په څټ کي چا رسي اچولي ده نو دليل يي دا دي چي ده دچا سره اقرار کړي دی اودهغه په پوره کولو کي تاخير کوي او که ووينې چي خپل ځان يي په رسي سره دکړکي څخه يا دلوړ ځاي څخه رازړولي دی نو دليل يي دا دي چي مقصد اوحاجت به دبيري څخه پريږدي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کی رسی ليدل په څلورو وجو دی ١: وعده اولوظ ٢: دين ٣: امانت ۴: مراد پوره کيدل.

رضوان\د جنت چوکيدار

رضوان دجنت ددروازي فرشته ده ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي رضوان ووينې نو دليل يي دا دي چي دعذاب څخه به په امن کي وي اوکه ووينې چي رضوان په جنت کي ولاړ دی نو دليل يي دا دي چي خوب ليدونکي به ددنيا څخه سفر کوي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي په خوب کي رضوان دپاچا پر خزاني دليل دی چي دهغه په صحبت کي به اوسيږي ځکه چي رضوان دجنت خزانچي دی. اوکه ووينې چي ده ته رضوان ياقوت جواهرات او ملغلري ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي دده به هوشيار اوعالم زوی پيداسي اونوم به يي په علم سره مشهور سي.

رفتن\تلل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دښار څخه تللي دی اومعلوم ورته نه وي چي چيري تللي دی نو دليل يي دا دي چي لاچاره اوحيرانه به سي اوکه دده سره ښځه او زامن هم وي نو دليل يي دا دي چي ټول به حيران او پريشانه سي اوکه ووينې چي د درنده په ډول ځي نو دليل يي دا دي چي په دنيا کي به سعادت حاصل کړي اوکه ووينې چي ددرنده په ډول تګ کوي نو د دې تعبير بد دی اوکه ووينې چي دماشومانو په ډول تګ کوي نو د دې هم دغه تعبير دی اوکه دښکاري مرغو په ډول ووينې نو پر خير اونيکي دليل دی اوکه دتياري څخه د رڼا طرفته تللي وی نو دليل يي دا دي چي دحق پر لاره به سي اوکه دويراني څخه د ابادي طرفته تللي وي نو دليل يي دا دي چي دتنګي څخه به په فراخي کي سي اوکه دابادي څخه دويراني طرفته تللي دی نو تعبير يي داول خلاف دی اوکه خراب ځاي ته ولاړ سي نو تعبير يي بد دی اوکه نيك ځاي ته ولاړسي نو په نيکي اوخير دليل دی.

رفو کردن\ګنډل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي کالي وغيره ګنډل پر جنګ دليل دی اوکه ووينې چي خپل کالي يا نقاب ګنډي نو دليل يي دا دي چي دده به دخپلوانو سره جنګ کيږي يا ددوست سره چي خير به پکښي نه وي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي خپل کالي نسي ګنډلي نو دليل يي دا دي چي دخپل عيال لپاره به غم اوفکر کوي او

په خوب کي ګنډلو والا صاحب جنګ دی خو په کوشش سره خپل کار سموي او دجنګ څخه تښتي.

رقص کردن \ نڅا کول

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي ګډیدل غم اوفکر اومصیبت دی اوبعض اهل تعبیر بیان کړي دی چي ناجوړي ده اوبعض وایي چي دسړیو لپاره د جیل خاني څخه خلاصون دی. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي نڅا کول دښځو لپاره رسوایي ده او دسړو لپاره مصیبت دی لیکن دصوفیانو او نڅا کوونکو لپاره غم اوفکر نه دی اوپه خوب کي نڅا کوونکي داسي سړی دی چي همیشه دخپلو او پردو په غم کي وی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي نڅا کول په خوب کي غم او مصیبت دی.

رگ کشادن \ درگ څخه وینه ایستل

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که په خوب کي ووینې چي ده درګ څخه وینه ایستلي ده نو دلیل یې دا دي چي دانډیوال څخه به څه خبری اوري یا به دده مال ختم سي. اوکه ووینې چي رګ یې څیري کړي او وینه یې ځني وایستله نو دلیل یې دا دي چي دپاچا څخه به ورته زحمت رسیږي اوکه لږه وینه وي نوزحمت به یې لږ وي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي عالم دده رګ څیري کړي اوډیره وینه یې ځني وایستله اوپه یوځاي کي یې وغورزوله نو دلیل یې دا دي چي ناجوړه به سي اوخپل مال به په ناجوړي کي خرڅ کړي. اسماعیل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي دراسته لاس درګ څخه یې وینه وایستله نو داپه مال او دمراد پرزیاتوالي دلیل دی اوکه دچپه لاس درګ څخه یې وینه ایستلي وي نومال اودولت به یې زیات سي اوکه ووینې چي یومعلوم سړی دده رګ څیري کړي دی که دده ښځه حامله نه وي نو حامله به سي اوکه حامله وي نو لور به یې پیداسي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي رګ یې څیري کړي دی اووینه دده دبدن څخه راوتلي ده نودلیل یې دا دي چي ده ته به خلک حق خبره کوي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چي په خوب کي درګ څخه دوینې دایستلو تعبیر په څلورو وجو دي. ۱: دکار خلاصول ۲: سفر ۳: جنګ ۴: دمال لپاره شرك کول. اوکه ووینې چي رګ یې څیري کړي دی اووینه نه ده راوتلي نو داپر جنګ دلیل دی اوکه وینه ځني وتلي وي اوپه بدن کي نوره وینه نه وي پاته سوي نو دلیل یې دا دي چي جنګ به کیږي اوکه ووینې چي زخم په وینو لړلي دی نو دلیل یې دا دي چي ده ته به څه ملاوسي. او اهل تعبیر بیان کړي دی چي په خوب کي دده درګ څخه وینه ایستلي ده که پرهیزګار وي نو واده اوخوشحالي ده اوکه پرهیزګار نه وی نو په شر اوفساد دلیل دی.

رگها \ رګونه

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي دبدن رګونه پر کور والاو اوپر خپلوانو دلیل دی اوکه ووینې چي دده دبدن رګ ته څه افت رسیدلي دی نو دلیل یې دا دي چي دده خپلوان به په غم اوفکر کي وي اوهر یو رګ دخاصو بنیادمو سره تعلق لري لکه دتندي رګونه پر بزرګانو دلیل دی

Maktaba Tul Ishaat.com

اودملا رګونه دپلار پرخپلوانو دليل لري او ورنو اوکوناړيانو رګونه پر کوروا لا او دښځي په خپلوانو دليل لري اودپنډي رګونه پر مال اونفع دليل دی اوکه ووينې چې دده رګونه شليدلي دی او په پلنوالي پريکړه سوي دی يا وچ سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده په خپلوانو کي چې څوك دده درګ سره تعلق لري هغه به ددنيا څخه سفر کوي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چې دده خپلوانو ته به غم اوفکر رسيږي او دخپلوانو څخه به جلا سي اوپه عذاب کي به راسي. اوکه ووينې چې چا دده رګ څيري کړي دی نو دليل يې دا دي چې د خپلوانو څخه به ورته سخته خبره ورسيږي اوبعضې وايي چې دده دوينې په اندازه به دده ديوخپل مال تلف سي. دانيال عليه السلام ويلي دی چې که څوك ووينې چې رګ قيفال چې ديورګ نوم دی او ديته سراره هم وايي او ددي څخه په وينو ايستلو سره د سر اومخ وينه راځي که دا څوك ووينې چې څيري کړي يې دی نو دليل يې دا دي چې دده کار به بند سي او درګ باسليق هم دغه تعبير دی اوکه پوښتنه کوونکي وايي چې زما درګ څخه وينه وزي نو دليل يې دا دي چې ته به نقصان رسيږي، اوتعبير بيانوونکي ته پکار دی چې دخوب ليدونکي په الفاظو غور وکړي او دالفاظو مطابق تعبير بيان کړي، اوکه ووينې چې دده رګ خالي دی نو دليل يې دا دی چې غم به ورته رسيږي.

رکاب

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې که په خوب کي ووينې چې رکاب دزين څخه جلا دی نو پر زوی يا پر غلام دليل دی اوکه رکاب دزين سره وي نو په ديانتداره زوی دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که ووينې چې دده رکاب دسروزرو دی نو دليل يې دا دي چې دده به متکبر او مغرور زوی پيداسي اوکه دسپينو زرو رکاب ووينې نو دده زوی به پر دنيا عاشق وي اوکه دتانبې پا پيتلو رکاب ووينې نو پرکم همته زوی دليل دی اوکه رکاب داوسپني وي نو دهغه درنۍ او صفايي مطابق به ده ته ددنيا په کار کي طاقت وي اوکه رکاب دلرګي وي نو دليل يې دا دي چې دده زوی به بدخياله اوبد وي. او رکاب داره په خوب کي نيك سړی دی ځکه چې دی سردارانو ته نزدی دی.

رنګها\رنګونه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کي پرکالو وغيره سپين رنګ ليدل ددين دصفايي دليل دی اوسور رنګ دسړيو لپاره بد اوغم دی او دښځو لپاره ښه دی اوشين رنګ دښځو او سړيو لپاره په دين اودنيا دواړو کي ښه دی اوتور رنګ مصيبت دی ليکن کوم خلک چې اغوندي دهغه لپاره نه دی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې شين اوسپين رنګ په خير اوبرکت او دين دليل دی.

روبا\لومړه\ګيدړه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې ګيدړ په خوب کي دهوکه باز سړی يا درواغ ويونکي ښځه يا مينځه ده که ووينې چې ګيدړ جنګ کوي نو دليل يې دا دي چې دده به دچا سره جنګ کيږي

اوکه ووينې چې ګيدړ ټوپونه وهي نو دليل يې دا دي چې دښاپيرو څخه به بيريږي اوکه و وينې چې دګيدړي سره بازي کوي نو دليل يې دا دي چې يوه ښځه يې غواړي ليکن دهغه ښځې محبت کمزوري دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که څوك ووينې چې دي ګيدړ په ږمنځ سره صفا کوي نو دليل يې دا دي چې دي به دچا سره حيله او دهوکه کوي اوکه ووينې چې ګيدړه دده سره چاپلوسي کوي نو دليل يې دا دي چې مسافر سړی به دده سره مکر اوحيله کوي اوکه دګيدړي پوست ووينې نو دا مال دي چې په حيله سره به ورته حاصل سي اوپه خوب کې دګيدړي شيدي چيښل دناجوړي څخه دشفا دليل دی او دغم اوفکر سره واده کول دی اودقيد څخه خلاصون دي او بعض اهل تعبيرو بيان کړي دی چې دګيدړي شيدي چيښل پر ناجوړي او بيره دليل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې ګيدړه په خوب کې دروا غجنه ښځه ده که ووينې چې شيدو والا ګيدړه د ده کور ته راغلي ده اوهلته حصاره سوه نو دليل يې دا دي چې داشنا ښځې سر به واده کوي اوکه ووينې چې ده ګيدړه نيولي ده يا چا ورکړي ده نو دليل يې دا دي چې مکاره او دروا غجنه ښځه به کوي اوکه ووينې چې ګيدړه ځني وتښتيدله نو دليل يې دا دي چې دده قرض به وتښتوي.

رود\واله\وياله

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې غټه واله په خوب کې لوي سړی دی که ووينې چې په غټه واله کې صفا اوبه دی نو دليل يې دا دي چې دلوی دياندار سړی سره به ملاو سي اودهغه څخه به خير اونفع حاصله کړي اوکه ووينې چې دوالی څخه وتلي دی نو دبلا اوغم څخه به خلاص سي اوکه ووينې چې غټه واله ته تللي دی او دهغه اوبه خرابي دی نو دليل يې دا دي چې دلوی ظالم سړی سره به ملاو سي اوکه ووينې چې په دغه واله کې ډوب سويدی نو دليل يې دا دي چې دهغه څخه به په مرګ خلاص سي. دانيال عليہ السلام ويلي دی چې غټه واله وزير دی که ووينې چې غټه واله وچه سويده نو دليل يې دا دي چې وزير به معزول سي اوکه دوالي اوبه زياتي ووينې نو دليل يې دا دي چې د وزير څخه به بخښنه حاصله کړي اوکه ترخي اوبه وي نودليل دی چې رشوت به اخلي اوکه دوالي اوبه خرابي ووينې نو دليل يې دا دي چې په دغه ملك کې به ډيره خونريزي کيږي اوکه ووينې چې دوالي اوبه سپيني اوښتي دی نو دليل يې دا دي چې عام خلک به دوزير تعريف کوي اوکه ووينې چې دوالي اوبه په مځکه کې تللي دی اوڅه ځني پاته سوي نه دی نو دا پر عذاب دليل دی چې په دغه ملك به راځي دالله تعالی فرمان دی (قل ارئيتم ان اصبح مائكم غورا فمن ياتيكم بمآء معين، سورة الملك: ٣٠) ترجمه: دوي ته ووايه چې که ستاسو اوبه پر مځکه کې ولاړی سي نو تاسو ته به دچينې اوبه دکوم ځای څخه ملاويږي، اوکه ووينې چې دوالي په اوبو يې ځان پريولي دی نو دليل يې دا دي چې دپاچا اودوزير دشرارت څخه به په امن کې وي اوکه ووينې چې په اوبو کې يې غوټه لګولي ده نو دليل يې دا دي چې دوزير دراز څخه به اطلاع حاصلوي اوکه ووينې چې خپل کالي يې پکې پريولي دی نو دليل يې دا دي چې

Maktaba Tul Ishaat.com

ده ته او دده اهل بيتو ته به دپاچا او وزير څخه امن وي اوکه ووينې چې دوالي په اوبو کې ګرځي او دده کالي لړل سوي دی نو دليل يې دا دي چې دسوداګر څخه به ورته غم رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که ددجله واله په خوب کې ووينې نو خليفه به سي. اوکه جيحون ووينې نو دخراسان پاچا به سي اوکه سيحون ووينې نو دهند پاچا به سي اوکه فرات ووينې نو دملك شام پاچا به سي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چې دملك روم پاچا به سي اوکه واله نيل ووينې نو دمصر پاچا به سي او که واله رود ګرووينې نو دارمينتيا پاچا به سي اواوبه چيښل اوخپل ځان په دی سره پريول خير اونفع ده اوچه څونه اوبه يې چيښلي وي دهغه په اندازه به ورته دپاچا دطرف څخه څه ملاويږي اوکه خپل ځان دشيدو په واله کې ووينې نو دليل يې دا دي چې په فتنه کې به راسي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې واله ليدل په اوو وجو وي ۱: حج ۲: عبادت ۳: پاچاهي ۴: تجارت ۵: مال ۶: رياست ۷: فتح.

رودبار\دويالو لښتي

که څوك ووينې چې دويالو په لښتيو کې اوبه تللي دی نو دليل يې دا دي چې په غم اوفکر کې به ګرفتار سي ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك ووينې چې دويالو دلښتيو څخه وتلي دی نو دليل يې دا دي چې دغم اوفکر څخه به خلاص سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې دويالو لښتي په خوب کې حج اسلام دی دالله تعالی فرمان دی (بواد غير ذی ذرع عند بيتك المحرم، سورة ابراهيم: ۳۷) ترجمه: بغير دکښت سوي مځکې څخه ستا دعزت مند کورسره نزدی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې دويالو دلښتيو ليدل پرشعر ګويي دليل دی دالله تعالی فرمان دی (والشعراء يتبعهم الغاوون الم تر انهم فی کل واد يهيمون، سورة الشعراء: ۲۲۵) ترجمه: ګمراه خلک دشاعرانو تابعداري کوي ايا تاسو نه ګوري چې په هره يوه وادي کې پريشانه ګرځي.

روده\کولمې

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې کولمې يې اخيستي دی او خوړلي يې دی نو دليل يې دا دي چې دخپلوانو څخه به نفع پورته کړي اوکه ووينې چې دده دننه کولمې ښکاره سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده په خپلوانو کې به يو هلك سردار سي اوکه ووينې چې دچا کولمې يې خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې دهغه په اندازه به دچا مال خوري. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې دکولمو ښکاره کول دايښول سوي مال ښکاره کيدل دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك ووينې چې دده د خولې څخه کولمې راوتلي دی نو دليل يې دا دي چې دده په زامنو کې به مرګ راځي اوکه ووينې چې ده دچا څخه کولمه ايستلي ده نو دليل يې دا دي چې دهغه په اندازه به دچا پټ مال حاصلوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې کولمه ليدل په شپږو وجو دی ۱: حرام مال ۲: ناخوښي خبري ۳: ښکنځل ۴: فرزند ۵: ژوند ۶: خپل کار کول.

روزها\ورځي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي كه څوك ووينې چي دجمعي ورځ دخالي ورځ سوي ده نو دليل يې دا دي چي يوكار به ښه ګڼي او شروع به يې كړي حالانكه هغه به بد وي اوكه ووينې چي خالي ورځ جمعه سوي ده نو دليل يې دا دي چي د دې خلاف دى اوكه ووينې چي شپه ورځ سوي ده نو دا پر نيكي دليل دى اوكه ووينې چي دخالي ورځ ده نو دليل يې دا دي چي دى به ديهوديانو سره دوستي كوي اوكه داتوار ورځ په خوب كي ووينې نو دعيسايانو دوست به سي اوكه په خوب كي خالي ورځ دجمعي ورځ معلومه كړي نو دليل يې دا دي چي داهل نعمت دوست اومالدار به سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چي دتولو ورځو څخه ښه ورځ دجمعي ده او دجمعي څخه وروسته دخالي اوزيارت ورځ ښه ده اوځونه چي ورځ زياته صفا اوروښانه وي دهغه په اندازه به دخير اوبر كت سبب وي.

روزه داشتن\روژه نيول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي كه څوك په خوب كي ووينې چي ده روژه نيولي ده او سبحان الله لا اله الا الله اوقران شريف وايي نو دليل يې دا دي چي دحرامو اوګناه څخه به توبه كوي اوكه ووينې چي روژه يې نيولي ده اودخلكو غيبت كوي اوفحش خبري كوي نو دليل يې دا دي چي په عبادت كي به رياكاري كوي او ددين په لاره كي به ريښتوني نه وي. ابراهيم كرمانى رحمة الله عليه ويلي دي چي كه څوك ووينې چي د روژي مياشت ده نو داپر ګراني اودخوراك پر تنګي دليل دى اوبعض وايي چي دقرضدار پر درستي او دغمونو پر خلاصي دليل دى اوقرض به يې ادا سي خاصكر كه د روژي په مياشت كي په خوب كي دروژي مياشت ووينې. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب كي روژه نيول په لسو وجو وي ١: بزرګي ٢: رياست ٣: تندرستي ۴: مرتبه ۵: توبه ۶: فتح ٧: نعمت ٨: جهاد ٩: هلك. ليكن په خوب كي په هيره روژه نيول پر نيك مردي اوحلالي روزي دليل دى اوكه په اراده سره روژه ماته كړي نو په سفر كي به مصيبت باندي راځي يا به ناجوړه سي اوكه ووينې چي دوه مياشتي روژي يې نيولي دى نو دليل يې دا دي چي دګناه څخه به توبه وكړي اوكه ووينې چي نفلي روژي يې نيولي دى نودليل يې دا دي چي دناجوړي څخه به په امن كي وي. اوكه ووينې چي دكال پرلپسي روژي يې نيولي دى نو دليل يې دا دي چي حج به كوي اوكه په خوب كي ووينې چي دعاشوري روژي يې نيولي دى نو دليل يې دا دي چي دغم اوفكر څخه به خلاص سي.

روستا\كلي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي كه خپل كلي په نامعلوم ځاي كي ووينې نو پر خير دليل دى اوكه په معلوم ځاي كي يې ووينې نو بد دى اوكه په خوب كي ووينې چي دكلي څخه بنارته تللي دى نو ان شاء الله دفتني اوعذاب څخه به په امن كي وي اوكار به يې په انتظام سره وى اوكه ووينې چي دښار څخه كلي ته تللي دى نو تعبير يې داول څخه خلاف دى. جابر مغربي رحمة الله عليه ويلي دي چي كه څوك په خوب كي ووينې چي په كلي كي دده ملكيت دى يا چا وركړي

Maktaba Tul Ishaat.com

دي نو دليل يي دا دي چي دهغه ښار دابادي مطابق به ده ته خير اونيکي ورسيږي اوکه په خوب کي کلي ويران ووينې نو تعبير يي داول څخه خلاف دی.

روشني\روشنايي\رڼا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي رڼا ددين پر هدايت دليل دی اوکه ووينې چي ده رڼا اخيستي ده يا چا ورکړيده نودليل يي دا دي چي چاته به ددين علم ښيي اوسمه لار به ورته ښيي او په خوب کي تاريکه ګمراهي اوبي ديني ده د الله تعالی فرمان دی (الله ولي الذين امنوا يخرجهم من الظلمت الی النور، سورة البقرة: ٢٥٧) ترجمه: الله دايمان والاوو مالك دی دوي دتاريکي څخه درڼا طرفته راباسي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده په سينه کي رڼا ده نو دليل يي دادي چي پرهيزګاره او ديندار ه به سي دالله تعالی فرمان دی (افمن شرح الله صدره للاسلام فهو علی نور من ربه، سورة الزمر: ٢٢) ترجمه: ايا هغه سړی چي دهغه سينه الله داسلام لپاره خلاصه کړي ده هغه دخپل درب طرف څخه پررڼا دی. اوکه په خوب کي ووينې چي دده څخه ګير چاپير رڼا ده نو دا دده په خير او عافيت دليل دی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي رڼا په څلورو وجو وي ١: ددين هدايت ٢: علم ٣ : سمه لار ۴: پاکه عقيده.

روغن\تيل\غوړي

دانيال عليہ السلام ويلي دی چي په خوب کي غوړي ليدل مال اونعمت دی اوبعض وايي چي وراثت دی اوکه په خوب کي ووينې چي دده سره غوړي دی اوده خوړلي دی نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به مال اونعمت حاصل کړي اوپه خلکو کي به عزت مند سي اودبوزي دغوړو هم دغه تعبير دی ليکن دغوا غوړي دمېږي د غوړو څخه ښه دی اوروغن بادام اوروغن کنجد مال اونعمت دی اونور قيمتي روغن لکه روغن بلسان روغن بنفشه اوروغن فلتون داټول دکلي وال سړی څخه نفع ده. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده ټول بدن په غوړو لړل سوي دی نو دليل يي دا دي چي ناجوړه به سي اوکه ووينې چي پر سر يي تيل لګولي دی نو داپر ښايست دليل دی اوکه خوشبوداره تيل ووينې لکه بنفشه او دچنبيلي تيل نو دا ددنيا پر ارايش دليل دی او د دې ټولو تيلو ليدل کله چي خوشبودار وي نو پر ښه والي دليل دی اوبدبو دار پربدي دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي د زيتون تيل مال اونعمت دی اوکه په خوب کي ووينې چي يو سړی دبل سړی پرسر تيل لګوي نو دليل يي دا دي چي دهغه سړی سره به مکر اوحيله کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي په ځان تيل لګول دښايست دليل دی ليکن غم اوفکر ورسره هم دی اوکه ووينې چي په تيلو سينه غوړوي نو ددرواغو قسمونه به خوري. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي ټول غوړي په تعبير کي خراب دی ليکن دزيتون تيل خوړل دمال دليل دی اولګول يي پر غم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چي دده کالي په تيلو لړل سوي دی نو دليل يي دا دي چي غمجن به سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي ښه روغن په خوب کي په شپږو وجو وي ١: ښايسته ښځه ٢: مينځه

۳: نيك تعريف ۴: نفع ۵: ښې خبرې ۲: نيك طبعيتونه او دبدبو په روغنو دليل په درو وجو دی ۱: بازاري ښځه ۲: بدكاري ۳: خرابې خبرې.

روناس (يورنګ دار شي)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كې روناس ليدل ددنيا پر ښايست دليل دی او دا خوړل پرضرر اوغم دليل دی اوكه ووينې چې ده خپل كالي په روناس باندې سره كړي دی نودليل يې دا دي چې ددنيا په ژوند كې به مشغول سي او ددين لار به پريږدي.

روی\مخ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې كه څوك په خوب كې مخ لكه څنګه چې وو دهغه څخه زيات ښايسته ووينې نو دليل يې دا دي چې دهغه مرتبه اوژوند به زيات سي اوكه خپل مخ خراب او خفه ووينې نومرتبه به يې كمه سي. ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې كه څوك دخپل مخ رنګ سور اوپاك ووينې نو دليل يې دا دي چې مخور به سي اوكه ووينې چې دده مخ سپين دی نو دا ددين په قوت دليل دی دالله تعالی فرمان دی (واما الذين ابيضت وجوههم ففی رحمة الله هم فيها خلدون، سورة آل عمران: ۱۰۷) ترجمه: اودكومو خلكو مخونه چې سپين دی هغوي دالله تعالی په رحمت كې دی اودوي به په دي كې هميشه وي اوكه ووينې چې دده مخ رنګ ژړ دی نو دليل يې دا دي چې دده به لور پيدا سي دالله تعالی فرمان دي (واذا بشر احدهم بالانثى ظل وجهه مسودا وهو كظيم، سورة النمل: ۵۸) ترجمه: اوكله چې په دوي كې چاته دلور زيږي ورکړه سي نو دهغه مخ دغصې څخه تور سي. اوكه ووينې چې دده مخ تور او په دوړو لړلي دی نودليل يې دا دي چې دی به مشرك وي اوكه ووينې چې دده مخ په وينو خراب دی يا دده دمخ څخه ژړې اوبه راوځي او دده پرمخ زخم نه وی نودليل يې دا دي چې دده دمال نقصان به وسي اوكه ووينې چې دده مخ كوږ سوي دی نو دا دده دحال پر تباهي دليل دی اوكه ووينې چې دده پر مخ خال دی نودليل يې دا دي چې قرضدار به سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې كه خپل مخ په خوب كې په اوبو يا شيشې كې ښايسته ووينې يا ورته څوك ووايي چې ستا مخ ښايسته دی نو دليل يې دا دي چې دده كار به نيك وي اوكه خراب يې ووينې نو تعبير يې خلاف دی اوكه ووينې چې دده مخ سور دی نو دليل يې دا دي چې دده به دچا سره بحث كيږي اوغصه به كوي. اوكه خپل مخ سپين او روښانه ووينې نو دليل يې دا دي چې دعبادت توفيق به حاصل كړي اوكه خپل مخ تور ووينې نو پرغم اوفكر دليل دی او دكفر بيره ده دالله تعالی فرمان دی (واما الذين اسودت وجوههم اكفرتم بعد ايمانكم، سورة آل عمران: ۱۰۶) ترجمه: ليكن دچا مخونه چې تور سويدی ايا تاسو دايمان څخه وروسته كافران سواست اوكه پرخپل مخ زخم ووينې نودليل يې دادي چې دهغه په اندازه غم اوفكر به ورته وي اوكه پرخپل مخ خراش ووينې نو دليل يې دا دي چې دده په كار كې به خلل راسي او كه خپل دوه مخونه ووينې نودليل يې دا دي چې منافق به وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ

Maktaba Tul Ishaat.com

ويلي دی چي په خوب کي مخ ليدل په اتو وجو دی ۱: شرف اوبزرګي ۲: ذلت اوحقارت ۳: دکارونو انتظام ۴: دين او ديانت ۵: فکر او رسوايي ۶: قرض ۷: نيکي ۸ : دعبادت توفيق.

ريحان\کشمالو

که په خوب کي ووينې چي کشمالو شين او خوشبودار دی نو پر زوی دليل دی او ريحان دمځکي څخه را ايستل پر ژړا اوغم دليل دی. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که ريحان پر خپل ځاي ووينې نو دليل يې دا دي چي خوب ليدونکي به نيک کار کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ريحان ليدل په اوو وجو دی ۱: ښځه ۲: مينځه ۳: دوست ۴: زوی ۵: نيکه خبره ۶: دعلم مجلس ۷: نيک کار اوکه ووينې چي دده په کور يا باغ کي ريحان دی نودا په خير او نفع دليل دی جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي په موسم کي ريحان خرڅونکي ډير نيک دی.

ريسمان\رسۍ

رسي په خوب کي سفر دی که ووينې چي دپشم يا وېښته څخه يې رسي اوبدلي ده لکه څنګه چي ښځي يې اوبدي نو دليل يې دا دي چي حلال کار به کوي اوکه تارونه يې جولاله ورکړي وي چي کالي ځني واوبدي نودليل يې دا دي چي دجنګ دکار په تدبير کي به وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي دښځي دوريښتو په ډول دپشم څخه يا دوريښتو څخه رسي اوبدي نو دليل يې دا دي چي دده غايب به په سفر کي ډير وخت وي اوکه ووينې چي دده سره ډيری رسي دی نودليل يې دا دي چي عمر به يې زيات وي او دهغه په اندازه به دخپلوانو څخه خير او نفع حاصلوي.

ريواس\د دستونو دوا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ريواس دهغه دخوراك مطابق غم دی اوکه ووينې چي ريواس يې دباندي اچولي دی نودليل يې دا دي چي دغم اوفکر څخه به خلاص سي اوکه ووينې چي ريواس خوړ دی نودليل يې دا دي چي ده ته به ضرر کم رسيږي او الله تعالی ښه پوهيږي.

ريش\ږيره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ږيره دسړو لپاره ښايست دی اوخانه داري ده په حديث شريف کي راغلي دی چي دالله تعالی يوه فرشته ده چي دهغه تسبيح دا دي (سبحان من زين الرجال باللحی والنسآء بالذوايب) ترجمه: پاکي دی وي هغه ذات ته چي سړيانو ته يې په ږيرو او ښځو ته يې په سرو ښايست ورکړيدی. اوکه ووينې چي دده ږيره اوږده سوي ده نو دليل يې دا دي چي دده دخانه داري کار به جوړ سي ليکن که په اوږدوالي کي دنوم څخه اوږده سي نو دغم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چي خپله ږيره يې په نوکونو ښايسته کړي ده نو دليل يې دا دي چي خپله ښځه به ناجوړه ووينې اوکه ووينې چي پر خپله ږيره يې نکريزی لګولي دی نو دليل

يي دا دي چي خپل حال به پر خلکو ښکاروي اوپټوي به يي نه اوکه ووينې چي خپله ږيره پر زمکه راکشوي نو دليل يي دا دي چي دده مرګ نزدی دی اوکه ووينې چي دده ږيره پرې سوي ده نو دليل يي دا دي چي دده دمال مراد اومرتبې نقصان به وسي اوکه ووينې چي دده ږيره سپينه سوي ده نودليل يي دا دي چي دده صبر اونرمي به زياته سي ليکن غمجن به وي اوکه ووينې چي ږيره يي په غاښونو پريکړي ده نودليل يي دا دي چي دده دکوروالا نقصان به وسي اوکه ووينې چي دده ږيره دناجوړي په وجه را رژيدلي ده نودليل يي دا دي چي ده ته دنابره مرګ څخه بيره ده او دده مال اوعزت به هم ختم سي اوکه ووينې چي ږيره ږمنځوي اوخوشبو باندي لګوي اوګلاب باندي اچوي نودليل يي دا دي چي داسي کار به کوي چي په هغه سره به خلک دده شکر ګزاره سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينی چي دده ږيره دنامه څخه اوږده سويده نودليل يي دا دي چي مال به حاصل کړي. اوکه ووينې چي په ږيره يي لاس وهلي دی اوخه حصه يي په لاس کي پاته سوي ده اوهغه يي غورزولي ده نو دليل يي دا دي چي مال به دده دلاس څخه ځي اوکه ووينې چي دږيري څه حصه يي په څه شي کي محفوظه ايښې ده نو دليل يي دا دي چي مال به په نظر کي ساتي اوکه ووينې چي دده ږيره کوچني سوي ده نو که قرضدار وي نو دقرض څخه به خلاص سي اوکه غمجن وي نو بې غمه به سي اوکه ووينې چي دده ږيره ايستل سويده نودليل يي دا دي چي دده عزت به نابره ځي اوکه ووينې چي دخپلې ږيرې څخه سپين ويښته باسي نو دليل يي دا دي چي دي دنبي صلی اللہ علیہ وسلم اوداصحابو کرامو دسنت خلاف دی اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دسر ويښته يي دحج په موسم کي په خانه کعبه کي خريلي دی نو که قرض دار وي نو دقرض اوغم څخه به خلاص سي اوکه ووينې چي سر اوږيره يي په يو ځاي خريلي دی نو دليل يي دا دي چي دده عزت به ختم سي اوکه ووينې چي بې وجي دده ږيره لږ لږ کميږي نو دليل يي دا دي چي دغم اوسختي څخه په خلاص سي اوکه ووينې چي دده ټوله ږيره سپينه سوي ده نودليل يي دا دي چي دده په عزت کي به لږ نقصان وسي. اوکه ښځه ووينې چي دهغه ږيره ده نو دليل يي دا دي چي غمجن به سي او داسي کار به وکړي چي په هغه سره به رسوا سي اوکه سړی ووينې چي دده ږيره وتلي ده نو دليل يي د ادی چي دهغه به هيڅکله زوی نه کيږي اوکه هلک وي نو دبدبې والا اوقوي به سي. اوکه نابالغ هلك خپله ږيره ووينې نودليل يي دا دي چي په غم اوفکر کي به راسي اوکه ووينې چي دچا ږيره يي نيولي ده اوراکش کړي يي ده نو دليل يي دا دي چي هغه سړی به دده ميراث اخلي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي ږيره په خوب کي په لسو وجو ده ١: اخستل او خرڅول ٢: لوړه مرتبه ٣ : عزت اومرتبه ۴: هيبت ۵: مروت ٦: نيکي ٧: ارام ٨: مال ٩: زوی ١٠: بزرګي. دالله تعالی فرمان دی (ولقد کرمنا بني ادم، سورة بني اسرائيل:٧٠) ترجمه: اومورږ دادم عليه السلام اولاد ته عزت ورکړی دی ليکن په خوب کي دحاجيانو اودقيديانو ږيره خريل يا خرول ښه دی.

ريګ \ شګه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي شګه پر صلاح اوخير دليل دی اوکه ووينې چي په

Maktaba Tul Ishaat.com

شګه کي ګرځي نو دليل يي دا دي چي دکسب لپاره به په شغل کي مشغول سي اودشګي دکمي او زياتي مطابق به يي کوي اوکه ووينې چي شګه خوري يا يي جمع کوي نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به دخلکو څخه خير اونفع وينې. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دشګی ليدلو تعبير په څلورو وجو وی ۱: مشغول ليدل ۲: مال ۳: نفع ۴: مرتبه ليکن دمحنت سره.

ريش\زخم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده پر بدن زخم دی اوپه هغه کي نو جمع سويدی نو دليل يي دا دي چي دنو په اندازه به ده ته مال حاصل سي اوکه د دې خلاف ووينې نو دده په مال کي به کمي کيږي اوکه ووينې چي نو دده دبدن څخه وتلي دی اوبيا واپس خپل ځاي ته راغلي دی نو دليل يي دا دي چي دده دمال نقصان به وسي اوانجام به يي نيك وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي نو روي اوخوري يي نو دليل يي دا دي چي حرام مال به خوري عرض داچه نو په بدن کي جمع کيدل دمال په جمع کيدو دليل دی. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده په ټول بدن زخمونه دی نو دا دغم اوفکر دليل دی.

ريم\نو

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي نو په خوب کي ليدل دخوب ليدونکي لپاره مال دی اوکه ووينې چي دده دبدن څخه نو وتلي دي نو دليل يي دا دي چي دمال نقصان به يي وسي اوکه ووينې چي نو دبدن څخه وځي اوبيا په بدن کي ننوځي نو دليل يي دا دي چي دمال نقصان به يي وسي ليکن نتيجه به يې ښه وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ووينې چي نو روي اوخوري يي نُو نو پر سپين اوسره زر وغيره مال دليل لري.

ريوند(ددستونو دوا)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده سره ډير ريوند دی نو دليل يي دا دي چي په غم اوفکر کي به ګرفتار سي اوکه ووينې چي دعلاج لپاره يي ريوند خوړلي دی اوپه هغه سره جوړ سوي دی نو داپه صحت تندرستي خير اونيکي دليل دی، اوکه د دې خلاف ووينې نو په غم اوناجوړي دليل دی او الله تعالی ښه علم لري.

زن\ښځه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ښځه په خوب کي ووينې چي د دې لور پيداسوي ده يا د دې سره ده نو دليل يي دا دي چي ديته به څه ملاو سي اودخپلوانو څخه به خوشحاله سي اوکه سړی ووينې چي دده زوی به پيدا سي حالانکه ښځه يي حامله نه ده نو دليل يي دا دي چي دده به لور پيداسي اوکه ووينې چي دده لور پيدا سوي ده نو دليل يي دا دي چي دده به زوی پيدا سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که دپاچا ښځه ووينې چي د دې زوی پيدا سوي دی نو دليل يي دا دي چي ددې خاوند ته به خزانه ملاو سي اوکه پاچا ووينې چي دده زوی پيدا

سوي دی نو داپر غم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چې انجلي پيدا سويده نو دليل يې دا دي چې غمجن به سي اوکه ووينې چې هلك پيداسوي دی نو دليل يې دا دي چې دده کار به ښه وي او که څوک پيغله انجلي ووينې چې دهغه لور پيدا سوي ده نو دليل يې دا دي چې دي به ښځه کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې دده زوی پيدا سوي دی اوپه هغه ورځ يې ورسره خبري کړي دی نو دا دخوب ليدونکي پرمرګ دليل دی اوکه ووينې چې انجلي پيدا سوي ده نو دليل يې دا دي چې دده په نسل کي به هلك پيداسي چې دقوم سردار به وي.

زاغ \ کارغه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کی کارغه فاسق بي دينه اودرواغجن سړی دی اوکه ووينې چې ده کارغه نيولي دی نودليل يې دا دي چې دداسي سړی سره به ملاوسي چې دهغه به دکارغه صفت وی اوپه بي فايدي کار کي به مشغول سي اوکه ووينې چې کارغه يې وژلي دی نو دليل يې دا دي چې په دغه ځاي کي به کافران فسادیان اوغله خلک جمع سي اوکه ووينې دکارغه ښکار يې کړي دی نو ديو ځاي څخه به په درواغو سره مال حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې کارغه په خوب کي دليدو تعبير هندوستاني مينځه ده او په خوب کي ډير کارغان ليدل لښکر دی اوکه ووينې چې دکارغه څخه يې پوست ايستلي دی نو دليل يې دا دي چې دمسافري ښځي سره به زنا کوي اوکه ووينې چې کارغه يې وژلي دی نو دليل يې دا دي چې دده اهل بيت ته به نقصان رسيږي اوکه ووينې چې ډير کارغان په هوا کي راځي اوتيريږي نو دليل يې دا دي چې دغه ملک ته به ددغه کارغانو برابر لښکر راځي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې کارغه اوطاؤس دده په پرتوګ کي دي نو دليل يې دا دي چې دمينځي سره به فساد کوي اوکه ووينې چې دکارغه سره يې جماع کړي ده نو دليل يې دا دي چې غل سړی به بند کړي.

زاکها \ خاوري

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په ټولو خاورو کي شنه خاوره ښه ده د دې څخه وروسته سپينه او ژړه ناجوړي ده اوتوره مصيبت دی او دخاوري خوړل په مرګ دليل دی او دکالو رنګ وغيره هم په دي تعبير کي دی او په دين کي دخاوري خوړلو هيڅ نفع نسته جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي خاوري په څلورو وجو دی ۱: غم اوفکر ۲: ناجوړي ۳: مصيبت ۴: د ښځو په وجه جنګ.

ژاله \ ږلي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې په ښار کي يايه يو ځاي کي ږلی اوريږي نو دليل يې دا دي چې دهغه ځاي خلکو ته به دپاچا څخه غم رسيږي اوکه ووينې چې باران دبجلي بريښنا او ږلی سره وريږي نو په دغه ځاي کي به قحط تنګي او نقصان وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي باران د ږلی سره ليدل پر نعمت فراخي اوامن دليل

Maktaba Tul Ishaat.com

دی، جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي ږلی لیدل په پنځو وجو دي ۱: بلا ۲: جنګ ۳: لښکر ۴: قحط ۵:ناجوړي.

دیوچه\زلو\ژوره\جوکه

د ژوري په فارسي کي نوم دیوچه دی ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي ژوره لالچي دښمن دی اوکه ووینې چي ژوره دده دبدن څخه وینه چیښي نو دلیل یي دا دي چي دښمن به پر ده غلبه حاصله کړي اوڅونه چي یي وینه چیښلي وي دهغه په اندازه به یي دمال نقصان وسي اوکه ووینې چي ژوره دده په مري کي ننوتي ده نو دلیل یي دا دي چي دښمن به دده په کور کي دننه دده سره کښیني اوکه ووینې چي ژوره یي دخپل بدن داندام څخه جلا کړه اومړه یي کړه نو دلیل یي دا دي چي په دښمن به کامیابي حاصله کړي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي ژوره عیال دی چي دنورو مال خوري اوکه ووینې چي ډیري ژوری جمع سوي دی او دده وینه چیښي نو دلیل یي دا دي چي ددغه وینې اندازي مطابق به دده دمال نقصان وسي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي دده پربدن پوری ژوره ده او دده وینه چیښي نودلیل یي دا دي چي ددښمن څخه به ده ته نقصان رسیږي.

زانو\زنګون

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي دزنګون دلیل دخوب لیدونکي ژوند دی اوکه ووینې چي دده زنګون قوي اومضبوط دی نو دلیل یي دا دي چي دده په کار کي به قوت راسي اوژوند به یي فراخ سي اوکه ووینې چي پر زنګنونو پرلاره ځي نو دلیل یي دا دی چي دده کار به کمزوري وي او ژوند به باندي تنګ وي او که ووینې چي دده دزنګون سترګه کمزوري یا ماته ده نو دلیل یي دا دي چي دده کار به تباه سي اوکه ووینې چي دده دزنګون سترګه را ایله سوي ده نو دلیل یي دا دي چي څونه سرمایه دده سره وي هغه به یي دلاسه ولاړه سي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي زنګون په خوب کي خلکو ته کسب اوژوند دی اوکه ووینې چي دده زنګون سخت او قوي سوي دی نو دلیل یي دا دي چي دده کسب اوژوند به زیات سي اوکه ووینې چي دده زنګون کمزوري سوي دی نو دده کسب اومعیشت به کمزوري او دده څخه به منقطع سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چي په خوب کي زنګون پر تکلیف مشقت اوغم دلیل دی او چي څوك په زنګون کي کمي یا زیاتي ووینې نو د دې تعبیر پورته بیان سوی دی.

زباد\کستوري\خوشبو

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي دده سره کستوري دی یا چا ورکړي دی نو دلیل یي دا دي چي با ادبه او دعقل خاوند به سي اوخلک به دده مدح او ثنا کوي اوکه ووینې چي دکستوري څخه خوشبو راځي نو دلیل یي دا دي چي خلک به دده تعریف کوي اوکه ووینې چي دکستور څخه هیڅ قسم خوشبو نه راځي نو دلیل یي دا دي چي دیو چا سره به نیکي کوي او پرهغه به څه احسان نه ساتي اوکه ووینې چي کستوری خوري نودلیل یي دا دي چي دده زامن به با ادبه اوهوښیار وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي کستوري په څلورو

وجو دی ۱: ادب ۲: عقل ۳: نیك كار ۴: ښه عمل.

زبان\ژبه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك ووينې چي دده ژبه پري سوي ده اودچا سره دجنګ څخه بغير ناقصه سوي ده او ددليل په وخت كي دده ژبه بنده سوي ده نو تعبير يې بد دی اوكه څوك ووينې چي دده ژبه په اوږدوالي اوپلنوالي زياته سوي ده نودليل يې دا دي چي دده ژبه به ددليل په وخت كي پر مقابل باندي درنده وي او لويږي به اوپر مقابل به فتح حاصله كړي. اوكه ووينې چي بغير دجنګ څخه يې ژبه اوږده سوي ده نودليل يې دا دي چي ډيري خبري كوونكي به وي. ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك ووينې چي دده دوي ژبې دی نو الله تعالی به ده ته عمل اوپوهه ورکړي. اوكه ووينې چي خپله ژبه يې قصدا پريكړه ددې وجي څخه چي څه خبري نه كوي نو دليل يې دا دي چي د درواغو څخه به توبه كوي اوكه ووينې چي دده دژبې څخه خطا خبري جاري دی نودليل يې دا دي چي داسي خبره به كوي چي په هغه سره به دالله تعالی څخه راضي نه وي اوكه ووينې چي دده په خوله كي ژبه اينبول سوي ده نو دليل يې دا دي چي دچا څخه به ورته په خبرو كي قوت او دليل حاصل سي اوكه ووينې چي دچا ژبه روي نو دليل يې دا دي چي دهغه څخه به ورته علم اوپوهه حاصله سي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي كه څوك ووينې چي په ژبه ګونګی سوي دی نودا ددين او دنيا دفساد دليل دی اوكه ووينې چي دفقير څخه يې ژبه پريكړي ده نودليل يې دا دي چي فقير ته به څه وركوي اوكه ووينې چي دښځي څخه يې ژبه پريكړي ده نو دليل يې دا دي چي هغه به بې ستره كوي او دهغه راز به ښكاره كوي اوكه ووينې چي دده ژبه دتالو سره لګيدلي ده نو دليل يې دا دي چي قرضدار به سي دانيال عليہ السلام ويلي دی چي كه څوك ووينې چي دده ژبه قوي او پنډه سوي ده نودليل يې دا دي چي پر مخالف به غالب كيږي اوكه ووينې چي دده ژبه زخمي سوي ده نودليل يې دا دي چي پر چابه بهتان لګوي يا به درواغ وايي اوكه ووينې چي دده پر ژبه وينښته راختلي دی نودليل يې دا دي چي دخبري په وجه به په مصيبت كي راسي اوكه ووينې چي دده ژبه پرسيدلي ده نودليل يې دا دي چي دده دخبري په وجه به ده ته مال ملاويږي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك ووينې چي دده دژبې دوه ښاخه دی نو دليل يې دا دي چي دی به منافق وي اوكه ووينې چي بغير دژبې څخه دی نو دليل يې دا دي چي په ټولو كارونو كي به عاجز سي اوكه ووينې چي دده دژبې سر نسته اوپری سوي دی چي خبري نه سي كولاي نو دليل يې دا دي چي دده كار به دوكيل په لاس راځي اوكه ووينې چي دده ژبه وچه سوي ده نو د دې تعبير بد دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي ژبه ليدل په شپږو وجو ده. ۱: حكمت ۲: رياست ۳: ترجمان ۴: حاجت ۵: وكيل ۶: دوست اوپه څو ژبو كي دخبرو كولو بيان به په حرف س كي راسي.

زبرجد (يو قيمتي كاڼی)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي زبرجد ليدل خير اوعافيت دی اوكه ووينې چي دده

Maktaba Tul Ishaat.com

سره ډير زبرجد دی نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به مال حاصل کړي اوکه ووينې چي زبرجد ځني ورك سوي دی نو دليل يي دا دي چي دمال نقصان به يي وسي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي زبرجد ليدل په درو وجو وي ۱: خوشحالي ۲: مال ۳: نفع.

زبور شريف

زبور شريف د داود عليه السلام کتاب دی ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دزبور ويلو دليل دا دي چي دالله تعالی طرفته به رجوع کوي او نيك کار به کوي اوکه ووينې چي زبور په ښکاره طور وايي نو دليل يي دا دي چي پرهيزګاري تقوی اوخيرات به په رياکاري او نفاق سره کوي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي زبور ليکي نو دليل يي دا دي چي په داسي کار کي به مشغول سي چي په هغه سره به نفع حاصليږي اوکه ووينې چي زبور وايي نودليل يي دا دي چي دده کاروبار به ښه سي.

زچر \ د کار غانو په آوازونو فال نيول

که په خوب کي ووينې چي دکارغانو په اواز فال نيسي نو د دې تعبير غرور او ددنيا درواغ دی چي په خوب اوبيداري کي دتعبير په لحاظ سره بد دی. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که څوك ووينې چي دکارغانو په اوازونو فال نيسي نو دليل يي دا دي چي ددنيا په باطلولو کي به مشغول سي او ددين په لاره کي به کمزوري سي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دکارغانو په اوازونو فال نيسي نو که طاق وي نو پر نيکي دليل دی اوکه جفت وي نو پر ناجوړي دليل دی ليکن بيابه شفا حاصله کړي.

زخم

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده پر بدن زخم دی او دوينې نخښه ښکاره نه ده نو دليل يي دا دي چي پر زخم لګوونکي به کاميابي حاصله کړي اوخير اونفع به ورته حاصله سي اوکه ووينې چي دده د زخم څخه وينه بهيږي او دده بدن په وينو لړلي دی نودليل يي دا دي چي حرام مال به خوري اوکه ووينې چي دده بدن باندي لړل سوي نه دی نو دليل يي دا دي چي زخم لګوونکي به پر ده دګناه يا دتهمت الزام لګوي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دی زخمي سوي دی او په وينو لړل سوي دی نو دليل يي دا دي چي دده په مال کي به نقصان واقع کيږي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي د زخم ليدل په دروو وجو دی ۱: کاميابي حاصلول ۲: خير اونفع ۳: دمال نقصان.

زدن \ وهل

دانيال عليه السلام ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دی په کوړو وهل سويدی او دوهلو نخښې پکي پاته دی يادی يي په ستنه پوري تړلي دی او دونه يي وهلي دي چي وينه ځني وتلي ده نو ددې تعبير بد دی. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي په کوړو وهل سوي دی نودليل يي دا دي چي ده ته به حرام مال حاصل سي خاصکر که ووينې چي دده دبدن څخه وينه وتلي ده اودده بدن هم په وينو لړل سوي دی اوکه دده په بدن بدحالي ښکاره سي نو

دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به ديو چا څخه فايده حاصله کړي اوبعضو اهل تعبير بيان کړي دی چي نوي کالي به اغوندي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده پر ملا کوړي لګيدلي دی او وينه ځني وتلي ده نو دليل يي دا دي چي خوب ليدونکي به حرام مال حاصلوي. اوکه ووينې چي دده پرملا تازياني لګيدلي دی اووهونکي نه معلوميږي نو دليل يي دا دي چي دده ددين اودنيا شغل به نيك وي اوکه ووينې چي ده څوك په کوړي وهلي دی داسي چي کوړه ذري ذري سوي ده نو دليل يي دا دي چي دده خاندان والا به پريشانه وي اوکه ووينې چي دی چا بې حسابه کوړي وهلي دی نو دليل يي دا دي چي ده ته به غم رسيږي اوکه ووينې چي چا په کوړو وهلي دی نو دليل يي دا دي چي دبي دينه اومنافق سړی څخه به غمجن سي اوکه ووينې چي کوټوال دی په کوړه وهلي دی نو دليل يي دا دي چي پاچا به ده ته حکومت ورکړي اوددې کار به نيک وي اوکه ووينې چي دی چا په کانې ويشتلي دی نو دليل يي دا دي چي دهغه څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي کانې دده پر ملا لګيدلي دی نو دليل يي دا دي چي څوك به دي رسوا کړي اوکه ووينې چي چا ده ته پرمخ چپلاخه ورکړي ده نو دليل يي دا دي چي دچا څخه به خرابه خبره اوري. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي ده مړي وهلي دی نو دليل يي دا دي چي په سفر کي به نفع حاصله کړي يابه تللی مال واپس ورته راسي اوکه ووينې چي دي مړ دی او چا دی وهلي دی نو دا ددين پر قوت باندي دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دوهلو خوړلو تعبير په شپږو وجو دی ۱: نفع ۲: جنګ ۳: دمشکل کار اسانيدل ۴: سفر ۵: شرف او بزرګي ۶: حرام مال.

زر\سره زر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سره زر ليدل دسړيو لپاره دغم اوفکر دليل دی او د ښځو لپاره نيك اوښه دی اوکه ووينې چي ده سره زر پيدا کړي دی يا چا ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به دده مال ورك سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي سره زر يا سپين زر يي ويلي کړي دی نو دليل يي دا دي چي دخلکو په پيغور کي به راسي اوکه ووينې چي سره زر اخلي او خرڅوي يې نو دليل يي دا دي چي ده ته به غم اوفکر رسيږي اوکه ووينې چي په غټه بوجي کي يي سره زر اچولي دی اوکور ته يي وړي دی نو دليل يي دا دي چي مال به حاصل سي اوکه ووينې چي سره زر يي خوړلي دی نو دليل يي دا دي چي دهغه په اندازه به خپل اهل وعيال خرڅ کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دسرو زرو شي په خوب کي دسړيو لپاره بد دی اوکه څوك سره زر اوسپين زر په يو ځاي کي پيدا کړي نودليل يي دا دي چي عزت او مرتبه به حاصله کړي اوکه دسپينو زروکان ووينې نو دليل يي دا دي چي دمالدار سړی دلور سره به نکاح کوي اووايي چي زرګر په خوب کي درواغجن سړی دی اوکه ووينې چي دزرګر سره ناست دی اودهغه سره سوداکوي نودليل يي دادي چي دده به ددرواغجن سړی سره کار راسي.

Maktaba Tul Ishaat.com

زردالو

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي زردالو که پر وخت وي اوخواړه وي نو چي څونه يي خوړلي وي په هغه حساب به ورته اشرفي ملاويږي اوتروه زردالو په ناجوړي اوغم دليل دی او بعض اهل تعبير بيان کړي دی چي په خوب کي زردالو خوړل مينځه يا مال دی. ابراهيم کرمانی رحمه الله ويلي دی چي که څوك ووينې چي ده دزردالو مندکي ماتي کړي دی او خوړلي يي دی چي ترخي دی نودليل يي دا دي چي ده ته به غم ورسيږي. جعفر صادق رحمه الله ويلي دی چي زردالو بي وخته ناجوړي ده اوپر وخت که تريو وي نو غم اوفکر دی اوکه خوږي وي نو په نفعي دليل دی.

زردي\ژړوالی

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي ژړه ميوه او ژړ کالي ليدل ناجوړي ده.

زرشک(يوه ميوه)

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي زرشك ليدل اوخوړل غم اوفکر دی اوکه ووينې چي زرشك په خوب کي ددرختي څخه جمع کوي نو دليل يي دا دي چي دده به دبخيل سړی سره جنګ کيږي.

زرنيخ\هرتال\دارو

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دارو خوري نو داپه ناجوړي او هلاکت دليل دی اوکه ووينې چي دارو خرڅوي يا يي چا ته ورکوي نو دليل يي دا دي چي دناجوړي څخه به په امن کي وي. جابر مغربی رحمه الله ويلي دی که څوك په خوب کي ووينې چي دارو ورته ملاو سوي دی نو دليل يي دا دي چي ډير مال به ورته ملاو سي اوپه ناجوړي کي به يي خوري اوکه ووينې چي دارو يي په يو ځاي کي جمع کړي دی نودليل يي دا دي چي په سفر کي به ناجوړه سي.

زره\زغره

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ده زغره اغوستي ده نو دليل يي دا دي چي ددښمن څخه به په امن کي وي اوکه ووينې چي زغره ځني ورکه سوي ده نودليل يي دا دي چي دښمن به پرده غالب راځي اوکه ووينې چي چا ده ته زغره ورکړي ده اوده اغوستي ده نودليل يي دا دي چي دده سره به څوك قهر او زبردستي کوي يابه ددښمن مغلوب کولو لپاره دده مدد کوي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي زغره ددين قلعه ده. ابراهيم کرمانی رحمه الله ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره زغره ده نو دليل يي دا دي چي دي او دده اهل بيت به ددښمن دشرارت څخه په امن کي وي. اوکه ووينې چي دزغري سره يي نوره وسله هم لګولي ده نو دليل يي دا دي چي دشريرو او منافقو خلکو دشرارت څخه به په امن کي وي. جعفر صادق رحمه الله ويلي دی چي زغره په خوب کي ليدل په شپږو وجو دی ۱: ددښمن څخه امن ۲: ددين قلعه ۳: قوت ۴: مال ۵: ژوند ۶: نيکي. اوپه خوب کي زغره

جوړونکي سړی داسي سړی دی چي خلکو ته ادب ښيي.

زعفران

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره زعفران دی نودليل يي دادی چي خلک به دده مدح اوثنا کوي اوکه ووينې چي زعفران دده پر بدن او کالو دی نو دليل يي دا دي چي ناجوړه به سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي چا ده ته زعفران ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي دمالداري ښځي سره به واده کوي اوکه ووينې چي دزعفران کوټه ورسره ده او دهغه څخه خوراک خوري نو دليل يي دا دي چي مال اونعمت به ورته حاصل سي.

زغن\تپوس

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تپوس دهغه ځاي پر پاچا دليل دی اوکه ووينې چي تپوس دده تابعدار دی نو دليل يي دا دي چي خوب ليدونکي به لوي سړی وي اوکه داخوب حامله ښځه ووينې نو دليل يي دا دي چي زوی به يي پيدا سي چي دپاچا مقرب به وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تپوس ليدل په څلورو وجو دی ۱: متواضع کيدل ۲: مشري ۳: زوی ۴: مال.

زفت\دتار کولو غوندي مواد\قير

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي زفت غم اوفکر دی اوکه ووينې چي دده سره زفت دی يا چا ورکړي دی نودليل يي دا دي چي په غم اوفکر کي به ګرفتاره سي اوکه ووينې چي ده زفت خوړلي دی دليل يي دا دي چي داولاد لپاره به ده ته غم اواندیښنه وي. اوکه ووينې چي ده زفت خرڅ کړي دی يا چا ورکړي دی يا يي دکور څخه دباندي اچولي دی نو دليل يي دا دي چي دغم اوفکر څخه به خلاصي سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي زفت يي په زخم کي ايښي دی او زخم ښه سوي دی نو دليل يي دا دي چي دچا څخه به خير او خوشحالي وينې اوکه ووينې چي دده کالي په زفتو خراب سوي دی نو دليل يي دا دي چي داسي کار به کوي چي په هغه سره به بدنامه کيږي.

زکاة

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي ده دمال زکوة ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي دده مال به زيات سي اوکه ووينې چي سرسايه يي ورکړي ده نو دليل يي د ادی چي لمونځ روژي اوتسبيح به زيات کوي اوخلاصون به حاصل کړي او د قرضو څخه به خلاص سي اوکه ناجوړي وي نو شفا به حاصله کړي اوکه څوك دده دښمن وي نو پر هغه به کاميابي حاصله کړي. ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دمال زکوة ورکوي نو دليل يي دا دي چي دده مال به دده په قبضه کي سي او مصيبت به ځني ليري سي ځکه چي نبی صلی اللہ علیہ وسلم ويلي دی چي (حصنوا اموالکم بالزکوة) ترجمه: دخپل مال څخه زکوة ورکړي اومحفوظ يي کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چي دخپل مال څخه زکوة ورکوي نو دا دمال په زياتيدو

Maktaba Tul Ishaat.com

دلیل دی دالله تعالی فرمان دی (ومآ اتیتم من زکاة تریدون وجه الله فاولئك هم المضعفون، سورة الروم: ۳۹) ترجمه: اوڅه چي تاسو خاص دالله تعالی درضا لپاره زکات ورکړي نو تاسو دغه مال دوچنده کوي. جعفر صادق رحمة الله علیه ویلي دی چي په خوب کي صدقه او زکوة ورکول په اتوو وجو دی ۱: بشارت ۲: خیر اوبرکت ۳: مشکل کار حل کیدل ۴: مراد پوره کیدل ۵: رڼا ۶: دغم څخه خلاصون ۷: زیاتوالي ۸: پر دښمن کامیابي حاصلول.

زنګار\زنګ

ابن سیرین رحمة الله علیه ویلي دی چي په خوب کي زنګ لیدل دحرام مال لیدل دی اوکه ووینې چي دچا څخه یې زنګ اخستي دی نو دلیل یې دا دي چي دهغه په اندازه به حرام مال حاصل کړي اوکه ووینې چي زنګ یې په اور اینبي دی او اور ښه بل سوي دی نو دلیل یې دا دي چي دپاچا سره به معامله کوي اودهغه څخه به فایده پورته کوي. ابراهیم کرمانی رحمة الله علیه ویلي دی چي په خوب کي زنګ پر مال او مراد دلیل دی او که ووینې چي دده بدن او کالي زنګ سوي دی نو دلیل یې دا دي چي ده ته به دپاچا څخه نقصان رسیږي اوکه ووینې چي ده زنګ خوړلي دی نو دلیل یې دا دي چي حرام مال به خوري او اخیر کار به ده ته به دپاچا څخه غم اوفکر ورسیږي.

زکام\نزله

ابن سیرین رحمة الله علیه ویلي دی چي که څوك ووینې چي ده ته دزکام ناجوړي ده نو دلیل یې دا دي چي یو څو ورځي به ناجوړه وي او څونه چي زکام زیات وي هغونه به یې ناجوړي زیاته وي او ابراهیم کرمانی رحمة الله علیه ویلي دی چي که څوك ووینې چي نزله یې ده نو دلیل یې دا دي چي غصه به کوي اوبیا به ژر صلح کوي. جعفر صادق رحمة الله علیه ویلي دی چي په خوب کي زکام په دروو وجو دی ۱: لږ ناجوړي۲: غصه کول ۳: نفع حاصلول.

زلابیه\زلوبي

زلوبي یو قسم خوږه متایي ده ابن سیرین رحمة الله علیه ویلي دی چي په خوب کي زلوبي په بي اندازي کوشش سره پر ډیر مال اوپه خوشحالي دلیل لري اوکه ووینې چي دده سره زلوبي دی نو دلیل یې دا دي چي په هغونه اندازه به ورته مال ملاو سي اوکه ووینې چي چا ده ته لږ حلوی ورکړي ده یا یې دده په خوله کي اینبي ده نو دلیل یې دا دي چي دچا څخه به دخوشحالي خبره اوري. جابر مغربی رحمة الله علیه ویلي دی چي که څوك ووینې چي زلوبي یې بغیر دزعفران څخه خوړلي دی نو دلیل یې دا دي چي دهغه په اندازه به مال حاصل کړي اوکه ووینې چي زعفرانو والا زلوبي یې خوړلي دی نو دلیل یې دا دي چي ناجوړه به سي.

زلزله

ابن سیرین رحمة الله علیه ویلي دی چي که څوك ووینې چي مځکه حرکت کوي نو دلیل یې دا دي چي دځمکي دحرکت مطابق به ددغه ملك خلکو ته دپاچا څخه غم اوفکر ورسیږي او اهل تعبیر بیان کړي دی چي خلکو ته به افت رسیږي اوپه دغه ملك کي به ناجوړي راسي. اوکه ووینې چي

مځکه وغورزيدله اولاندي باندي سوه نو دليل يي دا دي چي په دغه ملك كي به بلا اوفتنه راسي. ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي مځکه سوكه او نبوريدله اونيمه غرقه سوه نو دليل يي دا دي چي په دغه ملك كي به داسي پاچا راځي چي دغه ملك والا ته به عذاب وركوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي زلزله او دځمكي غرق كيدل د پاچا دطرف څخه محنت او پر لوی مصيبت دليل دی دا دالله تعالی فرمان دی (فخسفنا به وبداره الارض، سورة القصص: ۸۱) ترجمه: مونږ هغه او دهغه كور په مځكه كي غرق كړ. په هر حال په خوب كي زلزله دهغه ملك والاو لپاره په عذاب اوملامتيا دليل دی.

زمرد\زمروت (يو قيمتي شين كاڼی)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي زمرود په زوی يا وروړ يا پر حلال مال دليل دی اوكه ووينې چي دده سره زمرود دی يا چا وركړي دی نو دليل يي دا دي چي دده به زوی راځي يا به د وروړ څخه نفع حاصله كړي اوكه ووينې چي دده څخه زمرود ورك سوي دی نو دليل يي دا دي چي دده زوی به مري يا به يي مال ختميږي. ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي زمرود په خوب كي پر مذهب اوپاك دين دليل دی او څونه چي زيادت يانقصان په زمرود كي وي نو دهغه تعبير دا دی چي دی به دپاك مذهب طرف ته رجوع كوي او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي زمرود ليدل نيكه خبره وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي زمرود په خوب كي ليدل په پنځو وجو دی ۱: زوی ۲: وروړ ۳: حلال مال ۴: مينځه ۵: نيک غلام او څونه چي زمرود نبه وي دهغه په اندازه به بيان سوي دليلونه نبه وی.

زمستان\ژمی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي ديخني موسم پاچا دی كه په خوب كي ووينې چي يخني ده اوخلك تنګوي نو دليل يي دا دي چي ملك والاو ته به دپاچا څخه نقصان رسيږي اوكه ووينې چي ديخني موسم دی او هوا يخه ده او چاته ضرر اونقصان نه وركوي نو دليل يي دا دي چي ددغه ملك خلكو ته به دپاچا څخه خير اونفع حاصله سي اوپه خوب كي ديخني موسم پر وخت ليدل پر نصرت اوفتح مندي دليل دی.

زمين\مځكه\زمكه

دانيال عليہ السلام ويلي دی چي مځكه په خوب كي نبځه ده اوكه ووينې چي دده سره فراخه نبه پاكه صفا مځكه ده نو دليل يي دا دي چي دده نبځه به ستر كوونكي اوصلاح كاره وي اوپه خپلوانو كي به هغه ته دځمكي دغټ والي اوفراخوالي مطابق عزت اومرتبه حاصله سي اوكه ووينې چي په دغه مځكه كي شينكي او نامعلوم بوټي دی او پيژني چي دا دده ملكيت دی نودليل يي دا دي چي دي به مسلمان او ديندار وي اوپه خوب كي شين ګياه اسلام دی. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك ووينې چي په مځكه كي شين ګياه او بوټي دی او ځاي يي معلوم وی نو دليل يي دا دي چي ده ته به فضليت اوايمانداري حاصله سي اوكه ووينی چي پر مځكه يي

Maktaba Tul Ishaat.com

بنياد اينبي دی اوعمارت يي باندي جوړ کړي دی نو دليل يي دا دي چي ده ته به په دين اودنيا کي فضليت حاصل سي او داخرت ثواب به ورته حاصل سي اوکه ووينې چي دده مځکه په ځنګل کي دبيابان په ډول ده او دهغه مځکه يې نه ده پيژندلي نو دليل يي دا دي چي ليري سفر به کوي اوکه ووينې چي مځکه کني اوخوري يي نودليل يي دا دي چي دخاوري خوړلو په اندازه به مال حاصل کړي اوکه ووينې چي په مځکه کي ښخ سوي دی اوهلته څه کنده ياڅاه نه وي او په دغه ځاي کي غايب سوي دی نو دليل يي دا دي چي مري به اوکه ووينې چي مځکه يي دڅاه يا تهه خاني په ډول کيندلي ده نودليل يي دا دي چي له فراخه ځمکي څخه تنګي ځمکي ته تللي دی نو دليل يي دا دي چي دنيك کار څخه به په نامعلوم کار کي اخته سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي مځکه دده سره خبري کوي اوده ته دخير اوصلاح خوشخبري اوروي نو دليل يي دا دي چي په دنيا کي به ډيري نيکي کوي اودمړګ څخه وروسته به يي خلک په نيکي سره يادوي اوکه ووينې چي مځکه پرده فراخه سوي ده نودا دده پر ډير عمر او دژوند پرفراخي دليل دی اوکه ووينې چي دځمکي پيمايش کوي نودليل يي دا دي چي په سفر به ځي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي مځکه کري نو دليل يي دا دي چي په لوی شغل کي به مشغول سي او دښځي دطرف څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي خپله مځکه ابادوي نو دليل يي دا دي چي دده کار به اباد او نيك وي اوکه مځکه خرابه ووينې نو د دې تعبير د اول خلاف دی او دده به دچا سره جنګ کيږي اوکه خپل ځان په مځکه کي کرل سوي ووينې نو دليل يي دا دي چي دده به دچا سره شراکت وي اويا به ديوي ښځي سره نکاح کوي اوکه ووينې چي اوبه راغلي او مځکه يي غرقه کړه اوفصل يي تباه کړو نو دليل يي دا دي چي دپاچا څخه به غم حاصل کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي مځکه ليدل په څلورو وجو وي. ۱: ښځه ۲: دنيا ۳: مال ۴: ولايت.

زنان \ ښځه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ځوانه ښځه خوشحالي ده او بوډی ښځه دنيا ده او د دې جهان شغل دی اوپه خوب کي ښځي ليدل په قدر دخوی پر ښايست او غټوالي او کمزور والي دليل دی او ښه ښځه په خوب کي هغه ښځه وي چي معروفه اومعلومه وي اومعلومه ښځه درزق فراخي ده اوبد شکله اوکمزوري ښځه قحط او تنګي ده او خوشحالي او ښايسته ښځي د دې جهان مراد دی اوبوډي ښځه پر ګندګي نامرادي اوبد حالي دليل لري. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ښځه ووينې چي د دي داسي عضو تناسل دی لکه څنګه چي دسړو وي نو دليل يي دا دي چي د دې زوی به پيداسي اودغه زوی به يي په قوم اوخاندان کي مشر او سردار وي اوکه ځوانه ښځه ووينې چي دابوډي سوي ده نو دا پر خير او ددين اودنيا پر نيکي دليل دی اوکه ووينې چي د دې عضو تناسل دی او جماع کوي نو دليل يي دا دي چي د دې عزت او بزرګي به کمه سي اوکه ښځه ووينې چي دي دسړو کالي اغوستي دی اودغه ښځه

پرهيزګاره وي نو داپه خير اونيکي دليل دی اوکه فسادي وي نوپه شر اوفساد دليل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دښځو سره دوستي داهل دنيا لپاره دمال زياتوالي دی اوداهل نيکي لپاره علم دی اودنا اشنا ښځي تعبير داشنا ښځي څخه ښه دی اوکه ووينې چي څوك دده پر ښځه ظلم کوي نودليل يي دا دي چي ددغه ښځي اهل به مالدار وي اوکه ووينې چي دده ښځه دفساد لپاره په پردي سړی پسي تللي ده نو دليل يي دا دي چي زوی به راوړي اوخير او نفع به حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ښځه ليدل په شپږو وجو دی ۱: واده ۲: دنيا ۳: ددې جهان شغل ۴: دنعمت پراخي ۵: قحط ۶: مالداري.

زنار (هغه تار چي هندوان او مجوسيان يي پر ملا يا غاړه ټړي)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده په لاس کي زنار دی نو دليل يي دا دي چي په دين کي به کمزوري وي اوکه ووينې چي زنار يي پر ملا ټرلي دی که ليدونکي پرهيزګار نه وي نو کافر به سي اوکه پرهيزګار وي نو ددښمن څخه به انصاف حاصل کړي اوکه ووينې چي زنار يي پريکړي اودباندي يي وغورزوي نو دليل يي دا دي چي دبدوکارو څخه به توبه کوي او دالله تعالی طرفته به رجوع کوي او نيکه لاره به خوښوي.

زنبور \ مچمچۍ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي مچمچۍ بد ذاته اوبد سړی دی اوکه ووينې چي دی مچمچي چيچلي دی نودليل يي دا دي چي دبد سړی څخه به غم ورته ورسيږي. اوکه ووينې چي پرده ډيري مچمچۍ جمع سوي دی نو دليل يي دا دي چي په بدو خلکو به ګرفتار سي خاصکر که مچمچي چيچلي هم وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دي مچمچۍ چيچلي دی نو دليل يي دا دي چي دڅو بدو ښځو سره به يي کار وسي اوکه ووينې چي مچمچۍ دده څخه چاپيره جمع سويدی نو دليل يي دا دي چي په دغه ملك کي به بي قياسه لښکر راځي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي مچمچۍ ليدل په شپږو وجو دی ۱: شور ۲: بد سړی ۳: لښکر ۴: ملخ ۵: دښمن ۶: هلکان.

زنبيل \ جولۍ

زنبيل ټوکري جولي دخير کاسه ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ښځه يامينځه ده که ووينې چي دده سره زنبيل دی نو دليل يي دا دي چي ده ته به خادم ملاوسي اوبعض وا يي چي زنبيل په خوب کي مال او نعمت دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي زنبيل په خوب کي ليدل په اتو وجو دی ۱ عورت ۲ خادم ۳ مينځه ۴ ددين مضبوطي ۵ دبدن درستي ۶ ډير عمر ۷مال اونعمت ۸ خير اوبرکت.

زنجيل \ سوندۍ \ شوندۍ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سوندۍ ليدل پر غم اوفکر دليل دی او د دې خوړل ضرر اونقصاني وي. اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي په خوب کي سوندۍ پر حکمت اوبحث دليل دی اوپه خوب کي سوندۍ ليدل اوخوړل پر فايده نه ورکولو دليل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

زنجير\زنځير

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي زنځير پر معصيت اوګناه دليل دی اوکه ووينې چي زنځير مات سو او ده وغورزوی نودليل يې دادي چي دګناه څخه به توبه کوي او دالله تعالی طرفته به رجوع کوي. جابر مغربی رحمه الله ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده په څټ کي زنځير دی نو دليل يې دا دي چي دخلکو په مال کي به لاس وهنه کوي اوځان به دحرامو څخه بچ کوي اوکه ووينې چي دده په پښه کي زنځير دی نو دليل يې دا دي چي دخلکو په کورونو کي به ګناه کوي او په خوب کي زنځير ليدل ګنهګار سړی دی.

زنخ\زنه

زنه په خوب کي دکور سردار اوډير عقلمند دی که ووينې چي دده زنه غټه سويده نو دليل يې دا دي چي دکور والاوو لپاره به ذليله سي، جابر مغربی رحمه الله ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي څوك دده پر زنه باندې زنه وهي نو دليل يې دادي چي دسرادر خاندان سره به دده خبرې او بحث راسي او دده څخه به خفه سي. اوکه ووينې چي دده دزني څخه وينه وتلي ده نو دليل يې دا دي چي ده ته به دخاندان دمشرانو څخه نقصان رسيږي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي دده په کار اوکسب کي به نقصان راسي.

زندان\قيدخانه\جيل خانه

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي که څوك ووينې چي دی په قيدخانه کي دی اوقيديان يې نه وي ليدلي نو دا دده پر هلاکت دليل دی اوکه قيدخانه معلومه وي نو پر غم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چي دقيدخاني بيړي دده په پښه کي پرته ده نو دليل يې دا دي چي دده کار به تر ډيرې مودې پورې وي اوپه غم اوفکر کي به وي. ابراهيم کرمانی رحمه الله ويلي دی چي که خوب ليدونکي پرهيزګار نه وي نو ده ته به ددين په شغل کي غم اوفکر حاصل سي اوکه ووينې چي يو سړی لره تلوار لګول سوي دی او روان دی نو دليل يې دا دي چي دده بندکار به پوره سي. جعفر صادق رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي معلومه قيدخانه ليدل مراد حاصلول دی او عاقبت به يې نيك وي دالله تعالی فرمان دی (قال رب السجن احب الی مما يدعونني اليه، سورة يوسف: ۳۳) ترجمه: عرض يې وکړې چي اې زما ربه دکوم شي طرفته چي دوي ما غواړي دهغه څخه قيدخانه ماته خوښه ده. اوکه قيدخاني نامعلومه وي نو هغه به قبر وي لکه څنګه چي يوسف عليه السلام ويلي دی (السجن قبر لاحيآء ومنزل البلوی وتجربة الاصدقآء وشماتة الاعداء) ترجمه: په خوب کي قيد خانه دژوندو قبردی اودبلا منزل دی او ددوستانو ازمآيش اوددښمنانو خوشحالي ده اوکه ووينې چي قيدخاني ته تللی دی او ژړځني راوتلي دی نو دليل يې دا دي چي پوره مراد به حاصل کړي. ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي قيد خانه قبر دی.

زنګله\ګنګرو\دلاس بنګړۍ

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي ګنګرو جنګ دی اوکه ووينې دده سره ګنګرو دی

نو دليل يي دا دي چي دچا سره به جنګ کوي اوکه ووينې چي يو ملګري ده ته دسرو يا سپينو زرو ګنګرو ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي ديو مالدار سره به جنګ کوي اوکه ووينې چي ګنګرو دسپينو زرو يا دپيتلو دی نو دليل يي دا دي چي دده به دعام سړی سره جنګ کيږي.

زهار (ترنامه لاندي دوريښتانو ځای)\سپوخسته \زيرناف

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده دسپوختي وينښته نسته نو دليل يي دا دي چي دده کار به بند سي اوکه ووينې چي دده په سپوخته کي ناجوړي يا درد دی نو دليل يي دا دي چي دتکليف مطابق به خوب ليدونکي ته زحمت رسيږي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سپوخته ليدل په دوو وجو ده. ۱: مال ۲: ښځه اوځه کمي يازياتي چي په سپوخته کي وي دهغه تعبير به ښځي او دده مال ته رجوع کوي.

زهر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي زهر خوړل حرام مال اوباطل اوناحقه خون دی اوکه ووينې چي دزهرو خوړلو سره دده بدن پرسيدلي دی نو دليل يي دا دي چي حرام مال به حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي دده ټول بدن دزهرو څخه ډك دی نو دليل يي دا دي چي يو کاربه کوي په هغه کي به سخت حرصناکه وي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي خبره به کوي او مخ ته به ځي. اوکه ووينې چي زهرو دده بدن ته تکليف رسولی دی يا پرسيدلي دی نو دليل يي دا دي چي دهغه مطابق به ورته غم اوفکر رسيږي اوکه ووينې چي زهر يي خوړلي دی نو دليل يي دا دي چي پرچا به غصه کوي.

زهر (تلخ)\تريخی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي دی دخلکو تريخي خوري نو دليل يي دا دي چي غصه به کوي اوکه ووينې چي دپټو تريخي يي خوړلي دی نودليل يي دا دي چي بدخويه او غصه ناك به وی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي دخلکو په تريخو دده بدن خراب سوي دی دليل يې دا دی چي خلکو ته به تکليف ورکوي اوکه ووينې چي دده بدن دحيوانانو په تريخو خراب سوي دی دليل دا دی چي دحرامو کالي به اغوندي اوکه ووينې چي دده بدن په تريخي ورکولو سره خراب سوی دی نو دليل يي دا دي چي دبدخويه اونالايقه سړی سره به دوستي کوي.

زوبين\نيزه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوك ووينې چي دده په لاس کي نيزه ده اودنيزي څخه علاوه ورسره نور څه نسته نو دليل يي دا دي چي دده به زوی پيداسي اوکه ووينې چي دنيزي سره نوره وسله هم ورسره ده نو دليل يي دا دي چي دپاچا څخه به خير اونفع وينې او پر دښمن به کاميابه سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوك ووينې چي ده نيزه ويشتلي ده نو دليل يي دا دي چي لويه خبره به کوي اوکه ووينې چي څوک يي په نيزه زخمي کړي دی دليل دی چي پرچا به د درواغو تهمت لګوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

زيتون\روغن زيتون\دزيتون تيل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې زيتون غم اوفکر دی اوکه ووينې چې دده سره زيتون دی يا چا ورکړي دی دليل يې دا دی چې دهغه په اندازه به غم اوفکر ورته وي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې دزيتون تيل پر خير اوبرکت دليل دی اوکه ووينې چې دزيتون تيل صفا کوي اوخوری يې دليل دی چې دهغه په اندازه به غم اوفکر ورته وي. جابر مغربی ويلي دی چې که څوک ووينې چې زيتون ترخه نه دی او ډوډي يې ورسره خوړلي ده نو دليل يې دا دي چې ده ته به په محنت سره نفع حاصله سي.

زيره باج\مصالحه داره چکني

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې مصالحه داره چکني که تروه نه وي او دخوږوالي طرفته مايل وي نو په خير اونفع دليل دی اوکه دتريو والي طرفته مايل وي نو پر غم اوفکر دليل دی اوکه په دي کې زعفران هم وي نو پر ناجوړي دليل دی اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چې په خوب کې مصالحه داره چکني خوړل پر غم اوفکر دليل لري.

زيلو\غالی

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې هواره سوي غالي پرډير عمر او دکار په پوره کيدو دليل دی او څونه چې غالي اوږده وي ښه وي اوکه غالي رانغښتي وي نو دعمر په نقصان دليل دی اوکه ووينې چې پر کوچني غالي ناست دی او هغه دده په کښينستو سره فراخه سوي ده نو دليل دی چې ژوند او روزي به باندي فراخه وي اوکه غالي يې پخپل لاس رانغښتي وي اودکور په ګول کې يې ايښي وي نو دليل يې دا دي چې خپل عزت اومال به تباه کوي اوکه ووينې چې ده غالي پر ملا ايښي ده نو دليل يې دا دي چې دده عمر ختم سوي دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوک ووينې چې دده سره شينه اوپاکه غالی ده نو دليل يې دا دي چې پر ده به نعمت فراخ سي اوکه ووينې چې زړه او څيري غالي ده نو دليل يې دا دي چې پر ده به دژوند تنګي وي اوکه ووينې چې نامعلومه غالی يې اچولي ده نو دليل يې دا دي چې څه دده سره وي هغه به ځني ولاړ سي اوکه ووينې چې ده ته نوي غالي ملاو سوي ده او دده په کور کې اواره سوي وي نو دليل يې دا دي چې دولت اومرتبه به حاصله کړي او دده عمر به زيات سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې غالي ليدل په شپږو وجو دی. ۱: دکار جوړيدل ۲: ډير عمر ۳: فراخه روزي ۴: عزت اودولت ۵: دژوند دشواري ۶: ګناه.

زيره\زنګي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې ډيره زيره ووينې نو ددين اودنيا پر نفع دليل دی او جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې که په خوب کې لږ زيره ووينې نو لږ نفع ده.

زين\کته

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې زين که دحيوان پر ملا نه وي نو ښځه ده اوکه د حيوان پر ملا يې ووينې نو ددې دښمنه اوبد حکم په سور دی. اوکه ووينې چې زين يې واغوستي

يا چا ورکړي نو دليل يي دا دي چي مينځي به اخلي يا به ښځه کوي اوډير مالداره به وي او ممکنه ده چي دچا وراثت به حاصل کړي اوکه ووينې چي زين څيري سو نو دليل يي دا دي چي دده ښځه به مري يابه ناجوړه سي.

[س]

سار (يو مرغه دی)

سار يو خوش اوازه مرغه دی که په خوب کي ووينې چي سار دده سره دی نو ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي پرمکار سړی دليل دی چي ډير سفر به کوي. اوکه ووينې چي ده سار نيولي دی يا چا ورکړي دی نو دليل لي دا دي چي دمسافر سړی سره به دده صحبت وي اوکه ووينې چي ده دسار غوښه خوړلي ده نو دليل يي دا دي چي څونه يي خوړلي وي دهغه په اندازه به ورته خير او نفع رسيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سار ليدل کافر سړی ليدل دی چي ډير درواغ وايي اوکه ووينې چي ډير سارونه پر ده جمع سوي دی نو دليل يي دا دي چي په کافرو کي به ګرفتار سي.

ساطور \ چاړه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي چاړه بهادر او زړور سړی دی اوکه په خوب کي ووينې چي دده سره چاړه ده نو دليل يي دا دي چي دده به دداسي سړی سره صحبت وي دکوم څخه چي به خير اونفع وينې اوکه ووينې چي چاړه ماته سوه يا ورکه سوه نو دليل يي دا دي چي دداسي سړی څخه به جلا سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي چاړه داسي سړی وی چي مشکل کار دهغه په وجه اسانه کيږي خاصکر که غټه چاړه وي.

ساعد \ مړوند

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دلاس مړوند په خوب کي دوست اومعتبر شريك دی اوکه ووينې چي دده مړوند قوي دی نو دليل يي دا دي چي ده ته به ددوستانو او شريکانو څخه خير او نفع ورسيږي اوکه ووينې چي دده مړوند مات سوي دی نو دليل يي دا دي چي ددوستانو او شريکانو څخه به جلا سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي دده پر مړوند ډير وريښته دی نو دليل يي دا دي چي دوستان به ځني جلا سي اوغمجن به سي اوکه ووينې چي ده دخپل مړوند څخه وريښته خريلي دی نو دليل يي دا دي چي دقرض څخه به خلاص سي.

ساق \ پنډی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي پنډی مال اومعيشت دی اواهل تعبير بيان کړي دی چي پنډی دخلکو لپاره عزت اومرتبه ده. که ووينې چي دده پنډي قوي ده دليل يي دا دي چي دده کار به ښه وي اوکه دده پنډي ماته سوي ده نو دليل يي دا دي چي دده پر بدن به بدي وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي پنډي ليدل دسړو لپاره ښځه او د ښځو لپاره خاوند دی اوکه خپلي پنډي ديو بل سره يو ځاي ووينې نو دا دخوف او د هلاکت دليل دی اوکه

Maktaba Tul Ishaat.com

وويني چي دده پر پنډي ډير ويښتان دی نو دليل يي دا دي چي قرضدار به سي اوکه وويني چي دپنډي څخه يي وريښته خريلي دی نو دليل يي دا دي چي دي به دقرض څخه فارغ سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي پنډي ليدل په څلورو وجو دی ۱: مال ۲: معيشت ۳: ډير عمر ۴: دسړو لپاره ښځه او د ښځو لپاره خاوند.

سايه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي سايه بزرګي اوهيبت دی او دپاچا سايه هم په تعبير کي پاچاهي ده او ددیوال سايه بزرګ سړی دی اودبي ميوو درختي سايه په فساد دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک چي وويني چي په يوځاي کي ترسايي لاندي ناست دی نودليل يي دا دي چي دده مرګ نزدی دی دالله تعالی فرمان دی (الم تر الی ربك كيف مد الظل ولو شآء لجعله ساكنا، سورة الفرقان: ٤٥) ترجمه: ته دخپل رب دقدرت طرفته نه ګوري چي ده سايه څونه لويه پيدا کړي ده اوکه غوښتي يي نوهغه به يي ايساروله. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دسايي لاندي کښينستل په پنځو وجو وي ۱: بزرګي ۲: هيبت ۳: پناه ۴: نفع ۵: مرګ.

سابيان\ څپر

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي څپر په خوب کي بد پاچا دی که وويني چي ترڅپر لاندي ناست دی نو دليل يي دا دي چي دداسي پاچا خدمت به کوي اوکه وويني چي څپر پرده را ايله سو او ده ته يي تکليف ونه رسوي نو دليل يي دا دي چي پاچا به غصه باندي کوي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي چي که وويني چي څپر دپشم يا دسوترو دی اودهغه رنګ سپين يا شين دی نو دليل يي دا دي چي دظالم پاچا خدمت به کوي.

سپر\ ډال

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي ډال په لاس کي لرل دليل دی چي دپاچا دخلکو څخه به ورته پناه وي اوکه د ډال سره نوره وسله هم وويني نو پر داسي سړی دليل دی چي دوستان او وروڼه به دبدي څخه په حفاظت کي ساتي اوکه وويني چي ډال يي پر مځکه ايښي دی نو دليل يي دا دي چي دده به ديو فاضل سړی سره صحبت وي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي ډال ليدل په شپږو وجو وي. ۱: ورور ۲: دوست ۳: قوت ۴: زوی ۵: امن ۶: د ډال د بزرګي مطابق پشت پناهي.

سپرز\ توری

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي توري ليدل مال او واده دی اوکه وويني چي دده سره دغوايي توري دی نو دليل يي دا دي چي ده ته به په هغه کي څه حاصل سي اوکه وويني چي دده سره توري دی نو دليل يي دا دي چي دبزرګ سړی څخه به ورته مال حاصل سي اوکه وويني چي دده سره دځنګلي حيوان توري دی نو دليل يي دا دي چي دمسافر سړی څخه به ورته

مال حاصل سي اوکه ووينې چې دده سره ډير توري دی نو دليل يې دا دي چې دهغه په اندازه به دقلعي مال حاصلوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې هر قسم توري ليدل مال دی او دکومو ځناورو غوښه چې حلاله ده دهغه توري ليدل حلال مال دی اودکوم حيوان غوښه چې حرامه ده دهغه توري ليدل حرام مال دی.

سبزه \ شين ګياه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې شين ګياه دين دی خاصکر که په خپل وخت کې وي که څوک په خوب کې ووينې چې دده په مځکه کې شينکي دی نو داپه صلاح اوپاك ديني دليل دی اوکه ووينې چې دده په مځکه کې نامعلوم وانبه دی او دي هغه نه پيژني او هغه ته په تعجب سره ګوري اوپيژني چې دغه مځکه دده ملکيت دی نو داتول دده په دين او ديانت دلالت کوي اوکه ووينې چې په دغه مځکه کې معلوم وانبه دی نو دا دده پر مال او دنعمت پر فراخي دليل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې شين ګياه که په خپل وخت کې وی نو دده پر زهد او پرهيزګاري دليل دی. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې شين ګياه ښه ده اوکه ووينې چې په شين ګياه کې مقيم دی نو دليل يې دا دي چې ددين په لاره کې به قايم سي اوکه ووينې چې مړي په شين ګياه کې مقيم دی نو دده پر عاقبت او د اخرت په ثواب دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که شين ګياه پاکه اولويه ووينې اوپيژني چې دا دده ملکيت دی نو پر پاك دين پرهيزګاري او دده پر ديانت دليل دی اوکه شين ګياه ژړه اومړاوي ووينې نو د دې تعبير داولني خلاف دی اوکه ووينې چې په شين ګياه کې دی او دا دبل چا ملکيت وي نو دليل يې دا دي چې دده صحبت به دپرهيزګارو او ديندارو خلکو سره وي اوکه د دې خلاف ووينې نو دده صحبت به دخرابو خلکو سره وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې شين ګياه ليدل په څلورو وجو دی ۱: سلامتي ۲: دين ۳: پاك اعتقاد ۴: پرهيزګاري.

سبل \ دسترګو ناجوړي

سبل دسترګو يوه ناجوړي ده ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې دده په سترګو کې سبل ناجوړي ده چې د دې په وجه ليدلي نه سي نو دليل يې دا دي چې دتاريکي مطابق به دده په دين کې نقصان وي اوکه سترګې يې اسماني رنګې وي اوپه هغه کې سبل وي نو دليل يې دا دی چې دبدعت پرلار به وي اوکه ووينې چې په سرو سترګو کې يې سبل دي نو دليل يې دا دي چې زوی به يې ناجوړه سي اوکه ووينې چې دسترګو څخه يې سبل ايستلي دی نو دليل يې دا دي چې توبه به وکړي اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دی چې زوی به يې دناجوړي څخه ښه سي اوکه په سفر کې وي نو په سلامتي سره به واپس راسي.

سبو \ چاټی \ ماټی \ منګی \ سړوبی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې چاټي منافق سړی دی دچا په لاس چې مال ورکيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې چاټي مينځه يا خادم دی که ووينې چې نوي چاټي يې اخيستي ده نو دليل يې دا دي چې مينځه به اخلي يا به غلام حاصل کړي

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکه ووينې چې چاتې ورکه سوي ده يا ماته سوي ده نو دليل يې دا دي چې دده مينځه يا خادم به مري اوکه ووينې چې دی په چاتې کې سپور سويدی نو دليل يې دا دي چې دده مينځه يا خادم به ناجوړه سي اوکه ووينې چې چاتې دپاکو اوبو څخه ډکه ده نو دليل يې دا دي چې دمينځې يا خادم څخه به نفع حاصلوي. جعفرصادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې چاتې ليدل په پنځو وجو دی. ۱: منافق مزدور ۲: ښځه ۳: خادم ۴: مينځه ۵: ددين مضبوطي.

سبوس \ بوس \ پروړ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې بوس په خوب کې ليدل پرمحتاجي دليل دی که په خوب کې ووينې چې يو سړی دبوسو ډوډۍ خوري نو دليل يې دا دي چې په دغه ملك کې به قحط او تنګي راسي اوکه ووينې چې بوس يې دکور څخه دباندي غورزولي دی نو داپر نعمت اوفراخي دليل دی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې بوس ليدل په دروو وجو دی ۱: محتاجي ۲: قحط ۳: د ژوند تنګي.

سپيداب \ سپيني اوبه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې سپيني اوبه ليدل پر غم اوفکر دليل دی که ووينې چې دده سره سپيني اوبه دی يا چا ورکړي دی نو دليل يې دا دي چې دچاسره به بحث کوي او همیشه به غمجن وي اوکه ووينې چې دده پر مخ سپيني اوبه دی نو دليل يې دا دي چې دهغه په قدر به ددنيا سامان حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې سپين مخي خدمتګار دی او بعض اهل تعبيرو بيان کړي دی چې دکور مالك دی او ددې ښه اوبدکيدل دکور دمالك طرفته رجوع کوي.

سپيده مهره \ کنجکه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك په خوب کې کنجکه ووينې نو دليل يې دا دي چې دده پټ راز به ښکاره سي اوکه ووينې چې دکنجکو سره بازي نه سي کولای نو دليل يې دا دي چې نه پيژندونکي کار به کوي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې کنجکه ليدل دسړيو لپاره غم اوسختي او دښځو لپاره رسوايي اوراز ښکاره کيدل دی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې کنجکه ليدل په څلورو وجو دی ۱: خراب شي ۲: درواغ خبره ۳: دراز ښکاره کيدل ۴: غم او سختي.

ستاره \ ستارګاه \ ستوري

دانيال عليه السلام ويلي دی چې په خوب کې ستوري په بزرګانو اومالدارانو اولمر پرپاچا اوسپوږمۍ پر وزير دليل دی. که په خوب کې زحل ستوري ووينې نو دليل يې دا دي چې دده کار به دکلي والاو سره وي او دهغوي څخه به ورته مال اونفع حاصله سي اوکه مشتري ستوري په خوب کې ووينې نو دليل يې دا دي چې دده کار به دسردار مصلح پرهيزګار اوخيرمند سره راسي اوکه مريخ ستوري ووينې نو دده کار به دښايسته اوبارعبه ښځو سره او دخادمانو سره راسي او دهغوي څخه به خير اوارامي حاصله کړي اوکه عطارد ستوري ووينې نو دده صحبت به

دهوښيار اوخبر سړی سره وي اودهغه څخه به فايده حاصله کړي اوکه ووينې چې بعض ستوري دده سره خبري کوي نو دليل يې دا دي چې بزرګي اومرتبه به حاصله کړي. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې دځلورو ستورو څخه لکه عيوق عقيق سهيل کليل چې دکومو مشرکانو خلک عبادت کوي چې يو پکښې په خوب کې ووينې نو دليل يې دادي چې دده صحبت به دمشرکانو سره وي اوکه ووينې چې روښانه ستوري پر مځکه را ايله سوي دی اوورک سوي دی نو دليل يې دا دي چې په دغه ملك کې به يو څوك عالم ددنيا څخه رخصت سي دا لله تعالی فرمان دی (وبالنجم هم يهتدون، سورة النمل: ١٦) ترجمه: اودغه خلک پر ستورو دهدايت لاره حاصلوي اوکه ووينې چې ستوري ګرځي نودليل يې دا دي چې په بزرګانو کې به فتنه اوفساد راسي اوکه ووينې چې ستوري يې په لاس کې نيولي دی نو دليل يې دا دي چې دده به زوی پيداسي اوهغه به دپاچا مقرب وي اوکه پخپل کور کې ستوري ووينې نو دليل يې دا دي چې دده به زامن ډير وي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك ووينې چې ستوري داسمان څخه ګډوډ سوي دی نو دليل يې دا دي چې دپاچا اود رعايا ترمينځ به تفرق راسي اوکه ووينې چې سعد ستوري په يو ځای کې جمع سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده کار به نيك وي اوکه ستوري دده دکور څخه وتلي وي نو دليل يې دا دي چې دده زامن به دپاچا مقرب سي اوکه ووينې چې ستوري دده تابعدار سوي دی نو دليل يې دا دي چې پاچاهي به حاصله کړي اوکه ووينې چې ستوري خبري کوي نو دليل يې دا دي چې پاچا دوخت به منصف وي اوکه د دې خلاف ووينې نو پاچا به جابر او ظالم وي اوکه ووينې چې ده ستوري پخپل لستونې کې ايښې دی نو دليل يې دا دي چې ډير مال به حاصل کړي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك ووينې چې په ستورو کې يو ستوري دده پربرابر حرکت کړي دی او دده په غيږ کې را ايله سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده زوی به عزتمند او دمرتبې خاوند وی او که ووينې چې دستورو عبادت کوي نو دليل يې دا دي چې ديو بزرګ ياعالم خدمت به کوي. اسماعيل اشعث رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې هغه ستوري ليدل په کومو سره چې خلک پر ځنګلي لاره معلوميږي پرخير او نفع دليل دی اودکومو ستورو چې خلک عبادت کوي دهغه ليدل پربدي اونقصان دليل لري. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې ستوري ليدل په نهو وجو دی. ١: فقهاء ٢: علماء ٣: خلفاء ۴: وزيران ۵: وران ځای ٦: خزانه ٧: جنګيالي خلک ٩: شاګردان.

حکايت

په بغداد کې يو سړی په خوب کې وليدل چې يو روښانه ستوري پر مځکه را ايله سوي دی اهل تعبير بيان کوي چې يو عالم به ددنيا څخه ختميږي او بيا په دغه هفته کې امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه د دې فاني دنيا څخه رخصت سو.

ستون \ ستنه \ پيلر

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې ستنه دخوب ليدونکي لپاره دولت مند اوعزتمند

Maktaba Tul Ishaat.com

سړی دی که په خوب کي ووينې چي دده سره قوی ستن ده نودليل يي دا دي چي دعزتمند سړی څخه به ورته مال حاصل سي اوکه ووينې چي دده دکور ستنه را ايله سوي ده يا ماته سوي ده نو دا دده پر هلاکت دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ستن اسلام دی اوکه ووينې چي ستن را ايله سوی ده نو دليل يي دا دي چي دکور مالك به هلاک سي اوکه ووينې چي دده دکور ستنه نړی ده نو داددە ددين پر کمزوي دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ستنه ليدل په پنځو وجو وي. ۱: دولت مند ۲: مړک ۳: دبدبي والا سړی ۴: په کارولو کي قوت ۵: ولايت.

سجاده \ ځای نماز \ جای نماز

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ځاي نماز ليدل ښه والي دی اوکه ووينې چي په جماعت کي پرځاي نماز ناست دی نو دليل يي دا دي چي حجاز ته به په سفر ځي دالله تعالی فرمان دی (واتخذوا من مقام ابراهيم مصلی، سورة البقرة: ۱۲۵) ترجمه: اومقام ابراهيم دلمانځه ځاي جوړ کړه خاص که ووينې چي په جماعت کي يي اعتکاف هم کړي دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي ځاي نماز دربښم يا دسوترو دی نو دليل يي دا دي چي په اطاعت اوعبادت کي به مشغول سي اوکه ووينې چي دده ځاي نماز سوزلي دی نو د دې تعبير داولني خلاف دی اوکه ووينې چي دده ځاي نماز دپشمينې دی نو دليل يي دا دي چي دده عبادت به دريا کاري وي.

سجده

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي الله تعالی ته يي سجده کړي ده نو دليل يي دا دي چي پربزرګ اومالدار سړی به فتحمند سي اوکه ووينې چي دالله تعالی څخه ماسوا بل چاته يي سجده کړي ده نو دليل يي دا دي چي دزړه مرادبه يي پوره نه سي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي سردار ته سجده کوي نو دليل يي دا دي چي دپاچا څخه به ورته غم ورسيږي دالله تعالی فرمان دی (افتعبدون من دون الله ما لا ينفعكم شيئا ولا يضركم، سورة الانبياء: ٦٦) ترجمه: ايا تاسو دغيرالله عبادت کوي چي تاسو ته نه نفع درکولاي سي اونه نقصان.

سختن \ تلل \ تول کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوك ووينې چي دده په لاس کي تله ده او څه باندي تلي نو دليل يي دا دي چي په خلکو کي به انصاف کوي اوکه ووينې چي صحيح تول کوي نو دليل يي دا دي چي په ريښتيا به حکم کوي دالله تعالی فرمان دی (وزنوا بالقسطاس المستقيم، سورة الشعراء: ۱۸۲) ترجمه: او په صحيح تلي سره وزن کوي. که ووينې چي صحيح تول کوي که اهل علم وي نو قاضي به سي اوکه عالم نه وي نو دليل يي دادي چي دقاضي محتاج به سي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي صحيح تول نه کوي نو تعبير يي داولني خلاف دی.

سخن\خبري

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي خبري کول او اوريدل دژبو په لحاظ مختلف تاويل لری که ووينی چي په عربی ژبه کي خبري کوي نو دليل يي دا دي چي دبزرګانو څخه به عزت اومرتبه حاصله کړي او دحضور صلى الله عليه وسلم احاديث شريف به اوري اوکه په فارسي ژبه کي يي خبري کړي وي يا يي اوريدلي وي نو دبزرګانو په صحبت کي به اوسيږي او دهغوي څخه به نيکي حاصلوي اوکه په عبراني ژبه کي يي خبري کړي وي يا يي اوريدلي وی نو دليل يي دا دي چي وراثت به حاصل کړي اوکه په هندي ژبه کي يي خبري وکړي يا واوري دليل دی چي دبي اصله اوبد سړی سره به يي کار راسي اوکه په ترکي ژبه کي خبري کوي يايي اوري دليل دی چي دکلي والاوو په صحبت کي به وي اوکه په خوارزمي ژبه کي خبري وکړي يا واوري دليل دی چي خرابي خبري به اوري اوکه په سقلابي ژبه کي خبري وکړي يا واوري دليل دی چي دده کار به د بي انصافه سړی سره راسي اوکه په يوناني يا پښتو ژبه کي خبري وکړي يا واوري دليل دی چي په عقلي کارونو کي به مشغوله سي اوکه په رومي ژبه کي خبري وکړي يا واوري دليل دي چي ده ته به دکم عقله دصحبت څخه غم اوفکر ورسيږي. ابراهيم کرمانی رحمه الله ويلي دي چي که څوك ووينی چي په ټولو ژبو کي خبري کوي او اوري نو که خوب دخير اوصلاح وي نو تعبير يي صلاح اوخير دی اوکه دشرارت اوفساد خبري کوي نو تعبير يي شر اوفساد دی. اوکه ووينی چي پخپلو اندامونو کي ديو سره خبري کوي نو دليل يي دا دي چي پرخپل ځان به ريښتينی ګواهي ورکوي دالله تعالی فرمان دی (يوم تشهد عليهم السنتهم وايديهم وارجلهم بما كانوا يعملون، سورة النور: ٢٤) ترجمه: اوپه کومه ورځ چي به ددوي ژبي او لاسونه اوپښي ددوي دعملونو ګواهي ورکوي او دکومو اندامو سره چي به خبري کوي دليل دی چي پر بي انصافي او ظلم به وي.

سداب (يوه دوا)

ابن سيرين رحمه الله ويلی دي چي سداب په خوب کی جنګ دی که ووينی چي دده سره سداب دی يا چا ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي دچا سره به جنګ کوي اوکه ووينی چي سداب يي خوړلي دی نو هم يي دغه تعبير دی. جابر مغربی رحمه الله ويلي دی چي که څوك ووينی چي سداب ژړ سوي دی او دي يي خوري نو دليل يي دا دي چي ناجوړه به سي اوکه ووينی چي سداب يي چا ته ورکړي دی يا يي دکور څخه دباندي غورزولي دی نو دليل يي دا دي چي دجنګ څخه به خلاصون حاصل کړي او سداب په خوب کي ليدل غير مفيد دی.

سر

دانيال عليه السلام ويلي دی چي په خوب کي سر ليدل دقوم سرادري وي اوکه ووينی چي پري سوي سر يي اخيستي دی نو دليل يي دا دي چي دسردار سره به دوستي ساتي او دهغه څخه به خير اونفع حاصله کړي اوکه ووينی چي دتوري دزخم څخه بغير يي دده سر دبدن څخه جلا کړي دی

Maktaba Tul Ishaat.com

که قرضداروي نو دقرض څخه به خلاص سي اودغم څخه به خوشحاله سي که داخوب غلام ووينې نو دليل يې دا دي چې ازاد به سي اوکه ناجوړه يې ووينې نو شفا به حاصله کړي اوکه سردار يې ووينې نو ملک به حاصل کړي اوکه ازاد اومالدار داخوب ووينې نو ښځه به کوي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې ډير پرې سوي سرونه ووينې نو دليل يې دا دي چې په دغه ځاي کې به ډير سرداران جمع سي اوکه ووينې چې ددغه سرونو څخه يې وينښته يا پوست يا ماغزه ايستلي دی نو دليل يې دا دي چې ددغه سرادارانو څخه به مال حاصل کړي اوکه ووينې چې دسرونو پوست يې خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې دعزتمندو او سردارانو څخه به مال حاصل کړي اوکه ووينې چې دخلکو دسرونو پوست خوري نو دليل يې دا دي چې يو رئيس به پر ده غصه کوي اوکه ووينې چې ديو معلوم سړی سر يې خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې خپله سرمايه به خوري اوکه ووينې چې دځنکلي حيوان سر يې خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې مال به حاصل کړي اوکه ووينې چې دنامعلوم سړی سر يې خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې دي به دچا سرمايه خوري اوکه ووينې چې دچرګ سر يې خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې دهغه په اندازه به دپاچا مال خوري اوکه ووينې چې يو سړی ده ته يو سر يا ډير سرونه راوړي دی نو دليل يې دا دي چې ددغه ټولګي سردار به سي اوخير اونيکي به ځني حاصله کړي اوکه په خوب کې دښځې سر ووينې نو دليل يې دا دي چې دمالدارو ښځو څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چې سر يې خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې عمر به يې زيات سي او حلال مال به خوري اوکه ووينې چې دغوايي سر يې خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې په دغه کال به مال او نعمت حاصلوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې خپل سر غټ ووينې نو دليل يې دا دي چې عزت اومرتبه به حاصله کړي اوکه ووينې چې دده دوه سرونه دی نو دليل يې دا دي چې دده کار به قوي سي اوکه خپل سر لځ ووينې دليل دی چې دخپل کار څخه به معزول سي اوغمجن به سي اوکه پرخپل سر زخم ووينې چې وينې ځني بهيږي نو دليل يې دا دي چې دچا سره به يې جنګ وسي اوکه ووينې چې دده دسر څخه ماغزه راوتلي دی اوپه مځکه را ايله سوي دي نو دليل يې دا دي چې دده دلاسه به سرمايه ولاړه سي اوکه ووينې چې ماغزه يې بيا پرخپل ځاي ايښې دی نو دليل يې دا دي چې بيا به مال حاصل کړي اوکه ووينې چې دده سر مات سويدی نو دليل يې دا دي چې نيک کار به کوي اوکه ووينې چې دده په لاس کې پرې سوي سر دی نو دليل يې دا دي چې ډير مال به حاصل کړي. اوکه ووينې چې دده سره نيکي خبری کوي نو دليل دی چې نيکو کار به سي اوپه کارونو کې به انصاف کوي اوکه خرابي خبری کوي نو د دې تعبير داول څخه خلاف دی اوکه خپل سر دوه ټکړي ووينې په داسي شان سره چې نيم يې په راسته لاس کې دی اونيم په چپه لاس کې نو دليل يې دا دي چې دده مور اوپلار به مري اوکه ووينې چې خپل سر يې په لاس کې دی نو دليل يې دا دي چې دسردار څخه به خير او نفع حاصله کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې دده سر دهاتي يا فيل دسر په ډول سوي دی نو دليل يې دا دي چې ملك به

حاصلوي اوکه ووينې چې دده سر داس دسر په ډول سوي دی نو دليل يې دا دي چې دفساد اوحرامو طرفته به مايل وي اوکه ووينې چې دده سر داس دسر په ډول سوي دی نو دليل يې دا دي چې دپاچا څخه به مال حاصل کړي اوکه ووينې چې دده سر دخره دسر په ډول دی نودليل يې دا دي چې دخپل بخت څخه به نصيب حاصل کړي اوکه ووينې چې دده سر دغوايي دسر په ډول دی نو دليل يې دا دي چې دمخلوق په نزد به خوار وي اوکه ووينې چې دده سر دبوزي دسر په ډول دی نو دليل يې دا دي چې پرده به جهالت غالب راځي اوکه خپل سر دزمري دسر په ډول ووينې نوحکومت به حاصلوي او دښمن به مغلوب کړي اوکه خپل سر دسپي دسر په ډول ووينې نو ذلت او خواري به حاصلوي اوکه خپل سر دخنزير دسر په ډول ووينې خداي مو دي وساتي په خپل فضل او کرم سره، دده ميلان به دکفر طرفته وي.

اوکه ووينې چې دده سر دبلورو په ډول سوي دی نو دا دده په هلاکت دليل دی اوکه ووينې چې دده سر دسروزرو يا دسپينو زرو سوي دی نو دليل يې دا دي چې مال به حاصل کړي اوکه ووينې چې دده سر داوسپني يا دکانې سوي دی نو دليل دی چې د بد سردار خدمت به کوي اوکه و وينې چې دده سره دلرګي دی نو دليل لي دا دي چې دده مرګ نژدی دی اوکه ووينې چې دده سر دتيکري دی نودليل يې دا دي چې دمسخراچي سړی خدمت به کوي اوکه خپل سر دچرګانو دسر په ډول ووينې نو دليل دی چې په سفر به ځي اوکه خپل سر پري سوي ووينې، نو دليل دی چې ده ته به پهانسي ورکړه سي اوکه خپل سر دبدن څخه جلا سوي ووينې او ده بيا پرخپل بدن ايښي دی او جوړ سوي وی نو دليل دی چې دشهيدانو مرتبه به حاصلوي اوکه ووينې چې دده سره سردی او دده ښځه حامله وي نو دليل يې دا دي چې زوی به يې پيداسي.

اوکه ښځه خپل سر خريل سوي ووينې نو دليل دی چې د دې خاوند به مري اوکه ووينې چې سره غوښه يې دسر خوړلي ده نو دليل يې دا دي چې مال به حاصل کړي اوکه ووينې چې سور کړي سر يې اخيستي دی ياچا ورکړي دی او ده خوړلي دی نو درئيس څخه به فايده پورته کوي.

جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې دسور کړه سوي سر تعبير رئيس يا سردار دی او که ووينې چې کچه سر يې خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې دسردار غيبت به کوي اوسور کړه سوی سر په خوب کي ليدل دکچه څخه ښه دی. حافظ معبر رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي دسړی سر پلار دی يا سردار دی يا زوی دی اوکه خپل سر پري سوي ووينې نو دليل يې دا دي چې دمور اوپلار څخه به جلاسي اوکه خپل سر پخپل لاس کي ووينې نو دليل دی چې دهغو سر به ملاو سي اوکه خپل سر يې بيا پرخپل څټ لګولي وی نو دليل يې دا دي چې دچا سرمايه به اخلي يا به قرض ورکوي اوکه ووينې چې پري سوي سرونه دده سره دی او ګډيږي نو دليل يې دا دي چې ددغه ولايت سردارانو ته به غم اوفکر رسيږي اوکه پرخپله وړه دپاچا سر ووينې نو لس زره درهمه به حاصل کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کی دسړی سر ليدل په دولسو وجو وي ۱: رئيس۲: سردار ۳ : پلار ۴: مور ۵: امام ۶: موذن ۷: عالم ۸: لس زره درهمه حاصلول ۹: هلك ۱۰: غلام ۱۱ : ښځه ۱۲: مالدار سړی اوکه په خوب کي ووينې چې دده سر

Maktaba Tul Ishaat.com

غټ دی او نوي کالي يې اغوستي دی نو دليل يې دا دي چې دده دوستي به دسردارانو سره وي اوکه خراب کالي يې اغوستي وي نو دليل يې دا دي چې دسردار څخه به ورته غم رسيږي اوکه ووينې چې په تنور کې يې سرونه ايښي دی نو دده به دسردارانو دنوکرانو سره کار وسي.

زمين سراب \ شګلنه مځکه

دشګلني مځکي تعبير يې فايدي علم اوخبره ده چې هيڅ نفع په کې نه وي ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك ووينې چې په شګلنه مځکه کې مقيم دی نو دليل يې دا دي چې په باطل علم اوبې فايدي خبرو کې به مشغول وي اوکه ووينې چې دشګلني مځکي څخه خوراك کوي نو دليل يې دا دي چې په باطل سره به ډوډۍ جمع کوی.

سرا پرده \ لويه پرده \ پرده

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك په لويه پرده کې خپل ځان ووينې اوپيژني چې دا دده ملکيت ده نو دليل يې دا دي چې بزرګي اومرتبه به حاصله کړي او ممکنه ده چې سرداربه سي اوکه ووينې چې دپاچا په لويه پرده کې مقيم دی نو دليل يې دا دي چې دپاچا څخه به عزت او مرتبه حاصله کړي اوکه ووينې چې دپاچا لويه پرده غورزيدلې ده نو دليل يې دا دي چې دهغه سلطنت ته به زوال وي اوکه ووينې چې دپاچا لويه پرده سوزل سوي ده نو دليل يې دا دي چې پاچا به مري اوکه ووينې چې پاچا دی دلوي پردي څخه دباندي کړي دی نو دليل يې دا دي چې پاچاهي به حاصلوي اوملك به حاصل کړي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې لويه پرده ليدل په پنځو وجو دی ۱: سلطنت ۲: رياست ۳: ولايت ۴: دولت ۵: سپاهي جوړيدل.

سرا \ سراى \ هاؤس \ کور

دانيال عليه السلام ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې په پردي سراي کې دي او څوك يې نه پيژني او هلته مړی دی نو دليل يې دا دي چې دغه سراي اخرت دی او دخوب ليدونکي مرګ نژدی دی اوکه هلته تللي وي اوبيا بيرته راغلي دی نو دليل دی چې ناجوړه به سي ليکن شفا به حاصله کړي اوکه ووينې چې معلوم سراي ته تللي دی او دهغه بنياد دخاوري وي نو دليل يې دا دي چې حلاله روزي به حاصل کړي اوکه دهغه بنياد دچوني اوپخو خښتو وي نو حرام مال به حاصل کړي اوکه ووينې چې دغه سراي لوي او فراخ دی نو پرده به روزي فراخه سي اوکه کوچني سراي ووينې نو تعبير يې داول څخه خلاف دی. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك ووينې چې خپل سراي خرابوي نو دليل يې دا دي چې سمه لاره به پرځان بنده کړي او عبادت به نه کوي اوکه ووينې چې زوړ سراي يې خراب کړي دی نو دليل يې دا دي چې په ده به دخيرات دروازي خلاصي سي اوکه نوي او پاك سراي ووينې نو دا پر تندرستي او دمور اوپلار پر ډير عمر دليل لري. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك ووينې چې په پاك اونوي سراي کې دننه دی او پيژني چې دا دده ملکيت دی نو دليل يې دا دي چې روزي به باندي فراخه سي او عزت اومرتبه به حاصله کړي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې سراي په خوب کې ليدل په اوو وجو دی. ۱: دسړی لپاره ښځه او دښځې لپاره خاوند ۲: دولت ۳: امن ۴: ژوند ۵: مال ۶:

ولايت ۷: امانت او عزت.

سرب \ قلعي \ كلايي \ سرپ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره قلعی ده نو دليل يې دا دي چي ددنيا بد مال به حاصل کړي اوکه ووينې چي قلعی ويلي کوي نو دليل دی چي په بدي سره به دخلکو په ژبه کي راسي.

سرخي جامه \ سره كالي

سره کالي د سړو لپاره غم بدي اواندېښنه ده او د ښځو لپاره خير اوخوشحالي ده که سړی ووينې چي دده ټوله کالي سره دی نو دليل يې دا دي چي فتنه اوخونريزي به دده په لاس کيږي او دسوروالي مطابق به پر خلکو ظلم کوي.

سرخچه \ سري دانې

سري داني په خوب کي ليدل پر ډيرمال دليل لري اوکه ووينې چي دده په بدن سري داني راختلي دی نو دليل يې دا دي چي مال به په غم او سختي سره حاصل کړي اوکه ووينې چي سري داني دده دبدن څخه ورکي سوي دی نو د دې تعبير داولني خلاف دی.

سرفه \ ټوخی \ كهانسي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ټوخي په پنځو وجو وي۱: ترټوخي ۲: وچ ټوخي ۳: بلغمي ۴: چي وينه پکښې وزي ۵: چي صفرا پکي وزي. که په خوب کي ووينې چي دټوخي په وخت بلغم وتلي دی نو دليل يې دا دي چي چا ته به دموجوده مصيبت شکايت کوي. يا به دمال شکايت کوي چي ورک سويدی اوکه وچ ټوخي ووينې نو دده شکايت به بې فايدي وي اوکه تر ټوخي وي نو دخپلوانو څخه به ورته شکايت وي اوکه دټوخي سره وينه ووينې نو ده ته به دزامنو څخه شکايت وي اوکه دده ټوخي دصفرا وي نو دهر چا څخه به شکايت کوي اوکه ووينې چي يو سردار ټوخيږي نو دليل يې دا دي چي ددين غمخور به وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ده ته ټوخي راغلي دی نو دا پر عاجزي دليل دی اوکه ووينې چي ټوخي دده په مري کي پاته سوي دی نو دليل يې دا دي چي دده دمرګ وخت نزدی دی اوکه ووينې چي ده ته دبوډاګانو ټوخي دی اوبلغم غورزوي نو دليل يې دا دي چي دغم او محنت څخه به خلاصون وموميي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دی ټوخيږي نو دليل يې دا دي چي ده ته به دپاچا دطرف څخه افت رسيږي.

سركه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي سرکه په خوب کي حلال مال دی بابرکته دی او ددی دخوړلو تعبير نيک دی دنبي کريم صلی اللہ علیہ وسلم فرمان دی (خير الادام خل) ترجمه: بهترين د ګولي پوري کېدو شی سرکه ده اوبعض اهل تعبيربيان کړي دی چي په خوب کي تروه سرکه غم اوفکر دي اوپه

Maktaba Tul Ishaat.com

خوب کی سرکه فروشی جنګ کوونکي سړی دی.

ګندګي\غائطه\سرګين\غوشيان\سوټي\خوشايي

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دغوا غوشيان مال اونعمت دی اوکه ووينې چي ډير غوشيان يي جمع کړي دی نو دليل يي دا دي چي مال اونعمت دی اوکه دسړی لويی بولي ووينې نو په حرام مال دليل دی اوکه ووينې چي په غسل خانه کي يي غوشيان اچولي دی نو دليل يي دا دی چي ده ته به خرابه خبره رسيږي او دمال نقصان به يي وسي اوکه ووينې چي په بستره کي يي پليتي کړي ده نو دليل يي دا دي چي دخپل مال څه حصه به خپل اولاد ته ورکوي اوکه ووينې چي غوشيان يي په مځکه کي ښخ کړل نو دليل دی چي مال به په مځکه کي پټوي ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي دسړی غوشيان خوري نو دليل يي دا دي چي حرام مال به خوري اوکه ووينې چي په نامعلومه ځای کي يي غوشيان اچولي دی نو دليل دی چي مال به په يو ځای کي خرڅ کوي اوکه ووينې چي خپل بدن يي په غوشيانو خراب کړي دی نو دليل يي دا دي چي په ګناه کي به راسي اوکه ووينې چي په خوب کي دستونه باندي لګيدلي دی نو دليل يي دا دي چي خپل مال به په اسراف سر خرڅ کوي. دانيال عليه السلام ويلي دی چي په خوب کي دسړی لوی بولي حرام مال دی او دحيوانانو غوشيان حلال مال دی او ددرندګانو غوشيان هغه مال دی چي په ظلم سره حاصل سي. جابر مغربی رحمه الله عليه ويلي دی چي کومه پليتي دانسان څخه جلا کيږي هغه پر نقصان دليل لري اوکه ووينې چي په پليتي کي ډوب دی اوغرق سوي دی نو دليل يي دا دي چي دپاچا څخه به ورته غم ورسيږي اوکه ووينې چي په پليتي کي يي پښه ايښي ده اورا ايله سوي دی او دده کالي اوبدن يي خراب کړي دی دليل يي دا دي چي دحاکم څخه به نقصان حاصل کړي. جعفر صادق رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي غوشيان ليدل په څلورو وجو دی ۱: حرام مال ۲: دزرق فراخي ۳: په اولاد خرڅ کول ۴: دغم ليري کيدل.

سرګين ګردان\ګونګټ

ګونګټ په خوب کي مال جمع کولو والا سړی دی ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ګونګټ مي نيولي دی نو دليل يي دا دي چي دده به دحرام خور سړی سره صحبت وي اوکه ووينې چي ګونګټ يي وژلي دی نو دليل يي دا دي چي حرام خوری به وژني اوکه ووينې چي خوړلي يي دی نو دليل يي دا دي چي دحرام خور مال به خوري.

سرما\يخني

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي يخني غم اونقصان دی اوکه ووينې چي يخني يي سويده نو ديخني مطابق به فقير او تنګدسته سي اوکه يخني ورته نقصان رسولي وي نو دخپلوانو څخه به ورته نقصان ورسوي.

سرمه\رانجه

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي رانجه مال دی که ووينې چي په سترګوکي يي

رانجه لګولي دی نو دليل يې دا دي چې ددين دصلاح تلاش کوونکي دی اوکه ووينې چې چا ورته رانجه ورکړي دی نو دليل يې دا دي چې دهغه په اندازه به خوب ليدونکي مال حاصلوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې رانجه دسړو اوښځو لپاره عزت اومرتبه ده او بعض اهل تعبير بيان کړي دی چې په خوب کې رانجه پيدا کول دحق لاره اوثواب دی او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې رانجه خرڅونکي داسې سړی دی چې ددين داصلاح لټون او کوشش کوي ځکه چې سترګه دين دی او رانجه رښا ده.

سرمه داني\رنجوني\درانجو کڅوړه يا دبلی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې رنجوني ښځه ده چې هر وخت دالله طرفته رجوع کوي او خلک ددين طرفته رابولي اوکه ووينې چې دده رنجوني ماته سوي ده نو دليل يې دا دي چې دده ښځه به مري. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې رنجوني ديندارہ ښځه ده که ووينې چې دده رنجوني ورکه سوي ده نو دليل يې دا دي چې دښځې دصحبت څخه به جلا سي اوکه ووينې چې رنجوني يې اخيستي ده نو دليل يې دا دي چې ديندارہ مينځه به اخلي.

سرنج (يو ډول دارو)

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې سرنج غم اوفکر دی اوکه ووينې چې سرنج ورسره دی يا چا ورکړي دی نو دليل يې دا دي چې غمجن اوفکر مند به سي اوکه ووينې چې سرنج خوري نو دليل يې دا دي چې ناجوړه به سي اوکه ووينې چې سرنج يې چا ته ورکړي دی يا يې ليږلي دی نو دليل په دا دي چې دغم څخه به خلاص سي.

سرود\غزلي\سروز\موزيک

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې غزلي پر بې فايدي خبرو اوپه مصيبت دليل لري اوکه ووينې چې غزلي دنورو سازونو لکه باجه يا شپيلۍ سره ږغوي نو دليل يې دا دي چې فکر اومصيبت به يې زيات وي اوکه ووينې چې غزلي اوري نو دليل يې دا دي چې بې فايدي خبري به اوري. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې په بازار کې غزلي وايي دليل دی چې مالدار خلک به رسوا سي اوفقيران به غمجن سي اواهل تعبير بيان کړی دی چې په خوب کې غزلي ويل يا اوريدل په شپږو وجو وي ۱: بې فايدي خبري ۲: غم اوفکر ۳: مصيبت ۴: رسوايي ۵: جنګ ۶: علم اوحکمت.

سرونها\ښکر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې هر قسم ښکرونه ښه دی اوخوب ليدونکي به دبزرګ څخه خير اونفع وينې که دغوا ښکر ووينې نو په دغه کال به ورته ډيره نفع وي اوکه ډير غټ وي نو زياته نفع به حاصله کړي اوکه ووينې چې ښکرونه په هوا کې زړيږي نو دليل يې دا دي چې دغه ملك والاوو ته به خير اونفع حاصله سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په

Maktaba Tul Ishaat.com

خوب کي ووينې چې دده پرسر دوه ښکرونه دی نو دليل يې دا دي چې دبزرګ څخه به قوت حاصل کړي اوکه خوب ليدونکي پرخپل سر ډير ښکرونه ووينې نو داپه غم اوفکر دليل لري. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې يو ښکر لري نو دليل يې دا دي چې دده کار به سم وي اوعمر به په خوشحالي سره تير کړي اوکه ووينې چې په دغه ښکر خلک وهي نو دليل دی چې خلکو لره به بدي رسوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي دځنګلي ځناورو ښکرونو پر خير اونفع دليل لري او دښکاري ځناورو ښکرونه د دې خلاف دی.

سريش\سريښ\سريخ\صريخ\ګون

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي سريش پر غم اوفکر دليل لري او د دې خوړل دضرر اونقصان سبب وي اوکه ووينې چې په سريښو يې څه شي مښلولی دی نو دليل يې دا دي چې څه کار به کوي چې دی به بيا پر سمه لار راولي.

سريشم(يو قسم سريښ چې د پوست څخه وزي)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې دده سره سريشم دی يا چا ورکړي دی نو دليل يې دا دي چې ده ته به دهغه په قدر ارام رسيږي اوکه ووينې چې ده سريشم خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې دعيال په وجه به څه کار کوي چې محکم او مضبوط به وي.

سرين\کوناټي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې کوناټي په خوب کي ليدل دخپلوانو څخه يو تن ليدل دی اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دی چې راسته کوناټي پر زوی اوچپه پرلور دليل لري اوکه کوناټي کوچني اوکمزوري ووينې نو تعبير يې داول څخه خلاف دی اوکه ووينې چې دده کوناټي مات سوي دی نو دليل يې دا دي چې دده زوی به مري. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي کوناټي ليدل په څلورو وجو دی. ۱: زوی ۲: قوت ۳: باغ ۴: په خپلوا نو کي يوتن.

سطل\تال

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي تال پر خدمتګار دليل دی اوکه ووينې چې نوي تال يې اخيستي دی دليل دی چې مينځه به اخلي اوکه ووينې چې دده په تال کي سپور دی دليل دی چې په مينځه کي به يې عيب ښکاره سي.

سعتر(يوه ګياه)

سعتر يو قسم ګياه ده چې دهغه سره دمعشوقو دزلفو تشبيه ورکوي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي سعتر غم اوفکر دی اوخوړل يې جنګ دی اوبعض وايي چې د دې خوړل دمال نقصان دی اوپه خوب کي سعتر ښه نه دی.

سفر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې سفر يې کړي دی او دغه ځاي د اولني څخه ښه دی دليل دی چې دده کار به نيك سي اوکه ښه نه وي نو تعبير يې د دې خلاف دی اوکه

وويني چي سفر يي کړي دی اومعلوم ورته نه دی چي چيري تللي دی دليل دی چي دخپل عيال څخه به جلاسي يابه ددغه ځاي څخه بل ځاي ته ځي اوکه وويني چي ديو ټولګي درخصتولو لپاره تللي دی يا يو ټولګي دده درخصتولو لپاره راغلي دی نو دليل يي دا دي چي دده حال او کار به تريو وخت پوري متغير وي اوبيا به خپل حال ته راسي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که وويني چي پر نوي او پاک دستر خوان دی يا يي اخيستي دی دليل دی چي دده مينځه به بد صورته وي اوکه وويني چي دده پر دستر خوان ډوډی اونعمت پروت دی نو دليل دی چي دمينځي څخه به فايده حاصله کړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دستر خوان ډير نفعمند سفر دی اوکه دسترخوان خالي او کوچني وي دليل دی چي لږ نفع به اخلي اوکه وويني چي دده دسترخوان سوزيدلي يا ورک سويدی نو دليل دی چي دده مينځه به مري يا به يي مال ورکيږي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي دستر خوان په څلورو وجو دی. ۱: مينځه ۲: خدمتګار ۳: سفر ۴: کسب او ژوند.

سفوف (ميده دوا)

سفوف په خوب کي خوړل غم اوفکر دی ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوک وويني چي سفوف يي وخوړل او دهغه څخه يي خير اونفع حاصله کړله نو پر ښه والي دليل دی.

سقا \ مشکي \ مشکيزه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي مشکي داسي سړی دی دچا په لاس چي خيرات کيږي خاصکر که وويني چي خلکو ته اوبه بغير دځه طمعي او لالچ نه ورکوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک وويني چي بغير دځه لالچ څخه مشکي توب کوي نو دليل يي دا دي چي داخرت طرفته مايل دی اوکه وويني چي مشک د اوبوڅخه ډک دی اوچا ته اوبه نه ځني ورکوي دليل دی چي مال به جمع کوي. اودهغه څخه به ارام نه حاصلوي اوکه وويني چي دخلکو کورونو ته اوبه وړي نو دليل يي دا دي چي دخلکو لپاره به مال جمع کوي او دهغه څخه به ورته فائده نه وي.

سقنقور (د شګو يو ماهی)

سقنقور يو ماهي دی چي په شګو کي وي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي وويني چي دده سره سقنقور دی نو دليل يي دا دي چي ده ته به يي کارونه حاصل سي او ژر به مراد ته ورسيږي ليکن دين به يي کمزوري وي اواهل تعبير بيان کړی دی چي سقنقور ماهي به خوب کي ښه نه دی.

سقمونيا \ جلاب

سقمونيا يوه دست راوستونکي دوايي ده ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سقمونيا پر غم اوفکر او دمال پر نقصان دليل لري اوکه وويني چي ديوې ناجوړي لپاره يي خوړلي ده او شفا يي حاصله کړي ده نو پرخير اونفع دليل دی اوکه دسقمونيا په خوړلو سره ورته نقصان رسيدلي وي نو دمال په نقصان دليل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

سګ \ سپی

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي سپي بد اومهربانه دښمن دی اوتور سپي په عربو کي دښمن دی اوسپین سپي په عجمو کي دښمن دی اوکه ووینې چي سپي خوړلي دی دلیل دی چي ددښمن څخه به ورته تکلیف رسیږي اوکه ووینې چي دده کالي دسپي دخولي په ناوړو خراب سوي دی دلیل دی چي ددښمن په خبره به بد حاله سي اوکه وینې چي دسپي غوښه یي خوړلي ده دلیل دی چي دښمن به دفع کړي اوکه ووینې چي سپي ته یي ډوډي ورکړي ده دلیل دی چي روزي به باندي فراخه سي اوکه ووینې چي سپي ورته نزدی سوي دی دلیل دی چي دښمن به یي لالچ کوي اوکه ووینې چي سپي پر ده تکبیر کړي دی دلیل دی چي په دښمن به بروسه کوي اوکه ووینې چي دسپي شیدي یي چیښلي دی دلیل دی چي ده ته به خوف اوبیره رسیږي اوکه ووینې چي سپی ځني تښتیدلي دی دلیل دی چي دښمن به یي خطرناك وي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که ووینې چي سپی دده کورته راغلي دی دلیل دی چي دکم همته اوبدي ښځي سره به واده کوي. اسماعیل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي ښکاري سپي ښکاره دښمن دی اوکه ووینې چي دښکاري سپي په ذریعه ښکار کوي دلیل دی چي ده ته به ددښمن څخه چي دهوښیارتیا دعوه کوي خیر رسیږي اوکه ووینې چي دښکاري سپي غوښه یي خوړلي ده دلیل چي وراثت به حاصل کړي اوکه ووینې چي ښکاري سپي ځني لیري سوي دی دلیل دی چي دنفع مند دښمن څخه به جلا سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي سپي لیدل په څلورو وجو وی ۱: دښمن ۲ : لالچي پاچا ۳: هوښیار ۴: چغل خور سړی.

سکبا (یو ډول خوراک)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که سکبا دبوزي دغوښي اودښه شیانو سره پوخ سوي وی نو پر ژوند خوشحالي عزت اومرتبي دلیل دی اوکه دغوا دغوښي سره یي پوخ سوي ووینې نو پر مال او مراد حاصلولو دلیل دی اوکه دچرګ سره یي پوخ سوي ووینې نو پر ژوند خوشحالي بزرګي او حکومت دلیل دی.

سکوره \ دخاوري ګلاس

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که په خوب کي ووینې چي چا نوي دخاورو ګلاس ورته ورکړي دی دلیل دی چي پاکه خبره به اوري اوبعض اهل تعبیر بیان کړي دی چي په خوب کي دخاورو ګلاس مینځه ده که ووینې چي دخاورو ګلاس یي نوي اخیستي دی دلیل دی چي نوي مینځه به اخلي اوکه ووینې چي دامات سوي دی دلیل دی چي مینځه به یي هلاکه سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي دخاورو ګلاس لیدل په نهو وجو دی. ۱: ښځه ۲: خادم ۳: مینځه ۴: ددین پایداره کېدل ۵: دبدن درستي ۶: ډیر عمر ۷: مال ۸: پاکه خبره ۹: دښځو دطرفه وراثت حاصلول.

سکنجبین (یو ډول شربت)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي سکنجبین که خوارۀ وي نو پر مال اوحلال روزي

دليل لري چي په اساني سره حاصليږي اوکه تريو وي نو په غم او فکر دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ناجوړه وويني چي ده خواږه شربت دسکنجبين چيښلي دی دليل دی چي شفا به حاصله کړي اوکه تريو يي چيښلي وي نو دليل يي دا دي چي ناجوړي به يي اوږده سي.

سلاح \ وسله

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك وويني چي وسله يي اغوستي ده او پردو خلکو ته تللي دی دليل دی چي عام خلک به باندي زباني کوي ليکن ده ته به څه خرابه خبره نه رسيږي او که وويني چي پخپلو بدو خلکو کي دی نو دليل دی چي پر دښمنانو به کاميابي حاصله کړي او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ځان په خوب کي دغشي ليندي سره وويني نو دليل دی چي بزرګي به حاصله کړي اوکه وويني چي دجنګ دسامان يو شي مات يا ورك سوي دی نو دا دده پر بزرګي کي دنقصان دليل دی اوکه وويني چي دچا سره جنګ کوي دليل دی چي په جنګ کي به راسي او که وويني چي چا بوتلي نو دليل دی چي دی سړي ته به مدد رسوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوك وويني چي دي نامعلوم سړی زخمي کړي دی دليل دی چي ده ته به نقصان رسيږي اوکه وويني چي دده د زخم څخه غوښه او هډوکي مات سوي دی دليل دی چي ددغه سړی څخه به ورته مال اونعمت حاصل سي اوکه وويني چي په جنګ کي يي دچا څخه لاس پريکړي دی دليل دی چي ده ته به سخته خبره کوي او ددوي ترمينځ به جدايي راسي اوکه وويني چي دچا دبدن غټه حصه يي پريکړي ده دليل دی چي دهغه مال به اخلي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دجنګ سامان ليدل په شپږو وجو وي. ۱: قوت ۲: بزرګي ۳: دولت ۴: ولايت ۵: رياست ۶: قلعه. اووسله جوړونکي سړی په خوب کي انصاف دار پاچا دی.

سلام کردن \ سلام کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي که په خوب کی ووينی چي دوست ورته سلام کړي دی دليل دی چي هغه انډيوال به ځني خوشحالي وينی اوکه وويني چي دښمن ورته سلام کړي دی نو دليل دی چي دغه دښمن به دده انډيوال سي اوکه وويني چي نامعلوم سړی ورته سلام کړی دی دليل دی چي څوك مسافر به دده دوست او اشنا سي اوکه وويني چي نامعلوم بوډا ورته سلام کړي دي دليل دی چي دالله تعالی دعذاب څخه به خلاص سي اوکه وويني چي معلوم بوډا سلام کړي دی دليل دی چي ښايسته ښځه به کوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينی چي انډيوال ورته سلام کړي دی او ده يي جواب نه دی ورکړي دليل دی چي ددوي ترمينځ به جدايي راسي او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي ځواني ښځي ورته سلام کړي دی دليل دی چي ددنيا بخت به حاصل کړي اوکه وويني چي په لمانځه کي دی او چپه طرفته يي سلام کړي دی نو دده کاربه دپريشاني وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سلام په څلورو وجو وي. ۱: امن ۲: واده ۳: بخت ۴: دمال نفع.

Maktaba Tul Ishaat.com

سلطان \ پاچا \ بادشاه \ باچا

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي که ووينی چي پاچا سراي يا جماعت يا بنار يا کلي ته تللي دی نو دليل يي دا دي چي هغه ځاي ته به غم اومصيبت رسيږي دالله تعالی فرمان دی (ان الملوك اذا دخلوا قرية افسدوها، سورة النمل: ٣٤) ترجمه: پاچا چي کوم کلي ته داخل سي هغه خرابوي اوکه ووينې چي په جنګ کي به پاچا غالب سوي دی دليل دی چي مرادبه يي پوره سي اومطلب ته به ورسيږي اوکه ووينې چي پاچا راسته لاس ورته پريکړي دی دليل دی چي ده ته به يو قسم ورکوي اوکه ووينې چي پاچا په ښکرو وهلي دی او زخمي کړي يي دی داټول دسلطنت دزوال نخښي دی اوکه داعادل پاچا ووينې نو دعدل مطابق پر شرف اوبزرګي دليل دی اوکه ووينې چي پاچا غټه غالي غوړولي ده دليل دی چي ده ته به ددنيا ملك حاصل سي اوعمر به يي زيات سي. جابر مغربی رحمه الله ويلي دی چي که پاچا پخپل کارکي نيك وي دليل دی چي عمر او مرتبه به يي زياته سی اوکه مړ سوي پاچا ورين تندي او خوشحاله ووينې او دده سره خبري کوي دليل دی چي دده کار به نيك وي او دده وران کارونه به سم سي.

سماروغ (يو ډول واښه)

سماروغ يوه ګياه ده چي کماغ هم ورته وايي، دا په خوب کي ليدل بي فايدي ښځه ليدل دي اوکه ډير يي ووينې نو پر مال اونعمت دليل لري ابراهيم کرمانی رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي لوی سماروغ پر زوی دليل لري او کوچني سماروغ پر لور دليل دی.

سماق (يو ډول دوا)

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي سماق ليدل پرجنګ دليل لري اوکه ووينی چي سماق يي خوړلي دی دليل دی چي دچا سره به بحث کوي اوپه سماق خوړلوکي خير نسته.

سمانه \ مړز

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي مړز دغلام زوی دی که په خوب کي ووينې چي مړز يي نيولي دی يا چا ورکړي دی دليل دی چي دده دغلام به زوی پيدا کيږي اوکه ووينې چي مړز دده دلاس څخه الوتلي دی دليل دی چي دده دغلام زوی به مري. ابراهيم کرماني رحمه الله ويلي دی چي مړز په خوب کي مال او حلال رزق دی دالله تعالی فرمان دی (وانزلنا عليكم المن والسلوى، سورة البقرة: ٣٧) ترجمه: او موږ تاسو ته ترنجبين او مړزان را ليږلي وو. جعفر صادق رحمه الله ويلي دی چي په خوب کي مړز ليدل په څلورو وجو وی. ١: د غلام زوی ٢: حلال رزق ٣: نفع ۴: خير اومال.

سمور (داول په ډول حيوان)

سمور داول په ډول حيوان دی چي دهغه دپوست څخه پوستين جوړيږي ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي سمور په خوب کي کافر ظالم او غل سړی دی که ووينې چي دسمور سره يي جنګ کړي

دی دليل دی چي ددې صفت سړی سره به جنګ کوي اوخوك چي غالب سي هغه به قوي وي او که ووينې چي دسمور غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي دظالم مال به خوري. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سمور کافر اومالدار سړی دی او په خوب کي د دې غوښه او پوست داسي شي دی چي دزړه خواهش وی اوکه ووينې چي سمور يي مړ کړو او دهغه غوښه پر مځکه را ايله سوه دليل دی چي دمسافر سړی مال به ورك سي.

سنان \ نيزه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي دښمن يي په نيزه وهلي او غورزولي يي دی دليل دی چي پر دښمن به غالب سي اوپه دليل سره به يي قايل کړي اوکه ووينې چي دده نيزه ماته يا ورکه سوي ده نو تعبير يي داولني خلاف دی او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي دده سره چمکداره فولادي نيزه ده نو که د دې داهل څخه وي نو ولايت به حاصل کړي اوکه د دې داهل څخه نه وي نو دبزرګ سړی څخه به نفع حاصله کړي اوکه و وينې چي دده نيزه زنګ نيولي دی نو لږه نفع به ورته وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي نيزه ليدل په شپږو وجو وي. ۱: دليل ۲ : ولايت ۳: ډير عمر ۴: فتح ۵: رياست ۶: دنيزي دقيمت مطابق نفع.

سنب \ سم (د حيوان د پښې هډوکی)

سنب دحيوان دپښې سم دي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سم زوی دی که ووينې چي دده سره سم دی يا چا ورکړي دی نو دليل يي دا دي چي زوی به يي پيداسي اوکه ورك سوي وي ځني نو دده زوی به غايب سي يا به مړسي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دخره سم مال دی اوکه ووينې چي دده سره ډير سمونه دی يا چا ورکړي دی دليل دی چي دهغه په اندازه به مال حاصل کړي اوکه ووينې چي د ده په پښه کي سم لګيدلي دی نو دده عمر به په خوشحالي اوارام سره تير سي اوکه ووينې چي سم را ايله دی نو د دې تعبير داول څخه خلاف دی.

سنبل (يو ډول واښه)

سنبل دورينبتو په ډول ګياه ده ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي سنبل ورسره دی نو دهغه په اندازه به مال او نعمت حاصل کړي او که ووينې چي دده سره وچ سنبل دی نو تعبير يي داول څخه خلاف دی او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي تازه سنبل خوري نو حلال مال به حاصل کړي يا به يي زوی پيداسي چي په دغه ملك کي به مشهور وي اوکه ووينې چي سنبل يي په اور سوزلي دی نو دليل دی چي دمال نقصان به يي وسي.

سنجاب (تر مړي غټ حيوان)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سنجاب مسافر اومالدار سړی دی او د دې پوستکي اوپشم او هډوکي غوښتوونکي مال دی او غوښه يي دمسافر سړی مال دی اوکه

Maktaba Tul Ishaat.com

وويني چي سنجاب يي وژلي دی او غوښه يي خوړلي ده او غورزولي ده اوپوستکي يي ور ذري ذري کړي دی نو دليل دی چي دمسافر مال به تباه کړي يا به يي په زور اخلي او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينی چي د سنجاب مري يي خفه کړي ده او دمري څخه يي وينه بهيدلي ده نو دليل دی چي دپيغلي انجلي سره به جماع کوي.

سنجد

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي سنجد په خوب کي په محنت سره حاصليدونکي مال دی که ووينی چي سنجد يي اخيستي يا چا ورکړي دی نو مال به حاصل کړي اوکه خوړلي يي وي نو مال به په عيال خرڅ کوي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سنجد په درو وجو دی. ۱: مال چي په محنت سره ملاويږی ۲: مال چي بغير دمحنته حاصليږی ۳: دبد خويه سړی څخه نفع او فايده.

سندان

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سندان رئيس او عزتمند سړی ليدل دی که ووينی چي دده سره سندان دی يا چا ورکړي دی او پيژني چي دده ملکيت دی دليل يي دا دي چي درئيس څخه به خير اونفع حاصله کړي او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دسندان ليدلو دليل دا دي چي دسردار په صحبت کي به وي اوخوشحالي به ځني حاصله کړي اوکه ووينی چي سندان يي چا ته ورکړي دی يا ورك سوي دی نو دلوی سړی دصحبت څخه به جلا سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سندان ليدل په پنځو وجو وی. ۱: رئيس۲: لمع ۳: قوت ۴: ولايت ۵: په کارونو کي بخت.

سنګ\کانۍ\ډبره\سنګړه\مُرَغ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي کانۍ ليدل په دوو وجو دی ۱: مال ۲: رئيس او نرم کانۍ زياته نفع ده که ووينی چي ده سپين کانۍ اخيستي دی دليل دی چي دخوش اخلاقه رئيس سره به دده صحبت وي او دهغه څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينی چي تور کانۍ يي اخيستي دی دليل دی چي دده به دعربو درئيس سره صحبت وي او که ووينی چي سور کانۍ يي اخيستي دليل دی چي دمفسد سردار څخه به ورته ارام رسيږي اوکه ووينی چي دغره دلمن څخه يي ډير کالي راوړي دی اوليدلي يي دی که سپين يا تور وي نو پر نفاق دليل دی ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي کانۍ ليدل سختي ده که ووينی چي داوبو څخه لاندي يي ډير کانۍ جمع کړي دی دليل دی چي په مکر اوحيله سره به مال جمع کړي اوکه ووينی چي دغره څخه يي کانۍ تراشلي دی دليل دی چي ديو بزرګ څخه به ورته مال جمع سي اوکه ووينی چي پر چا يي کانۍ اچولي دی دليل دی چي دخپل مال څخه به په نفرت سره چا ته څه ورکوي او که ووينی چي پرده چا کانۍ اچولي دی دليل دی چي دهغه په اندازه به مال حاصل کړي او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينی چي ده پرچا کانۍ اچولي دی دليل دی چي پرهغه به تهمت لګوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي کانۍ ليدل په څلورو وجو دی. ۱:

مال ۲: سرداري ۳: په کارونو کي سختي ۴: دمحنت ګټه.

سنګخوره (يو ډول مارغه)

سنګخوره يو مرغه دی چي کانی خوري ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي ده سنګخوره نيولي ده دليل دی چي په کار کي به سختي ويني اونيکي به پکښې نه وي يا به دده دبي وقوف سړی سره کاروبار وي اوکه ووينې چي سنګخوره دده دلاسه والوته يا دده په لاس کي مړه سوه دليل دی چي دمشکل کار څخه به ژر خلاص سي اوکه ووينې چي دسنګخوره غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي په ګټه کي به يو شي په مشکله حاصلوي.

سواري کردن \ سپرتيا کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوک ووينې چي سپرتيا کوي دليل دی چي دپاچا څخه به اس وسله او نعمت حاصلوی اوکه ووينې چي دسپرو سره ګرځي او سپاره دده تابعدار دي نو دليل يي دا دي چي پر يو ټولګي به حکومت کوي اوکه ووينې چي نامعلومه سپرو ته يې ددنيا دسامان څخه څه ورکړي دی دليل دی چي ده ته به دمسافر څخه فايده رسيږي اوکه ووينې چي معلومو سپاريانو ورته څه ورکړي دی دليل دی داشنا يا انډيوال څخه به ورته فايده رسيږي اوکه سپاره په شنو کالو کي او پر خرابو اوماندہ اسونو ووينې نو د دې تعبير داول څخه خلاف دی.

د قرآن مجيد سورتونه په خوب کي ويل

سورة الفاتحه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که چا په خوب کي الحمد شريف وويل نو دليل يي دا دي چي عمر به يي زيات سي او دده دکار خاتمه به په ايمان سره وي.

سورة البقرة

که په خوب کي ووينې چي سورة البقرة يي ويلي ده نو د دې هم دغه تعبير دی کوم چي دسورة الفاتحه دی او ددښمنانو دشر څخه به په امن کي وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دی به په مخلوق کي رښتيا ويونکي وي اوکه فقير وي نو مالدار به سي که ناجوړه وي نو شفا به حاصله کړي که غمجن وي نو خوشحاله به سي اوکه غلام وي نو ازاد به سي.

سورة آل عمران

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي سورة ال عمران يي ويلي دی دليل دی چي دټولو بديو څخه به په امن کي سی او پاك به وي اوعاقبت به يي په خير وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ايت (شهد الله انه لا اله الا هو، سورة آل عمران: ۱۸) وايي نو دليل دی چي دالله په فيصلو به راضي وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که قرضدار وي نو دقرض څخه به خلاص سي اوخلک به يي عزت کوي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ايت (قل اللهم مالك الملک، سورة ال عمران: ۲۶) وايي نو دليل يي دا دي چي بزرګي عزت او مرتبه به حاصله کړي

Maktaba Tul Ishaat.com

اومرادونه به يي پوره سي.

سورة النساء

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلی دی چي که څوك ووينې چي سورة النساء وايي دليل دی چي وراثت به حاصل کړي او خپلوان او اهل بيت به يي زيات سي ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي مال اونعمت به يي ډير زيات سي.

سورة المائدة

جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي سوره المايدة وايي دليل دی چي شرف او عزتمند به سي ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي سوره المايدة ويل دمال او دنعمت پر زياتوالي دليل لري او بعض اهل تعبير بيان کړي دی چي په خوب کي سورة المآئدة ويل پر صحت اوسلامتي دليل لري.

سورة الانعام

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي سورة الانعام وايي دليل دي چي ددنيا سعادت به حاصل کړي ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي ډير حيوانان به حاصل کړي او جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي د احسان اوسخاوت توفيق به حاصل کړي.

سورة الاعراف

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي سورة الاعراف وايي دليل دی چي ديندار اومومن به وي او انجام به يي ښه وي ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دسورة الاعراف ويلو دليل دا دي چي خوب ليدونکي به دکوه طور په زيارت مشرف سي او جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دسورة الاعراف ويلو دليل دا دي چي خلک به ځني خوشحاله سي او دامانت حفاظت به کوي.

سورة الانفال

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي که په خوب کي ووينې چي سورة الانفال وايي دليل دی چي خير اوصلاح به حاصله کړي.

سورة التوبه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي ووينې چي سورة التوبة وايي دليل دی چي دګناه څخه به توبه کوي ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي دخوب ليدونکي دکار انجام به په خير سره وي او جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي ددين په لاره کي به بي مثاله وي.

سورة يونس

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي سورة يونس وايي دليل دی چي رزق به باندي فراخ سي اوکار به يي مراد ته ورسيږي ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي دکافرانو مکر او دجادوګرانو فريب به ځني ليري سي اوپر دښمن به کاميابي حاصله کړي جعفر

صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دده الفاظ او عبادت به ټول صحيح وي.

سورة هود

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که په خوب کي ووينې چي سورة هود وايي دليل دی چي دده روزي به په زميندارۍ او زراعت کي وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي کار به يې نيك وي اوپه ټولو کارونو کي به نيك بخت وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي ددين په کارونو کي به بې مثاله وي.

سورة يوسف

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که په خوب کي ووينې چي سورة يوسف وايي دليل دی چي ډير سفر به کوي اومال به حاصلوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دغم او محنت څخه وروسته به عزت او بزرګي حاصلوي او سر لوړي خوشحال به وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خبرو کي به ربښتوني او امانتدار وي.

سورة الرعد

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که په خوب کي ووينې چي سورة الرعد وايي دليل دی چي هميشه به په عبادت اوقران کريم کي مشغول وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سورة الرعد ويونکي به کار خير اوعبادت ته راغب او مينه وال وي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي دده عمر به لږ وي.

سورة ابراهيم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي سورة ابراهيم وايي دليل دی چي هميشه به په اطاعت اونيکو کارونو کي مشغول وی او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دالله په نزد به عزتمند وي او انجام به يې ښه وي.

سورة الحجر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي سورة الحجر وايي دليل دی چي الله تعالی ته به نزدي وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دهغه هر اميد به پوره سي او صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي الله تعالی به ورته علم ورکړي او حاجت به ور پوره کړی.

سورة النحل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي سورة النحل وايي دليل دی چي حلال زرق به حاصل کړی او ددينداړو دوست به وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي دمحنت او افت څخه به په امن کي وي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي الله تعالی به ورته علم ورکړي.

سورة بني اسرائيل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که ووينې چي سورة بني اسرائيل وايي دليل دی چي الله تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com

ته به نژدی والي بيا حاصل کړي اوپه دنيا کي به عزت اومرتبه حاصله کړي ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي پر دښمن به کاميابي حاصله کړي او دزړه مراد ته به ورسيږي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دده دين اواعتقاد به پاك وي.

سورة الكهف

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي سورة الكهف وايي دليل دی چي دټولو مصيبتونو څخه به په امن کي وي او ددين په لاره کي به بي مثاله او اخلاص مند وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي عمر به يي زيات وي او سعادت به حاصل کړی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دونه عمر به حاصل کړي چي مراد ته به ورسيږي.

سورة مريم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي سورة مريم وايي دليل دی چي دقيامت دورځي دعذاب څخه به خلاص وي او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دی به دخير پر لاره وي او دحضور صلی اللہ علیہ وسلم سنت به پر ځاي راوړي.

سورة طه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي سورة طه وايي دليل دی چي دښمن ته به څه خبره کوي او هغه به مغلوب کړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په ملك کي به دده نوم روښانه سي اوپه نيکي سره به مشهور سي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي ددين په لاره کي به بي مثاله اونامدار سی.

سورة الانبياء

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که په خوب کي ووينې چي سورة الانبيآء وايي دليل دی چي الله تعالی به ورته دانبياء عليهم السلام خوبي ورکړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په دواړو جهانونو کي به نيك بخته وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي عالم اوهوښيار به سي او دمشقت څخه به اسانتيا حاصله کړي.

سورة الحج

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوك ووينې چي سورة الحج وايي دليل دی چي خپل مال به دالله تعالی په لاره کي خرڅ کړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي نيك اوښه کار به اختياروي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په زهد کي به بي مثاله وي او ددين په لاره کي به کوشش کوي.

سورة المومنون

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي سورة المومنون وايي دليل دی چي دايماندارو سره به جنت ته ځي او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دده ددين درجي به قوي وي او خوي به بي ښه وي.

سورة الفرقان

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي چا سورة الفرقان وايه دليل دی چي په حق سره به

دباطلي لاري څخه جلاسي ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په مخلوق كي به منصف او عادل وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دباطلي لاري څخه به دحقي لاري طرفته راسي.

سورة النور

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه په خوب كي ووينې چي سورة النور وايي دليل دی چي زړه به يې دعلم اوحكمت څخه منور سي.

سورة الشعراء

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كه چا سورة الشعراء ووايه دليل دی چي دی به دالله تعالى په پناه كي وي ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دګناه څخه به پاك وي او ددين په لاره كي به كوشش كوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي الله تعالى به يې دګناه څخه ساتي.

سورة النمل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه په خوب كي ووينې چي سورة النمل وايي دليل دی چي عزت به حاصل كړي ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي دولت اونصيب به دده موافقت كوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دده مال اونعمت به زيات سي.

سورة القصص

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي سورة القصص وايي دليل دی چي مال اونعمت به ترلاسه كړي او دالله تعالى په ذكر كي به مشغول وي ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي هميشه به ددين په لاره اوصلاح كي كوشش كوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي درحمت دروازي به باندي خلاصي سي.

سورة العنكبوت

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه په خوب كي ووينې چي سورة العنكبوت وايي دليل دی چي تر مرګه پوري به دالله په پناه كي وي ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي درنځ اوبلا څخه به په امن كي وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي مخلوق ته به دده دصلاحيت اونعمت څخه نصيب وسي.

سورة الروم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه په خوب كي ووينې چي سورة الروم وايي دليل دی چي دده په لاس به دروم يو ښار فتح كيږي ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي ددين په لاره كي به جهاد غزا او كوشش كوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي خلكو ته به دده ددين څخه صلاح نصيب سي.

سورة السجدة

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه په خوب كي ووينې چي سورة السجدة وايي دليل دی چي په سجده كي به ددنيا څخه رحلت وكړي ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي الله تعالى ته به ډيري سجدي كوي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دكار انجام به يې ښه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سورة الاحزاب

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې سورة الاحزاب وايي دليل دی چې مال به حاصل کړي او دښمن ته به يې ورکړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې سل اشرفي به حاصلي کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې دا لله تعالی فرمانبرداري به کوي.

سورة السباء

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې سورة السباء وايي دليل دی چې زاهد او عبادت کوونکي به وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې هميشه به دالله تعالی په عبادت کې مشغول وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دنيکو خلکو خوي به اختيار کړي.

سورة الفاطر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په خوب کې ووينې چې سورة الفاطر وايي دليل دی چې انجام به يې ښه وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې هميشه به دالله تعالی په اطاعت کې مشغول وي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې دروازه به باندي خلاصه سي.

سورة يٰس

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې سورة يس وايي دليل دی چې انجام به يې په خير وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې عمر به يې زيات وي او دالله تعالی رحمت به حاصل کړي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دنبي صلی اللہ علیہ وسلم محبت به دده په زړه کې مضبوط وي.

سورة الصٰفٰت

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې سورة الصافات وايي دليل دی چې دالله تعالی څخه به ددين دهدايت توفيق حاصل کړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دصلاح او خير پر لاره به چليږي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې الله تعالی به ورته صالح زوی ورکړي.

سورة ص

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چې سورة ص وايي نو مال به يې زيات سي اوعزت مند به سی.

سورة الزمر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په خوب کې ووينې چې سورة الزمر وايي دليل دی چې الله تعالی به دده ګناه معاف کړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دکار خاتمه به يې په خير سره وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې دين به يې قوي وي.

سورة مومن

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که په خوب کې ووينې چې سورة مومن وايي دليل دی چې ايماندار اومخلص به وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې دشريعت حفاظت به کوي او جعفر ويلي دی چې رحمت بخښش اوعطا به حاصله کړي.

سورة فصلت

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي سورة فصلت وايي دليل دی چي دالله تعالی په مقربو خلکو کي به سي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي همیشه به ددين په صلاح کي مشغول وي او صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دالله تعالی څخه به ددعا غوښتونکي وي او دده دعا به قبليږي.

سورة حم عسق

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که چا په خوب کي سورة حم عسق وايه نودليل يې دا دي چي داخرت دعذاب څخه به خلاص سي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دقيامت دعذاب څخه به خلاص وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دده عمر به زيات سي.

سورة الزخوف

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ چي که په خوب کي ووينې چي سورة الزخرف وايي دليل دی چي لمونځ او عبادت به ډير کوي او همیشه به روژه دار اوسيږي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په قول ربښتوني او نيك کرداره به وي.

سورة الدخان

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك په خوب ووينې چي سورة الدخان وايي دليل دی چي شپه به په عبادت کی تيروي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي درښتيا ويلو کوشش به کوي جعفر صادق ويلي دی چي مالدار به سي.

سورة الجاثيه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي سورة الجاثيه وايي دليل دی چي توبه به کوي اوالله تعالی ته به رجوع کوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ګنهګار وي نو توبه به کوی.

سورة الاحقاف

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي سورة الاحقاف وايي دليل دی چي دمور او پلار دحکم منونکي به وي او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دمور اوپلار سره به نيکي کوي اوډير عجيبه شيان به وينې.

سورة محمد صلی اللہ علیہ وسلم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي سورة محمد وايي دليل دی چي په دښمنانو به کامياب سي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دهر مصيبت اوافت څخه به په امن کي وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په دنيا کي به دخير توفيق حاصل کړي.

سورة الفتح

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي سورة الفتح وايي دليل دی چي دټولو دروازو څخه به ورته مدد وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سورة الحجرات

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي سورة الحجرات وايي دليل دی چي خلک به په خرابو نومونو سره نه رابولي اوغيبت به نه کوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دچا شرمګاه ته به نظر نه کوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دخلګو سره به ملاويږي.

سورة الذاريات

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي سورة الذاريات وايي دليل دی چي په اطاعت اوعبادت کي په مشغول سي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي د مخلوق سره به بخښش اواحسان کوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي روزي به باندي فراخه سي.

سورة ق

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چي سورة قاف وايي دليل دی چي الله تعالی به ورته دخير او اطاعت په کارونو کي توفيق ورکړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي مشکل کارونه به باندي اسانه سي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دخپل کسب څخه به نصيب حاصل کړي.

سورة الطور

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي سورة الطور وايي دليل دی چي پر دښمن به کاميابي حاصلوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي الله تعالی به يي مدد کوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په بيت الله شريف کي به عبادت کوي.

سورة النجم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي سورة النجم وايي دليل دی چي الله تعالی به دخپل رحمت دروازي باندي خلاصي کړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي پر دښمن به کاميابي حاصله کړي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي الله تعالی به ورته صالح زوی ورکړي.

سورة القمر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چي سورة القمر وايي دليل دی چي پر دښمن به فتح اومدد حاصل کړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي مشکل کارونه به باندي اسانه سي او صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي جادو به اثر نه باندي کوي.

سورة الرحمن

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ووينې چي سورة الرحمن وايي دليل دی چي ددرواغو اوحرامو څخه به پرهيز کوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي ښه خوي او ددين لار به اختيار کړي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په دي جهان کي به مال اوپه اخرت کي به نعمت حاصل کړي.

سورة الواقعه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چي سورة الواقعه وايي دليل دی چي

دګناهونو څخه به توبه کوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي داطاعت اوعبادت توفيق به حاصل کړي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په اطاعت کي به مخ ته راسي.

سورة الحديد

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چي سورة الحديد وايي دليل دی چي دغم او سختي څخه به روزي حاصله کړي کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي داخرت لار به خوښوي او دالله تعالی درضا تلاش به کوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي ددين په لاره کي به قابل تعريف وي.

سورة المجادلة

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چي سورة المجادله وايي دليل دی چي د ښځو سره به يي جنګ وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي ددين په لار کي به يي دچا سره جنګ وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دخپل اهل سره به جنګ کوي.

سورة الحشر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چي سورة الحشر وايي دليل دی چي دده حشر به داخلاص والاوو سره وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دده صحبت به داهل صلاح او ديندارو سره وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي پرخپل دښمن به کاميابي حاصله کړي.

سورة الممتحنة

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دسورة الممتحنة ويونکي به دکار ازمايش په راستي سره کوي کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي صحبت به يي داهل صلاح سره وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په داسي محنت کي به ګرفتار سي چي په هغه کي به مړ سي.

سورة الصف

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کی سورة الصف وايي دليل دی چي د الله تعالی په لاره کي به جهاد کوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي هميشه به دالله تعالی په رضا کي وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دعمر په اخير کي به دشهادت درجه حاصله کړي.

سورة الجمعة

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که په خوب کي ووينې چي سورة الجمعه وايي دليل دی چي الله تعالی به ورته توبه کول نصيب کړي او ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دخير توفيق به حاصل کړي.

سورة التغابن

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که په خوب کي ووينې چي سورة التغابن وايي دليل دی چي ډيري صدقي به ورکوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دکمزوري مدد به کوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي رښتوني اوصحيح حالاتو والا به وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

سورة الطلاق

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چې سورة الطلاق وايي دليل دی چې د ښځو سره به بحث کوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې دحق خوي به په نظر کي ساتي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې ددين دکار لپاره به بحث کوي.

سورة التحريم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چې سورة التحريم وايي دليل دی چې پخپل کور کي به دنفاق خبري کوي او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې دحرامو څخه به توبه کوي او ليري به ځيني اوسي.

سورة الملک

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چې سورة المک وايي دليل دی چې دقبر عذاب به ورته نه وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې انجام به يې ښه وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې شرف اوبزرګي به حا صله کړي.

سورة القلم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چې سورة القلم وايي دليل دی چې خيرات او صدقې ورکول به خوښوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دټولو خلکو سره به احسان کوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې الله تعالی به ورته بربادي ورکړي.

سورة الحاقة

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چې سورة الحاقة وايي دليل دی چې دالله تعالی فرايض به په ښه طريقه پوره کوی ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دشريعت پر لاره به وي.

سورة المعارج

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چې سورة المعارج وايي دليل دی چې خير اونيکي به کوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دخير اونيکي طرفته به مايله وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دخوف اوبيري څخه به په امن کي وي.

سورة نوح

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چې سورة نوح وايي دليل دی چې انجام به يې ښه وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې د دې تعبير په اخرت کي خلاصون دی او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دنيکو کارونو حکم به کوي.

سورة الجن

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که په خوب کي ووينې چې سورة الجن وايي دليل دی چې توبه به وباسي او دپيريانانو دافت څخه به محفوظ وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې ديبان او ښاپيري به ورته نقصان نه سي رسولای.

سورة المزمل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چې سورة المزمل وايي دليل دی چې دتهجد لمونځ به خوښوي او ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دعبادت توفيق به حاصلوي.

سورة مدثر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چې سورة مدثر وايي دليل دی چې نيك عمل به كوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې پاك خوي اوسمه لاره به حاصله كړي.

سورة القيامة

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب كي ووينې چې سورة القيامة وايي دليل دی چې ددنيا څخه به په شهادت سره رحلت وكړي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې توبه به كوي او دالله تعالی ته به رجوع كوي.

سورة الدهر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چې سورة الدهر وايي دليل دی چې فقيرانو ته به خوراك وركوي او دالله تعالی رضا به تلاش كوي كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په سخاوت او نعمت به دشكر توفيق حاصل كړي.

سورة المرسلات

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که په خوب كي ووينې چې سورة المرسلات وايي دليل دی چې ددرواغو ويلو څخه به توبه وباسي ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې سمه لار به تلاش كوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې روزي به باندي فراخه سي.

سورة النباء

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كي سورة النباء ويوونكي به دالله تعالی څخه بيره او توكل كوونكي وي ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دنيكي كار به كوي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دده به ډير لوی كار وي.

سورة النازعات

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب كي ووينې چې سورة النازعت وايي دليل دی چې دزكندن پر وخت به دمرګ څخه نه بيريږي ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې توبه به وباسي او دعذاب څخه به په امن كي وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې زړه به يې د مكر اوحيلي او خيانت څخه پاك وي.

سورة عبس

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب كي سورة عبس وايي دليل دی چې خلكو ته به يې تندي تريو وی ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې ډيري روژي به نيسي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دكوم شي څخه بيريږي دهغه څخه به په امن اوحفاظت كي وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سورة التكوير

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي په خوب کي سورة التکوير ويوونکي به دسترګو ددرد څخه په امن کي وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دمشرق طرفته به ډير سفر کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دبيريدونکي شيانو څخه به په امن کي وي.

سورة الانفطار

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سورة الانفطار ويونکي به دالله تعالی څخه بيريږي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي دده رغبت به ددنياوي مال طرفته وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دپاچاهانو په نزد به عزتمند او محترم وي.

سورة المطففين

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي سورة المطففين ويوونکي به ناپ اوپيمانه صحيح ساتي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي سمه لار اورښتيا به تلاش کوي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دهر چا سره به انصاف کوي.

سورة الانشاق

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي سورة الانشاق ويونکي ته به عملنامه دقيامت په ورځ په راسته لاس ورکول کيږي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي نسل به يي زيات وي.

سورة البروج

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي ووينې چي سورة البروج وايي دليل دی چي په دنيا کي به غمجن وي او اخرت به يي ښه وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په اخرت کي به لوړي درجي حاصلي کړي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دهر قسم غمونوڅخه به خلاص وي.

سورة الطارق

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که په خوب کي ووينې چي سورة الطارق وايي دليل دی چي صالح زوی به يي پيداسي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي ښايسته زوی به يي پيداسي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي د زوی په وجه به خوش قسمته اوخوشحاله وي.

سورة الاعلى

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چي سورة الاعلى وايي دليل دی چي سبحان الله ولا اله الا الله به ډير وايي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دالله ذکر به پر ژبه جاري وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دده مشکل کار به په ده اسان سي.

سورة الغاشية

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چي سورة الغاشية وايي دليل دی چي دقيامت دخوف څخه به بيريږي اوتوبه به وباسي او دهغه ددهشت څخه به په امن کي وي

ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دالله تعالی په رضا کي به ثابت قدمه وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دده عزت او مرتبه به زياته سي.

سورة الفجر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چي سورة الفجر وايي دليل دی چي په نيکو کارونو کي به مشغول وي ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي حج اسلام به ادا کړي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دده هيبت اوګيله به کمه سي.

سورة البلد

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چي سورة البلد وايي دليل دی چي صدقه ورکول به پر ده واجبه وي اوخوښوي به يې ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي دهر چا سره به احسان کوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دافتونو اومصيبتونو څخه به په امن کي وي.

سورة الشمس

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چي سورة الشمس وايي دليل دی چي دده دلاسه به يو فاسد کار کيږي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي دبلاګانو څخه به په امن کي وي.

سورة الليل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چي سورة الليل وايي دليل دی چي دمال زکوة به ورکوي او سوالګري به نه پسي اخلي.

سورة الضحى

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چي سورة الضحى وايي دليل دی چي سوالګرو ته به څه ورکوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي دغريبانو سره به مينه لري.

سورة الم نشرح

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که په خوب کي ووينې چي سورة الم نشرح وايي دليل دی چي مشکل کار به يې اسان سي ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي بندي دروازي به باندي خلاصي سي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي د دواړو جهانونو نعمت به حاصل کړي.

سورة التين

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که په خوب کي ووينې چي سورة التين وايي دليل دی چي نيك خويه نيك کرداره اوښايسته به وي ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي خير اونفع به حاصله کړي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دسختي څخه به خلاص سي.

سورة العلق

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چي سورة العلق وايي دليل دی چي الله تعالی به ورته علم او قرآن ويل ورکړي ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي عالم اوفصيح به وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي عاجزي کوونکي اونيك خويه به وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سورة القدر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه په خوب كي ووينې چې سورة القدر وايي دليل دى چې ددنيا څخه به دشب قدر دثواب سره رحلت كوي ابراهيم كرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې عمر به يې زيات وي اومراد به حاصل كړي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې عزت اومرتبه به يې لوړه سي.

سورة البينة

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه په خوب كي ووينې چې سورة البينة وايي دليل دى چې ددنيا څخه به دتوبې سره رحلت كوي ابراهيم كرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې خلک به دخير اوصلاح په لاره را اړوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې د دې به دغه ذكر سوي تعبير وي.

سورة الزلزلة

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى كه څوك ووينې چې سورة الزلزلة وايي دليل دى چې دچا سره به يې كار جوړ سي اوعدل اوانصاف به كوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې دكافرانو يو قوم به هلاک كړي.

سوره العاديت

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چې سورة العاديت وايي دليل دى چې دده كور والابه دده سره مينه كوي كرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې دخداي په لاره كي به جهاد كوي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې جهاد به كوي اوكاميابي به حاصلوي.

سورة القارعة

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى كه په خوب كي ووينې چې سورة القارعة وايي دليل دى چې دقيامت په ورځ به دده دنيكو اعمالو تله درنه وي ابراهيم كرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې په نيك كار كي به كوشش كوي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې دخلكو عزت او احترام به كوي.

سورة التكاثر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى كه په خوب كي ووينې چې سورة التكاثر وايي دليل دى چې دټولو نيكو خلكو زيارت به كوي ابراهيم كرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې دده صحبت به ددرواغجنو خلكو سره وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې ددنيا څخه به دست بردار سي.

سورة العصر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى كه په خوب كي ووينې چې سورة العصر وايي دليل دى چې په ټولو كارونو كي به صبرناك وي ابراهيم كرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې دده مال ته به ضرر اونقصان رسيږي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې په تجارت كي به ورته فايده وي.

سورة الهمزة

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى كه څوك ووينې چې سورة الهمزة وايي دليل دى چې ډيري خبري به كوي او په خلكو كي به مشهور سي ابراهيم كرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې دمال حرصناک به وي او دانجام فكر به نه كوي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې دالله تعالى په لاره كي به مال خرڅ

کړي.

سورة الفيل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چې سورة الفيل وايي دليل دی چې دظالم سره به اړيوالي او مدد کوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې پر دښمن به کاميابي حاصله کړي او مراد به يې پوره سي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دده په لاس به فتح کيږي او پر دښمن به کاميابي حاصله کړي.

سورة القريش

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك په خوب کي ووينې چې سورة القريش وايي دليل دی چې دبيری او دهشت څخه به په امن کي وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې د داسي سړی سره به صحبت ساتي چې دي به ددين په لاره کي رسوا کړي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دمخلوق سره به احسان کوي.

سورة الماعون

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك په خوب کي ووينې چې سورة الماعون وايي دليل دی چې لمونځ به کوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې ده ته دبي دينه دصحبت څخه بچ کيدل پکار دی او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې پر دښمن به کاميابه سي.

سورة الكوثر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوک په خوب کي ووينې چې سورة الکوثر وايي دليل دی چې مال اونعمت به حاصل کړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دبزرګانو څخه به بخښش حاصل کړي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې ډير خيراتونه به کوي.

سورة الكافرون

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چې سورة الکافرون وايي دليل دی چې دبدعت پر لاره په ځي اوپه دنيا به مغروره وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که غمجن وي نو خوشحاله به سي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دده مرګ نژدی دی ځکه چې داسورة دنبي کريم صلی اللہ علیہ وسلم په اخري عمر کي وو.

سورة النصر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي دسورة النصر ويونکي به دحق په لاره کي توکل کوونکي وي.

سورة تبت

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چې سورة تبت وايي دليل دی چې مکار او دهوکه باز به وي او دالله تعالی دعذابو څخه به په خطره کي وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دده نښځه به بدکاره وي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې يو ټولګي به ده ته دبدي رسولو

Maktaba Tul Ishaat.com

کوشش کوي.

سورة الاخلاص

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك په خوب کي ووينې چې سورة الاخلاص وايي دليل دی چې ددين په لاره کي به مخلص او بې مثاله وي دعبادت توفيق به حاصل کړي او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دپاك دين اونيکي عقيدي خاوند به وي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې ددواړو جهانونو مراد به حاصل کړي او ژوند به يې ښه وي.

سورة الفلق

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك په خوب کي ووينې چې سورة الفلق وايي دليل دی چې پر ده به جادو اثر نه کوي او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دبدي کوونکو دشر څخه به په امن کي وي.

سورة الناس

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي ووينې چې سورة الناس وايي دليل دی چې الله تعالی به يې دبد نظر څخه محفوظ ساتي اوروزي به باندي فراخوي اوکه په خوب کي ووينې چې (لاحول ولا قوة الا بالله العلي العظيم) ترجمه: نسته بچ کيدل دګناه څخه اونه طاقت دنيکي مګر په توفيق دالله تعالی چې لوړ دی، وايي دليل دی چې مال اومراد به حاصل کړي، اوکه په خوب کي ووينې چې دقران کريم يو ايت وايي نو د دې تعبير به دحرف قاف په بيان کي ان شاء الله بيان کړه سي.

سوزن \ ستن

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك په خوب کي ووينې چې دده سره ستن ده اوپه هغه څه شي ګندې دليل دی چې خواره کارونه به يې راجمع سي اومراد به يې پوره سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چې کالي ګندې نو دليل دی چې احوال به يې نيك سي اوکه ووينې چې ستن ورکه سوي ده نو دليل دی چې احوال به يې بد سي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې چا ستن ورکړي ده نو دليل دی چې دغه سړی به دده پر حالاتو مهربانه وي اوکه ووينې چې ډيري ستني ورسره وي نو دا دده دکار خير اوصلاح ده.

سوسمار \ سمساره

که څوك په خوب کي ووينې چې سمساري خوړلي دی نودليل يې دا دي چې نقصان به حاصل کړي اوکه ووينې چې سمساره يې مړه کړيده نودليل دی چې دښمن به مغلوب کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي دسمساري غوښه خوړلو دليل دا دي چې نفع به ورته ورسيږي اوکه ووينې چې سمساري دده په کور کي اواز کړي دی نو دليل دی چې دده دکور څخه به دغم اواز وزي.

سوسن \ چنبيلی ګل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي چنبيلي پرخپل وخت ليدلو دليل دا دي چې ده ته

به څه ملاو سي او دده به زوی وسي او چينبلي بي وخته ليدل پر غم او فکر دليل لري. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چې چا ورته چنبيلي ورکړي دی نو دليل دی چې ددوي ترمينځ به بحث کيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دچنبيلي بوټي مينځه ده.

سوګند \ قسم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې ده قسم خوړلي دی نودليل دی چې دده دلاسه به نيك کار کيږي يابه امانت ادا کوي يا به خيرات ورکړي او دکوم شي څخه چې بيريږي دهغه څخه به په امن کې وي. اوکه ووينې چې ددرواغو قسم يې خوړلي دی نو دليل دی چې پر ده به دالله تعالی غضب وي اوپه تکليف کې به راسي يا به په قرضو کې ډوب سي يا به دپاچا څخه نقصان وينې ده ته توبه کښل په کارده. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې په رښتياوو يې قسم خوړلي دی دليل دی چې ده ته دګناهونو څخه توبه کښل پکار ده چې خلاصون حاصل کړي. اوکه په درواغو يې قسم خوړلي وی نو دده دين به تباه سي او په اعتقاد کې به يې خلل راسي دالله تعالی فرمان دی (ويحلفون على الله الكذب وهم يعلمون، سورة المجادلة: ١٤) ترجمه: او دوي قصدا په الله تعالی ددرواغو قسم خوري حالانکه دوي پوهيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې ده په رښتياوو قسم خوړلي دی نو دليل يې دا دي چې ده ته به غم اوفکر رسيږي.

سوراخ \ سوری

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په خوب کې ووينې چې دی په سوري کې دننه تللي دی نو دليل دی چې دپاچا دراز څخه به خبر سي اوکه ووينې چې دده په بدن کې سوري دی او وينه ځني بهيږي نو دا پر نقصان دليل لري. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که څوك ووينې چې په بدن کې يې سوري دی نودليل دی چې دخپل اهل څخه به په امن کې نه وي اوکه ووينې چې په کانې کې يې سوري کړي دی نو دليل دی چې په اسلام کې به هميشه وي اوکه په درخته کې يې سوري کړي وی نو تعبير يې داول څخه خلاف دی او اهل تعبير بيان کړي دی چې دسوري مطابق به دخوب ليدونکي نقصان کيږي.

حکايت

په حديثو کې راغلي دی چې يو سړی د امير المومنين ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ په خدمت کې حاضر سو او دهغوي څخه يې پوښتنه وکړه چې ماپه خوب کې ليدلي دی چې ديو کوچني سوري څخه غټ غوايي راوتلي دی اوبيا يې وغوښتل چې دغه سوري ته واپس ولاړ سي ليکن نه ولاړي دوي ورته په تعبير کې وويل چې دغه سوري خوله ده او غوايي خبره ده کله چې د خولي څخه وزي نو بيا بيرته نه سي راتلای.

سوهان \ سوان

دسوان بيان په حرف ميم کې کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سيب

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي سيب په خوب کي ليدل پر زوی دليل دی که سور وي نو پاچا څخه دنفع دليل دی اوکه سپين وي نو دسوداګرانو څخه دنفعي دليل دی اوکه ژړ او تور وي نو پر ناجوړی دليل دی او که ووينې چي سپين سيب يې دوه ټکړي کړي دی نو دليل دی چي دچا سره يې شراکت وي دهغه څخه به جلا سي اوکه ووينې چي سور سيب يې ددرختي څخه شکولي دی اوخوړلی يې دی نو دا پر انجلي دليل دی ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي سيب په خير دليل دی اوکه سيب تريو وي نو په بده خبره دليل دی اوکه خوږ وي نو پر خوشخبري دليل دی. دانيال عليه السلام ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره سيب دی او ده خوړلي وي نو دليل دی چي نفع به حاصله کړي او سيب دخوب ليدونکي په شغل اوصفت کي همت دی اوکه پاچا په خوب کي سيب ووينې نو دليل يې دا دي چي سلطنت به حاصل کړي اوکه سوداګر ووينې نوتجارت به يې ښه سي. جعفر صادق رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي سيب ليدل په اووه وجو دی. ۱: زوی ۲: نفع ۳ : ناجوړي ۴: مينځه ۵: مال۶: حکومت ۷: دخوب ليدونکي همت او دغايب او حاضر خبر دی.

سير \ اوږه

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي اوږه خوړل حرام مال خوړل دی ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي اوږه خوړل خراب شي دی چي خلک يې ورته د وروسته څخه وايي اوکه ووينې چي پخه سوي اوږه يې خوړلي ده نو دليل يې دا دي چي دخرابو خبرو څخه به توبه کوي. جابر مغربی رحمه الله عليه ويلي دی چي اوږه په خوب کي ليدل غم او ژړا ده جعفر صادق رحمه الله عليه ويلي دی چي اوږه په خوب کي ليدل په پنځو وجو وي. ۱: حرام مال ۲: خرابه خبره ۳: غم او فکر ۴: ژړا ۵: سختي ليدل.

سيري \ مورنس

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ځان په مورنس ووينې نو دليل دی چي بي نيازه به وي ليکن ددين په لاره کي به کمزوري وي اوکه ځان وږي ووينې نو دليل دی چي ګناه به کوي او ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دي چي ښه خوب هغه دی چي نه ځان په مورنس ووينې او نه په وږي ځکه چي دادواړو دطبع خلاف دی او په دی سره طبعيت ته تکليف رسيږي.

سبزه \ شينکی \ شين ګياه \ سبزي

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي سبزي ورسره دی نو دليل دی چي دده نوم به په خير او خوبي سره مشهور سي اوکه ووينې چي دده په مځکه کي موسمي سبزي ده نو دا پر خير اونفع دليل لري اوکه د دې خلاف ووينې نو پر نقصان دليل دی.

سيکي \ شراب

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي شراب حرام مال دي که ووينې چي دشرابو په مينځ کي تللي دی

نو دليل يې دادی چې په فتنه کې به راسي اوکه ووينې چې شراب چيښي دليل دی چې دهغه په قدر به حرام مال حاصل کړي اوکه ووينې چې شراب پخوي او چيښي دليل دی چې حرام مال به په غم اومحنت سره حاصل کړی اوکه ووينې چې دده په کور کې ډير شراب دی دليل دی چې دهغه په اندازه به دزميندار څخه نفع حاصله کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې شراب جوړوي او چيښي دليل دی چې حلال او حرام مال به ګډوډوي اوکه ووينې چې شراب خرڅوي دليل دی چې حرام شي به خرڅوي اوپه سود به يې ورکوی اوپه شرابو چيښلو کې خير نسته او دحاکم لپاره دمعزول کيدو دليل دی او دکجورو شراب غم او فکر دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې شراب په درو وجو دی. ۱: حرام مال ۲: نکاح کول ۳: د دې جهان نعمت او په خوب کې شراب خرڅونکي داسي سړی دی چې دجنګ اوفتنې غوښتوونکي وي.

سيل \ سيلاب

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې سيلاب لوی دښمن دی يا ظالم پاچا دی او که ووينې چې سيلاب يې دځان څخه ليرې کړي دی او بل طرف ته تللي دی دليل دی چې پر دښمن به کاميابي حاصله کړي او غم اوفکر به ورته کم وي اوکه ووينې چې دسيلاب څخه تښتيدلي دی نو ددښمن څخه به تښتي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې ديخ درياب څخه سيلاب غم او فکر دی او دګرم درياب سيلاب پر نفع دليل لري او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که جهان دسيلاب څخه ډک ووينې او معلوم ورته نه وي چې دکوم ځای څخه راغلي دی نو دليل يې دا دي چې الله تعالی به په دغه ملك عذاب راليږي دالله تعالی فرمان دی (فارسلنا عليهم الطوفان، سورة الاعراف: ۱۳۳) ترجمه: اومونږ پر هغوي طوفان راوليږي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چې که په خوب کې ووينې چې سيلاب مځکه خرابوي دليل دی چې ددغه ځای خلکو ته به دپاچا څخه دتاوان بيره وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې سيلاب ليدل په څلورو وجو وي. ۱: لوی دښمن ۲: ظالم پاچا ۳: غايب لښکر ۴: مصيبت فتنه او سختي.

سيماب \ پاره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې ډير خلک په خوب کې سپين زر وينې اوپه وييښه يې حاصل کړي او ډيرخلک داسي دی چې په خوب کې سپين زر وينې او په وييښه غم اوفکر حاصلوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې صحيح سپين زر رښتوني خبر دی او کوټه سپين زر درواغجن خبر دی اوکه سپين زر په تيلي کې وي نو دليل دی چې څوك به ورسره امانت ايږدي. دانيال عليہ السلام ويلي دی چې که پياله يا لوټه يا تالي دسپينو زرو ووينې چې ډير شيان يې دسپينو زر پيدا کړي دی نو دليل دی چې دهغه په اندازه به خزانه حاصله کړي اوکه ووينې چې دسپينو زرو دکان څه حصه يې حاصله کړي ده نو دليل يې دا دي چې ددغه ملك څخه به ښځه کوي او په خوب کې دسپينو زرو ټکړي داسي سړی دی چې دهغه په حق کې

Maktaba Tul Ishaat.com

خرابه خبره کوي.

سيمرغ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که په خوب کي سيمرغ ووينې نو دليل دی چي دخوش طبيعته او بزرګ سړی سره به اندیوالي کوي اوکه ښځه سيمرغ ووينې نو دليل دی چي ښايسته ښځه به کوي اوکه ووينې چي سيمرغ ورسره خبري کوي دليل دی چي دپاچا وزير به سي اوکه ووينې چي دسيمرغ سره يي جنګ کړي دی دليل دی چي دلوي سړی سره به جنګ کوي اوکه ووينې چي دسيمرغ غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي دهغه په اندازه به دلوی سړی څخه مال حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي ده ښځه سيمرغ وژلي ده دليل دی چي دپيغلي ښځي سره به واده کوي اوکه ووينې چي سيمرغ دده دلاسه الوتلي دی دليل دی چي ښځي ته به طلاق ورکوي اوکه ووينې چي دسيمرغ بچي يي نيولي دی دليل دی چي دده به بي وقوفه زوی پيداسي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي سيمرغ پاچا دی اوکه ووينې چي سيمرغ په کوڅه کي راکښته سوي دی او کوڅي والاوو وژلي دی دليل دی چي ددغه ملك پاچا به هلاک سي اوکه ووينې چي دسيمرغ څخه بيريدلي دی دليل دی چي دپاچا څخه په انعام حاصل کړي.

سينه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي سينه په خوب کي شريعت دی دالله تعالی فرمان دی (افمن شرح الله صدره للاسلام، سورة الزمر: ۲۲) ترجمه: ايا دچا سينه الله تعالی داسلام لپاره خلاصه کړي ده. که په خوب کي ووينې چي دده سينه فراخه سوي ده دليل دی چي ټول کارونه به يي سم سي اوکه ووينې چي سينه يي تنګه سوي ده دليل دی چي دده په دين کي به خلل وي اوکه ووينې چي دده پر سينه شين خط ليکل سويدی دليل دی چي الله تعالی به ورته کرامت ورکړي اوکه ووينې چي دده پر سينه اسماني رنګ خط ليکلي دی دليل دی چي دده په دين کي به خلل راسي اوبغير دکلمې شهادت څخه به مري اوکه ووينې چي دده دسيني څخه ويښته خريل سوي دی دليل دی چي دده قرض به ادا سي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي په سينه کي يي ساه بنده سوي ده اوساه نه سي اخيستلاي دليل دی چي دين او دنيا به باندي فراخه سي اوکه ووينې چي دده سينه ګرمه ده اونور بدن يي يخ دی دليل دی چي دده زړه به دچا سره لګيدلي وي. دانيال عليه السلام ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده سينه تنګه ده دليل دی چي زړه تنګی به وي اوکه سينه فراخه ووينې دليل دی چي خوشحاله به وي. اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي که کافر خپله سينه فراخه ووينې نو مسلمان به سي دالله تعالی فرمان دی (فمن يرد الله ان يهديه يشرح صدره للاسلام، سورة الانعام: ۱۲۵) ترجمه: الله چي چاته هدايت کول وغواړي نو دهغه سينه دهدايت لپاره خلاصه کړی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي سينه ليدل په اوو وجو ده ۱: حکمت اوعلم ۲: سخاوت ۳: ايمان ۴: کفر ۵: اعتقاد ۶: مرګ ۷: بخل.

[ش]

شادي\خوشحالي\ښادي

ابن سيرين رحمه الله ويلي دی چي که په خوب کي خوشحالي وويني نو پر غم اوفکر دليل دی او که وويني چي څوك خوشحاله سوي دی دليل دی چي دهغه څخه به ورته غم اوفکر ورسيږي اوکه مړي په خوب کي خوشحاله وويني دليل دی چي دده حال به ښه سي او خاتمه به يي په نيکي سره وي. جعفر صادق رحمه الله ويلي دی چي که په خوب کي ووينی چي بي وجي خوشحاله دی دليل دی چي دده مرګ نزدی دی دالله تعالی فرمان دی (حتی اذا فرحوا بما اوتوا اخذنهم بغتة، سورة الانعام: ٤٤) ترجمه: تردی پوري چي هغه وخت دوي په ورکړه سوو باندي خوشحاله سو نو مونږ دوي اچانك ونيول.

شادروان\توشک\کوربچه\نالي

ابن سيرين رحمه الله ويلی دی چي که څوك په خوب کی ووينی چي فراخ توشک يي غوړولي دی اوپيژني چي دده خپل دی دليل دی چي دهغه دفراخي مطابق به عيش اوډير عمر حاصل کړي اوکه وويني چي ددوستانو سره په ښار کي يا په لوړځاي کي پر توشک ناست دی نو داپر مال نعمت او رزق اوپر ډير عمر دليل دی اوکه وويني چي په نا اشنا ځاي کي دده لپاره توشك غوړولي سوي دی او دامعلوم نه وي چي دچا دی دليل دی چي دده احوال به بدل سي اوپه سفر کي به مري. اوکه کوچني توشك په خوب کي وويني نو پرلږ رزق اولږ عمر دليل دی اوکه وويني چي توشک يي ټول کړي او پرځان يي لوړ کړي دليل دی چي دخپل ځاي څخه به نا اشنا ځاي ته ځي اوکه وويني چي پرتوشک ديو سړي تصوير جوړ سوي دی اوهغه سړی پيژني اوخبري ورسره کوي دليل دی چي هغه به ددراغو تعريف کوي. اوکه وويني چي توشك يي خرڅ کړي يا چا ورکړي دی نو د دې تعبير بد دی. دانيال عليه السلام ويلي دی چي که څوك وويني چي توشک يي غوړولي دی نو دا دده دکار پر ښه والي اوډير عمر دليل دی اوکه وويني چي توشك کوچني وو او تړده لاندي غټ سو دليل دی چي پر ده به روزي فراخه سي اوکه د دې خلاف وويني دليل دی چي روزي به باندي تنګه سي اوکه وويني چي فراخه توشک غوړيدلي وو او ده راټول کړي دکور پرکټ يي کښيښودي دليل دی چي خپل دولت اوبخت به تباه کړي. جابر مغربی رحمه الله ويلي دی چي که څوك وويني چي توشك زوړ او څيري دی دليل دی چي ددنيا په عيش کي به مشغول سي اوکه وويني چي توشک تور يا اسماني رنګ دی نو پر غم اوفکر دليل لري اوکه وويني چي توشک ژړ دی نو پر ناجوړي دليل دی اوکه سپين توشک وويني نو داپه نعمت او دحلالي روزي په فراخي دليل لري. اسماعيل اشعث رحمه الله ويلي دی چي که وويني چي نامعلوم توشک په نامعلوم ځاي کي يا ووينی چي معلوم توشک دچا په کور کي غوړول سويدی دليل دی چي دکور مالک ته به نعمت اوروزي حاصل سي اوکه وويني چي توشك يي په نامعلوم

Maktaba Tul Ishaat.com

ځاي کي غوړولي دی اوناست دی باندي دليل دی چي په سفر به ځي اوپه هغه کي به مال اونعمت حاصل کړي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي توشك ليدل په ځلورو وجو دی ۱: روزي اومال ۲: ډير عمر ۳: نفع ۴: ژوند.

شاخ \ ښاخ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي ښاخونه ليدل دخوب ليدونکي په ورونو زامنو اوخپلوانو دليل لري که ووينې چي ددرختو ښاخونه ډ ير اوګڼ دی دليل دی چي دده خپلوان او کور والابه ډير سي اوکه د دې خلاف ووينی نو تعبير يي هم خلاف دی اوکه ووينې چي دخپلي درختي څخه يي ښاخ پريکړي دی دليل دی چي دخپل کور والاوو څخه به څوك جلا سي اوکه ووينې چي دده درختي ښاخ وچ سوي دی دليل دی چي دده دخپلوانو څخه به څوك هلاك سي اوکه ووينې چي درخته دبل چا ده نو تعبير يي هم بل چاته رجوع کوي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي دخرما ددرختي ښاخ يي پيدا کړي دی يا چا ورکړي دی دليل دی چي دده به زوی پيداکيږي اوکه ووينې چي دښاخ څخه يي خوړلي دی دليل دی چي دهغه په اندازه به زوی مال خوري.

شانه \ ږمونځ \ ګمونځ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي ږمونځ داسي سړی دی چي حسب نسب يي نه وي اوپه دين کي يي نفاق وي اوکه په خوب کي ووينې چي سر او ږيره ږمونځ کوي دليل دی چي دغمونو څخه به خلاصون حاصل کړي او دقرض څخه به خلاص سي اومراد ته به ورسږي او ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي ږيره ږمونځوي او څه ويښته دباندي را باسي دليل دی چي دخپل مال څخه به زکوة وباسي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي ږمونځ په خوب کي موافق دوست په کار خير کي دی او وريښته ږمونز کول مراد حاصلول دی اوږمونځ جوړونکي داسي سړی دی چي دده دزړه څخه غم اوفکر ليږی کوي اود قرض څخه يي خلاصوي او بعض اهل تعبير بيان کړي دی چي ښايسته خلک دی دچا په ديدار سره چي سترګي روښانه کيږي.

شانه (بنی آدم) \ اوږه (د انسان)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دسړی اوږه ښځه ده اوکه ووينې چي ددده اوږه قوي اوغټه ده دليل دی چي ښځه به کوي اوکه ووينې چي ده دغوابي يا دبوزي اوږه پيداکړي ده نو داهم دښځي د حاصليدو دليل دی اوکه ووينې چي ددده اوږه ماته سوي ده دليل دی چي ښځه به يي مري. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي داوږه غوښه يي پورته سوي ده او رګونه يي ښکاره کيږي دليل دی چي په دغه کال به ورته ډير غم وی اوکه د دې خلاف ووينې نو تعبير يي خلاف دی اوکه ووينې چي دده په اوږه کي سياهي ده دليل دی چي پر دغه کال به افت اومصيبت وي اوکه په اوږه کي سوروالي يا توروالي ووينې دليل دی چي په دغه کال به دنرخو ارزاني وي اوکه ژړوالي پکښې ووينې نو پر ناجوړي دليل دی او که د دې پر غاړه ډيري کرښې

وويني دليل دی چي په دغه کال به ډير مرګونه کيږي.

شاه رود (يو قسم باجه)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي شاه رود ددنيا پر بازيو مستي او پر درواغجنو او محاله خبرو دليل لري اوکه وويني چي شاه رود ږغوي دليل دی چي په درواغو به خوشحاله وي اوکه دشاه رود سره شپيلي اونوري باجي هم وويني نو بيا پر مصيبت دليل لري او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که وويني چي شاه رود يي مات کړي دی او غورزولي يي دی دليل دی چي ددرواغجنو څخه به توبه کوي او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که وويني چي شاه رود ږغوي دليل دی چي دلوی ښځي سره به ملاو سي او دهغه څخه به عزت اومرتبه حاصله کړي.

شاه اسپرغم (يو بوټي) \ نيازبو (يو بوټي)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك وويني چي نيازبو شين پاك اوخوشبوداره دی نو پر بزرګي دليل دی اوکه ژړ اومړاوي يي وويني نو پر ناجوړي دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي نيازبو په شپږو وجو دی. ۱: عزت اوبزرګي ۲: زوی ۳: دوست ۴: ښه خبره ۵: دعلم مجلس ۶: نيك نامي او مدح ثنا.

شاهين \ باز

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي وويني چي بازيي نيولي دی يا چا ورکړي دی دليل دی چي ده ته به دپاچا څخه يا د ډير ظالم مشر څخه نفع حاصله سي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي باز ډير هوښيار سړی دی اوکه وويني چي باز يي نيولي دی يا چا ورکړي دی دليل دی چي دده به دهوښيار سړی سره صحبت وي. اودهغه څخه به خير اونفع حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي باز ليدل په څلورو وجو دی. ۱: عزت اومرتبه ۲: زوی ۳: مال او نعمت ۴: حکومت.

شب \ شپه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کي وويني چي توره اوخرابه شپه ده نو تعبير ددی غم اوفکر دی اوکه وويني چي شپه روښانه اوسپوږمي والاده دليل دی چي خوشحاله به سي او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که وويني چي په توره شپه کي ګرځي او لاره ځني ورکه ده او دسمي لاري په نيت ځي دليل دی چي په دين کي به ورته استقامت حاصل سي.

شب يماني \ خاوري

خاوري په خوب کي ليدل غم اوفکر دی اوخوړل يي په هلاکت دليل لري جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که خاوري په خوب کي دلمر په ډول ځليدونکي وويني نو پر خير او دکارونو په فراخي دليل دی او د دې خلاف دکارونو پر بنديدو دليل دی.

شبان \ شپانه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دغوايي يا بوزي يا خرڅونکي ليدل دهر شی تعبير

Maktaba Tul Ishaat.com

دهغه په اندازه مطابق دی داس خرڅوونکي پر ولایت او بزرګي او دخرڅوونکي په تخت او دغوایي پیوونکي په سفارت نعمت اوفراخی اودبوزي څروونکي پرحلال رزق مال اونعمت دلیل لري. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که ووینې چي شپانتوب کوي اولیوه دده درمي څخه یوه بوزه وړي ده دلیل دی چي باچا په دغه ملک خراب کړي او درعایا حال به برباد سي دانیال علیہ السلام ویلي دی چي دبزو دشپانه توب کولو دلیل دا دي چي ددغه بزو په شمار به مشر سي اوکه ووینې چي شپانه ورته څه ورکړي دی دلیل دی چي ده ته به دمشر څخه نفع حاصله سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي شپانه نصیحت کوونکي سړی دی او دخلکو دمال حفاظت کوونکي دی اودهر کار ښه والي پر خلکو ښکاره وي.

شب بازي کردن \ د شپې بازي کول

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي دشپې بازي اومستي خوشحالي ده لیکن درواغ او بي کاره ده اوکه ووینې چي د شپې بازي دساز اوشپیلي سره کوي نو دا پر غم اوفکر دلیل دي.

شب برګ (یو ډول بوټی)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي شب برګ ګمراه اومحرومه سړی دی اوکه ووینې چي دده سره شب برګ دی دلیل دی چي دده صحبت به دګمراه سړی سره وي اوکه ووینې چي شب برګ یې خوړلی دی دلیل دی چي ددغه سړی دکار څخه به ده ته فایده وي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چي شب برګ یې ددرختي څخه پریکړي ده یا درخته وچه سوي ده دلیل دی چي دګمراه سړی دصحبت څخه به جلا سي اودده ښه والي به په دي کي وي.

شپش \ شپږي

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي شپږي یې مړي کړي دی دلیل دی چي دښمن به مغلوب کړي اوکه ووینې چي نامعلومي شپږی دی دلیل دی چي دده دښمن به کمزوري سي اوکه ووینې چي ډیري شپږي په ده جمع سوي دی او دي یې چیچلي دی دلیل دی چي خلک به ورته پیغور ورکړي یا به دده دمال نقصان وسي اوکه ووینې چي شپږي دخلکو وینه چیښي نو دوینې تعبیر مال دی.

شپشه \ کوني (یو ډول خزنده)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي کوني یو حیوان دی چي دګرمي په ورځو کي دپشم په کالو او پوستین کي وي او دا تباه کوي د دې لیدل ګاونډي دی که ووینې چي کوني دده کالي خوړلي دی دلیل دی چي دده دمال نقصان به وسي اوکه ووینې چي کوني دپشم مال تباه کړي دی دلیل دی چي دده دکورخخه به غل څه وړي اوکه ووینې چي کوني یې مړ کړي دی دلیل دی چي غل به نیسي اومال به ځني اخلي.

شبه \ کوچنی مریی

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي شبه ورسره دی یا چا ورکړي

دی دليل دی چي لور به يي پيداسي ورنه غمجن به سي او په دين کي تور شبه خيرن دی جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سپينه او شنه شبه ليدل په خير اونفعي دليل لري او بعض وايي چي ژړه شبه په ناجوړي دليل لري.

شتافتن \ ځغستل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي ديو کار لپاره ځغلي دليل دی چي په دغه کار کي به پښيمانه سي اوکه ووينې چي دهغه څخه پښيمانه سو او ويي ځغستل دليل دی چي دغه کاربه ژر وکړي او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په يو کارکي ځغستل دتاخير دليل دی او تاخير کول په ژر کولو دليل دی.

شتالنګ \ ګيټې

په خوب کي ګيټې جنګ دی که په خوب کي ووينې چي دګيټې سره بازي کوي او دشور شرابي اواز راځي دليل دی چي دده به جنګ کيږي اوکه دبازيو په وخت کي چپ وي نو حرام مال به حاصل کړي.

شراب \ شربت

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دخوږو شربتو چيښل لکه دسيب شربت دانار شربت دمالټي شربت او داسي نور په شپږو وجو وي ۱: دين ۲: نفع ۳ : فايده مند علم ۴: ډير عمر ۵: دژوند خوشحالي ۶: دالله تعالی ذکر، ليکن کوم شربتونه چي تروه وي لکه دريواس شربت دليمبو شربت دنارنج شربت اوداسي نور په خوب کي ليدل غم اوفکر دی اوترخه شربتونه لکه دمورو شربت او دزوفا شربت چيښل ددين او دنيا دفايدي دليل دی او دکومو شربتونو خوند چي معتدل او خوشبودار وي لکه دعود شربت دبنفشي شربت او دګل شربت چيښل په خير اوخوشحالي اوتعريف دليل لري. جابرمغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي کوم شربتونه په خوب کي ددوايي په طور وچيښي هغه ددين پر صلاح دليل لري او کوم چي ددوايي لپاره نه وي هغه ددنيا په خير اوصلاح دليل لري.

شرايي (يو ډول لوښی)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي ده شرايي اخيستي دی دليل دی چي مينځه به اخلي اواهل تعبير بيان کړي دی چي په خوب کي شرايي خادم دی اوکه ووينې چي دده شرايي مات سوي يا ورك سويدی دليل دی چي مينځه يا خادم به يي مري. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي شرايي ليدل په نو وجو دی. ۱: نښځه ۲: خادم ۳: مينځه ۴: ددين مضبوطي ۵: ددنيا اصلاح ۶: ډير عمر ۷: مال اونعمت ۸: خير اوبرکت ۹: د نښځو دطرف څخه دمال حاصليدل.

شرم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي شرم دايمان څخه دی نبی کريم صلی اللہ علیہ وسلم ويلي دی چي (الحياء من

Maktaba Tul Ishaat.com

الايمان) حيا دايمان څخه دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي په يو کار کي شرم کوي دليل دی چي په دغه کار کي به خير اوصلاح وی اودايمان زياتوالي به وي او په داسي کار کي شرم کول چي په هغه کي خير اوصلاح وي دايمان په نقصان دليل لري.

شستن \ پريولل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي خپل ځان دويالي يا دحوض يا ددرياب په اوبو سره پريول دغم اوفکر څخه دخلاصون دليل دی اوکه داخوب قيدي ووينې نو ازاد به سي که قرضدار يې ووينې نو دقرض څخه به خلاص سي اوکه ناجوړي ووينې نو شفا به حاصله کړي اوکه دټول بدن سره په اوبوکي نه وي ناست نو کار به يې تمام نه سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي خپل ډوډي يې پريولی ده دليل دی چي دده خپلوان به دغمونو اوفکرونو څخه خلاص سی اوکه ووينې چي خپل ځان يې په نمکينو اوبو پريولي دی دليل دی چي غم به ورته ورسيږي اوکه ووينې چي پاك کالي يې په خرابو اوبو سره پريولي نو دا دده دکار پر تباهي او ددين پر فساد دليل دی اوکه ووينې چي ځان په يخو او خرابو اوبو سره پريولي دليل دی چي توبه به کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي په يخو اوبو سره مخ او لاس پريول په څلورو وجو دي. ۱: توبه ۲: عافيت ۳: دقيد څخه خلاصون ۴: دبيري څخه په امن کي اوسيدل اوپه ګرمو اوبو سره مخ لاس پريول غم اوفکر دی اوپه خوب کي مخ لاس پريول په قول دجعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ په اتو وجو وي. ۱: دمراد حاصليدل ۲: دناجوړي څخه شفا ۳: مال حاصلول ۴: حج ۵: خوشحالي ۶: امن ۷: ددين صفايي ۸: دضرورت پوره کيدل.

شش \ پيپړه \ سړي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سړي ليدل خوشحالي ده اوکه ووينې چي چا ورته سړي ورکړي دی دليل دی چي هغه ته به نيکي رسوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دحلال يحوان اومه يا پخ کړي سړي يې خوړلي دي نو دليل يې دادي چي دهغه په اندازه به مال حاصل کړي.

شطرنج

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي شطرنج کول بهتان او درواغ خبره ده اوکه ووينې چي په شطرنج کولو کي يې مخالف مغلوب کړي دی دليل دی چي پرچا به په درواغو غلبه کوي اوتهمت به باندي لګوي او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي شطرنج کول پر جنګ دليل لري او اهل تعبير بيان کړي دی چي په خوب کي شطرنج کول نيکي اوخير نه دي.

شعر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کی ووينې چي شعر يا غزل يادچا مدح يا صفت کوي يا غيبت کوي دليل دی چي بي فايدي خبري به کوي دالله تعالی فرمان دی (والشعراء يتبعهم

الغاون، سورة الشعراء: ۲۲٤) ترجمه: ګمراه خلک دشاعرانو پیروي کوي. لیکن که دتوحید یا نعت یا دهوښیارتیا خبري کوي نو ښه دی اوګنهګار به نه سي.

شغال\ګیدړ

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي دګیدړ په طلب کي ګرځي او حیران دی او نیولي یې نه سي نو دلیل دی چي ناجوړه به سي اوکه ووینې چي ګیدړ ورسره بازي کوي دلیل دی چي پر ښځه به عاشق سي اوکه ووینې چي دګیدړي غوښې خوري دلیل دی چي که ناجوړه وي نو شفابه حاصله کړي که قرضدار وي نو قرض به یې اداسي اودګیدړي ویښته پوست او هډوکي په خوب کي لیدل مال دی.

شفتالو

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي شفتالو لیدل ناجوړي ده که په خپل موسم کي وي نو لږ نقصان دی اوکه شفتالو ژړ نه وي او خوږ وي نو پر مینځه دلیل دی اوکه پخپل وخت وي نو ده ته به مال ملاو سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي شفتالو په پنځو وجو وي. ۱: مینځه ۲: زوی ۳: ناجوړي ۴: مال ۵: مسافر سړی دطرف څخه نفع. اوکه ووینې چي دشفتالو زونې یې ماتي کړي دی او په خوراك کي تریخي دی نو په غم اوفکر دلیل دی او که خوږي وي نو دلیل دی چي دبي اصله سړی څخه به دهغه په اندازه مال اونفع حاصله کړي.

شکار\ښکار

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که په خوب کي ووینې چي دغرني بوزي یا غوا یا دځنګلي خر ښکار کوي او غوښه یې خوري نو داټول په ښه والي دلیل لري اوکه ووینې چي ښکار یې غورزولي دی دلیل دی چي مال غنیمت به حاصل کړي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په جال سره چي کوم ښکار ونیسي نو داپه نقصان دلیل دی اوبعض اهل تعبیر بیان کړي دی چي په خوب کي ښکار دخپل معاش او روزي تلاش کوونکي دی.

شکر\شکري\خوږې

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي لږ شکري پاکه خبره ده یا خپل زوی یا ورور یا دوست مچول دی اوکه ډیري شکري ووینې نو په مال او حلال رزق دلیل دی حضرت ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي ډیري شکري ښه نه دی او خرڅول یې ښه دی لیکن د دې حاصلول او اخیستل بد دی او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي شکري لیدل په پنځو وجو وي. ۱: پاکه خبره ۲: مچول ۳: نفع ۴: زوی ۵: مال.

شکر ګزاردن\شکر کول

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي دالله تعالی شکر ادا کوي نودا دده ددین په درستي قوت مرتبې مال او ددوارو جهانونو په سعادت دلیل دی دالله تعالی فرمان دی (لئن شکرتم لازیدنکم، سورة ابراهیم: ۷) ترجمه: که تاسو شکر وکړي نو زه به تاسو ته نور زیات درکړم.

Maktaba Tul Ishaat.com

شکستن \ ماتول

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که په خوب کي ووینې چي څه شي یې مات کړي دی دلیل دی چي دهغه په اندازه به دده نقصان وسي اوکه مات سوي شي دبل چا وي دلیل دی چي دهغه نقصان به خوب لیدونکي ته واپس کیږي اوکه ووینې چي دده داندامونو څخه یو اندام مات سوي دی دلیل دی چي دده یو څوك خپل چي دده داندام سره تعلق لري هغه ته به غم اومصیبت ورسیږي اوکه ووینې چي دږغ دساز څخه لکه باجه رباب او شپیلۍ څخه یې یو مات کړ نو دا کار پر خوشحالي دلیل دی.

شکم \ نس

ددي په تعبیر کي داهل تعبیر دري قولونه دی دانیال علیہ السلام ویلي دی چي نس په ظاهر اوباطن کي مال دی ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي نس زوی دی ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي نس په خوب کي پر خپلوانو دلیل دی که ووینې چي نس یې غټ سوی دی نو دا دمال پر زیاتوالي زوی او خپلوانو دلیل دی اوکه ووینې چي نس یې کوچني سوي دی او په پوست کي یې څه نقصان دی دلیل دی چي دده دمال او زوی نقصان به وسي اوکه ووینې چي څه په نس کي دی ټول یې دباندي را ایستلي دی او پریولي یې دی او بیا یې پرخپل ځاي ایښي دی دلیل دی چي دده حال به نیک سي اومطلب به یې حاصل سي اوکه ووینې چي دده دنس څخه زوی راوتلي دی دلیل دی چي داسي زوی به یې وسي چي دده داهل بیتو عزت او مرتبه به زیاته کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي خپل نس پرسیدلي ووینې نو دلیل دی چي ډیر مال به ورته حاصل سي اوکه خپل نس څیري ووینې نودلیل دی چي مصیبت به ورته رسیږي اوکه پر خپل نس ویښته راختلي وي دلیل دی چي پر ده به دعیال دطرف څخه قرضه راځي اوکه خپل نس خریلي ووینې دلیل دی چي بې غمه به سي او دقرض څخه به خلاص سي اوکه ووینې چي دده په نس کي سوري دی دلیل دی چي دده عیال به دده مال خوري.

شکنبه \ لری \ نس \ معده

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي دحلالي غوښې والا حیوان لری پر حلال مال دلیل دی اوکه لری دغوشیانو څخه ډك ووینې نو پر حرام مال دلیل دی اوکه ووینې چي پوخ سوی لری یې خوړلي دی نو دا پر خیر اونفع دلیل دی.

شکنجه \ زولنې

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي شکنجه په ذلت او عاجزي دلیل لری اوکه ووینې چي ده ته دشکنجي څخه تکلیف رسیدلي دی نو بیا یې هم دغه تعبیر دی اوکه ووینې چي دشکنجي څخه ورته تکلیف نه دی رسیدلي نو تعبیر یې داول څخه خلاف دی اوکه ووینې چي دی پاچا په شکنجه کي راخیژولي دی دلیل دی چي دپاچا څخه به ورته تکلیف رسیږي.

شګوفه درختان \ غوټې

ددرختو غوټې پخپل وخت کي په تعبیر کي ښه دی او ژړه غوټې په تعبیر کي دسري اوسپني

څخه په کمه درجه کي ده او ګلنار په خوب کي ناوي ده او ددرختو غوټي دهغه دقد په کوچنيوالي مطابق پرپاکه خبره دليل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي په موسم کي ددرختو غوټي خوري دليل دی چي ددغه درختو دمالکانو څخه به پاکه خبره اوري او دهغوي څخه به خير اونفع حاصله کړي او که ووينې چي غوټي بويوي دليل دی چي خلک به يې تعريف کوي.

شل شدن \ شل کيدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي بدن يې څيری سوي دی او دکور په کټ کي را ايله سو او ولاړيدی نه سي دليل دی چي دبدو کارونو څخه به توبه کوي او که خوب ليدونکي مفسد وي نو د دې تعبير داولني خلاف دی او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي په اندامونو کي يې يواندام بې کاره سوي دی دليل دی چي دده خپلوانو ته چي دده سره نسبت لري افت به ورته ورسيږي.

شلغم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي شلغم غم اوفکر دی اوکه ووينې چي ده چا ته شلغم ورکړي دی دليل دی چي هغه ته به تکليف رسوي او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي پوخ شلغم داوم څخه ښه دی او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي دځان څخه يې لري کړي دی دليل دی چي دغم اوفکر څخه به خلاص سي.

شلوار \ پرتوګ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي پرتوګ په خوب کي عجمي مينځه ده يا خرابه ښځه ده چي واده به ورسره کوي او که ووينې چي نوي پرتوګ يې اغوستي دی نو عجمي مينځه به اخلي اوکه دپرتوګ اغوستو پر وخت يې ښځي ته وکتل دليل دی چي دښځي سره به جنګ کوي اوکه ووينې چي چا ورته پرتوګ ورکړي دی دليل دی چي خادمان به يې زيات سي اوکه ووينې چي نوي پرتوګ يې پيداکړي دی دليل دی چي نوي خادم به حاصل کړي اوکه ووينې چي خيرن پرتوګ ورسره دی دليل دی چي دالله تعالی څخه به عذاب حاصل کړي دالله تعالی فرمان دی (سرابيلهم من قطران وتغشی وجوههم النار، سورة ابراهيم: ۵۰) ددوي پرتوګونه به دتار کولو وي. او ددوي مخونه به اور پټ کړی وي اوکه ووينې چي سور پرتوګ يې اغوستي دی دليل دی چي عزت منده ښځه به کوي اوکه ووينې چي دده سره ژړ پرتوګ دی دليل دی چي ناجوړه به سي اوکه ووينې چي شين پرتوګ ورسره دی دليل دی چي خلک به يې ملامت کړي او د ښځو لپاره رنګداره پرتوګ ښه دی اوکه ښځه ووينې چي نوي پرتوګ يې اغوستي دی دليل دی چي خاوند به کوي اوکه و وينې چي پرتوګ يې ورک سوي دی دليل دی چي مينځه يا خادم به يې وتښتيږي اوکه ووينې چي ده د ښځو پرتوګ اغوستي دی دليل دی چي دښځي څخه به ورته ذلت ورسيږي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي پرتوګ په دروو وجو دی ۱: ښځه

Maktaba Tul Ishaat.com

۲: مينځه ۳ : دکور مزدور.

شلوار بند \ پرتوګاښ \ واګه

پرتوګاښ دسړی په شرمګاه دليل دی که ووينی چې دده پرتوګ سخت او مضبوط دی نو دعضو تناسل په سختي اومضبوطي دليل دی اوکه ژړ پرتوګاښ ووينی نو دعضو تناسل په کمزوري دليل دی.

شمار کردن \ شميرل \ حساب \ حسابول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې که څوك ووينی چې دچا سره شميرل کوي دليل دی چې په محنت کي به اخته سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې شميرل څونه اسانه وی محنت به کم وي او دعددونو تعبير ديوه څخه ترسلو او زرو پوری په حرف عين کي بيان سوي دی.

شمشير \ توره

دانيال عليہ السلام ويلی دی چې په تيکی کي توره ښځه ده اوبغير د تيکی څخه مال مراد او حکومت دی اوکه ووينی چې دده په لاس کي توره ده دليل دی چې زوی به يې پيداسي اوکه ووينی چې توره د تيکی څخه دباندي ده نو بيا يې هم دغه تعبير دی اوکه ووينی چې توره په تيکی کي ده او تيکی ماته سويده او توره سلامته ده دليل دی چې زوی به يې سلامت وسي او دهغه مور به مړه سي اوکه ووينی چې دده په لاس کي لڅه توره ده او پر چا يې پورته کړي ده دليل دی چې ده چا ته دويلو لپاره ديوې خبری سوچ کړي دی اوکه ووينی چې په توره يې څوك وهلي دی خو زخمي کړي يې نه دی دليل دی چې د هغه سړی په باره کي به يې ژبه خلاصه سي اوکه ووينی چې توره دده په څټ کي راځړيږي دليل دی چې دولايت زمه واری به باندي راسي اوکه دتوری تيکي اوږد وي نو دولايت احتمال نه لری اوکه ووينی چې دتوری تيکي لنډ دی نو ولايت به ورته حواله کړي اوکه دتوری تيکي لنډ وي اومات سوي وی نو ولايت به دده دقبضي څخه ولاړ سي اوکه ووينی چې بغير دجنګ څخه يې څوك په توره ووهي نو دليل دی چې مشهوربه سي. ابراهيم کر مانی رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې که څوك ووينی چې پخپل لاس کي يې توره رازړولي دی دليل دی چې زوی به يې راسي اوکه زوی يې نه وي نو حکومت به حاصل کړي. اوکه ووينی چې چا ورته ډيری توری ورکړي دی دليل دی چې مالداربه سي اوکه ووينی چې توره او تيکی دواړه مات سوي دی دليل دی چې زوی او دهغه مور دواړه به مری. اوکه ووينی چې چا په توره وهلي دی او وينه ځني بهيدلي ده او کالي يې باندي خراب سوي دی دليل دی چې پرده به دحرام مال تهمت ولګول سي اوکه ووينی چې چا توره ځني اخيستي ده دليل دی چې په حکومت کوم کار دی هغه به ځني واخسته سي اوکه ووينی چې توره يې پخپله ملاپوری ترلي ده دليل دی چې عمر به يې زيات وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې که څوك ووينی چې داوسپني توره ورسره ده دليل دي چې کار به يې پاييدار وي او که ووينی چې دشيشي توره ورسره ده دليل دی چې دلويی ښځي څخه به ښه والي ووينی اوکه دملغلرو توره ورسره وي نو دليل يې دا دي چې داهل دينو په عمل سره به قوت حاصل کړي اوکه ووينی چې دلرګي توره

ورسره ده دليل دی چي کاربه يي کمزوري سي اوکه ووينې چي دتيکري توره ورسره ده دليل دی چي دپاچا دبيبيانو څخه به قوت حاصل کړي اوکه ووينې چي دده دتوري تيکی ماته سوي ده دليل دی چي دده په اهل بيتو کي به څوك مري اوکه ووينې چي دده سره په دوه مخه تيره توره ده دليل دی چي دده کار به روان وي اوکه دلاجوردو توره ورسره وي نو دليل دی چي کاربه يي کاميابه سي اوکه ووينې چي دده توره دهنداری په ډول ځليږي دليل دی چي خوب ليدونکي به دسردارانو مهرباني اوعزت حاصل کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي توره ليدل به پنځو وجو وي. ۱: زوی ۲: ولايت ۳: دليل ۴: نفع ۵: په دښمن باندې کاميابي حاصلول اوپه خوب کي توره جوړونکي قوي اوفصيح ژبي سړی دی.

شمع \ډيوه \ څراغ \ بلب

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي شمع دولت دی او دعزت مرتبي عيش اونعمت فراخي ده که په خوب کي ووينې چي روښانه شمع ورسره ده دليل دی چي دخوب ليدونکي دولت اونعمت به زيات سي اوکه ووينې چي شمع يي بله کړي دی او پخپل کور کي يي اينبي ده دليل دی چي په دغه کال به پر ده نعمت فراخ وي او تجارت به يي جاري وي او بعض اهل تعبير ويلي دی چي دده ښځه به ښايسته وي اوکه ووينې چي چا ورته روښانه شمع ورکړي ده دليل دی چي عزت اودولت به حاصل کړي اوکه ووينې چي دده سره دسپينو زرو په شمعدان کي شمع ده دليل دی چي دښه اصل ښځه به کوي او که ووينې چي شمعدان دسرو زرو دی دليل دی چي دشاهي خاندان څخه به ښځه کوي اوکه شمعدان دقلايي ووينې دليل دی چي ددرميانه درجي قبيلي څخه به ښځه کوي اوکه ووينې چي شمعدان دتانبي دی دليل دی چي بی اصله ښځه به کوي اوکه ووينې چي شمعدان داوسپني دی دليل دی چي دمضبوط اصل ښځه به کوي اوکه ووينې چي شمعدان دخاورو دی دليل دی چي دعامو خلکو څخه به ديوي ښځي سره واده کوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي بله سوي شمع يي په لاس کي اينبي ده او ناڅاپه مړه سوي ده دليل دی چي ښځه به يي مري اوکه ووينې چي بله سوي شمع دده په لاس کي ده او چا مړ کړي دی دليل دی چي يو سړی به پر ده حسد کوي اوکه ووينې چي دشمعي رڼا کمه سويده دليل دی چي دده عزت اومرتبه به کمه سي، دانيال عليہ السلام ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده په لاس کي بله شمع ده دليل دی چي که ښځه يي وي نو زوی به يي پيداسي اوکه ووينې چي په ښار کي ډير شمعان بل دی دليل دی چي ددغه ځاي پاچا به عادل اوانصاف داروي او قاضي به انصاف دار پرهيزګار اوهوښيار وي او په دغه ښارکي به ډيره خوشحالي وي اوکه په جماعت کي ډيري شمعي ووينې دليل دی چي دهغه ځاي خلک به په عبادت او دعلم په حاصلولو کي پوره مشغول وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي شمع ليدل په خوارلسو وجو وي. ۱: پاچا ۲: قاضي۳: زوی ۴: ناوي ۵: حکومت ۶: مشري ۷: واده ۸: سرای ۹: مالداري ۱۰: علم ۱۱: نامداره ښځه ۱۲: ښايسته ښځه ۱۳: ژوند ۱۴: پر ليدونکی دليل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

شناوري کردن \ لمبېدل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي په صفا اوبو کي لمبيدل په حيله اوتدبير سره دکسب طلب دی اوکه ووينې چي په صفا اوبوکي لمبيدلی دی او ډوب سوي دی دليل دی چي ددنيا په مال کي به غرق سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دي چي که څوك ووينې چي په درياب کي لمبيږي اوغاړي ته نه دی رسيدلي دليل دی چي پاچا به يې دعمل څخه منع کړي او که ووينې چي لمبيدل ورته اسان دی دليل دی چي کار به يې په اساني سره وسي اوکه ووينې چي لمبيدل ورته ګران دی دليل دی چي کاربه يې ګران سي او که ددرياب غاړه ونه وينې دليل دی چي قيد به سي اوکه ووينې چي پر اوبو باندي يې غلبه کړي ده او دي پکي مړ سوي دي دليل دی چي ددښمنانو دلاسه به هلاک سي او که ووينې چي د ډوبيدو څخه بچ سوي دی دليل دی چي ددنيا دکارونو څخه به لاس اخلي او داخرت په کار کي به مشغول سي اوکه ووينې چي په اوبو کي ډوب سويدی دليل دی چي غم به ورته لاحق سي اوکه ووينې چي داوبو دلاندي څخه ځمکي ته راغلي دی دليل دی چي دغم څخه به خلاصون حاصل کړي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي ددرياب څخه په لمبيدو دباندي راوتلي دی او کالي يې اغوستي دی دليل دی چي دپاچا دکارونو څخه به خلاصون حاصل کړي او که د دې خلاف ووينې نو تعبير يې هم خلاف دی اوکه ووينې چي تر غټې ويالي په لمبيدو راوتلي دی اوغاړی ته راغلي دی دليل دی چي دغټ شغل څخه به خلاصون حاصل کړي اوکه د دې خلاف ووينې نو دليل يې دی چي په شغل کي به وي.

شنګرف (دپاري او ګوګړو مرکب)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي شنګرف په خوب کي غم اوفکر دی که ووينې چي دده سره شنګرف دی دليل دی چي غم به حاصل کړي اوکه ووينې چي شنګرف يې خوړلي دی دليل دی چي ناجوړه به سي اوکه ووينې چي په شنګرف سره يې څه تصوير جوړ کړي دی دليل دی چي ددنيا په بازيو کي به مشغول سي او پردي به عاشق سي اوکه په خوب کی وينې چي په شنګرف سره څه ليکي که قران کريم يا دعا يا دتوحيد خبري يې ليکلي وي نو پر نيکي دليل دی اوکه د دې خلاف وي نو په نقصان دليل دی.

شهادت دادن \ ګواهي \ شاهدي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ريښتوني ګواهي ښکاره کوي دليل دی چي دغمونو څخه به خلاص وي اوعاقبت به يې ښه وي جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که مصلح وي او ووينی چي ريښتوني ګواهي ورکوي دليل دی چي دمرګ پر وخت به شهادت حاصل کړي اوکه خوب ليدونکي مفسد وي نو توبه به کوي او پر ګناه به پښيمانه سي اوکه خوب ليدونکي مشرك وي نو دليل دی چي مسلمان به سي او عاقبت به يې په خير سي.

شاه بلوط (يو ډول درخته)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي دده سره دشاه بلوط ميوه ده دليل دي چي

غمجن به سي او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينی چي دده سره دشاه بلوط ميوه ده يا چا ورکړي ده دليل دی چي دهغه په اندازه به دبخيل سړی څخه نفع حاصله کړي.

شهد \ ګبين \ شات \ عسل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينی چي شهد دموم سره دی نو د دې تعبير ميراث او حلال غينمت دی اوکه ووينی چي ګبين ورسره دی دليل دی چي دهغه په اندازه به خوب ليدونکي دمړي څخه ميراث حاصلوی چي حلال به وي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينی چي ګبين ورسره دی دليل دی چي دهغه په اندازه به قدر علم اوپوه حاصله کړي اوکه ووينی چي ددغه ګبين څخه خلکو ته څه ورکوي اوهغوي يي خوري دليل دی چي خلک به دده دعلم څخه فايده حاصله کړي او که د دې خلاف ووينی نو نفع به نه حاصلوي او اهل تعبير بيان کړي دی چي ګبين په تعبير کي قران مجيد دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ګبين ليدل په پنځو وجو وي. ۱: ميراث ۲: غنيمت ۳: علم ۴: قران مجيد ۵: فراخه روزي.

شهرستان \ دښار ديوال

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينی چي دښار په ديوال کي دننه تللي دی دليل دی چي دين به يي مضبوط سي او انجام به يي ښه وي اوکه ووينی چي دښار پر ديوال ساکن سويدی دليل دی چي دپاچا په خدمت کي به وي اوخير اونفع به حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دښار ديوال ليدل په اووه وجو وي. ۱: پاچا ۲: رئيس ۳: عام خلک ۴: ددين قوت ۵: امن ۶: فتح حاصلول ۷: دکارونو مضبوطي.

شهر \ ښار

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينی چي ښار ته تللي دی دليل دی چي دده دين به قوي وي اوددين کار به يې پوره سي او خپل مراد ته به ورسيږي اوکه ووينی چي دښار څخه دباندي راغلي دی يا چا دښار څخه ايستلي دی نو د دې تعبير د اول څخه خلاف دی اوکه څوك خپل ځان په مناره يانښار کي ووينی نو دا دده پر هلاکت دليل دی اوکه ووينی چي دي ديو ښار څخه بل ښار ته ايستل سوي دی دليل دی چي ښځي ته به طلاق ورکړي او دده ښځه به بل خاوند کوي اوکه ووينی چي په يو ښار کي مقيم سوي دی دليل دی چي ښځه به ځني جلاسي اوکه ووينی چي دمسلمانانو دښار څخه تللي دی دليل دی چي درښتوني دين څخه به درواغجن دين طرفته مايل سي او ممکنه ده چي دکافري ښځي سر به واده کوي اوکه دګرم ملک په يو ښار کي واوره اويخني ووينی نو داپه قحط او تنګي سره پر واده دليل دی اوکه ديخ ملک يو ښار کي دا ووينی نو پر فراخي اودنعمت په ارزاني دليل دی اوکه ووينی چي يو ښارته تللي دی اوهغه ښار يي خوښ سوي دی دليل دی چي عزت اومرتبه به حاصله کړي اوکه ووينی چي دکلي څخه ښار ته تللي دی دليل دی چي خير اونفع به ورته حاصله سي اوکه ووينی چي دښار څخه کلي ته تللي دی دليل دی چي مراد به يي پوره نه سي دالله تعالی فرمان دی (ربنا اخرجنا من

Maktaba Tul Ishaat.com

هذه القرية الظالم اهلها، سورة النسآء: ۷۵) ترجمه: اي خدايه مور د دې کلي څخه وباسه چې د دې اوسيدونکي ظالمان دی اوکه ووينې چې په ښار کې ورک سويدی نو د دې تعبير ښه دی اوکه ووينې چې دښځو ښار ته تللې دی دليل دی چې په دغه ښار کې به فتنه اومصيبت راسي اوکه ووينې چې ښارته ښايسته ښځې راغلې دی دليل دی چې په دغه ښار کې به نعمت اوفراخي وي اوکه ووينې چې دښځو ښارته دننه تللې دی دليل دی چې دپاچا غلامان به هلته ځي اوظلم اوبې انصافي به کوي اوکه ووينې چې ښځې پټ مخ ښار ته دننه تللې دی دليل دی چې په دغه ښار کې به ناخوښي خبري کيږي اوکه په خوب کې ښار دمشرق دطرفه ووينې نو دمغرب دطرف څخه ښه دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په خوب کې دهندوستان ښار ووينې نو دليل يې بد دي اوکه خپل ځان دترکستان په ښار کې ووينې نو پر دښمن به کاميابي حاصله کړي اوکه ځان دبلغار اوشقلان په ښارونو کې ووينې نو دده سره به خيانت وسي اوکارونه به يې پټ وي اوکه خپل ځان دماوراء النهر په ښارونو کې ووينې نو عزت مرتبه اوامن به حاصل کړي اوکه خپل ځان په خوارزم کې ووينې نو دده کار به بند سي اوکه دعراق په ښارونو کې خپل ځان ووينې نو دولت اومرادبه پوره کړي اوکه دخراسان (اوسني افغانستان) په ښارونو کې خپل ځان ووينې نو کار به يې په اساني سره پوره سي اوکه ځان په ښار فارس کې ووينې نو دده ناسته ولاړه به دپرهيزګاره خلکو سره وي اوکه دکرمان په ښارونو کې خپل ځان ووينې نو دده خاندان به ډير سي اوکه خپل ځان دحجاز په ښارونو کې ووينې نو حج به کوي اوکه ديمن په ښارونو کې خپل ځان ووينې نو دا پر سلامتي اوامن دليل دی اوکه دمصر په ښارونو کې خپل ځان ووينی نو خوشحاله به سی اوکه خپل ځان د اذربايجان په ښارونو کی ووينی نو په کارونو کې به غم مصيبت اوتکليف پورته کوي اوکه خپل ځان دارمينيا په ښارونو کې ووينې نو مراد به يې پوره سي اوکه دمغرب په ښارونو کې خپل ځان ووينې نو دده په کارونو کې به نقصان راسي اوکه خپل ځان دفرنګيانو په ښارونو کې ووينې نو دده ددنيا کارونه به ښه سي ليکن دين به يې کمزوري وي اوکه خپل ځان دشيروان په ښارونو کې ووينې نو دليل دی چې کار به يې نيک سي.

شهرهايي مفردين \ يو يو ښار ليدل

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې خپل ځان په مکه شريفه کې ووينې نو دليل دی چې عزت مرتبه اومدد به حاصل کړي اوکه خپل ځان په مدينه منوره کې ووينې دليل دی چې دده صحبت به دسوداګرو سره وي او دهغوي څخه به نفع حاصله کړي. اوکه خپل ځان په يمن ښارکې ووينې دليل دی چې دبيري او دهشت څخه به په امن کې وي اوکه خپل ځان په طايف کې ووينې نو دليل دی چې ډير سفرونه به کوي اونيک به سي اوکه په بصره کې ځان ووينې نو دعالمانو سره دناستي شرف به حاصل کړي اوکه په واسطه کې ځان ووينې نو ديندار اوپرهيزګاره به سي اوکه ځان په کوفه کې ووينې دليل دی چې دعامو خلکو څخه به نيکي

حاصله کړي اوکه خپل ځان په بغداد کي ووينې نو مالداره به سي اوپه تجارت کي به نفع حاصله کړي اوکه خپل ځان په حلوان کي ووينې نو خوشحاله ژوند به تير کړي اوپه خوب کي اصفهان ليدل دسردار څخه په نفعي دليل دی اوموصل ليدل پر مراد حاصليدو دليل دی او دمشق ليدل پر فراخه روزي او حلب اوانطاکيه دمشر څخه پر نفعي دليل لري اوبيت المقدس ليدل پر عزت اومراد حاصلولو دليل دی او اخلاط ليدل دکار په پښيماني دليل دی او قيصريه ليدل پر نفع دليل دی اوکه په قلعي کي خپل ځان قيد ووينې نو دده کار به بند کړه سي اونفلس ليدل پرکار دليل دی او ګنجه ليدل دنعمت پر زياتوالي دليل دی او تبريز ليدل دغم څخه دخلاصون دليل دی اورنګان پر غم دليل دی او همدان ليدل پر مرتبه دليل دی اوقزوين ليدل پر دوستي دليل دی او ری ليدل په قسم خوړلو دليل دی او ګرګان ليدل په جنګ کي دماتيدو دليل دی اودهستان ليدل په فکر مندي دليل دی اودبسطام ليدل خوشحالي ده اوبيساوه ليدل دمال پر نقصان دليل دی او مرو ليدل دکار پر نه پوره کيدو دليل دی اونيشاپور ليدل دبزرګ سړی سره په صحبت حاصليدو دليل دی او که خپل ځان په طوس ښار کي ووينې دليل دی چي خير اونفع به حاصله کړي اوکه په بلخ کي خپل ځان ووينې دليل دی چي پپ دښمن به کاميابي حاصله کړي اوکه په سمر قند کي خيل ځان ووينې دليل دی چي په خلکو کي به نامدارسي اوکه په غزني کي خپل ځان ووينې دليل دی چي په خلکو کي به مشهور سي اوکه خپل ځان په کاشغر کي ووينې نوغمجن به سي اوکه په اسکندريه کي خپل ځان ووينې دليل دی چي داسي کاربه وکړي چي په هغه سره به پښيمانه سي اوکه په اندلس کي خپل ځان ووينې دليل دی چي دده سره به خيانت وکړي اوکه خپل ځان په حصار کي ووينې دليل دی چي کار به يي بند سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ښارونه ليدل په څلورو وجو وي ۱: دين ۲: ظاهريدل ۳: خوشحاله ژوند ۴: ښځه چي نکاح به ورسره وکړي.

شونيز \ توره دانه \ کلونجي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي کلونجي پرغم اوفکر دليل دی اوددې خوړل دضرر او نقصان سبب دی اوکه ووينې چي ډير کلونجي ورسره دی نو په غم کي به ګرفتار سي.

شوربا \ ښوروا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ښوروا دغوښي سره وي او خوند يي ښه وی نو دنفعي دليل دی اوکه د دې خلاف ووينې نو دغم اوفکر دليل دی.

شيراز \ چکه \ مستې

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي مستې غم او فکر دی اوکه تروه وي نو غم به يي زيات سخت وی اوکه ووينې چي مستې خرڅوي يا چا ورکړي دی او دهغه څخه يي څه خوړلي نه وي نو دليل يي دی چي خوشحالي به حاصله کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي مستې په خوب کي ليدل خرابه خبره ده چي په هغه سره به غمجن سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

شير \ شيدې

دانيال عليه السلام ويلي دی چې په خوب کې تازه او خوږې شيدې دمال پر زياتوالي دليل دی اوکه تروې وي نو تعبير يې د دې خلاف دی اوکه وويني چې تازه شيدې يې چيښلي دی نو دهغه په اندازه به حلال مال حاصل کړي اوکه ښځه وويني چې په تيانو کې يې شيدې جمع سوي دی دليل يې دی چې زوی به يې پيداسي اوکه سړی وويني چې شيدې باسي اودهغه پر ځای وينه راځي دليل دی چې حرام مال به حاصل کړي اوکه وويني چې دخپلو تيانو څخه شيدې چيښې دليل دی چې په کار کسب کې به يې نقصان وسي اوکه سړی وويني چې دی ماشوم دی او شيدې چيښې دليل دی چې مراد به يې پوره نه سي اوکه ښځه وويني چې بچي ته شيدې ورکوي دليل دی چې دپاچا څخه به مال حاصل کړي او که ښځه وويني چې بچي دشيدو څخه ليرې کوي اوبيا شيدې ورکوي نو دا پر نقصان دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې دځنګلي حيوانانو شيدې لږ مال دی که وويني چې دځنګلي خر شيدې چيښې نو دا پر خوبې او صلاحيت دليل دی اوکه وويني چې داوښ شيدې چيښې دليل دی چې دمشر څخه به مال حاصل کړي اوکه وويني چې دهوسۍ شيدې چيښې دليل دی چې روزي به باندې فراخه سي اوکه وويني چې دبوزې شيدې چيښې دليل دی چې دښځې څخه به مال اونعمت حاصل کړي اوکه وويني چې دپرانګ شيدې چيښې دليل دی چې پر دښمن به کاميابي حاصله کړي اوکه وويني چې دزمرې شيدې يې چيښلي دی دليل دی چې دلوی سړي څخه به حرام مال حاصل کړي اوکه وويني چې دميښې شيدې يې چيښلي دی دليل دی چې مال به حاصل کړي اوکه وويني چې دخرې شيدې يې چيښلي دی دليل دی چې ناجوړه به سي اوشفا به حاصله کړي اوکه وويني چې دسوې شيدې چيښې دليل دی چې دښځې څخه به نفع حاصله کړي اوکه وويني چې د خنزيرې ښځې شيدې چيښې دليل دی چې احمق او بيوقوف به سي اوکه وويني چې دګيدړې شيدې چيښې دليل دی چې دچا سره به مکر اوحيله کوي اوکه وويني چې دشرمښ شيدې چيښې دليل دی چې اولاد به ورسره خيانت کوي اوکه وويني چې دبوزې شيدې چيښې دليل دی چې حلال مال به حاصل کړي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې دداسې حيوان شيدې ايستل چې غوښه يې حلاله وي پر حلال مال دليل لري او دکومو غوښه چې حرامه ده دهغه شيدې پرغم او فکر دليل لري او جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې شيدی ليدل په درووجو دی. ۱: حلال رزق ۲: مال اوزوی ۳: غم اوفکر.

شيره

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې دانګورو شيره ددنيا خير اونفع ده دالله تعالی فرمان دی (فيه يغاث الناس وفيه يعصرون، سورة يوسف: ٤٩) ترجمه: ددې څخه خلک فايدې پورته کوي اودا نښتيځې اوکه وويني چې دانګورو څخه شيره نښتيځل وي دليل دی چې دلوی پاچا نزدی سړی به سي اوکه وويني چې تازه شيره خوري دليل دی چې دهغه په اندازه به حلال رزق

حاصل کړي اوکه ووينې چې دشيري خوند تريو دی دليل دی چې په غم اومحنت سره به روزي حاصله کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك ووينې چې شيره ورسره ده نو خير او نفع ده اوکه ووينې چې د انګورو څخه شيره ونښتيځي او غورزوي يې دليل دی چې ډير مال به حاصل کړي اوشيره چې څونه تازه اوخوږه وي هغونه به نفع زياته وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې شيره ليدل په څلورو وجو وي. ۱: حلال مال ۲: ډير نعمت ۳: علم او حکمت ۴ : بغير دمحنت څخه نفع.

شيرينې ها \ متايانې \ خوږې

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې متايانې واده خوشحالي اوحلال رزق دی اوکه ووينې چې يو چا متايې ورکړي ده دليل دی چې دهغه څخه به روزي حاصله کړي اوکه ووينې چې متايې يې خوړلې ده دليل دی چې نفع به حاصله کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کی متايې ليدل په څلورو وجو وي. ۱: نفع ۲: حلال مال ۳: علم ادب هوښيارتيا او حکمت ۴: ښايسته مينځه.

شير \ ببر شير \ زمری

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې زمري دښمن دی که ووينې چې دزمري سره يې جنګ کړي دی دليل دی چې ددښمن سره به جنګ کوي او څوك چې کامياب حاصلوي هغه به غالب سي اوکه ووينې چې دزمري څخه تښتيدلي دی او زمري ورپسې ګرځی نو دليل دی چې دچا څخه بيريږی دهغه څخه به په امن کې سي اوکه ووينې چې دزمري غوښه خوري دليل دی چې دپاچاهانو څخه به مال حاصل کړي اوپر دښمن به کامياب حاصله کړي او دزمري غوښه خوړل دپاچا څخه انعام حاصلول دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې زمري پاچا دی اوکه ووينې چې دزمري د بدن څه شي يې پخ کړي دی يا چا ورکړي دی او ده خوړلې دی دليل دی چې ددښمن دمال څخه به څه خوري اوکه ووينې چې دزمري سره يې جماع کړي ده دليل دی چې دخرابو خبرو څخه به خلاصون پيداکړي اوپه مراد به ورسيږي اوکه ووينې چې ده زمري په ترخ کې نيولي دی دليل دی چې ددښمن سره به صلح کوي اوکه ووينې چې نر زمري دده سره جماع کوي دليل دی چې دپاچا څخه به ذلت حاصل کړي اوکه ووينې چې په ده پسې زمري راروان دی اومخکې سوي دی ځني دليل دی چې دپاچا څخه به ورته نقصان رسيږي. دانيال عليہ السلام ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينی چې دزمري سر يې پيدا کړي دی دليل دی چې پاچاهي به حاصله کړي اوکه ووينې چې پاچا ورته زمري ورکړي دی دليل دی چې ده ته به پاچاهي ورکړي يا پخپل ملك کې به ورته څه ولايت ورکړي اوکه ووينې چې دزمري پر سر ناست دی دليل دی چل مرتبه اودولت به يې زيات سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې نر زمري پاچا دي اوښځه زمري دپاچا ښځه ده اوکه ووينې چې دښځې زمري څخه شيدي لوشي دليل دی چې دپاچا منشي به سي اوکه بوډې ښځه داخوب ووينې نو دپاچا دزوی دايې به سي اوکه ووينې چې زمري يې دملا څخه نيولي دی دليل دی چې پر هغه باندي به

Maktaba Tul Ishaat.com

کامیابي حاصلوي اوکه وويني چي زمري خوړلي دی دليل دی چي ددښمن څخه به ورته نقصان ورسيږي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که وويني چي زمري دي په ترخ کي نيولي دی دليل دی چي دپاچا مقرب به سي اوکه د دې خلاف وويني نو دپاچا به باندي اعتماد وي ليکن په خوب کي دزمري غوښه پوست اوهډوکي پر ډښمن دليل دی او که وويني چي دزمري غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي ډښمن به په اساني سره په واک کي راولي او که د دې خلاف وويني نو تعبير يي هم خلاف دی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي زمري ليدل په درو وجو وي. ۱: پاچا ۲: زړه ور ډښمن ۳: زبردست ډښمن.

شير خشت (قبض ماتونکی دوا)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي شيرخشت حلاله روزي ده اوکه وويني چي شيرخشت يي جمع کړي دی دليل دی چي په سفر کي به مال حاصل کړي اوکه وويني چي شير خشت يي خوړلي دی دليل دی چي په عيال به مال خرڅ کړي او عوض به حاصل کړي اوکه وويني چي شير خشت ورسره دی دليل دی چي په تجارت کي به نفع حاصلوي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي شيرخشت ليدل په درو وجو وي. ۱: حلال مال ۲: دژوند فراخي. ۳: دزړه مراد حاصلول.

شيشه \ ښيښه \ بوتل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي بوتل ښځه ده او وايي چي خادم دی چي ډښځو خدمت کوي ليکن پايدار به نه وي اوکه په خوب کي وويني چي چا ورته خالي بوتل ورکړي دی دليل دی چي فقيره ښځه به کوي اوکه وويني چي په دغه بوتل کي دګل بنفشه تيل دی نو پر ديندارہ ښځي دليل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دتيلو بوتل مالداره ښځه ده او که وويني چي دهغه څخه يي تيل پر سر مښلي دی دليل دی چي دښځي دمال څخه به ده ته څه حاصل سي اوکه وويني چي دهغه څخه يي دسيب يا دانارو وغيره شربت چيښلي دی دليل دی چي دهغه په اندازه به ورته دښځي مال ورته حاصل سي اوکه وويني چي بوتل دشيشي او پاك دی دليل دی چي دپرهيزګاري او ښايستي ښځي سره به واده کوي اوکه وويني چي بوتل مات سوي دی دليل دی چي ښځي ته به طلاق ورکوي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که وويني چي بوتل ورسره دی اوپه هغه کي ياڅه خوږ شي دی دليل دی چي خوش طبعيته او موافقه ښځه به غواړي او که ګلاب تروه وويني نو تعبير يي داول خلاف دی اوکه په بوتل کي يو ښه شي وويني نو دليل دی چي پرهيزګاره اوښايسته ښځه به کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي بوتل ليدل په درو وجو وي. ۱: ښايسته ښځه ۲: مينځه ۳: دکور خادم.

شيطرج (يو ډول دوا)

شيطرج يوه دوا ده چي په خوب کي د دې خوړل دضرر او نقصان سبب نه دی.

[ص]

صابون\ سابون

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي خپل کالي په صابون سره پريولي دليل دی چي دبدوکارونو څخه به منع سي اوکه په خوب کي ووينې چي صابون بې خوړلي دی نو دليل دی چي حرام مال به خوري اوکه ووينې چي چا ته بې صابون دخوړلو لپاره ورکړي دی دليل دی چي خپل مال به چا ته دخوړلو لپاره ورکوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک ووينې چي ډير صابون ورسره دی او خپل کالي بې پريمنځلي دی دليل دی چي مراد به بې پوره سي اوکه ووينې چي خپل لاس بې په صابون سره پريولي دی دليل دی چي دخلکو څخه به جلا اوسيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دصابون اخيستل دخرڅولو څخه ښه دي اوکه سپين صابون وي اوپر اور خوشبويي کوي نو تعبير بې ډير ښه دی او په خوب کي صابون جوړونکي سردار دی.

صرافي کردن\ صرافي\ صراف

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي صراف عالم دی اوکه څوك په خوب کي ووينې چي صرافي کوي نو تعبير بيانوونکي دی دپوښتنې کوونکي حالت ته خيال وکړي که خوب ليدونکي پرهيزګاره او ديندار وي دليل دی چي څه ددين موافق وي هغه به خوښوي اوکه پوښتنه کوونکي څه ليکل ويل نه پيژني دليل دی چي حيران به سي او په فضولياتو کي به مشغول سي او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي صرافي کوي دليل دی چي په خيانت او دخلکو په غيبت کي به مشغول سي اوبيان کوي چي په خوب کي صراف فضول خبري کوونکي سړی دی چي هرڅه دخپل نقصان لپاره کوي.

صاروج\ ليو کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ليو يې کړي دی دليل دی چي دخلکو سره به پاکه خبره کوي او په خوب کي ليو کوونکي خوش طبعه سړی دی جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي دچا لپاره يې ليو کړي دی دليل دی چي دهغه مدد به کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ليو کول په درو وجو دی. ۱: پاکه خبره ۲: امداد کول ۳ : دهغه سړی رضا تلاش کول.

صاعقه\ بريښنا\ ټکه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چي صاعقه اور دی چي درويځو څخه راوځي که څوك په خوب کي ووينې چي دوريځي څخه اسماني بجلي را ايله سوي ده دليل دی چي دهغه به اندازه به دالله تعالی عذاب پر دغه ځاي والاو وي دالله تعالی فرمان دی (ويرسل عليها حسبانا من السمآء فتصبح صعيدا زلقا، سورة الكهف: ٤٠) ترجمه: اوپر دوي يې داسمان څخه عذاب راوليږي بيا به يو هوار ميدان پاته سي دغه ملك والا ته توبه کښل پکار دی چي عذاب ځني ليري سي. ابراهيم کرمانی

Maktaba Tul Ishaat.com

رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چي که څوك ووینې چي دهوا څخه اور دباران په ډول وریږي دلیل دی چي په دغه ملک کي به دپاچا دطرف څخه مصیبت او خونریزي کیږي اوکه ووینې چي بجلي را ایله سوه او دي یې وسوزی دلیل دي چي خوب لیدونکي به دپاچا دعذاب څخه هلاک سي.

صبح \ سهار \ سپېدې

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي په صبح صادق سره ټوله دنیا روښانه سوي ده دلیل دی چي ددغه ملك اوسیدونکي ته به امن حاصل سي اوکه ووینې چي دسهار څخه وروسته تیاره سوي ده نو ددې تعبیر داولني خلاف دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې سهار سوي دی اوسور دی او مځکه د دې دعکس څخه سره سوي ده دلیل دی چي په دغه ملك کي به قتلونه او خونریزي کیږي اوکه دسهار رنګ ژړ ووینې نو په ناجوړي دلیل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چي په خوب کي سهار لیدل دهغه ملک دخلکو پر قوت او ددین پر صلاحیت دلیل دی.

صبر ایلوا (یو ډول دوا)

ایلوا په خوب کي داسي عالم دی چي دهغه مقصد دعلم څخه مال حاصلول وي که ووینې چي ایلوا یې خوړلي ده دلیل دی چي داسي قسم عالم به سي اوکه ویې نه خوړل نو تعبیر یې داولني خلاف دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي ایلوا خوړل پرغم اودفکر دلیل دی چي ده ته به ورسیږي.

صحبت \ ملګرتیا

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که په خوب کي دمصلح اوپرهیزګاره سړی سره ملګرتیا ووینې دلیل دی چي دده ژوند به په ایماندارۍ اودرستي سره وي اوکه د دې خلاف ووینې نو دده پر تباه کاري او په فساد دلیل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي دده ملګرتیا دپاچا سره ده دلیل دی چي علم اوعقل به حاصل کړي اوکار به یې په انتظام سره وي او که خپله ملګرتیا دمشر سړی سره ووینې نو ده ته توبه ایستل پکار دی اوکه ووینې چي دمشر سره یې ملګرتیا ده دلیل دی چي په دنیا به مغرور وي.

صحرا \ ځنګل

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي ځنګل لیدل دپاچا دطرفه نیکي اوخوشحالي ده دځنګل دغټ والي په اندازه اوکه ځنګل بې اندازي ووینې اوپه هغه کي ډیر خس وخاشاك ووینې او خپل ځان پکي ګرزیدونکي ووینې دلیل دی چي دده ملګرتیابه دظالم پاچا سره وي او دهغه مقرب به وي اوکه ځنګل شین ووینې دلیل دی چي دده ملګرتیا به دعالم اوفاضل سړی سره وی اودهغه څخه به فایده حاصله کړي.

صحف \ صحیفې \ ورقي \ پاڼې د کتاب

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که په خوب کي ووینې چي د ابراهیم علیہ السلام صحیفي وایي دلیل دی چي څوک به ورته دنیکي لاره ښیي او دخطا څخه به یې منع کړي خاصکر که دکتاب څخه

يي هم داويلي وي اوكه سرسري توري يي ويلي وي نو دده ملګرتيا به دمنافقانو او رياكارو سره وي او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه مسلمان ووينې چي ده صحيفي خلاصي كړي دی او صحيفه ابراهيم عليه السلام وايي دليل دی چي دده عقيده به پر دين اسلام وي او ګبر او يهوديان به نه خوښوي او دهغوي سره به محبت نه كوي.

صحيفه \ خط \ كاغذ

دصحيفي دري معني دي ۱: خط ۲: كاغذ ۳: پرده. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك ووينې چي پر صحيفي يي څه ليكلي دی دليل دی چي وراثت به حاصل كړي اوكه ووينې چي دچا پرصحيفه يي دځان لپاره څه ليكلي دی دليل دی چي ددينداراوامانتدار سړی څخه به څه حاصل كړي اوكه ووينې چي په صحيفه يي په شين خط سره څه ليكلي دی دليل دی چي دمصيبت وهلي څخه به څه حاصل كړي اوكه پر صحيفي يي څه نه وي ليكلي نو وراثت به نه حاصلوي.

صدف \ سيپي

ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي سيپي ښځه ده كه ووينې چي دده سره سيپي ده دليل دی چي ښځه به كوي يا به مينځه اخلي اوكه ووينې چي سپي وركه سوي ده دليل دی چي دده خادم به وتښتيي.

صدقه \ خيرات

په صدقه وركولو كي داهل تعبيرو اختلاف دی ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه ووينې چي يو عالم صدقه وركوي دليل دی چي دده دعلم څخه به خلكو ته نفع ورسيږي اوكه ووينې چي پاچا صدقه وركوي دليل دی چي ده ته به ډيره نفع وي اوكه ووينې چي څوك پيسه دار صدقه وركوي دليل دی چي شاګردانو ته به كار ښيي. ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي صدقه وركول امن اودغم اوسختي څخه خلاصون دی جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه قرضدار ووينې چي صدقه وركوي دليل دی چي د قرض څخه به خلاص سي كه غلام وي نو ازاد به سي كه قيدي وي نو خلاصون به حاصل كړي اوكه بي دينه ووينې چي صدقه وركوي دليل دی چي مسلمان به سي مقصد دا چي په خوب كي صدقه وركول ددواړو جهانونو سعادت دی.

صراط \ پل صراط

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك ووينې چي په لاره كي ولاړ دی دليل دی چي خراب كارونه به دده په لاس سم سي ځكه چي صراط نيغه لار ده دالله تعالى فرمان دی (ويهديک صراطا مستقيما، سورة الفتح: ۲) ترجمه: اوتاته به سيده لاره وښيو اوكه ووينې چي پر پل صراط تير سوي دليل دی چي دلوی مصيبت اومرګ څخه به په امن كي وي اوكه ووينې چي دپل صراط څخه دوزخ ته را ايله دی دليل دی چي په غم بلا اومصيبت كي به راسي. ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك په خوب كي ووينې چي دپل صراط څخه ليري سوي دی دليل دی چي داخرت

Maktaba Tul Ishaat.com

لپاره به نيك عمل كوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب كي پل صراط ليدل په ښپږو وجو وي. ۱: سمه لار ۲: مشكل كار ۳: بيره ۴: دپاچا دطرفه ارام ۵: ګناه ۶: نفاق.

صفه \ ډبه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب كي ډبه مور اوپلار دى اوكه ووينې چي دده دكور ډبه پاكه نوې او لوړ قميته ده نو دا پر ډير عمر او دمور او پلار د ذات پر سلامتيا دليل دى اوكه ووينې چي ډبه را ايله سويده اوخرابه ده دليل دى چي دده مور اوپلار به هلاك سي. جابر مغربى رحمة الله عليه ويلي دى چي كه څوك ووينې چي دډبه په راسته طرف كي نقصان راغلي دى دليل دى چي دده پلار به ناجوړه سي اوكه ووينې چي چپه طرف ته پكښې سپور سوي دى دليل دى چي دده مور به ناجوړه سي اوكه مور او پلار يې نه وي نو پر غم او فكر دليل دى.

صلوة او سلام \ درود شريف

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي كه څوك ووينې چي پر نبى صلى الله عليه وسلم باندې درود شريف وايي دليل دى چي د ده مرادونه به پوره سي او روزي به باندې فراخ سي او عادت به يې په خير سره وي او جابر مغربى رحمة الله عليه ويلي دى چي كه په خوب كي ووينې چي درود شريف ډير وايي دليل دى چي حج به وكړي او كه نبى صلى الله عليه وسلم په خوب كي ووينې دليل دى چي دنبى صلى الله عليه وسلم طريقي به په ځاي راوړي.

صليب \ چلیپه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي كه څوك په خوب كي ووينې چي ده صليب اخيستي دى يا چا وركړي دى نو دليل يې دا دي چي دده په دين كي خلل دى او دده رغبت به دكافرانو طرفته وي اوكه ووينې چي صليب دده په څټ كي دى نودليل يې دا دي چي دده اعتقاد خراب دى اوكه ووينې چي صليب پرستي كوي نو دليل يې دا دي چي دالله تعالى سره شريك نيسي په ذات كي اوكه ووينې چي چا صليب وركړي دى اوده مات كړي دى يا يې دكور څخه دباندى غورزولي دى نو دليل يې دا دي چي دين اسلام به دده په زړه كي مضبوط وي او دكافرانو دښمن به وي او كه ووينې چي صليب يې مچ كړي دى او خوښوي يې نو د دې تعبير داول خلاف دى.

صمغ \ كنډوري \ كونډوري

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي ددرختي كونډري پاته سوي خوراك دى كه په خوب كي ووينې چي دده سره كونډري دى يا چا وركړي دى دليل دى چي دهغه په اندازه به دچا پاته سوي مال خوري اوكه ووينې چي كونډري يې چا ته وركړي دى نو دپاته سوي مال څخه به چا ته څه وركړي. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب كي كونډري لږ نفع ده چي ده ته به ددرختي سره دنسبت په لږلو حاصله سي دارنګه كه په خوب كي دبادامو كونډري وخوري نو دبخيل سړى څخه به نفع حاصله كړي اوكه دزردالو كونډري وخوري نو دناجوړي سړى څخه به نفع حاصله كړي اوكه دكيكر كونډري وخوري يا يې دځان سره وساتي نو دځنګليانو څخه به نفع حاصله كړي.

صنج (یو ډول تماشه)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي صنج باطلي او درواغ خبري دی اوکه ووینې چي دده په مخکي صنج ږغوي دلیل دی چي په باطلو او درواغو سره به خوشحاله وي اوکه ووینې چي دصنج سره رباب او شپیلۍ هم ده نو پر غم اوفکر دلیل دی چي دغه ځاي والاته به رسیږي اوکه ووینې چي صنج یې غورزولي دي نو دباطلو او درواغجنو څخه به توبه وکړي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي صنج ږغول په پنځو وجو وي. ۱: بدي خبري ۲: بي فایدي کار ۳: اسباب ۴: غم او فکر.

صندل (یو ډول خوشبو داره دوا)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوک ووینې چي صندل ورسره دی یا چا ورکړي دی دلیل دی چي خلک به دده مدح او صفت کوي اوکه ووینې چي سپین صندل ورسره دی دلیل دی چي دلوی سړی څخه به انعام حاصل کړي او چي څونه صندل زیات وي دهغه په اندازه به خوب لیدونکی زیاته نفع حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي صندل لیدل په څلورو وجو وي. ۱: تعریف او شاباسي ۲: خیر او برکت ۳: عزت اومرتبه ۴: نفع.

صندوق \ بکس

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي صندوق ښځه ده اوبعض اهل تعبیر بیان کړي دی چي په خوب کي صندوق عزت اومرتبه ده اوکه ووینې چي غټ صندوق یې اخیستي دی یا چا ورکړي دی دلیل دی چي دهغه په اندازه به عزت اومرتبه حاصله کړي. اوکه ووینې چي دده صندوق ورک یا مات سوي دی دلیل دی چي مرتبه به یې کمه سي او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوک ووینې چي پاک صندوق ورسره دی دلیل دی چي دده ښځه به ښایسته اوپاکه وي او دزور صندوق تعبیر د دې خلاف دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي صندوق لیدل په دروو وجو وي. ۱: عزت اومرتبه ۲: قدر او دمرتبه لوړوالي ۳: ښځه.

صورت \ شکل \ مخ

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوک ووینې چي دده مخ په بل شکل بدل سوی دی دلیل دی چي دده حالات به په لیدل سوي شکل بدل سي اوکه ووینې چي بیا پخپل شکل سو نو دلیل دی چي دالله تعالی طرفته به رجوع وکړي اوکه په خوب کي خپل شکل بل شان ووینې دلیل دی چي هر سړی به ځني مخ اړوي او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که ووینې چي دبل سړی یا حیوان په شکل سوي دی دلیل دی چي بې مذهبه او درواغجن به وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي تصویر لیدل په الله تعالی پوری درواغ دی.

صوف \ وړی

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي دوړي کالي ددنیا خیر اونفع ده خاصکر دپرهیزګاره سړی لپاره اوکه ووینې چي دصوفیانو دبدن څخه یې دوړي کالي ایستلي دی دلیل دی چي دده رغبت به دګناه او خطا طرفته وي ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوک

Maktaba Tul Ishaat.com

وويني چي صوفي سوي دی او دوړي کالي يي اغوستي دی او دصوفيانو سره ديره سوي دی دليل دی چي داهر څه به په ويښه وويني اوکه وويني چي صوفيانو دځان څخه ليري کړي دی نو د دې تعبير د اول څخه خلاف دی اوکه وويني چي صوفي سوي دی يا دصوفيانو سره ناست دی دليل دی چي منافقانه عبادت به کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي صوفي جوړيدل په څلورو وجو وي. ۱: ددنيا څخه لاس اخيستل ۲: دمخلوق څخه په ډډه کيدل ۳ : دعبادت هميشوالي ۴: دچا څخه طمع نه لرل.

صيقل \ دوسلي صفا کول

صيقل په خوب کي پاچا دی او دبعضو په نزد وزير دی که وويني چي وسله صفا کوي که داهل اصلاح څخه وي نو پاچاهي به حاصله کړي يا به دپاچا مقرب سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي وسله صفا کوونکي داسي سړی دی چي په خپل لاس حق دباطل څخه جلا کوي.

صيني \ چيني لوښي \ د شيشي لوښي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي چيني لوښي خادمه ښځه ده که چيني لوښي پاک او صفا وويني دليل دی چي ښايسته خادمه ښځه ده اوکه چيني لوښي تور وويني دليل دي چي خادمه به يي بد شکله وي اوکه وويني چي دده سره چيني سامان دی يا ده اخيستي دی دليل دی چي خادمه ښځه به کور ته راولي يا به دده ښځه يامينځه مري يا به تښتي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي چيني سامان ليدل په درو وجو وي ۱: خادمه ښځه ۲: مينځه ۳: د ښځو څخه نفع.

[ض]

ضرابي \ روپۍ مهر کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي روپي مهر کوونکي داسي سړی دی چي خپلي خبري ښايسته کوي او په فخر يي بيانوي اوکه وويني چي د روپي مهر کولو کار کوي دليل دی چي يو څو بي اصله خبري به ښايسته اوخوږي کړي او وايي به يي اوکه وويني چي روپي جوړوي دليل دی چي سختی اوناخوښي خبري به کوي چي خلک يي واوري نوخفه به ځني سي.

ضعيف \ کمزوري

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي کمزوري دمرتبي نقصان دی که وويني چي دده سر کمزوری سوي دی دليل دی چي عزت اومرتبه به يي کمه سي اوکه وويني چي دده سترګه کمزوري سوي ده دليل دی چي ښځه يا خادمه به يي کمزوری سي اوکه وويني چي دده غوښه کمزوري سوي ده دليل دی چي ښځه يا خادمه به يي کمزوري سي اوکه وويني چي دده پزه کمزوري سوي ده دليل دی چي عزت اومرتبه به يي کمه سي اوکه وويني چي دده دين کمزوري سويدی دليل دی چي بي فايدي خبري به کوي اوکه وويني چي څټ يي کمزوري سوي دی دليل

دی چي امانت به نه ادا کوي اوکه ووينې چي دده دملا تير کمزوري سوي دی دليل دی چي دخلکو غيبت به کوي اوکه ووينې چي دده لاس کمزوري سوي دی دليل دی ښځه به يې ناجوړې سي اوکه ووينې چي دده مړوند کمزوری دی دليل دی چي مور يا زوی به يې پيداسي اوکه ووينې چي دده مټ ياسينه کمزوري ده دليل دی چي دده تدبير او رايه به بې کاره وي اوکه ووينې چي دده ګوته کمزوري ده نو دده لور به ناجوړه سي اوکه ووينې چي دده ګيډه کمزوري سوي ده دليل دی چي دده دملاتړ سړی به کمزوري سي اوکه ووينې چي دده کوناټي کمزوري سوي دی دليل دی چي دده په خپلوانو کي به ديو مشر سړی حال خراب وي اوکه ووينې چي دده ورون کمزوري سوي دی نو دمال نقصان به يې وسي اوکه ووينې چي دده بدن کمزوري سوي دی دليل دی چي غمجن به سي.

ضياع \ جايداد

ضياع دزميندارې جايداد که ووينې چي پخپله مځکه کي يې تخم کرلي دی دليل دی چي دده حالات به ښه سي اوکه ووينې چي دده په ځمکه کي په خپل موسم کي څه راشنه سوي دی نو دليل يې دا دي چي ددين په لاره کي به نيك وی. اوکه ووينې چي خپل ټول جايداد يې خرڅ کړي دی اوقيمت يې اخيستي دی دليل دی چي په مصيبت اوغم کي به راسي اوکه د دې خلاف ووينې نو پر خير اوصلاح دليل دی اوکه ووينې چي دده جايداد اباد دی دليل دی چي دابادي مطابق به ددنيا مال حاصل کړي او که د دې خلاف ووينې نو دمال پر نقصان دليل دی اوکه ووينې چي سيلاب دده مځکه خرابه کړي ده دليل دی چي دپاچا څخه به ورته نقصان رسيږي.

[ط]

طاس \ طشت \ تالی \ پياله

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تالي مينځه يا نوکره ده که ووينې چي دده تالي ماته سوي ده دليل دی چي دغه ښځه به دده څخه جلا سي يابه مړه سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تالي نيك عادت والا مينځه ده اوکه ووينې چي چا تالي ور کړي ده او په هغه کي اوبه دی او ده چينبلي دی دليل دی چي زوی به يې پيداسي اوکه ووينې چي تالي ماته سوي ده اواوبه ځني بهيدلي دی دليل دی چي مينځه به يې مړه سي او زوی به يې پاته سي اوکه ووينې چي اوبه بهيدی اوتالي روغه پاته سوه دليل دی چي زوی به يې مري مينځه به يې پاته سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تالي ليدل په څلورو وجو وي. ۱: ښځه ۲: مينځه ۳: زوی ۴: د ښځو څخه نفع.

طابع \ مهر \ ټاپه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي ده ته مهر ورکړه سوي دی چي پخپله خزانه مهر ولګوي دليل دی چي عزت اومرتبه اوبزرګي به حاصله کړي ځکه چي مهر لګول د کوټه دلګولو څخه ښه او قوي وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي

Maktaba Tul Ishaat.com

پاچا يا امير ورته مهر ورکړي دی چي په خپله خزانه يي ولګوي دليل دی چي خپل مال به هغه ته حواله کړی اوکه خوب ليدونکي ددی قابل نه وي نو دخپل قدر مطابق به عزت او مرتبه حاصله کړي.

طاعون\وبامرض

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي طاعون پر فتنه اوبلا دليل دی که په خوب کي ووينې چي دده پر بدن دطاعون ناجوړي ده نو په فتنه اوبلا کي به راسي، جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي طاعون پر جنګ او دجنګ پر ميدان دليل دی.

طاوس

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي نر طاوس دعجمو پاچا دی اوکه ووينې چي دده سره نر طاوس دی دليل دی چي دپاچا څخه به مرتبه اومال حاصل کړی اوکه ښځه طاوسه ووينې او پوهيږي چي دده خپله ده دليل دی چي عجمي ښايسته اومالداره ښځه به کوي او دهغه څخه به زوی اومال حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي طاوس دکوتري سره يوځاي سوي دی دليل دی چي غلط کار به کوي. دانيال عليه السلام ويلي دی چي په خوب کي طاوس فسادي ښځه ده اوکه ووينې چي طاوس ورسره خبري کوي دليل دی چي ولايت به حاصل کړي اوکه طاوس او زمري يو ځاي ووينې دليل دی چي يو څوک پردی به دده دعيال سره فساد کوي. اوکه ووينې چي طاوس دده دکور څخه الوتلي دی دليل دی چي ښځي ته به طلاق ورکړي اوکه ووينې چي طاوس يي وژلي دی دليل دی چي دپيغلي انجلي سره به واده کوي اوکه ووينې چي دده په لاس کي طاوس دی دليل دی چي مال اونعمت به حاصل کړي اوکه ووينې چي دطاوس بچي يي نيولي دی دليل دی چي لور به يي پيداسي اوکه ووينې چي طاوس دده دلاسه الوتلي دی دليل دی چي دپاچا څخه به جلا سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي طاوس په دوو وجو دی. ۱: دعجمو پاچا ۲: مال اوخزانه.

طباخ\باورچي\اشپز

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي باورچي حرصناک سړی دی که ووينې چي دباورچي کار کوي او پخکړي خوراک يي مزيدار دی نو خير اونيکي به وينې اوکه د دې خلاف ووينې نونقصان به وي.

طباق\رکيبي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي رکيبي خادم دی چي دخوشحالي په وخت دمجلس خدمت کوي او څوک چي ورته ګوري خوشحاليږي که ووينې چي دده سره غټه رکيبي ده دليل دی چي دارنګه خادم به حاصل کړي اوکه ووينې چي رکيبي ماته سوي ده دليل دی چي دخوب ليدونکي خادم به مري. ابراهيم کر مانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي رکيبي په اور کي پرته ده سوزيدلي ده دليل دی چي دده مينځه يا خدمتګار به دطاعون يا دسرسام په مرض کي

مبتلا سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي رکيبي ليدل په څلورو وجو وي. ۱: دکور خادم او مجلس ۲: مينځه ۳: فايده ۴: هديه.

طبل \ دپړی

ددي بيان په حرف "ت" کي سوي دی.

طبيب \ ډاکټر \ داکتر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي طبيب دناجوړي علاج کړي دی اوتندرست دی دليل دی چي څوك به دفساد دلاري څخه اصلاح ته راولي اوکه ووينې چي په هغه ناجوړي نوره هم سخته سوي ده نو د دې تعبير داولني خلاف دی اوکه ووينې چي خلکو ته يي دارو ورکړيدی اوپه هغه يي نفع وسوه دليل دی چي علم او نصيحت به ورکوي او خلک به دده نصيحت قبول کړي او دده په علم به عمل وکړي اوکه دده دارونفع مند نه وي نو تعبير يي د دې خلاف دی او په خوب کي ډاکټري کول دپرهيزګاره سړی لپاره ددين او اخرت سمه لار ده او دمفسد سړی لپاره دبدن درستي او کسب او ژوند دليل دی.

طعام \ خوراک

دانيال عليہ السلام ويلي دی چي که و وينې چي خوراك اوشربت ده ته ملاو سوي دی د دې تعبير بد دی مګر دماليدي وغيره او حلوا چي اصل يي غوړي اوشهد دی د دې دواړو تعبير مال دی. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي کوم خوراك مشکل او بي مزه وي دهغه تعبير غم او فکر دی او تريو پر ناجوړي دليل دی او خوږ خوراك پر عيش او خوشحالي دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي په سرو زرو او سپينو زرو يي خوراك اخيستي دی دليل دی چي دمال نقصان به يي وسي اوکه ووينې چي دده په کور کي خوراك دی اوټولو خوړلي دی دليل دی چي عمر به يي په عيش سره تير سي. اوکه ووينې چي دونه خوراك يي کړيدی چي د ولاړيدو نه دی نو دا دده پر مرګ دليل دی اوکه ووينې چي مړي خوراك کوي دليل دی چي دغه خوراك به ګران وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي فقير ته يي خوراك ورکړي دی دليل دی چي دغم ترس او بيري څخه به خلاص سي اوکه ووينې چي کافر ته يي خوراك ورکړي دی دليل دی چي ددښمنانو په کارونو کي به الله تعالی دده مدد کوي.

طعن \ نيزه وهل

که ووينې چي څوك يي په نيزه وهلي دی او دهغه په بدن کي ننوتلي ده دليل دی چي دا سړی دهغه زخم مطابق دهغه سره پخپل زړه کي دښمني لري. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي نيزه وهل خرابه خبره کول دی او که ووينې چي څوك يي په نيزه وهلي دی او زخمي کړي دی دليل دی چي هغه به په خبرو تنګوي اوکه زخمي سوي نه وي نو تعبير يي د دې خلاف دی.

طلاق

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوك ووينې چي ښځي ته يي طلاق ورکړي دی او دغه يوه

Maktaba Tul Ishaat.com

ښځه يي وي دليل دی چي دعزت اومرتبي څخه به معزول سي اوکه ددغه ښځي څخه علاوه بله ښځه هم وي نو دليل دی چي دده په عزت اومرتبي کي به کمي راسي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي ښځي ته يي طلاق ورکړي دی دليل دی چي داسي کار به وکړي چي په هغه سره به پښيمانه سي. اوپه خوب کي خلع کول يعنی دښځي څخه مال اخيستل او طلاق ورکول مالداري ده دالله تعالی فرمان دی (وان يتفرقا يغن الله كلا من سعته، سورة النسآء: ۱۳۰) ترجمه: اوکه ښځه او سړی جلا سي نو الله تعالی به هريو دخپلي فراخي څخه بي نيازه کړي.

طلع \ دخرما ګل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي يو يا دوه يا دري دخرما ګلان يي اخيستي دی دليل دی چي زوی به يي پيداکيږي اوکه ووينې چي ګل يي خوړلي دی دليل دی چي ډير مال او نعمت به حاصل کړي اوکه ووينې چي دخرما ډير ګلونه ورسره دی اونه يي پخپله خوري اونه يي بل چا ته ورکوي نو دليل دی چي پاچا به دده مال واخلی او اخر کار به خوشحاله سی جعفر صادق رحمة الله عليه ويلی دی چي دخرما ګل ليدل په څلورو وجو وي. ۱: زوی ۲: رحمت ۳: نفع ۴: په زور مال اخيستل.

طلق ابرک \ ځليدونکي کاڼي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي ابرک په کارونو کي لږ سخته سرمايه ده ځکه چي د دې جوهر دکاڼی څخه نه دی اوکه ووينې چي ديو ځاي څخه يي ډيره سرمايه جمع کړي ده دليل دی چي ده ته به دسفر څخه په مکر اوچم سره مال حاصل سي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي ميده سوي ابرك يي پرخپل بدن مړلي دی اوپه اور کي ننوتلي دی او اور ورته نقصان نه دی رسولی دليل دی چي دپاچا بدي به دده څخه ليري وي اوکه ووينې چي ابرك يي خوړلي دی دليل دی چي مال به په تکليف سره حاصل کړي او که ووينې چي ابرك ځني ورك سوي دی دليل دی چي مال به يي ورك سي.

طنبور \ نغاره

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي پخپل کور کي نغاره ږغوي دليل دی چي هلته به غم او مصيبت وي اوکه ووينې چي نغاره ماته سوي ده نو توبه به کوي اوکه ناجوړه ووينې چي نغاره ږغوي نو دده مرګ نزدی دی اوکه دنغاري اواز بي اوريدلي وي دليل بي دا دي چي دبيهوده خبرو په اوريدو به خوشحاله وی.

طوطي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي طوطي زوی يا غلام دی اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دده دلاسه طوطي الوتلي دی دليل دی چي دده زوی يا غلام به په سفر ځي اوکه ووينې چي طوطي ورسره خبري کوي دليل دی چي داسي خبره يا کار به کوي چي په هغه سره به خلک تعجب کوي او ښځه طوطی پيغله انجلي ده او د زمردين په ډول طوطي که ووينې نو

دليل دی چي دپيغلي ښځي سره به واده کوي اوکه ووينې چي ښځه طوطي يي وژلي ده نو دليل دی چي دپيغلي ښځي سره به واده کوي اوکه ووينې چي دده دخولي يا دلوی اودس مات دځاي څخه طوطي راوتلي دی نو دده به زوی پيدا سي چي دده په ډول کي به خرابي خبري کوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي طوطي په خوب کي ليدل په درو وجو وي. ۱: زوي يا غلام ۲: پيغله انجلي ۳: پرهيزګاره شاګرد.

طوق\دغاړي هار\اميل\هار\هاړ\لاړ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک ووينې چي په غاړه کي يي دسرو يا سپينو زرو هار دی دليل دی چي ولايت به حاصل کړي اوپه هغه کي به انصاف کوي اوکه داوسپني هار ووينې دليل دي چي بي ديانته به وي او په دين کي به يي خرابي وي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که په خپله غاړه کي هار ووينې دليل دی چي ددرواغجنو دعوی به کوي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که په غاړه کي دسرو زرو هار ووينې دليل دی چي ولايت به حاصل کړي اوکه دتانبي يا داوسپني وي دليل دی چي دچا سره به جنګ کوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دغاړي هار ليدل په شپږو وجووي. ۱: حج ۲: ولايت ۳: جنګ ۴: امانت ۵: غلام ۶: مينځه.

طيلسان\شال\پټو\پرونی\څادر

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي شال په قدر مشري اومرتبي دليل دی که ووينې چي ده سره نوي پاک شال دی دليل دی چي مرتبه به يي زياته سي او که د دې خلاف ووينې دليل دی چي قدر به يي کم سي اوکه ووينې چي پټو يي څيري سوي دی يا سوزلي دی دليل دی چي دده يو څوک خپل به مري. دانيال عليه السلام ويلي دی چي په خوب کی پټو ليدل امانت ديانت او ددين قوت دی که ووينې چي شال پاک دی دليل دی چي امانت به ادا کړي اوکه شال خيرن وي دليل دی چي دده پر ذمه به امانت وي اوکه ووينې چي ژړ پټو يي اخيستي دی دليل دی چي سخت غم به ورته راسي جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي سپين پټو پرهيزګار هلك دی او سور پټو دليل دی چي زوی به يي عيش پسنده وي اوکه تور وي نو دده زوی به يا عالم يا قاضي يا خطيب وي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي پټو ليدل په لسو وجو وي. ۱: عزت اومرتبه ۲: ولايت ۳ زوی ۴: دولت ۵: مشري ۶: مال ۷: نفع ۸: علم ۹: دين ۱۰: توره.

[ظ]

ظالم\ظلم

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوک ووينې چي پر ده ظلم سوي دی دليل دی چي هغه سړی به پرده کاميابي حاصلوي اوکه ووينې چي پاچا پر ده ظلم کړي دی دليل دی چي پاچا به دده دمزاج برابر سي اوکه ووينې چي ده پر پاچا ظلم کړي دی دليل دی چي دپاچا څخه به نقصان

Maktaba Tul Ishaat.com

حاصل کړي. اسماعيل اشعث رحمة الله عليه ويلي دی چي که سردار ووينې چي ده پر چا عاجز باندي ظلم کړي دی دليل دی چي دغه عاجز به ده ته خبري کوي اوکه سردار ووينې چي پر غلام باندي يې ظلم کړي دی دليل دی چي دسردار څخه به هغه ته مصيبت غم او بلا رسيږي.

ظلمات \ تاريکي

ددي بيان په حرف "ت" کي تېر سوي دی.

[ع]

عاج \ دفيل غاښ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دهاتی غاښ دولت دی که ووينې چي دده سره دهاتی غاښ دی دليل دی چي دپاچا څخه به مال حاصل کړي اوکه ووينې چي دهاتي غاښ دده څخه ورك سوي دی دليل دی چي دده مال اودولت به ورك سي، جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي دده په صندوق کي دهاتي غاښ دی دليل دی چي دخپلوانو څخه به مالداره ښځه کوي اوکه ووينې چي دده سره دهاتي دغاښ دوات دی دليل دی چي پاچا به ورته په انعامي طور مينځه ورکړي او مرتبه به حاصله کړي. اوکه ووينې چي دهاتي غاښ مات سو يا ورك سو دليل دی چي ښځه يا مينځه به يې مړه سي او څونه چي دهاتي غاښ سپين او پاك وي هغونه به مال زيات وي.

عاريت کردن \ په سوال ورکول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلی دی چي که ووينې چي چا ته يې څه شي ورکړي دی که هغه شي ښه وي نو ددواړو پر مينې اومحبت دليل دی اوکه هغه شي ښه نه وي نو تعبير يې ښه نه دی.

عاشق

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي دی عاشق او حريص دی نو پر فساد او بدي دليل دی که شي حلال او ښه وي نو پرخير او صلاح دليل دی اوکه ووينې چي په ښايسته صورت عاشق سويدی که په دغه عشق کي دحرامو نيت وي. نو پرشر اوفساد دليل دی اوکه نيت يې حلال وي نو پرخير اوصلاح دليل دی. اسماعيل اشعث رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي دمعشوق څخه يې دزړه مراد حاصل کړي دی نو پر خير اونفع دليل دی.

عالم

که جاهل سړی ووينې چي عالم يا فقيه سوي دی دليل دی چي خلک به ورته پيغور ورکوي او خندا به ورپسي کوي او که عالم يافقيه ووينې نو علم به يې نور هم زيات سي. که ووينې چي قاضي يا حکيم يا خطيب يا عالم ژوندي يا مړ که دخوفناك اوبيريدونکي ځاي څخه تير سوي وي دليل دی چي دهغه ځاي خلک به په امن کي وي او دهغه پاچا به عادل وي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي خلکو ته علم زده کوي حالانکه داهل علمو څخه نه وي دليل دی چي دهغوي څخه به تښتي اوکه عالم وي نو پر عزت او مرتبي دليل دی اوکه ووينې چي څه

اخلي او علم نبيي دليل دی چي رشوت به اخلي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي عالم په څلورو وجو وی. ۱: دولت ۲: قاضي ۳: حکيم ۴: خطيب.

عبادت \ طاعت

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دالله تعالی عبادت کوي نو د دې تعبير خلاف دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي په جماعت کي عبادت کوي دليل دی چي د دې جهان خير به حاصل کړي اوکه ووينې چي په مکروه ځاي کي عبادت کوي نو تعبير يې د دې خلاف دی.

عجوزه \ بوډی \ سپين سري

ددي تعبير به ان شآء الله په حرف "ك" کي بيان کړو.

عدد \ حساب \ شمار \ شمېر

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي افغانۍ يا درهم يا اشرفي يا روپي ده ته چا ورکړي ده دليل دی چي خير اونيکي به ويني دالله تعالی فرمان دی (من جآء بالحسنة فله عشر امثالها، سورة الانعام: ۱۶۰) ترجمه: چا چي يوه نيکي وکړه دهغه لپاره يو په لس ده. د دي وجي څخل اهل تعبير بيان کړي دی چي دلسو اصل ديو څخه دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي يو عدد نيك دی او ددوو عدد غم او فکر دی ليکن پر دښمن به کاميابي حاصله کړي (ثاني اثنين اذهما فی الغار، سورة التوبة: ۴۰) ترجمه: ددوه څخه دويم کله چي په غارکي وو. که ددري دشمار عدد ووينې نو بد دی او دهغه څخه به ورته فايده نه وي دالله تعالی فرمان دی (الا تكلم الناس ثلاثة ايام، سورة ال عمران: ۴۱) ترجمه: چي دخلکو سره تر درو ورځو پوري خبري مه کوه. د درو لفظ په جدايي دلالت کوي ځکه چي داطاق عدد دی او دځلورو عدد نيك دی کله چي ورسره بل شي شامل نه وي (ما يكون من نجوى ثلثة الا هو رابعهم، سورة المجادلة: ۷) ترجمه: ددروو کسانو په خبرو کي هغه څلورم دی. که پنځه لمونځونه خوب ليدونکي قايموي نو دپنځو عدد نيك دی، او الله جل جلاله آسمانونه او مځکي په شپږو ورځو کي جوړ کړل ځکه نو دا عدد هم نيک دی، او داوو عدد ليدل بد دی (سبع سموات طباقا، سورة الملک: ۳) اوه اسمانونه طبقي طبقي، او اته عدد هم بد دی دالله تعالی فرمان دی (سبع ليال وثمانية ايام، سورة الحاقة: ۷) اووه شپې او اته ورځې. او دنهو عدد هم بد دی دالله تعالی فرمان دی (تسعة رهط يفسدون، سورة النمل: ۴۸) نهه ټولګي فسادي کوونکي. که دلسو عدد ووينې نو ښه دی او ددين اودنيا مراد به يې حاصل سي دالله تعالی فرمان دی (تلك عشرة كاملة، سورة البقرة: ۱۹۶) هغه دا پوره لس دی اوکه ديولسو عدد ووينې نو دده کارونه به ښکاره سي او ددولسو عدد ليدل ښه دی دالله تعالی فرمان دی (ان عدة الشهور عند الله اثنا عشر شهرا،

Maktaba Tul Ishaat.com

سورة التوبة: ٣٦) دمياشتو حساب دالله په نزد دولس دی اوکه ددريالس عدد ووينی نو بد دی او دځورلسو عدد نيك دی اوکه دپنځلسو عدد ووينې نو دده کارونه به ګډوډ سي اوکه دشپارسو عدد ووينې نو دده مراد به ډير وخت پس پوره سي اوداوولسو عدد ليدل بد دی اوکه داتلسو عدد ووينې نو دده مراد به پوره نه سي اوکه دنولسو عدد ووينې نو دده کار به دخلکو سره وسي دالله تعالى فرمان دی (الواحة للبشر عليها تسعة عشر، سورة المدثر: ٢٩ – ٣٠) پر دوي انسانان بيروونکي نولس دی او دشلو عدد ليدل ښه دی او پر دښمنانو به کاميابه سي دالله تعالى فرمان دی (عشرون صابرون، سورة الانفال: ٣٧) شل سړی صبر کوونکي اوکه ددیرشو عدد ووينې نو دده تعلق به دحاکم سره وي (ووعدنا موسى ثلثين ليلة واتممنها بعشر، سورة الاعراف: ١٤٢) او موږ دموسى سره ددیرشو شپو وعده کړي وه او هغه موږ په لسو پوره کړه. اوکه دځلويښتو عدد ووينې نو دده کار به بند نسي اوکه دپنځه ويشتو عدد ووينې نو په غم او سختي دليل دی دالله تعالى فرمان دی (الف سنة الا خمسين عاما فاخذهم الطوفان، سورة العنكبوت: ١٤) پنځوس کم زره کاله چي هغوي طوفان نيولي و اوکه دشپيتو عدد ووينې دليل دی چي دده پر ذمه به قسم وي ده ته پرلپسي دوي مياشتي روژي نيول پکار دی يا شپيتو فقيرانو ته به خوراك ورکوي دالله تعالى فرمان دی (شهرين متتابعين من قبل ان يتماسا فمن لم يستطع فاطعام ستين مسكينا ذلك لتؤمنوا بالله ورسوله، سورة المجادلة: ٤) ديو بل مسح کولو څخه مخکې پرلپسي دوي مياشتي روژي دي وساتي اوکه څوك دانه سي کولای نو شپيتو مسکينانو ته دي خوراك ورکړي دا ددی لپاره چي تاسو په الله او دهغه په رسول ايمان وساتي. اوکه داوياوو عدد ووينې نو کار به يې ډير وخت پس سي اوکه داتياوو عدد ووينې نو پر ده به تهمت ولګول سي او په کوړو به ووهل سي دالله تعالى فرمان دی (فاجلدوهم ثمانين جلدة، سورة النور: ٤) او دی اتيا کوړې ووهئ. اوکه دنوي عدد ووينې نو دليل دی چي دغټانو څخه به ديو څو ښځوسره نکاح کوي (تسع وتسعون نعجة ولي نعجة واحدة، سورة ص: ٢٣) دهغه يو کم سل ميږي او زما يوه مېږه ده. اوکه دسلو عدد ووينې نو مدد او کاميابه به سي دالله تعالى فرمان دی (مائة صابرة يغلبوا مائتين، سورة الانفال: ٦٦) سل ثابت قدمه پر دوه سوه غالب راځي. که پاچا ووينې چي دده سره سل سواريان دی دليل دی چي پر دښمنانو به کاميابه سی اوکه ووينې چي دده سره سل سواره دی دليل دی چي پرده به دزنا تهمت لګيږي او سل کوړې به وهل کيږي دالله تعالى فرمان دی (فاجلدوا كل واحد منهما مائة جلدة، سورة النور: ٢) په هغوي کې هر يو سل کوړې ووهئ. او که ووينې چي ده ته چا سل داني دغنمو يا داوربشو يادبل شي ورکړي دی دليل دی چي ده ته به خير اوبرکت حاصل سي اوژوند به باندې فراخ وي دالله تعالى فرمان دی (في كل سنبلة مائة حبة والله يضاعف لمن يشآء، سورة البقرة: ٢٦١) په هر يوه وږې کې سل داني دی اوالله تعالى دوچنده کوي دهغه چا لپاره چي وغواړي اوکه ددوه سوو عدد ووينې

نو پر دښمنانو به کاميابه سي اوکه ددرو سوو عدد ووينې نو په زمانه کې به دده مراد پوره سي دالله تعالى فرمان دى (ولبثوا فى كهفهم ثلث مائة سنين وازدادوا تسعا، سورة الكهف: ۲۵) او دوي په غار کې دري سوه کاله وو. اوکه دځلورو سوو عدد ووينې دليل دى چې پر دښمنانو به کاميابه سي لکه چې نبى عليه السلام ويلي دى (خير الجيوش اربعة الف وخير المنام اربعة مائة) ښه دلښکرو څخه ځلور زره دى اوښه خوب ځلور سوه دى. که دپنځو سوو عدد ووينې نو دده کار به معطله سي اوکه دشپږو سوو عدد ووينې دليل دى چې خوشحاله به سي او مراد ته به ورسيږي اوکه داووه سوو عدد ووينې دليل دى چې دده کار به سخت وي او اخر دا چه پوره به سي اوکه داتو سوو عدد ووينې دليل دى چې پر دښمن به کاميابه سي اوکه دنهو سوو عدد ووينې نوهم دغه تعبير يې دى اوکه د زرو عدد ووينې دليل دى چې عزت به حاصل کړي او دښمن به مغلوب کړي دالله تعالى فرمان دى (وان يكن منكم الف يغلبوا الفين باذن الله، سورة الانفال: ٦٦) که تاسو يو زر واى نو دالله په حکم به پر دوي دوو زرو غالبه کيداي. او ددوو زرو ليدل بد دى او که ددروو زرو عدد ووينې نو دا دکاميابي حاصلولو دليل دى دالله تعالى فرمان دى (بثلثة الف من الملئكة منزلين، سورة آل عمران: ۱۲٤) دري زره فرشتي راکښته سوي اوکه دځلورو زرو عدد ووينې نو پر قوت او مدد دليل دى اوکه دپنځو زرو عدد ووينې نو دليل دى چې ښه اومبارك به سي او که دشپږو زرو عدد ووينې نو هم دغه تعبير يې دى اوکه داووه زرو عدد ووينې دليل دى چې کار به يې فراخه سي اوکه داتو زرو عدد ووينې دليل دى چې کار به يې په انتظام سره وي او که دنهو زرو عدد ووينې نو تعبير يې بد دى اوکه دلسو زرو عدد ووينې دليل دى چې کاميابه به سي اوکه دشلو زرو عدد ووينې نو هم دغه تعبير يې دى. او که ددېرشو زرو عدد ووينې نو مدد او کاميابي به ډير وخت پس حاصله کړي اوکه دځلوېښتو زرو عدد ووينې نو مدد او کاميابي به حاصله کړي اوکه دپنځوسو زرو عدد ووينې نو په غم او سختي کې به عاجز سي دالله تعالى فرمان دى (مقداره خمسين الف سنة، سورة المعارج: ٤) دهغه مقدار پنځوس زره کاله دى اوکه دشپيتو زرو عدد ووينې نو دا پرښادي او خوشحالي دليل دى اوکه داويا زرو عدد ووينې دليل دي چې پردښمن به کاميابه سي اوکه داتيا زرو عدد ووينې دليل دى چې دده کارونه به پټ وي اوکه دنوي زرو عدد ووينې نو پر دښمن به کاميابه سي اوکه ديو لك عدد ووينې نو دا پر دښمن دکاميا بي دليل دى دالله تعالى فرمان دى (وارسلنه الى مائة الف او يزيدون، سورة الصافات: ۱٤۷) او مور دى ديو لك بلکې دزياتو طرفته وليږى.

عدد\مسور\نسک

دمسورو په تعبير کې داهل تعبير اختلاف دى ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چې په خوب کې مسور خوړل ښه دى ځکه چې ابراهيم عليه السلام به مسور خوښول. ابراهيم کرمانى رحمة الله عليه ويلي دى چې په خوب کې مسور خوړل بد دى ځکه چې کله بني اسرائيل په من اوسلوى خوړلو سره تنګ

Maktaba Tul Ishaat.com

سول نو هغوي دالله تعالى څخه مسور اوږه اوپياز وغوښتل او جابر مغربى رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب کي مسور خوړل مال دى چي د ښځو دطرف څخه ملاويږي خاصکر که پخکړي وي اوکه اومه وي نو پر غم او فکر دليل دي.

عراوه (دکلانيولوآله)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي که ووينې چي عراوه يي دکافرانو په ښار کي اچولي ده دليل دى چي دکافرانو دښمن به وي اوکه ووينې چي عراوه يي دمسلمانانو په ښارکي اچولي ده دليل دى چي داسلام په باره کي به فضول خبري کوي اوممکنه ده چي دمسلمانانو لپاره به بد دعا کوي اوکه ووينې چي ده عراوه يوځاى اچولي ده نو دليل دى چي دهغه ځاي والاوو غيبت يا به هغوي ته ښکنځل کوي.

عرش\تخت

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي تخت په خوب کي مالدار بزرګ يا غوښتل سوي مال دى اوکه ووينې چي تخت ښايسته دى دليل دى چي دده به دمالدار سړى سره صحبت وي اوعزت او مرتبه به يې وي اوکه تخت سپك ووينې دليل دى چي دخلکو په مخکي به ذليله سي اوکه ووينې چي پخپله پر تخت ناست دى دليل دى چي دلوى سړى سره به ملاويږي او عزت او مرتبه به ځني حاصلوي اوکه ووينې چي دتخت څخه لاندې راغلي دى نو د دې تعبير داول خلاف دى جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب کي تخت ليدل په پنځو وجو وي ۱: دبزرګ سره ملګرتيا ۲: لوړوالي ۳: مرتبه ۴: عزت ۵: مشري.

عر عر\دچيړ درخته

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره د چيړ درخته ده دليل دى چي دده ملګرتيا به د اصل سړى سره وي او دچيړ درخته په تعبير کي داسي سړى وي چي لږ او ډيره نيکي کوي.

عرق\خوله

که څوك په خوب کي ووينې چي دده دبدن څخه خوله بهيږي دليل دى چي دهغه په اندازه به نقصان يي وسي خاصکر که خوله پر مځکه څڅيدونکي ووينې ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي که څوك په خوب کي ووينې چي کالي يي په خولو لانده سوي دى دليل دى چي دهغه په اندازه به مال پخپل عيال خرڅ کوي اوکه ووينې چي خپله خوله چيښي دليل دى چي خپل مال به خوري که خوله سپينه او خوشبوداره ووينې دليل دى چي مال به يي حلال وي او که د دې خلاف ووينې نو مال به يي حرام وي. ابراهيم کرمانى رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب کي خوله کيدل پر مراد پوره کيدلو دليل دى که ووينې چي دي خوله سويده دليل دى چي مراد به يي پوره سي او که ناجوړي ووينې چي ده خوله کړيده دليل دى چي شفا به حاصله کړي.

عروسي\واده کول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي که څوك په خوب کي ووينې چي ده ناوي واده کړي ده ليکن

هغه يې ليدلي نه ده اودهغه نوم نه پيژني دليل دی چې مري به يا مړ به يې کړي اوکه وويني چې ناوي يې کورته راوستي ده او دهغه سره بيده سوي دی دليل دی چې بزرګي به حاصله کړي او کوم شي چې دده په ملکيت کي نه وي دده ملکيت به سي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په خوب کي دواده سره باجه سازونه او شپيلی وي نو پر مصيبت دليل دی او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ښځه په خوب کي وويني چې د دې واده سويدی او دخاوند کره يې بيولي ده دليل دی چې د دې عمر ختم دی اوکه وويني چې خاوند يې بيولي دی او د دې سره يې ښه سلوک کړي دی نو پر خير اونفع دليل دی.

عزل \ معزول کيدل

که په خوب کي وويني چې يو څوک بوډا يې معزول کړي دی دليل دی چې بي حرمتي به وينې او که وويني چې ځوان يې معزول کړي ده نو د دې تعبير د اولني خلاف دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک وويني چې سردار معزول سوي دی نو دا ددين پر جوړښت دليل دی اوکه وويني چې ديو کار څخه يې معزول کړي دی نو دليل يې دا دی چې دبدو څخه به منع سي او داصلاح لاره به اختيا رکړي.

عسس \ کوټوال

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که وويني چې دکوټوال سره نيک خلک دی دليل دی چې ده ته به خير اونفع حاصله سي اوکه ددي خلاف وويني نو پر شرارت او نقصان دليل دی اوکه وويني چې کوټوال دی نيولي دی اونقصان يې ور رسولي دی دليل دی چې دپاچا دنوکرانو څخه به ورته غم ورسيږي اوکه وويني چې دکوټوال څخه ورته ملامتيا نه ده رسيدلي نو پرخير او نيکي دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که وويني چې کوټوال دده څخه کالي ايستلي دی يا يې دی قيدخاني ته اچولي دی دليل دی چې خوب ليدونکي ته به دپاچا دسړو څخه نقصان رسيږي اوبې حرمتي به وينې اوکه په خوب کي وويني چې دکوټوال څخه تښتيدلي دی او چا نه دی نيولي دليل دی چې ده ته به لږ غم رسيږي.

عصار \ نښتيګل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک وويني چې شيان نښتيګي دليل دی چې په تعريف والا کار کي به مشغول سي او دده کار به په نيکي اونښوالي سره مشهور وي.

عصاء \ لګړه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي لګړه بزرګ عزتمند سړی دی که وويني چې دده په لاس کي لګړه ده يا چا ورکړي ده دليل دی چې دلوی سړی څخه به عزت اومرتبه حاصله کړي اوکه و وينې چې دده لګړه په مدد سره ولاړه ده دليل دی چې دکوم شي په تلاش کي دی هغه به دلوی سړی په مدد سره حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک وويني چې لګړه دده په لاس کي اوږده سوی ده دليل دی چې مرادبه يې پوره سي اوکه لنډه سوي وي نو تعبير يې داولني خلاف دی اوکه وويني چې خپله لګړه يې چا ته ورکړي ده دليل دی چې هلاک

Maktaba Tul Ishaat.com

به سي او که ووينې چې لکړه دده سره خبرې کوي دليل دی چې زوی به يې پيداسي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کي لکړه ليدل په دروو وجو وي ١: لوی سرای ٢: پاچا ٣: قوت اوطاقت.

عصيده (يو ډول حلوا)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کي هغه حلوی ښه ده په کومه کي چې زعفران نه وي او دا په خوب کي ليدل مشکل کار دی چې په محنت اومشقت سره حاصليږي اوکه ووينې چې دحلوا يوه ګوله يې په خوله کي ايښې ده دليل دی چې ښه خبره به اوري اوکه ووينې چې ډيره حلوی يې خوړلې ده دليل دی چې په جنګ سره به مال اصل کړي.

عطا \ بخشش \ ورکړه \ پيرزوينه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې ده ته يو څه شي په بخشش کي ملاو سوي دی نو تعبير بيانوونکي ته معلومول پکار دی چې څه قسم شيان به ورته ملاو سي سره زر ياسپين زر يا کالي اوبخشش ورکوونکي نامعلوم سړی دی که معلوم؟ که معلوم سړی وي نو ده ته به ددنيا دطرف څخه ذلت ملاويږي اوکه بخشش دخطا په وعدي وي نو دا ټول درواغ دی اوکه ووينې چې بخشش يې اخيستي دی اوبيا يې واپس ورکړي دی نو ددي رجوع دبخشش ورکوونکي دنيکي اوبدي طرفته کيږي. اوکه ووينې چې ده ته ميوه يا کالي يا څه خوږ شي په بخشش کي ملاو سويدی دليل دی چې ده ته به دهغه سړی سره تعلق او ملاپ حاصل سي اوکه ووينې چې بخشش ورکوونکي عيسايي يا يهودی دي او دهغه بخشش ښه وي او ده په خوښه اخيستي وي دليل دی چې دده ايمان به په خطره کي وي اوکه يهودي يا عيسايي په خوب کي ووينې چې ده ته مسلمان بخشش کړي دی او ده په خوښه اخيستي دی دليل دی چې مسلمان به سي ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که ووينې چې ده ته چا بخشش ورکړي دی او ده شکريه ادا کړي ده نو دده دمال پر زياتوالي او تندرستي دليل دی اوکه شکريه يې نه وي ادا کړي نو تعبير يې داول خلاف دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې که ووينې چې بخشش يو ښه شي دی او بخشش ورکونکي بد سړی دی نو د دې تعبير بد دی.

عطر \ خوشبويي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې که څوك ووينې چې دده سره خوشبو ده او ده ته دهغه علم دی اوپخپله عالم سړی دی دليل دی چې دده دعلم څخه به خلکو ته فايده حاصله سي اوکه خوب ليدونکي مالدار وي نو دده دمال څخه به خلکو ته فايده رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که په خوب کي ووينې چې دده سره عطر دی دليل دی چې دده به خلک تعريف کوي اوافرين به باندي وايي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کي عطر ليدل په نهو وجو وي ١: نيك تعريف ٢: نيکه خبره ٣: فايده ورکوونکي علم ۴: نيك طبعيت ۵: دعلم مجلس ٦: سخي سړی ٧: عقلمند سړی ٨: پاك دين ٩: ښه خبر.

عطار \ عطر خرڅونکي

که په خوب کي ووينې چې عطاري کوي دليل دی چې خلک به يې شکريه ادا کوي او که ووينې چې پرخلکو باندې خوشبويي خرڅوي دليل دی چې وعده خلافي به کوي اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک ووينې چې دده محبت او دوستي دعطر فروش سره ده دليل دی چې خلک به دده مدح اوصفت کوي اومشهور به وي.

عطسه \ پرنچی \ اتريش \ پرنجی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کي ووينې چې ده ته پرنجي راغلي دی او ده الحمد لله ويلي دی که ناجوړي وي نو ده ته به دطبيب ضرورت وي اوکه تندرست وي نو دده به دچا څخه مراد پوره کيږي او پر ده به احسان کوي او که ووينې چې دري پرنجي يې کړي دی نو دا پر خوشحالي او نيکي دليل دی اوکه ووينې چې ډير پرنجي يې کړي دی دليل دی چې دده مراد به په مشکله سره پوره کيږي اوکه ووينې چې دپرنجي سره يې دپزي څخه اوبه وتلي دی دليل دی چې زوی به يې پيداسي اوکه ووينې چې پرنجي يې کړي دی او دپزي څخه يې اوبه جاري سوي دی دليل دی چې خلک به دده په باره کي خرابي خبري کوي اوکه ووينې چې پرنجي يې کړي دی او يو شي په ټوپ سره د پزي څخه دباندې ځني وتلي دی دليل دی چې دهغه ټوپ وهونکي شي دجوهر مطابق به دده زوی پيداسي چې دهغه حيوان مطابق به يې غټ والی او کوچني والی وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په خوب کي پرنجي په اساني سره راغلي وی دليل يې دی چې مال به په اساني سره حاصل کړي اوکه په مشکله راغلي وي نو مال به په مشکله سره حاصل کړي.

عقل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که عقل دسړی په شکل کي ووينې او ده ته ووايي چې زه ستا عقل يم او دي يې پيژني چې دا دده عقل دی که خوب ليدونکي د دې خبري اهل وي دليل دی چې دده به دپاچا د زوی سره ملګرتيا جوړه سي او دهغه څخه به خير ووينې اوپاچا به دي خوښوي او دمهرباني په نظر به ده ته ګوري. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که عقل دسړی په شکل کي ووينې دليل دی چې دده نصيب به دده طرفته رخ کوي او عزت اومرتبه او دولت به حاصل کړي. دانيال عليہ السلام ويلي دی چې په خوب کي عقل بخت اودولت دی که خپل عقل سړی په شکل کي ووينې او ده ته ووايي چې زه ستا عقل يم دليل دی چې بخت او دولت به دده تابع سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي عقل اوروح مور او پلار دي که هغه ژوندي وي دليل دی چې ددوي ديدار به کوي اوکه مړه وي دليل دی چې دده دطرف څخه به دعا او صدقي هغوي ته وسي. په حديث شريف کي راغلي دی چې يو سړی دنبی عليہ السلام په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړي چې ماپه خوب کي ليدلي دی چې زما مال اوروح زما څخه جلا سوي دی او دواړه دسړی په شکل سوي دی او زما کورته راغلي دی اومور دري سره ناست يو او په شربت چيښلو کي مشغول يو نبي عليہ السلام يې په تعبير کي وويل چې عقل د دې جهان قسمت

Maktaba Tul Ishaat.com

دي او روح دهغه جهان قسمت دی ستا کار به په مراد سره پوره سي. اوکه ووينې چې عقل او روح جنګ اوشور کوي دليل دی چې خوب ليدونکي به دپاچا سره جنګ کوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې عقل اوروح ليدل په څلورو وجو وي ۱: نصيب او دولت ۲: مور او پلار ۳: دپاچا زوی ۴: مال اونعمت.

عقيق (قيمتي کاڼی)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې دده سره عقيق دی يا چا ورکړي دی دليل دی چې دلوی سړی ملګري به سي او دهغه څخه به خير حاصل کړي اوکه ووينې چې عقيق دده څخه ورك سويدی د دې تعبير د اول خلاف دی اوکه ووينې چې دده سره دعقيقو کوټه ده او دهغه څخه څه خوري دليل دی چې دده زوی به راسي چې شرف بزرګي او مرتبه به حاصله کړي.

علک \ کندر (يو ډول دوا)

که څوك ووينې چې ده کندر پر اور ايښي دی دليل دی چې دهغه په اندازه به يې دمال نقصان وسي اوکه ووينې چې کندر يې ژوولي دی دليل دی چې په جنګ او بحث سره به مال حاصلوي.

علم \ نښان \ جنډی \ بيرغ

جنډه په خوب کې هوښيار سړی دی يا پرهيزګار امام يا داسي سړی چې خلک يې تابعداري کوي که ووينې چې دده په لاس کې جنډه ده دليل دی چې دداسي سړی سره به اشنا سي او دده څخه به راحت حاصل کړي اوکه ووينې چې جنډه دده دلاسه څخه را ايله سوي ده يا ورکه ده نو د دې تعبير د اول خلاف دی ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که په خوب کې ووينې چې دده سره غټه سپينه جنډه ده دليل دی چې دده صحبت به دمالدار مشر سړی سره وي او دهغه څخه به خير اونفع حاصله کړي اوکه ووينې چې دده سره شنه جنډه ده دليل دی چې پرهيزګار او ديندار به سي اوکه ووينې چې ده سر توره جنډه ده دليل دی چې قاضي يا خطيب به سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې جنډه ليدل په څلورو وجو ده. ۱: سردار ۲: سفر ۳: مرتبه ۴: ښه حالات.

عمارت \ ابادي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې ده په وران ځای کې دجماعت يا دمدرسي يا دخانقاه عمارت جوړ کړي دی نو دا ددين پرصلاح او داخرت په ثواب دليل دی اوکه ووينې چې په وران ځای کې يې دځان لپاره عمارت جوړ کړي دی لکه سرای يا دکان وغيره دليل دی چې ددنيا فايده به حاصله کړي اوکه ووينې چې معلوم ځای ويران سوي دی دليل دی چې په بلا اومصيبت کی به ګرفتار سي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې په مشهور اومعروف ځای کې مقيم سوي دی نو دهغه ځای دابادي اوعمارت مطابق خير اونفع به حاصله کړي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې عمارت ليدل په څلورو وجو وي. ۱: ددنيا درستي ۲: خير اونفع ۳: مراد حاصليدل ۴: دبندو

كارونو خلاصول اوبركت.

عماري \ كجاوه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه په خوب كي ووينې چې په كجاوه كي ناست دی او كجاوه دقچر يا اس ده او روان دی دليل دی چې عزت اومشري به حاصله كړي او كه ووينې چې كجاوه را ايله سوي ده يا دهغه څخه دباندي سوي ده نو د دې تعبير داول خلاف دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې كه ووينې چې چاپه كجاوه كي كيښينولي دی دليل دی چې دسردار سره به ملاو سي اوكار به يې لوړ وي او عزت او مرتبه به يې زياته سي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كي كجاوه ليدل په اووه وجو وي. ١: بزرګي ٢: عزت ٣: مرتبه ۴: رياست ۵: لوړوالي ٦: ولايت ٧: دسردار سره ملاقات.

عمود \ ګرز (يو ډول د جنګ وسله)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې ګرز په خوب كي ليدل رينبتوني اوسم سړ دی او اهل تعبير بيان كړي دی چې سختي خبري دي كه ووينې چې څوک يې په ګرز وهلي دی يا ووينې چې دده سره داوسپني ګرز دی دليل دی چې دپاچا څخه به ورته قوت او مدد حاصل سي اوكه ووينې چې چا دده دلاسه ګرز اخيستي دی نو تعبير يې خلاف دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كي ګرز ليدل په دروو وجو وي. ١: رينبتوني سړی ٢: سختي اوخرابي خبري ٣: يو څوک بزرګ سردار.

عناب \ مرغۍ \ مرغړي \ ملغړي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې كه ووينې چې دده سره مرغړي دی او خوړلي يې دي دليل دی چې دهغه په اندازه به مال حاصل كړي او كه ووينې چې ده چا ته مرغړي وركړي دی دليل دی چې دده څخه به هغه سړی ته مال رسيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كي ووينې چې ددرختي څخه مرغړي جمع كوي دليل دی چې دهغه په اندازه مال به په غم او تكليف سره حاصل كړي.

عنبر (يو ډول خوشبويي)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې كه څوك په خوب كي ووينې چې دده سره عنبر دی دليل دی چې دهغه په اندازه نفع به حاصله كړي اوكه ووينې چې ده چا ته عنبر وركړي دی دليل دی چې هغه سړی به دده څخه نفع حاصله كړي اوكه ووينې چې عنبر ځني ورك سوي دی دليل دی چې دمال نقصان به حاصلوي اوكه ووينې چې دچا پر مخ يې عنبر منبلي دی دليل دی چې دهغه سره به نيكي كوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كي عنبر ليدل په څلورو وجو وي. ١: نفع ٢: مراد حاصليدل ٣: مطلب حاصلول ۴: نيك تعريف.

عنقا (يو ډول ساز)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه څوك په خوب كي ووينې چې عنقا ږغوي دليل دی چې په

Maktaba Tul Ishaat.com

درواغو اوبي فايدي خبرو به خوشحاليږي که ناجوړه ووينې چې عنقا مات سوي دی يا يې غورزولي دی دليل دی چې ددرواغو څخه توبه کوي اوکه ناجوړه ووينې چې عنقا ږغوي دليل دی چې دغه ناجوړه به ژر مړ سي.

عنکبوت \ غنه \ جولاګی \ سپايډر

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې غنې ليدل ضعيف ګمانه اوګنهګار سړی ليدل دی اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چې جولاګی په خوب کې ليدل خوښي ده اوکه ووينې چې جولاګي دده څخه ليرې سويدی دليل دی چې دجولاګي څخه به ليرې او جلا سي.

عود (يو ډول خوشبو لرونکی لرګي)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چې ده چا ته لاندې عود سوزلي دی دليل دی چې دهغه څخه به خير اونفع حاصله کړي او په خوب کې عود پاکيزه طبع او ښايسته سړی دی ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که ووينې چې دده سره اوم عود دی يا چا ورکړي دی دليل دی چې دپاچا څخه به دعود په قدر انعام اخلي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې عود ليدل په څلورو وجو دی ١: ښايسته سړی ٢: ښه خبره ٣: تعريف او شاباسي ۴: مال او نفع.

عودسوز \ د عودو انګيټی

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې دعود انګيټي عقلمنده مينځه يا عقلمند غلام دی اوکه دعودو سوزلو انګيټي دکلايي وي نو غلام يامينځه به يې داصله عيسايي وي او که دتانبي وي نو داصله به يهوديان وي اوکه داوسپني وي نو د اصله به مجوسيان وي اوکه ووينې چې دعودو انګيټي ماته يا ورکه سويده دليل دی چې دده غلام يا مينځه به هلاک سي.

عورت \ شرمګاه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې ووينې چې دده شرمګاه لخ دی اوټول خلک ورته ګوري دليل دی چې دده راز به خلکو ته ښکاره سي اوکه ووينې چې خپل شرمګاه يې بيا پټ کړي دی دليل دی چې فورا به يې راز پټ سي او اهل تعبيرو بيان کړي دی چې که ووينې چې دده دشرمګاه څه حصه لخه ده او ده پټه کړيده اوچا ليدلي نه دی دليل دی چې که ناجوړه وي نو شفا به حاصله کړي که قرضدار وي نو دقرض څخه به خلاص سي اوکه په بيره کې وي نو په امن کې به سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې که ووينې چې دده شرمګاه لخه ده او شرميدلي دی دليل دی چې دبد حال څخه به ښه حال ته راسي اوکه ووينې چې ده قصدا خپل شرمګاه لخه کړي ده دليل دی چې داسي کار به وکړي چې په هغه سره به دسزا حقدار وي يا به ورته يو افت رسيږي چې خلک به عبرت ځني واخلي.

عيد \ اختر \ يخ تپر

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې لوی اختر دی دليل دی چې دده به دعقلمند سړی سره کار راسي اوکه کوچني اختر ووينې دليل دی چې دده صحبت به

دعبادت كوونكي اوپرهيزګار سره وي او ددين نفع به ځني حاصله كړي ابراهيم كرمانى رحمة الله عليه ويلي دى چي كه څوك ووينې چي اختر دى او خلكو ځان نښايسته كړي دى اوراوتلي دى دليل دى چي كه قيدي وي نو ازاد به سي اوكه دعزتمندو او شريفانو څخه وي نو مرتبه به يې نښه زياته سي.

دهه \ عاشوره \ لسمه د محرم

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي كه په خوب كي دعاشوري ورځ ووينې نو مراد ته به ورسيږي دالله تعالى فرمان دى (اليوم اكملت لكم دينكم واتممت عليكم نعمتي، سورة المائدة: ٣) نن ما دين پر تاسو باندي كامل كړي او خپل نعمتونه مي پر تاسو پوره كړه. اوكه په خوب كي دكال يا دمياشتي يا ورځي شروع ووينې دليل دى چي دغه كال يا مياشت يا ورځ به پر ده مباركه وي او پر خير اوصلاح دليل لري.

[غ]

غار

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي كه څوك په خوب كي ووينې چي په غار كي مقيم سوي دى دليل دى چي په يو سخت كار كي به ګرفتار سي او كه ووينې چي غارته ننوتلي دى او ژر ځني راوتلي دى دليل دى چي په سخت كار كي به ګرفتار سي او ژر به خلاصون ځني حاصل كړي. جابر مغربى رحمة الله عليه ويلي دى چي كه ووينې چي دي غار ته ننوتلي دى او غار روښانه سويدى دليل دى چي دى به قيد سي او بعضي وايي چي په سخت كار كي به ګرفتار سى اوكه ووينې چي دغار څخه دباندي راوتلي دى دليل دى چي ناجوړه به سي اوشفا به حاصله كړي.

غارت \ لوټمار \ چور

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي كه په خوب كي ووينې چي دده مال اونعمت خلكو لوټ كړي دى دليل دى چي په غم اومصيبت كي به ګرفتار سي. جابر مغربى رحمة الله عليه ويلي دى چي كه ووينې چي داسلام لښكر دكافرانو ملك واخيستي او لوټ يې كړو دليل دى چي پركافرانو به غم او مصيبت راځي او كه ووينې چي دكافرانو لښكر مسلمانانو لوټ كړى دليل دى چي مسلمانان به په غم اوفكر كي اخته سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب كي لوټ مار ليدل په څلورو وجو وي ١: جنګ ٢: نقصان ٣: غم او فكر ۴: دنرخونو ارزاني.

غاليه (يو ډول خوشبودار پوډر)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب كي غاليه هوښيار او مشهور سړى دى اوكه ووينې چي چا ورته غاليه وركړي دى دليل دى چي هغه سړى به دده څخه ادب اوهو ښيارتيا زده كړي او ابراهيم كرمانى رحمة الله عليه ويلي دى چي غاليه دحج نښه ده اواهل تعبير بيان كړي دى چي غاليه مال دى چي دسردار څخه به ملاو سي اوكه ووينې چي ده غاليه حاصله كړيده دليل دى چي دسوداګر سړى يا ښځي څخه به نفع حاصله كړي اوكه ووينې چي چا دده پر سترګه غاليه مړلي

Maktaba Tul Ishaat.com

دی لیل دی چي دهغه پرځای به دي حق ګزاري کوي اوخلک به دده لپاره دعا کوي اوکه ووینې چي چا دده دغورې څخه لاندي غالیه مړلي دی دلیل دی چي پرده به ددرواغو تهمت لګوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ویلي دی چي په خوب کي غالیه لیدل په پنځو وجو وي. ۱: ادب او هوښیارتیا ۲: تعریف او شاباسی ۳: داسلام حج ۴: مال او مراد ۵: خیر او نفع.

غایب

ابن سیرین رحمة الله عليه ویلي دی چي که په خوب کي ووینې چي په سفر کي غایب سوي دی او نزدی راغلي دی دلیل دی چي دغایب خط یا خبر به راځي اوکه دخپل کور څخه غایب سوي وي دلیل دی چي دده خپلوانو ته به دده خط یا خبر راځي. جابر مغربي رحمة الله عليه ویلي دی چي که ووینې چي دده غایب دسفر څخه واپس راغلي دی دلیل دی چي دده کار به پوره سی اوکه ووینې چي غایب تریو تندي او فکرمند دی نو تعبیر یې خلاف دی اوکه ووینې چي دده غایب سپور دسفر څخه واپس راغلي دی دلیل دی چي دده غایب به ژر دسفر څخه دنعمت او مال سره واپس راسي اوکه غایب عاجزه پیاده او لځ ووینې دلیل دی چي په لاره کي به غایب ډاکوګان ووهي او مفلس به واپس راسي.

غبار\ګرد\دوړه

ابن سیرین رحمة الله عليه ویلي دی چي که ووینې چي ګرد دده پر شي باندي پروت دی دهغه په اندازه به مال حاصل کړي اوکه ووینې چي ګرد دمځکي څخه تر اسمانه پوري دی دلیل دی چي ددغه ځاي خلک چي کوم کار کوي دهغه څخه به منع سي. جابر مغربی رحمة الله عليه ویلي دی چي که ووینې چي دده مخ دګرد څخه ډك دی دلیل دی چي غم اوعذاب به ورته ورسیږي دالله تعالی فرمان دی (وجوه یومئذ علیها غبرة ترهقها قترة، سورة عبس: ٤٠ – ٤١) په هغه ورځ به پر مخونو ګردونه وی او پر هغوي به تاریکه غالبه وي.

غربال\غلبیل

ابن سیرین رحمة الله عليه ویلي دی چي په خوب کي غلبیل لوي نوکر دی که ووینې چي دده سره غلبیل دی نو نوکر به حاصل کړي اوکه ووینې چي دده غلبیل مات سوي دی نو نوکر به یې تښتي یا به مري. ابراهیم کرمانی رحمة الله عليه ویلي دی چي که ووینې چي په غلبیل سره غله صفا کوي دلیل دی چي دده دکار څخه به خلکو ته فایده وي او ده ته به نقصان وي اوکه دځان لپاره څه باندي صفا کوي نو نفع به حاصله کړي او جعفر صادق رحمة الله عليه ویلي دی چي غلبیل لیدل په درو وجو دی ۱: نوکر ۲: دوست ۳: هوښیار شاګرد.

غرق شدن\غرقیدل\ډوبیدل

ابن سیرین رحمة الله عليه ویلي دی چي که ووینې چي په دریاب کي غرق سویدی اومړ سوي دی دلیل دی چي پاچا به یې مړ کړي اوکه ووینې چي په اوبو کي ډوب سوي دی اوبیا بیرته راختلي دی او مړ سوي نه دی دلیل دی چي ددنیا دکارڅخه به لاس واخلي او ددین اصلاح او داخرت لار به

تلاش کړي. جابرمغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که ووینې چي حیوانات په کور یا دوکان یا باغ کي غرق سوي دی دلیل دی چي په یو مشکل کار کي به عاجز سي او اخر دا چي خلاصون به حاصل کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي غرقیدل یا ډوبیدل په څلورو وجو وي ۱: ډیر مال ۲: بخت ۳: دبي مذهبه خلکو سره ملګرتیا ۴: نفع.

غزا کردن \ غزا کول

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که په خوب کي ووینې چي دالله تعالی په لاره کي غزا کوي دلیل دی چي دده او دده دخپلوانو کار به نیك سي او ټول به بي نیازه سي دالله تعالی فرمان دی (ومن یهاجر فی سبیل الله یجد فی الارض مراغما کثیرا وسعة، سورة النساء: ۱۰۰) او څوک چي دالله په لاره کي هجرت وکړي نو پر مځکه به ډیره نفع اوفراختیا حاصله کړي. اوکه ووینې چي دغزا څخه یي مخ اړولي دی دلیل دی چي دخپلوانو څخه به مخ اړوي دالله تعالی فرمان دی (فهل عسیتم ان تولیتم ان تفسدوا فی الارض وتقطعوا ارحامکم، سورة محمد: ۲۲) ایا نزدی دی چي تاسو ته حکومت ملاو سي او پرمځکه فساد کوي اوقطعه دصله رحمي کوي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که ووینې چي غزا ته تللي دی دلیل دی چي دولت نعمت اوبزرګي به حاصله کړي دالله تعالی فرمان دی (وفضل الله المجاهدین علی القاعدین اجرا عظیما، سورة النساء: ۹۵) اوالله تعالی جهاد کوونکي ته پرناستو خلکو باندي لوی اجر ورکړي دی، اوکه ووینې چي ددغه ملك خلک دغزا لپاره دباندي وتلي دی دلیل دی چي عزت او مرتبه به حاصله کړي او خلک به مغلوب کړي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که ووینې چي دکافرانو سره یوازي جنګ کوي دلیل دی چي پردښمنانو به کامیابي حاصله کړي او حلاله روزي به ورته ملاو سي او عمر به یي زیات سي دالله تعالی فرمان دی (ولا تحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله امواتا بل احیاء عند ربهم یرزقون فرحین بما اتاهم الله من فضله، سورة آل عمران: ۱۶۹ – ۱۷۰) او کوم خلک چي دالله په لاره کي قتل سوي دی هغوي مړه مه ګڼئ بلکه دوي دخپل رب په نزد ژوندي دی رزق ورکړه کیږي څه چي الله تعالی دوي ته پخپل فضل سره ورکړي دی دوي په هغه خوشحاله دي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي غزا کول په شپږو وجو ده. ۱: خیر او برکت ۲: دنبی علیہ السلام سنت ادا کول ۳: پر دښمن باندي کامیابه کیدل ۴: دناجوړي څخه شفا ۵: دپاچا اطاعت ۶: غنیمت حاصلول.

غسل کردن \ لمبیدل \ غسل کول \ لامبل

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي دی په دریاب کي لمبیدلي دی دلیل دی چي غم اوفکر به یي کم سي او که ناجوړه وي نو شفا به حاصله کړي او که قرضدار وي نو دقرض څخه به خلاص سي او دبیري څخه به په امن کي سي او که قیدي وي نو خلاص به سي اوکه ووینې چي په لږو اوبو کي لمبیدلي دي او مخ او لاس یي پریولي دی دلیل دی چي خیر اونفع به حاصله کړي اوکه ووینې چي دجنابت غسل یي کړي دی دلیل دی چي کار به یي

Maktaba Tul Ishaat.com

ختم سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دجنابت څخه غسل کول دليل لري چي ددرواغو څخه به پاك سي او څه زيات اونقصان چي دجنابت په غسل کي ښکاره سی پر درواغجن دين دليل لري.

غل (داوسپني طوق)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي داوسپني طوق کفر دی او دده ميلان ناحق طرفته دی اوکه ووينې چي دده په څټ کي داوسپني طوق دی دليل دی چي کافر به مري اوکه ووينې چي دده طوق دسپي په څټ پوري ترړل سوي دی دليل دی چي منافق به وي اوکه ووينې چي دده په څټ کي طوق اوپه پښو کي بيړي دی دليل دی چي کافر به وي او دمسلماني به په درواغو دعوی کوی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي دده په لاسونو کی طوق دی نو دا دده پر بخل دليل دی دالله تعالی فرمان دی (وقالت اليهود يد الله مغلولة غلت ايديهم ولعنوا بما قالوا، سورة المائدة: ٦٤) يهودو وويل چي دالله تعالی لاس ترړل سويدی ددوي لاس به وترړل سي او ددوي دوينا په وجه پر دوي لعنت دی. او دغل څخه مراد بخل دی ابن عباس رضی اللہ عنہ ويلي دی چي اهل تعبير وايي چي که صالح سړی په څټ کي طوق ووينې نو دبدو کارونو څخه به لاس اخلي.

غلاف شمشير \ دتوري غلاف \ تېکی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دتوري تيکي ښځه ده که ووينې چي دتوري تيکي ماته سوي ده اوتوره سلامته ده دليل دی چي زوی به يي سلامت پيداسي او دهغه مور به مړه سي او دچاړي دتيکي هم داحکم دی.

غلام

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي دي غلام سوي دی دليل دی چي په سخت کارکي به ګرفتار سي اوکه ووينې چي غلام يي اخيستی دی نو دا دده دکار پر بهتري دليل دی او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي غلام واده دی دالله تعالی فرمان دی (فبشرنٰه بغلام حليم، سورة الصافات: ١٠١) او مورِ هغه ته دصبرناك زوی زيری ورکړ. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي ده دغلام يا مينځی په خرڅولو سره، سره زر يا سپين زر واخيستل نو تعبير يي بد دی اوکه نور څه واخلي نو ښه دی.

غلبه کردن \ کاميابېدل \ غالب کېدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي پرخپل دښمن غالب سويدی دليل دی چي پر دښمن به غالب سي او که د دې خلاف ووينې نو دښمن به ورباندي غالب سي.

غم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي غم واده او خوشحالي ده اوکه ووينې چي غمجن سويدی دليل دی چي خوشحالي به حاصله کړي او خپل مراد ته به ورسيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ

ويلي دی چي که ووينې چي غمجن سويدی دليل دی چي دهغه په اندازه به مال اخلي اوکه ووينې چي دغم څخه خلاص سو نو تعبير يې داول خلاف دی.

غنيمت \ په جنګ کې مال نيول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کې غنيمت حاصلول که دکافرانو مال وي نو دليل دی چي ګراني به وي اوکه ووينې چي مسلمانانو دکافرانو دملك څخه غنيمت راوړي دی دليل دی چي کوم ملك ته يې غنيمت راوړي دی هلته به نعمت او دنرخ ارزاني وي اوکه ووينې چي کافرانو دمسلمانانو دملك څخه غنيمت راوړي دی دليل دی چي ده ته به دهغه په اندازه غنيمت حاصل سي.

غواص \ لامبو وهونکی \ لمبيدونکی

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که څوك ووينې چي ده په درياب کې غوټه وهلي ده اوملغلري يې را ايستلي دی نو دهغه په اندازه به علم پوهه او ديانت دمال څخه خوشحالي حاصله کړي اوکه ووينې چي په درياب کې يې غوټه وهلي ده او څه يې نه دی را ايستلي دليل دی چي دعلم په زده کولو کې به مشغوله سي ليکن فايده به ځني پورته کړي اوکه ووينې چي ددرياب دبيخ څخه يې ملغلري را ايستلي دی نو عالم اوفاضل به سي او خوب ليدونکي به ديانت څخه نفع حاصله کړي.

غوره \ بادرنګ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که په خوب کې ووينې چي بادرنګ يې په موسم کې خوړلي دی دليل دی چي يو شي به په غم او محنت سره حاصل کړي ليکن کاميابه به نه وي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي بادرنګ خوري نو غمجن به سي اوکه ووينې چي بادرنګ يې خرڅ کړي دی يا يې چا ته ورکړي دی او دهغه څخه يې خوړلي نه دی دليل دی چي غم به يې کم سي اوکه ووينې چي بادرنګ يې دغوښې سره پوخ کړيدی نو غوره دی. دغوك يعني چونګښې او چرمښکي تعبير به په حرف (و) کې په تفصيل سره بيان سي.

[ف]

فاخته \ ګګوشتو

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کې ګګوشتو ناقص دينه او بد اخلاقه ښځه ده چي دچا سره موافقت نه کوي اوکه ووينې چي دده سره ګګوشتو دی دليل دی چي دغه شان بې دينه ښځه به کوي اوکه ووينې چي د ګګوشتو غوښه يې خوړلي ده دليل دی چي دهغه په اندازه به دښځې مال اخلي او حج به کوي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي ګګوشتو درواغ ويوونکي زوی دی، اوکه ووينې چي ګګوشتو دده پرکور يو اواز کړي دی دليل دی چي دغايب خبر به اوري، اوکه ووينې چي دوه اوازونه يې کړيدی نو دا دښه والي دليل دی او که دري اوازونه يې کړي وي، نو ډير ښه دی اوکه ووينې چي ګګوشتو او کارغه دواړه دده کور ته

Maktaba Tul Ishaat.com

راغلي دی دليل دی چي غل به دده کورته راسي اوسامان به يوسي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي ګڼګوشتو په خوب کي ليدل په دروو وجو دی. ۱: ښځه ۲: زوی ۳: خادم يا مزدور.

فال ګرفتن \ فال نيول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي فال يې نيولی دی او فال ښه ختلی دی دليل دی چي پر دښمن به کاميابه سي او که ووينې چي فال ګيري کوي دليل دی چي ډيری کوپړي به خوري. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي فال نيول په درو وجو دي. ۱: پر دښمن کاميابيدل ۲: ضرورت پوره کيدل ۳: مراد. که فال نيك وي او که بد وي نو تعبير يي د هغه خلاف دی.

فالوده

فالوده که دزعفرانو سره وي نو ناجوړي ده او دفالودي ليدل څومره چي ورته رسيدلي وي دهغه په اندازه به ورته غم اوفکر ورسيږي اوکه ووينې چي فالوده يې په خله کي ايښي ده دليل دی چي پاکيزه خبره به کوي اوکه ووينې چي ده دفالودي ګوله چاته ورکړي ده دليل دی چي ده ته به پاکيزه خبره کوي يا به دده لپاره څوك کار کوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي فالوده ليدل په څلورو وجو دي. ۱: پاکيزه خبره ۲: مال ۳: نفع ۴: په هغه کار کي جنګ چي په مشکله سره به کيږي.

فام \ نقش

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده پر مخ نقش دی دليل دی چي حج به کوي اوکه لمونځ يې قضاوي نو ادا به يې کړي اوکه دده پر ذمه امانت وي نو ادا به يې کړي او که قرضدار وي نو دقرض پر ادا کيدو دليل دی.

فتنه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي فتنه ديو ځاي څخه ليري سوي ده دليل دی چي دهغه ملك خلک به دالله تعالی طرفته رجوع کوي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که په لسو شيانو کي يو ووينې دليل دی چي په هغه ملك کي به بلا راسي ۱: تاريکه ۲: اور ۳: يخه هوا ۴: ګرمه هوا ۵: دلمر اوسپوږمي تورواليږ ۶: ګرد غبار ۷: باران ۸: درخته دبيخه ايستل ۹: سره يا توره وريځ ۱۰: سره او ژړ کالي اغوستل.

فراخي \ پراخي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي دتنګ ځاي څخه فراخ ځاي ته راغلي دي يا باندي دسختي څخه اساني سوي ده دليل دی چي دغم څخه به خلاصون حاصل کړي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي کور باندي فراخ سوي دي دليل دی چي پر عيال به يې روزي فراخ سي اوکه ووينې چي کور باندي تنګ سوي دی اوبيا فراخ سوي دی دليل دی چي دشريعت او ددين پر لاره به سم سي غرض داچي دتنګو شيانو فراختيا په ټولو کارونو کي دفراخي اوبرکت دليل دی.

فراش \ فرش غوړولووالا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي فرش غوړولو والا دليل دی چي دچا لپاره ښځه تلاش کوي.

فرج \ شرمگاه \ ښځينه عورت

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده د ښځو په ډول شرمگاه دی دليل دی چي ذليله او عاجزه به سي او که ووينې چي ده سره چا جماع کړي ده دليل دی چي دهغه څخه به يې حاجت پوره سي اوکه دوي ښځي ووينې چي دهغو يو ډول شرمگاه ده دليل دی چي هغه دواړي ښځي به ديو سړی ښځي سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي د دې شرمگاه د اوسپني يا دتانبي ده دليل دی چي دمراد حاصلولو څخه به نا اميده سي اوکه سړی ووينې چي دده دښځي شرمگاه شاته ده دليل دی چي هغه ښځه به داسي شي خوښوي چي په هغه کي دالله رضا نه وي اوکه ښځه ووينې چي د دې شرمگاه پري سوي ده دليل دی چي پر دښمن به کاميابه سي اوکه ووينې چي د دې دشرمگاه څخه ماهي راوتلي دی دليل دی چي لور به يې پيداسي اوکه ووينې چي د دې دشرمگاه څخه پيشو وتلي ده دليل دی چي د دې به غل اوډاکو زوی پيداسي اوکه ووينې چي د دې دشرمگاه څخه مار راوتلي دی دليل دی چي د دې به ناکاره لور پيداسي او که ووينې چي د دې دشرمگاه څخه مار وتلي دی دليل دی چي د دې به زوی پيداسي چي د دې دښمن به وي اوکه ووينې چي لړم ځني وتلي دی نو هم دغه تعبير يې دی اوکه ووينې چي د دې دشرمگاه څخه چينجي يا ميږي وتلي دی دليل دی چي کم همته زوی به يې پيداسي اوکه ووينې چي د دې دشرمگاه څخه ډوډي وتلي ده دليل دی چي مفلسه اوتنگدسته به سي اوکه ووينې چي د دې دشرمگاه څخه کوتره وتلي ده دليل دی چي خاوند به ورسره ډيرمينه لري اوکه ووينې چي د دې دشرمگاه څخه وينه وتلي ده دليل دی چي خاوند به ورسره دحيض په حالت کي جماع کوي او که ووينې چي د دې څخه نو وتلي دی دليل دی چي د دې به نيك اوپرهيزگاره زوی پيداسي اوکه ووينې چي د دې دشرمگاه څخه توري اوبه وتلي دي نو د دې تعبير د اول خلاف دی اوکه ووينې چي د دې څخه قي وتلي دی دليل دی چي دهغه په اندازه به مال حاصل کړي اوکه ووينې چي د دې څخه اور وتلي دی دليل دی چي زوی به يې پاچا سي اوکه ووينې چي چا د دې شرمگاه شلولي ديه دليل دی چي دهغه څخه به نفع حاصله کړي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ښځه ووينې چي ددې څخه ډير وينښته راختلي دی دليل دی چي دخپل زوی په وجه به غمجنه سي اوکه ووينې چي وينښته باندي نسته نو خوشحالي به وي اوکه پرسوب باندي ووينې نو مال به حاصل کړي. اوکه ښځه ووينې چي د دې دشرمگاه پر ځاي عضو تناسل دی که حامله وي نو زوی به يې پيداسي ليکن ژوندي به پاته نه سي اوکه ووينې چي د دې څخه ملغلري او موتي وتلي دی دليل دی چي عالم او پرهيزگاره زوی به يې پيداسي.

Maktaba Tul Ishaat.com

فرجي (يو قسم کالي)

فرجي يو ډول قميص او کالي دي، ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده قميص پاك دی دليل دی چي دغم څخه به خوشحالي اوبزرګي حاصله کړي اوکه خيرن او زوړ يي ووينې نو تعبير يي داول خلاف دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك ووينې چي د وريښمو کالي يي اغوستي دی دليل دی چي نيك به وي او دپرهيزګارو خلکو سره به وي او که دسوترو او دريښمو کالي وي نو ددين پر زياتوالي دليل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي ده دښځو قميص اغوستي دی دليل دی چي ملامتيا به ورته رسيږي اوکه ووينې چي په هغه کي يي دچا سره جماع کړي ده دليل دی چي دچا سره يي جماع کړي وي دهغه څخه به يي مراد پوره سي اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي ده سور قميص اغوستي دی نو دا پر ديندارې امانت او پرهيزګاري دليل دی اوکه تور وي نو دعالم لپاره خير اونفع ده او دجاهل لپاره ښه تعبير نه دی اوکه ژړ يي اغوستي وي يا يي په ترخ کي وي نو پر مصيبت غم اوفکر دليل دی.

فرزند\زوی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ وپلي دی چي که څوك ووينې چي لور يي پيداسوي ده دليل دی چي ده ته به خير اوخوشحالي ورسيږي اودکور والاوو څخه به خوشحاله سي اوکه ووينې چي زوی يي پيدا سوي دی دليل دی چي لور به يي پيداسي اوکه انجلي ووينې نو زوی به يي پيداسي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي څوك ووينې چي دده زوی وو او هغه چا تښتولي دی دليل دی چي ناجوړه به سي او اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي ده هلك حاصل کړي دی يا چا ورکړي دی نو دنا اميده ښځي ځاي څخه به ورته يو شي ملاو سي.

فرعون

فرعون په پخوا زمانه کي دمصر دپاچا لقب وو ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي دپخواني زماني دفرعونيانو څخه پخواني ظالم پاچا ښارته راغلي دی اوپه ښار کي بيره رامنځ ته سوي ده دليل دی چي دفرعون ملعون خوي به په دغه ښار کي ښکاره سي اوکه ووينې چي پخواني نيك پاچا ښارته راغلي دی دليل دی چي دهغه پاچا دعدل خوي به په دغه ښار کي ښکاره سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي فرعون ملعون ده ته بخشش يا انعامي کالي ورکړي دی دليل دی چي دهغه په اندازه به دظالم پاچا څخه مال حاصل کړي يا به دلوی سړی څخه حرام مال حاصل کړي.

فرمودن\حکم کول\فرمان ورکول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي ده ته چا ددينګ پخولو حکم ورکړی دي دليل دی چي په کوم کار کي وي قايم به وي اوکه څوك ورته ووايي چي دينګ وګرځوه چي ونه سوزي مطلب يي دادی چي احتياط کوه اوکه ورته ووايي چي ډوډي ماته کړه يعني وروړه خوشحاله ساته اوکه ورته دغنمو خرڅولو لپاره ووايي يعني ډوډی غواړي اوکه ورته ووايي

چي ملا وتړه يعني دکار څخه فا يده پورته کړه اوکه د تاخير کولو ورته ووايي يعني پر دښمن به کاميابي حاصله کړي اوکه ورته ووايي چي په اور کي مه ځه يعني دمال حفاظت وکړه چي فقير نه سي اوکه د ډيوي بلولو ورته ووايي يعني مال خرڅ کړه اوکه ورته ووايي چي بستره اواره کړه يعني طلب کوه او که ورته ووايي چي تخم کره يعني دمخلوق سره نيکي کوه اوکه ورته ووايي چي غسل وکړه يعني توبه وباسه او دالله تعالى طرفته رجوع وکړه اوکه ورته ووايي چي څه وخوره يعني دحلال رزق ګوله خوره.

فرودآمدن\کښته راتلل\کښته کېدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي دغر يا ديو ځاي څخه لاندي راکښته سوي دی دليل دی چي شرافت اوبزرګي به يي ختمه سي او دمال نقصان به يي وسي اوکه ووينې چي دځينې له خانې څخه لاندي را کښته سوي دی دليل دی چي دده په دين کي به نقصان وي خاصکر که ځينه دخاوري وي او که دچوني وي نو دمال نقصان دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي دغره څخه لاندي راکښته سويدی که دپاچا سره وي نو دهغه څخه به جلاسي او دده په عزت او مرتبه کي به نقصان وسي او که دغونډې څخه لاندي کښته سوي وي دليل دی چي دهغه لوړوالي مطابق به يي په نعمت کي نقصان وسي.

فروختن\خرڅول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي کوم شي ددين په لاره اوشريعت کي ډير عزيز وي دهغه خرڅول بد دی اوکه په خوب کي ووينې چي ده قران مجيد خرڅ کړي دی دليل دي چي دين اسلام به دده په نزد خوار او ذليل وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که ووينې چي ده خپل غلام خرڅ کړيدی دليل دی چي دده عزت او بزرګي به دښځو دطرف څخه وي او دي به بدنام سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي ده يو شي خرڅ کړي دي نو هغه شي به سپک وي.

فزوني\زياتی\زياتوالی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که دخير او صلاح زيادتي وي نو نيک دی او په کومو شيانو کي چي شر اوفساد وي دهغه زيادت بد دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په بدن کي زيادت ليدل ددې خبري دليل دی چي په بدن کي نقصان نسته او څونه چي زيادت ووينې دهغه په اندازه به يي مال اونعمت زيات سي. اوکه دبدن دزيادت څخه ده ته نقصان ورسيږي نو پر غم ناجوړي او نقصان دليل دی.

فستق\پسته

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي پسته مال اونعمت دی اوکه ووينې چي دده سره دپستي مغز دی او خوړلي يي دی دليل دی چي دهغه په اندازه به مال اونعمت حاصل کړي اوکه ووينې چي ده سره دپستي مغز دی نو دبخيل سړی څخه به نفع حاصله کړي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي ده ته چا دپستي مغز ورکړي دی نو پر مال اونفع دليل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

فقاع خوردن \ داوربشو شراب چيښل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي داور بشو شراب چيښل پرخير او نفع دليل دي چي دخادم څخه به ورته حاصل سي اوکه ووينې چي دده کوزه را ايله ده او دی هم را ايله دی دليل دی چي ده ته به نقصان رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي داوربشو شراب چيښل دخلکو خدمت کول دی او داوربشو شراب خوړه اونفع ده او تروه اوبې خونده نقصان او ضرر دی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب داوربشو شراب چيښل په څلورو زجو وي. ۱: نفع ۲: ښکلول ۳: خدمت کول ۴: بد سړی.

فقيه \ ديني عالم \ د فقه شريفي عالم

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي فقيه اوفاضل سويدی او دده خبره دمخلوق په نزد خوښه اومقبوله ده دليل دی چي شرافت اوبزرګي به حاصله کړي او دده نوم به په ملك کي په نيکي سره مشهور سي. جابر مغربي رحمة الله عليه ويلي دی چي که ان پړهه (امي) سړی په خوب کي خپل ځان فقيه ووينې نو سخت را ګيرونکي سپاهي به سي اوکه خپل ځان پوره عالم ووينې نو قاضي به سي.

فلاخن \ مچغونه \ مچغوزه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلی دی چي که ووينې چي ده څوك په مچوغنه ويشتلي دی دليل دی چي هغه سړی ته به ښراوي کوي اوکه ووينې چي دي چاپه مچوغنه ويشتلي دی دليل دی چي هغه سړی به ده ته ښراوي کوي اوکه ووينې چي دمچوغني په کانې دده بدن زخمي سوي دی دليل دی چي دخيرونه به ورته افت رسيږي اوناجوړه به سي.

فلوس \ پيسې \ نقدي \ روپۍ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي پيسه جنګ او دښمني ده اوکه ووينې چي د سره پيسه ده دليل دی چي دچا سره به جنګ کوي اوکه ووينې چي دده سره ډيري پيسي دی نو په سخت غم کي به اخته سي اوکه ووينې چي پيسي يي دخپل کور څخه دباندي غورزولي دی دليل دی چي دغم او فکر څخه به خلاص سي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي پيسي ليدل پر غريبي دليل دی.

فندق (يو قسم ميوه)

فندق دبيري برابر يو مشهور دولايت ميوه ده دا په خوب کي ليدل مال دی که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره فندق دی دليل دی چي دبخيل سړی څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي دده سره دفندق ډيران دی نو دچا سره به يي جنګ کيږي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي دده سره دفندق خوړ مغز دی دليل دی چي حلال مال به حاصل کي.

فنک (يو ډول حيوان)

فنك يو ځناور دی چي دهغه دپوست څخه پوستين جوړيږي ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي فنك مالدار مسافر دی او دمخلوق څخه غريب طبعه سړی دی او ددي پوست وينښته

او هډوکي غوښتونکي دی او غوښه يي دمالدار مسافر مال دی اوکه ووينې چې فنك دده تابعدار نه دی دليل دی چې فايده به نه حاصلوي اوکه ووينې چې فنك يي مړ کړي دی او پوست يي ځنې ايستلي دی او غوښه يي غورزولي ده دليل دی چې دمسافر سړی مال به ورك کړي او که ووينې چې پر ده ډير فنك جمع سوي دی اودهغو څخه يي تکليف نه دی ليدلې دليل دی چې ديو ټولګي څخه به نفع حاصله کړي.

فواق\اټکي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کې ووينې چې ده ته اټکي راغلي دی دليل دی چې ده ته به غصه راځي اوښکنځل او خرابي خبري به کوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په خوب کې ووينې چې ده ته د ډوډۍ خوړلو په وخت يي اټکي راغلي دي دليل دی چې ناجوړه به سي اوکه ووينې چې پرلپسې اټکي ورته راغلي دی دليل دی چې بې وجهې به پر چا غصه کوي اوکه ووينې چې دده داټکي سره اواز لوړ سوي دی دليل دی چې درواغ به وايي او په دغه درواغو به ملامت وي اوکه ووينې چې اټکي نرم او کرار وو دليل دی چې پرچا به غصه کوي ليکن ژر به يخ سي او که ووينې چې داټکي سره يي هر څه دباندي ايستلي دی دليل دی چې دده مرګ نزدی دی.

فوده\وچه خميره

فوده يا وچه خميره چې ډوډۍ ځنې جوړيږي دا په خوب کې ليدل غم او فکر دی اوکه ووينې چې خوړلې يې دي دليل دي چې ديو کار په وجه به فکرمند سي او دا په خوب کې ليدل دخپلوانو سره جنګ دی او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دا په خوب کې ليدل په پنځو وجو وي ۱: ناجوړي ۲: غم ۳: جنګ ۴: خلاصون ۵: دعيال سره ناموافقت.

فوطه\دلاس دسمال\دستمال\دسمال

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دسمال او دهغه کالي خوشحالي او اساني ده اوکه ووينې چې دسمال دسوترو دی دليل دی چې په دين او دنيا کې به خوشحالي حاصله کړي که نوي اوفراخه وي اوکه زړه اوخيري وي نو ددې تعبير داول خلاف دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دسمال دنيك سړی لباس دی که ووينې چې ددسمال کالي يي اغوستي دی او خوب ليدونکي پرهيزګار وي نو دا دده دستر پر زياتيدو دليل دی اوکه خوب ليدونکي مفسد وي نو دليل دی چې توبه به کوي او دسمي لار لټون به کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که پاچا ددسمال کالي ووينې دليل دی چې عدل اوانصاف به کوي اوکه قاضي ووينې چې ده ددسمال کالي اغوستي دی دليل دی چې په ريښتيا سره به فيصله کوي اوکه مشرك يي ووينې نو مسلمان به سي اوکه بد کار يي ووينې نو توبه ګار به سي اوکه غل يي ووينې نو توبه به وباسي اوسمه لار به حاصله کړي.

* * *

Maktaba Tul Ishaat.com

[ق]

قاضي \ شرعي حاكم \ جسټس

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي قاضي سوي دی او په خلکو حکومت کوي او د دې اهل نه دی نو په غم او مصيبت کي به ګرفتار سي او دده دلاسه به مال ولاړ سي اوکه په سفر کي وي نو ډاکوګان به يې ووژني اومال به يې ضايع سي اوکه عالم او هوښيار وي نو قاضي به سي اوکه خوب ليدونکي عالم او ځوان وي نو دسفر څخه به په سلامتي سره بيرته راسي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك معلوم قاضي په خوب کي ووينې نو دعالمانو او ددين دبزرګانو مرتبي ته به ورسيږي اوکه نامعلوم قاضي ووينې چي ناست دی اودي دچا سره لانجه لري او هغه ددوي تر مينځ حکم کړي دی نو چي څه حکم يې کړي وي هغه به کيږي دالله تعالی فرمان دی (والله يحكم لا معقب لحكمه، سورة الرعد: ٤١) او الله تعالی به ددوي ترمينځ حکم کوي او دهغه حکم څوك نه سي ماتولاي او په بل ځاي کي دالله تعالی فرمان دی (يقص الحق وهو خير الفاصلين، سورة الانعام: ٥٧) اوهغه حقه خبره کوي او هغه دټولو فيصلو کوونکو څخه ښه دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي قاضي پر ده حکم کړي دی نو هغه به کيږي څه چي ده ليدلي وي اوکه ووينې چي دقاضي په لاس کي تله ده دليل دی چي په خلکو کي به په ربښتيا حکم کوي اوکه ووينې چي قاضي ورته دمحبت او شفقت په نظر سره کتلي دی او په مهرباني اوخاطر سره يې ورسره خبره کړي ده دليل دی چي ده ته به په عالمانو کي عزت او مرتبه حاصله نه سي او خوار او ذليل به سي.

قافله

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك ووينې چي دقافلي سره کورته راځي دليل دی چي دده بندکار به پوره سي او دخپلوانو څخه به ليرې سي.

قالب \ غالب

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که په خوب کي دچپلکو يا دموزي قالب ووينې نو دليل يې پر ښځه اوخادم دی چي دده کار سموي اوکه ووينې چي دده سره قالب دی دليل دی چي ده ته به خادم ملاويږي اوکه ووينې چي قالب مات سوي ياسوزل سوي دی دليل دی چي دده دکور خادم به هلاک سي. جابرمغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي دده سره ډير قالبونه دی دليل دی چي دخادمانو څخه به ورته خير اونفع حاصله سي اوکه ووينې چي پخپله چپلکي جوړوي يا موزي ګنډي دليل دی چي ښه به سي.

قالين \ غالۍ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلی دی چي که څوك ووينی چي دده لپاره لوی قالين اوار سوي دی اوپيژني چي دده خپل دی نو دا پر ډير عمر او درزق پر فراخي دليل دی اوکه ووينې چي په

پردي ځاي کي پر غالۍ ناست دی او دهغه ځاي دمالك ورته علم نسته دليل دی چي دنيا به باندي بدله سي او په سفر کی به مري. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي پر کوچني او تنګه غالي باندی ناست دی دليل دی چي عمر به يي لنډ او روزي به باندي تنګه سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي غالۍ يي نغښتی ده او پر اوږه يي ايښې ده دليل دی چي ديو ځاي څخه به بل ځاي ته ځي اوعمر به يي لږ وي او ژونه چي غالي غټه او فراخه وي دده روزي اوژوند به زيات او ښه وی اوکه ووينې چي پر کوچني غالي ناست دی او دده څخه لاندي فراخه سوي ده دليل دی چي روزي به يي فراخه سي اوکه د دې خلاف ووينې نوعيش اوروزي به يي په سختی سره حاصليږي اوکه ووينې چي غالي اواره ده او ده پخپل لاس نغښتي ده اودکور په کټ کي يي ايښې ده دليل دی چي خپل دولت اوخپل ځان به تباه کړي اوکه ووينې چي غالي يي پر شا ايښې ده او وړې يي دليل دی چي ډيره ګناه به کوي. دانيال علیہ السلام ويلي دی چي که ووينې چي غالي کوچني اوشنه ده دليل دی چي روزي به يي تنګه وي ليکن عمر به يي ډير وي اوکه ووينې چي دده سره پاکه او شنه غالي ده دليل دی چي روزی به يي فراخه سي اوکه ووينې چي دچا په کور کي يي غالۍ اچولی ده دليل دی چي دکور مالك ته به دولت او مرتبه حاصله سي اوکه ووينې چي په نامعلوم کور کي پر غالي پروت دی دليل دی چي سفر به کوي او مال او نعمت به حاصلوي.

قبا\چوغه\چپنه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دسوترو چوغه پناه او په سفر تلل دی اوکه ووينې چي دسوترو فراخه چوغه يي اغوستي ده نو دغمونو څخه به خلاص سي اوکه ووينې چي دوريښمو چوغه يي اغوستي ده نو دا دده په حق کي مکروه ده اوکه دوسلي سره يي اغوستي ده نو دلوی سړی څخه به شرف اوبزرګي حاصله کړي ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي چوغه يي اغوستی ده او جنګ ته تللي دی دليل دی چي پر دښمن به کاميابي حاصله کړي اوکه ووينی چي شنه چوغه يي اغوستي ده دليل دی چي رڼا به حاصله کړي او که اسماني رنګ وي نو مصيبت دی اوکه توره وي نو غم اوفکر دی اوکه وربانډي کربنی وي نو دده کار به په انتظام سره وي اوکه چوغه زړه او څيري وي نو ښځي ته به طلاق ورکوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي دده چو غه عنابی ده که ددغه چوغي اهل وي نو پر غم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چي دپوست توره اوپليته چوغه يي اغوستي ده دليل دی چي خوب ليدونکي به دمالداري ښځي سره واده کوي اوکه ووينې چي د اول پوستکي چوغه يي اغوستي ده دليل دی چي دپرهيزګاري ښځي سره به واده کوي اوکه چوغه دخنزير دپوست وي نو دمالداري ښځي سره به واده کوي.

قباله\چيک\قواله\سند\اسناد

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره چيك ياخط دی دليل دی چي دهغه په اندازه به ورته هوښيارتيا حاصله سي اوکه ووينې چي پاچا ورته خط يا چيك

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکړي دی دليل دی چي دی به ديو ولايت حاکم کړي اوکه ووينې چي قاضي ورته چيك ورکړي دی دليل دی چي دشريعت علم به ورته حاصل سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي چيك په شپږو وجو وي. ۱: رياست ۲: حکمت او هوښيارتيا ۳: نفع ۴: ولايت ۵: دليل ۶: قوت.

قبان \ دتلي لړ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي قبان خونخوار سړی دی اوپه خوب کي دتلي لړ اوريدل دی او ډنډه يي دحکم تيرولو په وخت زيادتي ده. جابرمغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي قبان قاضي دی اوکه ووينې چي دده سره قبان دی نو دده به دقاضي دوکيل سره ملګرتيا وی اوکه ووينې چي پر قبان يو شي پخوي نو دده صحبت به دقاضي سره وي.

قبيله

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي دقبلي طرف يي پريښي دی او دمشرق طرفته لمونځ کوي دليل دی چي دنبی عليه السلام دلاري سره به مينه نه لري اوکه ووينې چي قبله نه پيژني دليل دی چي ددين په لاره کي به حيرانه اوپريشانه سي.

قبه \ ګنبد

ددي بيان په په حرف ك کي راځي ان شاء لله تعالى.

قدح \ پياله

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي پياله دګلابو دشربت څخه ډکه ده او دهغه څخه يي چيښلي دی دليل دی چي ښځه به کوي يا به مينځه اخلي او دده کره به نيك او پرهيزګاره زوی پيداسي اوکه ووينې چي اوبه يي توي کړي دی او پياله پاته سوه دليل دی چي زوی به يي مري او ښځه به يي سلامته پاته سي. او که ووينې چي پياله ماته سوه او اوبه توي سوي دی دليل دي چي زوی اوښځه دواړه به يي مري اوکه ووينې چي پياله ده او ده اوبه ځني چيښلي دي دليل دي چي دده کره به بدکرداره زوی پيداسي اوده ته به ځني تکليف وي اوکه په خوب کي خاني پياله ووينې دليل دی چي دده به زوی نه کيږي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي پياله ليدل په دروو وجو وي. ۱: ښځه ۲: مينځه ۳: خادم چي دهغه ضرورتونه په کور کي مشترک وي.

قديه \ وچه غوښه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي وچي غوښه که دبوزي وي نو په غنيمت دليل دی اوکه دآس وي نو دسپاهيانو خلکو څخه به غنيمت حاصل کړی اوکه دځنګلي ځناورو غوښه وي نو دځنګلي سړو څخه به غنيمت حاصل کړي او دوچي کړي سوي غوښې په خوړلو کي ښه والي نسته.

قران خوندن قرانکريم ويل

په خوب کي قرانکريم ويل پر حاکم دليل دی که په خوب کي درحمت اوزيري ايت دالله تعالى

دطرفه وي نو واجب دی چي خيرات وکړي او دالله تعالی شکر ادا کړي اوکه ووينې چي دعذاب ايت وايي نو دالله پر غصي اوغضب دليل دی توبه دي وکړي او دالله طرفته دي رجوع وکړي او که ووينې چي دقصو او مثالونو ايت يي ويلي دی دليل دی چي ګناه به کوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي نيم قران کريم يي ويلي دي نو دليل يي دا دي چي نيم عمر يي تير سوي دی اوکه ووينې چي دقران کريم حافظ سوي دی دليل دی چي دامانت خيال به ساتي اوکه ووينې چي ده دقران کريم اواز اوريدلي دی دليل دی چي دده کار به ددين پر لاره کي نيک وي اوکه ووينې چي چا دده قران کريم ويلي دی او په هغه نه پوهيږي دليل دی چي دده زړه ته به غم او فکر ورسيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي پوره قران کريم يي ختم کړي دی دليل دی چي مرادبه حاصل کړي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي دده عمر اخر ته رسيدلي دی اوکه ووينې چي قران کريم په لوړ اواز وايي دليل دی چي کار به يي پورته سي اوپه خلکو کي به مشهور سي اوکه ووينې چي کوم ايت يي ويلي دی ده ته ياد دې نو ددغه ايت تفسير ددې تعبير دی. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي دقرانکريم څلورمه حصه يي ويلي دی دليل دی چي کاربه يي ښه سي اوکه ووينې چي دسورة اعراف څخه يي ترسورة مريم پوري ويلي دی نو دمخلوق ترمينځ به مشهور سي اوکه ووينې چي دسورة مريم څخه يي ترسورة الناس پوري قران مجيد ويلي دي نو دده ټول مرادونه به پوره سي اوکه ووينې چي دقرانکريم پوره سيپاره يي ويلي ده دليل دی چي کال اومياشت به باندې مبارکه سي اوکه ووينې چي دقرانکريم اووه سيپاري يي ويلي دی نو دغم اوفکر څخه به خلاص سي او که څوک قران خوان نه وي او ووينې چي قران کريم يي ويلي دی دليل دی چي دده مرګ نزدی سوي دی دالله تعالی فرمان دی (اقراء کتابك کفی بنفسک الیوم علیك حسیبا، سورة الاسراء: ١٤) خپل کتاب ووايه نن ته دخپل ځان دحساب لپاره پوره يي. اوکه ووينې چي لځ دی اوقران کريم وايي دليل دی چي خواهشمند به وي اوکه په پاك اوناپاك ځاي کي يي وايي اوګرځي دليل دی چي دده عقيده ګډه وډه ده جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دقران مجيد ويل په څلورو وجو وي ١: دافت څخه سلامتي حاصلول ٢: دفقيري څخه وروسته دولت ٣: دزړه مراد پوره کيدل ۴: بيداري او پرهيزګاري حاصلول دګنهګارو لپاره او دهغوي لپاره عذاب اوسزا دقيامت دورځي دليل قائميدل.

قرباني کردن\قرباني کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي داوښ يا غوا يا بوزي قرباني يي کړي ده دليل دی چي که غلام وي نو ازاد به سي اوکه په غم بلا اوتکليف کي ګرفتار وي نو شفا به حاصله کړي اوکه بند وي نو خلاصون به حاصل کړي اوکه فقير وي نو مالدار به سي که په بيره کي وي نو په امن به سي او که قرضدار وي نو قرض به يي ادا سي اوکه حج يي نه وي کړي نو حج به وکړي اوکه ووينې چي خلک دقرباني لپاره ځنګل ته تللي دی دليل دی چي دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

خلک دیو شي څخه بیرېږي دهغه څخه به په امن کي سي اوکه په قید کي وي نو خلاصون به حاصل کړي اوقحط اوتنګي به یې په فراخي سره بدله سي خاصکر که دا خوب لوی اختر ته نزدی وي نوتعبیر به یې ژر ښکاره سي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که ووینې چي دقرباني غوښه یي په خلکو کښي تقسیم کړي ده دلیل دی چي دلته به مالدار سړی مري اومال به یي تقسیموي اوکه ووینې چي خلکو غوښه پټه کړیده دلیل دی چي په الله تعالی پوري به درواغ وایي اوپه خوب کي قرباني زیري دی دالله تعالی فرمان دی (وبشرنه باسحق نبیا من الصلحین وبرکنا علیه وعلی اسحق، سورة الصافات: ۱۱۳) ترجمه: او موږ هغه ته داسحاق نبی زیري ورکړي چي دنیکو خلکو څخه وو اوموږ هغه ته او اسحاق ته برکت ورکړي اوکه ښځه خوب ووینې نو دهغه به نیك زوی پیداسي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي دقرباني تعبیر په څلورو وجو وي. ۱: بیره ۲: مرادونه اوحاجتونه حاصلیدل ۳: خیر اوبرکت ۴: دقحط او تنګي لیري کیدل.

قرابه\دشرابو بوتل

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي دشرابو بوتل بدشکله بوډي ښځه ده چي هغه ته مال او دزړه دخوښي شیان سپاري اوکه په قرابه کي اوبه یا دګلابو شربت یا یو داسي شي وي چي دهغه خوړل او چیښل حلال دی نو دغه بد شکله بوډي ښځه به حلال خوره وي اوکه ووینې چي په قرابه کي یو داسي شي وي چي مستي راوستوونکي وي نوهغه بوډي ښځه به حرام خوره وي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك ووینې چي دده سره قرابه ده دلیل دی چي دبوډي ښځي سره به یي دمحبت ملاقات کیږي اودا بوډي به بد شکله وي اوکه ووینې چي دقرابي څخه یي اوبه یا شربت چیښلي دی دلیل دی چي ده ته به دبدشکله بوډي څخه نفع فایده ورسیږي او که دقرابي څخه یې یو ترش شي اخیستي وي نو دلیل دی چي څه غم او فکر به کوي او دخالي قرابي څخه څه خیر او شر نه رسیږي اوکه ووینې چي قرابه ماته سوه دلیل دی چي ددی بدشکله بوډي څخه به جلا سي.

قرنفل\لونګ

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي خوب کي لونګ نیك صفت دی او که ووینې چي دده سره ډیر لونګ دی او خلګو ته یي ورکوي دلیل دی چي په دغه ملک کي به خلک دده صفت کوي او دده نوم به په نیکي سره مشهور سي اوکه ووینې چي لونګ خوري دلیل دی چي ده ته به غم فکر اومصیبت رسیږي.

قز\ښام\ریښم\ورېښم\ابریشم

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي ریښم او ابریشم سپین ووینې دلیل دی چي ددی جهان نعمت به حاصل کړي اوکه ژړ وي نو پر ناجوړي دلیل دی او دیخو ریښمو لیدل داومو ریښمو څخه ښه دی اوکه ووینې چي دده ریښم یا ابریشم سوزلي دي یا ورك سوي دی دلیل دی چي ده ته به

نقصان رسيږي اوکه ووينې چې دده سره سپين رينبم يا ابريشم دی او دده دی نو خير او نفع به حاصله کړي اوکه شنه وي نو ښه دی اوکه سره وي نو دسړو لپاره ښه نه دی اوکه تور يا اسماني رنګ وي نو پرغم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چې دده سره هر رقم وريښم دی چې ده ته به هر قسم سامان حاصل سي او ريښم دسړو لپاره په دين کې مکروه دی او دښځو لپاره ددين په بابت کې ښه دی.

قسط \ دوايي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دتر ځان لاندې قسط سوزوي او هغه دود کوي دليل دی چې خلک به دده مدح اوثنا کوي او دده نوم به په ملك کی په نيکي سره مشهورسي اوکه دود خراب او ناخوښه وي نو تعبير يې ددی خلاف دی جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې قسط خوړل پرغمجن کيدو دليل دي.

قسمت کردن \ تقسيمول \ وېش کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې په يو ټولګي کې څه تقسيموي دليل دی چې به خلکو کې به دانصاف لحاظ کوي اوکه ووينې چې خپل مال په خير او صلاح سره تقسيموي دليل دی چې دده به زامن وسي او خپل مال به په هغو کې تقسيموي اوکه ووينې چې خپل مال په شرارت اوفساد سره تقسيموي دليل دی چې مال به يې تباه سي اوکه ووينې چې دچا مال يې دهغه په رضا سره تقسيم کړي دی دليل دی چې صلاح اوفساد به دده طرفته رجوع کوي.

قصاب

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که نامعلومه قصاب وي نو ملك الموت فرشته ده که ووينې چې قصاب کور يا کوڅې ته راغلي دی دليل دی چې هلته به څوك مري اوکه ووينې چې دی قصاب دی حالانکه دا دده پيشه نه ده دليل دی چې څوک به مړ کوي اوکه ووينې چې دقصاب سره دی دليل دی چې دده صحبت به دظالم سړی سره وي. ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې قصابي کوي حالانکه دی قصاب نه وي دليل دی چې غم اوفکر به ځني ختم سي اوکه قصاب ووينې نو په حقه به وينه ځني تويوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې نامعلوم قصاب دده کور يا کوڅې ته راغلي دی دليل دی چې په دغه ځای کې به نابېره مرګ ښکاره سي.

قصه ګڼل \ قصه ويل \ قصه خواني کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په خوب کې ووينې چې نامعلومه قصه وايي دليل دی چې دظالمانو دخوف او بيرې څخه به په امن کې سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې خلکو ته قصې وايي او دا قصه نيکه وي نو پرخير اوصلاح دليل دی اوکه قصه خرابه وي نو پرشر اوفساد دليل دی جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې قصه بيانوي دليل دی چې کار به يې نيک سي او مراد به يې پوره سي اوقصه بيانونکي نيك طبعه سړی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

قضيب \ شاخ \ ښاخ

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي ده ته چاتازه اونري ددرختي ښاخ ورکړي دی او ورکوونکي معلوم دی دليل دی چي دهغه په اندازه به ورته خير اونفع حاصله سي اوکه ووينې چي ښاخ نري او وچ دی نو څه شي به ورته ملاويږي. جابر مغربی رحمه الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي دتروي ميوي والا درختي ښاخ ده ته چاورکړي دی دليل دی چي دهغه سړی څخه به ورته غم او فکر رسيږي اوکه دخوږي درختي وي دليل دی چي خير اونفع به حاصله کړي.

قطايف \ حلوا

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي ته چا دچيني او بادامو والا حلوا ورکړي ده او ده دهغه څخه يې خوړلي ده دليل دی چي مال اونعمت به ورته په اساني سره حاصل سي اوکه په دي کې دغوزانو انګورو او دچوارو رس وي نو پر لږه نفع دليل دی. جعفر صادق رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي حلوی ليدل په څلورو وجو ده. ۱: ښه خبره ۲: حلال مال ۳: نفع ۴: نفع چي بغير دتکليف څخه به حاصله سي اوکه وګوري چي دچيړ تيل يې دکور څخه دباندي غورزولي دی دليل دي چي توبه به وباسي.

قطران \ درنځړ تيل

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي درنځړ تيل حرام دی اوکه ووينې چي دده سره درنځړ تيل دی اودهغه څخه يې خوړلي دی دليل دی چي حرام مال به حاصل کړي اوکه کالي يې باندي خراب سوي وي نو دحرامو کالي به اغوندي اوبعضي وايي چي دمال په وجه به په محنت او بلا کي راسي.

قفا \ پر څټ چپلاخه خوړل \ څټ

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي که په خوب کي پرخپل څټ وينښته ووينې دليل دی چي قرضدار به سي اوکه ووينې چي دڅټ څخه يې وينښته خريلي دی نو قرض به خلاص کړي اوکه ووينې چي چا ورته پر څټ چپلاخه ورکړي ده اوپرسيدلي دی دليل دی چي ده ته او دده سړيو ته به فايده وي اوکه ووينې چي نا اشنا ورته پر څټ چپلاخه ور کړي ده دليل دی چي دنا اشنا څخه به نفع حاصله کړي. ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي ده پر څټ داسي چپلاخه خوړلي ده چي ويني ځني بهيږي نو په چا به دعوی کوي اونقصان به حاصلوي. اوکه ووينې چي ده خپل څټ څيري کړي دي نودليل دی چي دده عيال به دده سره خيانت کوي اوکه ووينې چي پر خپل څټ يې څنګلي لګولي دی دليل دی چي يو شي به اخلي اوضمانت نامه به ليکي. جابر مغربی رحمه الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي دده مخ وروست سوي دی نو دليل دی چي دی به دخلکو څخه کرکه کوي.

قفس \ پنجره

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دي که ووينې چي دده سره پنجره ده دليل دی چي په يو ځاي کي به ګرفتاره سي او اهل تعبير بيان کړي دی چي په خپلوانو کي به دچا سره قيد خاني ته ځي اوکه

ووينې چې پنجره ماته سوې يا ورکه سوې ده دليل دی چې قيدخاني دتنګي څخه به خلاص سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کی پنجره ليدل په درو وجو ده ۱: قيد خانه ۲: تنګ ځای ۳: دپټ فرش ځای.

قفل \ جرنده \ قلف

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې جرنده ددين او ددنيا دکارونو پر ښه کيدو دليل دی اوکه ووينې چې جرنده ورخلاصه سوې ده دليل دی چې کارونه به باندې فراخ سي اوممکنه ده چې حج اسلام به وکړي اوکه ووينې چې جرنده نه ده خلاصه سوې دليل دی چې کار به يې ډير وخت پس فراخ سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که ووينې چې پريو ځای مضبوطه جرنده لګيدلې ده دليل دی چې خپل مال به مصلح سړی ته حواله کړي اوکه ووينې چې دده جرنده کمزوري ده نو تعبير يې د دې خلاف دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې جرنده په شپږو وجو ده ۱: دکار جوړيدل ۲: قوت ۳: دليل ۴: نفع ۵: ښځه ۶: په نيک سړی بروسه کول.

قلعه

قلعه شاهي محفوظ ځای په فارسي کې ديته دژ وايي د دې بيان په حرف دال کې سوې دی.

قلم

دقلم په تعبير کې داهل تعبيرو اختلاف دی ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې قلم امر حق دی او الله تعالی ته دقلم اولوح محفوظ محتاجي نسته. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې قلم يوه فرښته ده چې دالله تعالی په حکم کار کوي که څوک قلم په هغه شکل کې ووينې کوم چې دهغه دی دليل دی چې دعاقل پاچا سره به يې کار وسي دقلم په باره کې دالله تعالی فرمان دی (ن والقلم ومايسطرون، سورة ن: ۱ – ۲) ګواه دی قلم اوخه چې هغه ليکي. اوکه ووينې چې په لاس کې يې قلم را اخيستې دی دليل دی چې فاضل زوی به يې پيداسي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې قلم دده په لاس کې دی او څه باندې ليکي دليل دی چې څه به زده کړي دالله تعالی فرمان دی (علم الانسان ما لم يعلم، سورة العلق: ۵) انسان ته يې هغه څه وښودل کوم چې هغه نه پيژندل. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې قلم ليدل په پنځو وجو وي. ۱: امر حق تعالی ۲: فرښته ۳: دولت ۴: دکارونو حقيقت.

قليه \ ښوروا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې کومه ښوروا په اوبو کې پخه سوې وي هغه بغير داوبو دښوروا څخه ښه ده او څونه چې ښوروا مزيداره وي دهغه په قدر به نعمت ښه وي اوکه ښوروا دغتې غوا دغوښې وي او ده خوړلې وي دليل دی چې په دغه کال به دخوف اوبيرې څخه په امن کې وي او که ووينې چې ده دګډې يا دبزې دبچي دغوښې ښوروا خوړلې ده دليل دی چې لږ مال به حاصل کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ده داس دغوښې ښوروا خوړلې ده دليل

Maktaba Tul Ishaat.com

دی چي دپاچا څخه به په تکليف او سختي سره مال حاصل کړي اوکه داوښ دغوښي ښوروا يي خوړلي وی دليل دی چي دلوی سړی څخه به مال حاصل کړي اوکه دماهي دغوښي ښوروا يي خوړلي وي. دليل دی چي د ښځو په وجه به په مکر سره مال حاصل کړي اوکه خوب ليدونکي مفسد وي نو پر غم اوفکر دليل دی که ووينې چي دداسي حيوانانو دغوښي ښوروا يي خوړلي ده دکومو غوښه چي حرامه وي دليل دی چي حرام مال به خوري.

قمح \ ګرز

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي کوچني ګرز غلام يا مينځه ده او غټ ګرز ليدل دډکولو اله ده اوکه ووينې چي ده کوچني ګرز اخيستي دی يا چا ورکړي دی دليل دی چي خوب ليدونکي به کوچني غلام يا کوچني مينځه اخلي اوکه ووينې چي دده ګرزمات دي يا ورك سوي دی دليل دی چي دچا سره دده ناسته وه نو دهغه سړی دملګرتيا څخه به جلا سي اوکه ووينې چي دده ګرز دسپينو زرو وی نو دده به دنيك سړی سره صحبت وي اوکه داوسپني وي نو دده به دقوي اوبهادر سړی سره صحبت وي او دهغه څخه به خير اونفع حاصله کړي.

قند \ ګوړه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي ده قند خوړلي دی دليل دی چي په تادي سره به داسي کار کوي چي په هغه سره به پښيمانه سي اوکه ووينې چي چا دګوړي ټوکړه دده په خله کي ايښي ده دليل دی چي ده ته به بوسه ورکوي. اوکه ووينې چي قند يي په بوجي کي ايښي دی دليل دی چي دهغه په اندازه به مال حاصل کړي اوکه ووينې چي قند خرڅوي دليل دی چي ده ته به نقصان رسيږي او دقند اخيستل دهغه دخرڅولو څخه ښه دی.

قنديل \ فانوس

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلی دی چي په خوب کي بل کړی فانوس دعبادت توفيق دی خاصکر که صفا رڼا وي که په خوب کي ووينې چي دده په کور کي بل سوي فانوس رازړيږي دليل دی چي دپرهيزګاري اونيکي ښځي سره به واده کوي اوکه دا خوب ښځه ووينې نو اطاعت او عبادت به ډير کوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي روښانه فانوس ليدل په څلورو وجو وي ۱: واده کول ۲: دعبادت توفيق ۳: دبندوکارونو خلاصول ۴: او مړ سوي فانوس په خوب کي لږه نفع ده.

قنوت

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي څوك په خوب کي ووينې چي دعايي قنوت وايي دليل دی چي خلک به دده مدح اوصفت کوي اومراد به يي پوره سي. اوکه مصلح او پرهيزګار سړی يي په خوب کي ووايي دليل دی چي دهغه به ټول مرادونه پوره سي اوکه خوب ليدونکي مفسد وي دليل دی چي دبزرګ يا رئيس په ذريعه به دده دنياوی کارونه پوره سي.

قنينه \ بوتل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي بوتل خادم دی چي هغه ته دکور چابي حواله وي

اوکه ووينې چې دده سره بوتل دی او په هغه کې اوبه يا ګلاب يا داسې شي دی چې دهغه خوړل حلال وی او ده خوړلي وي دليل دی چې ده ته به دخادم څخه شي حاصل سي اوکه ووينې چې بوتل مات يا ورک سوی دی دليل دی چې دده خادم به تښتي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې بوتل خادم دی چې دهغه په لاس کې دکور ټول شيان دی.

قيامت

دقيامت په خوب کې دليدلو تعبير په حرف را (رستيخيز) لفظ کې تفصيلي بيان سوی دی.

قير\تارکول\ډمبر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کې ووينې چې دده سره تارکول دي دليل دی چې دهغه په اندازه به نعمت او روزي حاصلوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دده سره ډير تار کول دی او کور ته يې راوړي دی دليل دی چې دهغه په اندازه به کورته نعمت وړي اوکه ووينې چې دکور څخه يې دباندې اچولي دی د دې تعبير خلاف دی اوکه ووينې چې تارکول يې خوړلي دی دليل دی چې حرام شي به خوري او بعض اهل تعبير ويلي دی چې ده ته به غم رسيږي.

قی کردن\قيوهل\باقی،وهل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوک په خوب کې ووينې چې ده قی وهلي دی او په اساني سره يې قی وهلي دی دليل دی چې توبه به وباسي او که ووينې چې قی يې ونه سو وهلاي اوواپس خپل ځاي ته تللي دی دليل دی چې په توبه کې به تاخير کوي او انجام به يې عذاب وي اوبعضو ويلي دی چې ده ته به مصيبت او نقصان ورسيږي اوکه ووينې چې قي وهي او خوري يې دليل دی چې دبخل په وجه به پخپل عيال خرچ نه کوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې قی وهی او دهغه خوند تريو او ناخوښه وي دليل دی چې دتوبې ايستلو څخه وروسته به ګناه کوي اوکه ووينې چې دقی کولو په وخت کې دده دنس څخه څه شي په ژبه راغلي دی دليل دی چې ناجوړه به سي اوکه ووينې چې بلغم وتلي دی دليل دی چې دناجوړي څخه به شفا حاصله کړي اوکه ووينې چې ډيره وينه وتلي ده دليل دی چې مال به حاصل کړي اوکه ووينې چې ژړي اوبه وتلي دی دليل دی چې دغم څخه به په امن کې سي اوکه ووينې چې ژړي اوبه وتلي دی دليل دی چې هلاک به سي. جابرمغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی په خوب کې قی په شپږ وجو دی. ۱: توبه ۲: پښيماني ۳: نصرت ۴: دغم څخه خلاصون ۵: امانت واپس ورکول ۶: بند کارونه خلاصيدل اوکه چيري دی قی ووهي اوبيرته يې وخوري نو دليل دی چې چا ته به څه ورکړي او بيرته به يې ځني وانه خلي.

[ک - ګ]

کاچې (يو قسم خوراک)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوک په خوب کې ووينې چې ده دروغن کنجد اودروغن بادام

Maktaba Tul Ishaat.com

سره کاچي خوړلي دی نو دهغه په اندازه به خير اونفع حاصله کړي اوکه دروغنو او ګبين سره يي خوړلي وي نو دهغه په اندازه به خوشحالي حاصله کړي. اوکه دروغنو اومستو سره يي خوړلي وي نو لږ نفع به ورته حاصله سي اوکه دتريو شي سره يي خوړلي وي نو پرغم اوفکر او اندينې دليل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي دخوږ شي سره يي کاچي خوړلي دي دليل دی چي په اساني سره به ورته مال حاصل سي اوکه دتريو شي سره يي خوړلي وي نو دتريو والي مطابق پرغم اوفکر دليل دی.

کارد \ چاړه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي چاړه زوی دی او چاړي تيکي ښځه ده که په خوب کي ووينې چي دده په لاس کي چاړه ده او پيژني چي دا دده ده نو دده کره به زوی پيدا سي اوکه دچړي سره نوره وسله هم ووينې نو مرتبه اوبزرګي ده. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي وسله يي ټرلي ده اوپه لاس کي يي چاړه جوړول زده کړي نو دښو دليل دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي چاړه يي دتيکی څخه دباندي را ايستلي ده دليل دی چي ددده دښځي به زوی پيداسي اوکه ووينې چي چاړه په تيکي کي ماته سوي ده دليل دی چي ددده دپلار يادمور په خپلوانو کي به څوك مري اوکه ووينې چي خپل بدن يي په چاړه زخمي کړي دی دليل دی چي دبدن دزخم مطابق به ورته نقصان رسيږي اوکه ووينې چي په چاړه يي يو شي تراشلي دی دليل دی چي خير اونفع به حاصله کړي اوکه ووينې چي په چاړه کي سپور سوي دی يا زنګ باندي لګيدلي دی يا پکښې څه عيب ښکاره سويدی دليل دی چي ددده دمال نقصان به وسي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي چاړه ليدل په اوو جوده. ۱: دليل ۲: زوی ۳: کاميابي ۴: پناه ۵: ورور ۶: توانايي ۷: ولايت.

کارزار کردن \ جنګ کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي جنګ کول دطاعون مرض دی که څوك په خوب کي ووينې چي جنګ کوي نو دليل دی چي دطاعون دمرض بيره ده اوکه په جنګ کي يي دښمن مغلوب کړي وي نو دليل دی چي دمرض څخه به خلاص سي اوکه په جنګ کي دښمن پر ده غالب سوي وي نو دطاعون په مرض کي به هلاک سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي ووينې چي په ميدان کي دچا سره په توره جنګ کوي اويوپکښې خلاص سي نو پردښمني دليل دی او چاچي خلاصون حاصل کړي وي هغه ته په دوهم باندي دکاميابي حاصلولو دليل دی او که په نيزي سره جنګ کوي نو هم يي دغه تعبير دی اوکه په غشي ليندي سره جنګ کوي نوپه دوي کي به زباني خبري کيږي.

ګازري کردن \ دوبي توب کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي دوبي توب کوي حالانکه دوبي نه وي نو پر توبي دليل دی او دعبادت توفيق به حاصل کړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي کالي دپريولو په وخت خيري دي دليل دي چي توبه به ماتوي او که ووينې چي خيري کالي يي ګنډلي

دي دليل دی چي بيا به توبه کوي اوکه ووينې چي کالي يې په پريولو سره سپين سوي دي دليل دی چي دتوبې په وجه به خلاصون حاصل کړي اوکه ووينې چي کالي يې پريولي دی اوسپين سوي نه دي دليل دی چي هميشه به په ګناه کي اخته وي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دوبي داسي سړی دی چي دهغه دلاسه خيرات اونيکي دواړه دګناهونو دکفاري لپاره وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي دوبی داسي سړی دی چي دخلکو دزړونو څخه فکرونه او غمونه ليري کوي، ددې وجهې څخه اهل تعبير بيان کړي دی چي که څوک په خوب کي ووينې چي کالي پريولي دليل دی چي دغم او فکر څخه به خلاص سي اودګناهونو څخه به توبه وکړي خاصکر که کالي سپين سوي وي او خيري باندي پاته سوي نه وي.

کار دنيا کردن \ د دنيا کار کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوک په خوب کي ووينې چي ددنيا کار کوي نودا دده ددين پر فساد اونقصان دليل دی اوکه ووينې چي ددين کار کوي نو دا ددين پر صلاح او ددې دنيا پر نيکو احوالو دليل دی اوکه ووينې چي دده ددنيا کارونه ښه دی دليل دی چي دده مرګ نزدی سوي دی اوکه ددې خلاف ووينې نو دده عمر اوږددی اوکه ووينې چي په داسي کارکي مشغول دی چي ده ته يا بل چاته ځني نفع نسته دليل دی چي داسي کار به کوي چي په هغه کي به خير او نفع نه وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي دچا سره دکار لپاره تللي دی او په لاره کي ناست دی دليل دی چي دي ددين مخالف دی دالله تعالی فرمان دی (فرح المخلفون بمقعدهم خلاف رسول الله، سورة التوبة: ۸۱) وروسته پاته کيدونکي دنبی عليہ السلام په خلاف کښېنستلو سره خوشحاله سره.

کاروان \ قافله

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که په خوب کي ووينې چي دقافلي سره په لار کي دی اوقافلي والا مصلح او پرهيزګار دی نو دا دده دکار په خير اوصلاح دليل دی اوکه ووينې چي قافلي والا مفسد اوبد خويه دی نو تعبير يې ددې خلاف دی. اوکه ووينې چي سپور دی اوپوره سامان ورسره دی نو دليل دی چي ده ته به نعمت حاصل سي اوکه ووينې چي په قافله کي پياده دی او سامان ورسره نسته نو تعبير يې خلاف دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي د قافلي سره کورته راغلي دی دليل دی چي کارونه به باندي فراخ سي اوکه د دې خلاف ووينې دليل دی چي کارونه به يې بند سي.

کاريز \ داوبو نالي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوک په خوب کي پر معلوم ځای داوبو نالي ووينې دليل دي چي دخپلوانو سر به مکر اوحيله کوي دا تعبير هغه وخت دی کله چي دکاريز کښلو په وخت کي اوبه نه وزي اوکه اوبه وزي اوجاري سي نو دمقرره کاريز کښلو حکم دي په لحاظ کي وساتي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي دکاريز څخه اوبه اخلي دليل دی چي په

Maktaba Tul Ishaat.com

مکر اوحيلي سره به مال جمع کوي خاصکر که کاريز يي کښلي وي نو څونه چي اوبه واخلي دهغه په اندازه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي دکاريز څخه اوبه په منګي کي اچوي نو پر داسي مال دليل دي چي هغه به خرچ کوي اوکه ووينې چي کاريز ته ايله سوي دی دليل دی چي په مکر او حيله کي به راسي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي په کاريز باغ اوبه کوي دليل دی چي دخپلي ښځي سره به جماع کوي او په خوب کي کاريز ليدل داسي سړی ليدل دی چي ددنيا کار په چل او حيلي سره کوي.

کاسه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که دلرګي کاسه او په هغه کي دخوراک څه شي وي او ده خورلي وي نو دهغه په اندازه به په سفر کي حلاله روزي حاصله کړي او دټيکري کاسه په خوب کي روزي ده اوخالي کاسه عاجزي ده. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ چي دخوراک کاسه برکت اونفع والا خادم دی دچا په لاس چي خيرات کيږي او دصلاح په وخت دمال تقسيم وي اودسرو يا سپينو زرو کاسه چي دخوراک شي پکښې وي پر حرام رزق دليل دی اودسکي او دقلايي کاسه لږه مشتبه روزي ده او دشيشي کاسه هم پردي دليل لري او خالي کاسه پر فقيري دليل لری. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي په خپله پياله کي خوش ذايقه او خوږ شي لري دليل دی چي نعمت اومال به حاصل کړي اوکه ناخوښه اوتريو شي وي نو پر غم اوفکر دليل دی.

کاغذ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي کاغذ مال اوبزرګي دده که ووينې چي دده سره سپين اوپاک کاغذ دی دليل دی چي دهغه په اندازه به مال اوبزرګي حاصله کړي اوکه ووينې چي دده کاغذ په اوبو کي وروست سوي دی يا په اورکي سوزول سوي دی دليل دی چي دهغه په اندازه به يي بزرګي اومال کي نقصان وسي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي کاغذ علم اوپوه ده که خوب ليدونکي پرهيزګار وي او ووينې چي دده سره ډير کاغذونه دی دليل دی چي په فضل او علم کي به شهرت حاصل کړي اوکه خوب ليدونکي مفسد اوجاهل وي چي په فضل اوعلم کي به شهرت حاصل کړي اوکه خوب ليدونکي مفسد او جاهل وي نو ددې تعبير خلاف دی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي کاغذ ليدل په څلورو وجو وي ۱: ښځه ۲: عزت ۳: دولت ۴: مکر او حيله.

کافور

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي کافور ليدل دپاک نفس او حق لار او راستي دليل دی که چيري ووينې چي کافور سوزي او دهغه څخه خراب بوي راځي نو دليل دی چي نيکي به کوي او په هغه به احسان کوي اوکه ووينې چي دده سره لږ کافور دی دليل دی چي دخوشحالي زيري به باندي وسي اوکه په خوب کي ډير کافور پيداسي دليل دی چي ډير مال اونفع به حاصله کړي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي کافور په خوب کي په اووه وجو دی ۱: عالم سړی

۲: ښځه ۳: دوست ۴: ښايسته منځه ۵: مال او دولت ۶: تعريف او شاباسي اوښي خبري ۷: دنفس تابعدار کيدل.

کافور \ سپرغم (يو قسم بوټی)

ددي ګل او بوټي ژړ دی او ددې څخه دکافور خوشبويي راځي که په خوب کي ووينې چې کافور يا سپرغم يې کرلي دی نو دده مدح او ثنا به دټولو خلکو په ژبو وي اوکه ووينې چې کافور يا سپرغم يې ديو ځاي څخه ايستلي دی نو ددغه ځاي څخه به دده تعريف ختم سي اوکه ووينې چې خوړلي دی نو دغم اوفکر دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خپل وخت په خوب کي کافور يا سپرغم ليدل په درو وجو وي ۱: تعريف او شاباس ۲: لږ نفع ۳: پاکه خبره اوريدل.

کافر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې کافر دی دليل دی چې دده دين دکفر طرفته راغي او که ووينې چې داور او هوا عبادت کوي دليل دی چې دالله تعالی ګنهګار به سي اوکه ووينې چې په اور کی نور او شغلي دی دليل دی چې حرام مال به تلاش کوي او خپل دين به دحرام مال په بدله خرڅوي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي کافر ليدل په دروو وجو دی. ۱: دکفر طرفته رغبت ۲: دخلکو سره صحبت ۳: دبې عقيدو خلکو سره کښينستل او پر هغه دالله څخه رسوا کيدل.

کام \ تالو

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دده تالو او ددننه خله دونه غټه سوي ده چې مري دهغه دغټوالي څخه بنده سوي ده دليل دی چې په دنيا به حريص وي او دخلکو غيبت به کوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دده تالو لاندي شوندو ته رارسيدلي دی دليل دی چې کارونه به يې بند سي. اوکه ووينې چې دده تالو اوږد دی او هغه يې پريکړي او غورزولي يې دی نو دليل يې دادی چې حرص اولالچ به پريږدي او دخلکو غيبت به نه کوي.

کامه \ تروي اوبه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي هر قسمه تروي اوبه پر غم اومصيبت دليل لري که په خوب کي ووينې چې تروي اوبه يې چيښلي دی دليل دی چې دهغه په اندازه به ورته غم او فکر رسيږي اوکه ووينې چې چا ته يې تروي اوبه ورکړي دی او هغه چيښلي دی دليل دی چې هغه سړی به دده څخه خفه سي او غم اوفکر به يې کم سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي تروي اوبه چيښل په درو وجو وي. ۱: غم او فکر ۲: نقصان ۳: جنګ او بحث.

ګياه \ وانښه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې وانښه په خوب کي ليدل ډيرمال دی اونعمت دی خاصکر که دغنمو بوس وي اوکه ووينې چې دده سره ډير وانښه دی او کورته يې وړي دليل دی چې ډير حلال مال اونعمت به حاصل کړي اوکه داوربشو بوس ووينې نو تير سوي مفاد به کم حاصل

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دوښو اينښيدو ځاي ته تللي دی اوپيژني چې دا دده ځاي دی دليل دی چې مالدار به سي او ددواړو جهانونو مرادبه حاصل کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دوښو په ډيران کي اور لګيدلي دی او وانښه سوزل سويدی دليل دی چې پاچا به تاوان باندي اچوي او دده څخه به مال اخلي اوکه ووينې چې حيوانان دده وانښه خوري نو په کوشش سره به خپل مال ورك کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي وانښه ليدل په دريو وجو وي. ۱: حلال مال ۲: دژوند کسب ۳: دزړه مراد او خوشحالي.

کاهو \ ورخاړي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې خوږ ورخاړي دهغه په موسم کي خوري نو پر غم او اندينښني دليل دی اوکه ووينې چې ورخاړي تريخ دی نو پر نقصان او ضرر دليل دی او که ووينې چې ورخاړي تريخ وو اوښه نه وو نو دچا سره به بحث کوي.

کاورس \ باجره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې باجره خوري دليل دی چې مال او مراد به حاصل کړي او که ووينې چې دده سره ډيره باجره ده دليل دی چې دهغه په اندازه به مال په تکليف سره حاصل کړي اوکه ووينې چې باجره يې خرڅه کړي ده دليل دی چې نقصان به ورته ورسيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې دده سره باجره ده دليل دی چې لږ مال اولږ خير او نفع به حاصله کړي.

کاو \ غويي \ غوا

دانيال عليہ السلام ويلي دی که ووينې چې پر غوايي ناست دی او غوايي دده دی دليل دی چې دپاچا څخه به ورته کار ملاوسي او دهغه څخه به ډيره نفع حاصله کړي خاصکر که غويي تور وي اوکه ژړ وي نو دليل دی چې ناجوړه به سي اوکه ووينې چې غويي دده دکور څخه وتلي دی دليل دی چې الله تعالی به پرده دخير او رزق دروازی خلاصي کړي ليکن غم به دي نه پريږدی. اوکه ووينې چې دده سره ډير غوايان دی دليل دی چې دده به ډير غلامان وي اوهغه به دده په کار کي کوشش کوي اوکه ووينې چې غوايي په ښکر وهلي دی او دکور څخه يې دباندي کړي دی دليل دی چې ده ته به دغلامانو څخه نقصان رسيږي اوخپل ځان به معزول کړي. اوکه ووينې چې دده دغوايي دري سرونه دی او پرهر يوه سر يو ښکر دی دليل دی چې دهريوه ښکر په عوض کي به دده غلام يو کال کار کوي اوکه دهغه دبدن په اندامونو کي يو اندام زيات ووينې دليل دی چې دده کار به زيات سي اوکه نقصان پکښې ووينې نو تعبير يې خلاف دی ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي غويي کار دی او دده پوست دکار کوونکي ميراث دی او دده لکي او اخستل خرڅول يې هم کار کوونکي دی اوکه ووينې چې دغويي لکي يې کورته راوړي ده دليل دی چې ډير مال به حاصل کړي او روزي به يې فراخه سي اوکه پخپله کوڅه کي ډير غويان ووينې دليل دی چې سردار به سی او دده په کار کی په خير اوبرکت ښکاره سی. اوکه ووينې

چې دي غويي په ښکر وهلی دی او غورزولي يي دی نو که خوب ليدونکي کار کوونکي دی نو معزول به سي اوکه سوداګر وي نو پره نقصان دليل دی اوکه پاچا وي نو دملک څخه به ځي او که ووينې چې دي غويي په ښکر وهلي دی او را ايله سوي نه دی دليل دی چې څوك به پر ده شرف اوبزرګي حاصله کړي او دده په معزول کولو کي به کوشش کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که ووينې غويي يي ذبح کړي دی او دهغه غوښه يي خوړلي ده دليل دی چې دغويي مالک به مړ کړي او دهغه مال به اخلي اوکه ووينې چې پردی غويي يې مړ کړي دی دليل دی چې يو څوك لوی سړی به په دغه ځای کي مري اوکه ووينې چې غوايان په يوي کي دی دليل دی چې بې اندازي مال به ورته حاصل سي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دغويي سره جنګ کوي دليل دی چې دده به دسردار سره جنګ کيږي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي غويي کال دی که غوا ووينې دليل دی چې په دغه کال کي به فراخي او نعمت وي اوکه غوا مانده وي نو تعبير يي خلاف دی او دغوا غوښه په دغه کال کي مال او فراختيا ده اوپوست يي ذخيره ده اوکه ووينې چې دغوا څخه يي شيدي اخيستي دی او چيښلي يي دی دليل دی چې مال به يي زيات سي اوکه داخوب غلام ووينې نو ازاد به سي اوکه فقير يي ووينې نو مالدار به سي اوکه ازاد يي ووينې نو په خلکو کي به بې نيازه سي اوکه ذليل يي ووينې نو عزتمند به سي اوکه ووينې چې دده غوا حملداره ده نو پر اميد واري دليل دی. حافظ معبر رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دځورب او چاغ غوايي غوښه يي اخيستي ده دليل دی چې په دغه کال کي به دمالداري ښځي سره واده کوي اوکه ووينې چې دغوا څخه يي شيدي اخيستي دی او چيښلي يي دی دليل دی چې ډير مال به جمع کوي او دهغه څخه به پخپله نه خوراک نه کوي. اوکه ووينې چې غوا دده سره خبري کوي دليل دی چې ژوند به يي فراخ سي اوکه ووينې چې غواده ته راغله دليل دی چې دغه کال به پرده مبارک سي اوکه ووينې چې غوا مخ ځني اخستی دي دليل دی چې دغه کال به په ده خراب وي اوکه ووينې چې پر غوا سپور وو او را ايله سو دليل دی چې حال به يي متغير سي اوکه ووينې چې دغوا سره جنګ کوي دليل دی چې په ملك کي به دچا دښځي سره جنګ کوي اوکه ووينې چې پر دغه مځکه غواګاني لوټ کيدي دليل دی چې په دغه کال کي به مال اونعمت حاصل کړي اوکه ووينې چې غوا خوله باندي لګولي ده دليل دی چې عيال به ورسره خيانيت کوي اوکه ووينې چې غوا نابېره د ده کور ته راغله دليل دی چې نابېره به مال حاصل کړي اوبې غمه به سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي دغوا ليدل په شپږو وجو وي ۱: حکومت ۲: مال ۳: بزرګي ۴: رياست ۵: نيکي ۶: نيك کال.

ګاو دشتي \ ځنګلي غوا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي ځنګلي غوايي مالدار سړی يا ډير مال دی اوکه ووينې چې ده په ښکار کي ځنګلي غوايي نيولي دی دليل دی چې دهغه په اندازه به مال او نعمت حاصل کړي اوکه ووينې چې دوه ځنګلي غوايان د يوبل سره جنګ کوي دليل دی چې

Maktaba Tul Ishaat.com

دوه بدکار به دیوبل سره جنګ کوي او ځنګلي غواپه تعبیر کي ښځه ده اوکه ووینې چې دځنګلي غوا غوښه یې خوړلې ده دلیل دادی چې دښځو په وجه به مال حاصل کړي اوکه ووینې چې دځنګلي غو ابچي یې نیولي دی دلیل دی چې زوی به یې پیداسي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چې دځنګلي غوایي غوښه خوري دلیل دی چې قوت او دولت به حاصل کړي اوکه ووینې چې دځنګلي غوایي ډیر ښکرونه دی دلیل دی چې دهر یو ښکر په عوض کي به ورته دولت اوقوت حاصل سي.

ګاومیش \ میږه

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې په خوب کي میږه عزت والا سړی دی چې خلکوته ځني فایده وي خاصکر که دده تابعداره وي.

ګاو چشم (یو قسم وانښه)

ګاو چشم دیو قسم وانښه نوم دی داپه خوب کي نیکه مینځه لیدل دی ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ښځه ووینې چې ګاو چشم یې کالي وشکوله او خاوند ته یې ورکړه نو دلیل دی چې ښځي ته به طلاق ورکړي اوکه ووینې چې غلام ته یې ورکړه غلام به تښتي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که په خپل موسم کي ووینې نو دده کره به زوی پیداسي اوبې موسمه بد دی اوکه مړاوي وي نو زوی به یې ناجوړه سي اوکه زوی نه وي نو دی به غمجن به سی.

ګاوزبان (یو ډول دوا)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کي ګاوزبان خوړل جنګ دی او د دې په خوړلو کي او لیدلوکي خیر نسته.

ګوشت پخته \ پخ کړي غوښه

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې پخ کړي غوښه دکبابو څخه ښه ده که ووینې چې دچیلي دغوښې کباب یې خوړلي دی دلیل دی چې دلوی سړی څخه به نفع وي اوکه ووینې چې دځنګلي ځناور دغوښې کباب یې خوړلي دی دلیل دی چې دمشرانو څخه به ورته خیر او نفع حاصله سي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې پخ کړې غوښه او دغوښې کباب پر نفع دلیل دی.

کبر (یو بوټي)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که څوك ووینې چې کبر جمع کوي دلیل دي چې غمجن به سي خاصکر که په وخت وي اوکه ووینې چې کبر خوري دلیل دی چې دده غم او فکر به زیات سخت وي او دکبر په خوړلو کي هیڅ قسم نفع نسته.

ګبر شدن \ اتش پرست کیدل

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې که په خوب کي ووینې چې اتش پرست سوي دی دلیل دی چې اخرت به پریږدي او ددنیا طلبګار به سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چې اتش پرست سوي دی او په اتش کده کي یې ځاي اخیستي دی دلیل دی چې خوب لیدونکي به

دبدعتيانو او بي دينو په صحبت کي اوسيږي او دنفس دخواهشاتو او داهل فساد تابع به وي اوکه ووينې چې داتش پرستي څخه پښيمانه سو اومسلمان سو دليل دی چې دګناه څخه به توبه وباسي او دالله تعالی طرفته به رجوع وکړي او په کار خير کي به مشغول سي.

کبک\زرک\زرکه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي زرک ښايسته ښځه يا ښايسته مينځه ده که په خوب کي ووينې چې ده زرکه نيولي ده دليل دی چې ښځه به کوي اوکه ووينې چې چا ورته زرکه بخشش کړي ده دليل دی چې ده ته به ښايسته ښځه کوي اوکه ووينې چې دزرک ښکار يې کړي دی دليل دی چې ښايسته مينځه به حاصله کړي اوکه ووينې چې دزرک غوښه يې خوړلي ده دليل دی چې لوي لباس به ورته حاصل سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ده دزرکي مري خفه کړي ده دليل دی چې دمنځي پيغلتوب به ماتوي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې نر زرک زوی دی اوښځه زرکه ښځه او يا موافقه مينځه ده که ووينې چې زرکه دده څخه الوتلي ده دليل دی چې ښځي ته به طلاق ورکوي يا به دده مينځه تښتي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي زرکه ليدل په څلورو وجو وي. ۱: هلک ۲: دوست ۳: قربانيدل۴: دزړه مطلب او مراد.

کبوتر\کوتره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کی کوتره ښځه يامينځه ده که څوک په خوب کي ووينې چې ده کوتره نيولي ده دليل دي چې ښځه به کوي او دده کره به انجلي پيدا کيږي اوکه ووينې چې ډيري کوتري يې نيولي دی دليل دی چې دهغه په اندازه به ښځي کوي يا به مينځه اخلي اوکه ووينې چې ده دکوتري غوښه خوړلي ده دليل دی چې دښځو دمال څخه به فايده اخلي اوکه ووينې چې دکوتري بچي يې نيولي دی دليل دی چې د ښځو څخه به نفع حاصله کړي او بعض اهل تعبيرو بيان کړي دی چې دکوتري بچي غم اوفکر دی چې ده ته به دښځي دطرفه رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دده په کور کي ډيري کوتري دی دليل دی چې دده به ډير زامن وي او وايي چې ده ته به دښځو دطرفه ډير مال حاصل سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي کوتري ازادي ښځي دی که ووينې چې دچا کوتري يې په حيله سره نيولي دی نو دهغه په اندازه به مال په مکر او چم سره حاصل کړي اوکه ووينې چې کوتره دهوا څخه دده خواته راغله او دده تابعداره ده دليل دی چې دنامعلوم ځای څخه به ورته نفع حاصله سي اوکه ووينې چې ده کوتري ته دانه ورکړي ده دليل دی چې ښځي ته به دخير تلقين کوي اوکه ووينې چې ډيري کوتري جمع سوي دی اودي پيژني چې دده دی نو دا پر سرداري او رياست دليل دی او په خوب کي سپينې کوتري دنورو په نسبت ښه دي اوکه ښځه په خوب کي شنه کوتره ووينې دليل دی چې خاوند به کوي يا به يې لور پيداسي او په خوب کي کوتربازي بيهوده کار دی او وايي چې په خوب کي دکوترو کوټه دښځو ځای دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي کوتره ليدل په پنځو وجو ده. ۱: ښځه ۲: مينځه ۳: مال

Maktaba Tul Ishaat.com

۴: دغايب خط ۵: رياست او اهل تعبير بيان کړي دی چي دکوترو په خوب کي ليدل دهري يوی کوتري په عوض په ويښه يو درهم پيدا کول دی.

کتاب خواندن \ کتاب ويل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که څوك په خوب کي ووينې چي دتفسير کتاب وايي دليل دی چي ددين لاري او پرهيزګاري طرفته به مايل سي اوبند کارونه به باندي خلاص سي اوکه ووينې چي دفقهي کتاب وايي دليل دی چي دناکاره کارونو څخه به منع سي اوکه ووينې چي دتاريخ کتاب وايي دليل دی چي دپاچا په نزد به صاحب رايه سي اوکه ووينې چي داصولو کتاب وايي دليل دی چي په داسي کارکي به مشغول سي چي نفع به په تکليف سره حاصله کړي اوکه ووينې چي دتوحيد کتاب وا يي دليل دی چي دعلمايي دين سره به مشغول سي او دي به داسي کار وکړي چي په هغه سره به ددين فايده وي اوکه ووينې چي دفضايلو تسبيح او دتهليل کتاب وايي دليل دی چي دده پر ژبه به دخير او صلاح خبري جاري سي اوکه ووينې چي دقيصو کتاب وايي دليل دی چي د اولوايي کرامو او انبياوو عليهم السلام په خبرو به حرص کوي که ووينې چي د نجوم کتاب وايي دليل دی چي دجهان صلاح به ورته حاصله سي اوکه ووينې چي دنحو او ادابو کتاب وايي دليل دی چي ددنيا په کارکي به مشغول سي او خلک به دده ثنا او صفت کوي اوکه ووينې چي درسايلو کتاب وايي دليل دی چي دواده په صلاح کي به مشغول سي اوکه ووينې چي دطبايع کتاب وايي دليل دي چي دشيانو په طلب اودهغه په پيژندګلو کي به مشغول سي. اوکه ووينې چي دشعر کتاب وايي که غزل او مدح وي نو دليل دی چي په داسي کار کي به مشغول سي چي خلک به يي ملامت کړي اوکه نعمت اوتوحيد وايي دليل دی چي نيک به سي اوکه ووينې چي دتعبير کتاب وايي دليل دی چي پر سردار باندي به ديوي غټي خبري احسان کوي او دهغه څخه به څه حاصل کړی اوکه ووينې چي کتاب دعوة وايي دليل دی چي په داسي عمل کي به مشغول سي چي خلک به ورته هوښيار وايي ليکن ددين فايده به يي نه وي اوکه ووينې چي دحساب کتاب مصاحب او قضا وايي دليل دی چي په سفر به ځي اونفع به حاصله کړي اوکه ووينې چي دحساب کتاب وايي دليل دی چي هميشه به غمجن وي اوکه ووينې چي دخندا او فساد کتاب وايي دليل دی چي دټولو کارونو څخه خراب کار به کوي اوکه ووينې چي دبدي او غيبت کتاب وايي دليل دي چي دخلکو عيبونه به لټوي او په دي کي به بد نام سي.

کتان \ السي دوا

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي السي حلال مال دی اوکه ووينې چي د السي تخم خوري دليل دی چي ټول مال به حاصل کړي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي السي ليدل په درووجو وي: ۱: حلال مال ۲: نفع ۳: شرارت.

کتف \ اوږه

اوږه په خوب کي صبر او دسړی ښايست دی ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي دده

اوږه سمه ده نو پر مال او دنيايست پر زياتوالي دليل دی او که اوږه ماته اوکمزوري ووينې نو ددې تعبير ددې خلاف دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که اوږه قوي اوسمه ووينې نوامانت به ادا کوي اوکه ددې خلاف ووينې نو بد ديانتي به کوي اوکه ووينې چې دده پر اوږه ډير ويښته دي دليل دی چې دده پر ذمه به امانت او دخلکو حق وي اوکه اوږه دويښتو څخه صفا ووينې دليل دی چې امانت به ادا کوي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چې که ووينې چې دده پر اوږه ويښته نسته نو دنامعلوم ځای څخه به مال حاصل کړي.

کتيرا \ ګوند \ کنډ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که په خوب کې ووينې چې دده سره کتيرا دی يا چا ورکړي ده دليل دی چې دهغه په اندازه به دبخيل پاته سوي مال حاصل کړي اوکه ووينې چې کتيرا خوري دليل دی چې مال به خوري. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې کتيرا په دروو وجو ده ۱: دخلکو پاته سوي مال ۲: لږه نفع ۳: داسې کار به کيږي چې دهغه څخه به خوب ليدونکي ته فايده وي.

ګچ \ چونه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې چونه جنګ دی که ووينې چې چا ورته چونه ورکړي ده دليل دی چې په جنګ کې به راستي کوي اوکه ووينې چې ده چاته چونه ورکړي ده نو د دې تعبير داول خلاف دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې چونه سختي ده او کوم انسان چې په چونه جوړ کړي ووينې نو دټول بدن د اور کېدو دليل دی ځکه چې چونه په اور پخيږي اوکه ووينې چې چونه يې خورلي ده دليل دی چې دده دمرګ بيره ده.

کحال \ رانجه خرڅوونکی

په خوب کې رانجه خرڅونکي ليدل دتيرو سوو کارونو پر صلاح دليل دی اودهير سوي کارونو يادول دی که ووينې چې رانجه خرڅوي او دده دواړو دسترګو لپاره فايده مند دي دليل دی چې خلک به دنيکو کارونو طرفته رابلي او خلکو ته به دده څخه فايده حاصله سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې رانجه خرڅوي دليل دی چې جلا سوي، دوستان به جمع کوي او په خلکو کې به دنيکي لار ګوري اوکه دده دارو فايده مند نه وي نو ددې تعبير داولني خلاف دی.

ګدايي کردن \ خير غوښتل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې خير غواړي دليل دی چې ده ته به خير اونفع زياته وي او دهر چا سره به په مزي سره ژوند تيروي ليکن خلک به يې ملامتوي اوکه ووينې چې دخلکو پر دروازو خير غواړي او څوک ورته څه نه ورکوي دليل دي چې دده کار به بند سي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې خير غوښتل په څلورو وجو دی ۱: خيرات ۲: نفع ۳: ژوند ۴: عزت اومرتبه.

Maktaba Tul Ishaat.com

کدو \ کډو

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي دکدو پر موسم پخپل کورکي دکدو بوټي ووينې دليل دی چي عزت اومرتبه به يې زياته سي اوکه ناجوړه وي نو شفا به حاصله کړي که غلام وي نو ازاد به سي که کافر وي نو مسلمان به سي اوکه مسافر يې ووينې نو په سلامتي سره به خپل وطن ته واپس راسي اوکه فاسق يې ووينې نو توبه به وباسي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي دده سره کدو دی دليل دی چي دپرهيزګاري ښځي څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي ده دکدو بوټي دبيخه ايستلي دی دليل دی چي دسرداري ښځي څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي پوخ سوي کدو يې خوړلي دی دليل دی چي مراد به يې پوره سي او دطاعت توفيق به حاصل کړي.

دګرمي دانې \ ګرمکي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي ګرمکي مال اوخواهش دی که څوك په خوب کي ووينې چي دده پر بدن ګرمکي ښکاره سوي دی او لږ خارښ کوي اوپه هغه کي نو دی دليل دی چي مال به په تکليف سره حاصل کړي جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چي دده پربدن ګرمکي وي او ټولي ختمي سوي دی دليل دی چي دده جمع کړه سوي مال به ورك سي اوبعض اهل تعبير بيان کړی دی چي که دده بدن ګرمکي او تور دی نو پر حرام مال جمع کولو دليل دی.

کرباسو \ نولي

نولي په خوب کي ليدل داسي سړی دی چي په خلکو کي فساد اوشور او شر اچوي ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که څوك په خوب کي ووينې چي ده نولي نيولي دی دليل دی چي يو سردار به يې ځان ته نزدی کړي اوکه ووينې چي دده څخه نولي تښتيدلي دی دليل دی چي يو څوك مفسد به دده دخوا څخه تښتي اوکه ووينې چي نولي يې وژلي دی دليل دی چي ددغه مفسد حال به تباه سي اوکه ووينې چي دنولي غوښه يې خوړلي ده دليل دی چي دمفسد سړی څخه به حرام مال خوري.

ګربه \ پيشي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي پيشي فسادي غل دی که څوك په خوب کي ووينې چي معلومه پيشي دده کورته راغلي ده دليل دی چي مشهور غل به دده کورته راځي او که نامعلومه پيشي ووينې نو نامعلوم غل به وي اوکه ووينې چي دکور څخه يې څه شي خوړلي دی يا وړي دی دليل دی چي غل به دده دکور څخه څه شي وړي اوکه ووينې چي پيشي يې وژلي ده دليل دی چي غل به وژني يا به يې مغلوب کوي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي دپيشي غوښه يې خوړلي ده دليل دی چي دهغه په اندازه به ورته دغله مال حاصل سي اوکه ووينې چي دپيشي سره جنګ کوي او پيشي دی نوکاري کړي دی دليل دی چي ناجوړه به سي اوکه پيشي يې مغلوب کړي وي دليل دی چي دناجوړي څخه به شفا حاصله کړي او که دي پشي خوړلي وي دليل دی چي ناجوړي به يې اوږده سي اوبعض اهل تعبير بيان کړي

دی چي پيشي په تعبير کي خادم دی. دانيال عليه السلام ويلي دی چي کوم سړی پيشي په خوب کي دسهار څخه مخکي ووينې نو هغه به شپږ ورځی ناجوړي وي اوکه غلام په خوب کي ووينې چي ده دپيشي څخه شيدي لوشلي دی او وبي چيښل نو ازاد به سي او دکوم کور څخه چي ازادي حاصله کړي ديوي ښځي سره به واده کوي اوکه ازاد ووينې چي دپيشي شيدي يې چيښلي دی دليل دی چي دده به دچا سره جنګ کيږي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي پيشي په اوو وجو وي. ۱: غل ۲: چغل خور ۳: نوکر ۴: ناجوړي ۵: مهربانه ښځه ۶: حاسد ۷: جنګ او شر.

کرته\کرتی

کرته کوچني کالي چي په عربی کي ورته قرطق وايي دا په خوب کي اغوستل دسفر قوت دی که کرته شنه وي نو ديو سړی څخه به پناه اوقوت حاصل کړي. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي ده سپينه کرته اغوستي ده دليل دی چي دغم اوفکر څخه به خلاصون حاصل کړي اوکه ووينې چي ژړه کرته يې اغوستي ده نو پر ناجوړي دليل دی اوکه ووينې چي ده اسماني رنګه کرته اغوستي ده دليل دی چي پر ده مصيبت راځي اوسره کرته ددنيا پر عيش او عشرت دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي ده دريښمو کرته اغوستي ده دليل دی چي دلوی سړی څخه به شرف اوبزرګي حاصله کړي لکن په دين کي به کمزوري وي اوکه ووينې چي کرته سوزل سوي يا ورکه سوي ده نو دده په پناه اوقوت کي به نقصان وسي. جعفرصادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي کرته ليدل په څلورو وجو وي. ۱: قوت ۲: پناه ۳: سفر ۴: دکارونو بندوبست.

کرد\دوړه

ددې تعبير په حرف غين کي بيان سوي دی.

کردن\څټ

دانيال عليه السلام ويلي دی چي په خوب کي څټ ليدل دامانت او ددين ځاي دی که ووينې چي دده څټ غټ سوي دی دليل دی چي دی به دامانت په ادا کولو کي قوي او ددين په حفاظت کي به دياندار وي که ووينې چي دده څټ لنډ اوکمزوری دی دليل دی چي په امانت ادا کولو کي به عاجز سي اوکه ووينې چي مار دده پر څټ پيچل سوي دی دليل دی چي دمال زکوة نه ورکوي دالله تعالی فرمان دی (سيطوقون ما بخلوا به يوم القيمة، سورة آل عمران: ۱۸۰) ترجمه: ددوي په څټونو کي به دقيامت په ورځ طوق اچول کيږي ددوي دبخل په وجه اوکه خپل څټ دروند ووينې حالانکه دده پر څټ څه شي نه وي نو دليل دی چي ناجوړه به سي اوکه ووينې چي دده پر څټ بوج دی او ده ته دروند نه معلوميږي نو دا ددين پر درستي اوپر اوږده عمر دليل دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي دده څټ قوی او غټ سوي دي دليل دی چي امانت به په ښه رقم سره ادا کوي اوپه کار کي به قوي سي اوکه خپل څټ اوږد ووينې دليل دی چي دده

Maktaba Tul Ishaat.com

پرذمه به امانت ډیر وخت وي او دخپلي ګواهي څخه به منع سي اوکه خپل څټ لنډ وويني دليل دی چي دخپلي ذمي څخه به امانتونه ژر ليري کړي اوکه خپل څټ تور وويني نو په امانت کي به خيانت کوي اوکه خپل څټ مات سوي وويني دليل دی چي دخپل مراد څخه به منع سي او دده په دين کي به خلل راسي ځکه چي هيڅ امانت ددين څخه لوی نه دی اوکه پرخپل څټ وينښته وويني دليل دی چي دامانت ادا کولو په وجه به قرضداره سي اوکه دخپل څټ څخه وينښته وخريي دليل دی چي قرض به يي خلاص سي اوکه دڅټ څخه غوښه پري سوي وويني دليل دی چي دچا مال به دده سره وي اوهغه به ورک سي اوکه څټ لنډ وويني دليل دی چي په امانت کي به خيانت کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که وويني چي دخپل څټ غوښه خوري نو ددې تعبير خلاف دی اوکه وويني چي دچا پر څټ ناست دی نو پر دښمن به کاميابي حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي څټ ليدل په پنځو وجو وي. ۱: امانت ۲: توانايي ۳: خيانت ۴: قرض ۵: ناجوړي.

ګردن بند \ ګلوبند \ غاړه بند

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که وويني چي دده سره دسپينو ملغلرو ګلوبند دی دليل دی چي الله تعالی به ورته علم ورکړي او څونه چي دګلوبند ملغلري رڼا کوي علم اوپوهه به يي هغونه زياته وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که وويني چي دده ګلوبند دسرويا سپينو زرو دی او بيش قيمته ملغلري پکښي پېيل سوي دي دليل دی چي شرف اوبزرګي به حاصله کړي. او ممکنه ده چي دده پر ذمه به امانت وي اوکه دده ګلوبند اوږد سوي وي دليل دی چي امانت به ادا کوي اوکه وويني چي دده ګلوبند لنډ سوي دی دليل دی چي په امانت کي به خيانت کوي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که وويني چي ده خپل ګلوبند دملغلرو څخه پېيلي دی يا پېيل سوي ګلوبند دده په غاړه کي دی دليل دی چي ولايت اومرتبه به حاصله کړي اوکه دده ګلوبند اوږد وي نومرتبه به حاصله کړي اوکه لنډ کي وي نو تعبير يي داولني خلاف دی اوکه وويني چي دده سره ډير ګلوبندونه دي نو په علم کي به ډير کامل سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دسرو زرو ګلوبند ليدل په شپږو وجو دی. ۱: حج ۲: ولايت ۳: جنګ ۴: امانت ۵: علاج ۲: مينځه. او دسروزرو ګلوبند حج دی او دسپينو زرو ګلوبند مينځه ده.

ګردن زدن \ څټ وهل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که وويني چي دده څټ پريکړه سوي دی او دده سر دبدن څخه جلا سويدی که غلام وي نو ازاد به سي که ناجوړه وي نوشفا به حاصله کړي که قرضدار وي نو قرض به يي اداسي که په بيره کي وي نو په امن کي به سي اوکه کافروي نو مسلمان به سي اوکه دڅټ پريکيدو په وخت دده سر دبدن څخه جلا سوي نه وي نو ددې تعبير د اول خلاف دی اوکه څټ پريکوونکي معلوم سړی وي نو کوم شي چي لوړ بيان سوي دی دڅټ پريکوونکي څخه به ده ته رسيږي اوکه پريکوونکي ماشوم اونابالغ وي دليل دی چي که ناجوړه وي نو مري

به ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څټ پريكوونكي سړی تندرست ازاد اومالدار وي دليل دی چي دنيك بختي څخه به په بدحالي كي راسي او مال او نعمت به ځني ليري سي اوكه فقير وي نو دده دكارونو انجام هلاكت دی غرض داچي دفقيرانو اوخواري كښو په خوب كي څټ پريكول نيك دی او دمالدارو او صاحب نعمت لپاره بد دی.

گرده \ پښتورگي

گرده په خوب كي پټ مال دی چي ده ته به ملاويږي او خرچ كوي به يي اوكه ووينې چي دده سره ډير پښتورگي پاخه او سره كړي دی دليل دی چي دهغه په اندازه به پټ مال حاصل كړي اوكه دده سره دحلال ځناور پښتورگي وي نو پر حلال مال دليل دی اوكه دحرامو ځناورو پښتورگي وي نو پرحرام مال دليل دی ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي پښتورگي پيدا كول پټ مال دي اوبعض اهل تعبير بيان كړي دی چي په خوب كي پښتورگي زوی دی ځكه چي دزوی سرمايه مني ده چي دپښتورگو څخه وځي اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه و ويني چي ده دآس پښتورگي پخ كړی دي او خوړلي يي دی دليل دی چي دلوی سړی څخه به مال حاصل كړي اوكه ووينې چي دده سره دغويي پښتورگي دی دليل دی چي مال اونعمت به حاصل كړي اوكه ووينې چي دده سره دبزي پښتورگي دی دليل دی چي په دغه كال به ددښمن څخه مال اونعمت حاصل كړي اوكه ووينې چي ده اومه پښتورگي خوړلي دی دليل دی چي حرام مال به حاصل كړي اوكه ووينې چي دده سره پښتورگي دی او خوړلي يي نه دی نوداولني په نسبت يي فايدي كمي دی.

گردون \ گاډی \ موټر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه ووينې چي په گاډي كي ناست دی او گاډي ښه چليږي دليل دی چي شرف اوعزت به حاصل كړي اوكه ووينې چي گاډي بغير دغوايانو ولاړدی او دی په گاډي كي دی دليل دی چي په غم سختي اوناجوړي كي به راسي اوكه ووينې چي پاچا ورته دخپلو گاډيانو څخه يو گاډی وركړي ده دليل دی چي خوب ليدونكي به دپاچا څخه مرتبه او عزت حاصل كړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي گاډي ليدل په اتو وجو دی. ۱: ولايت ۲: عزت اومرتبه ۳: لوړوالي ۴: بزرگي ۵: هيبت ۶: خوشحالي ۷: پورته والي ۸: په كارولو كي اساني.

گرسنگي \ لوږه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي لوږه دمړيدو څخه ښه ده اوپه اوبو موړوالي دتندي څخه ښه دی اوكه ووينې چي وږی دی او دخوراك څه شي ورسره نسته دليل دی چي ده ته به ددنيا په مال كي حرص اولالچ كم وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه ووينې چي وږي وو او څه يي وخوړل او مړ سو دليل دی چي دگناه څخه به توبه كوي او چي څه يي خوړلي وي اوهغه خوږه اومزه دار وي دليل دی چي پر توبه به ثابت قدم وي اوكه تروه اوبي خونده وی نو پر توبي ماتولو او پر گناه دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب كي لوږه په

Maktaba Tul Ishaat.com

څلورو وجو ده ۱: نقصان ۲: حرص۳: جرم اوګناه ۴: دخلکو څخه طمع لرل.

کرسۍ\چوکۍ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې کرسي ليدل علم دی او دعقل دخاطره دا رقم ضرور دی چې الله تعالی په قران مجيد کې ويلي دی (وسع کرسيه السموات والارض، سورة البقرة: ۲۵۵) اودهغه کرسي ترمځکي او اسمانونو پراخه او خپره ده ابن عباس رضي الله عنه ويلي دي چې دکرسي څخه مراد علم دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چې کرسي دالله تعالی قدرت او حد دی اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چې دکرسي تعبير دادی چې کامل اوعاقل به سي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چې دکرسي تعبير مطبع امام دی يا پرهيزګار زاهد باکماله دی يا عادل او هوښيار پاچا دی ځنګه چې په حديثو کې ذکر سوي دی دليل دی چې داهل دينو او عالمانو لپاره نيک دی او خوب ليدونکي به دعادل پاچا څخه خير اونيکي وينې او مال به يې زيات سی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې کرسي ليدل په شپږو وجو دی. ۱: عدل ۲: انصاف ۳: عزت اوشرف ۴: مرتبه ۵: ولايت ۲: قدر اوعزت. که څوک ووينې چې په اسمان کې پرکرسي ناست دی دليل دی چې دده کار به لوړ سي او قدر عزت اومرتبه به حاصله کړي اوټولو مرادونو ته به ورسيږي اوپه خلکو کې به بزرګ عزيز اومکرم سي او په مخلوق کې به عدل او انصاف ښکاره کړي اوکه هغه کرسي کومه چې ترکان يا نجار جوړوي په خوب کې ووينې دليل دی چې خوب ليدونکي به ښځه کوي اوکه ووينې چې غټه اوپاکه کرسي يې اخيستې ده اوپر هغې ناست دی دليل دی چې ښځه به کوي اودهغه څخه به مال اونعمت حاصل کړي. اوکه ووينې چې پرکرسي ناست دی دليل دی چې پيغله ښځه به کوي اوکه ووينې چې کرسي تړده لاندی ماته سوي ده دليل دی چې ښځه به يې مري اوکه ووينې چې دده کرسي زړه او کوچنې ده دليل دی چې دده ښځه به ذليله عاجزه او فقيره وي اوکه ووينې چې ده سره کرسي ده او ناست باندې نه دی دليل دي چې دخدمت لپاره به کورته يو ښځه راولي.

کرفس(يو ډول دوا)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې که په خوب کې ووينې چې ده کرفس په موسم دهغه کې خوړلي دی دليل دی چې غمجن به سي اوکه ووينې چې کرفس ورسره دی او خوړلي يې نه دی دليل دی چې ده ته به نقصان کم وي ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې کرفس په درو وجو دی. ۱: غم اوفکر ۲: په دنيا کې جنګ ۳ : مکروه شي خوړل.

کرک

کرک يو مرغه دی د دې تعبير په ښځې سره کوي که مسافر کرک په خوب کې ووينې دليل دی چې ښځه به کوي يامينځه به اخلي اوکه ووينې چې کرک دده دلاسه څخه الوتلي دی دليل دی چې ښځې ته به طلاق ورکړي اوکه ووينې چې کرک يې وژلي دی او دهغه غوښه يې خوړلي ده نو دهغه په اندازه به دښځې څخه ميراث حاصل کړي.

ګرګس\ټپوس

ټپوس مردار خور مرغه دی ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی چې ټپوس دمرغانو سردار دی اوقوي او تیز دی او په مرغانو کې ډیر عمر والادی که ووینې چې دده سره ټپوس دی دلیل دی چې دبزرګ سړی څخه به نفع حاصله کړي اودپاچا څخه به مال او درخواست حاصل کړي او دټپوس دهډوکي یا دسری کړي غوښې هم دغه تعبیر دی. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چې ټپوس دی نیولي دی او اسمان ته یې نژدی بیولي دی دلیل دی چې لیرې سفر به کوي اوډیر مال اونعمت به حاصل کړي لیکن دده په دین کې به فساد وي اوکه ووینې چې دي ټپوس دهوا څخه راغورزولي دی نو دشرف او بزرګي څخه به را ایله سي اوکار به یې خراب سي اوکه ووینې چې ټپوس دی اسمان ته خیژولي دی او دي هلته مقیم سوي دی دلیل دی چې په سفر به ځي اوهلته به مری اوکه بیا واپس مځکې ته راغلي وي نو دپاچا څخه یا دپاچا داهل څخه یا به دخپلوانو څخه بزرګي حاصله کړي او په خوب کې بغیر دپنجو ټپوس دفرشتو لیدل دی ځکه چې حاملین عرش فرشتي دټپوس په شکل دی اوکه ووینې چې ټپوس دده پرسر باندې ښکار کوي دلیل دی چې خوب لیدونکي به سوداګري کوي اوکه ووینې چې دي دټپوس سره جنګ کوي او پر ده غالب سوي دی دلیل دی چې دلوی سړی سره به جنګ کوي او هغه به باندې غالب کیږي اوکه د دې خلاف ووینې نو دښمن به مغلوب کړي. اوکه په خوب کې دټپوس بچي ووینې که ښځه لري نو زوی به یې پیدا سي او که ښځه نه لري نو دمالداري پیغلي انجلي سره به واده کوي اوکه ووینې چې پر ټپوس ناست دی نو دلیل دی چې دی به پانسي کیږي. دانیال علیہ السلام ویلي دی که ووینې چې په کوڅه کې ټپوس راکښته سوي دی دلیل دی چې هلته به پاچا کښته کیږي اوکه ووینې چې په کوڅه کې یې ټپوس وژلی دی دلیل دی چې ددغه ملك پاچا به معزول یا هلاک سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کې ټپوس لیدل په شپږو وجو وي. ۱: بزرګي ۲: حکم ۳: ریاست ۴: ثنا اوتعریف ۵: مرتبه ۶: امر ونهي کول.

ګرګ\لیوه

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کې لیوه درواغجن او ظالم پاچا دی که ووینې چې دلیوه سره جنګ کوي دلیل دی چې دده به دباچا سره یا دبل چا سره جنګ کیږي اوکه ووینې چې دلیوه شیدي یې چیښلي دی دلیل دی چې ده ته به ترس او بیره وي یا دیو کار پوره والي به په ده سره وي او که ووینې چې دلیوه غوښه یې خوړلي ده دلیل دی چې دهغه په اندازه به د ظالم پاچا څخه مال اونفع حاصله کړي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چې لیوه یې وژلي دی دلیل دی چې مسلمانان به مخ ځني اړوي او هیڅ خیر به یې نه وي اوبعض وایي چې دښمن به مغلوب کړي اوکه ووینې چې دلیوه سر یې پیدا کړي دی یا چا ورکړي دی نو شرف او بزرګي به حاصله کړي اوکه ووینې چې لیوه دده کورته راغلي دی اونقصان یې کړیدی دلیل دی چې ده ته به دپاچا څخه نقصان رسیږي اوکه ووینې چې نقصان یې نه دی کړي نو دمهربانه پاچا څخه به نفع حاصله کړي اوپاچا به دده میلمه سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چې

Maktaba Tul Ishaat.com

لیوه دده په بستره کي پټ سوي دی دلیل دي چي پاچا به دده دعیال سره فساد کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کی لیوه لیدل په درو وجو وي. ۱: ظالم پاچا ۲: درواغجنه ښځه ۳: که ښځه لیوه وي نوکمزوري دښمن دی.

ګرمابه \ حمام \ غسل خانه \ تشناب \ بات روم

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي حمام غم اوفکر دی اوخپل ځان پریول واده او خوشحالي ده اوترمي اوبه ښې دی او سختي ګرمي اوبه بدي دی اوکه ووینې چي حمام ته تللي دی اوغسل یې کړیدی او خپل ځان یې ښه پرېولي دی دلیل دی چي دغم اوفکر څخه به خلاص سي اوکه ووینې چي حمام ته تللي دی اوغسل یې نه دی کړي نو دښځو دطرفه څخه به دده زړه ته غم اوفکر رسیږي ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي حمام ته تللي دی او ځان یې په چونه ښه صفا کړي دی دلیل دی چي دبیري څخه به په امن کي سي اودغم څخه به خلاص سي او دناجوړي څخه به شفا حاصله کړي اودقرض څخه به خلاص سي اوکه مالدار وي نو ددې فایدو څخه به محروم وي او په مال کی به یې نقصان وسي اوکه ووینې چي چونه یې مړلي ده او غسل یې نه دي کړي نو کار به یې پوره نه سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي حمام ته تللي دی اومخ لاس او بدن یې پریولي دی او دباندي راوتلي دی دلیل دی چي دغم څخه به خلاص سي اوکه ووینې چي په کوڅه یا کورکي حمام دی دلیل دی چي هلته به بې حیا ښځه ښکاره سي اوکه ووینې چي حمام ته تللي دی اودغسل محتاج نه دی دلیل دی چي غمجن او قرضدار به سي اوکه ووینې چي حمام ته ولاړي اوغل دده کالي وړي دی اودي لځ سو نو دیو کار په وجه به غمجن او رسواسي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي حمام لیدل په شپږو وجو وي. ۱: ښځه ۲: غم اوفکر ۳: دین ۴: ناکاره والي ۵: دوست ۶: قرض. او حمام والا په تعبیر کي ښځه ده اوبعض اهل تعبیر بیان کړي دی چي دکور مالک دی. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي دحمام والا کار کوي که سړی وي نومالداره ښځه به کوي او دښځي په کارونو کي به مشغول سي اوکه ښځه وي نو ددې صفت خاوند به کوي.

کرمان \ چینجی

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که په خوب کي ووینې چي دده په نس کي ډیر چینجي دی او دده دنس څخه خوراك کوي دلیل دی چي دنورو عیال به دهغه مال راوړل غواړي اوکه ووینې چي اوږده چینجي دده پر بدن پراته دی او دده پر بدن ډیر چینجي دی دلیل دی چي ډیر مال عیال او دولت به ورته حاصل سي اوکه ووینې چي چینجي یې دخپل بدن څخه غورزولي دی دلیل دی چي خپل عیال به دځان څخه لیري کړي او دهغوی خبر به نه اخلي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي دده دبدن ډیره حصه چینجو خوړلي ده دلیل دی چي دده عیال به دده مال خوري اوکه ووینې چي چینجو دده بدن ته نقصان رسولي دی دلیل دی چي ده ته به یې دخاندان څخه نقصان اوضرر رسیږي اوکه ووینې چي دده دپزي یا غوږ یا خلي یا دپاخاني دسوري څخه چینجي وتلي دی دلیل دی چي مال اوعیال به یې زیات سي اوکه ووینې چي چینجي دده دبدن

څخه راوزي اومري دليل دی چي دده عيال به هلاک سي يا به دده څخه جلاسي اوکه ووينې چي ډير چينجي دده دکور وغيره دچت څخه را ايله کيږی نو دليل دی چي دهغه په اندازه به مال او نوکران حاصل کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي چينجي ليدل په درو وجو وي. ۱: عيال ۲: نوکران ۳: غوښتلي مال.

کره افګندن \ غوټه ورکول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي تار ته يې غوټه ورکړي ده دليل دی چي په کوم کار بروسه کوی دهغه څخه به ليري سي اوکه ووينې چي دتار غوټه يې بيا خلاصه کړي ده دليل دی چي په هغه کار به بروسه نه لري اوکه ووينې چي يو شي يې مضبوطه غوټه کړيدی دليل دی چي تر يرځه وخت پوري به په هغه شي کي انتظار وي او دارقم چي ژر به نه سي خلاص که څه هم هغه شي ددنيا سره تعلق لري يا ددين سره تعلق لري. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي غوټه ورکول دکارونو دبنديدو دليل دی او څونه چي غوټه سخته وي هغونه به دکارونو بنديدل سخت وي اوکه ووينې چي غوټه نه سي خلاصولاي دليل دی چي دده کار به بند وي.

ګرو کردن \ ګانړه کول \ ګرو ورکول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي په يو ځاي کي ګانړه دی يا يې خپل بدن په يو شي کي ګانړه کړي دی دليل دی چي پخپلو کړو ګناهونو باندي به بيربيږي اوکه ووينې چي خپل زامن او عيال يې دچا سره ګانړه کړي دی دليل دی چي پرده به ظلم اوبې انصافي کيږي اوکه ووينې چي خپل ځان يې دچا سره ګانړه کړي دی دليل دی چي مظلوم به وي اوممکنه ده چي څوک به باندي ظلم کوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که ووينې چي خپل ځان يې ګانړه کړي دی نو دا ددين پر فساد دليل دی دالله تعالی فرمان دی (کل نفس بما کسبت رهينة، سورة المدثر: ۳۸) ترجمه: هر يو نفس په خپل کسب کي ګانړه دی اوکه ووينې چي ددنيا څه شي يې دچا سره ګانړه کړيدی دليل دی چي دچا سره به دسامان په باره کي خبري کوي اونقصان به حاصل کړي.

کروبه (يو ډول تخم)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي دده سره کروبه ده دليل دی چي غمجن او فکرمند به سي اوکه ووينې چي کروبه يې خوړلي ده دليل دی چي دچاسره به جنګ کوي او غم به ورته رسيږي ځکه چي ددې خوند تريخ او ناخوښه دی.

ګريختن \ تښتيدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي تښتيدل خلاصون دی که څوک په خوب کي ووينې چي ددښمن څخه يا دخوړونکي حيوان څخه تښتيدلي دی دليل دی چي دشر او بيري څخه به په امن کي سي اوپر دښمن به کاميابه سي ځکه چي موسی علیہ السلام په خوب کي ليدلي وو چي دوي دفرعون ملعون څخه تښيدلي دی بيا دوي دفرعون دشرارت څخه خلاصون حاصل کړي او اخير

Maktaba Tul Ishaat.com

دوي کاميابي باندي حاصله کړه. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ددښمن څخه پټ سوي او تښتيدلی دی او دښمن يې ليدلي دی دليل دی چې فکر مندبه سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې خلک تښتي دليل دی چې ده ته به دلوی سړی څخه تهمت حاصل سي دالله تعالی فرمان دی (يوم ترونها تذهل كل مرضعة عما ارضعت، سورة الحج: ۲) ترجمه: په کومه ورځ چې ته يې ووينې نو هره يوه شيدي ورکوونکي به خپل بچي هير کړی اوکه ووينې چې سړی دښځو څخه تښتي که ښځي مصلحه اوپرهيزګاره وي نو پربدي دليل دی اوکه مفسدي وي نو پرنيکي دليل دی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي تښتيدل خوشحالي ده په شرط د دې چې په هغه ځای کي به دغم اومصيبت اواز وي.

ګريستن\ژړل

که په خوب کي ووينې چې دده پر مخ د ژړا ننبي دی دليل دی چې دنيك کار په وجه به ورته خلک پيغور ورکوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي ژړل دخوب ليدونکي لپاره خوشحالي او دالله تعالی بخشش دی که په خوب کي ووينې چې دګناه يا دعلم په محفل يا دقران په ويلو کي يې ژړلي دی يا په بله موقع چې د دې سره مشابه وي نو دالله تعالی پر کرم دليل دی چې پخپل فضل سره به پر ده رحمت کوي او دده ګناهونه به وبخښي اوکه ووينې چې ژړلي يې دی او اوښکي دده دسترګو څخه نه دی تللي دليل دی چې دتير سوي کار په نه کولو به افسوس کوي اوتوبه به وباسي اوکه ديو کړل سوي کار په مصيبت يې بغير دزاري څخه ژړلي وي نو خوشحالي اوراحت به حاصل کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ژړلي يې دی اوبيا يې خندلي دی دليل دی چې دده مرګ نزدی دی دالله تعالی فرمان دی (هو اضحكك وابكى، سورة النجم: ٤٣) ترجمه: هغه تا خندوي او ژړوي.

کری\کونډ کيدل

کونډ کيدل په خوب کي فقيري بدحالي اوعاجزي ده ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې کونډ کيدل ددين تباهي غم اوفکر دی او کارونه به باندي بند سي اومراد به يې پوره نه سي دالله تعالی فرمان دی (صم بكم عمى فهم لا يرجعون، سورة البقرة: ۱۸) کانډه دی ګونګيان دی او ړانده دي او دوي رجوع نه کوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي کونډ کيدل بې نوايي او دکارونو پر بنديدو دليل دی اوکه ووينې چې په غوږونو اوري نو دکارونو په خلاصولو دليل دی او دزړه مراد اومقصد ته به ورسيږي او دالله تعالی درحمت څخه به حصه حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي کونډ کيدل په څلورو وجو وي. ۱: فقيري ۲: ددين تباهي ۳ : غم او فکر ۴: دکارونو بنديدل او نامرادی.

ګڼ\د شهدو ګبين\ګبين

دشهدو ګبين په خوب کي منافق او بې خبره سړی دی اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چې په

خوب کي دشهدو ګبين حلاله روزي ده چي مخلوق ته بغير دڅه احسان څخه حاصليږي دالله تعالى فرمان دى (وانزلنا عليكم المن والسلوى، سورة البقرة: ۵۷) اومورږ پر تاسو من اوسلوى راوليږل. اوكه ووينې چې په ګبين كې ډير شهد دى او خوړلې يې دى او چاته يې وركړې نه دى دليل دى چې ده ته به حلال مال رسيږي او دهغه څخه به خير وينې اوكه د دې خلاف ووينې دليل دى چې ددغه مال څخه به ورته خير اوخوشحالي نه رسيږي.

كزاكند\ريښمي كالي\وريښمين كالي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى كه څوك په خوب كې ووينې چې ريښم يې اغوستي دى دليل دى چې ښځه به كوي او پر دښمانو به غالب كيږي اوكه داخوب ښځه ووينې دليل دى چې خاوند به كوي او دهغه څخه به خير اونفع حاصله كړي. جابر مغربى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى كه ووينې چې ده دريښمو كالي اغوستي دى دليل دى چې مالداره او پرهيزګاره ښځه به كوي اوكه په خوب كې ووينې چې شنه ريښم يې اغوستي دى دليل دى چې مصلحه اوپرهيزګاره ښځه به كوي اوكه سره يې اغوستي وي نو عيش پرسته ښځه به كوي اوكه تور وي او خوب ليدونكي قاضي يا خطيب وي نوپر نيكي دليل دى اوكه نوي وى نو هغه ښځه به ګنهګاره وي اوكه زاړه وي نو هغه ښځه به پليته او ناكاره وي.

كژدم\لړم\عقرب\بيچو

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې په خوب كې لړم كمزوري دښمن دى چې خلک تنګوي او دهغه په نزد دوست او دښمن برابر دى اوكه څوك په خوب كې ووينې چې لړم چيچلي دى دليل دى چې دښمن به ورته بدرد وايي اوپه هغه سره به غمجن سي اوكه ووينې چې ده لړم وژلي دى دليل دى چې پر دښمن به كاميابه سي اوكه ووينې چې لړم دوژلو څخه بيرته بيا ژوندي سو اوده ته تكليف وركول غواړي دليل دى چې په دښمن به كاميابه سي اوبيا به دښمن دده مقابله كوي اوكه ووينې چې دده په لاس كې لړم دى دليل دى چې ازارى به وي اوپه خلكو پسې به خبرې كوي او په خلكو كې به جنګ اوفتنه اچوي. اوكه ووينې چې لړم يې پوخ كړي يا وريت كړي او خوړلې يې دى دليل دى چې ددښمن مال به خوري اوكه ووينې چې لړم يې په خوله كې ايښي دى اوخوړلې يې دى دليل دى چې دښمن دده په كوركي دى اودده سره ناسته پاسته ساتي اوكه ووينې چې لړم دده په كالو كې دى نو همدغه دغه تعبير يې دى. جابر مغربى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى كه ووينې چې دلړم څخه بيريدلي دى او دي لړم چيچلي دى دليل دى چې ددښمن څخه به ورته غم حاصل سي اوبعض اهل تعبير بيان كړي دى چې دښځې سره به جماع ونه سي كړاي اوكه ووينې چې لړم دده په قميص كې دى دليل دى چې ددښمن څخه به ورته نقصان رسيږي اوكه ووينې چې لړم دده په پرتوګ كې دى دليل دى چې دښمن به دده دعيال يا دده دمينځې سره فساد كوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دى چې په خوب كې لړم ليدل په درو و جو دى. ۱: دښمن ۲: حاسد ۳: عيب پيدا كولو والا.

Maktaba Tul Ishaat.com

کژدم خوره \ لړم خوړونکی حیوان

ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کې کژدم خوره عقلمند عاجز بردبار با ارام او خوږ ژبانه دښمن دی اوهغه په دښمني کې سخت دی اوکه وویني چې لړم خور چیچلي دی نو دپورته ذکر سوي قسم دښمن څخه به په امن کې وي اوکه وویني چې یو شي دلړم خور په ډول وو اودي ځني بیریدلي دی دلیل دی چې څوك به دښمن ګڼي حالانکه هغه به دده دښمن نه وي.

ګرز \ ګاجره

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کې ګاجره غم او اندیښنه ده اوکه څوك په خوب کې وویني چې ګاجره یې اخیستي ده او خوړلي یې دي نو غم به ورته رسیږي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلی دی که وویني چې ګاجري خوږي دی نو پر لږ غم دلیل دی اوکه ګاجره په غوښه کې پخ کړي وخوري نو پر نفع دلیل دی چې په غم او سختي سره به حاصله سي اوبعض اهل تعبیر بیان کړي دی چې په خوب کې ګاجره خوړل ناجوړي ده او دسري کړي ګاجرو لیدل هم ښه نه دي او ښه هغه دی چې په خوب کې ګاجره په غوښه کې پخه سوي وي.

ګزیدن \ چیچل \ خوړل

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که په خوب کې وویني چې دی چا خوړلي دی دلیل دی چې دده مینه او محبت به دهغه په زړه کې زیاته وي اوکه وویني چې چا دی په غصې اودښمنۍ سره خوړلي دی دلیل دی چې ته به دهغه څخه نقصان رسیږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که وویني چې خر دی خوړلي دی دلیل دی چې دی به په خطره کې وي اوکه اوښ خوړلي وي نو ده ته به دسفر څخه نقصان وي اوکه غوایي خوړلي وي نو په دغه کال کې به ورته نقصان رسیږي اوپه خوب کې دټولو درندګانو خوړل په څلور وجو وي. ۱: نقصان ۲: دښمن ۳: جنګ ۴: مال اومرتبه.

کشتي ګرفتن \ پرزول کول \ غیږ ایستل \ کشتي کول

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که په خوب کې وویني چې دچا سره یې پرزول کړي دی اوهغه یې را پرزولي دی دلیل دی چې حال به یې نیك سي او پر هغه به غالب سي اوکه وویني چې پخپله را ایله سوي دی نو د دې تعبیر داول څخه خلاف دی اوکه په پرزولو کې دواړه برابر وو نو ددواړو خیر اوشر به برابر وي لیکن په ښکاره به دیو بل سره مینه کوي.

کاسني (یو ډول هندي بوټی)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ او جابرمغربی رحمۃ اللہ علیہ دواړو ویلي دی چې په خوب کې کاسني غم اوفکر دی.

کشت‌ورز \ زمینداري \ باغواني \ کښتګر \ کښتګري

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چې په خوب کې زمینداري پر الله تعالی توکل او حلاله روزي ده نیکي اوفاضل نیك صورته سړی دی اوکه وویني چې دتخم کرلو لپاره یې مځکه اړولي ده دلیل دی چې خیرات اوصدقې به ورکوي او ددي فن استاذانو ویلي دی که وویني چې دزمینداري کار کوي نو پر ناجوړي دلیل دی. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که وویني چې مځکه یې

اړولي ده اوتخم يي پکښي اچولي دی او بيايي جمع کړي دی دليل دی چي بزرګي نعمت او مرتبه به حاصله کړي اوکه ووينې چي تخم يي کرلي دی اوباران باندي سويدی نو څه چي مونږ بيان کړي دی هغه به ښه اوډير ښه وی اوکه ووينې چي دکرلو څخه ورته څه نه دی حاصل سوي او دا هم معلوم نه وي چي باران څنګه وي نو پرغم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چي باجره يي کرلي ده نو دليل دی چي لږمال به حاصل کړي. دانيال عليه السلام ويلي دی که ووينې چي پخپله مځکه کي يي تخم کرلي دی دليل دی چي ښځه به کوي اوکار به يي سم سي اوکه سوداګر خپله مځکه ناکرلي ووينې نو دليل دی چي نقصان به وينې يا به دچا سره جنګ کوي اوکه ووينې چي نامعلومه مځکه يي کرلي ده اوتخم يي پکي کرلي دی دليل دی چي په جهاد کولو او خيرات او صدقو ورکولو به خواهشمند وي اوکه خپله مځکه کرل سوي ووينې دليل دی چي نعمت به باند فراخه سي اوکه غنم يا اوربشي يا درختي يي پخپله مځکه کي کرلي وي نو چي څونه يي کرلي وي هغونه پر عزت اومرتبي دليل دی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي زمينداري ليدل په پنځو وجو ده ۱: حلاله روزي طلب کول ۲: خير او نفع حاصلول ۳: ناجوړي ۴: عزت او مرتبه ۵: ژوند.

کشت زار \ پټی \ کښت

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي دکرل سوي پټي راپاريدل چي معلوم وي اوپه معلوم ځاي کي يي پخپل موسم ووينې نو دخلکو پر زامنو دليل دی اوکه ووينې چي پټي يي ريبلي دی دليل دی چي خلک به په جنګ کي مړه کيږي. دانيال عليه السلام ويلي دی که ووينې چي په معلوم پټي کي دی دليل دی چي ددين او دنيا دښووالي عمل به کوي اوکه ووينې چي پټي يي وکرل اوويي ريبل او غله يي ځني واخيستل دليل دی چي ارمان به يي پوره سي اوکه ووينې چي په پټي کي روان دی دليل دی چي دغازيانو سره به جهاد ته ځی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلی دی چي په خوب کي دپټي ريبل پر جنګ دليل دی اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی که ووينې چي پټي ته تللي دی او خلکو شين ريبلي دی دليل دی چي په مصارفو کي به ځي اوکه ووينې چي په پټي کي اور لګيدلي دی او هر څه يي سوزلي دی دليل دی چي په دغه ملك کي به قحط راځي. اوکه ووينې چي خپل پټي اوبه کوي دليل دی چي دده دلاسه به داسي کار کيږي چي په هغه سره به يي ددين او ددنيا نفع وي اوکه ووينې چي اور راغلي دی او پټي يي سوزلي دی دليل دی چي دپاچا څخه به ورته نقصان رسيږي اوکه ووينې چي پټي ته يوه لويه واله راغلي دی دليل دی چي په دغه ملك کي به قحط اوتنګي وي اوکه ووينې چي دغنمو دوړو څخه پر مځکه داني غورزيدلي دی دليل دی چي دهغه په اندازه به دپټي والا نقصان کيږي اوکه نه پيژني چي دغه پټي دچا دی دليل دی چي نقصان به دخوب ليدونکي کيږي دالله تعالى فرمان دی: ﴿نسائكم حرث لكم فأتوا حرثكم انى شئتم، سورة البقرة: ۲۲۳﴾ ستاسو ښځي ستاسو پټي دی څنګه چي راتلل غواړئ ورته راځئ. اوکه پټي په موسم کي شين ووينې دليل دی چي په دغه ملک کي به نعمت فراخ وي اوکه مځکه دده وي دليل دی چي مراد به يي پوره سي اوکه پر

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت پټي وريبي اووړي کورته راوړي نو پهر مصيبت دليل دی اوکه ووينې چي ددوستانو سره پټي ته تللي دی دليل دی چي جهاد ته به ځي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي پوخ پټي ريبل دهغه موسم پر ښه والي او نفعي دليل دی اوکه کچه اوشين وي نو پر ناجوړي دليل دی. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي پر وخت پټي ريبل دليل دی چي دالله تعالی حکم به پر ځاي راوړي او دفقيرانو په حق کي دخيرات پر توفيق دليل دی دالله تعالی فرمان دی (واتوا حقه يوم حصاده، سورة الانعام: ۱٤۱) ترجمه: دريبلو پر خپل وخت دهغه حق ادا کړئ. که داسي وسي چي ليدلي يي وی اوريبلي يي وی دليل دی چي انجام به يي ښه وي.

کشتن\وژل\قتلول\مړ کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي څوك يي وژلي دی او سر يي ځني پريکړي دی دليل دی چي دمالدار سړی څخه به ورته خير او نيکي رسيږي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي قاتل به پر مقتول باندي ظلم کوي اوکه ووينې چي دي چا وژلي دی دليل دی چي عمر به يي زيات سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي دی چا وژلي دی نو پر خير اونفع دليل دی اوکه ووينې چي ديو ټولګي خلکو په ظلم سره وژلي دی دليل دی چي عمر به يي زيات سي او دپاچا څخه به ورته خير اونفع رسيږي دالله تعالی فرمان دی (ومن قتل مظلوما فقد جعلنا لوليه سلطانا فلا يسرف فی القتل، سورة الاسراء: ۳۳) ترجمه: او څوك چي قتل کړل سو په ظلم سره نو مور دهغه ولي ته غلبه ورکړيده چي هغه به په قتل کي زياتي نه کوي. اوکه ووينې چي څوك يي په ظلم سره وژلي دی دليل دی چي ګنهګار او ظالم به وي او الله تعالی به پر ده څوك مقرر کړي چي دی به تنګوي دالله تعالی فرمان دی (ولا تقتلوا اولادكم، سورة الانعام: ۱۵۱) ترجمه: او خپل اولاد مه قتلوي. اوبعض وايي چي پر زامنو ظلم کول هرقسم ددنيا عزت دی اوکه ووينې چي څوك يي ووژي او دهغه دبدن څخه وينه وبهيده نودهغه په اندازه به مال حاصل کړي اوکه دهغه بدن په وينو خراب ووينې دليل دی چي دخپل مال څخه به هغه ته څه ورکوي او که ووينې چي وينه بهيدلي ده دليل دی چي دقاتل دين به برباد سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي حيوان يا دمځکي چينجي وغيره يي وژلي دی دليل دی چي پر دښمن به کامياب سي او څوك چي ددغه حيوان طرفته منسوب وي هغه به مغلوب کړي اوقاتل په وينو خراب ليدل بي وفا اوظالم سړی ليدلي دی.

کشتي\کښتۍ\آبګوټ

دانيال عليہ السلام ويلي دی چي په خوب کي کشتي ليدل غم اوفکر يا قيدخانه ده يا داسي کار دی چي دهغه په کولو سره به ورته غم او تکليف رسيږي خاصکر که کشتي ددرياب څخه دباندي نه وي وتلي يا په درياب کي پاته سوي وي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي په کشتي کي دی او دهغه ځاي څخه په سلامتي سره دباندي وتلي دی دليل دی چي دغم څخه به يي

خلاص سي دالله تعالى فرمان دى (فانجينه ومن معه فى الفلك المشحون، سورة الشعراء: ۱۱۹) ترجمه: اومورِ هغه ته اودهغه ملګرو ته په ډکي کشتي کي خلاصون ورکړ. اوکه ووينې چي کشتي په درياب کي تباه سوه دليل دى چي ديو قوم دلاسه به هلاک سي اوکه ووينې چي دده کشتي پر مځکه پاته سوي ده نو په غم اوفکر کي به ګرفتار سي او ژر به ځني خلاص سي. اوکه ووينې چي کشتي غرقه سوي ده او دي سلامت پاته سوي دى دليل دى چي مال به يې ورک سي او پخپله به بچ سي اوکه ووينې چي کشتي ماته سوي ده او هرڅه غرق سوي دى دليل دى چي لوى مصيبت به باندې راځي اوکه ووينې چي په کشتي کي پر لوړ ځاي ناست دى او کشتى په اوبو کي روانه ده دليل دى چي په سفر به ځي اوکه ووينې چي کشتياني ولاړي دى دليل دى چي په سفر به ځي او ډير وخت به پکښې وي بلکه په دغه سفر کي به مقيم سي اوکه ووينې چي په کشتى کي ناست دى او ښه هوا راغلي ده اوکشتي په ښه شان سره چلوي دليل دى چي دغمونو او فکرونو څخه به خلاص سي اوکه ووينې چي کشتي ولاړه ده او دهر طرف څخه څپې راځي دليل دى چي ده ته به سختي پيښه سي او دهلاکت بيره به ورته وي دالله تعالى فرمان دى (وجاءهم الموج من كل مكان، سورة يونس: ۲۲) ترجمه: او پر هغوي دهر طرفه داوبو څپې راغلې. اوکه ووينې چي کشتي مخکې روانه ده او دي ورته رسيدلي نه سي دليل دى چي په مشکل کار کي به راسي او اخر به خلاصون حاصل کړي دالله تعالى فرمان دى (فانجيناه واصحاب السفينة، سورة العنكبوت: ۱۵) ترجمه: مورِ هغه ته اوکشتي والا ته خلاصون ورکړ. او که ووينې چي په کشتي کي څه شي نه وو او خالي رواني وي دليل دى چي پاچا به سفيران يوځاى ليږي. اوکه ووينې چي کشتى غرقه سوي ده دليل دى چي دغه سفيران به خلک انتظاروي. جابر مغربى رحمة الله عليه ويلي دى که ووينې چي کشتي په درياب کي غرقه سوي ده او پيژني چي دغه کشتي دده څخه وه دليل دى چي ده ته دهلاکت بيره نسته. اوکه ووينې چي په کشتي کي ناست دى او دپاچا څخه بيريږي دليل دى چي دپاچا مقرب به سي اودکشتي دغټ والي مطابق به ورته نفع حاصله سي اوکه په کشتي کي په امن سره ناست وي دليل دى چي دپاچا څخه به ورته بيره وي اوکه ووينې چي کشتي ددرياب بيخ ته تللي ده دليل دى چي دپاچا څخه به ورته ډير قوت وي اوکه ووينې چي کشتي نه چليږي نو تعبير يې خلاف دى. اسماعيل اشعث رحمة الله عليه ويلي دى که ووينې چي په کوچنى کشتي کي ناست دى اوهغه په درياب کي نه سي تللي دليل دى چي غم اوفکر به ورته زيات وي اوکه ووينې چي کشتي په اوبو کي روانه ده دليل دى چي په سفر به ځي اوژر به بيرته راځي اوکه خپله کشتي پر وچه ولاړه ووينې نو په يو کار کي به عاجز سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب کي کشتي ليدل په اتو وجو ده. ۱: زوى ۲: پلار ۳: سپرلي ۴: خوشحالي ۵: امن ۶: عيش ۷: مالدار.

کشف \ شمشتي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چي په خوب کي شمشتي ليدل پرهيزګار عالم دى چي دهغه په

Maktaba Tul Ishaat.com

صحبت کي نفع ده که څوك په خوب کي ووينې چې دده سر شمشتي ده يا دده کورته راغلي ده دليل دی چې دده به دپرهيزګار سړی سره صحبت وي اوکه ووينې چې دشمشتي غوښه يې خوړلې ده دليل دي چې دهغه په اندازه به علم حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چې شمشتي دغوشيانو په ځاي کي ده دليل دي چې په عام صحبت کي به حاضر سي. او که شمشتي يې په جماعت يا دعزت په ځاي کي ليدلي وي دليل دی چې پرهيزګاربه سي او دده به دعالمانو اوپرهيزګارو اوبزرګانو په نزد حرمت وي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کي شمشتي ليدل په درو وجو ده. ۱: پرهيزګار ۲: عالم سړی ۳: هغه سړی چې په کارونو کي کاريګري کوي.

کشکاب \ جوشانده

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که څوک ووينې چې دعناب او بنفشي جوشانده يې دچيني سره چيښلي ده نو لږ حلال مال به ورته حاصل سي او دزړه څخه به يې غم اوفکر ليرې سي اوکه ووينې چې جوشانده يې ونه چيښله نو ددې تعبير داول خلاف دی.

کشمش \ وڅکي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کي کشمش په مال اونعمت دليل دی که ووينې چې دده سره کشمش دی يا چا ورکړي دی او ده خوړلي دی دليل دی چې هغونه خيراونفع به هغه سړی ته رسوي اوکه ووينې چې دکشمش څخه يې اوبه ايستلي او چيښلي دي که عالم وي نو علم به يې نور زيات سي اوکه سوداګر وي نو مال به يې زيات سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چې دده سره دکشمشو ډيران دی که عالم وي نو دده دمال پر زياتيدو دليل دی اوکه کاريګروي نوده ته به پوره مال په کسب سره حاصل سي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کي کشمش ليدل په درو وجو دی. ۱: نفع ۲: حلال مال ۳: کسب.

کشنيز \ ګشنيز \ دنيا

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چې دده سره دنيا وي او خوړلې يې ده دليل دی چې ده ته به دهغه په اندازه علم او فکر وي.

کعب \ د پښې ګيټۍ \ بجلکه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کي ګيټې ليدل پر مقام باندي تعبير لري که ووينې چې دګيټې سره بازي کوي نو په جنګ دليل دی اوکه ووينې چې دده سره ډير ګيټې دی دليل دی چې هغونه به ورته غم اوفکر وي اوکه ووينې چې دده دپښې ګيټې مات دی دليل دی چې زوی به يې مري يا به ورته غم رسيږي اودګيټو تعبير جنګ مکر اوحيله دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلی دی چې دګيټو سره بازي کول پر حقير او ذليله دښمن او پر جنګ دليل دی جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کي ګيټې په پنځو وجو ده ۱: مقام ۲: ښځه ۳: زوی ۴: مال ۵: خبري دالله تعالی قول دی (وكواعب اترابا وكاسا دهاقا، سورة النبأ: ۳٤) او ځواناني همزولي ښځي او

پيالي دشرابو ډکي. اوکه حلالي غوښي دخاروي دګيتي دځان سره ووينې نو پر حلال مال باندې دليل دی اوکه برعکس يعني مخالف ووينې نو دحرام مال دليل دی.

کعبه شريفه \ بيت الله \ خانه کعبه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې په خوب کی کعبه شريفه ليدل خليفه داسلام ليدل دي اوچې په کعبه شريفه کې څه زياتي يا نقصان ووينې هغه به په خليفه داسلام کې وي اوکه ووينې چې دکعبې شريفې طواف يې کړي دی نو دده ددين پرصلاح دليل دی او خليفه داسلام به خوشحالي حاصله کړي اوکه ووينې چې احرام يې تړلي دی او مخ يې دکعبې طرفته دی نو دده دصلاحيت پر زياتوالي دليل دی اوکه ووينې چې دده کور کعبه سوي ده اوخلک يې زيارت ته راځي دليل دی چې دامانت حفاظت به کوي او عزت اومرتبه به حاصله کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که پاچا ووينې چې کعبې ته تللي دی دليل دی چې دخليفه څخه به بزرګي حاصله کړي اوکه ووينې چې کعبه را ايله سوه يا سوزل سوي ده دليل دي چې دخليفه حال به خراب سي اوکه ووينې چې ده دکعبې څخه يو شي راخيستي دی نو دخليفه څخه به ورته فايده وي اوکه لمونځ يې پکښې کړي وي نو دخليفه ګانو څخه به دده کار ښه سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې دکعبې اصل ايمان اومسلماني ده اوکه خپل ځان په کعبه کې ووينې دليل دی چې ددښمن دشرارت څخه به په امن کې وي او دده دعا به قبوله سي دالله تعالی فرمان دی (ومن دخله کان امنا، سورة آل عمران: ۹۷) او څوک چې په دي کې داخل سي هغه به په امن کې سي. اوکه ووينې چې حجر اسود مچوي دليل دی چې حج به کوي اوکه ووينې چې دنبی عليه السلام دقبر مبارک زيارت کوي يا يې مقام ابراهيم ليدلې دی دليل دی چې حج ته به ځي او په سلامتي سره به بيرته راځي اوکه خپل ځان دکعبې شريفې پر چت ووينې نو پربې مذهبه کيدو دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې کعبه ليدل په څلورو وجو وي. ۱: خليفه ۲: امام ۳: ايمان اومسلماني ۴: دهر طرفه څخه دبيرې په امان.

کفتار \ کوني چانچر (يو ډول حيوان)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې کوني چانچر خرابه پليته او بدکاره ښځه ده که ووينې چې کوني چانچر يې تړلي دی دليل دی چې بده ښځه به کوي اوکه ووينې چې ددې غوښه يې خوړلي ده دليل دی چې په ده به جادو کيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې دکوني چانچر شيدې يې چيښلي دی يا دده سره يې هډوکي يا پوست دی دليل دی چې ددغه ښځې څخه به فايده حاصله کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې کوني چانچر دده سره خبرې کړي دی دليل دی چې ښځه به ورسره بد زباني کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې کوني چانچر ليدل بد دي.

کفچه \ دلرګي چمچی \ دلرګي کاچوغه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دلرګي څمچی دکور حکومت دی که ووينې چې

Maktaba Tul Ishaat.com

دده سره نوي اوپاکه دلرګو څمچی. ده دلیل دی چي دده خادم به پرهیزګار وي اوکه دلرګي څمچي زړه اوماته سوي ووینې نو تعبیر یي داول خلاف دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي دده دلرګي چمچی ماته یاورکه سوي یا سوزلي ده دلیل دی چي دده خادم به مري یا به ناجوړی سي.

کفچه اتش \ اور لړونی

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که ووینې چي دده سره اورلړوني دی دلیل دی چي ده ته به خدمتګار حاصل سي اوکه ووینې چي اور لړوني ورك سوي دی دلیل دی چي خدمتګار به یي مري یابه ځني ځي.

کفش \ پیزار \ بوټ \ څپلی

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي پیزار ښځه ده که ووینې چي ده نوي پیزار په پښو کړي دی دلیل دی چي ښځه به کوي یا به مینځي اخلي اوکه ووینې چي دبل چا پیزار یي په پښو کړي دی دلیل دی چي کونډه ښځه به کوي اوکه تور پیزار وي دلیل دی چي ښځه به یي جنګیالي وي اوکه سره وي نو ښځه به یي ښایسته اوعیش پسنده وي اوکه ژړه وي نوښځه به یي ناجوړه وي اوکه سپینه وي نو دښایسته ښځي سره به نکاح کوي ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که دغوا دپوست پیزار وي دلیل دی چي اصیله ښځه به کوي اوکه دبزي دپوست وي دلیل دی چي دعربی ښځي سره به واده کوي اوکه ووینې چي پیزار ځني ایله سوي دی یا ورك سوي دی نو پر غم اوفکر اوبي حرمتي دلیل دی اوکه پیزار دده په پښوکي تنګ وي دلیل دی چي دده ښځه به تباه کاره وي اوپه خوب کي زاړه پیزار لیدل دنوي پیزارو څخه ښه دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي پیزار لیدل په اوو وجو وي. ۱: ښځه ۲: خادم ۳: مینځه ۴: قوت ۵: ژوندون ۶: مال ۷: سفر اوپه خوب کي چمیار او موچي داسي سړی دی چي میراث تقسیموي.

کف \ ورغوي

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي دده په ورغوی کي یو شي دی دلیل دی چي هغونه به ورته څه ملاوسي اوکه ووینې چي دده دلاسونو ورغوي چپه سوي دی دلیل دی چي هلته به ښادي وي اوکه ووینې چي دده ورغوي زخمي سوي دی دلیل دی چي دسفر څخه به پاته سي اوکه ورغوي خلاص سوي ووینې نو پر فراخ دستي دلیل دی او د دې خلاف پر نامردي اوتنګ دستي دلیل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي ورغوي لیدل په شپږو وجو وي. ۱: فراخ دستي ۲: مال ۳: ریاست ۴: زوی ۵: زړه ورتیا ۶: دښځي سره په یو حرام کار کي داخلیدل.

کف دریا \ د دریاب ځګ \ ځګ

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي ددریاب ځګ لیدل دپاچا څخه یا دیو لوی سړی څخه نفع حاصلول دی.

کفن

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دژوندي يا مړي لپاره کفن جوړوي که هغه سړي معلوم وي نو دهغه څخه به ورته غم رسيږي اوکه دمعلوم سړی څخه يې کفن ايستلي دی دليل دی چې په دنيا کې به ددغه مړي طريقې تلاش کوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې دمړي کفن يې څيري دی نو اهل تعبير وايي چې که خوب ليدونکي نيک پرهيزګار او طالب العلم وي نو دنيا به ده ته مخ کوي او حرام مال به جمع کوي. اوکه ووينې چې دمړو کفن باسي او ځاي په ځاي يې ګرځوي دليل دی چې حرام مال به دده په لاس روان وي اوکه خوب ليدونکي مفسد وي دليل دي چې منافق اوچغل خور به سي اوپر خلکو به دفساد او ددرواغو ګواهي ورکوي.

ګلاب \ ګل ګلاب

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې ګلاب تندرستي ده اوکه ووينې چې ګلاب يې په خوله کې اچولي دی دليل دی چې تندرست به سي او خلک به يې ثنا او صفت کوي اوکه ووينې چې هر چا ته ګلاب ور کوي دليل دی چې نوم به يې په ملک کې مشهور سي اوکه عالم وي نو خلک به يې دعلم څخه فايده پورته کوي.

کلازه (يو ډول مرغه)

کلازه په خوب کې ليدل پر بې وفا اوبد دينه سړی دليل دی که چيرې په خوب کې ووينې چې ده کلازه نيولي ده دليل دی چې دپورته صفت والا سړی سره به مينه کوي اوکه ووينې چې دکلازه سره جنګ کوي دليل دی چې دصفت والاسړی سره به جنګ کوي اوکه ووينې چې کلازه دده دلاس څخه والوته دليل دی چې د دې صفت والا سړی سره به ناسته پرېږدي اوکه مړه يې کړه او غوښه يې وخوړه دليل دی چې دښمن به مغلوب کړي او هغونه به دده مال خوري.

کلاغ \ غريز کارغه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې غريز کارغه بد عهد اوبدکاره سړی دی که ووينې چې کارغه يې نيولی دی دليل دی چې دچا څخه به ددرواغو په حيلې سره غنيمت حاصل کړي اوکه ووينې چې غريز کارغه ددرختي پر ښاخ ناست دی او خبرې کوي نو دا دده پر وبال دليل دی اوکه دوه کارغان ووينې نو پر غم او مشقت دليل دی او په خوب کې دغريز کارغه په ليدلو کې څه خير نسته.

کلا \ توپۍ \ خولۍ \ رخچينه

دانيال عليہ السلام ويلي دی چې په خوب کې توپي ليدل دهغه په اندازه مطابق عزت اومرتبه ده اوکه ووينې چې دده پر سر دغازيانو توپي ده دليل دی چې پردښمن به غالب راسي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دده پر سر دترکيانو توپي ده دليل دی چې په سختي سره به نفع حاصل کړي اوکه ووينې چې په سر يې داتش پرستو توپي ده دليل دی چې په دنيا کې به عزت حاصل کړي ليکن په دين کې به کمزوري سي اوکه پرخپل سر دپاچا تاج ووينې دليل دی چې

Maktaba Tul Ishaat.com

عزت او مرتبه به حاصله کړي اوکه ووينې چې دده پر سر عنابی ټوپي ده نو خوشحاله به سي اونفع به حاصله کړي اوکه ووينې چې دده پر سر رومي ټوپي ده دليل دی چې ددين اودنيا خير به يوسي اوکه ووينې چې پر ټوپي يې پټکي وهلي دی دليل دی چې داسي کار به وکړي چې هغه به دخلکو څخه پټول غواړي اوکه دوريښمو ټوپي يې پر سر اينبي وي دليل دی چې نفع به حاصله کړي اوکه پر سر يې دزرو ټوپي وي دليل دی چې دخلکو څخه به نفع حاصله کړي اوکه دملغلرو ټوپي ووينې دليل دی چې په خلکو کې به عزيز سي او ددينداره او غازي سړی سره به ملګرتيا لري اوکه ټوپي د اوسپنې وي دليل دی چې دپاچا څخه به عزت مرتبه اوقوت حاصل کړي اوکه ټوپي دلرګي وي دليل دی چې خپل ځان به په خلکوکې خوار معلوموي اودرواغ به وايي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دګرمې ټوپي يې ديخنې په موسم کې پر سر اينبي ده دليل دی چې خير اونفع به يوسي اوکه د دې خلاف ووينې دليل دی چې دمراد څخه به منع سي اوکه پر سر توره ټوپي ووينې او په ويښه يې هم دغه پرسر وي دليل دی چې خير اونفع به حاصله کړي. اوکه په خوب کې ووينې چې ټوپي دده دسر څخه الوتلي ده دليل دی چې د عمل څخه به معزول سي يا به ورته سخت غم ورسيږي اوکه ووينې چې د ذکر سوو ټوپيانو څخه يوه ټوپي خلکو دده پرسر اينبي ده دليل دی چې ددغه ټوپي دقدر وقيمت مطابق به دسردار څخه عزت اومرتبه حاصله کړي اوکه ووينې چې دده دسر څخه ټوپۍ کښته سوه دليل دی چې دعزت اومرتبې څخه به معزول سي اوکه ښځه ووينې چې ددې پرسر دوه کوټيزه ټوپي ده دليل دی چې ددې ښځې به زوی پيداسي چې پاچا به جوړيږي اوکه ووينې چې دده پرسر چا دوزير ټوپي اينبي ده دليل دی چې دغه سړی به بددينه وي ليکن دپاچاهانو لپاره نيک دی. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ټوپي يې پرسر کړيده دليل دی چې شرف اومرتبه به يې زياته سي اوکه ووينې چې ټوپي څيري اوزړه ده دليل دی چې غمجن به سي اوکه ووينې چې داسي ټوپي يې پرسر کړيده چې په ويښه يې هيڅکله هم نه ده پرسر کړي که سپينه وي نو پر نيکي دليل دی اوکه شنه وي نو پر بدي دليل دی اوکه په ويښه داسي ټوپي لري نو بد نه دی اوسره ټوپي په خوب کې ليدل په ناجوړي دليل دی. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ده دتيلې ډکه ټوپي پر سر کړي ده دليل دی چې دهغه په اندازه اومطابق به شرف او عزت حاصل کړي ليکن په دين کې به يې نقصان وي اوکه ووينې چې دده ټوپي په اورکې را ايله ده دليل دی چې پاچا به تاوان يعني جرمانه باندي اچوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې ټوپۍ پر شرف اوبزرګي دليل دی او دا په خوب کې ليدل په شپږو وجووي. ۱: ولايت ۲: رياست ۳: بزرګي ۴: عزت او مرتبه ۵: مقدار ۶: دټوپي جوړونکي. چې مرتبه يې په خوب کې دبزرګانو خدمت کوونکي دی.

ګز

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که څوک په خوب کې وينې چې په ګز ياپه بل يو شي باران ناپ کوي نو دليل يې دا دي چې نفع اوفائده به ورته ورسيږي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که

څوك دسړو يا دوريښمو په كالو ناپ كولو خپل ځان ووينې نو دليل يې دا دي چې په سفر كې به ورته هغونده حرام مال ملاويږي.

كل شدن \ سر ګنجي كيدل \ فكر كول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه ووينې چې دده سر ګنجي سوي دی دليل دی چې مراد او مال به ډير حاصل كړي اوبعض اهل تعبير بيان كړي دی چې دده غم اوفكر به زايل سي اوكه قرضدار وي نو قرض به يې خلاص سي اوكه ووينې چې دده دګنجي سړی سره ملګرتياده دليل دی چې دمالداره سړی دوست او اشنا به سي اوكه ووينې چې دده سر ګنجي وو اوبيا باندې وينښته راغله دليل دی چې دده مال به ختم سي او پخپله به قرضداره سي.

ګل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كې دګل حكم په دوه قسمه دي يو په درخته ګل كيدل اوبل بې درختي او دكوم ګل چې پاڼه نه وي دهغه ليدل دخوب ليدونكي پر غم اوفكر دليل لري او كه څوك سورګل په درخته كې دهغه په موسم ووينې دليل دی چې زوی به يې پيداسي اوكه بې وخته يې ووينې نو دزوی په وجه به په مصيبت كې ګرفتاره سي او په خوب كې دګل درخته سردار او خبرې كوونكي سړی دی او دژړ ګل درخته سوداګره ښځه حاجت پوره كوونكي ده او دسپين ګل درخته پر عزت مرتبې او دولت دليل لري اوكه پخپل كوركې دګل درخته ووينې دليل دی چې ديوي انجلي سره به نكاح كوي اوكه پخپل كوركې ګل صدبرګ ووينې دليل دی چې دزوی په وجه به خوشحاله سي اوكه ډير قسمه ګلونه راختلي ووينې دليل دی چې د خپلوانو او كوروالا څخه به خوشحاله سي اوكه دګل درخته دمځكې څخه راختلي ووينې دليل دی چې دده دكور خلک به كامل وي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كې ګل كم همته او بد عهده سړی دی چې دچا سره وفانه كوي اوكه ووينې چې چا ته يې ګل وركړيدی يا يې غورزولي دی دليل دی چې دداسي بې وفا سړی دملګرتيا څخه به ليرې سي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كې ګل خط دی چې دغايب څخه به ده ته ملاوسي اويابه غايب سړی راسي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كې ګل ليدل په شپږو وجووي. ۱: زوی ۲: دوست ۳: كم همته ۴: مينځه ۵: غلام ۶: دغايب خط.

ګل شكر \ ګل قند

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كې ګلقند او ګل انګبين دخوړلو پر قدر اوغنيمت او حلال مال دليل دی اوكه ووينې چې دده سره ګلقند او ګل ګبين دی او خوړلي يې دی كه مالدار وي نومال به يې ښه زيات سي اوكه ناجوړه وي نوشفا به حاصله كړي. اوكه غمجن وي نو خوشحاله به سي اوكه قرضدار وي نو دقرض څخه به خلاص سي.

ګل خوردن \ خټې خوړل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كې ووينې چې خاوره يې خوړلي ده دليل دي چې پر

Maktaba Tul Ishaat.com

مړو به بد وايي اوکه ووينې چې ختې دخاوري سره خوري دليل دی چې خپل مال به په عيال خرچ کوي اوکه ووينې چې دنبی ﷺ دقبر مبارك څخه خاوري خوري دليل دی چې حج به کوي او که ووينې چې دکور لار يې په خاورو سره کړي دی دليل دی چې غمجن به سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې سپينه اوشنه خاوره ليدل پر حلال مال دليل دی اوژړه خاوره ليدل ناجوړي ده او سره خاوره ليدل بازي اوتماشا ده اوتوره خاوره ليدل غم اوفکر دی او په خيرنو اوخرابو اوبوکې ختې جوړول غم اوفکردی اوکه ووينې چې په ختوکې ډوب سوي دی دليل دی چې په ډير محنت کې به راسي اوخلاصون به نه حاصلوي اوکه ووينې چې دختو څخه دباندي راوتلي دی او خپل بدن او کالي يې ښه صفا کړي دی نو دغم او فکر څخه به خلاص سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په ګرمه علاقه کې ختې ليدل ديخي په نسبت زياته سخته ده.

کلبتين \ انبور

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې انبور خادم دی چې په خوبې سره دپاچا دلاسه مال را باسي اوپه خلکو يې خرچ کوي که ووينې چې دده په لاس کې انبور دی دليل دی چې مال او نعمت به ورته حاصل سي اوکه ووينې چې دده انبور ورك سوي دی دليل دی چې ضرر اونقصان به ورته ورسيږي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ده په انبور سره يو شي را ايستلي دی دليل دی چې هغونه به دپاچا څخه خوشحاله سي.

کلم (يو ډول سبزي) \ بندګوبی

کلم دګوبي په ډول يوه سبزي ده ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دده سره کلم دی او خوړلي يې دی دليل دی چې دښځې څخه به نفع حاصله کړي اوکه بغير دغوښې يې وخوري دليل دی چې لږ فايده به ورته ورسيږي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که چيري خوب کې غوښه او کلم يو ځای پوخ کړي او ويې خوري دليل دی چې ډيره نفعه به حاصله کړي اوکه مانښام وي نو لږ فايده ده اوکه يې موسمه بې وخته يې خوړلي وي نو دغم او فکر دليل دی او که خوږ وي نو نفعه يې ډيره زياته ده.

ګلنار \ دانارګل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دانارګل ليدل پاکيزه اوښه ناوي ده خاصکر که دانارګل په درخته کې ووينې او په خپل موسم کې وي اوکه ووينې چې دانار ګل ددرختي څخه را ايله دی دليل دی چې دپاکيزه اوښه ناوي يا دمينځې ددیدار څخه به جلا سی.

کلنګ \ زاڼي مرغه

زاڼي په خوب کې مسافر سړی دی ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ده زاڼي نيولي ده يا چاورکړي ده دليل دی چې دمسافر سړی سره به ملاو سي او دهغه سره به نيکي کوي اوکه ووينې چې دده سره د زاڼي وزر يا غوښه ده دليل دی چې دمسافر سړی څخه به راحت حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې زاڼو ته داني اچوي دليل دی چې دمسافرو

او دفقيرانو په ټولګي به سردار سي اوکه ووينې چې د زانې خوي لري نو پر فقير کيدو دليل دی.

ګلو مري

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چې دده مری سلامته ده او څه تکليف ورته نسته دليل دی چې امانت اوقرض به ادا کوي اوکه ووينې چې دده په مري کې تکليف اوافت ښکاره سوي دی نو تعبير يې داولني خلاف دی. اوکه خپله مري فراخه ووينې دليل دی چې روزي به باندي فراخه سي اومري تنګه ليدل د دې خلاف دی او که خپله مري درسته اوقوي ووينې دليل دی چې امانتونه به په ښه شان سره په نظر کې ساتي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې چا مري ځنې پريکړي ده دليل دی چې پريکوونکي به پر ده ظلم کوي يا به دده په دين پيغور کوي اود کوم حيوان چې ذبح کول روانه دی که ووينې چې خلکو دهغه مري پريکړي ده پر هغه سړی دليل دی کوم چې ددغه ځناور سره نسبت لري چې خلک به ظلم باندي کوي اوکه ووينې چې دهغه مري يې پريکړيده دليل دی چې کار به باندي مشکل سي اوکه ووينې چې دحيوان مري يې پريکړه او دهغه غوښه يې خوړلي ده که دهغه غوښه حلاله وي نو پر حلال مال دليل دی اوکه حرامه وي نو پرحرام مال دليل دی چې حاصل به يې کړي اوکه ووينې چې ده دچا مري پريکړه دليل دی چې پر هغه به ظلم کوي يا به دهغه په دين پيغور ورکوي اوکه ووينې چې دچا مري يې خفه کړي ده دليل دی چې دخوب ليدونکي عزت اومرتبه به ختمه سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې مري دسړی پر امدني او خرڅ دليل لري اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوف کې مري خفه کول دمغلوب سړی پر تنګ ژوند دليل لري.

کليجه\اينه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې اينه پر خوشحاله ژوند نعمت او پر مال دليل لري چې ده ته به حاصل سي او په اساني سره به ورته ملاو سي. اوکه ووينې چې دده سره اينې ډيري دی دليل دی چې ډير مال اونعمت به حاصل کړي اوکه ووينې چې اينه يې په خله کې ايښې ده او تيره کړي يې نه ده دليل دی چې دده مال اونعمت به دنورو په قسمت کې راسي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې اينه ليدل په څلورو وجو ده. ۱: حلال مال چې په اساني سره به ورته ملاو سي ۲ : فراخه روزي ۳: نعمت ۴: خوشحاله ژوند.

کليد\چابي\کنجي\کيلي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې چابي خوش قسمته سړی دی که څوك په خوب کې ووينې چې چابي يې پيچلي ده او نه ده خلاصه سوي او دروازه خلاصه سوه دليل دی چې بند کارونه به يې خلاص سي او پر دښمن به کاميابه سي او که ووينې چې دده په لاس کې ډيري چابياني دی دليل دی چې بزرګي اومرتبه به حاصله کړي دالله تعالی فرمان دی (له مقاليد السموات والارض، سورة الزمر: ٦٣) دهغه سره داسمانونو او دمځکی چابياني دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ

Maktaba Tul Ishaat.com

ويلي دی چي په خوب کي چابي دخير ددروازي خلاصول او دشر ددروازو بنديدل دی اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي د دروازي بندولو چابي نکاح کول دی اوکه ووينې چي دجنت ددروازی چابي د ده په لاس کي ده دليل دی چي په دين کي به پاچا سي. دانيال عليه السلام ويلي دی که ووينې چي دده سره داوسپنې چابي ده نو پرقوت اونيکي دليل دی او که ووينې چي دده سره دسپينو زرو يا دتانبې چابي ده دليل دی چي دده خبره به جاري وي اوکه ووينې چي دده سره دلرګي چابی ده نو پر لږي نيکي دليل دی اوکه ووينې چي دده سره دسرو يا سپينو زرو چابی ده دليل دی چي نوم به يې لوړ سي اوبيان کوي چي ده ته به خزانه ملاو سي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي څونه چاپياني زياتي وي هغونه به يې مال زيات سي او داهم وايي چي چابی دالله تعالی څخه دعا استغفار او مراد غوښتل دی اوکه ووينې چي چابی يې پر جرنده ايښې ده او دروازه يې خلاصه ده دليل دی چي حاجت به يې روا وي اوکار به يې خلاص سي اوکه ووينې چي چابی په جرنده کي ماته سوي ده دليل دی چي دعا به يې خالصه نه وي او که ووينې چي چابی په جرنده کي ماته سوي ده دليل دی چي دعا به يې خالصه نه وي اوکه ووينې چي په يوه چابی يې ډيري جرندي خلاصي کړي او دروازي يې خلاصي دی دليل دی چي دښايستي ښځي سره به نکاح کوي. حافظ معبر رحمة الله عليه ويلي دی چي که څوك پخپل لاس کي چابی ووينې نو لمونځ ګذاري به حاصله کړي اوکه ووينې چي چابي ځني ايله سوه نو په لمونځ کي به بيکاره او سست وي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي چابی په اتو وجو ده. ۱: دکارونو فراخي ۲: دغم څخه فراغت ۳: دناجوړي څخه شفا ۴: مراد حاصلول ۵: ددين قوت ۶: حج کول ۷: ددعا قبولتيا ۸: دعلم زده کول.

کليدان \ د چابي ځاي \ کليبند

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي کليدان بغير دزحمت څخه ژر خلاص سوي دی دليل دی چي دده ددين او ددنيا کارونه به فراخ وي اوکه ووينې چي په مشکله خلاصه سوي ده نو د دې تعبير خلاف دی اوکه ووينې چي کليدان يې نه سو خلاصولای او دروازه بنده پاته سوه دليل دی چي کار به يې بند سي او دنيك حالي څخه به بد حاله سي او جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي کليدان ژر خلاص سويدی دليل دی چي دغم څخه به خلاص سي اوکه ناجوړه وي نو ژر به شفا حاصله کړي اوکه غلام وي نو ازاد به سي اوکه څه ضرورت يې وي نو پوره به سي او دعا به يې قبوله سي اوکارونه به يې په انتظام سره سي.

کليسا \ ګرجه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي ګرجې ته تللي دی او په هغو کي يې دقبلي طرفته لمونځ کړيدی دليل دی چي دګناه څخه به توبه کوي اوپه دين کي به قوی سي ځکه چي ګرجه دعبادت ځاي دی. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي په ګرجه کي دی دليل دی چي دده رغبت به دبت پرستو طرفته وي خاصکر که دهغو دقبلې طرفته يې لمونځ کړي وي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي مندر ته تللي دی که خوب ليدونکي پرهيزګار وي نو

خراب به سي خاصکر که په هغه کي يي استوګنه اختيار کړي وي.

ګليم\کند\زاړه کالي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي زاړه کالي رئيس او سردار دی که خوب ليدونکي لوی سړی وي دليل دی چي دده بزرګي او مرتبه به نوره هم زياته سي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي صالح اونيك سړی به وي او په فقيرانو کي به ديندار وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي زاړه کالي يي پيدا کړي دی دليل دی چي دمالداري ښځي سره به واده کوي اوکه داخوب ښځه ووينې دليل دی چي خاوند به کوي او دهغه څخه به خير او نفع حاصلوي. اوکه ووينې چي پرزړو کالو ناست دی دليل دی چي ښايسته پرهيزګاره اوموافقه ښځه به کوي اوکه ووينې چي شنه زاړه کالي دی دليل دی چي دپرهيزګاره او جنګيالی ښځي سره به واده کوي اوکه سري وي نو دعيش پسندي ښځي سره به واده کوي اوکه ژړ وي نو دناجوړي ښځي سره به واده کوي اوکه تورکالي وي نو دزاهدي اوعابدي ښځي سره به واده کوي اوکه دډيرو رنګونو وي نو په هغه ښځي کي به پورته ذکر سوي صفتونه وي اوکه ووينې چي زاړه کالي يي اغوستي دی دليل دی چي دپرهيزګاره سردار په پناه کي به وي او دهغه څخه به نفع حاصله کړي اوکه زاړه کالي يي دځان څخه ليري غورزولي وي او ورك سوي وي نو ددې تعبير خلاف دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي زاړه کالي ليدل په پنځو وجو وي. ۱: رئيس سړی ۲: بزرګ او پرهيزګار ۳: مالداره ښځه ۴: مينځه ۵: خير او نفع.

کمان\لينده

دانيال عليہ السلام ويلي دی که ووينې چي لينده يي دغشي څخه بغير راکښلي ده دليل دی چي په سفر به ځي او دفايدي سره به واپس راځي اوکه د راکښلو په وخت لينده ماته سويده دليل دی چي سفر به يي ختم نه سي اوممکنه ده چي په لاره کي به ورته ضرر اونقصان رسېږي. اوکه څوك په خوب کي ووينې چي چا ورته لينده ورکړي ده دليل دی چي زوي يا ورور به يي وسي اوکه ووينې چي دده لينده ماته سوي ده دليل دی چي دشرف اوبزرګي څخه به ولويږي يا به دده څخه ورکه سي اوکه ووينې چي په لينده کي غشي اچوي دليل دی چي ده ته به ديو لوی سړی خط ملاو سي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په لينده کي غشي اچول دليل دی چي حقه اوباطله خبره به کوي دغشي دنيغ والي اوکوږوالي مطابق اوکه ووينې چي دځان لپاره يي لينده جوړه کړي ده دليل دی چي دعجمو دپاچا څخه به ورته شرف او بزرګي حاصله سي يا به دعجمي ښځي سره واده کوي او زوی به يي پيداسي اوکه ووينې چي په لينده تير اندازي نه سي کولاي دليل دی چي ده ته به دپاچا څخه يا ددغه ښځي څخه فايده نه وي اوکه ووينې چي لينده يي خرڅه کړيده يا يي چاته ورکړي ده دليل دی چي دده دشرف او بزرګي نقصان به وسي اوبعض اهل تعبير وايي چي دليندې تعبير اوږد ژوند دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي دده سره نوي اوپاکه لينده ده دليل دی چي ښځه به کوي اوکه ووينې چي لينده يي راکښلي ده

Maktaba Tul Ishaat.com

دليل دی چي پايداره ښځه به کوي. اوکه ووينې چي لينده ورکه سوي ده دليل دی چي دښځي څخه به جلا سي اوکه ووينې چي دده لينده سخته وه او دراکښلو په وخت کي نرمه سوه دليل دی چي دښځي سره به نکاح کوي او دده کار به په اساني سره وسي اوکه سفر کوي نو مبارك به سي او مراد ته به ورسيږي اوکه ووينې چي لينده نرمه وه او دراکښلو په وخت سخته سوي ده نو د دې تعبير خلاف دی اوکه ووينې چي پخپل لاس يې دځان لپاره لينده جوړه کړي ده دليل دی چي کاميابه به سي اوکه ووينې چي لينده يې خرڅه کړي ده او دهغه قيمت يې روپې يا اشرفۍ اخيستې دی دليل دی چي دنيا به په دين خوښوي او که دليندي قيمت يې دروپې څخه علاوه بل څه اخيستې وي دليل دی چي مراد به يې پوره سي اوکه ووينې چي لينده ورته په بخښش کي ملاو سوي ده دليل دی چي ژر به ښځه کوي او پر دښمن به کاميابی حاصله کړي اوکه ووينې چي په کماندان کي يې لينده ايښې ده دليل دی چي ددنيا څخه به رخصت سي. اوکه ووينې چي دده سره پاکيزه اوښه لينده ده دليل دی چي نيك کار خيرات او حسنات به کوي او حج به ادا کړي اوالله تعالی ته به نزدی سي دالله تعالی فرمان دی (فكان قاب قوسين او ادنى، سورة النجم: ۹) پس ددوو لينديو دموټې په اندازه بلکه دهغه څخه هم نزدي سو. اوکه ووينې چي دده سره ډيري لينډۍ دی دليل دی چي دده به ډير دوستان وي چي دمصيبت پر وخت به دده مدد کوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي لينده ليدل په شپږو وجو وي ۱: سفر ۲: زوی يا ورور ۳: ښځه ۴: قوت ۵: نيك کار ۶: په کارونو کي درست سړی.

کمان \ حلاجي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي دنداف ليده پيغور ورکوونکي سړی دی که ووينې چي دده په لاس کي دنداف لينده ده دليل دی چي نفاق به کوي اوکه ووينې چي دده سره دنداف لينده ده اوپيژني نه چي دده ده نو بدي به کوي.

کمانه \ په اسمان کي ژړه سره اوزرغونه \ سره اوزرغونه \ قوس قزح

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي که په خوب کي په اسمان کي ژړه او زرغونه ووينې دليل دی چي په دغه ملك کي به خلک په ناجوړي اخته سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی چي که ووينې چي په هغه کي دسوروالي څخه شين والي زيات دی نو د دې تعبير داولني خلاف دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي په اسمان کي سوروالي دستنو په ډول دی دليل دی چي ددغه ملک پاچا ته به قوت اوکاميابي وي اوکه توري ستني ووينې نو د دې تعبير داولني خلاف دی.

کمان \ کروهه (يو قسم لينده)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي کمان کروهه ليدل دپاچا کار دغم او فکر سره دی اوکه ووينې چي لينده دده په لاس کي ده او دهغې څخه يې توپی غورزولي ده دليل دی چي چاته به خرابه خبره او ښکنځل کوي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي په دغه

لیندي سره دخلکو ټوپي کښته وي دلیل دی چي دخلکو تنګولو په وجه به غمجن سي اوکه ووینې چي دده کمان کروهه ماته یا ورکه سوي ده دلیل دی چي چا ته به تکلیف نه ورکوي.

کمر بند

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي کمر بند یې ترلي دی دلیل دی چي یو سړی به دده مددګار سي اوبعض وایي چي دده مددګاران زامن اوخپلوان دی اوکه ووینې چي کمر بند په ملغلرو اوجواهراتو پېښلي دی دلیل دی چي دهغه دقیمت مطابق به مال حاصل کړي او په هغه سره به یې مددګار قوي سي او ممکنه ده چي دده زوی به پیداسي چي په ټولو قبیلو کي به بختور او دولتمند وي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي دده پر ملا دوه دري کمر بنده ترل سوي دی دلیل دی چي مال اونوکران به یې زیات سي اووایي چي عمر به یې اوږد سي اوکه ووینې چي چا ته یې کمربند ورکړي دی اوده پر ملا ترلي دی دلیل دی چي په سفر به ځي اوکه ووینې چي کمر بند یې څیري یا را ایله سوي دی اوورك سوي دی دلیل دی چي دده دمال او بزرګي نقصان به وسي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي که ووینې چي دده کمربند په جواهراتو پېښلي دی دلیل دی چي دقوم سردار به سي او دده کور والا به دده په وجه دولتمنده سي اوکه ووینې چي چا ورته کمر بند دتوری سره ورکړي دی نو دپاچا لپاره به سفر کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي کمر بند لیدل په شپږو وجو دی. ۱: دپلار یا ورور یا دخپلوانو دطرفه نفع ۲: زوی ۳: بزرګي اوپناه ۴: اوږد عمر ۵: انصاف اومراد حاصلول ۶: ددین پاکوالی اوکه پر ملا کمربند ترل سوي ووینې دلیل دی چي ددښمنانو څخه به انصاف حاصل کړي لیکن نیم عمر به یې تیر سوي وي.

کم شدن\ورکیدل\ورک

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که څوك په خوب کي ووینې چي ورك سوي دی چي کوم ځاي دی ورك وي نو هلته به ورك سي ځکه چي دی به یې نه پیژني اوکه ووینې چي دده عیال یا زوی ورك سوي دی دلیل دی چي دهغه په وجه به غمجن سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي دده څخه یو شي ورك سوي دی که هغه شي په تعبیر کي نیك وي دلیل دی چي دده ضرر به زایل سي او دده کار به په انتظام سره سي اوکه هغه شي په تعبیر کي بد وي نو غم او ضرر به ځني ختم نه سي او کار به یې په انتظام سره نه وي.

کمند\دام

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي که څوك په خوب کي ووینې چي دام یې اچولی دی او څوك سړی یې پکښې نیولي دی دلیل دی چي ددام په اندازه به دیو بزرګ څخه مدد غواړي اوکه ووینې چي دام یې اچولي دی او دچا په څټ کي ایله سوي دی دلیل دی چي دکمزوري سړی څخه به مدد غواړي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي کمند دده په لاس کي پروت دی دلیل دی چي دیو مسافر سړی څخه به مدد غواړي اوکه کمند یې اچولي وي او دښمن یې نه دی نیولي دلیل دی چي څوك به هم د ده مدد نه کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

کناره \ بېړي \ بيره (يو ډول ميوه)

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي بيره پاك مال دی او دميوي څخه په يوه ميوه کي د دې خاصيت نسته اووايي چي د ادم عليه السلام ميوه په جنت کي بيره ده اوکه ووينې چي بيره يي خوړلي ده دليل دی چي دهغه په اندازه به مال حاصل کړي خاصکر بيره حلال مال اوفراخه روزي ده که ووينې چي دبيرو ډيران ورسره دی نو ډير مال به حاصل کړي.

ګناه

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی که ووينې چي ګناه يي کړي ده او معلومه ورته نه ده چي دڅه قسم ده نو دليل دی چي په ګناه اوفتنه کي به راسي او ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي ګناه کول جرم اوګناه ده، ده ته توبه ايستل پکار دی چي دالله تعالی دعذاب څخه په امن کي سي او کار يي درست سي.

ګنبده

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب ګنبده ښځه ده که په خوب کي پاکه ګنبده ووينې او پيژني چي دده ده دليل دی چي دښايسته ښځي سره به واده کوي. ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلی دی چي په خوب کی ګنبده شرف اوبزرګي ده اوکه ووينې چي په غټه ګنبده کي دی دليل دی چي خير اونفع به ورته حاصله سي. جعفر صادق رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي ګنبده ليدل په څلورو وجو وي. ۱: ښځه ۲: مينځه ۳: نفع ۴: عزت او مرتبه.

ګنج \ خزانه

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی که ووينې چي ده خزانه پيدا کړي ده دليل دی چي ناجوړه به سي يا به يي زړه ته غم رسيږي اوکه خزانه يي ورکه سوي وي نو تعبير يي داولني خلاف دی او ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي خزانه حاصلوونکی به په يو خراب ځاي کي ناجوړه يا هلاك سي اوکه په اباد ځاي کي خزانه پيدا کړي نو دناجوړي څخه به شفا حاصله کړي.

کنجد \ کونځلي

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي کونجدي پيداکول مال دی چي هره ورځ زياتيږي اوکه ووينې چي دده سره کونجدي دی اوهغه خوري دليل دی چي دهغه په اندازه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي بي خونده کونجدي يي خوړلي دی دليل دی چي حرام مال به حاصل کړي او بعض اهل تعبير بيان کوی چي ده ته به غم او فکر رسيږي.

ګنده \ پير \ بوډا \ بوډی

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي بوډی ښځه دنيا ده اوغټ بوډا مسلمان دی چي په کالو ښايسته دی، دليدلو يې دا دليل دی چي حلال مال به حاصل کړي اوکه په خوب کي ووينی چي غټ بوډا په خيرنو کالو کي دی اوکافر دی د دې تعبير حرام مال دی اوبوډی اوښه کالو والا دا جهان اوهغه جهان دی او که ووينې چي دبوډي مسلماني ښځي سره يي واده کړي دی دليل دی چي مال به حاصل کړي. اوکه ووينې چي بوډي ښځه ده دکور څخه ايستلي ده يا

يې ورته طلاق ورکړي دی دليل دی چې دترك دنيا کوشش به کوي او اخرت به تلاش کوي اوکه ووينې چې دغتې بوډې ښځې سره يې جماع کړي ده دليل دی چې ددنيا مراد به حاصل کړي.

کندر (يو قسم خواړه)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې کندر يې خوړلي دی يا ژوولي دی نو دژولي په اندازه به دچا سره جنګ کوي يا به دهغه شکايت کوی جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که په خوب کې ووينې چې دده سره کندر دارو دی دليل دی چې غمجن به وي ځکه چې کندر ترخه دي او دليل يې غم دی.

کندش \ د پرنچې راوستلو دوا \ د نوړي راوستلو دوا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دده سره ډير کندش دي دليل دی چې ناجوړي به يې اوږده سي او اخر دا چې شفا به حاصلوي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که وګوري چې کندش خوري دليل دی چې په رنځ اوبلا کې به ګرفتار سي اوکه وګوري چې کندش يې په پزه کې اچولي دی او نوړی يې وکړي دليل دی چې دده مرادبه په مشکله سره پوره سي.

کندم \ غنم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې په خوب کې غنم حلال مال دی چې خلکو ته په تکليف سره حاصليږي اوکه ووينې چې ده غنم خوړلي دی دليل دی چې صالح او ديندار به سي اوکه پخ کړي يې خوړلي وي نو غمجن به سي اوکه ووينې چې دده خوله ترنس پوري ډکه ده دغنمو څخه دليل دی چې دده عمر ختم سوي دی. ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دغنمو وړې خوري دليل دی چې په دغه ملک کې به قحط اوتنګي ښکاره سي دالله تعالی فرمان دی (سبع سنبلت خضر واخر يابسات، سورة يوسف: ٤٦) ترجمه: اوه وړې شنه او نور وچ. اوکه ووينې چې غنم کړي يې دي دليل دی چې الله تعالی به په دغه ملک کې غله ارزانه کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې غنم ليدل په درو وجو وي. ۱: دولايت څخه معزول کيدل ۲: نفرت ۳: مسافري. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې وريت سوي غنم خوري دليل دی چې څه نفع به حاصله کړي اوکه ووينې چې غنم يې پر وخت ريبلي دی دليل دی چې ډير مال به په تکليف سره حاصل کړي اوپه خوب کې غنم خرڅونکي داسي سړی دی چې ددين په عوض کې دنيا اختياروي.

کندنا

دانيال علیہ السلام ويلي دی چې په خوب کې کندنا داسي سړی دی چې خلک يې په دوستي سره يادوي او ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې کندنا حرام مال اوخرابه خبره ده اوکه خوب ليدونکي مصلح او پرهيزګار نه وي دليل دی چې حرام مال به حاصل کړي او هميشه به خرابي خبري اوري او په خوړلو کې يې هيڅ قسم فايده نسته.

کندوا \ د شاتو مچمچې

که څوك په خوب کې ووينې چې دګبين مچي يې نيولي ده يا چا ورکړيده دليل دی چې قاصد

Maktaba Tul Ishaat.com

به ورته راځي او دي به خوشحالوي اوعزت به حاصل کړي اوځلور ورځي وروسته به د ښځو دطرفه مقصود او مراد حاصل کړي خاصکر که دا خوب دورځي ووينې.

کنشت\کنيست\د يهودو عبادت خانه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چې په کنشت کې ناست دی او دقبلي طرفته يې لمونځ کړي دی دليل دی چې پرخپل کار به توبه وباسي او دالله تعالی طرفته به رجوع وکړي او په دين کې به قوي سي ځکه چې کنشت دعبادت ځای دی او که ديهودو دقبلي ته لمونځ وکړي دليل دی چې ديهوديانو سره به محبت لري. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی که خپل ځان په کنشت کې ووينې دليل دی چې دبې دينو خلکو په خبرو کې به کار کوي او جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې کنشت او ګرجه ليدل دمصلح سړی لپاره خير اونيکي ده او دمفسد سړی لپاره شر اوفساد دی.

کنګر (دغره يو ډول بوټی)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چې په خپل موسم کې کنګر خوري دليل دی چې غم او فکر به ورته رسيږي اوپه خوب کې کنګر خوړل فايده مند نه دی اوکه کنګر ورسره وي اوخوړلي يې نه وي نو غم اوفکر به يې کم وي.

ګنګی\ګونګي توب

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که څوك په خوب کې ووينې چې ګونګي سوي دی دليل دی چې فقير اوبد حاله به سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی که څوك په خوب کې خپل ځان ګونګي ووينې نو دا دده پر تباهي او ددين پر نقصان دليل دی دالله تعالی فرمان دی (صم بکم عمی فهم لا يرجعون، سورة البقرة: ۱۸) کانه دی ګونګيان دی او ړانده دی او دوي رجوع نه کوي حق ته. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي په خوب کې ګونګي کيدل په اوو وجو وي. ۱: فقيري ۲: بدحالي ۳: غم اوفکر ۴: دژوند نقصان ۵: مصيبت ۶: دمال نقصان ۷: ددين نقصان اوکه ګونګي په خوب کې ووينې چې دده ژبه به خلاصه سي دليل دی چې دده بند کارونه به خلاص سي.

کنه\کوني (کوچني شپږه)\ريچه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې ريچه دخلکو عيال دی که په خوب کې ووينې چې ريچه دده بدن خوري دليل دی چې دهغه په اندازه به مال دده عيال خوري اوکه ووينې چې پر څاروي ډيري ريچې دی دليل دی چې خلک به ددغه څارويو څخه فايده وينې او جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چې ريچه يې دخپل ځان څخه ليري غورزولي ده دليل دی چې عيال به دخپل ځان څخه ليري کړي اوکه ووينې چې دخپلو څاريو ريچې نيسي او غورزوي يې دليل دی چې چاته به فايده نه رسوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې ريچه ليدل په درو وجو دي. ۱: عيال ۲: نوکران ۳: مال او ډير مطلبونه. اوکه ووينې چې ريچه يې مړه کړي ده دليل دی چې په تيرو سوو بيان سوو شيانو کې به نقصان پورته کوي.

کنیزک\ مینځه

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي مینځه خیر اونیکي ده څونه چي دهغې ښایست وي که څوك ووینې چي دده سره ښایسته مینځه ده دلیل دی چي خوب لیدونکي ته به په پټه څه شي ورسیږي اوپه هغه سره به فکر مند سي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي مینځه مال دی که ووینې چي مینځه یې اخیستي ده نو پر خیر اونیکي دلیل دی اوکه خرڅه کړي یې وي او دهغه پیسې یې اخیستي وي دلیل دی چي غمجن به سي اوکه اخیستي یې وي نو خوشحاله به سي اومال به حاصل کړي اوکه ووینې چي مینځه لڅه ده دلیل دی چي نقصان به ورته ورسیږي اوکه ووینې چي دښایسته مینځې مخ یې پټ کړي اوکور ته یې راوستله دلیل دی چي خوشحاله به سي او نفع به ورته حاصله سي.

کهربا

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که څوك په خوب کي ووینې چي دده سره کهربا ده دلیل دی چي ناجوړه به سي اوژر به شفا حاصله کړي اوبعض اهل تعبیر وایي چي دده ناجوړي به اوږده سي.

ګوارش\ جوارش (یو ډول دوا)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي خواږه جوارش پر خیر اونفع او خوشحالي دلیل لري اوترخه اوبي خونده پر غم اوفکر تکلیف اوفساد دلیل لري او خوشبودار جوارش پر مدح او ثنا دلیل لري او دبد بوداره تعبیر د دې خلاف دی. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي خواږه جوارش خوړل غم اوفکر دی او خوشبودار جوارش پر مدح اوثنا دلیل دی.

ګوال\ جوال\ بوری\ ګونی

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوف کي بوري پر عالم سړی دلیل دی او څه شیان چي په هغه کي وي ښه اوبد دی په قول د علی رضی اللہ عنہ یې دلیل راوړي دی دوي ویلي دی (ان القلوب واعیة) زړونه محافظ دی جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که بوري نوي پاکه اوفراخه وي نو پر ډیره نفع دلیل دی کنه نو لږه نفع به ورته حاصله سي.

ګودیها\ شیره\ رس

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چي په خوب کي دټولو رسونو څخه زیات ښه دکجور رس دی د دې څخه وروسته دبادامو اوبیا د ډوډي دی او دټولو څخه کم فایده مند دخشخاشو دی که ووینې چي دکجوري شیره خوري دلیل دی چي دهغه په اندازه به دبخیل سړی څخه مال حاصل کړي اوکه دخشخاشو شیره یې خوړلي وي دلیل دی چي دهغه په اندازه به مال حاصل کړي لیکن فایده به یې کمه وي اوکه ووینې چي د ډوډي شیره یې چینبلي ده دلیل دی چي دهغه په اندازه دپرهیرګاز سړی څخه مال حاصل کړي اوکه ووینې چي دده سره ذکر سوي ټولي شیري موجودي وي او دهغه څخه یې څه خوړلي دي نو پورته بیان سوي شیان به ورته حاصل سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي خواږه اوخوند ناکه شیره پر نیکي دلیل لري او ترخه اوبي

Maktaba Tul Ishaat.com

خونده پر بدي دليل لري.

ګور \ قبر \ لحد

دانيال عليه السلام ويلي دی چي دقبر تعبير قيد خانه ده که ووينې چي دده دځان لپاره قبر کښلي دی دليل دی چي حال به يې تنګ سي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چي دقبر پر ځاي به دځان لپاره کور جوړوي اوکه ووينې چي دي خلکو په قبر کي ايښي دی دليل دی چي دده په حالاتو کي به مشکلات پيښ سي دالله تعالی فر مان دی (ثم اماته فاقبره ثم اذا شاء انشره، سورة عبس: ۲۱ – ۲۲) ترجمه: بيايي مړ کړو او په قبر کي يې کښيښودی بيا چي کله وغواړي نو ژوندي به يې پورته کړي اوکه ووينې چي په قبر کي يې ايښي دی اوپر سر يې ورته خاوري اچولي دی دليل دی چي ددين نقصان به يې وسي او ددنيا څخه به بغير دتوبې ولاړ سي ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي خپل ځان يې په قبر کي ايښي دی دليل دی چي قيدخاني ته به ځي اوکه ووينې چي په قبر کي مړ دی دليل دی چي په قيدخانه کي به مړ سي اوکه ووينې چي دده په کوټه کي قبر کښل سوي دی دليل دی چي ژوند به يې اوږد وي اوکه ووينې چي پر قبر ولاړدی دليل دی چي پر ګناه به قايم ورسيږي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی که خپل ځان په قبر کي مړ ووينې او دده څخه منکر اونکير سوال کړي وي دليل دی چي ددغه ملك پاچا به دده مطالبه کوي اوکه منکر اونکير ته يې غلط جواب ورکړي وي دليل دی چي دپاچا په عذاب کي به عاجز سي اوکه ووينې چي دی يې دقبر څخه را ايستلي دی او پانسي يې ورته ورکړي ده اوبيا يې په قبر کي ايښي دی دليل دی چي پاچا به پر ده مهرباني کوي اوانعامي کالي به ورته اغوندي اوبيا به يې په قيدخانه کي اچوي اوکه داخوب سوداګر ليدلي وي نو دهغه شمار به په سوداګري کي وي او دهريو شمار دخپل جنس سره دی اهل تعبيرو ته پکار دی چي دشيانو قياس په ښه شان سره وکړي چي په مغالطه کي رانه سي.

ګورستان \ قبرستان

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي قبرستان دجاهلانو ملګرتياده چي دين او دنيا يې خرابه ده او غم او پښيماني ده. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي داهل قبورو زيارت يې کړي دی دليل دی چي دقيديانو سره به ملاو سي اوکه ووينې چي پر قبرستان باران اوريدلي دی دليل دی چي په اهل قبورو به دالله تعالی رحمت وي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی که مالداره ووينې چي قبرونو ته تللي دی اوهغو ته يې سلام کړي دی دليل دی چي فقير به سي او دخلکو څخه به خير غواړي ځکه چي قبرستان دنادارو ځاي دی اوکه ووينې چي په معلوم قبرستان کي دی او مړي دقبرونو څخه راوتلي دی دليل دی چي ددغه ځاي خلک به په بلا او محنت کي اخته سي اوکه ووينې چي قبرونه خلاص سويدی اوبعض مړه دی اوبعض ژوندي دی دليل دی چي په دغه ملك به محنت اوتنګي ښکاره سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي قبرستان ليدل په درو وجو وي. ۱: قيد خانه ۲: غم ۳ : محنت او بلا.

ګوز \ غوز

غوز په خوب کي مال دي چي په محنت غم اوسختي سره حاصليږي اوکه ووينې چي دغوز سره بازي کوي يا دده په لاس کي دی نو پر جنګ دليل دی ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دکوم غوز مغز خراب سوي وي دهغه دکمي او زياتي مطابق به ورته حرام مال ملاويږي اوکه دغوز مغز خوندور وي نو پر حلال مال دليل دی اوکه ووينې چي غوز ماتوي دليل دی چي دعجمي سړی څخه به مال حاصل کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي دده سره غوز دی دليل دی چي په جنګ کي به راسي اوکه ووينې چي غوز بي خونده اوتريخ دی دليل دی چي دبخيل سړی څخه به خرابه خبره اوري اوکه ووينې چي دغوز دمغز څخه يي تيل ايستلي دی دليل دی چي دبخيل سړي څخه به ورته فايده رسيږي.

ګوز هندي \ کوپره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي چا ورته کوپړه ورکړي ده دليل دی چي نجومي او فالي به سي اوکه ووينې چي کوپړه يي خوړلي ده دليل دی چي ددوي خبره به رښتيا سي او بعض اهل تعبيرو بيان کړيدی چي کوپړه په خوب کي بد سړی دی ياهندي مينځه ده او ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي کوپړه يي خوړلي ده دليل دی چي دنجوميانو خبره به رښتيا ګڼي او په هغوي به اعتقاد لري.

ګوزبويا \ جوز

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي جوز ددين صلاح او دعلم شريعت پيژندل دی که ووينې چي جوز يي خوړلي دی دليل دی چي ددين دنيکي لار به اختيار کړي او شريعت به زده کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي دده سره ډير جوز دی او خوري يي او خلکو ته يي ورکوي دليل دی چي په علم او حکمت کي به بي مثاله وي او خلکو ته به فايده رسوي اوکه چاته يي نه وي ځني ورکړي دليل دی چي دعلم څخه به فايده ده او خلکو ته نه رسوي او بعض وايي چي جوز خوړل پر علم نجوم دليل دی.

ګويي زمين \ خندق \ کنده

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دمځکي خندق خراب مال دی چي په مکر او چم سره به يي حاصل کړي اوکه ووينې چي په خندق کي پټ سوي دی او دهغه څخه راوتلي نه سی دليل دی چي په مکر او چم سره به په يوکار کي راسي او دهغه څخه به په مشکله راوځي او څونه چي خندق ژور وي هغونه به کار زيات سخت وي اوکه ووينې چي هغه خندق دته خاني په ډول دی دليل دی چي غل به څه ځني وړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي کنده يا څاه يي کښلي دی دليل دی چي ديو چا لپاره به مکر اوچم کوي اوکه ووينې چي دهغه څخه يي اوبه را ايستلی دی دليل دی چي په مکر اوچم سره به څه حاصل کړي او ژوند به باندي تير وي اوکه ووينې چي کنده دبل چا لپاره وه نو څه چي مور بيان کړل دابه هغه سړی ته پيښ سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي کندي ته ايله سوي دی او دهغه څخه راوتی نه سي

Maktaba Tul Ishaat.com

دلیل دی چي په یو غټ کار کي به ګرفتاره سي اوخلاصون به نه کړي ځني حاصل اوکه د دې خلاف ووینې نو پر خلاصون دلیل دی.

کوزه

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي داوسپني کوزه خادم دی اوکه دخاوري جوړه وي دلیل دی چي دکوزي دخوبی مطابق به ورته مینځه حاصله سي اوکه ووینې چي دکوزي څخه یي اوبه چینبلي دی دلیل دی چي دمینځي سره به جماع کوي اوکه ووینې چي کوزه ماته سوي ده دلیل دی چي دده مینځه به مري. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چي په خوب کي کوزه مال او نعمت دی که ووینې چي دده سره دسرو یا دسپینو زرو کوزه ده دلیل دی چي دخوښي مطابق به ورته مال ملاو سي لیکن په دی کي به تهمت وي اوکه ووینې چي دده سره دتانبي یا دکلایي کوزه ده نو پر مال اونعمت دلیل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي کوزه لیدل په نهو وجو ده. ۱: ښځه ۲: خادم ۳: مینځه ۴: ددین قیام ۵: ډیر عمر ۶: مال ۷: دبدن درستي ۸: خیر او برکت ۹: دښځو میراث او دکوزي راځړولو تعبیر سردار او دامیر لور ده.

ګوساله\دغوا بچی

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که په خوب کي ووینې چي دغوا بچي یي اخیستي دی یا چا ورته ورکړي دی دلیل دی چي زوی به یي پیداسي اوکه دغوا بچي وي نو لور به یي پیداسي اوکه ووینې چي دغوا بچي یي کورته راوستلي دی اولاس یي باندي وهلي دی نو غمجن به سي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي دغوا بچي دده په کور کي تله راتله کوي نو پر غم او فکر دلیل دی اوکه ووینې چي دځنګلی غوا بچی یی نیولی دی نو پر زوی دلیل دی اوکه ووینی چي دغوا بچی پرملا سپور دی دلیل دی چي دعجمي پاچا سره به ملاوسي اودهغه څخه به مرتبه حاصله کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي دده دغوا بچي مړ سوي دی دلیل دی چي دده زوی به مړ سي اوکه ووینې چي دده څخه دغوا بچي ورك سوي دی دلیل دی چي دده زوی به دده څخه جلاسي اوکه ووینې چي دده سره دغوا بچي دی او ده دهغه غوښه خوړلي ده دلیل دی چي دخپل زوی میراث به خوري. اسماعیل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي دغوا بچي سپین دی دلیل دی چي دده زوی به پرهیزګار مبارک او مالدار وي اوکه برګ یي ووینې نو پر درمیانه درجي دلیل دی اوکه دغوا بچي قوي او څورب وي دلیل دی چي دده زوی به تندرسته اونیک حاله وي اوکه کمزوري او وچ وي نو د دې تعبیر خلاف دی.

ګوسفند\بزه\سرلی\پوسه\میږه\مړ\وری

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي بزه غنیمت ده که ووینې چي بزه پیایي دلیل دی چي په یو ټولګي به عزت او مشري حاصله کړي اوکه ووینې چي بعض بزي توري اوبعض سپیني دلیل دی چي په هغه ټولګي کي به عرب او عجم دواړه وي اوکه ووینې چي ډیري بزي دی اوپیژني چي دده دی دلیل دی چي ډیر مال به ورته حاصل سي اوکه ووینې چي بزه یي په غټ پورته کړي ده دلیل دی چي دچا محنت پر پخپله ذمه اخلي اوکه ووینې چي دبزي پخکړي

غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي دهغه په اندازه به ورته مال اوغنيمت حاصل سي اوکه ووينې چي سره کړي غوښه يي خوړلي ده نو پر غم اوفکر دليل دی اوکه ووينې چي دخوراك لپاره يي بزه حلاله کړيده دليل دی چي پر دښمن به کاميابه سي اودهغه مال به خوري. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي سرلي يي نيولي دی ياچا ورکړيدی دليل دی چي دده ملګرتيا به دلوی سړی سره وي او دهغه څخه به عزت اومال حاصل کړي اوکه ووينې چي دبزي مري يي پري کړيده اوهغه يي پرېښې دی دليل دی چي په لوی سړی به کاميابي حاصله کړي اودهغه څخه مال به اخلي او خرچ کوي به يي اوکه ووينې چي په سرلي ناست دی اوهغه دده تابعدار دی دليل دی چي پر لوی سړی به غالبه سي اوکه ووينې چي سرلي پر ده غالب دی نو د دې تعبير د اول څخه خلاف دی اوکه ووينې چي ده دبزي سر او پښې ماتي کړي دی دليل دی چي مخکي دکوم سړی ذکر سوي دی پر هغه به غالب سي اوکه ووينې چي دبزي سر اوپښې قوي او اوږدي دی دليل دی چي هغه سړی به قوي وي اوکه ووينې چي پر پسه باندي اوږد اوږد پشم وو دليل دی چي دهغه په اندازه به مال اونعمت زيات سي اوکه ووينې چي دمېږي څخه يي ډير پشم اخيستي دی اوپيژني چي دده دي، دليل دی چي دهغه په اندازه به پر خلکو حکومت کوي او دهغوي څخه به مال اونعمت حاصل کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي مېږه په خوب کي غټه او سخي ښځه ده په قصه دداود علیہ السلام کي الله تعالی ويلي دی (ان هذا اخي له تسع وتسعون نعجة ولي نعجة واحدة، سورة ص: ۲۳) ترجمه: د دې زما دورور ۹۹ بزي دی او زما صرف يوه بزه ده. اوکه ووينې چي ده يوه بزه نيولي ده يا چا ورکړيده دليل دی چي غټه سخي ښځه به دده سره مينه لري او دده غوښتونکي به وي اودهغه څخه به مال حاصل کړي اوکه ووينې چي بزه ورکه سويده دليل دی چي دغه ښځه به دده څخه جلا سي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي دبزي مري يي پريکړي ده دليل دی چي پر پرهيزګاره ښځه باندي به بهتان لګوي اوکه بزه توره وي نو هغه ښځه به عربی وي اوکه سپينه وي نوهغه ښځه به عجمي وي او دبزی پوست غنيمت او حلال مال دی اوپه خوب کي سرلي ليدل په پنځو وجو وي. ۱: سردار ۲: سرداره ۳: مال ۴: فرمان ۵: مرتبه او نفع.

ګوشت \ غوښه \ د مختلفو حيوانانو غوښه خوړل په خوب کي

دانيال علیہ السلام ويلي دی چي په خوب کي څونه پخکړي غوښه وخوړل سي پر مال اونعمت دليل دی چي په اساني سره به يي حاصل کړي خامه غوښه خوړل مال دی چي په غم او سختي سره به يي حاصل کړي او دغوښي اخستل او خرڅول غم اوفکر دي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي پخکړي غوښه خوړل دوريتي سوي څخه ښه ده او وريته کړه سوي غوښه دکچي غوښه څخه ښه ده اوکه ووينې چي دخپل بدن غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي دخپل کور والا غيبت به کوي او بعض اهل تعبير بيان کړي دی چي داسي کار به کوي چي په هغه سره به پښيمانه سي اوکه ووينې چي دخلکو غوښي خوري دليل دی چي په ناحقه به دخلکو غيبت کوي اوکه ووينې چي

Maktaba Tul Ishaat.com

څوك يي په پانسي رازړولي دی او دهغه غوښه خوري دليل دي چي حرام مال به خوري اوكه ووينې چي دغټې بزي پخكړي غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي نعمت به حاصل كړي اوكه ووينې چي ذبح كړي بزه يي كورته راوړي ده دليل دی چي دلته به څوك سردار حاصل كړي اوكه ووينې چي دبزي لږ بدن يي كورته راوړي دی دليل دی چي په دغه كور كي به څوك هلاك سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي څوربه غوښه په خوب كي ليدل دكمزوری څخه ښه ده اوكه ووينې چي په تازه غوښه يي څوك وهلي دی دليل دی چي هغه به په ژبه خفه كوي اوغيبت به يي كوي اوكه ووينی چي وريته سوي غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي دهغه په اندازه به په غم او فكر سره روزي حاصله كړي اوكه ووينې چي دقصاب څخه يي غوښه اخيستي ده او دهغه قيمت يي وركړيدی اوكور ته يي وړيده دليل دی چي هلاك به سي. اوكه ووينې چي دمار غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي دهغه په اندازه به ددښمن مال اخلي او خرڅوي به يي او دښمن به مغلوبه كړي اوكه ووينې چي داس غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي په خلكو كي به نيک نام سي او دپاچا څخه به ورته څه ملاو سي اوكه ووينې چي داوښ غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي ددښمن مال به اخلي او خوري به يي اوكه ووينې چي داوښ د بچي غوښه يي خوړلي ده دليل دي چي د يتيم مال به خوري او ناجوړه به سي او بيا به شفاء حاصله كړي اوكه ووينې چي دعقاب مرغه غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي دظالم پاچا څخه به ورته روپي حاصلي سي او كه ووينې چي دهوسی غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي هغونه به دښايسته ښځي څخه مال حاصل كړي اوكه ووينې چي دبزي غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي ددښمن څخه به ورته مفت مال حاصل سي او خرڅ به يي كړي. اوكه ووينې چي دتوتكي غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي په مصيبت كي به گرفتاره سي يا به ناجوړه سي اوبعض اهل تعبير بيان كړي دی چي دتوتكي غوښه په خوب كي خوړل ددښمن مال خوړل دی اوكه ووينې چي دبطي غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي دهغه په اندازه به مال اونعمت حاصل كړي اوكه ووينې چي دپرانگ غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي په جنگ كي به نوم وگټي او عزت به حاصل كړي اوكه دچرچني غوښه يي خوړلي وه دليل دی چي دی به د دولت مند سړي يا خپل زوي څخه مال حاصل كړي اوكه ووينې چي دبيزو غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي ناجوړه به سي اوكه ووينې چي دفيل غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي دپاچا څخه به مال حاصل كړی اوكه ووينې چي دچرخ مرغ غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي دظالم پاچا څخه به ورته نفع حاصله سي اوكه ووينې چي دزركي غوښه يي خوړلي ده نو دغدار سړي مال به خوري اوكه ووينې چي دگونگي غوښه يي خوړلي ده نو دغلا مال به خوري اوكه ووينې چي دخره غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي حرام مال به خوری اوكه ووينې چي دسويي غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي دښځي مال به خوري اوبعض اهل تعبير بيان كړي دی چي دوراثت مال به حاصل كړي اوكه ووينې چي دچرگ غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي دعجمي سړی مال به خوري اوكه ووينې چي دچينجی غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي حرام مال به خوري اوپه اطاعت كي به سستي كوي اوكه

ووينې چې دتيتر غوښه يې خوړلې ده دليل دی چې دښځې مال به اخلي او خرڅ به يې کړي اوکه ووينې چې دنولې غوښه يې خوړلې ده دليل دی چې ناجوړه به سې يا به ورته بيره وي اوکه ووينې چې دسنګ خوار مرغه غوښه يې خوړلې ده دليل دی چې دبيوقوف سړی دمال څخه به فايده اونفع حاصله کړي اوکه ووينې چې دکارغه غوښه يې خوړلې ده دليل دی چې دمسافر سړی څخه به خير او نفع حاصله کړي اوبعض وايي چې ددنيا په زينت اودده په کمال دليل دی اوکه ووينې چې دسپې غوښه يې خوړلې ده دليل دی چې په دښمن به کاميابه سې او دسنجاب مرغه غوښه خوړل دمسافر سړی غوښه خوړل دی او دسيمرغ مرغه غوښه خوړل دلوی سړی څخه مال حاصلول دی اوکه دباز غوښه يې خوړلې وي نو دظالم سړی دمال څخه به نفع حاصله کړي اوکه دبزي دبچي غوښه يې خوړلې وي دليل دی چې ګمراه به يې ورته ملاويږي اوکه ووينې چې دزمري غوښه يې خوړلې ده دليل دی چې په تجارت کې به د خپلوانو سره جنګ کوي اوکه ووينې چې دطاوس غوښه يې خوړلې ده دليل دی چې مال اونعمت به حاصل کړي. اوکه دطوطي غوښه خوري نو بې فايدي علم به زده کوي اوکه ووينې چې دګګوشتکي غوښه يې خوړلې ده دليل دی چې دښايسته ښځې څخه به نفع حاصله کړي اوکه دغوا غوښه وخوري نو ډير مال به حاصل کړي اوکار به يې په انتظام سره وي. اوکه ووينې چې دځنګلي غوا غوښه يې خوړلې ده دليل دی چې دهغه په اندازه به ورته دښځې يا دمينځې دمال څخه نفع ورسيږي اوکه دکوتري غوښه وخوري نو دښځې دمال څخه به ورته نفع وي اوکه دپيشو غوښه وخوري نونفع به حاصله کړی اوکه دليوه غوښه وخوري نو دظالم پاچا څخه به حرام مال حاصل کړي اوکه دشمشتي غوښه وخوري نو دعالم څخه به علم حاصل کړي اوکه دکوني کبر غوښه وخوري نو بوډې ښځه به جادو باندې کوي اوکه دعقيق مرغه غوښه يې خوړلې وي نو دځنګلي سړی مال به خوري اوکه ووينې چې دځنګلي خره غوښه يې خوړلې وي دليل دی چې مال اونعمت به حاصل کړي اوکه دچرګې غوښه يې خوړلې وي نو دمينځې يا خادم دطرف څخه به ورته مال حاصل سي اوکه دماهي غوښه يې خوړلې وي دليل دی چې دښځې دمال څخه به څه خوري او دهيلې غوښه خوړل په بزرګي او ولايت دليل لري اوکه ووينې چې دمړي غوښه يې خوړلې ده دليل دی چې بدي به کوي اوکه ووينې چې دمګرمچ غوښه يې خوړلې ده دليل دی چې غم اومصيبت به ورته رسيږي اوکه دهدهد ملا چرګ غوښه يې خوړلې وي نو دبزرګ او هوښيار سړی څخه به ورته نفع حاصله سي اوکه دهما مرغه غوښه يې خوړلې وي دليل دی چې دپاچا څخه به ورته خوشحالي ملاو سي او مرتبه به يې پورته سي اوکه ووينې چې دبلبلي غوښه يې خوړلې ده دليل دی چې دښځې يا زوی يا غلام څخه به ورته نفع وي اوکه ووينې چې دبانبي غوښه يې خوړلې ده دليل دی چې ددښمن مال به خوري اودپرانګ غوښه خوړل هم ددښمن دمال په خوړلو دليل لري. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دځناور غوښه خوړل په څلورو وجو وي. ۱: مال ۲: ميراث ۳: مالداري ۴: مصيبت او فکر.

Maktaba Tul Ishaat.com

ګوش \ غوږ

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی که څوك په خوب کي ووينې چې دده غوږ ايله سوی دی يا پريکړې دی دليل دی چې ښځې ته به طلاق ورکوي يا به يې لور مړه سي يا به ديو بل څخه جلاسي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چې دده مرګ نزدی سوی دی اوکه ووينې چې کوڼ سويدی او څه نه اوري نو دا دده ددين او ديانت پر فساد دليل دی. جعفر صادق رحمه الله عليه ويلي دی چې په خوب کي غوږ ليدل په اتو وجو دی. ۱: ښځه ۲: خير او نفع ۳: دوست ۴: يو ځای ته تلل ۵: زوی ۶: غلام ۷: مال او مراد ۸: بيره.

ګوشوار \ غوږوالي

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی که ووينې چې دده په دواړو غوږونو کي والي دی دليل دی چې دده ښايست به د اول څخه زيات سي اوکه ووينې چې په دواړو غوږونو يې قيمتي ملغلري راځړېږي دليل دی چې علم او قران کريم به زده کړي او هوښيار او عالم به سي اوکه ملغلري په يو غوږ پوري ووينې اوپه بل غوږ پوري ونه وينې دليل دی چې علم اوقران کريم به زده کړي. ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دی که ووينې چې دده سره دوه والي دی دليل دی چې عزت اومرتبه به حاصله کړي اوکه سړی ووينې د ده څخه والي ورک سوی دي دليل دي چې دده دښځې ته به طلاق ورکوي. جعفر صادق رحمه الله عليه ويلي دی چې په خوب کي والي ليدل په څلورو وجو دی. ۱: ښايسته زوی ۲: علم اوقران زده کول ۳: بزرګي ۴: ښځې ته طلاق ورکول او غم اوفکر دی.

ګوشک \ محل \ ماڼۍ

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چې که څوك په خوب کي ووينې چې يو محل ته تللي دی دليل دی چې ښه مال به ورته حاصل سي خاصکر که محل داومو خښتو يا دخاورو وي اوکه دپخو خښتو يا دخاوروی نو پر مال دليل دی ليکن په دين کي به يې نقصان وي اوکه ووينې چې پاچا ورته محل ورکړي دی دليل دی چې دپاچا څخه به مال حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمه الله عليه ويلي دی که ووينې چې دده محل خراب دی دليل دی چې مال به يې ختم سي اوکه ووينې چې دده په محل کي اور لګيدلي دی دليل دی چې پاچا به تاوان ځني اخلي. جعفر صادق رحمه الله عليه ويلي دي چې په خوب کي محل ليدل په اتو وجو وي. ۱: نعمت ۲: ولايت ۳: مرتبه ۴: رياست ۵: مشري ۶ پاچاهي ۷: خوشحالي ۸: دمحل دلوړوالي او دخوبي مطابق به خوشحالي واده اومرتبه حاصله کړي.

ګوګرد \ ګوګړ

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دي چې په خوب کي ګوګر ليدل غم اوفکر دي او څه خير پکښې نسته.

کودک \ معصوم \ ماشوم \ کوچنی

دانيال عليه السلام ويلي دی چې په خوب کی ماشوم والی غم اوفکر دی اوکه ووينې چې ماشوم سويدی او دمعلم په مخکي کي کتاب وايي دليل دي چې په غم اوفکر کي به ګرفتار سي ځکه چې ماشوم دفساد څخه صلاح غواړي او اهل تعبير وايي چې که خپل ځان ماشوم ووينې نو کار

به يي کمزوري سي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که ووينې چي د ده په مخکې وريت سوي ماشوم پروت دي او ده خوړلي دي دليل دي چي دي به ډير خير حاصل کړي او هغه ماشوم به لويې مرتبې ته رسيږي، ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي نښائسته هلک په تعبير کې فريشته ده او بد صورته هلک نفعه ده اوکه ووينې چي دي ماشوم سويدي دليل دي چي مقصد ته به نه رسيږي اوکه ووينې چي سړي ماشوم ته شيدي ورکړي دي دليل دي چي د پيدا کيدو په وخت به ماشوم سلامت وي.

کوه \ غر

دانيال عليہ السلام ويلي دی که خپل ځان پر لوړ غره ووينې اوپيژنې چي د ده ملکيت دي دليل دی چي ديو بزرګ سړي په پناه کې به سي اوکه ووينې چي غره ته ختلي دي دليل دي چي عزت اومرتبه به حاصله کړي اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دي چي که په مشکله پر غره ختلي وی نو پر غم او فکر دليل دي اوکه وينې چي د غره څخه لاندې رالويدلي دي دليل دي چي د ده بزرګي او مرتبې ته به نقصان ورسيږي اوکه ووينې چي دغره پر سر يې ځای جوړ کړي دي دليل دي چي دپاچا څخه به عزت حاصل کړي او د هغه مقرب به سي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که و وينې چي ده پر غره آذان کړي دي او لمونځ يې کړي دي دليل دي چي د ده کار به په خير او خوبي سره وي، جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کې غر او محل ته ختل د مراد په پوره کيدو دليل دی، او که ووينې چي د غره په لمن کې را ايله سو دليل دي چي غمجن به سي اوکه و وينې چي د غره په لمن کې يې لمونځ کړي دی دليل دی چي ددين موفق کار به کوي اوکه ووينې چي په غره کې دده سره دپاچاهي خلک دی دليل دی چي دپاچا څخه به عزت حاصل کړي اوکه ووينې چي غره دخپل ځاي څخه حرکت کړي دی اوبيا دريدلي دی دليل دی چي دلته به څوک لوی سړی ناجوړه سي اوبيا به شفا حاصله کړي. اوکه ووينې چي غر يې په اساني سره کښينستلي دی دليل دی چي ژر به بخښش حاصل کړي اوکه ووينې چي غر دخاوري دی دليل دی چي ده ته به دکنجوس سردار څخه طمع وي اوکه ووينې چي پر کوه قاف ناست دي دليل دی چي دده مرګ نزدی دی اوکه ووينې چي پر کوه طور دی دليل دی چي دپاچا به باندې باور وي اودده مرادونه به پوره سي اوکه خپل ځان پر غونډې دعرفات ووينې دليل دی چي توبه به وباسي او پر ګناه به پښيمانه سي اوکه ووينې چي پر کوه لبنان دی دليل دی چي دعالمانو او صالحانو سره به ملګرتيا لري اوکه خپل ځان په تاريک غره کې ووينې دليل دی چي ده ته دهلاکت بيره ده اوکه ووينې چي په غره کې بې لاري سوي دی دليل دی چي دده مرګ نزدی دی يا به قيد خاني ته ځي اوکه خپل ځان پر روښانه غر ووينې دليل دی چي مال به حاصل کړي.
اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي په وران غره کې دی اوکانې خواره واره پراته دی اودی پکښې په مشکله ګرځي او غشي ولي دليل دی چي دظالم پاچا څخه به ورته بيره وي اوکه ووينې چي په غره کې سوري دی او دي په هغه سوري کې دننه تللي دی دليل دی چي دپاچا دراز څخه به خبر سي اوکه ووينې چي دهغه سوري څخه يې څه شي را ايستلي دی دليل

Maktaba Tul Ishaat.com

دی چي دپاچا څخه به بخشش حاصل کړي. حافظ معبر رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي غره ته ختلي دی دليل دی چي دبزرګ سړی په خدمت کي به مشغول سي اوکه ووينې چي دغرونو څخه يي کانی راخيستي دی اوهر يو کانی خپل خپل ځای ته غورزوي اودهغه ځای څخه يي را اخلي اوپر غر يي ايږدي دليل دی چي مال به په قهر سره جمع کوي اوکه ووينې چي دغرونو پر غاړه يي ځای اخيستي دی دليل دی چي دلوی سړی خدمت به کوي اودهغه څخه به نفع حاصله کړي. اوکه ووينې چي دغر څخه لاندي را ايله سوي دی دليل دی چي مراد به يي پوره نه سي اوکه ووينې چي پر غره دپخو خښتو او چوني څخه ځينې جوړې سوي دی او دي دغره سرته باندي ختلي دی دليل دی چي مراد به ورته ژر حاصل سي اوکه ووينې چي ځينې دکچي خښتو دی نو تعبير يي ښه دی اوکه داوسپني وي نو بد دی اوکه ځينې دسپينو زرو وي نو مراد به يي پوره نسي اوکه ووينې چي دغره پرسر ولاړ دی دليل دی چي دپاچا خاص مقرب به سي اوډير مال به حاصل کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي غر ليدل په پنځو وجو دي. ۱: پاچا ۲: دمنشي کار ۳: کاميابي حاصلول ۴: لوړوالي حاصلول ۵: سرداري حاصلول.

ګوهر \ ملغلري

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ملغلري ليدل ښايسته اومالداره ښځه ليدل دی اوکه ووينې چي دده سره ملغلره ده دليل دی چي ښځي ته به طلاق ورکوي اوکه ووينې چي دده سره ډيري ملغلري دی دليل دی چي ډير مال به حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي ملغلري خرڅوي دليل دی چي د ښځو په شغل کي به مشغول سي اودلالي به کوي اوکه ووينې چي په بعضو ملغلرو کي سوري دی او دبعضو ورته پام نه دی دليل دی چي دپيغلو اوکوندو ښځو دلالي به کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سپينه ملغلره زوی دی که ووينې چي سپينه ملغلره ورسره ده دليل دی چي زوی به يي پيداسي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ملغلري ليدل په اتو وجو وي. ۱: مال ۲: علم ۳: مشهور زوی ۴: قيمتي شي ۵: ښايسته ښځه ۶: فايده منده ښځه ۷: خير اوبرکت ۸ : نيک کار کول. اوکه خوب ليدونکي پرهيزګار نه وي نو دهغه لپاره دپښيماني دليل دی او په خوب کي ملغلري خرڅونکي دعلم او حکمت خاوند دی.

کوچه \ کوڅه \ ګلی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك په خوب کي ووينې چي په اباده کوڅه کي دی دليل دی چي خير اونفع به ورته ورسيږي خاصکر که په مصلح خلکو کي وي اوکه د دې خلاف ووينې دليل دی چي بدي نقصان اوضرر به ورته رسيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي په فراخه کوڅه کي مقيم دی نو دا دده لپاره دغم اوفکر دليل دی.

کاکيره بوټي \ د کيکر درخته

که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره کيکر دی يا چا ورکړيدی دليل دی چي غمجن به سي اوکه ووينې چي کيکر يي خوړلي دی نو پر زيات او سخت غم او فکر دليل دی اوکه ووينې

چي چا کيکر ورکړي دی دليل دی چي هغه ته به غم اوفکر رسوي اودکيکر په ليدلو کي هيڅ قسم خير اونفع نسته، او الله تعالی ښه پوهيږي.

[ل]

لباچه\چوغه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي چوغه ليدل نيکي او ددين مضبوطوالي دی خاصکر که شنه وي اوکه ووينې چي دده سره دسمور يا دسنجاب مرغه چوغه ده دليل دی چي دايماندار سړی په پناه کي به سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي دده سره شنه چوغه ده دليل دی چي دامانتدار سړي څخه به ورته نفع ورسيږي اوکه سره چوغه يي اغوستي وي دليل دی چي يو فکر او مصيبت به حاصل کړي اوکه سپينه وي نو دمصلح اومالدار سړی څخه به نفع حاصله کړي اوکه ژړه وي نو پر ناجوړي دليل دی اوکه اسماني رنګ وي نو پر غم او فکر دليل دی اوکه توره وي او خوب ليدونکي قاضي ياخطيب وي نو خير اونيکي به حاصله کړي اوکه قاضي يا خطيب نه وي نو پر نقصان اوبي حرمتي دليل دی. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دوريښمو چوغه دسړيو لپاره دنقصان دليل دی او دښځو لپاره خوشحالي ده او داسماني رنګ چوغه دسړو اوښځو دواړو لپاره ښه ده او سپينه اوفراخه چوغه پر خير اونيکي دليل لري اوتنګه چوغه په خوب کي ليدل دمال پر نقصان دليل لري. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دسوترو چوغه دسړيو او ښځو لپاره ښه ده اوپه خوب کي چوغه په څلورو وجو ده. ۱: ښځي ۲: امانتداري ۳: دکارونو درستي ۴: خير او نفع.

لباس\کالي\جامې

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي دګرمي کالي يي په يخني کي اغوستي دی دليل دی چي مال به يي زيات سي ليکن خوف اوبيره به ورته رسيږي ليکن د دې انجام به ښه وي اوکه ښځه ووينې چي دی دسړو کالي اغوستي دی دليل دی چي دخاوند څخه به ورته څه حاصل سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که دبيداري په نسبت په خوب کي خراب کالي ووينې دليل دی چي دده کاربه بد وي اوکه ښه ووينې نو دده کاربه ښه وي اوکه خپل کالي دسردارانو په ډول ووينې دليل دی چي سردار به سي اوکه خپل کالي دبدکارو په ډول ووينې دليل دی چي ډيره ګناه به کوي اوکه ووينې چي دده کالي دعالمانو دي دليل دی چي دعلم څخه به حصه حاصلوي اوکه دصوفيانو کالي لري دليل دی چي ددنيا څخه به لاس اخلي اوکه دمالدارو کالي لري دليل دی چي په مال جمع کولو کي به حريص سي اوکه ووينې چي ديهوديانو او عيسايانو کالي لري دليل دی چي دده زړه به دهغوي طرفته مايل وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي کالي ليدل په اوو وجو وي. ۱: پاک دين ۲: مالداري ۳: عزت اومرتبه ۴ : نفع ۵: ښه ژوند ۶: نيک عمل ۷: عدل به غواړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

لبها \ شونډي \ شونډان

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي شونډي ليدل دمراد په پوره کيدو دليل دی او ووينې چي لاندي شونډه دلوړي شونډي څخه ښه ده نو دليل دی چي عمل به يې ښه وي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دي چي په خوب کي شونډي خپلوان دی اوکه ووينې چي دده لوړه شونډه دخپل ځای څخه را ايله سويده دليل دی چي دده مال به په زوال کي وي اودلاندي شونډي هم دغه تعبير دی اوکه ووينې چي دده لاندي شونډه پريکړه سوه دليل دی چي ښځي ته به طلاق ورکوي يا به ښځه دی هلاک کړي اوکه دواړي شونډي پريوه ځای ووينی دليل دی چي ده ته به دمور اوپلار دطرف څخه مصيبت رسيږي او داهم وايي چي دی به چغل خور وي اوکه خپلي شونډي درد کوونکي ووينې دليل دی چي غمجن به سي اوکه ووينې چي دده شونډي ديو بل سره مښتی دی او خلاصيږي نه دليل دی چي کار به يې بند سي اوکه ښځه پر خپله شونډو تور داغ ووينې دليل دی چي عزت به يې زيات سي. جابر مغربی رحمه الله عليه ويلي دی که خپلي شونډي يې په غاښونو زخمي کړي وي دليل دی چي جنګ به کوي چي دهغه څخه به ورته دهلاکت بيره وي اوکه ووينې چي دده شونډي پرسيدلي دی دليل دی چي مال به يې زيات سي اوکه ووينې چي دده شونډي سري سوی دی دليل دی چي حاکم به سي اوکه ووينې چي دده شونډي شني يا سپينې دی دليل دی چي ددوستانو څخه به غم حاصل کړي اوکه کمزوره يې ووينې نو حال به يې بد سي. جعفر صادق رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي لوړه شونډه په هلکانو اولاندينې پر انجليانو دليل لري.

لحاف \ پرستن \ شړۍ

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی چي په خوب کي پرستن ښځه ده که ووينې چي نوي او پا که پرستن ورسره ده دليل دی چي ښځه به کوي اوکه ووينې چي نوي پرستن يې اخيستي ده نو پيغله مينځه به اخلي اوکه ووينې چي دده پرستن ورکه سوي ده نو ښځي ته به طلاق ورکوي اوکه پرستن خيرنه اوخيري ووينې نو دده عيال به ناموافقه اوجنګيالي وي. جابر مغربی رحمه الله عليه ويلي دی که ووينې چي دده سره پرستن ده دليل دی چي ديندار اومالداره ښځه به کوي اوکه پرستن سپينه وي نو دده ښځه به مالداره او پرهيزګاره وي اوکه سره وي نو ښځه به يې عياشه وي اوکه ژړه وي نو ښځه به يې ناجوړه وي او رنګداره پرستن پرمکاري اودهوکه بازي ښځي دليل لري.

لرزيدن \ رپيدل \ لړزېدل \ ښورېدل \ رپږدېدل

ابن سيرين رحمه الله عليه ويلي دی که ووينې چي دده څټ ښوري دليل دی چي په امانتداري کي به کمزوري وي اوکه ووينې چي دده سر ښوري دليل دی چي ده ته به دحاکم څخه نقصان رسيږي اوکه ووينې چي دده لاس رپيږي دليل دی چي ښه ژوند والا به وي اوکه ووينې چي دده سينه رپيږي دليل دی چي داسي خبره به اوری چي په هغه سره به فکر مند اوغمجن سي اوکه ووينې چي دده نس ښوري دليل دی چي دچا څخه ورته قوت اوپناه وي دهغه څخه به ورته غم اوتکليف رسيږي اوکه ووينې چي دده پښه ښوري دليل دی چي په سبب دهغه مراد چي دی يې

دحاصلولو کوشش کوي دهغه څخه به غم اوسختي ويني دانيال عليه السلام ويلي دی چي په خوب کي دبدن داندامونو رپيدل يوڅه بيره وي.

لرزيدن چيزها \ شيان ښورپدل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که څوك په خوب کي ووينې چي اسمان رپيږي دليل دی چي په دغه ملك کي به فتنه فساد اوظلم ډير وي اوکه ووينې چي لمر اوسپوږمي رپيږي دليل دی چي ددغه ملك پاچا ته به غم اوضرر رسيږي اوکه ووينې چي ستوري رپيږي دليل دی چي دپاچا مقربينو کي به خفګان ښکاره سي اوکه ووينې چي مځکه رپيږي نو پر فتنه او افت دليل دی اوکه ووينې چي غر رپيږي دليل دی چي ددغه ملك پاچا ته به نقصان رسيږي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی که په خوب کي ووينې چي عرش رپيږی نو دعالمانو پر بد ديانتي اوفساد دليل دی اوکه ووينې چي لوح قلم رپيږي نو دمنشياتو او داهل علم په بدحالي دليل دی اوکه اووه اسمانونه په رپيدو ووينې دليل دی چي ددغه ملك والاوو دفساد په وجه به دالله تعالی عذاب اوغصه وي اوکه ووينې چي لمر اوسپوږمي دستورو په وجه رپيږي نو ددغه ملک دپاچا په جنګ قتل او خونريزي دليل دی اوکه ووينې چي دپاچا کور يامحل رپيږي دليل دي چي پر دغه ځاي والاو به محنت اوافت راځي اوکه ووينې چي دده بدن رپيږي نو پر فساد اومصيبت دليل دی.

لشکر \ لښکر \ فوج \ اردو

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که په خوب کي ووينې چي لښکر په يو ځاي کي دی يا راغلي دی دليل دی چي هغه ځای والاوو ته به تکليف رسيږي اوکه لښکر تيار ووينې نو چي په کوم ملك کي لښکر دی دهغه دقوت او مدد دليل دی اودکوم پاچا چي لښکر دی دهغه په قوت دليل دی اوکه لښکر بغير دوسلي وي نو دپاچا او دملك والا پرکمزوري اوعاجزي دليل دی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي لښکر ليدل. په پنځو وجو وي. ۱: ملخ ۲: سيل ۳: سخته هوا ۴: جنګ ۵: بلا او خواري.

لعل \ لال

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي لعل ښايسته اومالداره ښځه ده که ووينې چي دده سره اتش لعل دی يا چا ورته ورکړي دی يا ده اخيستي دی دليل دی چي داسي قسم ښځه به کوي يا به پاکيزه اوعقلمنده مينځه اخلي اوکه ښځه يې وي نو پاکيزه اوښايسته لور به يې پيدا سي اوکه ووينې چي دده سره ډير لعلونه دی دليل دی چي دهغه په اندازه به مال حاصل کړي ليکن په دين کي به ګمراه وي جابر مغربي رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چي دوست ته يې دلعل ټکړه ورکړيده دليل دی چي دهغه په اندازه دقيمت مطابق به دخپلوانو څخه مالداره ښځه کوي اوکه ووينې چي يوچا نا اشنا ورته دلعل ټکړه ورکړي ده دليل دی چي د دې صفت نامعلومه ښځه به کوي اوکه ووينې چي يوچا ځوان ورته دلعل ټکړه ورکړيده نو مال به حاصل کړي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي لعل ليدل په څلورو وجو وي. ۱: ښځه ۲: مينځه ۳: نفع

Maktaba Tul Ishaat.com

۴: ددنيا مال او انجلياني.

لعوق \ چيکني

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چي دچيکني مزه اوخوند خوړ اوخوشبوداره دی نو پر خير او نفع دليل دی اوکه دانارو جنغوزو او دخشخاشو وغيره چيکني وويني نو که ترخه تروه اوبدبويه وي نوپر بدي اونقصان دليل دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي خواړه چيکني پر خير اونفع دليل لري او دترخي تعبير ددي خلاف دی.

لفاح الشمامه \ دستنبويه گل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که وويني چي دستنبويه خوري دليل دی چي ناجوړه به سي اوکه وويني چي چاته يي ورکړي دی نو هغه به ناجوړه سي اوکه بوي کړي يي وي نودخوشحالي خبره به اوري اوکه وويني چي دده سره ډير دستنبويه ګلونه دی نو مال به حاصل کړي.

لقلق (يو ډول مرغه)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که وويني چي لقلق يي نيولي دی يا چا ورکړي دی دليل دی چي دباحسب اونسبةً ازاد اوعاقبت انديش سړی سره به يي صحبت وي اوکه وويني چي لقلق يي وژلي دی دليل دی چي لوی دښمن به دده دلاسه هلاک سي اوکه وويني چي لقلق ورسره خبري کوي دليل دی چي داسي کار به وکړي چي په هغه سره به خلک حيران سي اوده ته به دلوي سړی څخه نفع حاصله سي اوکه وويني چي د لقلق غوښه يي خوړلي دی دليل دی چي دهغه په اندازه به ددهقان څخه مال حاصل کړي.

لقمه \ ګوله

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که وويني چي چا خوړه ګوله دده په خوله کي ايښيده دليل دی چي هغه سړی به ده ته ښه خبره کوي اوکه هغه ګوله خرابه اوتروه وي نو د دې تعبير داولني خلاف دی. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي که وويني چي چا دده په خله کي خوړه ګوله ايښي ده که مصلح وي نو حلال مال به حاصل کړي اوکه ګوله خوړه اوګرمه وي دليل دی چي په يوه خبره به په مصيبت کي راسي اوکه ګوله دده په مري کي په اساني سره تللي وي نو تعبير يي د اول خلاف دی. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي په خوله کي ګوله ايښودل په دروجو ده. ۱: مچول ۲ : پاکه خبره ۳: دګولي دانداز مطابق نفع.

لقوه (يو ډول ناجوړي)

لقوه يوه ناجوړي ده چي په هغه کي خوله کږيږي ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که وويني چي دلقوي په ناجوړي سره دده خوله کږه سوي ده دليل دی چي دخلکو په نزد به ذليله اوخوار سي اوکه خپل مخ ښايسته وويني نو په خلکو کي به معزز اومقبول سي . جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چي په خوب کي لقوه پر نفاق دليل لري چي په خلکو کي دمنافقت خبري کوي اوکه وويني چي ده ته لقوه سويده نو دناجوړي پر ښکاره کيدو اوددين پر نقصان دليل دی.

لګام\واګي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې واګه يې پرې سويده ياورك سوي دی دليل دی چې دده په مرتبه او بزرګي کي به نقصان وسي اوکه ووينې چې داسونو په ډول دده پر سر واګي دی دليل دی چې روژي به نيسي اودګناهونو څخه به توبه کوي. حضرت علی رضی اللہ عنہ ويلي دی چې کوم سړی ناکاره او بدخويه وي دهغه په خوله کي واګي اچول کيږي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي واګي دنيك سړی پر سروي چې هميشه دمالك په حکم کي وي او ازاد سر ښه نه دی اوبيان کوي چې خوب والا با ادبه اوهوښيار سړی وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي واګي په درو وجو وي. ۱: شرف او بزرګي ۲: روژه نيول ۳: ادب او هوښيارتيا او په خوب کي واګي خرڅونکي دولايت په کارونو کي تدبير کوونکي دی.

لګدزدن\لتې وهل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ده څوك په لته وهلی دی دليل دی چې دده څخه يا دده دخپلوانو څخه به هغه ته نقصان رسيږي اوکه ووينې چې اس دی په لته وهلي دی دليل دی چې دده په مرتبه اوبزرګي کي به نقصان ښکاره سي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چې خوب ليدونکي به په فساد کي مشغول سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ښځې ته يې لته ورکړي ده دليل دی چې دښځې په وجه به فکر مند سي اوکه ووينې چې غټې بوډې په لته وهلی دی دليل دی چې مال به يې ختم سي اوکه ووينې چې اوښ ورته لته ورکړي ده دليل دی چې دلوی سړی څخه به ورته نقصان رسيږي اوکه ووينې چې غوايي ورته لته ورکړي ده دليل دی چې په دغه کال کي به ورته نقصان رسيږي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي لته وهل په څلورو وجو وي. ۱: نقصان ۲: ضرر ۳: غم اوفکر ۴: د عيال فساد.

لک\لاک

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك په خوب کي ووينې چې دده سره لاک دی دليل دی چې دخراب سړی څخه به ورته نفع حاصله سي اوکه ووينې چې لاک يې په اور کي ايښي دی اودود کوي دليل دی چې دده کار اونوم به په ملک کي په نيکي سره مشهور سي اوکه ووينې چې لاك يې خوړلي دی نو پر غم دليل دی اوکه ووينې چې چاړه يې په لاکو کلکه کړيده دليل دي چې ددوو هوښيارو او پرهيزګارو سړو ترمينځ به صلح کوي.

لوبيا

لوبيا يو قسم سبزي دی ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي لوبيا که په موسم کي يې ووينې نوښه دی اوکه بی موسمه يې ووينې نو پر غم اوفکر دليل دی.

لوح محفوظ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې لوح محفوظ په عام تعبير کي ديانتدار سړی دی چې خپل مال دالله تعالی په لاره کي خرڅ کوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې دلوح محفوظ تعبير علم حکمت اوقران کريم دی که ووينې چې لوح محفوظ کوچني اوکم دی دليل دی چې حال به يې

Maktaba Tul Ishaat.com

بد سي. اوكه ووينې چې په لوح محفوظ څه ليكي دليل دى چې كار به يې نيک سي اوكه ووينې چې پر لوح محفوظ ګرځي دليل دى چې دلوى پاچا سره به يې كار راسي اوپه دى كې به حاكم سي اوكه ووينې چې دده نوم په لوح محفوظ ليكل سويدى دليل دي چې ددمرګ نزدى دي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دى چې په خوب كي لوح محفوظ ليدل په شپږو وجو وي. ۱: زياتي ۲: زوى ۳: علم ۴: هدايت ۵: حكومت ۶: حكمت.

لوزينه \ د بادامو حلوى

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى كه ووينې چې لوزينه يې دچينې سره په خوله كي اينبي ده دليل دى چې دچا څخه به ښه خبره اوري اوكه ووينې چې ډيره لوزينه يې خوړلې ده دليل دى چې دهغه په اندازه به مال حاصل كړي اوكه ده ته چا لوزينه وركړي وي دليل دى چې ښه خبره به ورته كوي يا به دهغه لپاره نيك كار كوي. جابر مغربى رحمة الله عليه ويلي دى كه ووينې چې ده لوزينه خوړلې يا اخيستې يا چا وركړي ده دليل دى چې دهغه په اندازه به حلال مال اونعمت حاصل كړي او خرڅوي به يې اوكه ووينې چې ده چا ته لوزينه وركړي ده دليل دى چې هغه ته به مال اونعمت ور كوي. اوكه ووينې چې لوزينه ځني وركه سويده يا چا ځني پټه كړي ده دليل دى چې دده دمال نقصان به وسي.

لنګ شدن \ ګوډ كيدل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دى چې په خوب كي دګوډ كيدلو دليل دا دى چې داسي كاربه كوي چې په هغه كي به خير شر سستي ضعيفي اوكمزوري وى اوبعض اهل تعبير بيان كړي دى چې كه خپل ځان ګوډ او كمزوري ووينې دليل دى چې دخلكو په نظر كي به ذليله او خوار سي. ابراهيم كرمانى رحمة الله عليه ويلي دى كه څوك خپل ځان ګوډ ووينې دليل دى چې په دين اودنيا كي به كمزوري وي اومراد به يې پوره نه سي اوكه ووينې چې ځان يې قصدا ګوډ كړيدى دليل دى چې دخپل ژوند په كار كي به دچا څخه مدد غواړي اوكه ووينې چې ګوډ سوي دى اوپر امسا ګرځي دليل دى چې دمعتبر سړى څخه به مدد غواړي اومراد به حاصل كړي اوكه ووينې چې خپله يې ځان ګوډ كړي دى دليل دى چې په ښكاره طور سره به په چا بروسه كوي او په اصل كي به يې په هغه اعتماد نه وي. جابر مغربى رحمة الله عليه ويلي دى كه څوك خپل ځان په دواړو پښو ګوډ ووينې او په دواړو لاسونو كي يې لرګي نيولي دى اوګرځي دليل دى چې دواده اودكور په كارونو كي به عاجز سي اوكه ووينې چې په پښه كي يې زوز ننوتلي دى او دهغه په وجه نسي ګرځيدلاي دليل دى چې دشر څخه به په امن كي سي اوكه ووينې چې په دواړو پښو كي يې زوز ننوتلي دى او پرسيدلي دى او ګوډ نه دى دليل دى چې دښمن به حسد باندي كوي او دده مال او مرتبه به زياته سي. اسماعيل اشعث رحمة الله عليه ويلي دى چې كه ګوډ په خوب كي ووينې چې دده پښې جوړې سوي دى او ګوډ ګوډ نه ګرځي دليل دى چې بند كارونه به يې فراخ سي او دكوم مراد څخه چې نا اميده وي هغه به پوره سي اوكار به يې په انتظام سره سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دى چې په خوب كي ګوډ كيدل په پنځو وجو وي. ۱: په كارونو كي سستي ۲:

نامرادي ۳: فقيري ۴: غم اوفکر ۵: دعيش او عشرت نقصان.

لويد\غټ ديګ

دتانبي ديګ په خوب کي دکور خدمتګار دی چي داصله عيسايي وي که ووينې چي دده په لاس کي نوي اوغټ ديګ دی دليل دی چي دده خادم به امانتدار وي اوکه زوړ خيرن اوکوچني وي نو تعبير يي د دې خلاف دی اوکه ووينې چي غټ ديګ ايله سو اومات سو دليل دی چي خادم به مري. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي په غټ ديګ کي سوري دی دليل دی چي خادم به يي ناجوړه سي اوکه دپاکو اوبو څخه يي ډک ووينې نو دخدمتګار څخه به ورته فايده وي اوکه دخوراك دشيانو څخه يي ډک ووينې نو دهغه په اندازه به خير اونفع حاصله کړي اوکه وينې چي ددیګ څخه يي داشيان خوړلي دی دليل دی چي ده ته به دخدمتګار څخه خير اونفع حاصله سي.

ليمون\ليمبو

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ليمبو پر خپل موسم اوبي موسمه خوړل په ناجوړي درد اوغم دليل دی که شين وي نو غم اوفکر به يي کم وي او دليمبو په خوړلو کي خير اونفع نسته والله اعلم.

[م]

مار

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي مار بدخوا اوپټ دښمن دی اوکه ووينې چي دده په کور کي مار دی نو دکور پر دښمن دليل دی اوکه په ځنګل کي يي ووينې نو پر نا اشنا دښمن دليل دی اوکه ووينې چي دمار سره يي جنګ کړي دی دليل دی چي ددښمن سره به جنګ کوي اوکه ووينې چي مار پر ده غالب سوي دی دليل دی چي پر دښمن به کاميابي نه حاصلوي اوکه ووينې چي مار چيچلي دی دليل دی چي ددښمن څخه به نقصان حاصل کړي اوکه ووينې چي ده مار وژلي دی دليل دی چي دښمن به مغلوبه کړي اوکه ووينې چي دمار غوښه يي خوړلي ده دليل دی چي دهغه په اندازه به ددښمن مال خوري او خير اوخوشحالي به وينې اوکه ووينې چي مار يي دوه ځايه کړي دی دليل دی چي ددښمن څخه به انصاف حاصل کړي اوکه دواړه حصي يي راپورته کړي وي دليل دی چي ددښمن مال به خوري. اوکه ووينې چي مار ورسره په مهرباني سره خبري کړي دی دليل دی چي عجيبه کار به ورته پيښ سي اودهغه څخه به واده او خوشحالي ووينې اوکه ووينې چي مار ورسره په تندي اوتيزي سره خبري کړي دی دليل دی چي دښمن به باندي غالبه سي اوکه مړ مار ووينې دليل دی چي الله تعالی به شر اوفساد ځني ليري کړي او تکليف به ورته نه وي اوکه ووينې چي مار دده تابعدار دی دليل دی چي مرتبه اوبزرګي به حاصله کړي اوکه ووينې چي مار ځني تښتيدلي دی نو ددښمن پرکمزوري دليل دی اوکه ووينې چي مار شين دی دليل دی چي دښمن به يي ديندار

Maktaba Tul Ishaat.com

اوامانتدار وي اوکه دنورو مارونو څخه علاوه تور مار ووينې نو پر لښکر دليل دی او ژړ مار پر ناجوړه دښمن دليل لري او سور مار پر عياش اوعيش پسند دښمن دليل لري اوکه ووينې چې دمار ډيرې پښې دی دليل دی چې دده دښمن به قوي اوزړه ور وي اوکه ووينې چې ډير ماران دده په مخکې جمع دی او دي تنګوي دليل دی چې ډير خپلوان به دده دښمنان وي ليکن دهغو څخه به نقصان نه وينې اوکه ووينې چې دمارانو ښکرونه او ډير غاښونه دی دليل دی چې دده دښمن به بد اوبد خويه وي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې مار دده دپزې يا غوږ يا دتيونو يا دکوچنې يا لويو بولو دځای څخه راوتلي دی دليل دی چې دده زوی به دده دښمن وي اوکه ووينې چې مار دده دخولي څخه راوتلي دی دليل دی چې دنقصان خبره به کوي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې سپين مار ليدل ددښمن ليدل دی اوتورمار سپاهي دی اوکه ووينې چې دمارڅخه تښتيدلي دی اومار نه دی ليدلي دليل دی چې ارام او خوشحالي به حاصله کړي اوکه ووينې چې مار دی نيولي دی اوتکليف يې ورته نه دی رسولي دليل دي چې بزرګي به حاصله کړي او ددښمن څخه به په امن کي سي. خالد اصفهاني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې شين مار دده تابعدار سوي دی دليل دی چې خزانه به حاصله کړي اوکه ووينې چې دده دلستونې څخه مار وتلي دی دليل دی چې دده زوی به دده دښمن وي اوکه ووينې چې مار يې وژلي دی اودهغه وينه يې پخپل بدن پوري مړلي ده دليل دی چې د دښمن مال به حاصل کړي اوکه ووينې چې پخپله بستره کي يې مار وژلي دی دليل دی چې ښځه به يې مري اوکه ووينې چې مار دده ډګريوان يا دخولي څخه راوتلي دی اوپه مځکه کي ننوتلي دی دليل دی چې هلاک به سي او په خوب کي ښامار ضعيف او کمزوري دښمن دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلی دی چې په خوب کي مارليدل په لسو وجووي. ۱: طاقت ۲: ژوند ۳: سلامتيا ۴: پاچاهي ۵: سپه سالار ۶: ښځه ۷: دولت ۸: مرګ ۹: هلك ۱۰: سيلاب.

مار چوبه \ کور کمان

که ووينې چې مارچوبه جمع کوي اودهغه موسم هم وي دليل دی چې مال اونفع به حاصله کړی اوکه ووينې چې اوم مار چوبه خوري نو پر غم اوفکر او دده پر نقصان دليل دی.

مار قشيشا (دستر ګو دوا)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي مارقشيشا پر غم تکليف اوناجوړي دليل دی.

مازو (يو ډول دوا)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ددرختي څخه يې مازو جمع کړي دی دليل دی چې په غم اوسختي سره به مال حاصل کړي اوکه ناجوړه ووينې چې دده سره دمازو ډيران دی نو پر مکروه مال دليل دی او خوړل يې حرام مال خوړل دی اوکه مازو ژړ وي نو پر ناجوړي دليل دی او شنه اوتور مازو پر غم اوفکر دليل دی.

ماست \ مستي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي خوږي مستي په خير اونفع دليل دی او تروي په

غم فکر دلیل دی ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي خوږي مستي خوړل په حلال مال اوتروي په غم او فکر دلیل دی. دانیال علیہ السلام ویلي دی که ووینې چي مستي یي خوړلي دی خاصکر که خوږي وي نوپه سفر کي به مال حاصل کړي اوکه ووینې چي دمستو څخه یي کوچي ایستلی دی دلیل دی چي خوب لیدونکي به دهغه په اندازه مال حاصل کړي.

ماش

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که پخ کړي ماش په خوب کي ووینې نو په لږ خیر دلیل دی او اومه خوړل پر غم دلیل دی اوکه ووینې چي دده په کور کي ماش دی او په خلکو یي تقسیموي دلیل دی چي بي غمه به سي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کی ماش وچ یا لانده اومه یا پاخه لیدل پر غم اوفکر دلیل دی.

ماکیان\چرګه

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي چي په خوب کي چرګه په خادم یامینځي دلیل دی که ووینې چي چرګه یي اخیسته ده یا چاورکړي ده دلیل دی چي مینځه به اخلي یابه خادم په مزدوري اخلي اوکه ووینې چي ډیري چرګی ورسره دی دلیل دي چي دخادمانو څخه به مال حاصل کړي اوکه ووینې چي چرګه یي حلاله کړي ده دلیل دی چي دده دغلام زوی یا مینځه به په یو مصیبت کي ګرفتاره سي. ابراهیم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي دده سره دچرګی هګي ده دلیل دی چي لور به یي پیداسي یا به دخادمانو څخه مال حاصل کړي او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي چرګه ښایسته ښځه ده اوتوره چرګه دمندري چرګي څخه ښه ده اوکه ووینې چي دده په کور کي چرګي دچرګ په ډول اواز وکړي نو ناخوښه خبره به اوري. اسماعیل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي دچرګي بچي په درو وجو وي. ۱: ښځه ۲: مینځه ۳: خادم.

مامیرا (دسترګو دوا)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي مامیرا پر داسي ناجوړي دلیل لري چي په هغه سره به ورته خیر اوثواب حاصل سي.

مامیثا (یو ډول بوټی)

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي مامیثا پر وخت اوبي وخته پر غم اوفکر دلیل دی.

ماه\سپوږمۍ\میاشت

دانیال علیہ السلام ویلي دی چي په خوب کي سپوږمي دپاچا وزیر دی که ووینې چي سپوږمي یي نیولي ده یا یي پخپل ملکیت کي ووینې دلیل دی چي دپاچا مقرب به سي یا به وزیر سي اوکه ووینې چي دسپوږمي سره جنګ کوي دلیل دی چي دوزیر سره به جنګ کوي اوکه ووینې چي دسپوږمي په ځاي مقیم سوي دی دلیل دی چي دپاچا وزیر به سي اوکه ووینې چي دسپوږمي رڼا یي اخیستي ده دلیل دی چي وزارت به حاصل کړي اوکه ووینې چي داسمان څخه یي سپوږمي نیولي ده اورڼا اوپلوشي نه لري اوتوره تاریکه هم نه ده دلیل دی چي دغمونو څخه به خلاص سي اوکه ووینې چي سپوږمي توره ده او پخپل ځاي هم نه ده دلیل دی چي دپاچا وزیر

Maktaba Tul Ishaat.com

به ديو کار په وجه دده محتاج سي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي سپورېمي خاصکر که دځوارلسمي وي پاچا ليدل دی اوکه ووينې چي سپورېمي دوه ځايه سوي ده دليل دی چي پاچا يا وزير به هلاک سي اوکه ووينې چي سپورېمي دده سره خبري کوي دليل دی چي خلک به ده ته خپل فرياد کوي او خپل انصاف به غواړي او دا سړی به ولايت حاصلوي اوکه ووينې چي دوي سپورېمياني ديوبل سره جنګ کوي دليل دی چي دوه پاچاهان به يوبل سره جنګيږي اوکه ووينې چي په دغه سپورېميو کي يوه را ايله ده اوماته ماته سوي ده دليل دی چي په دوو پاچاهانو کي به يو غورزيږي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي ووينې چي سپورېمي يي په لاس ياغيږه کي نيولي ده دليل دی چي ښځه به کوي که داولني تاريخ سپورېمي ووينې دليل دی چي دغه ښځه به دده څخه په اصل اونسب کي کمي درجي والاوي اوکه سپورېمي نيمه ووينې نو دښځي اصل به دمولازادګانو وي اوکه دځوارلسمي سپورېمي وي نو دغه ښځه به دده څخه په اصل اونسب کي ښه وي اوکه داخوب ښځه ووينې دليل دی چي د دې صفت خاوند به کوی اوکه ووينې چي پاکيزه اوروښانه سپورېمي دده په کور کي راکښته سوي ده دليل دی چي په دغه کور کي به ښځه کوي او دهغه څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي يو شي سپورېمي پټه نيولي ده دليل دی چي دوزير حال به بد سي او معزول به سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که پرخپل ځاي دځوارلسمي سپورېمي روښانه ووينې او دهغه رڼا دده دکور پربرابر ځليږي دليل دی چي دغه کور والا به دپاچا يا وزير څخه خير اونفع وينې اوکه دځوارلسمي سپورېمي تاريکه ووينې دليل دی چي غم اونفرت به ورته حاصل سي اوکه ووينې چي د اولني ورځي سپورېمي راختلي ده ليکن رڼا يي زياته وه يا دځوارلسمي سوي ده دليل دی چي زوی به يي پيداسي چي پاچا يا وزير به سي اوکه ووينې داولني ورځي سپورېمي دخپل ځاي څخه راختلي دليل دی چي زوی به يي پيداسي يابه په يو مشکل کارکي راسي چي خلکو ته به ځني غم اوفکر وي. اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دی چي که څوک په خوب کي سپورېمي ووينې دليل دی چي ددغه ملک دپاچا به زوی پيداسي اوکه دسپورېمي رڼا زياته ووينې دليل دی چي ددغه هلک عمر به زيات وي اوکه دځوارلسمي سپورېمي ووينې دليل دی چي دهغه عمر به ددرمياني درجي وي اوکه په سپورېمي کي نقصان ووينې دليل دی چي دپاچا يا دوزير په خدمت کي به مشغول سي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي سپورېمي يي په لاس کي نيولي ده يا سپورېمي دده غيږي ته راغلي ده دليل دی چي دده به عالم اوهوښيار زوی پيداسي که داخوب څوک دپاچا مقرب ووينې دليل دی چي پاچا به سي اوکه ووينې چي ده سپورېمي لمر او ټول ستوري نيولي دی اوټول تک تور دي دليل دی چي خوب ليدونکي به هلاک سي که پرهيزګار وي نو په غم اوفکر کي به راسي يا به ناجوړه سي او اخر داچي شفا به حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي سپورېمي په خوب کي ليدل په اولسو وجوده. ۱: پاچا ۲: وزير ۳: ملګري ۴: رئيس ۵: شرف اومرتبه ۶: دوست ۷: مينځه ۸: غلام يا خادم ۹: بيهوده کار ۱۰: والي ۱۱ : مفسد عالم ۱۲: بزرګ سردار ۱۳: پلار ۱۴: مور ۱۵: ښځه ۱۶: زوی ۱۷: بزرګي.

ماهی \ کب

دانیال علیہ السلام ویلي دی چي په ګرم دریاب کي ماهي لیدل بلا اوسختي ده او په یخ دریاب کي لیدل خوشحالي ده اوکه ډیر تازه اوغټ ماهي ووینې نو پر مال غنیمت دلیل دی اوکه کوچني ماهي ووینې نو غم او فکر دی اوکه دماهي په نس کي ملغلري پیدا کړي دلیل دی چي زوی به یې پیداسي. ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي چا ورته خشك یا نمکین ماهي ورکړي دی دلیل دی چي ده ته به درئیس یا پاچا څخه نقصان رسیږي اوکه نمکین ماهي وخوري دلیل دی چي غلام به ورته نقصان ورسوي اوکوچني ماهي خوړل جنګ دی اوکه ووینې چي دماهي دبدن یو شي لکه وینه هډوکي یا څه چي دماهي په نس کي وي هغه یې پیدا کړي دی دلیل دی چي دمال خیر اوبرکت دی یا به غلام اخلي اوکه ووینې چي ددریاب څخه یې غټ ماهي نیولي دی دلیل دی چي مالداره ښځه به کوي. چابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي تازه او سور کړي ماهي مال اونعمت دی ځکه چي تازه ماهي دجنت په خوراکونو کي دي او د عیسی علیہ السلام پردستر خوان باندي وو کوم چي دده لپاره داسمان څخه راکښته سو دالله تعالی فرمان دی (ربنا انزل علینا مائدة من السماء، سورة المائدة: ۱۱۲) ترجمه: اي زمونږ ربه پرمونږ داسمان څخه دسترخوان راولیږي. اوکه ووینې چي دماهي دخلي څخه راوتلي دی دلیل دی چي په یو کار کي به درواغ خبره کوي اوکه په خوب کي ماهی دده دعضو تناسل څخه راوځي دلیل دی چي لور به یې پیداسي اوکه ښځه ووینې چي د دې دخلي څخه ماهي راوتلي دی دلیل دی چي غمجن به سي اوکه ووینې چي په دریاب کي یې ماهي نیولي دی دلیل دی چي دلوی سړي څخه به مال او نعمت حاصل کړي اوکه تازه ماهي یې خوړلي وي نو مال به حاصل کړي. اسماعیل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي ماهي خرڅوي دلیل دی چي ده ته اودده خلکو ته به خیر اونفع ورسیږي اوکه ووینې چي په حوض یا ویالي کی ماهي نیسی دلیل دی چي دعامو خلکو څخه به په مکر او دهوکي سره یو شي اخلي اوکه ووینې چي ددریاب ماهي دده سره خبري کوي دلیل دی چي دپاچا راز به ښکاره کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي ماهي لیدل په شپږو وجو دی. ۱: وزیر ۲: لښکر ۳: پیغله انجلي ۴: غنیمت ۵: غم اوفکر ۶: هندو مینځه.

ماهي خوړه ډیک

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي ډیك ښځه ده که ووینې چي ډیك یې نیولي دی یا چا ورکړي دی نو ښځه به کوي اوکه دده دلاسه الوتلي وي یا ورك سوي وي نو ښځي ته به طلاق ورکوي اوکه غوښه یې ورڅخه خوړلي وي نوهغونه به مال خرچ کوي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی چي په خوب کي د ډیك تعبیر غم اوفکر دی.

مبرد \ سوان

ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ ویلي دی که ووینې چي دده سره سوان دی او په هغه سره زنګ صفا کوي دلیل دی چي مشکل کار به باندي امان سي خاصکر که اوسپنه دده وي اوکه ووینې چي صفا اوسپنه باندي منبي دلیل دی چي د ذلت اونقصان کار به کوي. اوبعضو بیان کړي دی چي

Maktaba Tul Ishaat.com

سوان نرمه خبره ده اوکه ووينې چې سوان مات يا ورك سوي دی دليل دی چې يو کار به کوي چې صحيح به نه وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دکور تانبې او لوښي په سوان صفا کوي دليل دی چې دده څخه به دکور خادم ته يو شي ملاويږي يا به دده په وجه خادم دکار څخه خلاصون حاصل کړي.

مطهره \ لوټه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دده سره نوي لوټه ده دليل دی چې په سفر کې به خير اونفع وينې اوکه زړه او ماته وي نو تعبير يې داولنې خلاف دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې لوټه په درو وجو ده. ۱ : سفر ۲ : مال ۳ : ژوند.

مثقبه \ برمه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې پر برمې باندې په درخته يا لرګي کې سوري کوي دليل دی چې په مکر اودهوکه سره به يو شي اخلي اوبعضې وايي چې مقصد به يې حاصل سي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې په برمې سره دچا په بدن کې سوري کوي دليل دی چې په مکر او دهوکې سره به څوك په مصيبت کې ګرفتار کړي.

مجلس علم \ د علم مجلس \ علمي مجلس

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دعلم په مجلس کې ناست دی او عالم چاته قران کريم وايي او دقران تفسير حديث شريف اوتوحيد بيانوي دليل دی چې په دغه ځای کې به مضبوط عمارت جوړوي چې دشريعت خلاف به وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دعلم مجلس کې ژاړی دليل دی چې ددنيا په کارکې به مشغول سي او خوشحاله به سي اوکه د دې خلاف ووينې نو غمجن به سي اوکه ووينې چې دعلم په مجلس کې بيهوښه سوي دی اوعقل ځنې تللي دی دليل دی چې داسې کار به ورته پيښ سي چې په هغه به سرګردانه اوحيران سي ليکن انجام به يې ښه وي

مجلس شراب \ د شرابو مجلس \ شرابي مجلس

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دشرابو په مجلس کې دی او شراب يې نه دی چيښلي دليل دی چې په فساد اوحرامو کی به مشغول نه سي ليکن خوشحاله به وي اوکه ووينې چې دشرابو په محفل کې مجلسيان او باجي دی دليل دی چې ده ته به غم فکر او جنګ پيښ سي.

مجمره \ انګېټۍ \ ايټر \ هيټر

ددې وضاحت په حرف عين کې د (عود) په لفظ کې بيان سوي دی.

مجره \ د دواوو لوښی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دده سره مجره ده دليل دی چې عالمه ښځه به کوي او دهغه څخه به خير اونفع وي اوکه ووينې چې مجره ماته يا ورکه سوي ده دليل دی چې ښځه به

يي مري اوكه ښځه يي نه وي نو دده به يو څوك خپل مري جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه ووينې چې پر دې څه ليكل سويدی كه قرانكريم يا دالله تعالی نومونه باندې ليكل سوي وي نو پر صلاح او نفع دليل دی اوكه خلاف وي نو پر شر او فساد دليل دی.

محراب

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه ووينې چې په محراب كي يي لمونځ كړي دی دليل دی چې دصالح زوی زيري به ورته وسي د زكريا عليہ السلام په هكله دالله تعالی فرمان دی (وهو قائم يصلي في المحراب، سورة آل عمران: ۳۹) هغه ولاړ وو چې په محراب كي يي لمونځ كوي كه ووينې چې لمونځ يي پر وخت كړي دی دليل دی چې زوی به يي صالح وي اوكه ووينې چې په محراب كي ناست دی دليل دی چې په لمونځ كي به سستي كوي. ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه ووينې چې دمحراب عمارت يي جوړ كړي دی دليل دی چې دده زوی به عالم او هوښيار وي او بعض وايي چې خپل مال به خرڅ كوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كي محراب ليدل په پنځو وجو دی. ۱: امام ۲: پاچاهي ۳: قاضي ۴: تهانه دار ۵: دخلكو قاصد.

مخنث\هيجړا\نر ښځی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه ووينې چې دي هيجړا سوي دی او دښځو په ډول يي ځان ښايسته كړي دی دليل دی چې ده ته به خوف اوبيره وي او په مصيبت كي به راسي اوكه ووينې چې د ښځو كالي يي ايستلي دی او دسړو كالي يي اغوستي دی اودسړو په حال سوی دی دليل دی چې خوف عاجزي او مصيبت به ځني ليرې سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه ووينې چې دده صحبت د هيجړاګانو سره دی دليل دی چې دده ناسته پاسته به دمفسدانو سره وي اوكه ووينې چې دهغوي سره مقيم سوي دی دليل دی چې دمفسدانو دصحبت څخه به جلا سي.

مداد\رنګ\سياهي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه په خوب كي رنګ ووينې نو روزي به باندې فراخه سي اوكه ووينې چې سياهي ځني وركه سوي ده نو د دې تعبير خلاف دی. ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه ووينې چې رنګ دده پركالو توي سوي دی دليل دی چې نقصان به يي وسي اوكه خوب ليدونكي منشي وي نو سرداري به حاصله كړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب كي رنګ په څلورو وجو وي. ۱: سرداري ۲: خوشحالي او ارام ۳: ژوند ۴: واده او خوشحالي.

مذكر\نصيحت كوونكی

كه څوك په خوب كي ووينې چې خلكو ته نصيحت كوي دليل دی چې ده ته به خوشحالي وي اوكه ناجوړه وي نو شفا به حاصله كړي او خپل دښمن به مغلوب كړي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه ووينې چې خلكو ته نصيحت كوي نو پدي كي ددين صلاح او داخرت خلاصون دی اوكه ووينې چې دخلكو ناصح دی نو ده ته دالله تعالی پناه حاصلول پكار دی توبه دي وباسي چې دشر اوفتنې څخه په پناه كي سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

مذي

مذي هغه ته وايي چې په شهوت سره دمني څخه مخکې کومي اوبه وزي، ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې مذي وتل دهغه په اندازه خوشحالي ده.

مرجان

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې مرجان زوي دی که سور وي نو زوی به يې ښايسته وي اوکه مرجان د ډيرو جواهرو سره ووينې نو مال اونعمت به حاصل کړي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې مرجان ليدل په څلورو وجو وي. ۱: ښځه يازوی ۲: زينت ۳: ښايست ۴: دخادم دطرفه مال.

مرد معروف \ مشهور سړی

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که په خوب کې مشهور سړی دبيداري په ډول ووينې دليل دی چې دهغه هم نومه يا دهغه په ډول به وينې اوکه نامعلوم ځوان سړی ووينې نو دده دښمن به وی اوکه نامعلوم بوډا ووينې نو دده نصيب به وي او خير به حاصل کړي ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دی که په خوب کې بوډا ووينې دليل دی چې ديانت ددين ښه والي اونيکي به حاصله کړي اوکه ځوان سړی ووينې دليل دی چې دلوی سړی څخه به ورته زحمت اونفرت رسيږي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دی چې په خوب کې بوډا سړی ليدل دولت اوبخت دی اوځوان سړی ليدل مکر حيله او مکروه شي ليدل دی.

مردار سنګ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دی که ووينې چې مردار سنګ يې خوړلي دی دليل دی چې دناجوړي څخه به ورته دهلاکت بيره وي اوکه چاته يې بخښش کړي وي يا يې خرڅ کړي وي دليل دی چې دغم اوناجوړي څخه به په امن کې سي اوژړ مردار سنګ ناجوړي اوفکر دی.

مردن درخواب \ په خوب کې مړ کيدل

دانيال عليه السلام ويلي دي که په خوب کې ووينې چې مړسوي دی او خلک ورته ژاړي اوزاري کوي يايې په کفن کې نغښتي دی يا يې په جنازه کې ايښي اوقبر ته يې اچولي دی نو دا ټول دده ددين په فساد دليل لري اوکه ووينې چې بيا يې دقبر څخه را ايستلي دی نو د دې تعبير خلاف دی اوکه ووينې چې په قبر کې يې ايښي دی اوخاوري يې باندې اچولي دی او خلک واپس ځني راغلي دی دليل دی چې دده دين به هيڅکله هم اصلاح نه حاصلوي. اوبعضي وايي که ووينې چې مړ سوي دی اوخلکو پورته کړي دی او د ده په جنازې پسې ډير خلک روان دی دليل دی چې شرف عزت اوحکومت به حاصل کړي ليکن ظلم به باندې کيږي اوکه ووينې چې دي مړ وو اوبيا ژوندي سو دليل دی چې دګناه څخه به توبه کوي اوبعض وايي چې عمر به يې زيات سي اوکه ووينې چې ده ته چا ويلي دی چې ته به هيڅيري هم نه مري دليل دی چې په جهاد کې به شهيد سي. اوکه ووينې چې مړ سوي دی اوچا ورپس ژړلي نه دی او دده په جنازې پسې څوك نسته دليل دی چې خراب کور به يې چيري هم اباد نه سي اوکه په خوب کې ځان

دمړو سره ووينې او دده خيال وي چې دي د ډير وخت څخه مړ دی دليل دی چې دجاهلانو سره به سفر کوي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ که څوك دامعلومول غواړي چې دده حال داهل صلاح په نزد څنګه دي که مړی په خوب کي دده دصلاحيت زيري ورکړي اوددده سره په رون تندي ښې خبري وکړي دليل دی چې دده حال به دالله تعالی په نزد نيك وي اوکه ووينې چې مړي ورسره خرابي خبري کوي او مخ ځني اړوي نو دده حال به دالله تعالی په نزد بد وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کي نابېره نه وي نو ددين پر فساد دليل دی او زنکندن چې څونه سخت وي پر عذاب دليل دی اوکه مړک نابېره نه وي نو ددين په فساد دليل دی او زنکندن چې څونه سخت وي په عذاب اومصيبت دليل لري اوکه ووينې چې دی مړ دی اوچا ورته غسل ورکړي دی دليل دی چې توبه به وباسي اوکه ووينې چې دده په جنازي پسي يو ټولګي روان دی دليل دی چې په دغه ښار کي به لوی سړی مري. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دي مړ دی اوخلک دده په جنازي پسي روان دی دليل دی چې دخپل قدر مطابق به ولايت اوبزرګي حاصله کړي اوکه مړي په جنازه کي دروند وي دليل دی چې په خلکو به قهر اوظلم کوي اوکه ووينې چې په جنازه کي سپك دی دليل دی چې دخلکو سره به نيکي کوي اوکه ووينې چې مړي په لاسونو کي وړي دليل دی چې حرام مال به حاصل کړي اوکه ووينې چې ژوندي مړ سوي دی او خلک يې پر تخته پري باسي اوهغه تخته خلکو په لاسونو کي پورته کړي ده دليل دی چې دپاچا خدمت ته به ځي او دهغه څخه به خير اونفع وينې اوکه ووينې چې مړ سوي دی اوبيا ژوندي سوي دی دليل دی چې دغه ښار به خراب سي اوکه ووينې چې دوباره مړ سوي دی دليل دی چې دده دزامنو څخه به يو مري اوکه ووينې چې دده زوی مړ سويدی دليل دی چې مالدار به سي اووايي چې ددښمن څخه به په امن کي سي اوکه ووينې چې دده مور اوپلار مړه سوي دی دليل دی چې کار به يې خراب سي اوکه ښځه ووينې چې حامله وه اومړه سويده او خلک ورته ژاړي دليل دی چې زوی به يې پيداسي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې مړي دوباره مړ سوي دی او په مړک يې خلک رو رو ژاړي دليل دی چې دده په اهل کي به دچا واده کيږي او خوشحالي به وينې اوکه ووينې چې په مړک يې ښځي اوسړی شور او ژړا کوي دليل دی چې دده اهل بيتوته به غم اوفکر رسيږي اوکه ښځه ووينې چې دامړه ده اوغسل يې ورته ورکړي دی او په جنازه کي يې ايښي ده دليل دی چې نيکه خبره به کوي اوکه ووينې چې دفن کړي يې ده نو د دې تعبير بد دی.

مرده زنده شدن \ دمړي ژوندي کيدل

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې مړي ژوندي سوي دی دليل دی چې حال به يې نيك سي خاصکر که مړي خوشحاله او خندرويه ووينې اوکه ژوندي مړ ووينې نو دده حال به بد سي خاصکر که مړي تريو تندي وي اوکه څوك خپل مړ پلار ژوندي ووينې دليل دی چې دولت اومرتبه به حاصله کړي خاصکر که په پاکيزه کالو کي اوخوشحاله يې ووينې اوکه مور ژوندي ووينې دليل دی چې دغمونو څخه به خلاصون حاصل کړي اوکه ښځه ووينې چې د دې زوی

Maktaba Tul Ishaat.com

ژوندي سوي دی دليل دی چي دهغې يو څوك غايب به دسفر څخه راسي. اوكه پردي مړي ژوندي ووينې دليل دی چي دهغه مړي دخپلوانو حال به نيك سي اوكه ووينې چي ژوندي مړ سوي دی نو د دې تعبير داولني خلاف دی اوكه ووينې چي ده مړي ژوندي كړی دی دليل دی چي كافر به دده دلاسه مسلمان سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي كه څوك خپل مور اوپلار تريو تندي غمجن او په خيرنو كالو كي ووينې دليل دی چي دده په دولت اومرتبه كي به نقصان وي. په كوم صفت چي مړی په خوب كي ووينې هغه دژوندي پر احوالو دليل لري اوكه څوك خپل پلار يا مور خندرويه اوپه پاكو كالو كي ووينې دليل دی چي شرف اوبزرګي اومرتبه به حاصله كړي اوكه د دې خلاف ووينې نو تعبير يې هم خلاف دی. ابراهيم كرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه چا مړي په خوب كي وليدي اوپوښتنه يې ځني وكړه چي ته خو مړ سوي وي هغه وويل چي نه زه خو ژوندي يم دليل دی چي په دي جهان كي دمړي خبره ښه ده اوداللہ تعالی خوشخبري ده داللہ تعالی فرمان دی (ولا تحسبن الذين قتلوا فی سبيل الله امواتا بل احياء عند ربهم يرزقون فرحين بما اتهم الله من فضله، سورة آل عمران: ۱۶۹ – ۱۷۰) ترجمه: اوكوم خلك چي داللہ تعالی په لاره كي قتل سوي دی هغوي مړه بوله بلكي ژوندي دي او د خپل رب په وړاندي خوراك كوي، هغوی ته چي خپل رب څه وركړي دی په هغه خوشحاله دي. دا ايت پردي خبره دليل دی چي مړي څه وايي هغه رښتيا وايي اوكه ووينې چي مړي خوشحاله پخپل كور كي ناست دی دليل دی چي صدقه او دعا هغه ته رسيږي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه ووينې چي مړي يې پخپل كور كي په غيږ كي نيولي دی دليل دی چي تندرست اوسلامت به سي او مرتبه او دولت به حاصل كړي كه مړي دده دخپلوانو څخه وي نو هغه مړي دده څخه ددعا او صدقې اميد لري اوكه څوك مړي دخپل كور والاو څخه خوشحاله ووينې دليل دی چي دده دكور والاو حال به ښه سي اوكه مړي تريو تندي اوغمجن ووينې نو د دې تعبير داولني خلاف دی اوكه ووينې چي دده دكورني مړي دده سره جنګ كړي دی يا يې مخ ځني اړولي دی دليل دی چي هغه مړي به ده ته څه وصيت كړي وي او ده به نه وي پوره كړي اوكه ووينې چي مړي په خندا او خوشحالي دده خواته راغلي دی دليل دی چي هغه ته دعا اوصدقه رسيدلي ده اوكه د دې خلاف ووينې دليل دی چي دهغه په حق كي به يې كوتاهي كړي وي اوكه ووينې چي مړي ورسره ښې خبري كوي دليل دی چي دده حال به نيك سي اوكه خرابې خبري ورسره وكړي يا ورته څه وصيت وكړي نو د دې تعبير بد دی اوكه مړي ورسره دعلم او حكمت خبري وكړي يا ورته څه وعظ يا نصيحت وكړي نو دا دده پر ديانتي او ددين پرصلاح دليل دی. اوكه مړي ددنياوي ژوند څخه ښه خوشحاله اوپه پاكيزه كالو كی ووينې دليل دي چي دهغه خاتمه په خير او سعادت سره سويده اوكه ددي خلاف ووينې دليل دی چي مړي داللہ دعذاب څخه په امن كي دی او انجام يې ښه دی. حافظ معبر رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی كه ووينې چي مړي دده پر څټ لاس اچولي دی او دی يې په غيږ كي اخيستي دی دليل دی چي عمر به يې زيات سي اوكه ووينې چي مړي ورته څه توجه نه

ده کړي اونه يې بيا ورسره څه خبره کړي ده دليل دی چي خوب ليدونکي دي دهغه لپاره صدقه ورکړي اوهغه دی په نيکه دعا سره ياد کړي اوکه يي تريو تندي اوغمجن ووينې دليل دی چي ګنهګار به وي اوکه مړي اول خندلي وی اوبيا يي ژړلي وي دليل دی چي دغه مړی مسلمان نه دی مړ اوکه دمړي تور تندي ووينې دليل دی چي په کفر کي مړ دی دالله تعالی فرمان دی (فاما الذين اسودت وجوههم اكفرتم بعد ايمانكم فذوقوا العذاب بما كنتم تكفرون، سورة آل عمران: ۱۰۶) ليکن دکومو خلکو مخونه چي تور دی ايا تاسو دايمان څخه وروسته کفر کړي دی نو دکفر دوجي څخه په عذاب کي اوسي. اوکه مړي عاجز او دکالو څخه بغير ووينې دليل دی چي دمړي حال به بد وي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي مړي په لمونځ کي دی دليل دی چي دغه مړي په ژوند کي ډير استغفار کړي دی اوکه ووينې چي مړي په هغه ځاي کي لمونځ کوي کوم ځای چي به يي په ژوند کي کوی نو دا دمړي پر پاك دين او دژوندي پر ښه انجام دليل دی.

مرده چيزي دادن \ دمړي څه ورکول

دانيال عليہ السلام ويلي دی که ووينې چي مړی ددنيا څه سامان ورکوي دليل دی چي هلته به دڅه شي درسيدلو اميد نه لري اوکه ووينې چي مړي ورته څه شي دخوراك يا چيښاك ورکړيدی او ده خوړلي دی دليل دی چي حلاله روزي به حاصله کړي. اوکه خوړلي يي نه وي نو د دې تعبير خلاف دی اوکه ووينې چي مړي ورته دخپلو کالو څخه څه ورکړي دی او ده اغوستي دی دليل دی چي دمال او جان څخه به ورته غم اوفکر رسيږي اوکه کالي يي نه وي اغوستي دليل دی چي خوب ليدونکي به ددي جهان څخه رحلت کوي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي مړي ده ته دوه کالي ورکړي دی او ده اخيستي دی اوبيا يي ايستلي دی اوخلکو ته يي ورکړي دی دليل دی چي دده نقصان به نه کيږي بلکه مال به يي هلاک سي اوکه ووينې چي مړي ده ته دکم قيمت کالي ورکړي دی اوبيا يي ځني اخيستي دی دليل دی چي ددغه مړي کار به خراب وي اوکه ووينې چي مړي ورته زاړه کالي ورکړي دی دليل دی چي خوب ليدونکي به فقير سي اوکه نوي کالي يي ورته ورکړي وي دليل دی چي عزت اوبزرګي به حاصله کړي. اوکه مړي ورته قرآن کريم يا دفقهي وغيره کتاب ورکړي وي دليل دی چي دخيرات اوعبادت توفيق به حاصل کړي اوکه مړي کالي خرڅوي دليل دی چي دغه کالي به ګران سي اوکه مړي ته يي څه بخښش کړي وي اوهغه نه وي قبول کړي دليل دی چي ده ته به ضرر اونقصان رسيږي.

مرده ناليدن \ دمړي ژړا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوک مړي بدحاله اوژړيدونکي ووينې دليل دی چي په دنيا کي ده کوم خراب کار کړي دی دهغه په هکله سوال ځني سوي دی اوکه مړي ناجوړه ووينې دليل دی چي دهغه څخه به ددين او دايمان سوال سوي وي اوکه مړی دسر ددرد څخه ژاړي نو په دنيا کي چي يي کوم تکبر کړي وي دهغه پوښتنه به ځني سوي وي او بعض اهل تعبير وايي چي ده دمور او پلار په حق کي څه قصور کړي وي دهغه سوال به ځني سوي وي اوکه مړي دغابنونو

Maktaba Tul Ishaat.com

ددرد دوجي څخه ژاړي نو دغيبت په هکله به پوښتنه ځني کيږي اوکه دسترګو ددرد دوجي څخه ژاړي نو په دنياکي چي يي دخلکو پرعيال کوم بدنظر کړي وي دهغه په هکله به سوال ځني وسي اوکه دغوږ ددرد څخه ژاړي نو کومي خرابي خبري چي يي اوريدلي وي دهغه سوال به ځني کيږي اوکه دلاس د درد څخه ژاړي نو ده چي څه دښځو يا ورونو په حق کي کړي وي دهغه پوښتنه به ځني کيږي اوکه د اړخ ددرد څخه ژاړي دليل دی چي څه ده د ښځو په حق کي کړي دی دهغه سوال به ځني کيږي اوکه دملا ددرد څخه ژاړي نو دمور او پلار په حق کي به سوال ځني کيږي اوکه دعضو تناسل ددرد څخه ژاړي نو په دنيا کي چي يي زنا يا فساد کړي وي دهغه سوال به ځني کيږي اوکه دکوناټو ددرد څخه ژاړي نو په دنيا کي چي څه ده په سفر اوکور کي دخپلوانو په حق کي کړي وي دهغه په هکله به سوال ځني کيږي اوکه مړي دپښو اوپنډيو ددرد څخه ژاړي دليل دی چي څه ده په دنيا کي کړي وي دهغه په هکله به سوال ځني کيږي.

مجامعت کردن بامرده \ دمړي سره جماع کول

جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي اصل خوب دا دی چي دمړي سره جماع وکړي اومني ځني نه وي وتلي نو تعبير به يي ښه اوريښتوني وي اوکه غسل باندي واجب سوي وي نو بي کاره دی اوکه ووينې چي دمړی سره يي جماع کړي ده دليل دی چي دکوم ځاي څخه اميد نه لري دهغه ځاي څخه به يي اميد پوره سي اوکه دخپلي مړي خور يا مور سره يي جماع کړي وي دليل دی چي ديو ځاي څخه به دغه مړي ته صدقه اوثواب رسيږي اوکه دمړي سره يي جماع کړي وي نو دهغه مړي دمال څخه به ورته څه حاصل سی اوکه مړی يي په شهوت سره مچ کړي دی دليل دی چي ښځه به کوي او دمړی لپاره به څه دخير کارکوي يا به يي په دعا سره يا دوي.

جامهای مرده \ دمړي کالي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي مړی شنه کالي اغوستي دی دليل دی چي ددنيا څخه شهيد تللي دی اوکه په سپينو کالو کي يي ووينې دليل دی چي دهغه درجه به نيکه وي اوکه په تورو کالو کي يي ووينې دليل دی چي دهغه حال بد دی او ددوزخيانو لباس تور دی اوکه په سرو کالو کي يي ووينې دليل يي بد دی اوکه په زړو کالو يا په اوبدلو کالو کي يي ووينې دليل دی چي خوب ليدونکي به په غم اومصيبت کي مبتلا سي اوکه په نقشداره کالو کي يي ووينې دليل دی چي دده به دمړي سره جنګ کيږي او حق بجانب به مړ وي اوکه ددی خلاف ووينې نو حق بجانب به ژوندی وي او بعض اهل تعبير بيان کړي دی چي که ژوندي سړی په خوب کي مړي ته کالي ور واغوندي دليل دی چي دده مرګ نزدی دی.

کفن مرده \ دمړي کفن

ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي معلوم مړی ته يي کفن اغوستي دي دليل دی چي په دي جهان کي به دمړی طريقه اختيار کړي که عالم وو نو په علم کي اوکه مالدار وو نو په مال کي اوکه ووينې چي دمړي څخه يي کفن ايستلي دی دليل دی چي دغه مړی په قبر کي ژوندي دي او حال يي نيک دی اوکه ووينې چي مړي ته يي کفن ورکړي دی دليل دی چي دمړی

خپلوانو ته به کالي ور کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دمړی لباس په درو وجو وي. ۱: مال ۲: دمشکل کار ښکاره کيدل ۳: ددين فساد. اوکه ووينې چي مړي نظر باندي کړي دی دليل دی چي عمر به يي زيات سي ليکن په کور کي به يي خرابي راځي اوکه ووينې چي مړی ژوندي سوي دي دليل دی چي مشکل کار به باندی ښکاره سي د دې وجي څخه که بي کاره وي نو کار به حاصل کړي اوکه پاچا وي نوعلم اوحکمت به يي زيات سي اوځه اميد چي يي وي هغه به پوره سي اوکه په يو کار کي پريشانه وي نوهغه به پوره سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چي لوی سړي يا عالم ژوندي سوي دی دليل دی چي دده خوي او مذهب به ژوندي سي خواه که نيك وي يا بد وي اوکه ووينې چي ده يو شي مړی ته ورکړي دی دليل دی چي دشي نرخ به ګران سي اوداهم وايي چي مړی به بخښل سوي او شهيد وی اوکه ووينې چي مړی ته خوراك غواړي دليل دی چي مړی دده څخه دصدقي اميد لري.

مرغ \ مرغان

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويل دی چي په خوب کي مرغه څونه غټ وي هغونه به په همت سره دغټ کار طلب کوي اوکه ووينې چي ډير مرغان په څه ځاي کي اوازونه کوي دليل دی چي دغه ځاي والاو ته به غم اومصيبت رسيږي اوکه ووينې چي دده سره دمرغه هګي ده دليل دی چي زوی به يي پيداسي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي مرغه دده سره خبري کوی دليل دی چي دده کار به لوړ سي اوکه ووينې چي مرغه دده په لاس کي کښښتلی دی دليل دی چي غمجن به سي اوکه ووينې چي ده دمرغه په ملابوج ايښي دی دليل دی چي دهغه سړی څخه کوم چي دغه مرغه يې وطرفته منسوب دی ده ته به نقصان ځني رسيږي اوکه ووينې چي مرغه دده دبدن څخه تازه غوښه وړي ده دليل دی چي څوك به دده څخه په زوره مال اخلي اوکه ووينې چي دخپل بدن غوښه يې مرغه ته اچولي ده دليل دی چي دخپل مال څخه به چا ته څه ورکوي اوکه ووينې چي مرغه دغوښې ټکړي دهډوکي سره دده په مخکي اچولي دی دليل دی چي مال به حاصل کړي او دهر مرغه تعبير هغه سړی دي څوك چي دمرغه طرفته منسوب وي او داخبره مخکي بيان سوي ده. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي مرغه دبنده فروش په ډول دی چي غلام اومينځه خرڅوی اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي مختلف قسمه مرغان ښار ته راغلي دی دليل دی چي دلته به نا اشنا لښکر راځي اوکه ووينې چي مرغه دده سترګی ايستلي دی دليل دی چي دده دين ته به تباهي رسيږي اوکه ووينې چي دمارغه وينه يي چيښلي ده نو دده مال ته به نقصان رسيږي.

مرغ آبی \ مرغابي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي مرغابي دنورو مرغانو څخه په تعبير کي ښه ده اوکه ووينې چي ده مرغابي نيولي ده يا چا ورکړيده دليل دی چي مال نعمت او بزرګی به حاصله کړي او دزړه مراد ته به رسيږي اوکه ووينې چي دده سره ډيري مرغابي جمع سوي دی دليل دی چي مال به حاصل کړي او پر دښمن به کاميابي حاصله کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي مرغابي

Maktaba Tul Ishaat.com

ژوند دی اوکه ووينې چې مرغابي يې نيولی ده يا چا ورکړې ده دليل دی چې مال اوبزرګي به حاصله کړی او ددی هډوکي مال اونعمت دی او جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې خلکو په يو ځای کې مرغابي ايښې ده دليل دی چې په هغه ځای کې به مصيبت اوغم وي اوکه ووينې چې دمرغابي بچي يې نيولي دی يا چا ورکړي دی دليل دی چې زوی به يې پيدا سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کی مرغابي ليدل په څلورو وجو ده. ۱: مال ۲: بزرګي ۳: رياست ۴: حکومت ځکه چې مرغابي کله په اوبو کې اوکله په مځکه کې وي ددې وجې څخه مرغابي په خوب کی ليدونکي چې کوم مراد غواړي هغه ته به ورسيږي.

مردمان \ خلک \ خلق

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې خلکو شنه کالي اغوستي دی نو دا دده پر ارام او پاك دين او خوشحالي دليل دی اوکه ووينې چې خلک تور اوخيرن کالي لري نو د دې تعبير داولنې خلاف دی اوکه ووينې چې دهغوي کالي اسماني رنګ دی نو پر مصيبت اوفکر دليل دی اوکه ووينې چې نوي اوفراخه کالي لري نو پر عشق او دنعمت اوفکر دليل دی اوکه ووينې چې نوي اوفراخ کالي لري نو پر عيش او دنعمت پر فراختيا دليل دی.

مرغزار \ چمن

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك په خوب کې چمن ووينې او دبوټو قسمونه نه پيژنې نو دده پر دين او اسلام دليل دی اوکه ووينې چې پخپل چمن کې دی نوپه قدر دهغه دده پر دين او اعتقاد دليل دی اوکه ووينې چې دبل چا دچمن سيل يې کړي دی دليل دی چې دده صحبت به دنيکو خلکو سره وي اوکه ووينې چې په چمن کې خوشحاله ګرځي دليل دی چې ژوند به يې فراخ سي اوکار به يې په انتظام سره وي اوچمن په خوب کې بزرګ سړی دی دهغه دښوالي مطابق اوکه چمن پاك او ښه ووينې اوپيژنې چې دده دی دليل چې دلوی سړی سره به ملاو سي او دهغه څخه به خير اونفع حاصله کړي اوکه ووينې چې دپسرلي په موسم کې ګرځي اوګلونه او غوټې راشنې سوي دی اوداوبو نهر پکښې جاري دی دليل دی چې دده مرګ به دشهيد وي او که دپسرلي په موسم کې چمن ووينې اوځای معلوم يانامعلوم وي او ګلونه اوکشمالي پکښې ولاړ وي دليل دی چې دده به دلوی سړی سره ملګرتيا وي چې د خپلو مزدورانو څخه جلا سي اوکه چمن ښايسته ووينې شنه بوټې اوګلونه پکښې وي او اوبه پکښې جاري وی او دي هغه وران کړي دليل دی چې ددغه ملک پاچا ته به ناګهاني مرګ راځي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې چمن ته تللي دی او په هغه کې يې زمري ليدلي وي دليل دی چې ددغه ملك پاچا به ظالم اوجابر وي اوکه په هغه کې يې سرلي ليدلي وي دليل دی چې ددغه ملک پاچا ته به ډير مال حاصل سي او په هغو به بروسه نه وي اوکه ووينې چې دچمن څخه يې ګلونه جمع کړي دي او کور ته يې راوړي دی دليل دی چې دپاچا څخه به خير اونفع حاصله کړي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې چمن ښځه ده اوکه ووينې چې په تر وتازه چمن کې مقيم سوي دی دليل دی چې ددغه ځای څخه به ښايسته اوجنګيالي ښځه کوي اوکه ووينې چې

ښه او ښايسته چمن دی نو ددې تعبير خلاف دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې چمن ليدل په اوو وجو وي. ۱: دين ۲: اعتقاد ۳: ژوند ۴: پاچا ۵: بزرګ سړی ۶: خير اونفع ۷: مراد حاصلول.

مرهم \ ملهم

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې پر زخمي بدن يې مرهم ايښي دي نو ده ته ددين نقصان رسيږي اوکه چا ته يې ورکړي وي نو دخلکو زامنو ته به خير اونفع رسوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که پر زخم يې مرهم ايښي وي اوهغه مرهم غوښه خوري نو دمال نقصان دی.

مروارید \ ملغلري

دانيال عليہ السلام ويلي دی چې په خوب کې ملغلره دغلام يا مينځې زوی دی ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کی ملغلره ښايسته مينځه يانښايسته ښځه ده اوکه ووينې چې دده سره بې شماره ملغلري دی دليل دی چې هغونه به ورته نفع ورسيږي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دی چې که خرابه ملغلره ووينې نو دعلم او دحکمت په خبرو دليل دی اوبعض وايي چې په هلکانو او انجونو دليل لري. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که خرابه ملغلره ووينې نو پر ښځو او انجليانو دليل دی اوکه ووينې چې دده سره ډيري ملغلري دی نو هغونه به مال حاصل کړي اوکه ووينې چې دده دخلي څخه دملغلرو هار راوتلي دي دليل دی چې دده دخلي څخه به دعلم او حکمت ښايسته برابر کلام راځي اوکه ووينې چې ملغلري يې خوړلي دي دليل دی چې دعلم توحيد اوحکمت خبري پټوي يا به قران کريم هيروي اوکه ووينې چې دملغلرو لړۍ يې په کور کې يا لاره کې اواري کړي دي دليل دی چې دده تصنيفات او تاليفات به په علم حکمت کې ډير وي او خلک به دده دکلام څخه علم او پوهه حاصله کړي اوکه ووينې چې دلرګو په ځای ملغلري سوزوي دليل دی چې خلکو ته به علم اوحکمت ډير زده کوي خو دغه خلک به د زده کولو قابل نه وي اوکه ووينې چې دده سره ډيري ملغلري دی اودی پرهيزګار او ديندار وي نو دا دده پر ديانت اودين دليل دي اوکه مالداره وي نو مال به يې زيات سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دده سره ملغلري دی دليل دی چې دده به ښايسته زوی پيداسي د الله تعالی فرمان دی (كانهم لؤلؤ مكنون، سورة الطور: ٢٤) ترجمه: ګويا که دغه هلکان به داسي وي لکه چې ملغلري په غلاف کې پټې وي. اوکه غټه ملغلره ووينې چې دحدځخه زياته غټه وي نو ډير زيات مال به حاصل کړي اوکه ووينې چې ملغلره يې خرڅه کړي ده دليل دی چې علم اوقرانکريم به هيروي اوکه ووينې چې ملغلره يې په خله کې ايښي ده اوتيره کړي يې ده دليل دی چې الله تعالی به ورته علم اوحکمت ورکړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دده سره ډيري ملغلري دی دليل دی چې الله تعالی به ورته علم قران او حکمت ورکړي اوکه ووينې چې دده دخولي څخه قيمتي ملغلري يوه يوه راوزي دليل دی چې نبي خبري به کوي چې خلک به يې خوښوي اوکه ووينې چې دملغلرو هار دده دلاسه ايله سوي دی اومات سوی دی دليل دی چې

Maktaba Tul Ishaat.com

ډيري خبري به کوي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ملغلره يې په خراب ځای کې اچولي ده دليل دی چې علم اوحکمت به کم عقلو خلکو ته ښيي اوکه ووينې چې ملغلره يې سوزلي ده يا يې په کانې ماته کړي ده دليل دی چې دشريعت خلاف کار به کوي اوکه ووينې چې ملغلره دده دپښې څخه لاندې ماته سوي ده دليل دی چې زوی به يې مري اوکه ووينې چې ملغلره دده دعضو تناسل څخه راوتلي ده اوپه ملغلره کې سايه نسته دليل دی چې لور به يې پيداسي اوکه ووينې چې دملغلري هارونه يې په مري کې اچولي وي دليل دی چې هر قسم علم به حاصل کړي اوکه دچا په غاړه کې يې اچولي وي نو هغه سړی ته به علم اوحکمت ښيي اوکه ووينې چې دملغلرو والي دده په دواړو غوږونو کې دی دليل دی چې قران کريم به حفظ کوي اوکه ووينې چې دده سره دملغلرو ډيران دی دليل دی چې دهغه په قدر به مال حاصل کړي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ملغلري خرڅوي دليل دی چې دغه سړی مصلح او پرهيزګاره دی اوده ته دهر علم څخه حصه ورکول سوه اوکه دغه سړی داهل علم څخه وي دليل دی چې زامن اوډير زامن اوډير علم به ورته حاصل سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې ملغلره ليدل په شپږو وجو وي. ۱: قران کريم ۲: حکمت او هوښارتيا ۳: مال ۴: ښځه ۵: ښايسته مينځه ۶: نيک زوی اوپه خوب کې ملغلري خرڅونکي داسي سړی دی چې ډير زامن ډير علم اومال لري.

مزدوران

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې مزدوران دده په کور کې دی اوکار کوي دليل دي چې دده به دپاچا دخپلوانو سره جنګ کيږي او دهغوي څخه به جلا سي جابرمغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې دخلکو په کورونو کې مزدوري کوي دليل دي چې په سخت کار کې به ګرفتاره سي او دکور دخاوند به دچا سره ښکار کيږي اوکه ووينې چې مزدوران دده په کور کې کار کوي دليل دی چې دي به غمجن سي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې مزدوران دده کورته خاوري راوړي دليل دي چې مال اونعمت به حاصل کړي اوددي خلاف دمال پر نقصان دليل دی.

مژګان \ بانوګان

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې دسترګو بانو ليدل ددين په نظر کې ساتل دی اوکه ووينې چې دده بانو رپيږي نوناجوړه به سي اوکه ووينې چې دده بانو ايله سويدی نو دده دين به خراب وي. ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که ووينې چې دده بانو کاړه سوي دي دليل دی چې دمال نقصان به يې وسي او بانو په رپيدو ليدل دناجوړي دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې بانو ليدل په څلورو وجو وي. ۱: ددين حفاظت ۲: موافق دوست ۳: مال او روزي ۴: خوشحالي په قدر دزوی حاصل دا دی چې په بانو کې هر قسم خير اوشر ليدل په دي څلورو وجو دليل لري.

پرهيز دانه \ مزدورها \ د مريضانو نرم خوراک \ پرهيز

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي پرهيز دانه که تريخ اوبي خونده نه وي نو پر خير او نفع دليل لري اوکه تريخ اوبي خونده وي نو پر ضرر اوغم دليل لري.

مس \ تانبا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دده سره تانبا ده نو دهغه په اندازه به مال حاصل کړي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي دتانبي لوښي لکه ګلاس اولوټه اوڅه چي د دې مشابه وي د اټول پر واده اونکاح باندي دليل لري. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي ده تانبه ويلي کړي اوصفا کړي يې ده دليل دی چي ګران کار به باندي اسان سي اومال به په مشقت سره حاصل کړي.

مستي \ بې هوښي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي بې هوښي په لمونځ اومال کي سستي ده ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي بې هوښي که دشرابو د وجي څخه وي دليل دی چي په خوف اوبيره کي به وي.

مسجد \ جماعت \ جومات

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي اباد جماعت په تعبير کي عالم سړی دی په چاپسي چي دصلاح لپاره ډير خلک راځي دالله تعالی فرمان دی (ومسجد يذكر فيها اسم الله كثيرا، سورة الحج: ٤٠) او په جماعتونو کي دالله تعالی ذکر ډير کيږي اوکه ووينې چي ده جماعت جوړ کړي دی دليل دی چي دمسلمانانو لپاره به خير او نيکي کوي اوددی څخه به ورته اجر اوثواب ملاوسي يا به څوک پخپل کار جمع کوي يا به يو قوم پر دين اسلام اوشريعت قايموي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي دجماعت بنياد اينبول ښځه کول دی که ووينې چي ده دجماعت بنياد اينبي دی که بنياد يې ختم کړي دی دليل دی چي حلاله ښځه به کوي اودغه ښځه به ديندار اوپرهيزګاره وي اوکه ووينې چي ده دجماعت ډيوه مړه کړي ده دليل دی چي دده زامن به مري اوکه ووينې چي په جامع مسجد کي ناست دی اوددده څخه چاپيره وانبه شنه سويدی دليل دی چي څوك به پر ده دداسي شي ګمان کوي چي په ده کي به نه وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چي دی چا دجماعت د دروازي څخه منع کړي دی دليل دی چي هغه به پر ده ظلم کوي اوکه ووينې چي ده په جماعت کي لمونځ کړي دی او دده مخ دقبلي طرفته نه وو نو د دې تعبير بد دی اوکه ووينې چي ده په جماعت کي مخ او لاس پريولي دی دليل دی چي خپل مال به په دغه جماعت کي خرڅوي او مراد به ورته حاصل سي اوکه جماعت وران ووينې نو يوڅوك عالم به مری. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي په خوب کي مسجد جوړول خواهش دی اوخلک جمع کول دی اوبيا هغوي پر سمه لار راوستل دی او ددښمنانو غيبت کول دی دالله تعالی فرمان دی (وقال الذين غلبوا على امرهم لنتخذن عليهم مسجدا، سورة الكهف: ٢١) اوکوم خلک چي

Maktaba Tul Ishaat.com

پخپل کار غالب وو هغوي وويل چې مونږ به پردي جماعت جوړوو اوکه ووينې چې دده په ځاي کې جماعت جوړ سوي دي دليل دی چې په دين کې به شرف اوبزرګی حاصله کړي او مخلوق ته به دالله تعالی طرفته بلنه ورکوي اوکه ووينې چې ديو قوم سره جمات ته تللي دی دليل دی چې دجنګيالي ښځې سره به واده کوی. اوکه ووينې چې په جماعت کې يې چراغ بل کړي دی دليل دی چې مصلح زوی به يې پيداسي اوکه ووينې چې دمکي مکرمې يا دمدينې منوري جمات ته تللي دی دليل دي چې دهر طرف څخه به په امن کې سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کی جمات ليدل په دولسو وجووي. ۱: پاچا ۲: قاضي ۳: عالم ۴: رئيس ۵: امام ۶: خطيب ۷: موذن ۸: امير ۹: خير او برکت ۱۰: مسجد ۱۱: ښځه کول ۱۲: نيکي کول، اوکه ووينې چې دجمعې په ورځ يې جماعت ښاسته کړيدی نو دا دده پر ايمان او ددين په درستي دليل دی اوکه ووينې چې جماعت ته تللي دی دليل دی چې دبيري څخه به په امن کې سي دالله تعالی فرمان دی (ومن دخله کان امنا، سورة آل عمران: ۹۷) او څوک چې په دې کې داخل سو په امن کې به سي.

مسح

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ده پر موزو مسح کړيده دليل دی چې په سفر به ځي او په دې سفر کې به ډير مال حاصل کړي اوددە کار به په انتظام سره وي.

مسکه \ کوچې

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې تازه غوړي په تعبير کې مال اوحلال نعمت دی اوکه ووينې چې کوچې يې اخيستې دي يا چا ورکړي دی او ده خوړلي دی دليل دی چې دهغه په اندازه به حلال مال حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې کوچې خوړل ريښتوني ګواهي ورکول دی که دبزي کوچې وخوري دليل دی چې مال اونعمت به ورته حاصل سي اوکه دغوا کوچې وخوري دليل دی چې دغه کال به باندي مبارک سي اودهغه په اندازه به خير او برکت حاصل کړي حاصل دا دی چې دحلال ځناور کوچې پرحلال مال دليل دی اودکومو غوښه چې حرامه وي پرحرام مال دليل دی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې په خوب کې کوچې په څلورو وجو دليل لري. ۱: حلال مال ۲: ريښتوني ګواهي ۳: علم او پوهه ۴: ګناه اومعصيت.

مسواک

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ده مسواک وهلي دی دليل دی چې مال به په خيرات کې خرڅ کړي او پر دي به څه ثواب نه وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که ووينې چې ده دمخکنيو غاښونو مسواک کړي دی دليل دی چې پر ورونو اوخوندو به احسان کوي اوکه ووينې چې دټولو غاښونو مسواک يې کړي دی دليل دی چې دټولو خپلوانو سره به نيکي کوي.

مشرق \ مغرب \ ختيځ \ لوبديځ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې مشرق ددنيا پر پاچاهانو دليل دي اودلمر راختل

پر حکومت دليل لري اودپاچاهانو دطرف څخه فرمان دي اودلمر لويدل د دې خلاف دي اوکه ووينې چې داصلاح دکار لپاره په مشرق کې دي نو پر نعمت دليل دي اوکه خپل ځاي خراب ووينې دليل دي چې دده مراد به پوره نه سي اوپه هر حال کې دلمر دراختلو ځاي دلمر لويدلو څخه ښه دي او دلمر دراختلو ځاي پر مرتبې اوبزرګي دليل لري اودلمر دلويدلو ځاي پر بدبختي اوعاجزي دليل دي.

مشرک شدن \ مشرک کيدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که مشرك ووينې چې مسلمان سوي دي دليل دي چې په اسلام کې به مري اوکه ووينې چې مشرك دقبلې طرفته لمونځ کوي يا دالله پاك شكر ادا کوي دليل دي چې هغه به مسلمان سي اونعمت به باندې زيات سي دالله تعالى فرمان دي (الله نور السموات والارض مثل نوره كمشكوة، سورة النور: ۳۵) الله پاك داسمانونو او دزمکو نور دي او دده دنور مثال دتاخ په شان دي اوکه ووينې چې مشرك دمسلمان کورته راغلي دي نوهم دغه تعبير يې دي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که څوک مشرك په خوب کې ووينې او خوب ليدونکې پرهيزګار وي نو دليل دي چې دعلم تلاش به کوي اوپر دښمن به کاميابي حاصله کړي اوکه پرهيزګار نه وي دليل دي چې دبد مذهبه خلکو سره به صحبت ساتي.

مشک \ خوشبو

دانيال عليہ السلام ويلي دي که ووينې چې دده سره مشك دي دليل دي چې با ادبه اوهوښيار به سي اوټول خلک به دده تعريف کوي اوکه ووينې چې دده څخه دمشکو يا دکافور خوشبويي راځي دليل دي چې دده عقيده اويقين به پاك اوصفا وي او دحق لاري ته به راځي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې مشك ميده کوي دليل دي چې دچا سره به نيکي کوي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې مشك ليدل په شپږو وجو وي. ۱: ښځه ۲: دوست ۳: خوشحاله ژوند ۴: مينځه ۵: ډير مال ۶: ښه خبره.

مشک آب \ داوبو مشک

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې داوبو مشک سفر دي که ووينې چې دده سره نوي داوبو مشك دي دليل دي چې په سفر به ځي اوډيره فايده به حاصله کړي اودزور مشك تعبير د دې خلاف دي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې د اوبو مشک ليدل په درو وجووي. ۱: سفر ۲: مال ۳: ژوند.

مصحف \ قرآن شريف

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې قران کريم په تعبير کې علم او حکمت دي اوکه ووينې چې قران مجيد يې اخيستي دي دليل دي چې طالب العلم او هوښيار به سي اوکه ووينې چې سوزلي يې دي نو داکار دده ددين په فساد دليل دي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ده قران کريم خلاص کړي دي اوپر سر اوسترګو يې ايښي دي دليل دي چې دده ټول

Maktaba Tul Ishaat.com

کارونه به په اندازي سره وي او دښار حاکم به سي اوکه ووينې چې قران مجيد دده سره خبري کوي که نيکي خبري وي نو پر نيکي دليل دي اوکه بدي خبري وي نو پر بدي دليل دي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې قران کريم ليدل په پنځو وجو وي. ۱: علم او حکمت ۲: ميراث ۳: امانت ۴: حلاله روزي ۵: دين او ديانت.

معطلګي (يو ډول دوا)

معطلګي يو قسم سريښ دوا ده ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې معطلګي چيچي دليل دي چې ده ته به خير پيښ سي ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې معطلګي په اوبو سره خوري دليل دي چې هغونه به دچا شکا يت کوي که وګوري چې معطلګي په اور دود کوي دليل دي چې خوب ليدونکي به دپاچا تکليف پورته کوي.

مطبوخ \ جوشانده

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې ده دناجوړې لپاره جوشانده پخکړې ده او جوشانده دهغه مطابق وی دليل دي چې ددين صلاح به تلاش کوي اوکه جوشانده دهغه مطابق نه وي دليل دي چې ددين صلاح به نه تلاش کوي اوکه ووينې چې جوشانده يې چيښلي ده اوهغه اثر کړي دي نو پر صلاح تندرستي او خير دليل دي اوکه ددې خلاف ووينې نو پر غم اونقصان دليل دي.

مطرب \ غزلچي

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې که ووينې چې غزلچي څه غزلي وايي دليل دي چې دحرامو شيانو طرفته به مايل سي اوکه هغه ډول دبله يا ددې په ډول يو ساز ږغوي نو پر غم دليل دي اوپه خوب کې ډم توب کول خير اونفع ده اوتعبير بيانوونکي ته پکار دي چې که څوک داسي سړی وي لکه قاضي مفتي او واعظ دادري سره قومونه دژړا او زاري خاوندان دي او په تعبير کې پر فساد دليل لري.

معجون

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې معجون يې ددرد اوناجوړې لپاره جوړ کړي دي دليل دي چې دده څخه به خلکو ته خير اونفع ورسيږي اوکه ووينې چې دغه معجون دهر چا لپاره وو دليل دي چې دده څخه به عامو خلکو ته خير اونفع رسيږي.

معده

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې دده معده قوي اوبې نقصانه ده دليل دي چې عمر به يې زيات سي اوکه د ډې خلاف ووينې نو عمر به يې لنډ وي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې معده په شپږو وجو ده. ۱: حرام مال ۲: زوی ۳: ډير عمر ۴: بدي ۵: ناخوښه خبره ۶: داسي کار کول چې په هغه سره به فايده او نفع حاصلوی.

معزول شدن \ معزول کيدل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې ديو کار څخه معزول سويدي يا چا معزول کړي دي

دليل دي چې ښځي ته به طلاق ورکوي اوکه ښځه نه لري نو په تجارت به يې نقصان کيږي.

معصفر (يوګل دي)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي معصفر په دروجو دي. ۱: غم اوفکر ۲: داسي کار چې دهغه په کولو سره غم او سختي رسيږي.

معلم\استاذ\ښوونکی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي استاذ سردار اوهوښيار دي اوکه ووينې چې تعليم ورکوي اوماشومانو ته علم ښيي نو خلکو ته به حق خبره کوی ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې استاذي کوي اوهلکانو ته علم ښيي دليل دي چې دپاچاهي لايق نه دي اوپرخپل ځاي به دهغه خبره روا وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي استاذي کول په ځلورو وجووي. ۱: حکومت کول ۲: عزت اومرتبه ۳: بزرګي ۴: حکم کول.

مغز

دانيال علیہ السلام ويلي دي چې په خوب کي دهډوکي اودسر مغزه ذخيره سوي مال دي اوکه ووينې چې مار اولړم دده ماغزه خوري دليل دي چې دخلکو مال به خوري. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي دسر مغزه دفن سوي مال دي اوکه ووينې چې خراب اوبي خونده مغزه يې خوړلي دي دليل دي چې دده مال حرام دي يا يې دهغه زکات نه دي ورکړي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي هر قسم مغزه ليدل په درو وجو وي. ۱: پټ مال ۲: عقل ۳: صبر.

مبتلا شدن\اخته کيدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که په خوب کي ووينې چې په څه جنګ کي اخته سوي دي چې نه سي لوړيدلاي دليل دي چې په ټولو کارونو کي به ضعيف او سست وي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې څوک يې مبتلا کړي دي دليل دي چې دده ژوند به خراب کړي اونقصان به ورکړي ورته.

مقراض\غچي

د دي بيان به ان شاء الله په حرف نون کي راځي.

مقعد\د لويو بولو ځای

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي مقعد دخوب ليدونکي شغل اوکسب دي که خپل مقعد دباندي وتلي ووينې دليل دي چې دده کسب اوکار به تباه سي اوکه ووينې چې دده دمقعد سوري بند سوي دي نو هم دليل دی چې کار اوکسب به يې بند سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي مقعد ليدل په ځلورو وجو وي. ۱: کسب اوکار ۲: دمال نفع ۳: ژوند.

مقنعه\لوپټه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي لوپټه د ښځو لپاره خاوند او دسړو لپاره ښځه ده

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکه ووينې چې لوپټه د دې دسرڅخه جلا سويده دليل دي چې خاوند به ورته طلاق ورکوي اوکه توره لوپټه ووينې نو خاوند به يې بدکاره وي اوکه سره وي نو خاوند به يې عيش پسند وي اوکه اسماني رنګ وي نو خاوند به يې په مصيبت کې راځي اوکه ژړه وي نو خاوند به يې ناجوړه رقم وي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې لوپټه په ځلورو وجو ده. ۱: ښځه ۲: مينځه ۳: خادم ۴: دښځو څخه نفع اوکه لوپټه تاريزه يا دپشمني وي نو ددې خاوند به پرهيزګار مصلح او ديندار وي.

مسلمان شدن \ مسلمانيدل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که مسلمان په خوب کې ووينې چې دوباره مسلمان سوي دي دليل دي چې دبلا او افتونو څخه به په امن کې سي اوکه کافر ووينې چې مسلمان سوي دي دليل دي چې الله پاک به دده په قسمت کې اسلام نصيب کړي اوکه ووينې چې مسلمان کافر ته ويلي دي چې مسلمان سه دليل دي چې دهغه به ټول کارونه سم سي، جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې مسلمان کافر سوي دي دليل دي چې په بلا کې به ګرفتار سي اودکار خاتمه به يې په خير سره نه وي اوکه ووينې چې کافر دده په لاس مسلمان سوي دي دليل دي چې څوک به دبدکاري اوفساد څخه منع کوي.

مسمار \ ميخ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که په خوب کې ميخ ووينې نو پر لوی سړی دليل دي چې دده په کارونو کې ولاړ وي او پوره کوي يې اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دي چې په خوب کې ميخ پاچا يا لوی امير دي اوکه ووينې چې دده سره غټ او مضبوط ميخ دي دليل دا دي چې دلوی سړی سره به يې صحبت وي اوکه ووينې چې يو شي يې په ميخ جوړکړي دي دليل دي چې دلوی سړی په وجه به دده خراب کارونه جمع سي اوسم به سي او که ووينې چې ميخ مات سوي يا ورک سوي دي نو ددې تعبير خلاف دي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې ميخ ليدل په ځلورو وجو وي. ۱: لوی سړی ۲: هغه سړی چې دخلکو سره وعده پوره کوي ۳: امير يا حاکم ۴: خراب او نقصاني کارونه.

مګس \ مچ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې مچ بد اومفلس سړي دي که ووينې چې مچان پر ده جمع سوي دي يا دده په سترګو اوخله کې ننوزي دليل دي چې دبد سړی څخه به خرابه خبره اوري چې په هغه سره به يې زړه خفه سي اوکه دمچ اواز يې اوريدلي وي نو خلک به په شور کولو ويني. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې مچ حاسد اوبد سړی دي که ووينې چې دده څخه چاپيره مچان جمع سويدي دليل دي چې دده کاربه دحاسدانو سره وي اوکه ووينې چې دده په کور کې ډير مچان ګرځي دليل دي چې خلک به دده خبري کوي اوکه ووينې چې مچان يې خوري دليل دي چې بد خلک به دده دخپلوانو سره حسد کوي اوکه مچ يې مړ کړي وي نو حاسدان به مغلوبه کړي اوکه ووينې چې مچان تر مځکې لاندې ځي دليل دي چې

حاسدان به دده جمع کړي مال اخلي اوخزانه کوي به يي او ده ته به نقصان رسوي.

مګس انګبين \ دګبين مچۍ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي دګبين مچي فراخ روزي والا سړی اوګټوره ښځه ده که ووينې چي دګبين مچي يې نيولي ده يا چا ورکړي ده دليل دي چي دهغه په اندازه به مال او غنيمت حاصل کړي. جابر مغربي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي پر ده دګبين مچي جمع سوي دي اودي چيچي دليل دي چي په غم سره به مال اونعمت حاصل کړي اوکه ووينې چي مچي ګبين خوري نونقصان اوضرر به ورته ورسيږي اوکه ووينې چي دمچونو ګبين يي اخيستي دي دليل دي چي دخير اونفع خبري به اوري او دهغه څخه به فايده وينې.

مکه مکرمه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که څوك خپل ځان په مکه مکرمه کي ووينې دليل دي چي دکعبې شريفې زيارت او حج به کوي اوکه ووينې چي مکي مکرمي ته دتجارت لپاره تللي دي او دحج لپاره نه دي تللي دليل دي چي ددنيا پر مال حريص دي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي په مکرمه کي دصلاح اوپرهيزګاري سره دي اوپه عبادت کي مشغول دي دليل دي چي په دنياوي نفع کي دي اوکه مکه مکرمه اباده اوډکه ووينې دليل دي چي مال اونعمت به باندي فراخ سي اوکه وران يي ووينې نو تعبير يي داول څخه خلاف دي.

ملخ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي ژوندي ملخ لښکر دي اوپوخ ملخ روپۍ او اشرفۍ دي اوکه ووينې چي په ښار يا يو ځاي کي ملخان ښکاره سويدي اوهغه ځاي ته يي نقصان رسولي دي نو په دغه ځاي کي به لښکر جمع کيږي او ددغه ځاي خلکو ته به بلا اوزحمت رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي ده ډير ملخان جمع کړيدي اوپه لوښي کي يي اچولي دي دليل دي چي مال به جمع کوي او دښځي په مهر کي به يې ورکړي اوکه ووينې چي بي اندازي ملخان راغلي دي اوپه درياب جمع سوي دي او دهغه ځاي سبزي يي خورلي دي دليل دي چي بي اندازي مال به هلته جمع سي او که ملخان بيرته راسي نو پر ويراني باندي دليل دي.

منادي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي منادي تير سوي دي او دهغه خبري دعلم اوحکمت مطابق دي او پخپله صالح او پرهيزګار وي نو پر خير او زيري دليل دي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که خوب ووينې چي ددې دنيا داصلاح منادي ده دليل دي چي خير اوصلاح به حاصله کړي اوکه ددنيا دخير منادي وي دليل دي چي د دې جهان منادي به حاصله کړي اوکه دشر اوفساد منادي وي نو د دې تعبير د اول څخه خلاف دي.

مناره

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي مناره داسي سړی دي چي خلک ددين د لاري

Maktaba Tul Ishaat.com

طرفته رابولي که ووينې چې مناره يې جوړه کړيده دليل دي چې نيك کار به کوي اودمسلمانانو ټولګي به راجمع کوي اوکه ووينې چې مناره يې خرابه کړي ده دليل دي چې مسلمانان به جلا جلا سي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دي چې ددغه مناري موذن به ددنيا څخه رحلت وکړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي مناره پاچا ياڅوك لوی سړی دي که په کوڅه کي مناره ووينې دليل دي چې څوك لوی سړی به دغه کوڅي ته راځي اوکه مناره دچوني او خښتو ووينې نو شاهي سرداربه سي اوکه داومو خښتو مناره ووينې دليل دي چې دغه لوی سړی به درعاياو څخه وي اودينداره او ميلمه دوست به وي اوکه دکانو اوچوني مناره ووينې دليل دي چې هغه به دظالم پاچا سردار وي اوکه دلرګي مناره ووينې دليل دي چې هغه سردار به بد اوکم همته به وي اوکه مناره دجماعت په دروازه ووينې دليل دي چې هغه سردار به عالم اوفاضل وي اوخلک به دشريعت کارونو طرفته رابولي اوکه ووينې چې دجماعت مناره را ايله ده دليل دي چې ددين دبزرګانو څخه به څوك مري او په خلکو کي به فکر اوخفګان راځي اوکه ووينې چې دښار په مينځ کي مناره ده نو په پاچاهي دليل دي اوکه ووينې چې مناره دتنبي يا دپيتلو ده دليل دي چې پاچا به جابر اوظالم وي اوکه ووينې چې دمناري څوکه دسروزرو يا دسپينو زرو ده دليل دي چې پاچا به درواغجن بې وفا اوغدار وي اوکه مناره دپخو خښتو وي دليل دي چې پاچا به ظالم اومتکبر وي اوکه خپل ځان دمناري په څوکه ووينې دليل دي چې پاچا ته به نزدي سي اوکه ووينې چې پر مناري خوراك ايښول سوي دي دليل دي چې په دغه ملك کی به ظالم پاچا ښکاره سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې په مناري کي دي او دلمونځ اذان يې کړي دي دليل دي چې پاچا به دمخلوق سره نيکه وعده کوی اوکه ووينې چې دجامع مسجد په مناره کي يې دلمونځ اذان کړي دي دليل دي چې حج اوعمره به کوي اوکه ووينې چې مناري حرکت کړي دي دليل دي چې پاچا به ناجوړه سي اوکه ووينې چې پاچا مناره راغورزولي ده دليل دي چې پاچاهي به حاصله کړي اودغه پاچا به مغلوب کړي او دهغه څخه به ولايت واخلي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي مناره ليدل په څلورو وجو وي. ۱: پاچا ۲: څوك لوی سړی ۳: امام ۴: موذن.

منبر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي منبر اسلامي پاچا دي او څه خير اوشر چې په منبر کي ووينې دهغه تعبير به پر پاچا واقع کيږي اوکه ووينې چې منبر ته ختلي دي اودحکمت اوعلم خطبه يې ويلی ده که عالم نه وی نو دده زوی يا دده په خپلوانو کي به څوك عالم سي اوکه ووينې چې پر منبر يې شعرونه ويلي دي يا يې دشريعت خلاف خبري کړي دي دليل دي چې په مسلمانانو کي به په بې ديني اودبدعت په خبرو سره رسوا سي اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دي چې دي به پانسي کيږي اوکه پاچا ووينې چې منبر ته ختلي دي اومنبر را ايله سوي دي او مات سوي دي دليل دي چې دپاچاهي څخه به معزول سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې منبر ته ختلي دي او پوره خطبه يې ويلي ده او راکښته سوي دي دليل دي

چې دخطابت دعلم اوحکمت خبري کړي دي، اوکه ښځو او نرانو ته ګډوډ يې خبري کړي وي دليل دي چې رسوا به سي ځکه چې ښځو ته دعلم خطبه ويل دسړو په مينځ کي اوسړو ته د ښځو په مينځ کي جايز نه دي اوکه ووينې چې دمنبر څخه را لويدلی دی خواه که عالم وي يا جاهل دليل دي چې دعزت څخه به معزول سي او په خلکو کي به ذليله اورسوا سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې منبر ته ختلي دي دليل دي چې عالم مصلح اودیندار به سي اوبزرګي عزت اومرتبه به حاصله کړي اوکه مفسد وي نو دغلا په جرم کي به ونيول سي اوپانسي به سي او څونه چې منبر لوی اوپاك ووينې هغونه به عزت اومرتبه حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې به خوب کی منبر ليدل په پنځو وجووي. ۱: پاچا ۲: قاضي ۳: امام ۴: خطيب ۵: پانسي کول.

منجم \ نجومي \ عامل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې نجومي سويدي دليل دي چې دبزرګانو اوپاچاهانو په نزد به عزت اومرتبه حاصله کړي ليکن درواغ اومحاله خبري به کوي خاصکر که په خوب کي يې هم دنجومو داحکامو خبري کړي وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دعلم نجوم اوهيبت ناکه خبري کوي نو دپاچا اولويو خلکو څخه به عزت حاصل کړي اوکه داحکام نجوم خبري کوي نو د دې تعبير بې حرمتي ليدل او درواغ ويل دي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي نجومي درواغجن اوناشکره بنده دي.

منجنيق \ مچلوغه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې پر ښار يا دمسلمانانو پر قلعه په مچولغه کانې ولي دليل دي چې په شا پسي دمسلمانانو غيبت کوي اوکه ووينې چې دکافرانو پر ښار يا قلعه په مچلوغه کانې غورځوي دليل دي چې هغوي به دښمن ګټې اوهميشه به يې بدي کوي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دښار څخه شاوخوا مچلوغه لګيدلي دي اوښار خرابه وي دليل دي چې دي ښارته به ددښمن خطره وي اوکه ووينې چې مچلوغه ماته سوي ده يا په اور سوځلي ده دليل دي چې د دې ښار پاچا به پر دښمنانو فتح حاصله کړي اودښار اوسيدونکي به دبيري څخه په امن سي.

منديل \ دسمال

منديل مراد ځني غټ دسمال دي يعني پټکي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کی دسمال خادم دي اوددي دکمي زياتي اونقصان وغيره تعبير پر خادم رجوع کوي که ووينې چې دده سره نوي دسمال دي ياچا ورکړي دي دليل دي چې خادم به ورته حاصل سي اوکه دسمال سپين ياشين وي نو دده خادم به ديانتدار وي اوکه سور وي نو دده خادم به عيش پسند او سرکښه وي اوکه ژړوي نو دده خادم به په اصل کي ناجوړه رقمه وي اوکه اسماني رنګ وي نو دده خادم به مصيبت ناك اوغمجن وي اوکه دسمال دتولي په ډول وي نو دده خادم به پرهيزګار وي اوکه ووينې چې دسمال دپشم يا دتارونو دي نو دده خادم به امانتدار او ديندار وي اوکه

Maktaba Tul Ishaat.com

دسمال دربښمو وي نو دده خادم به بې وفا اومتکبر وي اوکه دسمال زوړ خيرن اوخيري سوي وي دليل دي چې دغه خادم به بې وفا اومتکبر وي اوکه دسمال زوړ خيرن اوخيري ووينې دليل دي چې ددغه خادم څخه به نيکي وينې اوکه ووينې چې دسمال ورك سوي دي دليل دي چې خادم به ځنې جلا سي اوکه ووينې چې دسمال سوزل سوي دي دليل دي چې دده خادم به مري.

منشور \ فرمان \ حکم

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې عالم يا زاهد يا مصلح سړي ورته حکم کړي دي چې په دي کار کې تيار اوسه دليل دي چې ددين په کار کې به دده صلاح وي اوددنيا او اخرت خلاصون اوسعادت به حاصل کړي اوکه د دې خلاف ووينې نو خلاصون به حاصل کړي اوکه ووينې چې پاچا ورته حکم کړي دي دليل دي چې شرف اوبزرګي به حاصله کړي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې پاچا ورته حکم ورکړيدي اوپه دغه ښار کې مصلح خلک دي دليل دي چې دپاچاڅخه به لويه مرتبه حاصله کړي اوکار به يې په انتظام سره سي اوکه دغه ښار خراب اوبد ولايت والا وي نو د دې تعبير داولنې خلاف دي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې ده ته فريشتې يا پيغمبر ليکل سوي فرمان ورکړي دي دليل دي چې الله پاک به دي وبخښي او دده څخه به راضي اوخوشحاله وي اوکه فرمان توروي نو د دې تعبير داولنې خلاف دي.

منقاره \ مشوکه \ مښوکه

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې دده دچرګ په ډول مشوکه ده دليل دي چې دمښوکې دغلا والي مطابق به ورته مال حاصل سي اوکه ووينې چې غټ مرغه لکه عقاب اوټپوس وغيره دي په مښوکه وهلي دي نوغم اوسختې به ورته رسيږي او دمال نقصان به يې وسي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې دده دچرګ مښوکه ده دليل دي چې دهغه دقدر وقيمت مطابق به ورته بزرګي نعمت خير اونفع حاصله سي اوکه ووينې چې دده مښوکه ده او په هغه سره خلکو ته نقصان رسوي دليل دي چې خلکو ته به دده څخه تکليف او زحمت رسيږي.

مني

مني هغه اوبه دي دکومو څخه چې بچي پيدا کيږي ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې مني ليدل مال دي چې په هغه سره به خوشحاله سي که ووينې چې دده سره دمني د اوبو ماټې ده دليل دي چې ډير مال به حاصل کړي اوکه ووينې چې دده دعضو تناسل څخه ډيره مني وتلي دي دليل دي چې دهغه په اندازه به پخپله ګټه ډير مال حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې دده دعضو تناسل څخه مني جاري ده دليل دي چې دهغه په اندازه به دپردو څخه مال حاصل کړي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې دده مني وتلي دي دليل دي چې مال به حاصل کړي دالله تعالی فرمان دي (انا خلقنا الانسان من نطفة امشاج نبتليه، سورة الدهر: ٢) مورِ انسان دمني څخه پيدا کړي دي چې هغه مورِ ازمايو جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په

خوب کي مني په څلورو وجو ده. ۱: زوی ۲: دمال زياتوالي ۳: دمال نقصان ۴: بزرګي اوکه ووينې چې دده مني دباندي وتلي دي نو تعبير بيانونکي ته پکار دي چې دمال په زياتوالي تعبير بيان کړي اوکه مني نه وي وتلي نو دمال نقصان به يې وسي.

مهد\زانګو\ټال

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې پر ټال ناست دي اوخوب ليدونکي د دې قابل وي نو په راحت اساني او خوشحاله ژوند دليل دي او دخوف اوبيرې څخه به په امن کي سي اوکه ووينې چې دټال څخه را ايله سوي دي نو د دې تعبير داولني خلاف دي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې پر ټال ناست دي دليل دي چې مهربانه ښځه به کوي يا به ښايسته مينځه اخلي اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دي چې ټال په خوب کي ارامګاه عزت اومرتبه ده دهغه چا لپاره چې د دې قابل وي کني قيدخانه ده. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي ټال په اتو وجو دي. ۱: اساني او راحت ۲: ژوند ۳: عزت ۴: مرتبه ۵: امن ۶: دولت ۷: مهربانه مينځه ۸: ښځه او دښځو لپاره ټال ليدل په څلورو وجو دي. ۱: قيد خانه ۲: تنګ ځاي ۳ : غم او فکر ۴: رنج او محنت.

مهر

ددي بيان په حرف ط کي تير سوي دي.

مهره\کنجکه\غمی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويل دي که ووينې چې غمی يې پيدا کړي دي يا يې اخيستي دي يا چا ورته ورکړي دي دليل دي چې دهغه دقدر او قيمت مطابق به مال حاصل کړي يا به ورته خدمتګار ملاو سي اوکه ووينې چې غم پاک اوسپين دي نو خدمتګار به يې مصلح اوپرهيزګار به ناجوړه وي اوکه تور وي نو دده خدمتګار به سخت زړی او بدخويه وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي غمي ليدل په اوو وجو وي. ۱: ښځه ۲: خدمتګار ۳: مينځه ۴: مال ۵: ادب او هوښيارتيا ۶: زوی ۷: ازاد غلام.

مهمان\ميلمه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي ميلمستيا دځه شي جمع کول دي اوکه ووينې چې يو قوم دميلمستيا لپاره رابللي دي دليل دي چې داسي کار به کوي چې دي به دټولو کارونو څخه منع کوي اوکه ووينې چې دي خلکو دميلمستيا لپاره باغ ته بيولي دي اوپه هغه باغ کي اوبه جاري دي او دميوو څخه ډک دي دليل دي چې جهاد ته به ځي اوشهيد به سي دالله تعالی فرمان دي (فيها بفاكهة كثيرة وشراب، سورة ص: ۵۱) ترجمه: په دې کي ډيري ميوي اوشربت دي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي داسي ميلمستيا ليدل چيري چې کنډو او دوپړه باجه او داسي نور شيان وي نوپر غم فکر اومصيبت دليل دي اوکه دا پکښې وي نو پر خير اوبرکت دليل دي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي ميلمستيا دغايب پر

Maktaba Tul Ishaat.com

واپس راتلو دليل لري جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينى چي ناوي يي بغير دنكاح څخه را ايستلي ده او ميلمنه كړي يې ده نو دليل دي چي ده ته به غم اوفكر رسيږي.

مورچه \ ميږي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي ميږي په يو شي كي جمع سويدي دليل دي چي ډير خلك به دده كور ته راځي او كه ووينې چي ډير ميږي دده دكور څخه وتلي دي دليل دي چي دده دكور خلك به بل ځاي ته ځي اوكه ووينې چي دلوړه څخه ميږي دده كورته راځي دليل دي چي غل به دده كور ته راځي اوكه ووينې چي دده پر بدن ډير ميږيان جمع سوي دي يا دده دخولي څخه راوځي دليل دي چي ژر به هلاك سي. جابر مغربى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب كي ميږي كمزوري دښمن دي كه پخپل كور كي ډير ميږي ووينې دليل دي چي دده نسل به زيات سي اوكه ووينې چي ميږي دده دكور څخه دباندي وتلي دي دليل دي چي دده نسل به كم سي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي سور ميږي پر كمزوري او سست سړى دليل لري اوتور او غټ ميږي دغلاپر مال او پر كوروالاو دليل لري اوكه ووينې چي ميږي دده دكور څخه دباندي وتلي دي دليل دي چي ددي كور حال به پريشانه وي.

مورو \ د سيبو درخته

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي دده سره د سيبو درخته ده دليل دي چي دده به دازاد خوش طبعيته ښايسته اوكامل العقل سړى سره دوستي وي اودهغه څخه به فايده حاصلوي ابراهيم كرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي د سيبو درخته ماته ده يا ده ځاي څخه ايستلي ده دليل دي چي دداسي سړى دصحبت څخه به جلاسي او جابر مغربى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب كي د سيبو درخته ډير مال اونعمت دي اوبعضو ويلي دي چي نيك عمله زوى دي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب كي د سيبو درخته ليدل په څلورو وجوي. ۱: هوښيار مزدور ۲: صالح زوى ۳: ډير مال ۴: نفع اوكه ښځه ووينې چي دي د سيبو ترڼ سوي لاستي خپل خاوند ته وركړي دي دليل دي چي د دې نكاح به مضبوطه وي.

موز \ كېله \ كېلا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي كيلا دمالدارو لپاره مال دي او ددينداړو لپاره دين دي او دكيلا پانه دټولو درختو دپاڼو څخه ښه ده اوكه ووينې چي ده كيلا اخيستي ده يا چاورته وركړي ده اوخوب ليدونكي مالدار وي نو مال به يې نورهم زيات سي اوكه ووينې چي ده كيلا خوړلي ده دليل دي چي ددين اوددنيا نفع به حاصله كړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب كي كيلا په درو وجو ده ۱: دمال زياتوالي ۲: ددين زياتوالي ۳: حلاله روزي اوخوشحاله ژوند او بعضو اهل تعبير ويلي دي چي كه په موسم كي يې كيلا خوړلي وي دليل دي چي ښايسته اومالداره ښځه به كوي او دهغه څخه به فايده حاصلوي.

موزه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب كي ديخني په موسم كي موزه ليدل پر خير اونيكي

دليل دي او دګرمي په موسم کي غم اوفکر دي او دموزي په تعبير کي داهل تعبيرو اختلاف دي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې موزي يې په پښو دي اووسله يې لګولي ده دليل دي چې دښمن به د ده څخه فکر مند سي اوکه ووينې چې دموزي سره وسله نسته دليل دي چې غم اوفکر به وينې خاصکر که موزه تنګه وي اوکه ووينې چې دده په پښه کي دپوست موزه ده دليل دي چې ښځه به کوي اوکه ووينې چې دده په پښه کي دپوست موزه تنګه ده دليل دي چې ده ته غم اوفکر رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دده موزه دسرلي دپوست ده دليل دي چې مال به حاصل کړي اوکه ووينې چې دده موزه دلاندي څخه څيرى يا سوزل سوي ده دليل دي چې ښځه به يې مري اوکه ووينې چې دده موزه ورکه سوي ده دليل دي چې دده دمال به نقصان وسي اوکه ووينې چې دده موزه دپښې څخه ختلي ده دليل دي چې واده او خوشحالي به حاصله کړي اوکه قيدي وي نو خلاصون به حاصل کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دده موزه دکور څخه دباندي ايله ده دليل دي چې ښځې ته به طلاق ورکوي اوکه ووينې چې ده پردي سړی ته موزه ورکړي ده يا يې خرڅه کړيده يا دده موزه خلکو څيرې کړي ده دليل دى چې دده ښځه به مري. اوکه ووينې چې دده موزه چا پټه کړي ده دليل دي چې ځوان سړی به دده دعيال قصد کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي موزه که نرمه وي اوپښې ته تکليف نه ورکوي نو دهغه ليدل په اوو وجووي. ۱: ښځه ۲: خادم ۳: مينځه ۴: قوت ۵: ژوند ۶: نفع حاصلول ۷: خير اونفع حاصلول.

موش\مړه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي مړه ښځه ده چې په ښکاره پرهيزګاره او په پټه بدکاره وي اوکه ووينې چې ده مړه نيولي ده يا چاورکړيده دليل دي چې دپورته ذکر سوي صفت ښځه به کوي اوکه ووينې چې مړه يې په نغاره کي نيولي ده دليل دي چې په مکر اوچم سره به ښځه کوي اوکه ووينې چې دده په کور کي ډيري مړي جمع سوي دي او ټولي يو رقم دي دليل دي چې ددغه مړو مطابق ښځي به دده په کور کي جمع سي اوکه ووينې چې مختلف قسمه مړي دي څه توري او څه سپينې دي نو د دې تعبير خلاف دورځي اوشپې دي په حديث شريف کي دي چې حضور صلی اللہ علیہ وسلم ويلي دي چې شپه او ورځ دوی مړي دي چې دخلکو عمرونه خوري. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دده دپزي دسوري څخه يا دعضو تناسل څخه مړه راوتلي ده دليل دي چې ناکاره لور به يې پيداسي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دده کورته ځنګلي مړي راغلي دي دليل دي چې دلته به ناکاره ښځي جمع سي او په خوب کي دمړو تعبير مال او دفسادي ښځو سامان دي اوکورني او ځنګلي مړي دتعبير په لحاظ سره برابري دي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ده مړه نيولي ده اودهغې لکې نسته دليل دي چې بې اصله ښځه به کوي اوکه ووينې چې مړه دده په لاس کي مړه ده دليل دي چې پر ده به مصيبت راځي اوکه ووينې چې پر مړه يې پښه مړلي ده دليل دي چې ناکاره ښځه به کوي اوبيا به يې پريږدي اوکه ووينې چې مړه يې په کانې ويشتلي ده نو پر چا به

Maktaba Tul Ishaat.com

تهمت لګوي اوکه ووينې چې دده په بستره کې مړه ده نو دناکاره ښځې سره به دفساد اراده کوي اوکه ووينې چې مړه يې نيولې ده نو دناکاره ښځې مال به خوري.

موم

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې سپين موم مال اونعمت دي اوژړ موم ناجوړ ده اوکه ووينې چې ده سپين موم خوړلې دي دليل دي چې حلال مال به حاصل کړي اوکه ووينې چې موم دده څخه ورك سوي دي يا يې خرڅ کړي دي نو دمال پر نقصان دليل دي جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي چې دهر رنګ موم مال اونعمت دي اوکه ووينې چې ده سپين موم ژوولي دي نو دنورو مومونو څخه ښه دي اوکه ووينې چې ده موم ژولي دي دليل دي چې دچا شکايت به کوي اوکه ووينې چې موم يې په اور سوزلي دي دليل دي چې هغونه به دپاچا څخه مال اخلي اوکه ووينې چې دموم څخه شمعې جوړوي او خلکو ته يې ورکوي دليل دي چې خپل مال به په خير صلاح اوصدقه کې خرڅ کړي او په خلکو به بخشش او احسان کوي.

مومیايي\سلاجيت

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې سلاجيت يې خوړلې دي نو پر غم اوفکر دليل دي اوکه ووينې چې چا ته يې ور کړي دي يا يې دکورڅخه دباندي غورزولي دي نو دغم اوفکر څخه به خلاصون حاصل کړي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې سلاجيت يې دبدن دخرابوالي په وجه خوړلې دي او جوړ سوي دي نو د دې تعبير داولنې خلاف دي.

موی\وريښته\ويښته

دانيال عليه السلام ويلي دي چې په خوب کې ويښته دسړو لپاره غم اوفکر دي او دښځو لپاره ښايست دي او دحيوانانو وريښته لږ مال دي اوکه صوفي ووينې چې دده د سر ويښته اوږده دي دليل دي چې ښايست اوصلاح به حاصله کړي اوکه صوفي نه وي نو د وريښتو د اوږدوالي مطابق به غم اوفکر حاصل کړي اوکه ووينې چې ده لږ وريښته پريکړي دي او غورزولي يې دي دليل دي چې غم اوفکر به ځني ليري سي. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې دحج په موقع يې دسر ويښته خرڅيلي دي نو په صلاح او دګناهونو پرکفاره دليل دي اوکه دحرمت په مياشت يعني رجب ذی الحجه ذی قعده اومحرم کې يې ووينې دليل دي چې قرض به يې ادا سي اودغم څخه به خلاصون حاصل کړي اوکه ووينې چې ټول ويښته يې خرڅيلي دي دليل دي چې څه لوړ بيان سوي دي زيات به وي اوکه خوب ليدونکي مالداره ښځه وي او ووينې چې سر يې خريلي دي نو خاوند يا مشر به يې مري. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دي که پاچا ويښته اوږده ووينې نو پر لښکر دليل دي اوکه عام خلک يې ووينې نو دغم اوفکر په زياتوالي دليل دي اودبدن دويښتو زياتوالي پر غم اوفکر دليل دي اوکه سړی ووينې چې دده دسر ويښته ببر او ګډوډ دي نو دا د دين پر نقصان دليل دي اوکه دخپل سر ويښته زوړند ووينې نو دمور اوپلار يا دبزرګ دطرف څخه پر غم اوفکر دليل دي اوکه خپل سر کتې ووينې نو پر زيات ژوند اوخوشحالي دليل دي اوکه ووينې چې دده دعلويانو په ډول دوې زلفې دي دليل دي چې

سرداري به حاصله کړي اونيک نومه به سي اوکه ووينې چې ده خپل ويښته ايستلي دي دليل دي چې خپل مال به ورک کوي اوکه ووينې چې ده خپل ويښته ږمونځ کړي دي دليل دي چې پرخپلو کارونو به قادر وي اوډيره نفع به حاصلوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ده د خپل ترخ ويښته او دنامه څخه لاندي ويښته خريلي دي نو دا ددين پر علاج دليل لري اودترخ ويښته پر مال اومراد حاصلولو دليل دي اوکه ووينې چې دترخ ويښته يې خريلي دي دمروت پر زياتوالي دليل دي اوکه ووينې چې دده پر سينه ويښته دي دليل دي چې پر ده به قرض جمع سي اوپر بدن ويښته دقرض مال دي اوکه ووينې چې ده دخپل بدن ويښته خريلي دي نو دا دمال پر نقصان دليل دي اوکه خوب ليدونکي فقير اوقرضدار وي نوقرض به يې ادا سي اودغم اوفکر څخه به خلاص سي اوکه ووينې چې پر ځان يې چونه مړلي ده اودخپل بدن څخه يې ويښته ليري کړي دي دليل دي چې که مالدار وي نوفقير به سي اوکه فقير وو مالدار به سي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دده څخه ويښته ايله سوي دي که مالدار وي نو دمال پر نقصان دليل دي اوکه فقيروي نو مالدار به سي اوکه قرضداروي نوقرض به يې ادا سي اوکه ناجوړه وي نوشفا به حاصله کړي اوکه ووينې چې دده دراسته طرف ويښته مشرق اودچپه طرف ويښته مغرب ته تللي دي دليل دي چې دده به دوه زامن پيداسي چې دهغو نوم به په مشرق اومغرب کي مشهور سي. حافظ معبر رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که عالم په خوب کي ووينې چې دده ويښته ګلکتي سوي دي نو داپر بدعت اودهغه پر رسوايي دليل دي اوکه جاهل داخوب ووينې نو نعمت اوعزت به حاصل کړي اوکه ووينې چې ده ويښته ايستلي دي دليل دي چې امانت به ادا کوي اوکه ووينې چې دده دنامه څخه لاندي ويښته اوړده دي دليل دي چې ده ته به نقصان رسيږي او دويښتو اوړدوالي دښځو لپاره ښه دي اوکه ووينې چې خپل دنامه څخه لاندي ويښته يې خريلي دي دليل دي چې دده په دين کي به نقصان وي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې دويښتو په خوب کي خريل ليدل په پنځو وجو وي. ۱: حج کول ۲: سفر کول ۳: عزت اومرتبه ۴: امن ۵: دولت دالله تعالى فرمان دي (محلقين رؤوسكم ومقصرين، سورة الفتح: ۲۷) خپل سرونه خريلو والا او لنډونکي. اوکه دخوب ليدونکي سر خريل عادت وي نودهغه دنيک اودبد دليل دي.

مې پخته \ پخکړي شراب \ پاخه شراب

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې دشرابو تعبير حرام مال دي که ووينې چې شراب يې چيښلي دي او نشه سوي دي دليل دي چې دنشي مطابق به عزت اومرتبه حاصله کړي اوکه ووينې چې بغير دشرابو چيښلو نشه سويدي دليل دي چې ده ته به ډيره بيره ورسيږي دالله تعالى فرمان دي (وترى الناس سكارى، سورة الحج: ۲) ترجمه: اوته به خلک په نشه کي ووينې. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې دشرابو دچيښلو مطابق دمال اونعمت کمي دي اوکه ووينې چې دده سره شراب دي اوده په خواهش سره چيښلي دي دليل دي چې دخلکو سره به جنګ کوي اوکه ووينې چې

Maktaba Tul Ishaat.com

په شرابو کي غرق سوي دي دليل دي چي په جنګ کي به هلاک سي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي شراب يې چيښلي دي دليل دي چي حرام مال به په حرامو بدلوي اوکه ووينې چي شراب داوبو سره ملاو سوي دي دليل دي چي مال به حاصل کړي چي دهغه څه حصه به حلاله او څه به حرامه وي اودا هم وايي چي د ښځو څخه به مال اخلي اوکه ووينې چي شراب خرڅوي دليل دي چي حرام شي به خرڅوي.

ميخ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي ميخ ورور دي که ووينې چي په ديوال کي يې ميخ لګولي دي دليل دي چي دده ورور به په ميخ لګول سوي ځاي کي يو سړی نيسي ځکه چي ديوال په خوب کي سړی دي اوکه ووينې چي ميخ يې په رسي تړلي دي دليل دي چي دده ورور به ديو سړی سره ملاويږي اوکه ووينې چي دده پر ملا ميخ وهلي دي دليل دي چي زوی به يې پيدا کيږي چي پاچا به جوړيږي يا به پوره شرف اوبزرګی ته رسيږي يا به پرهيزګاره سي چي نوم به يې په ټول عالم کي مشهور سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي ميخ په ټولو شيانو کي بزرګي او ددين دنيا مرتبه ده اوکه ووينې چي دده دکور پر دروازه ميخ دي دليل دي چي شرف اوبزرګي به حاصله کړي اوکه دخپل کور څخه يې ميخ ايستلي دي اودباندي يې غورزولي وي نو ددې تعبير داولني خلاف دي اوکه ووينې چي دده سره دلرګي يا داوسپني يا دسپينو زرو يا دتانبې يا دهډوکي ميخ دي دليل يې پر دوه قسمه دي ۱: يو داچي ښځه به کوی ۲: دوهم داچي څوك به دوست جوړوي اوکه ووينې چي په ستنه يا لرګي کي يې ميخ لګولي دي دليل دي چي دموافق سړی سره به اندېوالي کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ميخ داوسپنی يا دتانبې وي نو تدبير يې نيک دي اوکه داوسپني يا دهډوکي وي نو پر قوت اونيکي دليل دي اوکه ووينې چي دده په لاس کي داوسپني ميخ دي دليل دي چي زوی به يې پيداسي چي دپاچاهي قابل به وي اوکه زوی يې نه وي نو دليل دي چي الله تعالی به ورته علم اوپوهه ورکړي اوکه اهل علم نه وي نو دعالمانو سره به مينه لري اوکه ووينې چي دسرو ياسپينو زرو ميخ يې په مځکه کي ښخ کړي دي دليل دي چي پخپله ګټه به مالدار سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي ميخ ليدل په ځلورو وجووي. ۱: ورور ۲: زوی ۳: دوست ۴: د ښځي سره نکاح کول.

ميش\بزه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي بزه غټه ښځه ده د دې شرح په حرف ك کي بيان سويده اودلته هم څه بيانيږي که ووينې چي پر بزه ناست دي اوهغه دده تابعداره ده دليل دي چي لوی سړی به دده فرمانبردار سي اوکه بزه جنګ کوي اوبزه باندي غالبه سوي ده دليل دي چي دښمن به باندي غالب سي اوکه ووينې چي دبزی ښکرونه غټ اومضبوط سوي دي دليل دي چي خوب ليدونکي به قوي اومالدار سي اوکه ووينې چي دبزي پوست يې ايستلي دي او غوښه يې ځني جلا کړي ده دليل دي چي دغم څخه به خلاص سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي

دي که ووينې چې بزه دده سره جنګ کوي دليل دي چې يو ښځه به دده سره مکر اوحيله کوي اوکه ووينې چې دبزي غوښه دده دکور څخه دبل چا کور ته وړل سوي دي دليل دي چې دده ښځه به دبل سړي په عشق کې اخته سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې بزه په خوب کې په شپږو وجو وي. ۱: امام ۲: خليفه ۳: امير ۴: رئيس ۵: مال ۶: زوی.

ميوه\فروټ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې ميوه چې ترشه اوخوږه وي پر خير اونفع دليل دي اوکومه ميوه چې اومه اوتروه وي پر بې فايدو او عبثو خبرو دليل دي اوتور انګور اوزيتون پر غم اوفکر دليل دي اوکه ووينې چې ددرختي څخه يې ميوه شکولې ده دليل دي چې دهغه په اندازه به دبزرګ سړی څخه مال حاصل کړي اوکه ووينې چې په ناستې يې د درختو څخه ميوه شکولې ده دليل دي چې حلال اوښه شي به حاصل کړي اوکه ووينې چې ددرختي څخه يې بغير دلاس لګولو ميوه را ايله کړي ده دليل دي چې بغير دغم اومشقت څخه به ورته حلال مال حاصل سي اوکه ووينې چې ددرختي څخه يې ميوه اخيستې ده که پر خپل موسم وي نو هيڅ بيره نسته او پر حلال رزق دليل دي اوکه بې موسمه وي نو ددي تعبير خلاف دي. دانيال عليه السلام ويلي دي چې کومې ميوې په خپل موسم کې په خوب کې ووينې او ويې خوري دليل دي چې دهغه په اندازه به مال حاصل کړي اوکه ميوې پرخپل وخت نه وي نو دده مال به خراب وي اودهري ميوې تعبير ددرختي طرفته رجوع کوي که نيك وي اوکه بد وي اوژړي ميوې ماسوا دليمبو بهي اوزرد آلو څخه پر ناجوړې دليل لري ځکه چې د دې درو سره په تعبير کې نقصان نسته او تروې ميوې پر غم اوفکر دليل دي او لندې پخ سوي اوخوږې ميوې پرخپل موسم پر حلاله روزي دليل دي او په خوب کې اومه اوبې خونده ميوې پر حرام مال غم اومصيبت دليل لري اوکه ووينې چې دګرمې ميوه يې په يخنې کې خوړلې ده دليل دي چې ناجوړه به سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې که خوږې ميوې بې وخته ووينې نو پر غم اوفکر دليل دي حاصل دادي چې کومه ميوه لنده شنه خوشبوداره او خوږه وي دهغه تعبير خير اونفع ده. اسماعيل اشعث رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې ميوې خرڅوي که دخلکو خوښې وي نو دليل دي چې دلوی سړی په کارکې به مشغول سي اوکه تروې اوبې خونده ميوې خرڅوي نو پر غم اوفکر او تکليف دليل دي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې ميوې خرڅونکې که ښې او خوږې ميوې خرڅوي نو پر ښوالي اوخير دليل دي تعبير بيانوونکي ته پکار دي چې نيك بد جنس اوناجنس وپيژني نو هله دي تعبير بيان کړي چې داصل څخه خطا نه سي، او الله تعالى ښه پوهيږي.

[ن]

نابينا\ړوند

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که څوك په خوب کې ووينې چې ړوند سويدي دليل دي چې ددين

Maktaba Tul Ishaat.com

اسلام څخه به ګمراه سي اوکه ووينې چې دده يوه سترګه ړنده ده دليل دي چې دده نيم دين تللي دي يا يې غټه ګناه کړي ده اوددې په اندامونو کې به پر يو مصيبت راځي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دړوند لاس يې نيولي دي او رابولي يې دليل دي چې ګمراه به سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ړوند سوي دي دليل دي چې دخپله لاسه به ښه کارونه کوي اوکه ووينې چې ده دچا سترګه ړنده کړي ده دليل دي چې هغه به ددين دلاري څخه ليرې کوي اوکه ووينې چې حيوانان يې ړانده کړيدي نو پرهغه سړی دليل دي کوم چې حيوانان يې وطرفته منسوب دي چې هغه ته به ضرر اوتکليف رسوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې ړوندوالي په اووه وجو دي. ۱: فقيري ۲: بدحالي ۳: غم اوفکر ۴: دبدن نقصان ۵: مصيبت ۶: دمال نقصان ۷: ددين تباهي. دالله تعالی فرمان دي (صم بکم عمی فهم لایرجعون، سورة البقرة: ۱۸) کانړه دي ګونګيان دي ړانده دي دوي چې رجوع نه کوي حق ته. اوکه ړوند په خوب کې ووينې چې بينا سوي دي دليل دي چې ددنيا کارونه به باندي اسانه سي اودنا اميدي څخه به اميد وار سي او دالله تعالی درحمت څخه به نصيبه حاصله کړي دالله تعالی فرمان دي (لا تقنطوا من رحمة الله ان الله يغفر الذنوب جميعا، سورة الزمر: ۵۳) ترجمه: دالله تعالی درحمت څخه مه نا اميده کيږي ځکه چې الله تعالی ټول ګناهونه بخښي.

ناخن \ نوکان

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې نوکان پر سخاوت قوم اوخلکو دليل دي اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دي چې دوسلي والا په حق کې نوکان وسله ده اوکه ووينې چې ده نوکان په غچې پريکړي دي دليل دي چې دده دين به قوي وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې نوکان قوت طاقت اوددنيا مال حاصلول دي اوکه ووينې چې دده نوکان مات سوي دي دليل دي چې مال به حاصل نه کړی اوکه ووينې چې دده نوکان را ايله سوي دي اوبيا راختلي دي اوغټ سوي دي دليل دي چې دده کار به ښه سي اوډير مال به حاصل کړي اوکه ووينې چې دده نوکان تور او بيده سوي دي نوپر غم اومصيبت دليل دي اوکه ووينې چې نوکان يې دونه اوړده سوي دي چې دماتيدو بيره يې ده نو د دي تعبير خراب دي اوکه ووينې چې دده نوکان دبيخ څخه پرې سوي دي اوبدل سوي دي نو دا دکارونو پر بنديدو دليل دي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دده نوکان پر برابر حد دي نو دا ددين او ددنيا پر صلاح دليل دي اوکه ووينې چې ده نوکان درست کړيدي دليل دي چې ډير مال به حاصل کړي اودپښو او دلاسونو دنوکانو يو رقم تعبير دي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې نوکان ليدل په شپږو وجو وي. ۱: قوت اوعقل ۲: په دنيا کې دخلکو مقدار ۳: زړه ورتيا ۴: زوی ۵: نفع ۶: دغلام زوی يا دورور زوی.

ناخن پرا \ غچې

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې غچې تقسيمونکي سړی دي که ووينې چې ده دسر

وينبته يا كالي په غچي كړي دي دليل دي چي داټول به ښه سي اوكه ووينې چي ده ته چا غچي وركړيده يا ده اخيستي ده دليل دي چي كه زوى يې وي نوبل زوى به يې پيداسي اوكه لور يې وي نوبله لور به يې پيدا سي اوكه غچي دوه تكړي ووينې نو هم يې دغه تعبير دي. ابراهيم كرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي ده ته چا غچي وركړي ده يا ده اخيستي ده يا يې پيدا كړي ده كه دده سره اس وي نوبل اس به اخلي يابه يې حاصلوي اوكه دده سره ملك وي نوبل ملك به حاصل كړي على هذاالقياس څه چي دده سره وي هغه به نور حاصل كړي. جابر مغربى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب كي غچي نيك نومه اونيك اصله سړى دي چي دهغه سره به دوستي كوي او دده په دين اودنيا كي به زياتوالي وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب كي غچي ليدل په درو وجو ده. ۱: تقسيمونكي سړى ۲: نيك اصله سړى ۳: ناموافقه دوست.

ناريا (يو ډول سبزي)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب كي ناريا خوړل كه خوږ وي اودبزي يا دچرګ په غوښه كي پخ سوي وي نوپر خير اونفعي دليل دي اوكه دغوا يا په يوه سخته غوښه كي پخ سوي وي نو دغم اوفكر دليل دي.

نار مشک (يو كوچنى بوټى)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي دده په مځكه كي نارمشک راشين سوي دي دليل دي چي دده نوم به په خير خوشحالي اوخوبي سره په ملک كي مشهور سي اوكه ووينې چي نارمشك يې دمځكي څخه ايستلي دي نو د دې تعبير خلاف دي ابراهيم كرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي دده سره تازه دنار مشكو ګلدسته ده او كه پخپل موسم كي وي نودخير او ښيګڼي دليل دي.

نارنج

دانيال عليہ السلام ويلي دي چي نارنج ژړ وي ليكن خوشبودار او په ليدلو كي ښه اوپاكيزه دي او دجنت دميوو څخه دي د دې وجي څخه په خوب كي ښه دي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب كي نارنج ديو څخه تر درو پوري زامن دي كه ددرو څخه زيات ووينې نو هغونه مال دي او شين نارنج ښه دي اوژړ نارنج هم پر وخت بد نه دي ابراهيم كرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي نارنج شين دي نو دبعض اهل تعبيرو په نزد پر ناجوړي غم اوفكر دليل دي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب كي نارنج ليدل په څلورو وجو وي. ۱: دوست ۲: جنګ ۳: زوى۴: دخلكو څخه نفع.

ناطف (يو قسم حلوا)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي دده سره ډير ناطف دى او دهغه څخه يې خوري دليل دي چي ډير مال اونعمت به حاصل كړي جابر مغربى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي دشهدو او دشاتو ناطف ليدل دليل دى چي ډير مال اونعمت به حاصل كړي ليكن دشهد ناطف په فايده كى ښه دي

Maktaba Tul Ishaat.com

جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې دشهدو ناطف په درو وجو دي. ۱: خوږی خبري ۲: حلال مال ۳: ژوند.

ناف \ نوم

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې نوم ښځه او دهغه ترلاس لاندې مينځه ده که ووينې چې دده نوم را ايله سوي دي دليل دي چې ښځې ته به طلاق ورکوي يا به يې مينځه مړی اوکه ووينې چې دده نوم پرې سوي دي دليل دي چې دده عيال به مړی او کار به يې تباه سي اوکه ووينې چې دده نوم کوچنې دي نو د دې تعبير د اولنې خلاف دي اوکه ووينې چې دده په نوم کې سورې دي دليل دی چې دده په حال کې به خلل ښکاره سي جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې دده پر نوم يا پر سينه دخط په ډول وريښته راوتلې دي دليل دي چې دنبی صلى الله عليه وسلم دسنتو سره به مينه لري اوکه ووينې چې دده دنوم وريښته پريکړه سوي دي دليل دي چې دمور او پلار څخه به جلا سي اوکه ووينې چې دنوم څخه ترنس پورې چاود راغلې دي دليل دي چې عالم اوهوښيار به سي ليکن مال به يې ختم سي اسماعيل اشعث رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې ده دچا نوم پريکړې دي اوخوړلې يې دي دليل دي چې دهغه په اندازه به مال ورک سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې نو ليدل په پنځو وجو وي. ۱: ښايسته ښځه ۲: مينځه ۳: مال او رزق ۴: هلك ۵: مور او پلار.

ناقوس \ شپلۍ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې شپيلې منافق درواغجن اوبې فايدې سړی دي که ووينې چې شپيلۍ ږغوي دليل دي چې دمنافق سړی سره به کښيني اودرواغ به وايي او خوشحاله به وي اوکه ووينې چې شپيلي ماته سوي ده نو د دې تعبير داولنې خلاف دي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې شپيلۍ ليدل په درو وجو ده. ۱: درواغ ويل ۲: نفاق ۳: په زړه کې دکافرانو سره مينه لرل.

نام ګردانيدن \ نوم بدلول

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې که په ښه نومونو کې يې نوم بدل سوي وی لکه محمد احمد سعد او داسې نور پر خير اوصلاح دليل دي اوکه دده لقب دده دنوم اولقب څخه بدتر وي نوبيا پر شر اوفساد دليل دي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب کې نيك نوم او نيك کنيت اوريدل لکه ابوالخير ابو الفضل ابو سعيد يا ابو البرکات اوداسې نور پر خير اومال دليل لري اوکه د دې خلاف ووينې لکه ابولهب عتبه او شيبه اوداسې نور پر شر او نقصان دليل لري لکه څنګه چې بيان سوي دي.

نامه \ خط

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې دده سره بند خط دي دليل دي چې پټه خبره به اوري اوکه خط خلاص سوي وي نوښکاره خبره به اوري اوکه ووينې چې دده پر خط مهرلګيدلي دي

دليل دي چي دده مهر سوي خط به په خير سره رسيږي. ابراهيم كرمالى رحمة الله عليه ويلي دي كه ووينې چې چا ده ته خط وركړي دي اودهغه سرنامه يې ايستلي دي دليل دي چې ده ته به دچا څخه خير رسيږي اوكه ددغه خط عنوان نه وي نو پر غم اوفكر دليل دي اوكه ووينې چې دهغه عنوان ليكل سوي دي او پر هغه مهر لګيدلي دي اوچا خلاص كړي نه دي دليل دي چې داسي كار به كوي چې دهغه ښكاره به نيك وي او په باطن كې به غم اوفكر وي اوكه ووينې چې دخط مهر يې ليرې كړي اووېي وايه دليل دي چې دده عزت اومرتبه به زياته سي اوكه خوب ليدونكي ويونكي وي اووينې چې ده خط ويلي دي دليل دي چې دده عزت اومرتبه به زياته سي اوبعض اهل تعبير بيان كړي دي چې دده مرګ نزدي دي دالله تعالى فرمان دي (اقراء كتابك كفى بنفسك اليوم عليك حسيبا، سورة الاسراء: ١٤) ترجمه: خپل كتاب ووايه نن ورځ ته دخپل حساب اخستلو لپاره پوره يې. جابر مغربى رحمة الله عليه ويلي دي كه ووينې چې ده ته دپاچا خط ملاو سوي دي او ده خلاص كړي دي او ويلي يې نه دي نو پر غم اوفكر دليل دي اوكه خلاص يې كړي او ويې وايه او په هغه كې څه زيري ليكل سوي وي نو پر واده خوشحالي اونفع دليل دي اوكه په هغه كې څه خرابه خبره ليكل سوي وي نو پر خفګان اوهلاكت دليل دي اوكه ووينې چې دمهر سره خط يې حاصل كړي دي اوپاچا ته يې وركړيدي نو پرخير اونفع دليل دي. اسماعيل اشعث رحمة الله عليه ويلي دي كه ووينې چې دده په لاس داسمان څخه خط راغلي دي نو پر خير او اميد واري دليل دي اوددده كارونه اوهر يو مراد به يې پوره سي اوكه ووينې چې په هغه كې ناخوښي خبري ليكل سوي دي دليل دي چې دده كارونه به پوره نسي.

نانها \ډوډۍ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب كې پاكيزه ډوډي ليدل ژوند دي اوكه پاكيزه ډوډۍ نه وي نو ژوند به يې په خفګان وي اوكه ووينې چې ډوډۍ يې اخيستي ده اوكور ته يې وړي ده نو پر خير نفع فراخه روزى اوپر حلال مال دليل دي اوكه ووينې چې ده ته چا ډوډي وركړي ده دليل دي چې ده ته به خوشحالي رسيږي. ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي كه ووينې چې ده دوه دري ډوډي پيدا كړي دي دليل دي چې دغم اوفكر څخه به خلاص سي اوخوشحالي او راحت به وينې اوكه ووينې چې ده په نامعلوم ځاي كې نيمه ډوډي پيدا كړي ده دليل دي چې دده نيم عمر تير سوي دي اوكه ووينې چې ده لږ ډوډي پيدا كړي ده اوخوړلي يې ده دليل دي چې دده مرګ نزدي سوي دي اوكه ووينې چې دده سره ډيري ډوډي دي اوخوړلي يې نه دي دليل دي چې هغونه به مال حاصل كړي اوكه ووينې چې ګرمه ډوډي يې خوړلي ده دليل دي چې ده ته به غم ورسيږي. ابراهيم كرمانى رحمة الله عليه ويلي دي چې په خوب كې ګرمه ډوډي ليدل ژوند اوخوشحالي ده او وچه ډوډي د دې خلاف ده او چاڼ كړي ډوډي خوړل پرقحط اوتنګي دليل لري اوګرمه او پاكه ډوډي خوړل دپاچا پر عدل او انصاف دليل دي اودباجري ډوډي پر تنګ ژوند او پرهيزګاري دليل لري اود اوربشو ډوډي خوړل پرپرهيزګاري دليل دى او دشولو ډوډي پرسختي اودكارونو پر

Maktaba Tul Ishaat.com

بنديدو دليل لري او ددالو اودكرخو ډوډي پر غم اوفكر دليل لري. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چې ده وچه ډوډي خوړلي ده دليل دي چې روزي به باندي فراخه سي اوبعض وايي چې په خوب كې نري ډوډي خوړل دعمر پر لنډوالي دليل دي اوكه ووينې چې غونډه ډوډي دده پر تندي راځړېږي ده نو فقير به سي اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې د ډوډي تعبير امير بزرګ او رئيس خلک دي اوكه پاچا په خوب كې يوه ډوډي ووينې دليل دي چې ملك به يې زيات سي او كه سوداګر ووينې نو مال به يې زيات سي او ديوي ډوډۍ تعبير ديوي روپي څخه تر زرو روپو پوري دي دهر سړی دحوصلي مطابق اوكه په عوامو كې څوك سړی يې ووينې نو دهغه جايداد اوعزت به زيات سي. دانيال عليہ السلام ويلي دي چې په خوب كې د ډوډي څخه ښه شي نسته ځكه چې ډوډي حلال مال دي چې بغير دمحنت څخه حاصليږي او په خوب كې د ډوډي پخولو تعبير دژوند په طلب كې كار كول دي او په ډوډي كې تادي كول دمال بزرګي حاصلول دي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب كې ډوډي په څلور وجو وي. ۱: خوشحاله ژوند ۲: حلال مال ۳: دخير اوبركت مياشت ۴: دمال طلب اوكه ووينې چې ډوډۍ خلاصه ده دليل دي چې ډير مال به په جنګ سره حاصل كړي اوبعض وايي چې نانبايي په تعبير كې عادل پاچا دي.

نانخوا \ سپيرکۍ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب كې سپيركي پرغم اوفكر دليل لري اوكه ووينې چې سپيركي يې چا ته وركړي ده يا يې غورزولي ده دليل دي چې دغم اوفكر څخه به خلاصه سي او دسپيركۍ په خوړلو اوليدلو كې ماسوا دغم اوفكر څخه هيڅ خير اونفع نسته او الله جل جلالہ ښه پوهيږي.

ناودان \ ناوه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه څوك په خوب كې ووينې چې دچتونو څخه اوبه بغير دناوو لاندي رابهيږي دليل دي چې دلته به جنګ او خونريزی كيږي اوكه ووينې چې بغير دبارانه په ناوو كې اوبه رابهيږي دليل دي چې دغه ځاي والاوته به دپاچا دطرفه څخه تاوان او غم رسيږي او كه ووينې چې وريځ اوباران دي او ترناوو ناوو اوبه رابهيږي دليل دي چې الله تعالى به پر دغه ځاي والاوو بخشش اورحمت وكړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چې ده پرخپل چت ناوه ايښي ده دليل دي چې دلوی سړی څخه به نفع حاصله كړي اوكه ووينې چې دده پركور ناوه را ايله ده اوماته سويده نو د دې تعبير داولني خلاف دي اوكه ووينې چې ناوه داوسپني يا دتانبي ده، دليل دي چې هميشه به دده كارونه په انتظام سره وی اوكه ووينې چې ده دچا دناوي اوبه چيښلي دي دليل دي چې دهغه په اندازه به دچا څخه نفع حاصله كړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب كې ناوه په دوو وجوده. ۱: دښار رئيس ۲: سردار ۳: لږ خير اونفع.

نايي زدن \ شپيلۍ وهل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب كې شپيلي وهل پر غم اوفكر اومصيبت دليل دي او

دشپيلی. اواز اوريدل پر غم اوفکر دليل دي اوکه ووينې چې شپيلي وهي دليل دي چې په غم او فکر کې به ګرفتار سي. ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې شپيلي وهونکي هغه سړی دي چې خلکو ته خير رسوي او په شپيلي وهلو کې خير نسته.

نباتات \ سبزي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که سبزي دهغه په موسم کې ووينې او دهغه تنه نه وي نو پر خير او نفع دليل دي اوچې تنه يې دښاخونو څخه بغير وي نوپر مال نعمت او دمرتبې د زياتوالي په اندازه دسبزي پر کوچنيوالي او لوړوالي اودښاخونو پر نري والي دليل دي اوکه ووينې چې دده پر بدن باندي سبزي يا وانبه يا درخته شنه دي دليل دي چې خير اونفع به حاصله کړي او څونه چې سبزي زيات ووينې خير اونفع به زيات وي اوکه ووينې چې دده پر غوږ يا ژبه يا خوله باندي سبزي راشنه سوي دي دليل دي چې دده مرتبه به زياته سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې دمځکې په سبزي کی دعام اوخاص لپاره نعمت اوزړه غوښتونکي مال دي اوکه ووينې چې دده په مځکه کې ډير بوټي راشنه سوي دي دليل دي چې خوب ليدونکي به ديندار اومسلمان سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې کوچني بوټي په څلورو وجو وي. ۱: مال ۲: نفع بزرګي اومرتبه ۳: خوشحاله ژوند ۴: د دولت زياتوالي.

نبات جلاب \ دګلابو بوټی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې دګلابو بوټي ليدل ښه خبره ده اوکه ډير بوټي ووينې نو پر مال اونعمت دليل دي اوکه ووينې چې چا دده په خله کې بوټي ايښي دي دليل دي چې دهغه څخه به ښه خبره اوري يا به دي مچوي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې دګلابو بوټی ليدل په پنځو وجو وي. ۱: ښه خبره ۲: مچول ۳: نفع اومال ۴: زامن ۵: حلاله روزي.

نباش \ کفن چور \ کفن کښ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوك په خوب کې ووينې چې دی کفن کښ سويدي که عالم وي دليل دي چې دباطلي دنيا په طلب کې به خپل علم خرڅوي او په دي کې به خپل عمر ضايع کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که کفن کښ ووينې چې ده ډير کفنونه جمع کړي دي نو مصلح به سي اوعلم اوحکمت به حاصل کړي اوبعض وايي چې حرام مال به جمع کړي او دخلکو څخه به ملامتيا حاصله کړي.

نويسنده \ ليکوونکی \ ليکوال

دانيال عليہ السلام ويلي دي که ليکونکي ووينې چې ده څه ليکلي دي دليل دي چې په مکر اوچم سره به دچا مال اخلي اونه کوونکي کار به کوي اوکه ووينې چې ده دچا لپاره څه ليکلي دي دليل دي چې ډير مال اونعمت به حاصل کړي اوکه ووينې چې دعامو خلکو لپاره يې څه ليکلي دي دليل دي چې په خپل مکر اوفريب سره به خلک پريشانه کوي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ناڅاپه منشي سوي دي دليل دي چې په مکر اوچم سره به روزي ګټي اوکه عام سړی

Maktaba Tul Ishaat.com

وي او ووينې چې دليکلو کار کوي دليل دي چې خير اونفع به حاصله کړي اوکه ووينې چې شعر غزل او افسانه ليکي دليل دي چې ددنيا په کارکي به لګيږي اوداخرت کار به هير کړي اوکه ووينې چې قرانکريم توحيد اودعا ليکي دليل دي چې خير اونفع به حاصله کړي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوك په خوب کي ووينې چې دوينې په سياهي يې خط ليکلي دي نو دليل دي چې دسود چيك به ليکي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که منشي په خوب کي ووينې چې ده سردار ته خط ليکلي دي که صالح وي نو دده ددين اوديانت پر ضايع کيدو دليل دي اوکه بدکاره وی نو توبه به وباسي اوکه ووينې چې په سره سياهي ليکل کوي نو ددنيا پر عيش عشرت دليل دي اوکه ژړه وي نوناجوړه به سي اوکه په شنه سياهي سره ليکل کوي نو دده نوم به په خير اوخوشحالي سره په ملك کي مشهور سي اوکه ووينې چې په سرو يا سپينو زرو سره ليکل کوي دليل دي چې دپاچا څخه به خير اونفع حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي ليکل په څلورو وجو وي. ۱: خير او نفع ۲: مال اونعمت ۳ : په مکر او چم سره څه حاصلول ۴: معزول کيدل.

نبيذ \ شراب

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي شراب حرام مال دي چې په جنګ سره حاصليږي اوکه ووينې چې په شرابو کي غرق سوي دي دليل دي چې په لويه فتنه کي به راسي اوکه ووينې چې دده په کور کي ډير شراب دي دليل دي چې هغونه به ورته نفع حاصله سي ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې شراب يې چيښلي دي اونشه سوي دي دليل دي چې ده ته به خوف اوبيره رسيږي اوکه ووينې چې دبل چاسره شراب چيښي دليل دي چې جنګ به کوي اوکه ووينې چې شراب په وياله يا درياب کي بهيږي اودي پکښي لمبيږي دليل دي چې په فتنه کي به راسي اوکه ووينې چې دشرابو پياله دده په لاس کي ده او دده ملګري ځني اخيستي ده دليل دي چې ددنياوي عيش په وجه به په جنګ کي راسي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې شراب په اوبو کي ګډوی او چيښي يې دليل دي چې دده لاس ته به څه حلال اوځه حرام مال راځي اوکه ووينې چې شراب خرڅوي دليل دي چې مال به برباد کړي اودمالك شراب چيښل پر معزول کيدو دليل دي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي شراب په درو وجووي. ۱: پټه نکاح ۲: حرام مال ۳: د دې جهان نعمت اوکه څوك په خوب کي ووينې چې دشرابو لپاره انګور مړي دليل دي چې دپاچا يا درئيس نزدي سړی او دهغه څخه به مال حاصل کړي.

نخاسي \ د غلامانو خرڅونکي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې نخاسي کوي دليل دي چې محاله خبره به کوي او د درواغو قسمونه به خوري او په خوب کي دنخاسي کولو هيڅ فايده نسته.

نخچير \ ښکار

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ښکار دده مطيع اوتابعدار دي دليل دي چې رئيس او

بزرګ به سي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دي چي دغلو مشر به سي اوکه ووينې چي ښکار دده تابعدار نه دي نو ددې تعبير د اول خلاف دي اوکه ووينې چي دښکار په شکل سوي دي دليل دي چي بي دينه به سي او دباطل طرفته به ميلان کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي ښکار يي په جال سره نيولي دي دليل دي چي دځنګلي سړی سره به ملاويږي اوکه ووينې چي دښکار غوښه يي خوړلي ده دليل دي چي دځنګلي سړی څخه به څه مال اخلي اوکه ووينې چي په ښکارونو کي مقيم سوي دي اوده ته په دي مقيم کيدو سره څه نقصان نه دي رسيدلي دليل دي چي په ځنګلي ټولګي کي به مقيم سي اودهغه څخه به خير اونفع حاصله کړي اوکه د دې خلاف ووينې دليل دي چي ده ته به تکليف رسيږي اوفايده به ورته نه وي اوکه ووينې چي ښکار دده سره خبري کوي اوددې تابع وي که اهل علم اوفضل وي نو دپاچا نزدي سړی به سي اومال به حاصل کړي اوکه جاهل وي نوداسي کار به کوي چي په هغه سره به خلک تعجب کوي.

نخود

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي نخود که لانده وي يا وچ پر غم اوفکر دليل لري اوکه ووينې چي دچا څخه يي نخود واخيستل اووېي خوړه دليل دي چي دهغه په وجه په غم اوفکر کي ګرفتاره سي اوکه ووينې چي ده نخود په ښوروا يا غوښو کي پخکړي او خوړلي دي دليل دي چي دده غم اوفکر به کم سي.

نردباختن\شطرنج کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي شطرنج کول باطل کار او ددنيا دهوکه ده اوکه څوك په خوب کي ووينې چي شطرنج کوي اوپر مقابل غالب سوي دي دليل دي چي په بې فايدي کار اوفريب سره به پر چا غالب سي اوکه مخالف باندي غالب سوي وي نو د دې تعبير خلاف دي.

نردبان\اندرپايه\زينه\پوړی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوك په خوب کي ووينې چي پر زينه باندي ختلي دي اوهغه زينه دخټې او خښتو وي نو پرخير او صلاح دليل دي اوددې دين به زيات وي اوده ته به نيکي رسيږي اوکه زينه دچوني اوکانړو وي دليل دي چي سخت زړي اوبي رحمه به وي اوکه دلرګي وي نو دده دين به کمزوري وي اوکه ووينې چي لوړ پر زينه ختلي دي که دچوني وي نوپاچا به سي ورته خير اونفع به حاصله کړي اوکه ووينې چي پر زينه لاندي راکښته سوي دي نو د دې تعبير د اول څخه خلاف دي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي دزينې څخه کښته را ايله سوي دي دليل دي چي دمرتبې او بزرګي څخه به را ايله سي اونقصان به يې وسي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي زينه مصلح او پرهيزګار سړي دي چي پر دښمن به کاميابه سي او دبدکاره لپاره منافقت دي.

نرګس\دنرګس ګل

دانيال علیہ السلام ويلي دي چي په خوب کي ګل نرګس خوش طبعه ښايسته اوپاک سړی دي ابن

Maktaba Tul Ishaat.com

سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي ګل نرګس ښه خبره ده اوکه ښځه ووينې چي دچا ګل نرګس اخستي دي يا چا ورته ورکړي دي دليل دي چي ښايسته زوی به يي پيداسي اوکه يي خاوند نه وي نوښايسته خاوند به کوي اوکه ووينې چي نرګس يي دمځکي څخه را ايستلي دي دليل دي چي خوب ليدونکي به ښځي ته طلاق ورکوي يا به يي زوی مري اوکه ووينې چي نرګس يي دمځکي څخه را ايستلي دي اوغلام ته يي ور کړي دي دليل دي چي دده غلام به تښتي اوکه ښځه ووينې چي دي دګل نرګس دسته خپل خاوند ته ورکړي ده دليل دي چي د دې خاوند به دي ته طلاق ورکوي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي نرګس په درو وجو وي ۱: خوشطبعه او ښايسته ښځه ۲: زوی ۳: دوست چي د هغه دوستي قوي وي. او که ووينې چي ده شين نرګس را اخيستي دي دليل دي چي احسان اونيکي به کوي اوپه خير کي به مشهور سي اوکه ووينې چي دده سره نرګس وو اوزيات سو دليل دي چي دده عيال به زيات سي.

نژم\نغم\غار

که ووينې چي ده نژم اخستي دي دليل دي چي هغونه به په دين کي ګمراهي حاصلوي اوکه ووينې چي نژم په رښا سره بدل سو دليل دي چي توبه به کوي اوکه ووينې چي دنژم په رښا کي تللي دي دليل دي چي منافق به وي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چي په تاريك نژم کي دي نو دغم اوفکر او دکار دبنديدو دليل دي اوکه ووينې چي هوا روښانه سوه اوسمدستي ځای ښکاره سو دليل دي چي په دي ملك کي به ناګهانه مرګ راځي جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چي نژم ليدل په خوب کي په څلورو وجووي. ۱: تاخير ۲: دکارونو پتيدل ۳: بدعت ۴: ګمراهي ابراهيم اشعث رحمة الله عليه ويلي دي چي که څوك له غار څخه رښا ته راغلي دليل يي دي چي دغريبي څخه به مالداري ته راسي او دبدعت اوګمراهي څخه به ليري سي ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي غار ليدل ښه نه دي.

نسرين\درامبيل ګل

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي درامبيل ګل ليدل دليل دی چي ده ته به څه ملاو سي او داهم وايي چي دده به زوی پيدا کيږي اوکه درامبيل ددرختي څخه ليري وي نو پر غم او فکر دليل دي اوکه ووينې چي چا ورته درامبيل ګلدسته ورکړي ده دليل دي چي په دوي کي به بحث پيدا کيږي اوکه درامبيل ګل په درخته کي ووينې دليل دي چي خوشحاله به سي يا به ده ته لږ څه ملاويږي.

نشاسته\دغنمو دمغز حلوا

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي دغنمو نشاسته حلال مال دي چي دتجارت په وجه به په تکليف سره حاصل سي اوکه ووينې چي ده نشاسته خوړلي ده دليل دي چي غمجن به سي اوبعض وايي چي ناجوړه به سي اوکه ووينې چي نشاسته يي حلوا کړي ده اوخوړلي يي ده دليل دي چي مال اونعمت به حاصل کړي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي که څوك په خوب کي ووينې

چي ده دغنمو څخه نشاسته ايستلي ده دليل دي چي پخپله ګټه به څه شي په تکليف اوسختي سره حاصل کړي.

نشستن\کښېنستل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي پر مځکه ناست دي او ارام يې حاصل کړي دي دليل دي چي په سفر کي به دده کار نيک وي اوکه ووينې چي ډير بيده سوي دي نو هم يې دغه تعبير دي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي پر اس يا خره يا غاتري کښېنستل په څلورو وجو وي ۱: بخت ۲: دولت ۳: مرتبه ۴: حکومت اوپه هوا کښېنستل پر پاچاهي دليل دي که هوا دده تابع وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي دمصلح خلکو سره ګرځي او په لاره کي ناست دي دليل دي چي لالچي او ددين مخالف به وي دالله تعالی فرمان دي (فرح المخلفون بمقعدهم، سورة التوبة: ۸۱) وروسته پاته کيدونکي پخپله ناسته باندي خوشحاله دي. اوکه ووينې چي دغه خلک ددين مخالف وو اوهغوي يې پري ايښي دي اوناست دي نو ددې تعبير داول څخه خلاف دي اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي دمصلح او پرهيزګارو خلکو سره ناست دي دليل دي چي په خير اوصلاح کي به يې زياتوالي کيږي اوکه دبدکاره خلکو سره ناست وي نو د دې تعبير خلاف دي.

نعل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي نعل مال دي که هر رنګه ورته رسيږي که ووينې چي دده سره دغاتري نعل دي نودپاچا څخه به ورته نفع حاصله سي اوکه نعل دخره وي نو دبزرګانو څخه به مال حاصل کړي اوکه ووينې چي حيوانانو ته نعلونه لګوي دليل دي چي په سفر به ځي اونعل بند هغه سړي وي چي په خلکو کي ددوستي تلاش کوي.

نعلين\چپلکي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي دده دپيزارو تسمي شليدلي دي دليل دي چي تر ډير وخت پوري به په سفر کي وي اوکه ووينې چي دده په چپلکو کي سوري دي دليل دي چي په څه وجي به دسفر څخه پاته سي اوغم به ورته رسيږي اوکه ووينې چي دده چپلکي شني وي دليل دي چي دده سفر به د اخرت لپاره وي اوکه ووينې چي دده سره چپلکي نسته اوددي وجي څخه دسفر څخه پاته سوي دي دليل دي چي خادمه به حاصله کړي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي دده سره چپلکي توري دي دليل دي چي دده ښځه به مالداره وي اوکه سري وي نو دده ښځه به عياشه اوخوش پسنده وي اوکه سپيني وي نو دده ښځه به پرهيزګاره او ښايسته وي اوکه ووينې چي دده په چپلکو کي ذکر سوي ټول رنګونه دي نو دده په ښځه کي به داټول صفتونه وي اوکه ووينې چي دده دچپلکو بندونه دغوا دپوست دي دليل دي چي دده ښځه به داصله عجمی وي اوکه د اوښ دپوست يې ووينې دليل دي چي دده دښځی اصل به عربي وي اوکه ووينې چي دتللو په وخت کي دده چپلکي ورکي سوي دي نو دسفر څخه به پاته سي، که

Maktaba Tul Ishaat.com

دده دچپلکو بند د اوښ دپوست وي نو دده ښځه به ناجوړه سي او اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دده چپلکي څيري سوي دي نو دغه تعبير يې دي او جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې چپلکي ليدل په درو وجو وي ۱: سفر ۲: ښځه ۳: مينځه.

نعناع \ پودينه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې پودينه پرغم اوفکر دليل لري که څوك په خوب کې ووينې چې دده په مځکه کې پودينه ده دليل دي چې په غم اوفکر کې به ګرفتارسي اوکه ووينې چې ده پودينه خوړلي ده دليل دي چې دده غم به زيات سي اوکه ووينې چې دبل چا په مځکه کې يې پودينه ده دليل دي چې مځکې والا ته به غم اوفکر وي اوکه ووينې چې دخپلې مځکې څخه يې پودينه ايستلي ده او غورزولي يې ده دليل دي چې دغم اوفکر څخه به خلاص سي.

نفت \ د خاورو تيل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې نفت ناکاره ښځه ده که ووينې چې په ځان پوري دخاورو تيل مړي دليل دي چې دناکاره ښځې سره به ملاقات کوي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دي چې خوب ليدونکي به حرام شي خوري اوکه ووينې چې دده سره ډير زيات دخاورو تيل دي دليل دي چې حرام مال به جمع کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې دخاورو تيل ليدل په درو وجو دي. ۱: ناکاره ښځه ۲: چغل خور ۳: حرام مال.

نفرين \ نفرت کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوك په خوب کې ووينې چې دظالم څخه نفرت کوي دليل دي چې پر دغه ظالم به کاميابي حاصلوي اوکه ووينې چې دي ظالم دي اومظلوم دده څخه نفرت کوي نو د دې تعبير د اولنې خلاف دي. ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې ناحقه دبې ګناه څخه په نفرت کې دليل دي چې پر چا به ظلم کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ديو سړی څخه په ناحقه نفرت کوي دليل دي چې دده کار به بندسي اوبعض وايي چې په خوب کې په ناحقه نفرت کول دخوب ليدونکي طرفته رجوع کوي اوکه په حقه نفرت کوي نو د دې تعبير به پرهغه سړي واقع کيږي دچا څخه چې يې نفرت کړي وي او دمفسد په نسبت پر مصلح سړي ژر اثر کوي اوکه مفسد سړی په حقه يا په ناحقه نفرت کوي نو مخالف به رجوع کوي.

نقاد \ کوټه معلومونکی \ نقد کوونکی \ کره کتونکی

نقاد په خوب کې عالم هوښيار اوحکيم دي ځکه چې هر ښه شي خوښونکي دي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ديندار اوصالح سړي نقاد سوي دي دليل دي چې دځان څخه به قرانکريم او ددين علوم حاصل کړي اوکه ددنيا طلب کوونکي دي دليل دي چې دځان لپاره به شرف اوبزرګي حاصله کړي او ددنيا مال به خوښوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې نقاد عقلمند سړی دي چې په نيك بد مصلح اومفسد کښې فرق کوي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې نقاد په څلورو وجو دي. ۱: هوښيار سړی ۲: حکيم ۳: عقلمند ۴: کار

معلومونکي.

نقره \ سپين زر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي سپين زر پر ازادو ښځو دليل لري که څوك ووينې چي ده دخپل کار لپاره سپين زر اخستي دي دليل دي چي په دغه ځاي کي به دښځي سره واده کوي ځکه چي سپين زر دښځو ذات دي اوکه ووينې چي دسپينو زرو دوکان ته تللی دي اوسپين زريې ځني را ايستلي دي دليل دي چي هغونه به مال حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي دده سره سپين زر دي نو پر زوی دليل دي.

نقصان \ تاوان

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي دده په بدن کي نقصان سوی دي دليل دي چي هغونه به يې دمال نقصان وسي ليکن د ښځو دبدن په نقصان کي صلاح ده ځنګه چي په حرف ز کي د ښځو په حقله بيان سوي دي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي دده په مال يا په څه شي کي نقصان سوي دي دليل دي چي فکر مندبه سي او ده ته به نقصان رسيږي.

نګارګري \ نقش کول \ نقاشي \ رسامي \ مصوري

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوك په خوب کي ووينې چي پر چت او دکور پر ديوالونو نقاشي کوي دليل دي چي دنيادار به سي او ددنيا پر کارونو مين دی. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي نقاشي اومصوري کول باطل او ناحق کار دي دالله تعالی فرمان دي (ما هذا التماثيل التي انتم لها عاكفون، سورة الانبياء: ۵۲) داڅه تصويرونه دي چي تاسو ورته منجاوري کوي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي نقش کول پر دنيا مين کيدل دي او سمه لاره پريښول اوپر باطله لاره تلل دي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي پخپلو لاسونو دساهي رنګ اونقش جوړوي دليل دي چي ددنيا په ګټلو کي به مکر اودهوکه کوی. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي نقش کول په څلورو وجودي. ۱: ددنيا ښايست ۲: بې فايدي کار ۳: مکر او دهوکه ۴: فريب او درواغ.

نګين \ انګشتری \ ګوتمی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي دګوتمی غمی شرف بزرګی اومال دي اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دي چي زوی دي اوکه ووينې چي دده دګوتمی غمي ورك سوي دي دليل دي چي دده په بزرګي اومرتبې کي به نقصان راسي يا به يې زوی مړ کيږي اوکه ووينې چي دده دګوتمی غمي مات سوي دي نوهم دا تعبير يې دي اوکه ووينې چي دده پر ګوتمی ناګهانه غمي ښکاره سوي دي دليل دي چي دغمي دقدر و قيمت مطابق به نعمت حاصل کړي. جعفر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي دپاچاهانو لپاره غمي دولايت تاج دی او دښځو لپاره خاوند دي او دعامو خلکو لپاره مرتبه اونيکي ده. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي ګوتمي ليدل په اتو وجو ده. ۱: ښځه ۲: مال ۳: ولايت ۴: ژوند ۵: زوی ۶: بزرګي ۷: مال اونعمت ۸:

Maktaba Tul Ishaat.com

عمل.

نماز \ لمونځ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که څوك په خوب کي ووينې چې لمونځ دمشرق طرفته کوي دليل دي چې حج ته به ځي اوکه دحج وخت نه وي نوددې مينه به دعيسايانو سره وي اوکه ووينې چې دمغرب طرفته لمونځ کوي او ددې ميلان دقبلي طرفته وي دليل دي چې ددين په لاره کي به حيران سي اوکه ووينې چې لمونځ دقبلي طرفته کوي دليل دي چې ددين په لاره کي به مستقيم سي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې ديو قوم امامتي کوي دليل دي چې څونه مقتديان وي هغونه به پر يو ټولګي سرداري کوي اوکه ووينې چې دلمونځ وخت تير سوي دي او ده څه پاك ځاي نه دي پيدا کړي چې لمونځ پکي وکړي دليل دي چې دده کار به په مشکله پوره سي اوکه ووينې چې لمونځ يې مات کړي او ادا يې نه کړي يايې بې اودسه وکړي دليل دي چې په څه مطلب کي وي هغه به پوره نسي اوکه ووينې چې ده په جمات يا مدرسه کي امامتي کړي ده دليل دي چې ددغه ملك پاچا به دده تابعداروي اوکه د دې خلاف ووينې نو تعبير يې هم خلاف دي اوکه ووينې چې په لمونځ کي يې رکوع اوسجده په ښه رقم سره ادا کړي ده دليل دي چې دده ددين اوددنيا کار به نيك وي. جابر مغربی رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چې دماپښين لمونځ يې په وخت ادا کړي دي او اسمان روښانه اوپاك دي دليل دي چې دالله تعالى دطرف څخه به دده مرتبې لوړې سي اوکه په اسمان کي تاريکه او وريځ وي نو پر غم اوفکر دليل دي اوکه ووينې چې ده لمونځ کړي دي دليل دي چې دده اميد به پوره سي اوکه ووينې چې ده دماښام فرض کړي دي دليل دي چې دخپل اهل وعيال سره به معامله کوي اودهغوي څخه به خوشحاله سي اوکه ووينې چې دسهار لمونځ يې ادا کړي دي دليل دي چې په سفر به ځی اوکه دا خوب ښځه ووينی نوهغې ته به حيض راسی اوکه بې اودسه لمونځ وکړي دليل دي چې ناجوړه به سي اوکه دماخستن فرض وکړي دليل دي چې په امن کي به سي او په دښمن به کاميابه سي اوکه ووينې چې په باغ کي يې لمونځ کړي دي دليل دي چې دګناه څخه به توبه کوي اوکه ووينې چې په کشتي کي يې لمونځ کړي دي دليل دي چې دقرض څخه به خلاص سي اوکه ووينې چې دلمونځ په ځاي کي نه وو اولمونځ يې کړي دي دليل دي چې مفسد اوبدکرداره به وي اوکه ووينې چې لمونځ يې وکړي ځنګل ته ولاړي دليل دي چې دنبی صلى الله عليه وسلم د قبر مبارك زيارت به کوي او که ووينې چې په کعبه کي يې لمونځ کړي دي دليل دي چې دده کار به دخليفه دطرفه په انتظام سره سي اوکه ووينې چې دلمونځ څخه وروسته يې سجده کړيده دليل دي چې پر لوی اودولتمند سړی به کاميابه سي اوپر هغه به قابض سي. اوکه ووينې چې ده دالله تعالى څخه ماسوا بل چاته سجده نه ده کړي دليل دي چې مراد به يې پوره سي اوکه ووينې چې ده پر ديوال سجده کړيده دليل دي چې ده ته به دبزرګانو تکليف اوخواري رسيږي اوکه ووينې چې لمونځ يې کړيدي اوګبين يې وچيښل دليل دي چې دخپل عيال سره به نزدي والي کوي اوکه ووينې چې په لمونځ کي په التحيات ناست دي دليل دي چې دغم څخه به خلاص سي اومراد به

يې پوره سي اوکه ووينې چې ده دلمونځ اولني سلام چپه طرفته ګرځولې دي دليل دي چې دده احوال به بد سي اوکه ووينې چې په ناستي يې لمونځ کړي دي دليل دي چې په دښمن به کاميابي حاصله کړي اوبعض وايي چې دده عذر به قبول کړي اوکه ووينې چې په لمونځ کې يې دغان لپاره دعا کړيده دليل دي چې دده به زوی کيږي دالله تعالی فرمان دي (اذ نادي ربه نداء خفيا، سورة مريم: ۳) کله چې ده خپل رب ته په پټه اواز وکړي. اوکه ووينې چې ده په تاريکه کې لمونځ کړي دي دليل دي چې دغمونو څخه به خوشحالي حاصله کړي اوکه ووينې چې ده دشپې لمونځ کړي دي دليل دی چې دهر قسم بيري څخه به په امن کې سي او نعمت اوبزرګي به حاصله کړي اوکه ووينې چې ده پر اړخ لمونځ کړي دي دليل دي چې ناجوړه به سي اوکه ووينې چې ده دجمعې لمونځ کړي دي دليل دي چې په سفربه ځي اوحلال رزق به حاصل کړي اوکه ووينې چې ده په بيت المقدس کې لمونځ کړي دي دليل دي چې کعبې ته به ځي اوانجام به يې ښه وي. حافظ معبر رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې لمونځ کول په درو وجو وي. ۱: فرض ۲: سنت ۳: نفل که ووينې چې فرض لمونځ کوي دليل دي چې الله تعالی به دده په قسمت کې حج وکړي او دبدکاري څخه به يې بچ کړي دالله تعالی فرمان دي (ان الصلوة تنهى عن الفحشاء والمنكر، سورة العنكبوت: ٤٥) ترجمه بيشکه لمونځ دبی حيايي اوګناه څخه بچ کوي. اوکه ووينې چې سنت لمونځ يې کړي دي دليل دي چې په کارونو کې به صبر کوي او نيك نامي به يې روښانه سي اوپر مخلوق به شفقت کوي اوکه ووينې چې نفل لمونځ يې کړي دي دليل دي چې دعيال قدربه کوي او ددوستانو په کار کې به کوشش کوي اودهرچا سره به ښه سلوك کوي اوکه ووينې چې نفل لمونځ يې کړي دي دليل دي چې دعيال قدر به کوي او ددوستانو په کار کې به کوشش کوي او دهرچا سره به ښه سلوك کوي اوکه ووينې چې په څاروي يې لمونځ کړي دي دليل دي چې ډير فکرونه به ورته وي اوکه ووينې چې په کارخانه يا دکان کې يې لمونځ کړي دي دليل دي چې الله تعالی به دده په کسب اوکار کې برکت واچوي اوکه ووينې چې ده دجمعې لمونځ کړيدي دليل دي چې دده کار به په تسلي اوجمعيت سره وي. خالد اصفهاني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې الله تعالی ته رکوع اوسجده کول الله تعالی ته نزدي والي دي دالله تعالی فرمان دي (كلا لا تطعه واسجد واقترب، سورة العلق: ۱۹) ترجمه: د هغه هيڅکله اطاعت مه کوه سجده کوه اونزدي سه. بعض اهل تعبير بيان کړي دي که ووينې چې په لمونځ کې يې رکوع نه ده کړي دليل دي چې دمال زکوة نه ور کوي اوکه ووينې چې لمونځ يې کړيدي دليل دي چې الله تعالی به دده عبادت قبول کړي اوده دعا به منظوره سي اوالله تعالی به پر ده درحمت نظر وکړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې لمونځ کول په اوو وجو وي ۱: امن ۲: ښادي ۳: عزت ۴: مرتبه ۵: خلاصون ۲: مراد حاصلول ۷: په قضا کې نقصان. او په خوب کې رکوع اوسجده په پنځو وجووي ۱: مراد حاصلول ۲: دولت ۳: مدد ۴: کاميابي ۵: امر حق پر ځاي

Maktaba Tul Ishaat.com

راوړل دالله تعالى فرمان دي (يا ايها الذين امنوا اركعوا واسجدوا واعبدوا ربكم وافعلوا الخير لعلكم تفلحون، سورة الحج: ۷۷) اي ايمان والاو ركوع كوي او سجده كوي او دخپل رب عبادت كوي اونيک كار كوي د دې لپاره چي تاسو خلاصون حاصل كړي. اوكه ووينې چي ده دمړي جنازه كړي ده دليل دي چي دهغه لپاره به دعا اوثنا كوي اوكه ووينې چي ده پوره لمونځ نه دي كړي نو د دې تعبير د اولني خلاف دي.

نمد \ لمسي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي دده سره سپين اوپاك لمسي دي دليل دي چي حلال مال به حاصل كړي اوكه خيرن وي نوهيڅ نفع يې نسته اوكه ووينې چي دده سره ډير لمسي دي نو د خپل كسب څخه به ملال حاصل كړي اوكه ووينې چي سوزل سوي دي نوپه فساد كي به خپل مال ورك كړي. ابراهيم كرمانى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي دده په بدن سپين لمسي دي دليل دي چي مالداره ښځه به كوي يا به پيغله مينځه اخلي اوكه ووينې چي دده سره داوښ دپشم لمسي دي دليل دي چي دپاچا څخه به نفع حاصله كړي. جابر مغربى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي دده لمسي ورك سوي دي دليل دي چي دده دمال نقصان به وسي او په خوب كي دلمسي ګنډلو والا داسي سړى دي چي دحلال طرفته مايل وي او دحرامو څخه پرهيز كوي.

نمک \ مالګه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب كي مالګه نقد درهم اونيک كار دي كه څوك ووينې چي دده سره سپينه مالګه ده دليل دي چي دهغه په اندازه به نقدي روپي حاصلي كړي ابراهيم كرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي ده مالګه خوړلي ده دليل دي چي دپرهيزګاري لاره به اختيار كړي اوخيرنه اوتوره مالګه پر جنګ دليل دي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب كي مالګه په پنځو وجو ده. ۱: نقدي روپي ۲: نيكي ۳: عزت ۴: ډير مال ۵: نيک خادم اوپه خوب كي خرابه مالګه په څلورو وجو ده ۱: كوټه درهم ۲: ناخوښي خبري ۳: غم او فكر ۴: خوشحالي.

نمک سود \ مالګين

نمك سود يعني مالګه پكښې ملاو سوي سي، ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي ده مالګينه څربه غوښه خوړلي ده نو پر نعمت او رزق دليل دي اوميراث به حاصل كړي اوكه مالګينه كمزوري غوښه يې خوړلي وي نو ده ته به نقصان رسيږي اوغوښه چي څونه كمزوري وي هغونه به نقصان زيات وي اوسري كړي غوښه پر غيبت دليل دي. جابر مغربى رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي كه ووينې چي سري كړي كمزوري غوښه يې خوړلي وي دليل دي چي ده ته به دپاچا دخلكو څخه نقصان رسيږي اوكه مانده اوبې غوښه يې خوړلي وي دليل دي چي دلوي سړى څخه به ورته نقصان حاصل سي اوكه مالګينه غوښه دكمزوري ځنګلي ځناور وي دليل دي چي دځنګلي خلكو څخه به نقصان حاصل كړي غرض داچي په كمزوري غوښه كي نفع نسته.

نهنگ \ مگرمچ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي مگر مچ غل ظالم اوجنګيالي سړی دي که څوك په خوب کي ووينې چې مگر مچ دي په اوبو کي ډوب کړی دي دليل دي چې په اوبو کي به هلاک سي اوکه ووينې چې دي مگرمچ خوړلي دي دليل دي چې ده ته به ددښمن څخه زحمت اوتکليف حاصل سي. ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې مگرمچ دي اوبو ته بيولي دي دليل دي چې ماهي به دي هلاک کړي اوکه ووينې چې مگرمچ پر ده غالبه سوي دي نو د دې تعبير د اول څخه خلاف دي اوکه ووينې چې دده سره مگر مچ غوښه يا پوست يا هډوکي دي دليل دي چې دي به ددښمن څخه نقصان حاصل سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې مگر مچ دي اوبو ته وړي دي دليل دي چې ددښمن دلاسه څخه به شهيد سي.

نوديدين \ نوی شی ليدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې کوم شي نوي اودخلکو خوښ وي هغه پر خير اوخوشحالي دليل دي او دزوړ شي ذکر په حرف ك کي سوي دي.

نوحه کردن \ ژړل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ژاړي دليل دي چې دغه ځاي به دده لپاره مبارك نه وي او ددغه ځاي لوی خلک به ديوبل سره بې اتفاقه وي اوکه ووينې چې دښار حاکم مړ دي او خلک ژاړي دليل دي چې هغوي ته به ددغه حاکم څخه تکليف او ظلم رسيږي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دي چې حاکم ته به خوشحاله وي. اوکه ووينې چې خلک ژاړي دليل دي چې دهغوي سره به دظالم څخه بې انصافي او ظلم کيږي او دهغه څخه به غمجن او عاجز سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ژاړي اوشور کوي دليل دي چې ده ته به غم فکر اونقصان رسيږي اوکه ووينې چې ژاړي او په کراره کراره نوحه کوي نو پر خوشحالي اوښادي دليل دي اوکه ووينې چې د ښځو سره ډير سړي دي او په پورته اواز سره ژاړي دليل دي چې په دغه ځاي کي به دپاچا په وجه غم او فکر وي.

نوشادر (يو ډول دوا)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي نوشادر غم او فکر دي که څوك په خوب کي ووينې چې دده سره نوشادر دي دليل دي چې غمجن به سي اوکه ووينې چې ده نوشادر خوړلي دي نو پر زيات او سخت غم دليل دي.

نيرومند \ طاقتور \ ځواکمن

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دويښتيا په نسبت زيات طاقتور سوي دي نو په دنيا او اخرت کي دده د احوالو په ښه کيدو دليل دي چې شرط د دې دا چې خوب ليدونکي نيک کاره وي اوکه فسادي وي نو د دې تعبير خلاف دي.

نيزه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوك په خوب کي ووينې چې دده سره نيزه اونوره وسله هم ده

Maktaba Tul Ishaat.com

دليل دي چي بزرګي اومراد به يي پوره سي اوددہ حکم به په وطنونو کي جاري سي اوکه صرف نيزه ووينې دليل دي چي دده زوی يا ورور به مري اوکه ووينې چي دده نيزه چا وړي ده دليل دي چي دده کار به په مشکل کيږي اوکه ووينې چي چا دي په نيزه زخمي کړي دي دليل دي چي دخلکو غيبت به کوي او په خوب کي نيزه پر قوت او پر خلکو دکاميابي دليل دي اوکه ووينې چي دده په لاس کي دنيزې سر دي دليل دي چي دده صحبت به دنيکو کار مسافر سره وي اود هغه څخه به خير اونفع حاصله کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي نيزه په اتو وجو ده. ۱: قوت ۲: سفر ۳: ولايت ۴: ښځه ۵: زوی ۶: امن ۷: توانايي ۸: دنيزې په قدر درستي اوپه خوب کي نيزه جوړونکي داسي سړي دي چي دخلکو مدد کوي اودهغه څخه هر چا ته قوت او طاقت حاصليږي.

نبشتن \ ليکل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوك په خوب کي وينې چي ليکل کوي يا چا ته ليکل زده کوي دليل دي چي علم اوعقل به زده کړي اوکه ووينې چي څه ليکي نو دهغه پر شر اوفساد دليل دي اوکه ووينې چي قران حديث توحيد اودعا ليکي نو پر خير اوصلاح دليل دي او شعر ياغزل پر بدي دليل دي.

نيشکر \ ګنی

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي ګني خوري دليل دي چي په يو کار کي به مشغول سي او دګني دخوړلو په اندازه به په هغه کي جنګ اوبحث وي اوکه ووينې چي ده ګني چا ته ورکړي دي دليل دي چي دبحث څخه به خلاص سي.

نيکو کردن \ نيکي کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کی نيکي کول په دين کي هغونه قوت او بزرګي ده او داخرت دعذاب څخه خلاصون دي خاصکر که خوب ليدونکی پرهيزګار او ايماندار وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي دده سره چا نيکي کړي ده اوده هغه ذليله کړي دي دليل دي چي په ټولو کارونو کي به ناشکره سي دالله تعالی فرمان دي (ولا تنسوا الفضل بينكم ان الله بما تعملون بصير، سورة البقرة: ۲۳۷) ترجمه پخپلو کي احسان مه هيروي بيشکه الله پاك ستاسو دعملونو ښه ليدونکي دي. اوکه ووينې چي دمشرکانو سره يي نيکي کړي ده دليل دي چي خپل مال به په داسي خلکو خرڅ کوي چي هغوي ته د دوارو جهانونو خير وي.

نيل (دکالورنګ)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي نيل ليدل غم اوفکر دي اوکه څوك په خوب کي ووينې چي دده سره نيل دي دليل دي چي دهغه په اندازه به ورته غم اوفکر وي اوکه ووينې چي ده چا ته نيل ور کړي دي يا دهغه څخه ورك سوي دي دليل دي چي دغم اوفکر څخه به خلاص سی اوکه ووينې چي ده خپل کالي په نيل رنګ کړي دي دليل دي چي ده ته به غم اوفکر

رسيږی اوده ته به دخپلوانو او دوستانو په وجه تکليف رسيږي اوکه ووينې چې ده نيل خوړلي دي دليل دي چې ده ته به په درياب کې افت رسيږي.

نيلوفر (يو ډول ګل)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوك په خوب کې نيلوفر په خپل موسم کې په بوټي کې ووينې دليل دي چې ده ته به دچا څخه څه ملاو سي يابه دده صالح زوی پيداسي اوکه ګل دبوټي څخه جلا ووينې نو پر غم او فکر دليل دي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ښځه ووينې چې دي دنيلوفر دبوټي څخه نيلوفر وشکوي اوغلام ته يې ورکړي دليل دي چې د دې غلام به تښتي اوکه ووينې چې دې ته خپل دوست دنيلوفر ګلدسته ورکړي ده دليل دي چې ددوي ترمينځ به جدايي راسي. دانيال عليہ السلام ويلي دي چې په خوب کې دنيلوفر بوټي مينځه ده چې دهغه څخه به ليدونکي ته نقصان رسيږي.

[و]

واشه \ بانبه مرغه

بانبه يو ښکاري مرغه دي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که بانبه خپل مطيع اوتابعدار ووينې چې دلاسه الوځي اوپه اواز راځي اوهغه يې دغه رقم اموخته کړي دي نو پر حلال مال او دخوب ليدونکي پر مرتبی دليل دي اوکه ووينې چې بانبه سپينه او پاکيزه ده او دده پر لاس ناسته ده او دده تابعداره ده دليل دي چې دلوي سړی څخه به قدر مرتبه اوعزت حاصل کړي اوکه ووينې چې بانبه الوتلي ده اوتار دده په لاس کې پاته سوي دي دليل دي چې قدر اومرتبه به يې ختمه سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې بانبه په خوب کې دپاچاهانو لپاره ملك او بزرګي ده او دمالدارو لپاره مال دي او دفقيرانو لپاره زوي دي اوکه ووينې چې بانبه دده دلاسه ايله اومړه سوي ده که خوب ليدونکي پاچا وي نو دملك څخه به جدا سي اوکه امير يا سردار وي نو دمرتبې او عزت څخه به ايله سي اوکه مالدار وي نوفقير به سي اوکه فقير وي نو دهغه زوی به مري اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دي چې بانبه بې شرمه سړی دي اوکه ووينې چې ده دبانبې غوښه خوړلي ده دليل دي چې هغونه به ددښمن مال خوري اوکه ووينې چې په يو ځاي کې ډيرې بانبې جمع سوي دي دليل دي چې بدمعاش خلک به دلته جمع سي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې بانبه ليدل په څلورو وجو وي. ۱: قدر اومرتبه ۲: حکومت ۳: مال ۴: نفع.

والي \ حاکم

که ووينې چې حاکم دتخت څخه معزوله سوي دي يا دهغه تخت مات سوي دي يا چا دهغه څخه توره اخيستي ده يا دهغه کور خراب سوي دي يا په جال کې ګرفتار سوي دي او وژل سوي دي يا څاروي دهغه پر سر ختلي دي اوايله دي يا چا غورزولي دي نو داټول پردي خبري دليل دي چې هغه به دشرف اوبزرګي څخه معزوله سي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که حاکم ووينې چې

Maktaba Tul Ishaat.com

دده لنګوټه دچا دلنګوټي سره يو ځاي سويده دليل دي چې دهغه سرداري عزت اوښه عادت به قوي وي اوکه ووينې چې په پښه کې يې پړې دي دليل دي چې دخوب ليدونکي شرف اوبزرګي به زياته سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې حاکم سوي دي اوپخپل عمل کې منصف اودیندار دي او خلک ځني خوشحاله دي دليل دي چې خير اوصلاح به حاصله کړي او که د دې خلاف ووينې نو پر شر اوفساد دليل دي خاصکر که خوب ليدونکي مفسد اوبدکاره وي.

وحوش \ ځنګلي ځناوران

وحوش ځنګلي ځناوران په دي کې چې کوم نر دي هغه پر سړو دليل لري اوکوم چې ښځه وي هغه پر ښځو دليل دي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دځنګلي ځناورو ښکار کوي يا چا ورته وحشي ښکار ورکړي دي نو پرمال نعمت اوغنيمت دليل دي اوددي دغوښې اودپوست هم داتعبير دي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ځنګلي ځناوران دده مطيع او تابعدار دي لکه څنګه چې د سليمان عليہ السلام وو دليل دي چې يو ټولګي چې دهغوي په اسلام کې به خلل وي دده تابعدار به سي خاصکر که خوب ليدونکي پرهيزګار وي.

ورنج

ددي بيان په حرف س کې سوي دي هلته يې وګوري.

وردنه \ چچ

چچ او دروټو شکور دواړه په خوب کې شريك اوديوبل متفق دي که ووينې چې چا ورته چچ ورکړي دي دليل دي چې ده ته به شريك حاصل سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دده سره چچ دي دليل دي چې دچا سره ملګرتيا کوي اوهغه ته به سمه لاره ښيي او دباطل څخه به يې ليري کوي اوکه ووينې چې دده چچ مات سوي دي دليل دي چې دداسي سړي دملګرتيا څخه به جداسي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې چچ ليدل په درو وجو وي. ۱: په کارونو کې اتفاق کوونکي ۲: دژوند شريك ۳: مشکل کار به پر ده اسان وي.

ورده \ برده فروشي \ د غلامانو تجارت کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوك په خوب کې ووينې چې ددښمن په قبضه کې غلام سوي دي دليل دي چې دښمن به پر ده غالب سي اودي به مغلوب سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې برده فروشي کوي لکه دغلام اودمينځي دليل دي چې ده ته به خير اونفع رسيږي اوکه ووينې چې دکافرانو څخه يې غلامې اخيستي ده نو ددې تعبير بد دي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که غلام يې اخيستي وي نو د دې تعبير بد دي اوکه خرچ کړي يې وي نو نيک دي اوکه خرچ کړي يې وي اوبيا يې اخيستي وي نو دليل دي چې پر دښمن به کاميابه سي اوکه ووينې چې دده غلام تښيدلي دي نو پر نيکي دليل دي اوکه مينځه تښيدلي وي نو پربدي دليل دي اوددە دمال نقصان به وسي او په خوب کې پرده فروش داسي سړی دي چې دخلکو اختيار پخپل لاس کې اخلي.

ورسان\کوتره

ورسان يو مرغه دي چې په خراسان کي ورته کوتره وايي دا په خوب کي ليدل ښځه اومينځه ليدل دي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوك په خوب کي ووينې چې ده ورسان کوتره نيولی ده يا چا ورته ورکړي ده دليل دي چې ښځه به کوي اوکه ووينې چې ده ورسان کوتره اخيستي ده او دده دلاسه الوتلي ده دليل دي چې ښځي ته به طلاق ورکوي يا به مينځه خرڅوي. ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ده ورسان کوتره اخيستي ده او دهغه غوښه يې خوړلي ده دليل دي چې دهغه په اندازه به دښځي مال په ظلم سره خوري اوکه ووينې چې دده سره ډيري ورسان کوتري دي دليل دي چې ډيري مينځي به اخلي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي ورسان کوتره ليدل په درو وجو ده. ۱: نفع ۲: ژوند ۳: غم اوفکر.

وزغ\شمشتي\چيندخ\چونګښه\چنګاښ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي وزغ نيك عابد سړی دي اوکه ووينې چې ده چيندخ نيولي دي دليل دي چې دنيك پرهيزګار سړی ملګري به شي اوکه ووينې چې ده دچيندخ سره جنګ کړي دي دليل دي چې دداسي سړی سره به جنګ کوي اوکه ووينې چې په يو ځاي کي ډير چيندخان جمع سوي دي اوشور کوي نو پر دغه ځاي به دالله تعالی عذاب راځي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې چيندخ يې مړ کړي دي او دهغه غوښه يې خوړلي ده دليل دي چې پرهيزګاره سړی په مغلوب کړي او دهغه مال به اخلي اوخرڅ به يې کړي اوکه ووينې چې دي چيندخ خوړلي دي دليل دي چې پرهيزګار سړی ته به تکليف رسوي اوکه ووينې چې ده چيندخ نيولي دي او داوبو څخه دباندي په وچه کي غورزولي دي دليل دي چې پرهيزګار سړي به دکار څخه منع کوي اوهغه ته به نقصان رسوي.

وزير

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دپاچا دوزير کار نيک دي دليل دي چې ددغه وزير کار به نيك سي اودهغه دولت به زيات سي اوکه د دې خلاف ووينې نو تعبير يې بد دي اوکه څوك ووينې چې دي وزير سوي دي او دي منصف اوديندار وي دليل دي چې دعدل اودکار مطابق به بزرګي حاصله کړي اوکه ووينې چې وزير دسترخوان غوړولي دي دليل دي چې مرتبه نعمت اورزق به پر ده فراخه سي اوعمر به يې زيات وي اوکه ووينې چې وزير دده کورته راغلي دي دليل دي چې ده ته به دپاچا په وجه غم اوفکر رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ده دوزير سره ډوډي خوړلی ده دليل دي چې دهغه څخه به شرف اوبزرګي حاصله کړي اوکه ووينې چې دوزير کور نړيدلي دي يا وزير ناجوړه سوي دي يا پاچا معزول کړي دي يا اس را غورزولي دي يا غوايي په ښکر وهلي دي نو داټول دهغه پر معزول کيدو دليل دي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي وزارت ليدل په څلورو وجو وي. ۱: که ووينې چې دلمر يا سپوږمي سترګه سوي ده ۲: که ووينې چې دجله يا فرات سوي دي ۳: که ووينې چې پاچا په ملا کمربند ترلي دي ۴: که دنبی عليه السلام په څلورو سره يارانو کي يو دده په سرتاج ايښي دي نو دا

Maktaba Tul Ishaat.com

ټول دوزارت حاصلولو دليلونه دي.

وسمه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي وسمه غم اوفکر دي اوکه ووينې چې دده په مځکه کي ډيره وسمه ده نو پر غم اوفکر دليل دي اوکه ووينې چې دوسمي بوټي ده دمځکي څخه را ايستلي دي دليل دي چې دغم اوفکر څخه به خلاص سي اوکه ووينې چې ده وسمه خوړلي ده دليل دي چې دعيال په وجه به ده ته غم وی اوکه ووينې چې دوسمي دسته يې ده ته ورکړي ده دليل دي چې دواړو کي به جنګ راځي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ده دوسمي دسته د خپل عيال په لاس کي ورکړي ده دليل دي چې ديوبل څخه به جلا سي اودوسمي په ليدلو کي خير نسته.

وشه \ وريښمين رنګين کالي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کي وشه غم اوفکر دي اوکه ووينې چې دده سره وشه نيونکي دي دليل دي چې دده غم اوفکر به زيات سي اوکه ده چا ته وشه ور کړي وي دليل دي چې دغم اوفکر څخه به خلاص سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ده دوشه سره يو شی نغښتی دي دليل دي چې دده به ګډوډ کار جمع سي اوکه ووينې چې ده وشه ژولي ده دليل دي چې دخلکو به ډير غيبت کوي.

وضويي \ نماز \ د لمانځه لپاره اودس

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ده مخ او لاس په پاکو اوبو پريولي دي دليل دي چې کار به تلاش کوي اوپوره به يې کړي اوکه ووينې چې په خرابو اوبو يې پريولي دي نو د دې تعبير د اولني خلاف دي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ده خپل مخ او لاس پريولي دي دليل دي چې دي به دخپلو دوستانو لپاره مدد غواړي اودده مراد به حاصل سي.

وکيل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوك په خوب کي ووينې چې دپاچا يا دقاضي وکيل جوړ سوي دي او پخپل کار کي منصف جوړ سوي دي نو دليل دي چې ددنيا خير اوصلاح به حاصله کړي اوکه دوکالت په کار کي نه وي نو د دې تعبير د اول څخه خلاف دي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که وکيل ووينې چې ده پرخپل موکل مهرباني کړي ده دليل دي چې چا ته به پاکيزه خبره کوي اوکه موکل ورين تندي ووينې دليل دي چې ده ته به دهغه څخه نفع حاصله سي اوکه د دې خلاف ووينې نوتعبير يې بد دي.

واري \ د جذام ناجوړي

دجذام ناجوړي په خوب کي ليدل مال دي چې ده ته به حاصليږي خاصکر که پر بدن سپيني پولي ووينې ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې دده پر بدن دجذام ناجوړي ده دليل دي چې ده ته به خراب کار پيښ سي اوبعض وايي چې دي به مشهور کړي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې جذام دفقير لپاره مالداري اونعمت دي او دمالدارو لپاره دګناه څخه بچ کيدل دي

اوکه ووينې چې دده ټولې ګوتې پرې سوې دي دليل دي چې نيك کار به کوي اوممکنه ده چې دده زوی يا ورور به ددنيا څخه ځي.

ويراني\کنډر

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې دکور اودکان وغيره کنډر ددين پرګمراهي دليل دي اوکه ووينې چې ده کنډر اباد کړي دي نو د دې تعبير ښه دي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې اباد ځای خراب سوي دي دليل دي چې دهغه ځای خلک به په بلا اومصيبت کې ګرفتار سي اوکه ووينې چې کنډر يې اباد کړي دي نو دخوب ليدونکي دکار پرسموالي دليل دي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې که ويراني دالله تعالی دطرف څخه وي دليل دي چې خوب ليدونکي ته به نفع وي اوکه ويراني دمخلوق دوجي څخه وي نو د دې تعبير خلاف دي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ده جماعت او مدرسه ورانه کړي ده نو دا دده دکار پرنقصان دليل دي.

[هـ]

هاون دسته\لنګړي

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې لنګړي دوه شريکان دي چې ديوه بل ته ضرورت وي اوکه دواړه متفق سي نو کار به يې نيك اوفايده مند سي که په دوي کې يو نه وي نو فايده به نه وي اوکه ووينې چې په لنګړي کې دخوراك څه شي دي دليل دي چې خوب ليدونکي ته به دهغه دقدر وقيمت مطابق په تکليف اومشقت سره نفع حاصله سي اوکه هغه شي ددستونو دبندولو دارو وي نو دمال پر زياتوالي دليل دي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که په لنګړي کې څه خوړ شي وټکوي نو دليل دي چې په تکليف اوسختي سره به فايده پورته کړي اوکه يخ وي نو پر غم اوفکر دليل دي اوکه جواهرات په لنګړي کې وټکوي دليل دي چې هغونه به نفع وينې او اخر داچې دده مال به ورك سي.

هباء\دهوا ذرې\ذرې

هباء دهوا ذري چې په لمر کې وي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې ذري بې فايدې خبره اوپريشانه کار دي چې خير اونفع پکې نسته دالله تعالی فرمان دي (فجعلنه هباء منثورا، سورة الفرقان: ۲۳) ترجمه: اومورِ هغه خوري وري ذري کړې. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که دهوا زري سري ووينې نو دليل دي چې په دغه ملك کې به ناجوړې وي اوکه توري ووينې نو پر مصيبت دليل دي اوکه سپينې وي نو پر بې غمي دليل دي.

هدهد\ملاچرګك

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې په خوب کې ملاچرګك عقلمند اوهوښيار سړی دي چې خلکو ته دپټو خبرو خبر ورکوي اوکه ووينې چې ده ملاچرګك نيولي دي يا چا ورته ورکړي دي دليل

Maktaba Tul Ishaat.com

دي چي د ذکر سوي صفت سړی سره به دده صحبت وي او دهغه څخه به هوښيارتيا حاصله کړي اوکه ووينې چي ده ملاچرګک وژلي دي دليل دي چي پر هوښيار اوبزرګ سړی به کاميابي حاصله کړي اوهغه به مغلوبه کړي اوکه ووينې چي ده دملاچرګك غوښه خوړلي ده دليل دي چي دهغه په اندازه به پخپل عمل سره دخلکو څخه مال حاصل کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي ملاچرګك ليدل په څلورو وجو وي. ۱: ښه خبره به اوري ۲: بزرګي ۳: پر دښمن کاميابي ۴: دالله تعالی دفرمان مطابق به هر يو کار په هوښيارتيا سره کوي.

هديه \ تحفه \ډالۍ

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي ده چا ته تحفه ورکړيده که هغه شي ښه نيك او ددوارو لايق وي نو دوارو ته به نفع وي اوکه هغه شي خراب وي نو دوارو ته به ديو بل څخه نفع وي بلکه پرشر اوفساد دليل دي اوکه ووينې چي چا ده ته شي دتحفي په طور ورکړي دي اوهغه شي ده ته محبوب دي نو پرخير اوصلاح دليل دي اوکه هغه شي ښه نه وي نو پر شر اوفساد دليل دي اوکه ووينې چي ده ته بوډا سړي يا بوډۍ ښځي تحفه ورکړي ده نو خير به حاصل کړي اوکه ځوان سړي يا ځواني ښځي ورته ورکړي وي نو د دې تعبير د اولني خلاف دي.

هريسه (يو ډول خوراک)

هريسه دعربو مشهور غوړ خوراك دي ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوك په خوب کي ووينې چي ده هريسه خوړلي ده دليل دي چي دهغه په اندازه به خير اونفع حاصله کړي اومراد به يې پوره سي اوبعض اهل تعبير بيان کړي دي چي دده به زوی پيدا سي چي دهغه په وجه به دده سترګي روښانه سي حضور عليہ السلام ويلي دي (الهريسة اطعمة الجنة) ترجمه: هريسه دجنت په خوراکونو کي دي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي که هريسه دخربي بيزي دغوښي وي نو پر خير اونفع دليل دي اوکه دغليظي غوښي وي اوبې خونده وي دليل دي چي خوب ليدونکي ته به د هغه په اندازه نقصان رسيږی.

هزار داستان \ د بلبل او مينا په ډول مرغه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي هزارداستان مرغه خوش اوازه اوخوش زبانه زوی دي ليکن هغه به لږ غوندي ضعيف الحاله وي اودعلم اوادب خاوند اوهوښيار به وي اودخلکو په نزد به محبوب هم وي اوکه څوك ووينې چي ده ته هزار داستان مرغه په تحفه کي ورکړه سوي دي نو دليل دي چي دده به د دې صفت زوی پيداسي اوکه ووينې چي ده هزارداستان مرغه په باغ کي نيولي دي دليل دي چي دده به دنيکو اوښو خبرو والا خلکو سره صحبت وي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي هزار داستان بلبل اومينا خوش اوازه ښځه وي اوکه څوك ووينې چي ده هزار داستان اخيستي دي نو دليل دي چي خوش اوازه مينځه به اخلي اوکه ووينې چي هزار داستان دده دلاسه الوتلي دي دليل دي چي ښځي ته به طلاق ورکوي يا به يې مينځه تښتي يا به مړه سي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي هزار داستان مرغه په خوب

کي زوی اوغلام وي او څوك خوش زبانه اوخوش اوازه هم وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي هزار داستان مرغه په خوب کي ليدل په پنځو وجو وي. ۱: ښځه ۲: زوی ۳: قاضي ۴: حکيم ۵: غلام.

هليله\ايريړه\هريړه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي کابلي ايريړه په خوب کي ليدل دغم اوفکر دليل دي اوژړه ايريړه پر ناجوړي دليل دي اوتوره ايريړه پر مصيبت دليل دي اوکه ووينې چي ده په دي قسم ايريړو کي يوقسم خواړه تيار کړي دي نو دليل دي چي غم اوفکر به يې ډير سخت وي اوکه ووينې چي په دي ايريړو کي يې يوه ايريړه دچيني يا شکري يا شهدو سره خوړلي وي نو دليل دي چي دده غم اوفکر به کم سي او دايريړي په ليدلو کي هيڅ نفع نسته.

هُما(يوډول مرغه)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي هما په خوب کي دولت عزت اوبزرګي اومرتبه ده اوکه څوك ووينې چي دده سره هما مرغه دي نو په قدر ددغه مرغه به عزت اودولت حاصل کړي اوکه ووينې چي هما دده دلاسه الوتلي دی نو دليل دي چي دده په عزت مرتبه اوحرمت کي به نقصان راسي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي هما مرغه پاچا وي يا رئيس يا بزرګ وي اوکه څوک ووينې چي ده هما مرغه ووژي او دهغه غوښه يې وخوړه دليل دي چي په بزرګ او رئيس سړي به قهر او غلبه حاصله کړي اودهغه مال به اخلي او وبه يې خوري اوکه ووينې چي دده سره هما مرغه دي دليل دي چي دپاچا يا رئيس يابزرګ څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي هما مرغه يې په غشي يا کانې ويشتلي دي دليل دي چي په داسي خلکو پسي به بدي خبري کوي اوکه ووينې چي هما مرغه دي زخمي کړی يا نوکاري کړي دي دليل دي چي ده ته به دداسي خلکو څخه ضرر اونقصان رسيږي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلی دي چي هما مرغه په خوب کي ليدل په اووه وجو وي. ۱: پاچا ۲: رئيس ۳: عزتمند سړی ۴: دولت ۵: سرداري ۶: حکم پوره کول ۷: عزت او بخت.

هوا

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي هوا صفا اوروښانه ده دليل دي چي ددغه ملک دخلکو تندرستي او ژوند به ښه سي اوهغوي ته به راحت ملاو سي او ددغه ځاي عالمانو او حکيمانو ته به دعزت اودمرتبې ترقي حاصله سي اوکه ووينې چي هوا تياره اوګرد وغبار والا ده نو دليل دي چي ددغه ملك خلکو ته به غم اوفکر ورسيږي اوکه ووينې چي هوا سور رنګي ده دليل دي چي دلته به فتنه راسي اوکه ووينې چي هوا شنه ده دليل دي چي دلته به غلي ميوي سبزياني اوبوتي ډير پيدا سي اوکه ووينې چي هوا سپينه اوپاکه سويده دليل دي چي ددغه ملك خلکو ته به دنعمت فراخي کسب اوژوند ډير حاصل سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي هوا ددوړو څخه پاکه صفا ده اوسخته چليږي دليل دي چي نا اشنا پاچا به دغه ملك ته راځي اوخلکو ته به غم اوتکليف رسوي اوکه ووينې چي په ښار يا په يو ځاي کي ليږ

Maktaba Tul Ishaat.com

هوا صفا اوروښانه سوه نو دليل دي چي ددغه ځاي خلکو ته به نعمت فراخي خير اونفع رسيږي اوکه ووينې چي هوا په مختلفو ډولو وه نودليل دي چي ددغه ملك دخلکو احوال به خراب او پريشانه سي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي هوا ليدل به پنځو وجو وي ۱: بزرګي ۲: نفع ۳: تندرستي ۴: امن ۵: ژوند. داپنځه وجي دروښانه او صفا هوا دي.

هوام (دځمکي حشرات او چينجي)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي کوم چينجي په مځکه لوبيږي دهغه تعبير دهغه په اندازه اوصلاحيت باندي وي ځکه چي په دوی کي کوم دادني درجي وي دهغه تعبير په علم تعبير کي په قوي دښمن باندي وي په نسبت دهغو چينجو چي زهرناك وي. جعفر صادق رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي دمځکي حشرات يا چينجي ليدل څه بيره ده چي هغه دښکنځل مار اوحاسد سړی دطرفه وي.

هيزم (دسوزولو خشاک)

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چي په خوب کي دسوزلو لرګي وچ يا لانده پر جنګ اودښمني دليل دي اوکه ووينې چي هيزم يعني دسوزلو خشاك يې کورته راوړي دي دليل دي چي ده ته به په ښار اوکور کي جنګ پيښيږي اوکه ووينې چي نا اشنا سړی ده ته دسوزلو خشاك ورکړي دي دليل دي چي دده به د نا اشنا سړی سره جنګ کيږي. ابراهيم کرمانی رحمة الله عليه ويلي دي که ووينې چي دي په ځنګل يا صحرا کي دسوزلو خشاك جمع کوي دليل دي چي دا سړی به بدکرداره حاسد او بدزبانه وي اوژر به ګرفتاره سي دالله تعالى فرمان دي (حمالة الحطب فی جيدها حبل من مسد، سورة اللهب: ٤ – ٥) ترجمه: پر سر اخستلي لرګي ګرځيدونکي دي د دې په څټ کي به دمونجو رسي وي. اوکه ووينې چي ددرختو څخه دسوزلو لرګي جمع کوي دليل دي چي ددبدبي والا خلکو او دبزرګانو ترمينځ به ازمايش کوي اوبي اصله خبري به کوي اوکه ووينې چي دغه درختي دکومو څخه چي ازمايش کوي شکوي نو دليل دی چي بي اصله خبري به کوي اوکه ووينې چي دغه درختي دکومو څخه چي يې دسوزلو لرګي جمع کول ميوه داري وي دليل دي چي دي به په ډير همت والا اوبزرګانو خلکو کي وي او د دبدبي مالك به وي غرض داچي دسوزلو خشاك وچ او لانده په خوب کي ښه نه دي.

[ي]

ياره \ بنګړي \ کړۍ

ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي که سړی ووينې چي ده کړي په لاس کړي ده دليل دي چي ده ته به څه تکليف يا زحمت رسيږي اوکه دغه کړي دسپينو زرو وي نو دليل دي چي غم اوفکر به ورته کم وي او دښځو داغوستلو شيان دسړو لپاره ښه نه وي او دغه شيان دسړيو او دښځو لپاره ښه نه وي او دګلوبند او غوږوالي او داسي نور چي دپاچاهانو زينت وي هغه دسړو لپاره ښځه او د

ښځو لپاره خاوند وي په اندازه دهغه څه چي يي ليدلي وي اوشرح اوتفصيل دهر اغوستونکي شي دلفظ مطابق د دې کتاب په اوله حصه کي بيان سوي دي.

ياسمين\رامبيل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي ده ته ملګري درامبيل ګلدسته ورکړي ده دليل دي چي د دوي ترمينځه به خبري پيښيږي او ديو بل څخه به جلا سي اوکه ښځه ووينې چي دي درامبيل ګلونه ددرختي څخه وشکول اوخپل خاوند ته يي ورکړل دليل دي چي خاوند به ورته طلاق ورکړي اوکه څوک ووينې چي درامبيل ګلونه يي خپل غلام ته ورکړل دليل دي چي دده غلام به تښتي اوپه خوب کي درامبيل درخته مالداره بدخويه بد ذاته اوحاسده ښځه وي اوکه رامبيل خوشبوداره وي نو دا ښځه به سخي او احسان کوونکي وي.

يافتن\حاصلول\ترلاسه کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي ده څه شي پيدا کړي دي نو که خوب ليدونکي صالح او پرهيزګار وي نو په ويښه به څه حاصلوي اوکه صالح اودستر اودحيا خاوند نه وي نو دليل دي چي ده ته به څه غم اوفکر رسيږي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي ده دوه شيان پيدا کړي دي او دا دواړه شيان يو شي دي نو پر خير اونفع دليل دي اوداسړی به حج او عمره ادا کوي اوکه ووينې چي ده لس شيان پيدا کړي دي اوهغه لس سره شيان يورقم دي نو پر خير اونفع اوحلاله روزي دليل دي اودنور تعداد اوشمار تعبير هم پر دي قياس دي اوکه شيان يي پيدا کړي وي اوهغه ديو جنس اوقسم څخه نه وي نو د دې تعبير بد دي.

يافتن کانها\دکانونو پيدا کول

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که په خوب کي ووينې چي ده غر مات کړي دي هلته يي دسرو زرو کانونه پيداکړي دي دليل دي چي د خپل قدر مطابق به ولايت اوحکومت حاصلوي اوکه خوب ليدونکي مصلح نيکو کار پرهيزګار او اهل دين و نو الله تعالی به ورته علم اوحکمت نصيب کړي اوکه ووينې چي ده دسپينو زرو کان پيدا کړي دي دليل دي چي دبزرګانو اورئيسانو خلکو څخه به ښځه کوي چي مالداره اوښايسته به وي اوبعض اهل تعبير وايي چي دده به مبارک زوی پيداسي اوکه ووينې چي ده دتانبي يا دپيتلو کان پيداکړي دي دليل دي چي دده به دبدکردار او بي رحمه رئيس اوسردار سره ناسته اوملاقات وسي اوکه ووينې چي دقلعي يا دسيکي يا دټين کان يي پيدا کړي دي دليل دي چي ښايسته ښځه به کوي اوکه ووينې چي داوسپني کان يي پيدا کړي دي دليل دي چي دقوي سردار او رئيس سره به يي صحبت اوملاقات وسي اوکه ووينې چي دشيشي کان يي پيدا کړي دي دليل دي چي دپاچا يا ښځي دطرفه به ورته نفع ورسيږي اوکه ووينې چي دزبرجدو او زمرودو دجواهراتو کان يي پيداکړي دي دليل دي چي دمرتبي اومال خاوند به سي اوکه ووينې چي دياقوتو کان يي پيدا کړي دي دليل دي چي دده عزت اومال اودولت به زيات سي اوکه ووينې چي دفيروزي کان يي پيدا کړي دي دليل دي چي پر دښمن به کاميابه سي اوهغه به مغلوب کړي اوکه ووينې چي دعقيقو کان

Maktaba Tul Ishaat.com

يي پيداکړي دي دليل دي چي دپاچا څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي دشبي کان يي پيداکړي دي دليل دي چي دسردار او رئيس سره به بحث کوي اوکه ووينې چي دلعلونو کان يي پيدا کړي دي دليل دي چي مرتبه اودبدبه به حاصله کړي اوکه ووينې چي دنوشادرو کان يي پيداکړي دي دليل دي چي غمجن اوفکرمند به سي اوکه ووينې چي دمالګي کان يي پيدا کړي دي دليل دي چي دبزرګ يا رئيس څخه به نفع حاصله کړي اوکه ووينې چي درانجو يا دزاك کان يي پيداکړي دي دليل دي چي غم اوفکر به ورته ورسيږي اوکه ووينې چي دګل زرد يعني دژړي خاوري کان يي پيدا کړي دي دليل دي چي ناجوړه به سي اوکه ووينې چي ده دسپيني خاوري ګل سفيد يادکهر يا خاوري کان يي پيدا کړي دي دليل دي چي دسردار او رئيس سره به دده ملاقات اوناسته وسي.

ياقوت (يو ډول جواهر)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي دده سره سور يا شين ياقوت دي دليل دي چي نيکه او ښايسته مينځه يا ښځه به ورته حاصله سي يا به ددي ښايسته لور پيداسي اوکه ووينې چي دده سره عيب ناکه ياقوت دي دليل دي چي هغه مينځه يا هغه ښځه چي دده سره وي پر ده به حرامه سي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي دده سره شين ياقوت دي دليل دي چي ښايسته با اصله اوبانسبه ښځه به کوي اوکه ښځه يي وي نودليل دي چي دده به زوی پيدا سي اوکه ووينې چي دده سره ياقوت منقوش يعني غير خالص ياقوت دي دليل دي چي دده زوی به مفسد وي. اسماعيل اشعث رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چي دده سره سور ياقوت دي دليل دي چي مالداره اوښايسته ښځه به کوي اوکه ووينی چي ياقوت شين دي دليل دي چي پرهيزګاره اونيك سيرته ښځه به کوي اوکه ووينې چي ياقوت سپين دي دليل دي چي دغه ښځه به پيغله پرهيزګاره مصلحه اونيکو کاره وي. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي ياقوت ليدل په خوب کي په شپږو وجو دي. ۱: مال ۲: مينځه ۳: علم ۴: زوی ۵: نيك سړی ۶: پيغله انجلي.

يبروج (دانسان په ډول يو بوټی)

يبروج د يو وانبه جړي دي چي پخپلو کي د يوبل سره يو ځاي سي دسړی او ښځي په شکل وي دي ته ابرو صنم هم وايي اودا دسړی په شکل کي وي. ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلی دي که څوك په خوب کي ووينې چي دده سره ابروصنم بوټي دي يا چا ورته ورکړي دي دليل دي چي دبد سړی په خدمت کي به مشغول سي اودهغه څخه به زحمت اوتکليف حاصل سي اوکه ووينې چي ده يبروج بوټي خوړلي دي دليل دي چي دبد سړي دمال څخه به څه خوري او يبروج بوټي په خوب کي ليدل دهيڅ قسم نفعي سبب نه وي.

يخ \ واوره

دانيال عليہ السلام ويلي دي چي واوره په خوب کي ليدل غم اوفکر وي خاصکر که ديخني په موسم کي ووينې اوکه ووينې چي واوره خوري دليل دي چي ډيره روزي به حاصله کړي ليکن چي واوره ډيره اوبي اندازي ووينې اوپخپل وخت يعني د يخني په موسم کي وي اوکه ووينې چي

دي پاکه واوره خپل کورته وړي دليل دي چي د هغه په اندازه به مال جمع کړي. ابراهيم کرماني رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که څوک دګرمي په موسم کي صفا اوپاکه واوره ووينې دليل دي چي حلال مال به جمع کوي اوکه ووينې چي واوره خيرنه اوترخه ده دليل دي چي څه مال به جمع کوي چي حرامه به وي اوکه په خوب کي پاکه صفا واوره ديخني په موسم کي ووينې دليل دي چي خپل ژوند به په ښه رقم سره تير کړي اودخپل روزګار څخه به نفع وينې او دده ددوستانو زړونه به دده څخه خوشحاله وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په يخو ملکونو کي د يخني په موسم کي واوره په خوب کي ليدل پر خير اونفع اوتندرستي دليل لري اوپه ګرمو ملکونو کي پر قحطي او تنګي دليل لري. اوبعض اهل تعبيرو بيان کړي دي چي واوره يا بريښنا په خوب کي ليدل که په يخو ملکونو کي وي نو دنعمت پر فراختيا دليل لري اوپه ګرمو ملکونو کي پر قحط اوغم دليل لري. جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي واوره ليدل په شپږو وجووي. ۱: فراخ روزي ۲: ژوندون ۳: مال ۴: ارزان نرخ ۵: غم او فکر ۶: قحط اوتنګي.

يشم \ يشب (يو ډول قيمتي کاڼی)

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چي په خوب کي يشب پر بي اصله ښځي دليل لري اوکه ووينې چي دده سره ديشب کاڼی ګوتمي ده يا چا ورته ورکړي دي يا ده اخيستي ده دليل دي چي دبي اصله ښځي سره به واده کوي اوکه ښځه يي وي نو لور به يي پيدا کيږي اوکه ووينې چي دده سره څه ديشب کاڼی دي دليل دي چي د ښځو دطرف څخه به څه خير اونفع حاصله کړي.

يل \ پهلوان

واضحه دي وي چي يل يو مبارك او مبارز مقابله کوونکي سړی اوجنګجو سړی و، ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که پاچا ووينې چي دي په يوه مقابله کي جنګ کوونکي افسر يا پهلوان جوړ سوي دي دليل دي چي پخپله پاچاهي کي به قوت اودبدبه حاصله کړي اوکه داخوب عالم ووينې چي په بحث کي نومورې سوي دي دليل دي چي پرخپل مخالف به غالبه راسي اوکه سوداګر سړی ووينې چي پر جنګ کوونکي پهلوان سوي دي دليل دي چي په تجارت کي به ډير مال حاصل کړي اوکه داخوب سپاهي ووينې دليل دي چي مالدار به سي او مال به حاصل کړي دالله تعالی فرمان دي (يا ايها الذين امنوا اركعوا واسجدوا واعبدوا ربكم وافعلوا الخير لعلكم تفلحون، سورة الحج: ۷۷) اوکه ووينې چي ده دچا سره جنګ کړي دي او پر هغه غالب سوي دي نو دليل دي چي پر دښمن به غالبه سي اوکه ووينې چي مخالف باندي غالب سوي دي نو تعبير يي خلاف دي اوکه ووينې چي دښځي سره يي جنګ کړي دي اوپر هغه غالب سوي دي نو دليل دي چي دده حال به خراب سي اوخوار اولا چاره به سي.

يهودی شدن \ يهودي کيدل

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چي که څوك په خوب کي ووينې چي دي يهودي سوي دی نودليل يي دا دي چي دبدعت پر لاره به ځي او ديهوديانو مدد به کوي او دهغو په خبره به يقين کوي

Maktaba Tul Ishaat.com

که څوك په خوب کي ووينې چې دي يهودي ياعيسائي يامشرك يابت پرسته سوي دی نودا دده پر ګمراهی دليل دی او پر الله تعالی به درواغ اوبهتان تړي او که ووينې چې د دې مذهب څخه اوښتي دی اومسلمان سوي دی نو دليل يې دا دي چې ده يوه لويه ګناه کړيده اوبيا يې دهغه څخه توبه کړي ده او دالله تعالی طرفته به رجوع وکړي اوکه ووينې چې ځان دعلم دين څخه بې علمه ګڼي او خبر ورته نه وي چې دکومي قبلي طرفته لمونځ وکړي نودليل يې دا دي چې سر ګردانه حيرانه اوعاجز به سي جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی که څوك ووينې چې يهودي سوي دی نو دليل يې دا دي چې خوب ليدونکي ته به مشکل راسي او دشرعي سنتو مخالفت به کوي اوکه په خوب کي اتش پرست ووينې نو دليل يې دا دي چې خوب ليدونکي به په دنيا اخته سي او داخرت دکارڅخه به غفلت کوي جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دی چې که يهودي په خوب کي ووينې چې مسلمان سوی دی نو دليل يې دا دي چې ژربه مړ سي يا به مسلمان سي.

يوز \ پړانګ \ ليوه

ابن سيرين رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي چې پړانګ په خوب کي دښمن دي چې دښمني باندي ښکاره کيږي اوکه ووينې چې دپړانګ سره جنګ کوي نو که پر پړانګ دي غالب سوي وي نو دليل دي چې پر دښمن به کاميابي حاصله کړي. ابراهيم کرمانی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ده پړانګ نيولي دي دليل دي چې ددښمن سره به صحبت اوملاقات کوي اوکه ووينې چې پړانګ ځني تښتيدلي دي دليل دي چې دښمن به دده څخه تښتي اوکه ووينې چې ډير پړانګان دده تابع دي دليل دي چې دده دښمن به خوار او ذليله وي. جابر مغربی رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي که ووينې چې ده دپړانګ غوښه خوړلي ده دليل دي چې دهغه په اندازه به ددښمن مال اخلي اوبعضو ويلي دي که ووينې چې ده پړانګ ووژي نوپه دي کي څه خير اونفع نسته اوکه ووينې چې ده پړانګ پر خپل څټ کښينولي دي او چيري يې وړي دليل دي چې ددښمن پيټې به پورته کوي اوکه ووينې چې يو څو پړانګان دده کور يا کلي ته راغلي دي او په زوره اوازونه کوي دليل دي چې دا سړی به د خپل دښمن په وجه څه غم تکليف اوضرر حاصل کړي چې په قدر د دې پړانګانو د اوازونو به وي کوم چې ده ليدلي وي، او الله پاك ډير ښه پوهيږي.

تمت بالخير

تاريخ اختتام

السبت، ۰۹ ربيع الأول، ۱۴۳۲

❋ ❋ ❋

اشاریه (انډیکس)

یادونه: په کتاب کي د راغلو ټولو شیانو نومونه دلته د الف با په ترتیب سره راغلي دي او له هر توري سره څنګ ته يې صفحه لیکل سوېده، لومړی خپل توری وګورئ چې په کوم توري شروع کېږي بیا يې د همغه توري په لیسټ کي پیدا کړئ، او په څنګ ته لیکل سوي نمبر والا صفحه کي يې مطالعه کړئ.

[الف]

انار ۱۰۱
ائینه ۸۲
آب ۲۷
آب بینی ۲۸
آب تاختن ۲۹
آب خانه، بیت الخلاء ۷۰
آب دستان ۷۰
اب سفنج ۸۸
آب کامه ۷۱
ابادي ۳۲۲
آبادی ۲۷
ابر ۸۷
ابروها ۸۸
ابریشم ۸۹، ۳۸۰
آبستی ۷۰
آبګینه ۷۱
آبله ۷۱
ابلیس ۸۹
آبنوس (یو ډول لرګی) ۷۱
آبګوټ ۴۰۸
اتریش ۳۲۱
آتش ۷۱
آتش افروختن ۷۴
اتش پرست کیدل ۳۹۲
اتش پرستیدن ۷۵
اتش دان ۷۲
اتش روشنایي ۷۵
اتش زنه ۷۷
اتش کده ۷۷
اتشین شراره ۷۲
اختر ۳۲۴
اخته کیدل ۴۲۱
اخیستل ۱۵۸
اخیستل او خرڅول ۲۱۴
ادعای پیغمبري ۹۰
اذان ۱۲۰
ارد ۷۷
ارد پیز ۷۷
ارد ګون ۷۷
اردو ۴۳۷
ارزیز ۸۹
اره ۹۰
ارهټ ۲۴۸
اروغ ۷۸
اردمی کول ۷۸
ازاد شدن ۷۸
ازادیدل ۷۸
ازار ۹۰
ازغي داره بوټی ۹۷
اژدها ۹۱
آس ۹۱
آس تانه ۷۸
اسپ ۹۱
آسپندان ۹۱
اسپیغول ۱۳۴
استاذ ۴۲۱
آستانه ۸۰
استخوان ۹۵
آستر ۹۴
استغفار ۹۵
اسطرلاب (علم نجوم) ۹۲
اسفاناح ۹۲
آسمان ۷۸
اسناد ۳۷۷
آسیا ۸۱
آسیابان ۸۱
آسیوان ۸۱

Maktaba Tul Ishaat.com

اشپز ۳۵۰
اشتر ۹۶
اشتر خار ۹۷
اشتر مرغ ۹۷
اشتی کردن ۸۱
اشرفی ۲۵۱
اشک ۹۸
اشنان ۹۸
اصلع ۹۸
اغوش گرفتن ۸۲
افتاب ۸۲
افتابه ۸۳
افتادن ۱۰۷
افروشته (یو ډول حلوا) ۹۸
افسرده ۹۹
افسون ۹۹
افغانی ۲۵۱
افیم ۹۹
افیون ۹۹
آلوبخارا ۱۰۰
الوچه ۱۰۰
الو ۹۹
الوئي ۱۰۰
الوتل ۱۳۱
الج (یوه میوه یا وانبه) ۸۴
اماس ۸۴
امامت کردن ۱۰۰
امامت کول ۱۰۰
امروت ۱۰۱
امرود ۱۰۱
امیل ۳۵۳
انبور ۴۱۶
انجیر ۱۰۲
انجیل ۱۰۲
انداختن مردم ۱۰۲
اندامها ۱۰۲
اندامونه ۱۰۲
اندرپایه ۴۸۱
انعامي کالي ۲۱۸
انگشتری ۱۰۴، ۴۸۵
انځر ۱۰۲
انگبین ۱۰۳
انگشتان ۱۰۴
انگور ۱۰۲
انگیتی ۷۶، ۴۴۶
اهک ۸۴
اهن ۸۴
اهو ۸۵
اواز ۸۶
اوبه ۶۷
اور ۷۱
اور بلول ۷۴
اور لړونی ۴۱۲
اوربشي ۱۹۴
اوسپنه ۸۴
اویختن ۸۶
اوړه ۷۷
اوړه اخښل ۲۲۰
اوړه ۲۴۷، ۳۹۴
اوړه ۳۲۲
اوړه (د انسان) ۳۲۲
اوښ ۹۶
اوښکي ۹۸
ایره ۲۰۵
ایریړه ۴۹۷
اینجه ۲۰۱
اینه ۱۹۱، ۴۱۷
ایټم ۴۴۶
اټکي ۳۷۵
ارخ ۱۴۹

[ب]

بات روم ۴۰۲
باجره ۳۹۰
باچا ۳۰۲
باد ۱۱۰
باد اچول ۱۱۰
بادام ۱۰۷
بادرنگ ۱۱۱، ۲۲۳، ۳۲۹
باد رها کردن ۱۱۰
بادروک ۱۱۱
بادریسه ۱۱۱
بادشاه ۳۰۲
بادیان ۲۵۵
باذنجان ۱۱۱
بار پورته کول ۱۱۱
بار کشیدن ۱۱۱
باران ۱۱۲
بارانی ۱۱۳
باروئی ۱۱۳
باز ۱۱۳، ۳۲۷
بازو ۱۱۴
بازوبند ۱۱۴
باغ ۱۱۵
باغلي ۱۱۷
باغواني ۴۰۲

بافتن جامها ۱۱۷
باقلا ۱۱۷
باقی وهل ۳۸۵
بالا رفتن ۱۱۷
بالاخانه ۱۱۹
بالش ۱۱۸
بالښت ۱۱۸
بام ۱۱۹
بانگ داشتن جانوران ۱۱۹
بانگ نماز ۱۲۰
باورچي ۳۵۰
بانبه مرغه ۴۹۱
بانس ۲۳۱
بانوگان ۴۵۲
ببر ۱۲۴
ببر شير ۳۴۱
بت ۱۲۴
بتی ۱۴۳
بجلکه ۴۱۰
بجلي ۱۲۸
بخشش ۳۶۰
بخشش کردن ۱۲۴
بخور کردن ۱۲۵
بخښه غوښتل ۹۵
بد هضمي ۱۲۸
بدن ۱۷۴
بربط ۱۲۶
برج ۱۳۰
برجستن ۱۲۶
برد ۱۲۷
بردار کون ۱۲۶
برده فروشي ۴۹۲
برساتي کوټ ۱۱۳
برف ۱۲۸
برق ۱۲۸
برمه ۴۴۶
برنج پلاو ۱۲۹
بره ۱۲۹
برهنگي ۱۲۹
بروت ۱۳۰
بريان ۱۳۲
بريت ۱۳۰
بريښنا ۱۷۵، ۳۴۳
برگ ۱۴۲
برگستوان ۱۲۸
برگي مرض ۱۵۶
بز ۱۳۳
بزاز ۱۳۲
بزر قطونا ۱۳۴
بساط ۱۳۴
بستان افروز ۱۳۲
بستر ۱۳۴
بستره ۱۳۴
بطه ۱۳۹
بغل ۱۴۰
بقالي کردن ۱۴۰
بکری ۷۷
بکس ۳۴۷
بلب ۳۳۵
بلبل ديدن ۱۴۱
بلبل ليدل ۱۴۱
بلبله ۱۴۱
بلغم ۲۱۸
بلغم ديدن ۱۴۱
بلغم ليدل ۱۴۱
بلور ۱۴۲
بلوط ۱۴۳
بنا گوش ۱۴۳
بنجشک ۱۴۳
بند گوبی ۴۱۲
بندنهادن ۱۲۳، ۱۴۵
بنده ۱۴۲
بنفشه ۱۴۲
بنياد ايښودل ۱۴۷
بنياد نهادن ۱۴۷
بنگړي ۴۹۸
بهار ۱۴۸
بهشت ۱۴۸
بهی (يو ډول ميوه) ۱۴۸
بوتل ۳۴۲، ۳۸۴
بوتيمار(يک مرغ آبی) ۱۵۰
بوريا ۱۵۰
بوری ۴۲۵
بوزه ۱۳۳
بوزي ۱۵۰
بوزينه ۱۵۱
بوس ۲۸۸
بوسه ۱۵۲
بوق زدن ۱۵۲
بوکه ۲۴۹
بولي کول ۲۹
بوم ۱۵۳
بوی خوش ۱۵۳
بوټ ۴۱۲
بوډا ۱۵۲، ۴۲۲
بوډی ۳۵۵، ۴۲۲

Maktaba Tul Ishaat.com

بي هوشي ١٢٣
بي هوښي ۴۵۷
بيابان ۱۵۴
بيت الله شريف ۱۹۹، ۴۱۱
بيت المعمور ۱۵۵
بيچو ۴۰۵
بيده کيدل ۲۱۷
بيرغ ۳۲۲
بيره (يو ډول ميوه) ۴۲۲
بيزو ۱۵۱
بيشه ۱۵۸
بيع ۱۵۸
بيل ۱۲۰
بيماري ۱۲۰
بيني ۱۲۱
بيړۍ اچول ۱۴۵
برستن ۴۳۲
بګله (داوبو يو مرغه) ۱۵۰
ببري ۴۲۲

[پ]

پائی ۱۲۲
پائي اورنجن ۱۲۳
پائي تابه ۱۲۳
پابند ۱۲۱
پابنداني کردن ۱۲۴
پاتيله ۱۰۹
پاچا ۱۰۸، ۳۰۲
پاچه (د سرلې يا داسي د بل حيوان پښې) ۱۲۴
پاخه شراب ۴۷۱
پاسداشتن ۱۱۴
پاشنه بائي ۱۱۵
پالانه ۱۱۸
پانسي کيدل ۸۲
پايزپب ۱۲۳
پانه ۱۴۲
پاڼي د کتاب ۳۴۴
پتيله ۱۰۹
پخ کړي غوښه ۳۹۲
پخکړي شراب ۴۷۱
پر ۱۲۵
پرتوګ ۹۰، ۳۳۳
پر چاپرده اچول ۱۲۷
پر څټ چپلاخه خوړل ۳۸۲
پراخي ۳۷۰
پرپهن ۱۲۵
پرتوګانې ۳۳۴
پرده ۱۲۷، ۲۹۴
پرده داري ۱۲۷
پرزول کول ۴۰۲
پرستو ۱۲۷
پرنجی ۳۲۱
پرنچی ۳۲۱
پرنده ۱۲۹
پرنيان ۱۲۹
پرهيز ۴۵۷
پرهيز دانه ۴۵۷
پرواز کردن ۱۳۱
پروانه ۱۳۰
پرور ۲۸۸
پری ۱۳۱
پريوللل ۳۳۰
پست ۱۳۲
پستان ۱۳۲
پستان بند ۱۳۷
پسته ۳۷۳
پسرلی ۱۴۸
پسه ۲۴۲
پشت ۱۳۷
پشته ۱۳۸
پشم ۱۳۸
پشه ۱۳۹
پل جوړول ۱۵۳
پل ساختن ۱۵۳
پل صراط ۳۴۵
پلاس ۱۴۱
پلانګيني ۱۴۰
پلنګ ۱۴۲
پله ۱۵۳
پليته ۱۴۳
پلې ۱۵۳
پمبه ټکوونکی ۲۰۱
پنبه ۱۴۳
پنبه دانه ۱۴۳
پنجره ۳۸۲
پنجه ۱۹۳
پند دادن ۱۴۵
پنير ۱۴۷
پنډۍ ۲۸۵
په اسمان کي ژړه سره او زرغونه ۴۲۰
په جنګ کي مال نيول ۳۲۹
په خوب کي مړکيدل ۴۴۸
په سوال ورکول ۳۵۴
په سولۍ کول ۱۲۲

په غيږ کي اخيستل ۲۲۹
په غيږکي نيول ۸۲
پهلو ۱۴۹
پهلوان ۵۰۱
پودينه ۴۸۴
پورته تلل ۱۱۷
پوزه ۱۶۱
پوزي ۲۰۰
پوست ۱۵۱
پوست رنګول ۲۲۲
پوستکي ۱۵۱
پوستين ۱۵۲
پوسه ۴۲۸
پوړی ۴۸۱
پي ۱۵۳
پياز ۱۵۴
پيالـــــه ۱۵۴، ۱۷۹، ۳۴۹، ۳۷۸
پيپړه ۳۳۰
پير ۱۵۲، ۴۲۲
پيراهن ۱۵۴
پيرزوينه ۳۶۰
پيروزه ۱۵۲
پيزار ۴۱۲
پيس ۱۵۲
پيسي ۲۵۱، ۳۷۴
پيشاني ۱۵۷
پيشه ۱۵۷
پيشي ۳۹۲
پيشي ګرفتن ۱۵۷
پيغلتوب ۲۴۸
پيغمبر ۱۵۸
پيکر ۱۵۸
پيل ۱۵۹
پيل ګوش ۱۶۰
پيلر ۲۸۹
پيله ور ۱۶۰
پيمانه ۱۶۱
پيه ۱۶۲
پيګان ۱۵۸
پټو ۱۲۷، ۱۷۷، ۳۵۳
پټی ۴۰۷
پړانګ ۱۴۲، ۵۰۲
پړسيدل ۸۴
پړونی ۳۵۳
پښتورګي ۳۹۹
پښې ۱۲۲

[ت]

تاب دادن ۱۲۳
تابستان ۱۲۳
تابه ۱۶۲
تاج ۱۲۳
تاراج ۱۲۳
تارکول
تارياک ۱۷۱
تاريکه ۱۲۴
تاريکي ۱۲۴، ۳۵۴
تازيانه ۱۲۵
تاغار ۱۷۳
تال ۲۹۸
تالاب ۲۰۲
تالو ۳۸۹
تالې ۱۷۳، ۳۴۹
تانبا ۴۵۷
تانبه ۸۹
تاو ورکول ۱۲۳
تاوان ۴۸۵
تب ۱۲۲
تبخی ۱۲۲
تبر ۱۲۲
تبه ۱۲۲
تبيره ۱۲۲
تتماج ۱۲۷
تحفه ۴۹۵
تخت ۱۲۷، ۳۵۸
تخرګ ۱۴۰
تخم کاشتن ۱۲۷
تخم کرل ۱۲۷
تخمه ۱۲۸
تخمها ۱۲۸
تخمونه ۱۲۸
تذرو ۱۲۸
ترازو ۱۲۸
ترازوګر ۱۲۹
ترب ۱۲۹
تربد ۱۲۹
ترخـون (دپـودينې يـوډول) ۱۷۰
ترسائي ۱۷۰
ترشيها ۱۷۰
ترف ۱۷۰
ترلاسه کول ۴۹۹
ترنج ۱۷۰
ترنجبين ۱۷۱
تره ۱۷۱

Maktaba Tul Ishaat.com

تره دوغ ۱۷۱
تره فروشي ۱۷۱
تروه شیان ۱۷۰
تروي اوبه ۷۱، ۳۸۹
تروي شلومبي ۱۷۱
تریاق ۱۷۱
تریخی ۲۸۳
تزویج ۱۷۲
تسبیح ۱۷۲
تسبیح ویل ۱۷۲
تشناب ۴۰۲
تشنگي ۱۷۳
تعویذ ۱۷۳
تفشله (پوخ کړی دال) ۱۷۴
تقسیمول ۳۸۱
تکبیر ۱۷۴
تل ۱۷۴
تلل ۲۲۰
تلل ۲۹۰
تله ۱۲۸
تله جوړونکی ۱۲۹
تمام شدن کار ۱۷۴
تن ۱۷۴
تنبو ۲۱۱، ۲۲۳
تندر ۱۷۵
تنده ۱۷۳
تندی ۱۵۷
تندیسها ۱۷۵
تنذري ۱۲۸
تنور ۱۷۲
تنگي ۱۷۵
توبره ۱۷۲
توبه ۱۷۲
توت ۱۷۷
توته ۱۲۷
توتیا ۱۷۲
تور بانجن ۱۱۱
تورات ۱۷۷
توره ۲۲۰، ۳۳۴
توره د سپیلنی دانه ۹۱
توره دانه ۳۳۹
توری ۲۸۲
توشک ۳۲۵
توکانې ۲۲۳
تول کول ۲۹۰
تیاره ۱۲۴
تیر ۱۷۷
تیل ۲۲۲
تیونه ۱۳۲
تنبتیدل ۴۰۳
تگرگ ۱۷۴
تناکه ۷۱
تپکی ۳۲۸

[پ]

تاپه ۳۴۹
تال ۴۲۷
تپوس ۲۷۷، ۴۰۱
تکه ۱۷۵، ۳۴۳
توپ وهل ۱۲۲
توپی ۴۱۳
توخی ۲۹۵

[ج]

جادو ۹۹، ۱۷۸
جارو ۱۷۸
جاروب ۱۷۸
جال ۲۲۵
جام ۱۷۸
جامه ۱۷۹
جامه خواب ۱۸۲
جامهای مرده ۴۵۲
جامي جوړول ۱۱۷
جامې ۴۳۵
جان ۱۸۲
جای نماز ۲۹۰
جایداد ۳۴۹
جبه ۱۸۴
جراب ۱۹۵
جرابي ۱۲۳، ۱۹۵
جرنده ۳۸۳
جزغ ۱۸۷
جستن ۱۸۷
جستس ۳۷۲
جغندر ۱۹۰
جلاب ۱۹۲، ۲۹۹
جماع ۱۹۱
جماعت ۴۵۷
جمپ وهل ۱۸۷
جنازه ۱۹۳
جنب بودن ۱۹۳
جنب کیدل ۱۹۳
جنت ۱۴۸
جنډی ۳۶۲

جنگ ۱۹۴، ۲۱۵
جنگ کول ۳۸۲
جنگي کالي ۱۲۸
جو ۱۹۴
جوئي آب ۱۹۷
جوارش (یو ډول دوا) ۴۲۵
جوال ۴۲۵
جوال دوز ۱۹۵
جوان شدن ۱۹۵
جواهر ۱۹۷
جوز ۴۲۷
جوش ۱۹۲
جوشانده ۴۱۰، ۴۲۰
جوکه ۲۷۲
جولا ۱۹۲
جولاها ۱۹۲
جولاګی ۳۲۴
جولی ۲۸۱
جومات ۴۵۷
جیل خانه ۲۸۲
جګر ۱۹۱

[چ]

چابي ۴۱۷
چادر ۱۷۷
چار چوب ۷۸
چانچر کوني ۲۰۹
چاه ۱۸۳
چاټی ۲۱۹، ۲۸۴
چاړه ۲۸۵، ۳۸۲
چپلکي ۴۸۳
چپنه ۱۸۴، ۳۷۷
چتری ۱۸۵
چج ۴۹۲
چراغ ۱۸۵
چراغ پایه ۱۸۲
چراغ دان ۱۸۲
چربي ۱۲۲
چرغ (یونبکاري مارغه) ۱۸۲
چرک ۱۸۲
چرګه ۴۴۳
چشم ۱۸۷
چشمه ۱۸۹
چغانه ۱۹۰
چغد ۱۹۰
چغندر ۱۹۰
چکاوک ۱۹۰
چکه ۳۳۹
چلیپه ۳۴۲
چمن ۴۵۴
چنبیلی ګل ۳۲۰
چنګ زدن ۱۹۴
چنګال ۱۹۳
چنګاله ۱۹۴
چنګانبی ۲۰۹، ۴۹۳
چهارپای ۱۷۸
چوب ۱۹۵
چور ۳۲۵
چوغه ۳۷۷، ۴۳۵
چوکاټ ۸۰
چوکیدار ۲۲۸
چوکیداري کول ۱۱۴
چوکی ۴۰۰
چونه ۸۴، ۳۹۵
چونګښه ۴۹۳
چوګان زدن ۱۹۲
چیچل ۴۰۵
چیک ۱۹۰، ۳۷۷
چیکني ۴۳۸
چینجی ۴۰۲
چیندخ ۴۹۳
چینه ۱۸۹
چیني لوښي ۳۴۸
چټایي ۱۵۰
چټک ۲۰۲

[ح]

حاصلول ۴۹۹
حاکم ۴۹۱
حب خوردن ۱۹۸
حبر ۱۹۷
حج کول ۱۹۸
حج ګزاردن ۱۹۸
حجامت کردن ۱۹۹
حجر اسود ۱۹۸
حذر دادن ۱۹۹
حربه ۱۹۹
حرم مکي ۱۹۹
حریر ۲۰۰
حساب ۲۰۰، ۳۳۴، ۳۵۵
حسابول ۳۳۴
حصار ۲۰۰
حصیري ۲۰۰
حقنه ۲۰۰
حقه ۲۰۱
حکایت ۱۱۲، ۱۲۰، ۱۴۱،

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۴۴، ۱۸۳، ۱۸۴، ۱۸۹،
۲۱۳، ۲۵۲، ۲۸۹، ۳۲۱
حکم ۴۲۲
حکم کول ۳۷۲
حکمت ۲۰۱
حلاج ۲۰۱
حلاجي ۴۲۰
حلتیت ۲۰۱
حلوا ۱۷۱، ۲۰۱، ۳۸۲
حمال قلي ۲۰۲
حمام ۴۰۲
حمل ۷۰
حنا ۲۰۲
حنوط ۲۰۲
حوض ۲۰۲
حوض کوثر ۲۰۳
حیض (د ښځو میاشتني ناجوړي) ۲۰۳
حیوان ۱۷۸

[ځ]

ځای نماز ۲۹۰
ځغستل ۲۴۹، ۳۲۹
ځلیدونکي کانې ۳۵۲
ځناور ۱۷۸
ځنګل ۱۵۴، ۱۵۸، ۳۴۴
ځنګلي توت ۲۱۳
ځنګلي خر ۲۱۰
ځنګلي خربوزه ۲۳۰
ځنګلي غوا ۳۹۱
ځنګلي ځناوران ۴۹۲
ځواکمن ۴۸۹
ځوانیدل ۱۹۵
ځوز ۲۰۴
ځیګر ۱۹۱
ځګ ۴۱۲

[خ]

خاوري ۲۷۱
خادمه ۲۰۵
خار ۲۰۴
خارپشت ۲۰۴
خارش تن ۲۰۴
خاشک ۲۰۴
خاشه ۲۰۴
خاک ۲۰۵
خاکستر ۲۰۵
خانه ۲۰۶
خانه کعبه ۴۱۱
خاوره ۲۰۵
خایه ۲۰۷
خایه ادمي ۲۰۷
خایه مرغ ۲۰۷
خایه مرغابي ۲۰۸
خاییسک ۲۰۶
خبري ۲۹۱
خبزه ۲۲۰
ختنه کردن ۲۰۸
ختیځ ۴۵۸
خر ۲۰۹
خر بوزه ۲۰۸
خر ګور ۲۱۰
خرابی ۲۰۶
خرچنګ کوني ۲۰۹
خردل ۲۱۱
خرس ۲۱۱
خرقه (زړه د کالو ټوټه) ۲۱۸
خرمن ګرفتن ۲۱۳
خرنوت ۲۱۳
خروس بانګي ۲۱۴
خرید او فروخت ۲۱۴
خرخول ۱۵۸، ۳۷۳
خرګاه ۲۱۱
خرګوش ۲۱۲
خز ۲۱۴
خزانه ۴۲۲
خزلي ۲۰۴
خس ۲۰۴
خسته کردن ۲۱۵
خشاک ۲۰۴
خشت ۲۱۵
خشم ګرفتن ۲۱۵
خصومت ۲۱۵
خصي کردن ۲۱۶
خصي کول ۲۱۶
خضاب کردن ۲۱۶
خط ۳۴۵، ۴۷۶
خطبه خواندن ۲۱۷
خطبه ویل ۲۱۷
خطمي ۲۱۷
خفتن ۲۱۷
خفه کردن ۲۰۸
خلال کردن ۲۱۸
خلالول دغابنونو ۲۱۸
خلعت ۲۱۸
خلق ۴۵۴

خلک ۴۵۴
خلم ۲۱۸
خلیفه ۲۱۹
خم ۲۱۹
خمیر کردن ۲۲۰
خنجر ۲۲۰
خندا ۲۲۰
خندق ۴۲۷
خنزیر ۲۲۲
خوان ۲۲۱
خوانچه ۲۲۱
خوب ۲۱۷
خود ۲۲۱
خوراک ۳۵۱
خوردن ۲۲۱
خورما ۲۱۲
خوشایي ۲۹۲
خوشبو ۴۵۹
خوشبو ۲۷۲
خوشبوئي ۱۵۳
خوشبویي ۳۶۰
خوشحالي ۳۲۵
خوشه ۲۲۱
خوله ۲۴۴
خوله ۳۵۸
خولې ۴۱۳
خون امدن ۲۲۲
خوړل ۲۲۱
خوږې ۳۳۱، ۳۴۱
خوګ ۲۲۲
خیار ۲۲۳
خیر غوښتل ۳۹۵
خیرات ۳۴۵
خیره ۱۸۲
خیک ۲۲۳
خیمه ۲۱۱، ۲۲۳
خیو ۲۲۳
ختکی ۲۰۸
ختي خوړل ۴۱۵
خښته ۲۱۵

[څ]

څادر ۱۲۷، ۳۵۳
څاه ۱۸۳
څپر ۲۸۲
څپلې ۴۱۲
څراغ ۳۳۵
څرخه ۲۴۸
څرمن ۱۵۱
څټ ۳۸۲، ۳۹۷
څټ وهل ۳۹۸

[د]

داتش پرستوعبادت خانه ۷۷
د اسلام پاچا ۲۱۹
د انار درخته ۲۲۹
د انار ګل ۴۱۲
د انګورو زیلی ۲۵۸
د اوبو مشک ۴۵۹
د اوبو نالي ۳۸۷
د اور رڼا ۷۵
د اور سکروټه ۷۲
داوربشو شراب چیښل ۳۷۴
د اوسپني قمیص ۱۹۲
د اوسپني توپې ۲۲۱
د اوړو په رنګ ګل ۷۷
د اوړو غلبیل ۷۷
د ایلې هګۍ ۲۰۸
د بادامو حلوی ۴۴۰
د باغي کردن ۲۲۲
د بدن او بندنو درد ۲۳۲
د بدن خارشت ۲۰۴
د بزې بچی ۱۲۹
د بلبل او مینا په ډول مرغه ۴۹۲
د بورۍ ګنډلو ستن ۱۹۵
د پالک بلګ ۹۲
د پتوګیتي ۱۱۵
د پرنچي راوستلو دوا ۴۲۳
د پستې درخته ۲۳۰
د پمبي تخم ۱۴۳
د پوزي ګړنګ ۲۱۸
د پوست تسمه ۲۴۵
د پیپل درخته ۲۲۹
د پیغمبرۍ د عوې کول ۹۰
د پړې ۱۲۲
د پښو کړې ۱۲۱
د پښې ګیتی ۴۱۰
دتار کولو غوندي مواد ۲۷۷
د ترنج درخته ۲۳۰
د تلې لړ ۳۷۸
د توري غلاف ۳۶۸
د جایداد کاغذ ۱۹۰
د جذام ناجوړي ۴۹۴
د جنت چوکیدار ۲۲۰

Maktaba Tul Ishaat.com

د جواهراتو ډبی ۲۰۱
د چابي ځاي ۴۱۸
د چرګي هګۍ ۲۰۷
د حمامي دسمال ۲۳۷
دحیوانانو اوازونه اوریدل ۱۱۹
د خاورو تیل ۴۸۴
د خاوري ګلاس ۳۰۰
د خرما درخته ۲۲۹
د خوب کالي ۱۸۲
د خوراک نرم شي ۱۲۷
د خونه درخته ۲۳۰
د دریاب ځګ ۴۱۲
ددستونو اواسهالونو راوستلو دوا ۱۹۲
د دستونو دوا ۲۲۸
د دنیا کار کول ۳۸۷
د دواوو لوښی ۴۴۶
د رانجو کڅوړه یا دبلی ۲۹۷
د زیتون تیل ۲۸۴
د سترګو ناجوړي ۲۸۷
د سر داغ ۹۸
د سیبو درخته ۲۳۰، ۴۲۸
د سړو غورزول ۱۰۲
د سړی خایې ۲۰۷
د شاتو مچمچۍ ۴۲۳
د شپې بازي کول ۳۲۸
د شرابو بوتل ۳۸۰
د شرابو مجلس ۴۴۶
د شفتالو درخته ۲۳۰
د شهدو ګبین ۴۰۴
د شیشي کانې ۱۴۲
د شیشي لوښي ۳۴۸
د علم مجلس ۴۴۶
د عود درخته ۲۳۰
د عودو انګیټۍ ۳۲۴
د غاړې هار ۳۵۳
د غشي سوکه ۱۵۸
د غلامانو تجارت کول ۴۹۲
د غلامانو خرڅونکي ۴۸۰
د غلې ډیران لګول ۲۱۳
د غنمو د مغز حلوا ۴۸۲
د غوا بچی ۴۲۸
د غوزانو درخته ۲۳۰
د غوږ پوستکی ۱۴۳
د فصیل مناري ۱۱۳
د فقه شریفي عالم ۳۷۴
د فیل غاښ ۳۵۴
د قرآن مجید سورتونه په خوب کې ویل ۳۰۵
د کارغانو په آوازونو فال نیول ۲۷۴
د کارونو پوره کیدل ۱۷۴
د کالو ګنډل ۲۴۵
د کانونو پیدا کول ۴۹۹
د کوپړي درخته ۲۳۰
د کوزې او لوټې اوبه ۷۰
د کیکر درخته ۴۳۴
د لاس بنګړۍ ۲۸۲
د لاس دسمال ۳۷۵
د لاس کړۍ ۲۳۹
د لاسونو پټۍ ۱۱۴
د لالي کول ۲۴۱
د لمانځه لپاره اودس ۴۹۴
د لویو بولو ځای ۴۲۱
د لویې بولو په ځای کې دوا دننه اچول ۲۰۰
د لیبمو درخته ۲۳۱
د مانو درخته ۲۳۱
د مختلفو حیوانانو غوښه خوړل په خوب کې ۴۲۹
د مریضانو نرم خوراک ۴۵۷
د منشي ځاي ۲۲۲
د مړغوني درخته ۲۳۰
د مړي خوشبویي ۲۰۲
د مړي ژوندي کیدل ۴۴۹
د مړي ژړا ۴۵۱
د مړي سره جماع کول ۴۵۲
د مړي کالي ۴۵۲
د مړي کفن ۴۵۲
د مړي څه ورکول ۴۵۱
د ناپ کولو لوښی ۱۲۱
دنبل ۲۴۲
د نبه ۲۴۲
د نوړي راوستلو دوا ۴۲۳
د هوا ذرې ۴۹۵
د ویالو لښتي ۲۲۴
د یهودو عبادت خانه ۴۲۴
د څرخي پرکی ۱۱۱
د څیړي درخته ۲۳۰
د څیړۍ درخته ۱۴۳
د ډوډۍ پخولو تبخی ۲۲۰
د ډیوي ایښودلو تاخ ۱۸۲
د ګبین مچۍ ۴۲۳
د ګرمي دانې ۳۹۲

د ګرمي موسم ۱۲۳
د ګلابو بوټی ۴۷۹
د ګلابو درخته ۲۳۰
د ګلونو بوټي ۱۳۲
دنیا ۴۱۰
دارو ۲۲۴، ۲۷۲
دارو چیني ۲۲۴
داس ۲۲۵
داغ کردن ۲۲۵
داغ لګول ۲۲۵
داکتر ۳۵۱
دال چیني ۲۲۴
دالوچي درخته ۲۲۹
دام ۲۲۵، ۴۲۱
دام ایښودل ۱۲۳
دانه ۲۴۲
دانها ۲۲۵
داني ۲۲۵
داور عبادت کول ۷۵
دبادام درخته ۲۲۹
دبیرستان ۲۲۲
دبیري ۲۲۲
دبړ درخته ۲۲۹
دپزی اوبه ۶۸
دپړی ۳۵۱
دجال ۲۲۲
دچیړ درخته ۳۵۸
دختر ۲۲۲
دخرما ګل ۳۵۲
دخنه ۲۲۷
ددوا ګولی خوړل ۱۹۸
در ۲۲۸
دراج ۲۲۷
دراعه ۲۲۷
درامبیل ګل ۴۸۲
دربان ۲۲۸
دربر ګرفتن ۲۲۹
درخت ابنوس ۲۲۹
درخت الو ۲۲۹
درخت انار ۲۲۹
درخت بادام ۲۲۹
درخت برګد ۲۲۹
درخت بلوط ۲۳۰
درخت پیپل ۲۲۹
درخت ترنج ۲۳۰
درخت جوز هندي ۲۳۰
درخت حنظل ۲۳۰
درخت خرما ۲۲۹
درخت زردالو ۲۳۰
د زردالو درخته ۲۳۰
درخت زیتون ۲۳۰
درخت سرو ۲۳۰
درخت سنجد ۲۳۰
درخت سیب ۲۳۰
درخت شفتالو ۲۳۰
درخت شمامه ۲۳۰
درخت عود ۲۳۰
درخت غوزان ۲۳۰
درخت فستق ۲۳۰
درخت فندوق ۲۳۰
درخت لیمون ۲۳۱
درخت مورد ۲۳۱
درخت نې ۲۳۱
درخت ګل
درختان ۲۲۹
درختي ۲۲۹
درد اندامها ۲۳۲
درشل ۷۸، ۲۴۵
درمنه (یو ډول دوا) ۲۳۴
درنځ تیل ۳۸۲
دُره ۱۲۵
درهم ۲۳۲
دروازه ۲۲۸
درواغ ویل ۲۳۴
درود شریف ۳۴۶
درود ګري کردن ۲۳۴
دروغ ګفتن ۲۳۴
درویشي ۲۳۴
دریا ۲۳۴
دریاب ۲۳۴
درګ څخه وینه ایستل ۲۲۱
دزدي کردن ۲۳۶
دژ ۲۳۶
دست ۲۳۷
دست اس ۲۳۷
دست کړی ۲۳۹
دست وروی شتن ۲۳۷
دستار ۲۳۷
دستار حمامي ۲۳۷
دستمال ۳۷۵
دستنبویه ګل ۴۳۸
دستینه ۲۴۰
دسِروي درخته ۲۳۰
دسمال ۳۷۵، ۴۶۵
دشنام ۲۴۰
دعا کردن ۲۴۰

Maktaba Tul Ishaat.com

دعا کول ۲۴۰
دف زدن ۲۴۱
دفتر ۲۲۲
دکان ۲۴۸
دل ۲۴۱
دلالي کردن ۲۴۱
دلرګي چمچې ۴۱۱
دلرګي کاچوغه ۴۱۱
دلو ۲۴۹
دمرغېو درخته ۲۳۰
دنبال ۲۴۲
دندان ۲۴۳
دنرګس ګل
دنل درخته ۲۳۱
دهان ۲۴۴
دهل زدن ۲۴۵
دهلیز ۲۴۵
دهه ۳۲۵
دوا فروش ۱۲۰
دوات ۲۴۹
دوال ۲۴۵
دوالي اوبه ۱۹۷
دوایي ۳۸۱
دوایي والا تریخ بوتی ۱۲۰
دوبی ۱۲۳
دوبي توب کول ۳۸۲
دوختن جامه ۲۴۵
دود ۲۲۷، ۲۴۲
دود کول ۱۲۵
دوسلي صفا کول ۳۴۸
دوش ۲۴۷
دوشاب
دوشیزګي ۲۴۸
دوغ ۲۴۸
دوک ۲۴۸
دولاب ۲۴۸
دولس برجونه ۱۳۰
دویدن ۲۴۹
دوړه ۳۲۲، ۳۹۷
دوزخ ۲۴۲
دورخ ۲۴۲
دوګان ۲۲۷
دیبا ۲۵۰
دینار ۲۵۱
دیني عالم ۳۷۴
دیه ۲۵۱
دیو ۲۵۲
دیوار ۲۵۲
دیوال ۲۵۲
دیوانګي ۲۵۳
دیوچه ۲۷۲
دیګ ۲۵۰
دیګدان ۲۵۰
دنبار دیوال ۳۳۷
دنبت ۱۵۴
دنبمن ۲۴۰

[ډ]

ډاکو ۲۵۷
ډاکټر ۳۵۱
ډال ۲۸۲
ډالۍ ۴۹۲
ډاګ ۱۵۴
ډبره ۳۰۴
ډبه ۳۴۲
ډمبر ۳۸۵
ډوبډل ۳۲۲
ډول وهل ۲۴۵
ډوډۍ ۴۷۷
ډیران ۱۳۸
ډیري غونډۍ ۱۷۴
ډیوه ۱۸۵
ډډه ۱۴۹
ډېوه ۱۸۵

[ذ]

ذري ۴۹۵
ذکر (د سړیو خاص اندام) ۲۵۳

[ر]

را ایله کیدل ۱۰۷
رازیانج ۲۵۵
راسو ۲۵۵
رامبیل ۴۹۹
ران ۲۵۵
رانجه ۱۷۲، ۲۹۲
رانجه خرخوونکی ۳۹۵
راه ۲۵۲
راهزن ۲۵۷
رباب ۲۵۸
ربها ۲۵۷
رپیدل ۳۳۲
رخچینه ۴۱۳
رخسار ۲۵۸
رس ۴۲۵

رسامي ۴۸۵
رستخيز ۲۵۸
رسن ۲۵۹
رسوت بوتی ۱۲۰
رسی ۲۵۹، ۲۲۸
رضوان ۲۲۰
رفتن ۲۲۰
رفو کردن ۲۲۰
رقص کردن ۲۲۱
رکاب ۲۲۲
رکيبي ۳۵۰
رنجن کړی ۲۳۹
رنجوني ۲۹۷
رنگ ۴۴۷
رنگها ۲۲۲
رنگونه ۲۲۲
روبا ۲۲۲
روپی ۲۵۱، ۳۷۴
روپی مهر کول ۳۴۸
روح ۱۸۲
رود ۲۲۳
رودبار ۲۲۴
روده ۲۲۴
روزه داشتن ۲۲۵
روزها ۲۲۵
روژه نیول ۲۲۵
روستا ۲۲۵
روشنايي ۲۲۶
روشني ۲۲۶
روغن ۲۲۶
روغن زيتون ۲۸۴
روناس (يو رنگدارشي) ۲۲۷
روی ۲۲۷
ريچه ۴۲۴
ريحان ۲۲۸
ريسمان ۲۲۸
ريش ۲۲۸، ۲۷۰
ريم ۲۷۰
ريواس ۲۲۸
ريوند (د دستونو دوا) ۲۷۰
ريـــنبم ۸۹، ۱۲۹، ۲۰۰، ۲۱۴، ۳۸۰، ۲۵۰.
ريښمي کالي ۴۰۵
ريگ ۲۲۹
رگ کشادن ۲۲۱
رگها ۲۲۱
رگونه ۲۲۱
رنا ۲۲۲
رېږدېدل ۴۳۲

[ړ]

ړوند ۴۷۳

[ز]

زاغ ۲۷۱
زاکها ۲۷۱
زانو ۲۷۲
زانگو ۴۲۷
زاړه کالي ۴۱۹
زاني مرغه ۴۱۲
زباد ۲۷۲
زبان ۲۷۳
زبرجد (يوقيمتي کانی) ۲۷۳
زبور شريف ۲۷۴
زچر ۲۷۴
زخم ۲۷۴، ۲۷۰
زخمي کول ۲۱۵
زدن ۲۷۴
زر ۲۷۵
زردالو ۲۷۲
زردي ۲۷۲
زرشک (يوه ميوه) ۲۷۲
زرک ۱۲۸، ۳۹۳
زرکه ۲۲۷، ۳۹۳
زرنيخ ۲۷۲
زره ۲۷۲
زعفران ۲۷۷
زغـــره ۱۲۸، ۱۹۲، ۲۲۷، ۲۷۲
زغن ۲۷۷
زفت ۲۷۷
زکاة ۲۷۷
زکام ۲۷۸
زلابيه ۲۷۸
زلزله ۲۷۸
زلو ۲۷۲
زلوبي ۲۷۸
زمرد ۲۷۹
زمـروت (يـو قيمتـي شـين کانی) ۲۷۹
زمری ۱۲۴، ۳۴۱
زمستان ۲۷۹
زمکه ۲۷۹
زمين ۲۷۹
زمين سراب ۲۹۴
زميندار ۴۰۲

Maktaba Tul Ishaat.com

زن ۲۸۰
زنار ۲۸۱
زنان ۲۸۰
زنبور ۲۸۱
زنبیل ۲۸۱
زنجیر ۲۸۲
زنجیل ۲۸۱
زنخ ۲۸۲
زندان ۲۸۲
زنه ۲۸۲
زنخیر ۲۸۲
زنگ ۲۷۸
زنگار ۲۷۸
زنگله ۲۸۲
زنگون ۲۷۲
زنگي ۲۸۴
زهـــار (ترنامـــه لانـــدي دوربینستانو ځای) ۲۸۳
زهر ۲۸۳
زهر (تلخ) ۲۸۳
زوبین ۲۸۳
زوز ۱۹۴، ۲۰۴
زولني ۳۳۲
زومی ۹۸
زوی ۳۷۲
زیاتوالی ۳۷۳
زیاتی ۳۷۳
زیتون ۲۸۴
زیر ناف ۲۸۳
زیره ۲۸۴
زیره باج ۲۸۴
زیلو ۲۸۴
زین ۲۸۴
زینه ۴۸۱
زړه ۲۴۱

[ژ]

ژاله ۲۷۱
ژبه ۲۷۳
ژرنده ۸۱
ژرنده ګړي ۸۱
ژمی ۲۷۹
ژوره ۲۷۲
ژړوالی ۲۷۶
ژړل ۴۰۴، ۴۸۹

[ږ]

ږلي ۲۷۱
ږمونځ ۳۲۲
ږیره ۲۲۸

[س]

سابیان ۲۸۶
سابون ۳۴۳
سار (یو مرغه دی) ۲۸۵
ساز ږغول ۱۹۴
ساطور ۲۸۵
ساعد ۲۸۵
ساق ۲۸۵
سایه ۲۸۶
سایوان ۱۸۵
سبزه ۲۸۷، ۳۲۲
سبزي ۱۷۱، ۴۷۹، ۳۲۲
سبزي خرڅول ۱۴۰، ۱۷۱
سبل ۲۸۷
سبو ۲۸۷
سبوس ۲۸۸
سپایډر ۳۶۴
سپر ۲۸۶
سپرتیا کول ۳۰۵
سپرز ۲۸۶
سپرغم (یو قسم بوټی) ۳۸۹
سپوخسته ۲۸۳
سپوږمی ۴۴۳
سپی ۳۰۰
سپیداب ۲۸۸
سپیده مهره ۲۸۸
سپیرکی ۴۷۸
سپین زر ۴۸۵
سپین سري ۳۵۵
سپینه او توره دوا ۱۲۹
سپیني اوبه ۲۸۸
سپېدي ۳۴۴
ستاره ۲۸۸
ستارګاه ۲۸۸
سترخان ۲۲۱
سترګي ۱۸۷
ستن ۳۲۰
ستنه ۲۸۹
ستوان ۱۳۶
ستوري ۲۸۸
ستون ۲۸۹
سجاده ۲۹۰
سجده ۲۹۰
سختن ۲۹۰
سختي ۱۷۵

سخن ۲۹۱
سداب (یوه دوا) ۲۹۱
سر ۲۹۱
سر ګنجي کیدل ۴۱۵
سرا ۲۹۴
سرا پرده ۲۹۴
سرای ۲۹۴
سرب ۲۹۵
سرپ ۲۹۵
سرخاب مارغه ۱۹۰
سرخچه ۲۹۵
سرخي جامه ۲۹۵
سرفه ۲۹۵
سرکه ۲۹۵
سرلی ۴۲۸
سرما ۲۹۶
سرمه ۲۹۶
سرمه داني ۲۹۷
سرنج (یو ډول دارو) ۲۹۷
سره او زرغونه ۴۲۰
سره زر ۲۷۵
سره کالي ۲۹۵
سره ګردي ګلونه ۱۳۶
سرود ۲۹۷
سروز ۲۹۷
سرونها ۲۹۷
سریخ ۲۹۸
سریش ۲۹۸
سریشم (یو قسم سربښ چي د پوست څخه وزي) ۲۹۸
سرین ۲۹۸
سرینده ۱۲۶
سربښ ۲۹۵
سرګین ۲۹۶
سرګین ګردان ۲۹۶
سرې داني ۲۹۵
سزا ورکول ۱۹۹
سطل ۲۹۸
سعتر (یوه ګیاه) ۲۹۸
سفر ۲۹۸
سفوف (میده دوا) ۲۹۹
سقا ۲۹۹
سقمونیا ۲۹۹
سقنقور (دشګو ماهی) ۲۹۹
سکبا (یو ډول خوراک) ۳۰۰
سکنجبین (یو ډول شربت) ۳۰۰
سکوره ۳۰۰
سلاجیت ۴۷۰
سلاح ۳۰۱
سلام کردن ۳۰۱
سلام کول ۳۰۱
سلطان ۳۰۲
سلواغه ۲۴۹
سم (د حیوان د پښې هډوکی) ۳۰۳
سماروغ (یو ډول وانبه) ۳۰۲
سماق (یو ډول دوا) ۳۰۲
سمانه ۳۰۲
سمساره ۳۲۰
سمندر ۲۳۴
سمور (یو حیوان) ۳۰۲
سنان ۳۰۳
سنب ۳۰۳
سنبل (یو ډول وانبه) ۳۰۳
سنتول ۲۰۸
سنجاب (تر مړي غټ حیوان) ۳۰۳
سنجد ۳۰۴
سند ۳۷۷
سندان ۳۰۴
سنګ ۳۰۴
سنګخوره (یو مارغه) ۳۰۵
سنګره ۳۰۴
سهار ۳۴۴
سواري کردن ۳۰۵
سوان ۳۲۱
سوان ۴۴۵
سوراخ ۳۲۱
سورة ابراهیم ۳۰۷
سورة آل عمران ۳۰۵
سورة الاحزاب ۳۱۰
سورة الاحقاف ۳۱۱
سورة الاخلاص ۳۲۰
سورة الاعراف ۳۰۶
سورة الاعلی ۳۱۶
سورة الانشقاق ۳۱۶
سورة الانعام ۳۰۶
سورة الانفال ۳۰۶
سورة الانفطار ۳۱۶
سورة البروج ۳۱۶
سورة البقرة ۳۰۵
سورة البلد ۳۱۷
سورة البینة ۳۱۸
سورة التحریم ۳۱۴
سورة التغابن ۳۱۳

Maktaba Tul Ishaat.com

سورة التكاثر ٣١٨
سورة التكوير ٣١٦
سورة التوبه ٣٠٦
سورة التين ٣١٧
سورة الجاثية ٣١١
سورة الجمعة ٣١٣
سورة الجن ٣١٨
سورة الحاقة ٣١٤
سورة الحج ٣٠٨
سورة الحجر ٣٠٧
سورة الحجرات ٣١٢
سورة الحديد ٣١٣
سورة الحشر ٣١٣
سورة الدخان ٣١١
سورة الدهر ٣١٥
سورة الذاريات ٣١٢
سورة الرحمن ٣١٢
سورة الرعد ٣٠٧
سورة الروم ٣٠٩
سورة الزخرف ٣١١
سورة الزلزلة ٣١٨
سورة الزمر ٣١٠
سورة السجدة ٣٠٩
سورة الشمس ٣١٧
سورة الصف ٣١٣
سورة الصٰفّٰت ٣١٠
سورة الضحى ٣١٧
سورة الطارق ٣١٦
سورة الطلاق ٣١٤
سورة الطور ٣١٢
سورة العصر ٣١٨
سورة العلق ٣١٧
سورة العنكبوت ٣٠٩
سورة الغاشية ٣١٦
سورة الفاتحه ٣٠٥
سورة الفاطر ٣١٠
سورة الفتح ٣١١
سورة الفجر ٣١٧
سورة الفرقان ٣٠٨
سورة الفلق ٣٢٠
سورة الفيل ٣١٩
سورة القدر ٣١٨
سورة القريش ٣١٩
سورة القصص ٣٠٩
سورة القلم ٣١٤
سورة القمر ٣١٢
سورة القيامة ٣١٥
سورة الكافرون ٣١٩
سورة الكهف ٣٠٨
سورة الكوثر ٣١٩
سورة الليل ٣١٧
سورة الم نشرح ٣١٧
سورة المائدة ٣٠٦
سورة الماعون ٣١٩
سورة المجادلة ٣١٣
سورة المرسلات ٣١٥
سورة المزمل ٣١٥
سورة المطففين ٣١٦
سورة المعارج ٣١٤
سورة الملک ٣١٤
سورة الممتحنة ٣١٣
سورة المومنون ٣٠٨
سورة النازعات ٣١٥
سورة الناس ٣٢٠
سورة النجم ٣١٢
سورة النحل ٣٠٧
سورة النصر ٣١٩
سورة النمل ٣٠٩
سورة النور ٣٠٩
سورة الهمزة ٣١٨
سورة الواقعه ٣١٢
سورة بني اسرائيل ٣٠٧
سورة تبت ٣١٩
سورة حم عسق ٣١١
سورة ص ٣١٠
سورة طٰهٰ ٣٠٨
سورة عبس ٣١٥
سورة فصلت ٣١١
سورة ق ٣١٢
سورة مدثر ٣١٥
سورة مريم ٣٠٨
سورة مومن ٣١٠
سورة نوح ٣١٤
سورة هود ٣٠٧
سورة يٰس ٣١٠
سورة يوسف ٣٠٧
سورة يونس ٣٠٦
سوره العاديت ٣١٨
سورى ٣٢١
سوزن ٣٢٠
سوسمار ٣٢٠
سوسن ٣٢٠
سوند ٢٨١
سوهان ٣٢١
سوى ٢١٢
سوتي ٢٩٢

سوگند ۳۲۱
السي دوا ۳۹۴
سياهي ۱۹۷، ۴۴۷
سيب ۳۲۲
سيپي ۳۴۵
سير ۳۲۲
سيري ۳۲۲
سيكي ۳۲۲
سيل ۳۲۳
سيلاب ۳۲۳
سيماب ۳۲۳
سيمرغ ۳۲۴
سينه ۳۲۴
سينه بند ۱۳۷
سړوبی ۲۸۷
سړي ۳۳۰
سګ ۳۰۰

[ش]

شا ۱۳۷
شات ۱۰۳، ۳۳۷
شاخ ۳۲۶، ۳۸۲
شادروان ۳۲۵
شادو ۱۵۱
شادي ۳۲۵
شال ۳۵۳
شانه ۳۲۶
شانه (بنی آدم) ۳۲۶
شاه اسپرغم (یو بوټي) ۳۲۷
شاه بلوط (درخته) ۳۳۶
شاه رود (یو قسم باجه) ۳۲۷
شاهدي ۳۳۶
شاهين ۳۲۷
شب ۳۲۷
شب بازي كردن ۳۲۸
شب برګ (یو ډول بوټی) ۳۲۸
شب يماني ۳۲۷
شبان ۳۲۷
شبه ۳۲۸
شپانه ۳۲۷
شپش ۳۲۸
شپشه ۳۲۸
شپلی ۴۷۶
شپه ۳۲۷
شپيلی وهل ۴۷۸
شپږي ۳۲۸
شتافتن ۳۲۹
شتالنګ ۳۲۹
شراب ۳۲۲، ۳۲۹، ۴۸۰
شرابي مجلس ۴۴۶
شرابي (یو ډول لوبنی) ۳۲۹
شربت ۳۲۹
شرعي حاكم ۳۷۶
شرم ۳۲۹
شرمښان ۲۲۷
شرمګاه ۳۷۱، ۳۲۴
شستن ۳۳۰
شش ۳۳۰
شطرنج ۳۳۰
شطرنج كول ۴۸۱
شعر ۳۳۰
شغال ۳۳۱
شفتالو ۳۳۱
شكار ۳۳۱
شكر ۳۳۱
شكر كول ۳۳۱
شكر ګزاردن ۳۳۱
شكري ۳۳۱
شكستن ۳۳۲
شكل ۳۴۷
شكم ۳۳۲
شكنبه ۳۳۲
شكنجه ۳۳۲
شكون ۲۰۴
شل شدن ۳۳۳
شل كيدل ۳۳۳
شلغم ۳۳۳
شلوار ۳۳۳
شلوار بند ۳۳۳
شلومبي ۱۷۱، ۲۴۸
شمار ۳۵۵
شمار كردن ۳۳۴
شمشتي ۴۰۹، ۴۹۳
شمشير ۳۳۴
شمع ۳۳۴
شميرل ۳۳۴
شمېر ۳۵۵
شناوري كردن ۳۳۶
شنګرف (دپاري او ګوګړو مركب) ۳۳۶
شهادت دادن ۳۳۶
شهتوت ۱۷۷
شهد ۱۰۳، ۳۳۷
شهر ۳۳۷
شهرستان ۳۳۷

Maktaba Tul Ishaat.com

شهرهایي مفردین ۳۳۸
شوربا ۳۳۹
شونیز ۳۳۹
شونډ ۲۸۱
شونډان ۴۳۲
شونډي ۴۳۲
شیان ښوربډل ۴۳۷
شیدي ۳۴۰
شیر ۳۴۰
شیر ۳۴۱
شیر خشت (قبض ماتونکی دوا) ۳۴۲
شیراز ۳۳۹
شیره ۲۵۷، ۳۴۰، ۴۲۵
شیریني ها ۳۴۱
شیشه ۸۲، ۳۴۲
شیطان ۸۹، ۲۵۲
شیطرج (یو ډول دوا) ۳۴۲
شین ګیاه ۲۸۷، ۳۲۲
شینکی ۳۲۲
شړی ۴۳۲
شګلنه مځکه ۲۹۴
شګه ۲۲۹
شګوفه درختان ۳۳۲

[ښ]

ښاپیرۍ ۱۳۱
ښاخ ۳۲۲، ۳۸۲
ښادي ۳۲۵
ښار ۳۳۷
ښام ۳۸۰
ښکار ۳۳۱، ۴۸۰
ښکر ۲۹۷
ښکر لګول ۱۹۹
ښکر ډغول ۱۵۲
ښکلول ۱۵۲
ښکنځل ۲۴۰
ښوروا ۳۸۳، ۳۳۹
ښوربډل ۴۳۲
ښوونکی ۴۲۱
ښیښه ۷۱، ۳۴۲
ښځه ۲۸۰
ښځینه عورت ۳۷۱

[ص]

صابون ۳۴۳
صاروج ۳۴۳
صاعقه ۳۴۳
صبح ۳۴۴
صبر ایلوا (یو ډول دوا) ۳۴۴
صحبت ۳۴۴
صحرا ۳۴۴
صحف ۳۴۴
صحیفه ۳۴۵
صحیفې ۳۴۴
صدف ۳۴۵
صدقه ۳۴۵
صراط ۳۴۵
صراف ۳۴۳
صرافي ۳۴۳
صرافي کردن ۳۴۳
صریخ ۲۹۸
صفه ۳۴۲
صلح کول ۸۱
صلوة او سلام ۳۴۲
صلیب ۳۴۲
صمغ ۳۴۲
صنج (یو ډول تماشه) ۳۴۷
صندل (خوشبوداره دوا) ۳۴۷
صندوق ۳۴۷
صورت ۳۴۷
صوف ۳۴۷
صیقل ۳۴۸
صیني ۳۴۸

[ض]

ضرابي ۳۴۸
ضعیف ۳۴۸
ضیاع ۳۴۹

[ط]

طابع ۳۴۹
طاس ۳۴۹
طاعت ۳۵۵
طاعون ۳۵۰
طاقتور ۴۸۹
طاوس ۳۵۰
طباخ ۳۵۰
طباق ۳۵۰
طبل ۳۵۱
طبله ۱۲۲
طبیب ۱۲۰، ۳۵۱
طشت ۱۷۳، ۳۴۹
طعام ۳۵۱

طعن ۳۵۱
طلاق ۳۵۱
طلع ۳۵۲
طلق ابرک ۳۵۲
طنبور ۳۵۲
طوطي ۳۵۲
طوق ۳۵۳
طیلسان ۳۵۳

[ظ]

ظالم ۳۵۳
ظلم ۳۵۳
ظلمات ۳۵۴

[ع]

عاج ۳۵۴
عاریت کردن ۳۵۴
عاشق ۳۵۴
عاشوره ۳۲۵
عالم ۳۵۴
عامل ۴۲۵
عبادت ۳۵۴
عجوزه ۳۵۴
عدد ۳۵۴
عدد ۳۵۷
عر عر ۳۵۸
عراوه (دکلا نیولو آله) ۳۵۸
عرش ۳۵۸
عرق ۳۵۸
عروسي ۳۵۸
عزل ۳۵۹
عسس ۳۵۹
عسل ۳۳۷
عصار ۳۵۹
عصاء ۳۵۹
عصیده (یو ډول حلوا) ۳۶۰
عطا ۳۶۰
عطار ۳۶۱
عطر ۳۶۰
عطر خرڅونکي ۳۶۱
عطسه ۳۶۱
عقرب ۴۰۵
عقل ۳۶۱
عقیق (قیمتي کانی) ۳۶۲
عکس ۱۵۹
عکسونه ۱۷۵
علک ۳۶۲
علم ۳۶۲
علمي مجلس ۴۴۲
عمارت ۳۶۲
عماري ۳۶۳
عمود ۳۶۳
عناب ۳۶۳
عنبر (خوشبویي) ۳۶۳
عنقا (یو ډول ساز) ۳۶۳
عنکبوت ۳۶۴
عود (یو ډول خوشبو لرونکی لرګي) ۳۶۴
عود سوز ۳۶۴
عورت ۳۶۴
عید ۳۶۴
عیسائي ۱۷۰

[غ]

غائطه ۲۹۶
غاتره ۹۴
غار ۳۲۵، ۴۸۲
غارت ۳۲۵
غالب ۳۷۶
غالب کېدل ۳۲۸
غالیه (خوشبودار پوډر) ۳۲۵
غالی ۲۸۴، ۳۷۶
غایب ۳۲۶
غاړه بند ۳۹۸
غابنونه ۲۴۳
غبار ۳۲۶
غچي ۴۷۴
غچي ۴۲۱
غر ۴۳۳
غربال ۳۲۶
غرق شدن ۳۲۶
غرقیدل ۳۲۶
غریز کارغه ۴۱۳
غزا کردن ۳۲۷
غزا کول ۳۲۷
غزلچي ۴۲۰
غزلي ۲۹۷
غسل خانه ۴۰۲
غسل کردن ۳۲۷
غسل کول ۳۲۷
غشي ۱۷۷
غصه کول ۲۱۵
غل ۲۳۶

Maktaba Tul Ishaat.com

غل (د اوسپني طوق) ۳۲۸
غلا کول ۲۳۲
غلاف شمشیر ۳۲۸
غلام ۱۴۲
غلام ۳۲۸
غلبه کردن ۳۲۸
غلبیل ۳۲۲
غم ۳۲۸
غمی ۴۲۷
غنم ۴۲۳
غنیمت ۳۲۹
غوا ۳۹۰
غواص ۳۲۹
غوره ۳۲۹
غوز ۴۲۷
غوشیان ۲۹۲
غوماشه ۱۳۹
غونډسکي کول ۱۹۲
غونډۍ ۱۳۸
غویي ۳۹۰
غوټه ورکول ۴۰۳
غوټۍ ۳۳۲
غوړي ۲۲۲
غوږ ۴۳۲
غوږوالي ۴۳۲
غوښه ۴۲۹
غټ دیګ ۴۴۱
غټ کوټ ۱۸۴
غټ مار ۹۱
غټه تالۍ ۱۷۳
غټه ډبله کپړه ۱۴۱
غټه ۳۲۴
غږ ایستل ۴۰۲

[ف]

فاخته ۳۲۹
فال نیول ۳۷۰
فال ګرفتن ۳۷۰
فالوده ۳۷۰
فام ۳۷۰
فانوس ۳۸۴
فتنه ۳۷۰
فرعون ۳۷۲
فراخي ۳۷۰
فراش ۳۷۱
فرج ۳۷۱
فرجي (یو قسم کالي) ۳۷۲
فرزند ۳۷۲
فرش ۱۳۴
فرش غوړولو والا ۳۷۱
فرمان ۴۲۲
فرمان ورکول ۳۷۲
فرمودن ۳۷۲
فروختن ۳۷۳
فرود آمدن ۳۷۳
فروټ ۴۷۳
فزوني ۳۷۳
فستق ۳۷۳
فقاع خوردن ۳۷۴
فقیري ۲۳۴
فقیه ۳۷۴
فکر کول ۴۱۵
فلاخن ۳۷۴
فلوس ۳۷۴
فندق (یو قسم میوه) ۳۷۴
فنک (یو ډول حیوان) ۳۷۴
فواق ۳۷۵
فوج ۴۳۷
فوده ۳۷۵
فوطه ۳۷۵
فیروزه ۱۵۲
فیل ۱۵۹

[ق]

قاضي ۳۷۲
قافله ۳۸۷، ۳۷۲
قالب ۳۷۲
قالین ۳۷۲
قبا ۳۷۷
قباله ۳۷۷
قبان ۳۷۸
قبر ۴۲۲
قبرستان ۴۲۲
قبه ۳۷۸
قبیله ۳۷۸
قتلول ۴۰۸
قدح ۳۷۸
قدیه ۳۷۸
قرابه ۳۸۰
قران خواندن ۳۷۸
قرانکریم ویل ۳۷۸
قرآن شریف ۴۵۹
قرباني کردن ۳۷۹
قرباني کول ۳۷۹
قرنفل ۳۸۰
قز ۳۸۰

قسط ۳۸۱
قسم ۳۲۱
قسمت کردن ۳۸۱
قصاب ۳۸۱
قصه خواني کول ۳۸۱
قصه ویل ۳۸۱
قصه گفتن ۳۸۱
قضیب ۳۸۲
قطایف ۳۸۲
قطران ۳۸۲
قفا ۳۸۲
قفس ۳۸۲
قفل ۳۸۳
قلعه ۲۳۲، ۳۸۳
قلعي ۲۹۵
قلف ۳۸۳
قلم ۲۰۵، ۳۸۳
قلیه ۳۸۳
قمح ۳۸۴
قمیص ۱۵۴
قند ۳۸۴
قندیل ۳۸۴
قنوت ۳۸۴
قنینه ۳۸۴
قواله ۳۷۷
قوس قزح ۴۲۰
قی کردن ۳۸۵
قي وهل ۳۸۵
قیامت ۳۸۵، ۲۵۸
قید خانه ۲۸۲
قید کول ۱۲۴
قیر ۳۸۵

[ک]

کاچي (یو خوراک) ۳۸۵
کار دنیا کردن ۳۸۷
کار زار کردن ۳۸۲
کارد ۳۸۲
کارغه ۲۷۱
کاروان ۳۸۷
کاریز ۳۸۷
کاسني (یوهندي بوتی) ۴۰۲
کاسه ۳۸۸
کاغذ ۳۴۵، ۳۸۸
کافر ۳۸۹
کافور ۳۸۸، ۳۸۹
کاکیره بوتي ۴۳۴
کالي ۱۷۹، ۴۳۵
کالي خرڅونکی ۱۳۲
کام ۳۸۹
کامه ۳۸۹
کامیابېدل ۳۲۸
کاهو ۳۹۰
کاړه ۲۵۵
کانی ۳۰۴
کب ۴۴۵
کباب ۱۳۲
کبر (حیوان آبی) ۲۰۹
کبر (یو بوتي) ۳۹۲
کبک ۳۹۳
کبوتر ۳۹۳
کتاب خواندن ۳۹۴
کتاب ویل ۳۹۴
کتان ۳۹۴
کتف ۳۹۴
کته ۲۸۴
کته د حیوان ۱۱۸
کتیرا ۳۹۵
کجاوه ۳۲۳
کجور ۲۱۲
کحال ۳۹۵
کداله ۱۲۰
کدو ۳۹۲
کرباسو ۳۹۲
کرته ۳۹۷
کرتی ۳۹۷
کرخي ۱۱۷
کرسی ۴۰۰
کرفس (یو ډول دوا) ۴۰۰
کرک ۴۰۰
کرمان ۴۰۲
کره کتونکی ۴۸۴
کروبه (یو ډول تخم) ۴۰۳
کروهه (یو قسم لینده) ۴۲۰
کری ۴۰۴
کزا کند ۴۰۵
کژدم ۴۰۵
کژدم خوره ۴۰۲
کسب ۱۵۷
کستوري ۲۷۲
کشت زار ۴۰۷
کشت ورز ۴۰۲
کشتن ۴۰۸
کشتي ۴۰۸
کشتي کول ۴۰۲
کشتي ګرفتن ۴۰۲

Maktaba Tul Ishaat.com

کشف ۴۰۹
کشکاب ۴۱۰
کشمالو ۲۶۸
کشمش ۴۱۰
کشنیز ۴۱۰
کعب ۴۱۱
کعبه شریفه ۴۱۱
کف ۴۱۲
کف دریا ۴۱۲
کفتار ۴۱۱
کفچه ۴۱۱
کفچه اتش ۴۱۲
کفش ۴۱۲
کفن ۴۱۳
کفن چور ۴۷۹
کفن کښ ۴۷۹
کفن مرده ۴۵۲
کل شدن ۴۱۵
کلا ۲۰۰، ۴۱۳
کلازه (یو ډول مرغه) ۴۱۳
کلاغ ۴۱۳
کلایي ۸۹، ۲۹۵
کلبتین ۴۱۲
کلم (یو ډول سبزي) ۴۱۲
کلنګ ۴۱۲
کلونجي ۳۳۹
کلی ۲۵۱
کلي ۴۱۷
کلیبند ۴۱۸
کلیجه ۴۱۷
کلید ۴۱۷
کلیدان ۴۱۸
کلیسا ۴۱۸
کمان ۴۱۹، ۴۲۰
کمان ۴۲۰
کمانه ۴۲۰
کمر بند ۴۲۱
کمزوري ۳۴۸
کمند ۴۲۱
کناره ۴۲۲
کنجد ۴۲۲
کنجکه ۲۸۸، ۴۲۷
کنجي ۴۱۷
کند ۴۱۹
کندر (یو قسم خواړه) ۴۲۳
کندر (یو ډول دوا) ۳۲۲
کندش ۴۲۳
کنده ۴۲۷
کندوا ۴۲۳
کنشت ۴۲۴
کنه ۴۲۴
کنیزک ۴۲۵
کنیست ۴۲۴
کنډ ۴۹۵
کنډر ۴۹۵
کنډوري ۳۴۶
کنګر (دغره یو بوټی) ۴۲۴
کهانسي ۲۹۵
کهربا ۴۲۵
کوپره ۴۲۷
کوتره ۳۹۳، ۴۹۳
کوچنی ۴۳۲
کوچنی مریی ۳۲۸
کوچني نیزه ۱۹۹
کوچنی ګونګی ۱۹۰
کوچه ۴۳۴
کوچي ۴۵۸
کودک ۴۳۲
کور ۲۰۶
کور ۲۹۴
کور کمان ۴۴۲
کور والي کول ۱۹۱
کوربچه ۳۲۵
کوزه ۸۳، ۱۴۱، ۴۲۸
کوشک ۴۳۲
کولمي ۲۶۴
کوناټي ۲۹۸
کوني (خزنده) ۳۲۸
کوني (کوچني شپږه) ۴۲۴
کوني چانچر (حیوان) ۴۱۱
کونځلي ۴۲۲
کونډوري ۳۴۶
کوه ۴۳۳
کوټه معلومونکی ۴۸۴
کوټوال ۳۵۹
کوخه ۴۳۴
کوړئ د مړي ۱۸۷
کوړه ۱۲۵
کوړ کیدل ۴۰۴
کیلي ۴۱۷
کډو ۳۹۶
کړی ۴۹۸
کښت ۴۰۷
کښته راتلل ۳۷۳
کښته کېدل ۳۷۳
کښتګر ۴۰۶

کښتګري ۴۰۲
کښتۍ ۴۰۸
کښښتل ۴۸۳
کپلا ۴۲۸
کپله ۴۲۸

[ګ]

ګاجره ۴۰۲
ګازري کردن ۳۸۲
ګانړه کول ۴۰۳
ګاو ۳۹۰
ګاو چشم (یو ډول وانبه) ۳۹۲
ګاو دشتي ۳۹۱
ګاو زبان (یو ډول دوا) ۳۹۲
ګاورس ۳۹۰
ګاومیش ۳۹۲
ګاډۍ ۳۹۹
ګبر شدن ۳۹۲
ګبین ۳۳۷، ۴۰۴
ګچ ۳۹۵
ګدایي کردن ۳۹۵
ګربه ۳۹۲
ګرجه ۴۱۸
ګرد ۳۲۲
ګرد ۳۹۷
ګردن ۳۹۷
ګردن بند ۳۹۸
ګردن زدن ۳۹۸
ګرده ۳۹۹
ګردون ۳۹۹
ګرز ۴۰۲
ګرز ۳۸۴
ګرز (یو ډول اسلحه) ۳۲۳
ګرسنګي ۳۹۹
ګرمابه ۴۰۲
ګرمکي ۳۹۲
ګره افګندن ۴۰۳
ګرو کردن ۴۰۳
ګرو ورکول ۴۰۳
ګریختن ۴۰۳
ګریستن ۴۰۴
ګرګ ۴۰۱
ګرګس ۴۰۱
ګز ۴۱۴
ګزیدن ۴۰۲
ګژ ۴۰۴
ګشنیز ۴۱۰
ګل ۴۱۵
ګل خوردن ۴۱۵
ګل خیرو ۲۱۷
ګل شکر ۴۱۵
ګل قند ۴۱۵
ګل ګلاب ۴۱۳
ګلاب ۴۱۳
ګلنار ۴۱۲
ګلو مري ۴۱۷
ګلوبند ۳۹۸
ګلی ۱۷۴
ګلیم ۴۱۹
ګلۍ ۴۳۴
ګم شدن ۴۲۱
ګمونځ ۳۲۲
ګناه ۴۲۲
ګنبد ۳۷۸
ګنبده ۴۲۲
ګنج ۴۲۲
ګندم ۴۲۳
ګندنا ۴۲۳
ګنده ۴۲۲
ګندګي ۲۹۲
ګنی ۴۹۰
ګنډل ۲۲۰
ګنګرو ۲۸۲
ګنګی ۴۲۴
ګوارش ۴۲۵
ګوال ۴۲۵
ګواهي ۳۳۲
ګوتمۍ ۱۰۴، ۴۸۵
ګوتي ۱۰۴
ګودیها ۴۲۵
ګور ۴۲۲
ګورستان ۴۲۲
ګوز ۴۲۷
ګوز هندي ۴۲۷
ګوزبویا ۴۲۷
ګوساله ۴۲۸
ګوسفند ۴۲۸
ګوش ۴۳۲
ګوشت ۴۲۹
ګوشت پخته ۳۹۲
ګوشوار ۴۳۲
ګوله ۴۳۸
ګون ۲۹۸
ګوند ۳۹۵
ګونګی ۹۹، ۱۵۳

Maktaba Tul Ishaat.com

گونګي توب ۴۲۴
گونګټ ۲۹۶
گونۍ ۴۲۵
گوهر ۴۳۴
گويي زمين ۴۲۷
گوډ کيدل ۴۴۰
گوډی ۱۳۰
گوړه ۳۸۴
گوګرد ۴۳۲
گوګړ ۴۳۲
گياه ۳۸۹
گيدړ ۳۳۱
گيدړه ۲۲۲
گيتي ۳۲۹
گډ ۲۴۲
ګګوشتو ۳۲۹

[ل]

لاره ۲۵۲
لاس ۲۳۷
لاستی دچړي وغيره ۲۴۰
لاک ۴۳۹
لال ۴۳۷
لامبل ۳۲۷
لامبو وهونکی ۳۲۹
لاړ ۳۵۳
لباچه ۴۳۵
لباس ۴۳۵
لبها ۴۳۲
لتي وهل ۴۳۹
لحاف ۴۳۲
لحد ۴۲۲
لرزيدن ۴۳۲
لرزيدن چيزها ۴۳۷
لری ۳۳۲
لرګی ۱۹۵
لرګي تراشل ۲۳۴
لسمه د محرم ۳۲۵
لشکر ۴۳۷
لعل ۴۳۷
لعوق ۴۳۸
لفاح الشمامه ۴۳۸
لقلق (يو ډول مرغه) ۴۳۸
لقمه ۴۳۸
لقوه (يو ډول ناجوړي) ۴۳۸
لک ۴۳۹
لکد زدن ۴۳۹
لکۍ ۲۴۲
لمبډل ۳۳۲، ۳۲۷
لمبډونکی ۳۲۹
لمر ۸۲
لمسي ۴۸۸
لمونځ ۴۸۲
لنګ شدن ۴۴۰
لنګ ۹۰
لنګوټه ۲۳۷
لنګړي ۴۹۵
لوبيا ۱۱۷، ۴۳۹
لوپټه ۴۲۱
لوح محفوظ ۴۳۹
لور ۲۲۲
لور (د ريبلو آله) ۲۲۵
لوزينه ۴۴۰
لومړه ۲۲۲
لونګ ۳۸۰
لويد ۴۴۱
لويه پرده ۲۹۴
لويي بولي ۷۰
لوټ ۱۶۴
لوټمار ۳۲۵
لوټه ۴۴۲
لوړه ۳۹۹
لوډيځ ۴۵۸
ليکل ۴۹۰
ليکوال ۴۷۹
ليکوونکی ۴۷۹
ليمبو ۱۷۰، ۴۴۱
ليمون ۴۴۱
لينده ۱۴۰، ۴۱۹
ليو کول ۳۴۳
ليونتوب ۲۵۳
ليوه ۲۱۱، ۴۰۱، ۵۰۲
لځيدل ۱۲۹
لړزيدل ۴۳۲
لړم ۴۰۵
لړم خوړونکی حيوان ۴۰۲
لښکر ۴۳۷
لګام ۴۳۹

[م]

ماتول ۳۳۲
مار ۴۴۱
مار چوبه ۴۴۲
مار قشيشا (دوا) ۴۴۲
مازو (يو ډول دوا) ۴۴۲
ماست ۴۴۲

ماش ۴۴۳
ماشوم ۴۳۲
ماکیان ۴۴۳
مال چاته بخښل ۱۲۵
مالوچ ۱۴۳
مالګه ۴۸۸
مالګین ۴۸۸
مامیثا (یو ډول بوټی) ۴۴۳
مامیرا (د سترګو دوا) ۴۴۳
ماه ۴۴۳
ماهی ۴۴۵
ماهي خوره ډیک ۴۴۵
ماتې ۲۱۹، ۲۸۷
مانې ۴۳۲
مبتلا شدن ۴۶۱
مبرد ۴۴۵
مثقبه ۴۴۶
مجامعت کردن بامرده ۴۵۲
مجره ۴۴۶
مجلس شراب ۴۴۶
مجلس علم ۴۴۶
مجمره ۴۴۶
مچ ۴۶۳
مچغوزه ۳۷۴
مچغونه ۳۷۴
مچلوغه ۴۶۵
مچه ۱۵۲
محراب ۴۴۷
محل ۴۳۲
مخ ۲۵۸، ۲۶۷، ۳۴۷
مخ او لاس پریولل ۲۳۹
مخکي کیدل ۱۵۷
مخنث ۴۴۷
مداد ۴۴۷
مذکر ۴۴۷
مذي ۴۴۸
مر غابي ۴۵۳
مر غزار ۴۵۴
مرجان ۴۴۸
مرد معروف ۴۴۸
مردار سنګ ۴۴۸
مردمان ۴۵۴
مردن درخواب ۴۴۸
مرده چیزي دادن ۴۵۱
مرده زنده شدن ۴۴۹
مرده نالیدن ۴۵۱
مرغ ۴۵۳
مُرغ ۳۰۴
مرغ آبی ۴۵۳
مرغان ۴۵۳
مرغړي ۳۶۳
مرغني ۳۶۳
مرغۍ ۱۲۹، ۱۴۳
مرهم ۴۵۵
مروارید ۴۵۵
مرۍ خفه کول ۲۰۸
مزدور ۲۰۲
مزدوران ۴۵۶
مزدورها ۴۵۷
مژګان ۴۵۶
مس ۴۵۷
مستي ۴۵۷
مستې ۳۳۹، ۴۴۳
مسجد ۴۵۷
مسح ۴۵۸
مسکه ۴۵۸
مسلمان شدن ۴۶۳
مسلمانیدل ۴۶۳
مسمار ۴۶۳
مسواک ۴۵۸
مسور ۳۵۷
مشرق ۴۵۸
مشرک شدن ۴۵۹
مشرک کیدل ۴۵۹
مشک ۲۲۳، ۴۵۹
مشک آب ۴۵۹
مشکي ۲۹۹
مشکیزه ۲۹۹
مشهور سړی ۴۴۸
مشوکه ۴۶۲
مصالحه داره چکني ۲۸۴
مصحف ۴۵۹
مصوري ۴۸۵
مطبوخ ۴۶۰
مطرب ۴۶۰
مطهره ۴۴۶
معجون ۴۶۰
معده ۳۳۲، ۴۶۰
معزول شدن ۴۶۰
معزول کیدل ۳۵۹، ۴۶۰
معصفر (یوګل دي) ۴۶۱
معصوم ۴۳۲
معطلګي (یو ډول دوا) ۴۶۰
معلم ۴۶۱
مغرب ۴۵۸
مغز ۴۶۱

Maktaba Tul Ishaat.com

مقراض ۴۲۱
مقعد ۴۲۱
مقنعه ۴۲۱
مکه مکرمه ۴۲۳
ملا ۱۳۷
ملا چرگک ۴۹۵
ملخ ۴۲۳
ملغلري ۱۹۷، ۴۳۴، ۴۵۵
ملغړي
ملهم ۴۵۵
ملګرتيا ۳۴۴
منادي ۴۲۳
مناره ۴۲۳
منبر ۴۲۴
منتر ۹۹
منجم ۴۲۵
منجنيق ۴۲۵
منديل ۴۲۵
منشور ۴۲۶
منشي توب ۲۲۶
منقاره ۴۲۶
مني ۴۲۶
منګی ۲۱۹، ۲۸۷
مهد ۴۲۷
مهر ۳۴۹، ۴۲۷
مهره ۴۲۷
مهمان ۴۲۷
مورچه ۴۲۸
مورو ۴۲۸
موز ۴۲۸
موزه ۴۲۸
موزيک ۲۹۷
موش ۴۲۹
مولی ۱۲۹
موم ۴۷۰
مومیايي ۴۷۰
موی ۴۷۰
موټر ۳۹۹
مورنس ۳۲۲
می پخته ۴۷۱
مياشت ۴۴۳
ميچن ۲۳۷
ميخ ۴۲۳، ۴۷۲
ميدان ۱۵۴
ميزان ۱۲۸
ميش ۴۷۲
ميلمه ۴۲۷
مينځه ۴۲۵
ميوه ۴۷۳
ميړي ۴۲۸
متايانی ۳۴۱
متی ۱۱۴
مځکه ۲۷۹
مړکول ۴۰۸
مړز ۳۰۲
مړشی ۹۹
مړوند ۲۸۵
مړ ۴۲۸
مړه ۴۲۹
منبوکه ۴۲۲
مګرمچ ۴۸۹
مګس ۴۲۳
مګس انګبين ۴۲۳
مېړه ۴۲۸، ۳۹۲

[ن]

نابينا ۴۷۳
ناجوړي ۱۲۰
ناخن ۴۷۴
ناخن پرا ۴۷۴
نار مشک (يو بوټی) ۴۷۵
نارنج ۴۷۵
ناريا (يو ډول سبزي) ۴۷۵
ناطف (يو قسم حلوا) ۴۷۵
ناف ۴۷۶
ناقوس ۴۷۶
نالي ۳۲۵
نام ګردانيدن ۴۷۶
نامه ۴۷۶
نانخوا ۴۷۸
نانها ۴۷۷
ناودان ۴۷۸
ناوه ۴۷۸
نايي زدن ۴۷۸
ناړي ۲۲۳
نبات جلاب ۴۷۹
نباتات ۴۹۰
نباش ۴۹۰
نبشتن ۴۹۰
نبيذ ۴۸۱
نجومي ۴۲۵
نخاسي ۴۸۰
نخچير ۴۸۰
نخود ۴۸۱
نداف ۲۰۱
نر چرگ ۲۱۴

نر ښځی ۴۴۷
نرد باختن ۴۸۱
نرد بان ۴۸۱
نرګس ۴۸۱
نزله ۲۷۸
نژم ۴۸۲
نس ۳۳۲
نسرین ۴۸۲
نسک ۳۵۷
نسوت ۱۲۹
نشاسته ۴۸۲
نشستن ۴۸۳
نصیحت کول ۱۴۵
نصیحت کوونکی ۴۴۷
نعل ۴۸۳
نعلین ۴۸۳
نعناع ۴۸۴
نغاره ۳۵۲
نغاره وهل ۲۴۱
نغری ۷۲، ۲۵۰
نغم ۴۸۲
نفت ۴۸۴
نفرت کول ۴۸۴
نفرین ۴۸۴
نقاد ۴۸۴
نقاشي ۴۸۵
نقد کوونکی ۴۸۴
نقدي ۳۷۴
نقره ۴۸۵
نقش ۳۷۰
نقش کول ۴۸۵
نقصان ۴۸۵
نکاح کول ۱۷۲
نکریزي ۲۰۲
نکریزي لګول ۲۱۲
نماز ۴۹۴، ۴۸۲
نمد ۴۸۸
نمک ۴۸۸
نمک سود ۴۸۸
ننګي ۲۴۲
نهنګ ۴۸۹
نَو ۲۷۰
نوحه کردن ۴۸۹
نودیدین ۴۸۹
نوشادر (یو ډول دوا) ۴۸۹
نوکان ۴۷۴
نولي ۳۹۲
نولي ۳۹۲
نوم ۴۷۲
نوم بدلول ۴۷۲
نوی شی لیدل ۴۸۹
نویسنده ۴۷۹
نیازبو (یو بوټي) ۳۲۷
نیرو مند ۴۸۹
نیزه ۲۸۳، ۳۰۳، ۴۸۹
نیزه وهل ۳۵۱
نیشکر ۴۹۰
نیکو کردن ۴۹۰
نیکي کول ۴۹۰
نیل (د کالو رنګ) ۴۹۰
نیلوفر (یو ډول ګل) ۴۹۱
نځا کول ۲۲۱
نښان ۳۲۲
نښتیځل ۳۵۹
نګار ګري ۴۸۵
نګین ۴۸۵

[هـ]

هاؤس ۲۹۴
هار ۳۵۳
هاون دسته ۴۹۵
هارِ ۳۵۳
هباء ۴۹۵
هد هد ۴۹۵
هدیه ۴۹۲
هرتال ۲۷۲
هریسه (یو ډول خوراک) ۴۹۲
هریړه ۴۹۷
هزار داستان ۴۹۲
هلیله ۴۹۷
هُما (یو ډول مرغه) ۴۹۷
هنجه ۲۰۱
هنر ۱۵۷
هوا ۱۱۰، ۴۹۷
هوام (د ځمکي حشرات او چینجي) ۴۹۸
هوسی ۸۵
هیجړا ۴۴۷
هیزم (د سوزولو خشاک) ۴۹۸
هیضه ۱۲۸
هیلی ۱۳۹
هیټر ۴۴۲
هډوکي ۹۵

Maktaba Tul Ishaat.com

[و]

واده کول ۳۵۸
واري ۴۹۴
وازګه ۱۲۲
واشه ۴۹۱
واله ۲۲۳
والي ۴۹۱
واوره ۱۲۸، ۵۰۰
وانبکی ۲۵۸
وانبه ۳۸۹
واګه ۳۳۴
واګي ۴۳۹
وبا مرض ۳۵۰
وچ سوي پنير ۱۷۰
وچه خميره ۳۷۵
وچه غوښه ۳۷۸
وحوش ۴۹۲
وران ځايونه ۲۰۶
ورخاړي ۱۲۵، ۳۹۰
وردنه ۴۹۲
ورده ۴۹۲
ورسان ۴۹۳
ورغوي ۴۱۲
ورقي ۳۴۴
ورک ۴۲۱
ورکيدل ۴۲۱
ورکړه ۳۲۰
ورنج ۴۹۲
ورون ۲۵۵
وری ۲۱۱، ۴۲۸
وريت سوی شی ۱۳۲
وريجي ۱۲۹
وريزي ۸۸
وريځ ۸۷، ۸۸
وريښته ۴۷۰
وريښمين رنګين کالي ۴۹۴
وريښمين کالي ۴۰۵
ورځي ۲۲۵
ورښم ۳۸۰
وزر ۱۲۵
وزغ ۴۹۳
وزير ۴۹۳
وژل ۴۰۸
وسله ۳۰۱
وسمه ۴۹۴
وشه ۴۹۴
وضويي ۴۹۴
وکيل ۴۹۴
وهل ۲۷۴
وياله ۲۲۳
ويراني ۴۹۵
وينه راتلل ۲۲۲
وينه کښل ۱۹۹
ويښته ۴۷۰
وځکي ۴۱۰
وړی ۱۳۸، ۳۴۷
وړي ۲۲۱
وښ کول ۳۸۱

[ي]

ياقوت (يو ډول جواهر) ۵۰۰
ياره ۴۹۸
ياسمين ۴۹۹
يافتن ۴۹۹
يافتن کانها ۴۹۹
يبروج (د انسان په ډول يو بوټی) ۵۰۰
يخ ۵۰۰
يخ تېر ۳۶۴
يخني ۲۹۶
يرغل ۱۶۴
يشب (يو ډول قيمتي کانی) ۵۰۱
يشم ۵۰۱
يل ۵۰۱
يهودی شدن ۵۰۱
يهودي کيدل ۵۰۱
يو تريخ بوټی ۱۲۰
يو يو ښار ليدل ۳۳۸
يوز ۵۰۲

* * *